تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی ابو صدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح اوسمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبه حنفیه
گانی روډ کوئټه

Maktaba Tul Ishaat .com

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

پہ قندھاری پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد څلورم پاره (۱۰) ..... (۱۱) ..... (۱۲)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ ، الخ ۴۱	۵
دخُمس تقسیم وروسته تروفات د نبی کریم ﷺ	۹
دخپلو خپلوانو دخُمس څخه حصه	۱۰
دبدر دغزا ورځی ته یی یوم الفرقان وویل	۱۰
إِذْ أَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ ، الخ ۴۲ تر ۴۴	۱۱
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً ، الخ ۴۵ تر ۴۷	۱۲
په جنګ او جهاد کی د کامیابی دپاره قرآنی هدایتونه	۱۷
وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ ، الخ ، ۴۸ تر ۴۹	۲۱
دشیطان دوکه اوفریب او ددی څخه دخلاصیدلو طریقه	۲۳
دکامیابی دپاره یوازی اخلاص دنیت کافی نه دی اول دلاری سیده والی ضروری دی	۲۴
وَلَوْ تَرَى إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا الْمَلَائِكَةُ ، الخ ۵۰ تر ۵۳	۲۴
كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ، الخ ۵۴ تر ۵۸	۲۹
داسلامی سیاست اولنی قدم اسلامی قومیت	۳۱
دوهم قدم دیهودو سره معاهده کول	۳۲
دصلح دمعاهدی ختمولو صورت	۳۳
دعهد پوره کولو یوه عجیبه واقعه	۳۳
وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَبَقُوا إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ ، الخ ۵۹ تر ۶۲	۳۴
دجهاد دپاره وسله او دجنګ اسباب تیارول فرض دی	۳۵
وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنْفَقْتَ ، الخ ۶۳ تر ۶۶	۳۸
دمسلمانانو په مینځ کی حقیقی اوپائیدار اتفاق د الله ﷻ په فرمانبرداری باندی موقوف دی.	۴۰
مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى ، الخ ۶۷ تر ۶۹	۴۲
يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ ، الخ ۷۰ تر ۷۱	۴۸
إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا ، الخ ۷۲ تر ۷۵	۵۱
﴿سُوْرَةُ التَّوْبَة﴾	۵۹
بَرَاءَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ، الخ ۱ تر ۵	۵۹
دمکی دفتح په وخت کی دمغلوبو دښمنانو سره بی مثله کریمانه سلوک	۶۵
دمکی دفتح په وخت کی دمشرکانو څلور قسمونه او د دوی حکمونه	۶۵
دکفارو سره دوعدو پرختمیدو هم دوی ته دمهلت ورکولو کریمانه سلوک	۶۷
دکفارو سره معاهده ختمه سی نو دعام اعلان اودتولو دخبردارولو څخه بغیر ددوی خلاف څه عمل کول جائزنه دی	۷۷

Maktaba Tul Ishaat.com

دذکرسوو پنځو آیتونو متعلق څو مسئلی اوفائدی	۶۷
دکفارو سره دعفو او درګزر دا معنی نه ده چی د دوی دضرر ځخه دځان ساتلو اهتمام به هم نه کوی	۶۸
وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ ، الخ ، ۲ تر ۱۱	۷۰
داسلام حقوالی په دلیلونو سره بسوول ددینی عالمانو فرض دی	۷۲
غیر مسلم چی ددار اسلام باشنده نه وی ده ته دضرورت ځخه زیات په دار اسلام کی دپاته کیدو اجازه دی نه ورکول کیږی	۷۳
دکفارو په مقابله کی هم په ربستیا قائم پاته کیدل او ددوی متعلق دمبالغی ځخه دځان ساتلو تعلیم	۷۳
په اسلامی ورور ولی کی ددا خلیدو دری شرطونه	۷۴
وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ ، الخ ، ۱۲ تر ۱۲	۷۵
په دار اسلام کی غیر مسلم ذمیانو ته په اسلام دعلمی تنقید اجازه خوسته مګردبدو ردو ویلو اجازه ورته نسته	۷۷
مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ ، الخ ، ۱۷ تر ۱۸	۷۹
دیوغیر مسلم همراز دوست جوړول جائزنه دی	۸۰
أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ، الخ ، ۱۹ تر ۲۳	۸۳
دالله ذکر ترجهاد غوره دی	۸۲
دذکرسوو آیتونو متعلق څو فائدی اومسئلی	۸۸
اصل قرابت داسلام او ایمان قرابت دی نسبی او وطنی تعلقات ټول په دی قربانول په کار دی.	۸۹
قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ ، الخ ، ۲۴	۸۹
ربستینی ایمان ددی ځخه بغیر نه سی کیدی چی دالله ﷻ او درسول ﷺ محبت دټولی دنیا او په خپله دخپل ځان ځخه هم زیات نه وی	۹۱
لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ ، الخ ، ۲۵ تر ۲۷	۹۳
دحنین فتح دهوازن اوثقیف دسردارانو مسلمانیدل اوحاضریدل اودقیدیانو واپس کیدل	۹۹
دحقونو په معامله کی درائی عامه معلومولو دپاره دعوامی جلسو آوازونه کافی نه دی دهر یوه ځخه جلا رایه معلومول په کار دی	۱۰۰
دمفتوحو اومغلوبو کفارو په مالونو کی عدل انصاف اواحتیاط	۱۰۰
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ ، الخ ، ۲۸	۱۰۱
دمشرکانو په مسجد حرام کی ددا خلیدو ځخه دمنع کولو مطلب اوداچی دا دمسجد حرام خصوصیت دی که ټولو جماتو نو لره عام دی؟	۱۰۳
قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ ، الخ ، ۲۹ تر ۳۰	۱۰۲
اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا ، الخ ، ۳۱ تر ۳۵	۱۱۰
إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا ، الخ ، ۳۶ تر ۳۷	۱۱۵
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ، الخ ، ۳۸ تر ۴۲	۱۱۹
ددنیا محبت او داخرت ځخه غفلت دټولو جرمونو بنیاد دی	۱۲۳

Maktaba Tul Ishaat.com

عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ ، الخ ، ۴۳ تر ۵۲	۱۲۵
په معقول اوتا معقول عذر کی فرق	۱۲۹
دتقدیر عقیده دتدبیر دا ستعمال سره په کارده دتدبیر نه کولو نوم توکل ایښوول غلط دی	۱۳۱
قُلْ اَنْفِقُوا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ ، الخ ، ۵۳ تر ۵۹	۱۳۱
إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ ، الخ ، ۶۰	۱۳۵
دزکوة ادا کولو متعلق څینی مهمی مسئلی	۱۵۰
وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ اُذُنٌ ، الخ ، ۶۱ تر ۶۲	۱۵۱
اَلْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِنْ ، الخ ، ۶۷ تر ۷۰	۱۵۴
وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ ، الخ ، ۷۱ تر ۷۳	۱۵۷
يَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوا وَلَقَدْ قَالُوا ، الخ ، ۷۴ تر ۷۸	۱۵۹
اَلَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ، الخ ، ۷۹ تر ۸۰	۱۶۴
فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللّٰهِ ، الخ ، ۸۱ تر ۸۳	۱۶۵
وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ ، الخ ، ۸۴	۱۶۸
په ذکر سوی واقعه یوځو اشکالونه او دهغه جوابونه	۱۶۹
وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا ، الخ ، ۸۵ تر ۸۹	۱۷۱
وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ مِنَ الْاَعْرَابِ ، الخ ، ۹۰	۱۷۲
لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى ، الخ ، ۹۱ تر ۹۳	۱۷۳

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

الدين العلم كمپيوترز . كوئټه

۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۲

تصحيح او ترتيب

مولوی نصیر احمد حقانی ، اللهم اغفر لمؤلفه ولطالبه ولكاتبه ولناشره ولجميع المؤنين،

الدين العلم كمپوزنگ سنتر كوئټه

المكتبة الحنفية كانسی رود

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ

اوپوه سی چی تاسی ته کوم غنیمت ورسیږی دیوشی نو دالله ﷻ دپاره ده په دی کی پنځمه حصه اودرسول دپاره

وَلِذِی الْقُرْبٰی وَالْیَتٰمٰی وَالْمَسٰكِیْنِ وَابْنِ السَّبِیْلِ ۙ اِنْ

او دده دخپلوانو دپاره او دیتیمانو او دمحتاجانو او دمسافرانو دپاره

كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰی عَبْدِنَا یَوْمَ الْفُرْقَانِ

که ستاسی یقین وی په الله ﷻ اوپه هغه شی چی مونږ نازل کړی دی پرخپل بنده دفیصلی په ورځ

یَوْمَ الْتَقَی الْجَمْعٰنِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۴۱﴾

کومه ورځ چی مخامخ سوه دواړه فوجونه او الله ﷻ په هر څه باندی قادر دی

لنډتفسیر: او په دی خبره پوه سی چی کوم شی (دکفارو څخه) په ډول دغنیمت تاسی ته حاصل سو نو ددی حکم دا دی چی (پنځه حصی به ورڅخه جوړی کړل سی نو څلور دجنګ کوونکوحق دی اویوه حصه یعنی) ددی پنځمه حصه (به بیاپه پنځو حصوکی تقسیم سی چی یوه خو ورڅخه) دالله او دده درسول ده (یعنی نبی کریم ﷺ ته به ورکول کیږی چی ده ته یی ورکول داسی دی لکه الله ﷻ ته چی یی پیش کړی) او (یوه حصه) د دوی دخپلوانو ده او (یوه حصه) دیتیمانو ده (یوه حصه) دغریبانو ده او (یوه حصه) دمسافرانو ده که تاسی په الله ﷻ یقین لری اوپه هغه شی باندی (یقین لری) کوم چی مونږ پرخپل بنده (محمدﷺ باندی دفیصلی په ورځ (یعنی) په کومه ورځ چی (په بدر کی) دواړی ډلی (دمؤمنانو او کفارو) یوبل ته سره مقابلی سوی وه نازل کړی وو (مراد ددی څخه غیبی کومك په واسطه دملائکودی یعنی که پرمونږ اوزمونږ پرغیبی کومك باندی ایمان لری نوداحکم ومنی او عمل په وکی داخبره یی څکه په کښی زیاته کړه چی پنځمه حصه ایستل گران نه وی او په دی پوه سی چی دا ټول غنیمت خودالله په کومك لاس ته راغی نوکه پنځمه په کی گرسره مونږته ورسیږی محضی دالله ﷻ په قدرت سره حاصلیږی) او (خاص) الله ﷻ په هرشی باندی پوره قدرت لرونکی دی (نوبیا ستاسی حق خو دومره هم نه وو داهم ډیر در ورسیدی)

معلومات اومسئلي: په دی آیت کی دغنیمت دمال حکمونه او ددی دتقسیم قانون ذکر دی تردی مخکی دڅوضروری الفاظو تشریح واوری.

لفظ دغنیمت په لغت کی هغه مال ته ویل کیږی کوم چی ددښمن څخه حاصل کړه سی دشریعت په اصطلاح کی دغیر مسلمو څخه چی کوم په جهادکی اودغلبی په ذریعه حاصل کړه سی دغه ته غنیمت وایی اوکوم چی په صلح اورضامندی سره حاصل سی لکه جزیه اوخراج اونور دغه ته فی وایی په قرآن کریم کی یی په دی دواړو لفظونو سره ددی دواړو حکمونو بنوولی دی په سورة انفال کی دغنیمت

Maktaba Tul Ishaat.com

دمالونو دحکمونو ذکر دی کوم چی دجنګ اوجګړی په وخت کی دغیر مسلمو څخه حاصل سی.
دلته یوه خبره ترټولو مخکی ترنظر لاندی ساتل په کار دی هغه داچی دقرآنی اواسلامی نظریی مطابق دټولو کائناتو اصلی ملکیت یوازی دهغه حق تعالی ﷻ دی چاچی دوی پیدا کړی دی دانسان پریږده شی باندی ملکیت یوازی پریږده طریقه باندی دی چی الله ﷻ یی دخپل قانون په ذریعه دچاملکیت کړی لکه په سورة یٰس کی چی دحیوانانوپه باره کی فرمایی ، اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ اَیْدِیْنَا اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِکُوْنَ یعنی آیادا خلګ نه وینی چی کوم حیوانان مونږ په خپلو لاسونوسره جوړکړل بیا خلګ د دوی مالکان جوړ سول مطلب دا دی چی د دوی ملکیّت ذاتی نه دی مونږ په خپل فضل سره دوی مالکان جوړ کړل کله چی یو قوم دالله ﷻ بغاوت کوی یعنی په کفر او شرك کی اخته کیږی نواول الله ﷻ د دوی داصلاح دپاره خپل رسولان اوکتابونه لیږی کوم بدبخته چی دالله ﷻ ددی انعام څخه هم متاثره نه سی نوالله ﷻ خپلو رسولانوته ددوی په مقابله کی دجهاد اوجنګ حکم ورکړی ددی حاصل داوی چی ددغو باغیانو جان اومال ټول مباح کړه سی ددوی دالله ﷻ په ورکړی مال کی دنفع اخیستو حق پاته نه سی بلکه د دوی مالونه په حق دحکومت ضبط کړل سی ددغو ضبط کړل سوو مالونو بل نوم مالِ غنیمت دی کوم چی دکفارو دملکیّت څخه وزی اوخالص دالله ﷻ په ملکیّت کی پاته سی.
ددی ضبط سوو مالونو دپاره دپخوا زمانی څخه دالله ﷻ قانون دا راغلی دی چی ددی څخه به چاته دفآئدی اخیستلو اجازت نه وو بلکه داسی مالونه به جمع کول کیده پریږده ډاګ باندی به اینښوول کیده او دآسمان څخه به یو اور راتلی دغه به یی سو ځله چی دغه به دجهاد دقبلیدو نښانه وه.
نبی کریم خاتم الانبیآء ﷺ ته چی کوم خصوصیات دالله ﷻ دطرفه څخه ورکړل سوی دی په هغوکی یو دا هم دی چی مالِ غنیمت دده ﷺ دامّت دپاره حلال کړه سو ،لکه چی په حدیث دمسلم کی دی، اوحلال هم داسی چی په ټولو مالونوکی پاك مال ورته ویل کیږی وجه داده چی کوم مال انسان په کسب اوګټه سره حاصلوی په هغه کی دانسانانو دملکیت واسطه په واسطه نقل کیدل وی دبل سړی مال دده په ملکیت کی راځی اوپه دی واسطوکی دحرام اوناجآئز یامکروه طریقو احتمال وی په خلاف دمالِ غنیمت څخه چی دکفارو ملکیت ددی څخه ختم سی سیده په سیده دالله ﷻ په ملکیت کی پاته سی او اوس چی چاته رسیږی نوسیده په سیده دالله ﷻ دملکیت څخه وررسیږی چی په دی کی څه شُبهه اوشك دحرامو الی یاکراهت نه پاته کیږی لکه دځاه څخه راایستل سوی اوبه یادځانه څخه راختلی وانبه چی سیده په سیده دالله ﷻ انعام انسان ته رسیږی کومه انسانی واسطی په مینځ کی نه وی.
خلاصه دخبری دا ده چی دغنیمت مال کوم چی دتیرو امتونو دپاره حلال نه وو ، دامّت مرحومه دپاره په ډول دانعام حلال کړه سو په ذکر سوی آیت کی ددی تقسیم قاعده په دی عنوان سره بیان سوي ده چی
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ : په دی کی دعربی ژبی په قاعده سره اول خولفظ د ، مَا په عموم باندی دلالت کوی بیادده غه عموم دزیات مؤکّدکولودپاره یی لفظ د : مِنْ شَیْءٍ زیات کی چی ددی معنی داده چی کوم شی لوی وی اوکه کوچنی چی په مالِ غنیمت کی حاصل سوی وی هغه ټول تردی قانون لاندی داخل وی یوشی معمولی یاکوچنی ګڼل که یوسړی یی دتقسیم دقانون څخه خلاف واخلی نودغه سړی به سخت مجرم وی

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی چی دیوی ستنی یادهغی په اندازه دیوه شی هم چی دغنیمت دمال حصه وی دهیچا دپاره بغیر دشرعی حصی څخه اخیستل جائزنه دی اود مالِ غنیمت څخه یوشی بغیر دخپلی حصی څخه زیات اخیستلو ته په حدیث کی غلول ویل سوی دی سخت وعید دعذاب یی ورباندی فرمایلی دی اوترعامی غلایی زیات سخت حرام ګڼلی دی

دتقسیم دضابطی داعنوان یی ورکی اوټول مسلمانان مجاهدین یی په دی خبرکړل چی الله ﷻ دامال ستاسی دپاره حلال کړی دی مګر تریوی خاصی قاعدی لاندی حلال دی ددی قاعدی خلاف که چا واخیستی نودجهنم یوه سکروټه به وی.

دقرآن دقانون دا هغه امتیاز دی کوم چی ددنیا نورو قانونوته حاصل نه دی او دا دقرآنی قانون دکامل تاثیر اوکامیابی اصلی رازدی چی اول دآخرت اودخدای ﷻ بیره وړاندی کړی بیروی یی په دوهم نمبرکی یی تعزیری سزاګانی هم پرجاری کړی.

که نه نو دفکر ځای دی چی عین په میدان دجنګ کی چی دپریشانی اوګډوډ کیدوپه وخت کی کوم مالونه دغیر مسلمو څخه قبضه کړل سی چی تفصیل یی نه دمخکی څخه دمسلمانانو امیرته معلوم وی اونه بل چاته اوموقع عین دمیدانِ جنګ ده چی په عام ډول سره په ځنګل اوصحراکی وی چی دغلا کولو په زرګونو موقعی په کی وی یوازی دقانون په زورسره ددی مالونو حفاظت دهیچاپه طاقت کی نسته یوازی دخدای ﷻ او آخرت بیره داسی شی وه کوم چی یو یو مسلمان په دی مالونوکی دمعمولی غوندی تصرف څخه هم وساتل.

اوس ددی قاعدی تقسیم ته وګوری ارشاد فرمایی ، فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِی الْقُرْبٰی وَالْیَتٰمٰی وَالْمَسٰکِیْنِ وَابْنِ السَّبِیْلِ : یعنی دغنیمت دمال پنځمه حصه دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ ده او دهغه دقریبانو او یتیمانو مسکینانو مسافرانو ده.

دلته اول خو دا خبره دفکر کولو لایقه ده چی قاعده دټول مال دغنیمت بیانیږی مګر قرآن ددی دپنځمی حصی دتقسیم قاعده دلته ذکرکړه دپاتو ځلورو حصویی هیڅ ذکرونه کی په دی کی کوم راز دی او دپاتو ځلورو حصو دتقسیم څه قانون دی؟ لیکن په قرآنِ کی دغور اوفکر کولو څخه وروسته ددی دواړو خبرو جواب په دی لفظونوکی داراوزی چی قرآنِ کریم جهاد کوونکو مسلمانانوته خطاب وکی اووی فرمایل مَاغَنِمْتُمْ یعنی څه چی تاسی په غنیمت کی حاصل کړل په دی کی اشاره ده دی ته چی دامال ددی حاصلوونکو حق دی اوتردی وروسته کله چی داارشاد یی وفرمایی چی په دی کی پنځمه حصه دالله ﷻ او رسول ﷺ او نورو ده نو ددی څخه صفا دا نتیجه را ووتله چی پاته څلورحصی دغانمینو اومجاهدینو دی لکه چی په قرآنِ کریم کی دوراثت په قانون کی یوځای ارشاد دی ، وَوَرِثَهٗ اَبَوَاهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ یعنی کله چی دیوه سړی وارثان دده مور اوپلار وی نو دمور یی دریمه حصه ده دلته یی هم یوازی دمورپر ذکر باندی بس والی وکی ددی څخه معلومه سوه چی پاته دوی حصی د پلار حق دی دغه ډول د: مَاغَنِمْتُمْ څخه وروسته کله چی یوازی پنځمه حصه دالله ﷻ دپاره مقرره سوه نو معلومه سوه چی پاته څلورحصی دمجاهدینو حق دی بیا نبی کریم ﷺ په خپل بیان اوعمل سره ددی پوره تفصیلات واضح کړل چی دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

څلور حصی یی په مجاهدینو کی تریوه خاص قانون لاندی تقسیم کړی.

اوس ددی پنځمی حصی تفصیل واوری کوم چی قرآن په دی آیت کی متعیّن کړی دی دقرآن په الفاظو کی دلته شپږ نومونه ذکر دی ، لِلّٰهِ لِلرَّسُوْلِ لِذِی الْقُرْبٰی الْیَتٰمٰی الْمَسٰکِیْنِ ابْنِ السَّبِیْلِ په دی کی لفظ دالله خوغټه سُرخی ده دهغومصرفونو په کوموکی چی به داپنځه حصّی تقسیمیږی یعنی داټول مصرفونه خالص دالله ﷻ دپاره دی اوددی په راوړلوکی یوخاص حکمت دی دکم طرف ته چی په تفسیر مظهری کی اشاره سوې ده هغه داچی د نبی کریم ﷺ اوده دشان سره مناسب نه دی ځکه چی دعامو خلګو دمالونو څخه دپاکولو دپاره چی ددی څخه کمه ایستل سوی حصه ده چی په حدیث کی ورته اَوْسَاخُ النَّاس یعنی دخلګو خیری او ګندګی ویلی دی هغه دنبوت دشان لایق نه دی.

دغنیمت په مال کی دپنځمی حصی څخه کله چی نبی کریم ﷺ اوده خاندان ته هم حصه په دی آیت کی ورکړل سویده په دی وجه یی پردی خبره باندی خبرداری ورکی چی داحصه دخلګو دملکیت څخه نه ده منتقله سوی بلکه بی له واسطی دالله ﷻ دطرفه څخه ده لکه چی اوس ذکرسو چی دغنیمت مال دکفارو دملك څخه ووتی اوسیده په سیده دالله ﷻ په خاص ملکیّت کی راغی بیادالله ﷻ دطرفه څخه په ډول دانعام تقسیمیږی په دی وجه دی خبری ته داشاری کولو دپاره چی نبی کریم ﷺ اوذوی القربٰی ته کومه حصه رسیږی دغه دخلګو دصدقونه ده بلکه سیده په سیده دالله ﷻ دطرفه څخه فضل اوانعام دی دآیت په شروع کی فرمایی ، لِلّٰه یعنی داټول مال په اصل کی خالص دالله ﷻ ملکیت دی دهغه دحکم به په ذکرسوو مصرفونو کی خرڅ کول کیږی.

په دی وجه ددی خُمس اصلی مصرفونه پنځه پاته سول ، رسول ذوی القربٰی یتیم مسکین مسافر بیاپه دوی کی دمستحق کیدو درجی مختلفی دی دقرآن کریم بلاغت ته وګوری چی ددی درجو فرق یی څومره په نرم اوباریك اندازسره بنکاره کړی دی په دی پنځوکی یی پراولو دوو باندی حرف دلام داخل کی لِلرَّسُوْلِ وَلِذِی الْقُرْبٰی اوپاته دری قسمونه یی بغیر دحرف دلام څخه پریوه اوبل باندی په عطف سره ذکر کړل. حرف دلام په عربی ژبه کی دیوخصوصیت دبنکاره کولو دپاره استعمالیږی په لفظ د ، لِلّٰه کی په حرف دلام سره دملکیت تخصیص په دی ډول بنکاره کړل سو چی اصلی مالك داټولو شیانو اَللّٰه ﷻ دی اوپه لفظ د ، لِلرَّسُوْلِ کی دمستحق کیدو دخصوصیت بیان مقصود دی چی الله ﷻ دخُمس دپنځمی حصی دصرف کولو اوتقسیمولو حق یی نبی کریم ﷺ ته ورکی دکم حاصل چی دامام طحاوی دتحقیق مطابق اودتفسیر مظهری دتقریر مطابق دادی چی که څه هم دخُمس مصرفونه دلته پنځه دی لیکن په حقیقت کی په دی کی پوره تصرّف نبی کریم ﷺ حاصل دی چی دی یی دخپلی حقی رایی په مطابق په دی پنځو قسمونوکی مصرف کړی لکه چی دسورة انفال په اولنی آیت کی داټول مال دغنیمت حکم داوو چی نبی کریم ﷺ یی دخپلی حقی رایی په مطابق کوم ځای چی وغواړی مصرف کړی چاته چی یی وغواړی وریی کړی آیت ، وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ ټول مال دغنیمت پنځه حصی کی څلوریی دمجاهدینو حق مقررکی اوپنځمه حصه یی ترقانون لاندی په دغه حکم کی پاته کړه چی دابه نبی کریم ﷺ په خپلی حقی رایی باندی مصرف کوی یوازی دومره خبره ورباندی زیاته سوه چی ددی پنځمی حصی یی پنځه مصرفونه

Maktaba Tul Ishaat.com

وښوول چې دابه په دوی کی خرڅ کیږی مګر دجمهورو امامانو تحقیق کوونکو په نزد دده په ذمه دالازم نه وه چې داخُمس به په پنځو حصوکی برابر تقسیموی اودآیت په ذکرسوو پنځو قسمونوکی دی یی برابر برابر تقسیم کړی بلکه یوازی دومره ضروری وه چې دغنیمت خُمس په دغو پنځو قسمونوکی دننه ټولوته یا خُینوته دخپلی حقی رایی مطابق ورکړی.

ددی ترټولو لوی او واضح دلیل په خپله ددی آیت الفاظ اوپه دی کی دبیان سوو مصرفونو قسمونه دی چې دا ټول قسمونه عملاً جلا جلا نه دی بلکه دیوه اوبل سره مشترک کیدی هم سی مثلاً یوسړی په ذوی القربٰی کی داخل دی نودی یتیم هم کیدی سی مسکین هم اومسافرهم دغه ډول مسکین اومسافر یتیم هم کیدی سی اوذوی القربٰی هم کم چې مسکین وی دی دمسافروپه فهرست کی هم راتلی سی که په دی ټولو قسمونوکی جلاجلا برابر تقسیمول مقصود وای نوداقسمونه بیاداسی پکاروه چې دیوه قسم کسان به په بل قسم کی داخل نه وای که نه وی نوبیا به دا لازمه سی چې کوم سړی ذوی القربٰی دی اودی یتیم هم دی مسکین هم مسافرهم نوده ته به په هریوه حیثیت سره یوه یوه حصه رسیږی اوځلور حصی به ورلره ورکول کیږی لکه چې دتقسیم دفرآئضو اومیراث داقاعده ده چې یوسړی دمړی په مختلفو حیثیتونو سره خپل وی نو دهری خپلولی حصه به ده ته جلا ورکول کیږی اوپه اُمّت کی ددی هیڅوک قآئله نه دی چې یوه سړی ته دی ځلور حصی ورکړل سی ددی ځخه معلومه سوه چې مقصد ددی آیت ځخه پر نبی کریم ﷺ باندی لګول نه دی چې دی ټولو قسمونوته دی ضرور ورکوی او برابردی یی ورکوی بلکه مقصد دادی چې دغنیمت دخُمس ځخه په دی پنځو قسمونو کی چې په کوم قسم ځومره خرڅول دده په رایه کی مناسب وی دغومره دی یی ورکوی (مظهری)

هم داوجه ده چې حضرت فاطمة الزهرآء ؓ چې کله ددی خُمس ځخه دیوه خدمتګار سوال دنبی کریم ﷺ په خدمت کی پیش کی اودکور په کارونوکی یی دخپل محنت او مشقت اوکمزوری سبب هم ظاهرکی خونبی کریم ﷺ داعذر وفرمایی اودی ته یی دورکولو ځخه انکار وکی چې زماپه وړاندی ستا ترضرورت زیات داهل صفه صحابه کرامو ؓ ضرورت دی کوم چې په ډیرفقر اوتنګدستی کی ګیردی تاته په درکولو سره دوی نسم پریښوولای (بخاری اومسلم)

ددی ځخه واضحه سوه چې دهر یوه قسم جلا حق نه وو که نه وی نو ذوی القربٰی په حق کی ترفاطمة الزهرآء ؓ بل څوک مخکی وه بلکه داټول بیان دمصارفو دی داستحقاق نه دی.

(دخُمس تقسیم وروسته تروفات دنبي کریم ﷺ)

دجمهورو امامانوپه نزد دغنیمت په خُمس کی چې کومه حصه دنبی کریم ﷺ دپاره وه دا دده دنبوت اورسالت دمنصب پربنآء داسی وه لکه چې ده ته په خاص ډول سره دا هم حق ورکړل سوی ووچې په ټول مال دغنیمت کی دی دخپل ځان دپاره ځه شی غوره کړی اووایی خلی چې ددی په وجه په خُینو غنیمتونوکی نبی کریم ﷺ خُینی شیان اخیستی هم وه اودغنیمت دخُمس ځخه به ده دخپل ځان دپاره اودخپل اهل اوعیال نفقه ادا کوله دده ﷺ تروفات وروسته داحصه خودبخوده ختمه سوه ځکه چې ترده ﷺ وروسته څوک نبی او رسول نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com

(دخپلو خپلوانو دخُمس څخه حصه)

په دی کی خو دهیچا اختلاف نسته چی دفقیرانو ذوی القربٰی وو حق دغنیمت په خُمس کی ترنورو مصرفونو یعنی یتیمانو مسکینانو اوتر مسافر مخکی دی څکه چی دذوی القربٰی فقیرانو کومك په زکوٰة اوصدقو سره نسی کیدی اوددی نورو مصرفونو په زکوٰة اوصدقو سره کیدی سی (لکه چی په هدایه کی یی ویلی دی وَيُقَدَّمُوْنَ)

البته غنیانو ذوی القربٰی ووته به ددی څخه څه ورکول کیږی اوکه نه په دی کی دامام اعظم رحمه الله فرمان دا دی چی په خپله نبی کریم ﷺ چی کومو ذوی القربٰی ووته به ورکوی نود هغه دوی بنیادی وجهی وی یوه ددوی حاجتمندی اوفقیری دوهم ددین اقامت اوپه دفاع داسلام کی دنبی کریم ﷺ نصرت اوکومك نو دوهم صورت خو دنبی کریم ﷺ تروفات وروسته څخه سو یوازی اولنی سبب دفقیری اوحاجتمندی پاته سو ددی پربنآء به تر قیامته پوری هر امام اوامیر دوی ترنورو مقدم ساتی (هدایه جصاص) دامام شافعی رحمه الله هم دا قول دی (قرطبی)

او دځینو فقهاوو رحمهم الله په نزد د ذوی القربٰی وو حصه په حیثیت دقرابت دنبی کریم ﷺ دهمیشه دپاره باقی ده چی په دوی کی غنیان او فقیران ټول شامل دی البته دوخت امیر دی دخپلی حقی رایی مطابق دوی ته حصه ورکوی (مظهری)

او اصل شی په دی معامله کی دخلفاء راشدینو رضی الله عنهم عمل دی چی دوی دنبی کریم ﷺ تروفات وروسته کړی دی دهدایی صاحب ددی په اړوند لیکی.

اِنَّ الْخُلَفَآءَ الْاَرْبَعَةَ الرَّاشِدِيْنَ قَسَمُوْهُ عَلٰى ثَلٰثَةِ اَسْهُمٍ : څلورو سره خلفآء راشدینو دنبی کریم ﷺ تروفات وروسته دغنیمت خُمس پردرو قسمونو تقسیم کړی دی یتیم مسکین فقیر البته دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه څخه داثابته ده چی فقیرانو دذوی القربٰی وو ته به یی دغنیمت دخُمس څخه حصه ورکوله (ابوداؤد) او بنکاره ده چی داتخصیص یوازی په فاروق اعظم رضی الله عنه پوری نه دی دنوروخلفاوو به هم دا عمل وو.

او په کومو روایتونو سره چی دا ثابته ده چی صدیق اکبر اوفاروق اعظم رضی الله عنهما دخپلی آخری زمانی تر خلافته پوری د ذوی القربٰی وو حق ایستی اوحضرت علی رضی الله عنه یی ددی متولی جوړ کړی وو په ذوی القربٰی وو باندی به یی تقسیموی (لکه چی په روایت دکتاب الخراج دابویوسف رحمه الله کی دی) نو دا ددی منافی نه ده چی دغه د ذوی القربٰی دفقیرانو دپاره مخصوص وی (والله تعالی اعلم)

فائده: د ذوی القربٰی وو تعین په خپله نبی کریم ﷺ په خپل عمل سره داسی فرمایلی دی چی بنو هاشم خو د دوی خپله قبیله وه اوبنو عبد المطلب یی هم ددوی سره په دی وجه شامل کړی وه چی دا خلګ هم په جاهیلت اواسلام هیڅ ځای کی دبنوهاشم څخه نه دی جلا سوی تردی پوری چی دمکّی قریشوچی کله پربنی هاشمو غله اوخوراك بند کړل او مقاطعه یی ورسره وکړه اوپه شعب ابی طالب کی یی بندکړل نوبنو عبد المطلب که څه هم چی قریشو په مقاطعه کی نه وه شریك کړی مګر دا خلګ په خپله رضامندی سره په مقاطعه کی شریك سوی وه (مظهری)

دبدردغزا ورځي ته يي يوم الفرقان وويل: په ذکرسوی آیت کی یی دبدرورځی ته یوم الفرقان فرمایلی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه ددی داده چی ترتولو مخکی په مادی اوظاهری دول سره دمسلمانانو واضحه فتحه اودکفارو عبرتناک شکست په دی ورځ کی دکیدو پربنآء دکفر او اسلام بنکاره فیصله هم په دغه ورځ باندی سوی وه

إِذْ أَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ أَسْفَلَ مِنْكُمْ

کله چی تاسی واست پردی غاړه دکندی اودوی پر بله غاړه دکندی اوقافله لاندی وه ترتاسی

وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيعٰدِ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ أَمْرًا كَانَ

اوکه تاسی دیوه اوبل سره وعدی کولی نو نه به وای رسیدلی وعدی ته یو خای لیکن الله ﷻ کوی کار

مَفْعُولًا ۙ لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَّيَحْيٰى مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ ؕ

چی مقررسوی وو چی مړه سی څوک چی مړه کیدونکی دی دحجّت ترقآئمیدلو وروسته اوژوندی پاته سی څوک چی ژوندی پاته کیږی ترحجّت قآئمیدو وروسته.

وَإِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ إِذْ يُرِيكَهُمُ اللّٰهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ وَلَوْ أَرٰىكَهُمْ

اوبیشکه الله ﷻ اوریدونکی اوپوهیدونکی دی کله چی الله ﷻ دغه کافران وښوول تاته په خوب ستا کی لږ او

كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُ

که تاته یی ډیرښوولی وای نوتاسی خلګوبه نامردی کړی وای اوجګړه به موکړی وای په کارکی لیکن الله وساتلاست

عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤٣﴾ وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَّ

هغه ته ښه معلومه ده کمه خبره چی په زړونوکی ده اوکله چی تاسی ته وښوول سوهغه فوج دمقابلی په وخت کی

يُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۗ وَإِلَى اللّٰهِ

ستاسی په سترګوکی لږاوتاسی یی لږښکاره کړاست دهغوپه سترګوکی چی وکړی الله ﷻ یوکارکم چی مقررسوی

تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤٤﴾

وو اوالله ﷻ ته رسیږی هریوکار

لنډتفسیر: دا هغه وخت ووچی کله تاسی دمیدان پردی غاړه واست اوهغه خلګ (یعنی کفار) دهغه میدان پربله غاړه باندی وه (ددی غاړی څخه مراد مدینی ته نژدی خای دی او دبلی غاړی څخه مراد دمدینی څخه لیری خای دی) اودغه قافله (دقریشو) ترتاسی لاندی طرف ته (شاته) وه (یعنی دسمندر پرغاړه غاړه روانه وه حاصل دادی چی دپوره جوش اسباب جمع کیدی چی دواړه فوجونه یوبل ته مخامخ وه چی هریو یوبل وینی اوپه جوش کی راځی هاخواته قافله پرلاری وه چی دهغه په وجه سره دکفارولښکرته ددوی دحمایت خیال په زړه کی وو اوپه دی وجه به ددوی په زړونوکی جوش راتلی مقصد داچی دغه وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

داسی سخت وو بیاهم خدای ﷻ پرتاسی غیبی کومك نازل کی لکه چی لوړ ارشاد سوی دی: اَنزَلْنَا عَلٰی عَبْدِنَا، او (هغه خومصلحت داوسو چی اتفاقًا مقابله وسوه که نه نو) که چیری (دمخکی څخه دمعمول اوعادت مطابق) تاسی اوهغوی (دجنګ دپاره) کمه خبره مقرره کړی وای (چی په فلانی وخت به جنګیږو) نو (دموجوده حالاتو دامقتضاوه چی) خامخابه ددی مقررتیا په باره کی یه تاسی کی اختلاف راغلی وای (یعنی برابره خبره ده که یوازی په مسلمانانوکی وی دیوه اوبل سره په وجه دبی سر اواسبابی چی چاته یوڅه ویل اوچاته بل څه اوکه به دکفارو سره اختلاف سوی وای چی په دی وجه به ددی طرف دبی سر اواسبابی اوهغه طرف ته دمسلمانانو رُعب به پرهر حال په دواړه ډوله سره به دجنګ نوبت نه وای رارسیدلی نوپه دی کی چی کمی فآنّدی وسوی دابه نه وای ښکاره سوی دکومو بیان چی په لِیَهْلِكَ کی راځی) لیکن (الله ﷻ داسی اسباب برابر کړه چی ددی نوبت رانغی بغیر دکمی ارادی څخه جنګ جوړسو) ددی دپاره چی الله ﷻ ته کوم کار کول منظور وو دهغه تکمیل یی وکی یعنی ددی دپاره چی (دحق ښکاره سی او) څوك چی برباد (یعنی ګمراه) کوی هغوی ترننبانو راتلو وروسته بربادسی اوڅوك چی ژوندی کوی (یعنی پرهدایت یی برابروی) هغه (هم) ترننبانو راتلو وروسته ژوندی سی (مطلب داچی الله ﷻ ته جنګ کیدل منظوروه چی په یوه خاصه طریقه سره داسلام حق والی ښکاره سی چی د دومره کم شمیر اوکم اسبابی سره سره مسلمانان غالب سول کوم چی خارق العادة (دعادت خلاف) کار دی ددی څخه معلومه سوه چی اسلام حق دی نوپر دی دالله ﷻ حجّت پوره سو تردی وروسته چی څوك ګمراه سی هغه به دحق تر ښکاره کیدو وروسته وی چی دی به بیادعذاب پوره مستحق سی اودعذر ځای به پاته نسی دغه ډول چی چاته هدایت کیدل وی هغه به حق قبول کړی خلاصه دحکمت داسوه چی حق ښکاره سی، اوبیشکه الله ﷻ ښه پوهیدونکی ښه اوریدونکی دی (چی تردی وضاحت وروسته په ژبه اوزړه سره څوك کفر کوی اوڅوك ایمان راوړی او) هغه وخت هم دیادولو وړدی چی کله الله ﷻ ستاپه خوب کی تاته دغه خلګ کوم وښوول (څکه چی تا اصحابو ﷺ ته ددی خوب خبرورکی اود دوی ﷺ زړونه قوی سول اوکه الله ﷻ تاته دغه خلګ زیات ښوولی وای (اوتاسی صحابه وو ﷺ ته فرمایلی وای) نو (ای صحابه وو) همتونه به مولویدلی وای اوپه دی کار (جنګ) کی به تاسی دیوه اوبل سره جګړه (اختلاف) جوړکړی وای لیکن الله ﷻ (ددی بی همتی او اختلاف څخه تاسی) وساتلاست بیشکه هغه دزړونو خبری ښه پیژنی (هغه ته معلومه وه چی دغسی کمزوری به پیدا کیږی دغسی قوت په دی وجه یی داسی تدبیروکی) او (یوازی په خوب کی یی تاته په کومو ښوولو بس والی ونه کی بلکه دحکمت پوره کولو دپاره یی په بیداری کی دمقابلی په وخت کی دمسلمانانوپه نظرکی هم کافران کم ښکاره کړل اوکافرانوته یی مسلمانان کم ښکاره کړل لکه چی فرمایی چی) هغه وخت یادکړی کله چی الله ﷻ تاسی کله چی تاسی مقابل سوئ هغه خلګ ستاسی په نظرکی کم ښکاره کول او (دغه ډول) دهغوی په نظرکی یی تاسی کوم ښکاره کولاست ددی دپاره چی کوم کار الله ﷻ ته کول یی منظور وو هغه مکمّل کړی (لکه چی مخکی بیان سوی دی ، لِیَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ) اوتولی دعوی به دالله ﷻ طرف ته واپس کړل کیږی (هغه هلا کوونکی اوژوندی کوونکی یعنی ګمراه او پر هدایت باندی برابر والاوو ته سزا اوجزا ورکوونکی دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: دبدر غزا دکفر اواسلام هغه اولنی جنګ وو کوم چی په مادی او ښکاره ډول سره هم داسلام دبرتری اوحق والی ثبوت ورکی په دی وجه قرآنِ کریم ددی په تفصیلاتو بیانولوکی خاص اهتمام فرمایلی دی په ذکرسوو آیتونوکی ددی بیان دی چی ددی په ذکرکی پرډیرو مصلحتونو اوحکمتونو برسیره دیوه خاص دی مصلحت ښکارندویی ده چی په دی جنګ کی په ښکاره اومادی ډول سره دمسلمانانو دفتح حاصلولو هیڅ امکان نه وو اودمکی دمشرکانو دشکست کم احتمال نه وو مګر دالله ﷻ غیبی کومك اوقوت دډول ساز اواسباب اوښکاره اسبابو بیړه تباه کړه ددی واقعی دوضاحت دپاره په دی آیتونوکی دبدر دجنګی محاذ پوره نقشه قرآنِ کریم بیان کړي ده ددی آیتونو ترتشریح مخکی دځو الفاظو اولغتونو تشریح واوری.

د ، عُدْوَةً معنی دیوه طرف اوجانب راځی اولفظ ددُنْیَا دَاَدْنٰی ځخه جوړدی چی معنی یی ده زیات نژدی دآخرت په مقابله کی دی جهان ته هم دُنیاپه دی وجه وایی چی دا دآخرت په نسبت انسان ته زیاته نژدی ده اولفظ د: قُصْوٰی دَاَقْصٰی ځخه جوړدی چی معنی یی ده ډیر لیری.

په دوځلوبښتم آیت کی دهلاکت اودهغه په مقابله کی دژوند ذکر راغلی دی ددی دواړو لفظونو ځخه دمرګ اوژوند ښکاره معانیوی نه دی مراد بلکه معنوی مرګ اوژوند یا هلاکت اونجات مراد دی.

معنوی ژوند اسلام اوایمان دی اومرګ یی شرك اوکفردی قرآنِ کریم ځوځایه دااالفاظ په دی معنی کی استعمال کړی دی یوځای ارشاد دی ، یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوا اسْتَجِیْبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاکُمْ لِمَا یُحْیِیْکُمْ : یعنی ای مؤمنانوا تاسی خبره منی دالله ﷻ او درسول ﷺ کله چی تاسی هغه دداسی شی طرف ته رابولی په کوم کی چی ستاسی ژونددی دژوند ځخه مراد هغه حقیقی ژوند اودهمیشه راحت دی کم چی دایمان اواسلام په بدله کی حاصلیږی اوس دآیتونو تفسیر دا سو چی.

په دوځلوبښتم آیت کی یی دبدر دجنګی محاذ نقشه دانبوولی ده چی مسلمانان دعُدْوَه دُنیا په خواکی وه اوکافران دعُدْوَه قصوٰی په خواکی دمسلمانانو مقام دمیدان پردی غاړه ووکم چی مدینی ته نژدی وو اودکفارو مقام دمیدان پرهغه بله غاړه وو کم چی دمدینی ځخه لیری وو اودابو سفیان تجارتی قافله دکومی په وجه چی داجهاد جوړسوی وو هغه هم دمکی ځخه راغلی لښکرته نژدی اودمسلمانانو دوار ځخه وتلی اولیری ددرو میلوپر فاصله دسمندر پرغاړه غاړه روانه وه دجنګ ددی نقشی ښوولو ځخه دا مقصد بیانول دی چی په جنګی اعتبار سره مسلمانان بالکل بی موقع په غلط ځای کی پاته سوی وه داسی چی ددغه ځای ځخه پردښمن واك راولی بلکه دخپل ځان ساتلو هم کم امکان په ښکاره اعتبار سره نه وو ځکه چی ددی میدان دغه جانب کم چی مدینی ته نژدی دی یوه شګلنه مځکه وه چی په هغه کی تلل هم ګران وه بیا داوبو کوم ځای هم د دوی سره نه وو او دمدینی ځخه لیری غاړه په کمه کی چی کفارو ډیره اچولی وه هغه صفا مځکه وه اواوبه هم هلته نژدی وی.

اوددی میدان ددواړو غاړو دبیانولو سره یی داهم وښوول چی دواړه لښکرونه بالکل یو اوبل ته مخامخ وه چی دچا طاقت یا کمزوری دبل ځخه پټه نسوای پاته کیدی دارنګه دایی هم وښوولو چی دمکی دمشرکانو دا اطمینان هم ووچی زمونږ تجارتی قافله دمسلمانانو دواك ځخه وتلی ده اوس که مونږته

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرورت پیښ سی نو هغه هم زمونږ کومك کولی سی ددی په مقابله کی مسلمانان دخپل ځای په اعتبار سره هم په تکلیف او پریشانی کی وه اودیوه ځای څخه ورته دکومك رسیدو هم احتمال نه وو اودا خبره دمخکی څخه معلومه سوی اوهرتعلیم یافته ته معلومه ده چی دمسلمانانو دلښکر ټول شمیر دری سوه دیارلس ۳۱۳ تنه وو اودکفارو شمیرزر ۱۰۰۰ تنه وو دمسلمانانو سره نه دسپرلی شمیر کافی وواونه دوسلی ددی په مقابله کی دکفارو لښکرپه هرڅه پوره وو

اوبل داچی مسلمانان ددی جهاد دپاره څه تیارسوی هم نه وه راغلی خوبس په ناڅاپی ډول سره قافلی ته دلاری نیولو اوددښمنانو دطاقت دکمزوری کولوپه خیال سره یوازی دری سوه دیارلس ۳۱۳ مسلمانان دبی سر اواسامانی په حالت کی راوتلی وه ناڅاپه په غیر ارادی ډول سره یی دزرو تنو څوانانو دباوسله فوج سره مقابله جوړه سوه.

دقرآن کریم دی آیت داوښوولە چی دخلګوپه نظرکی داواقعه که څه هم چی دیوی اتفاقی حادثی اوپیښی په صورت کی بی ارادی مخ ته راغله لیکن په دنیاکی چی څومره اتفاقی کارونه په غیر ارادی صورت کی مخ ته راځی ددی شکل اوصورت که څه هم چی داتفاقیاتو څخه وی لیکن دخالق کآئنات په نظرکی دغه ټول دیوه محکم نظام په یوه بل پوری لګیدلی کړی وی په دی کی یوشی بی ربطه یابی موقعی نه وی کله چی دغه پوره نظام مخ ته راسی نوانسان ته درك ولګیږی چی په دی اتفاقی واقعه کی څه څه حکمتونه پټ وه.

دبدر دغزا واقعی ته وګوری چی ددی په اتفاقی اوغیر اختیاری صورت کی په پیښیدو کی داګټه وه چی وَلَوْ تَوَاعَدْتُمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيعَادِ یعنی که دعامو دنیایی جنګونوپه شان دا جنګ هم دهرارخ څخه په غور فکر اودیوه اوبل سره دمقرر کولوپه ذریعه جوړول کیدی نودحالاتو تقاضاداوه چی داجنګ به ګرسره سوی نه وای بلکه اختلاف به پکښی لویدلی وای برابره خبره ده که په دی ډول چی په خپله به مسلمانانوپه خپلوکی هم دخپلی کمزوری اودمقابل دډیروالی اوقوّت لیدوپه وجه مختلف سوی وای یاپه دی شان چی دواړه طرفه کافران اومسلمانان به په مقرره وعده میدان ته نه وای رسیدلی مسلمانانوبه خپل کموالی اوکمزوری لیده میدان ته دتلو همّت به یی نه سوای کولی اوپه کفارو الله ﷻ دمسلمانانو رُعب اچولی وای سره ددیروالی اوقوت به میدان ته دراتلو څخه بیریدل.

په دی وجه دقدرت محکم نظام دواړه طرف ته داسی حالات پیدا کړل چی ګرسره دزیات فکر اوسوچ موقع هم پیدا نه سوه مکی والا خویی دابوسفیان دقافلی دبیریدلی فریادی چیغی په یوه هیبت ناك صورت کی بی سوچه اوبی فکره راوتلوته تیار کړل اومسلمانان دی خیال چی زمونږ په مقابله کی کوم جنګی باوسله لښکر نسته یوه کوچنی غوندی تجارتی قافله ده مګر علیم اوخبیر ﷻ ته منظوره دا وه چی د دواړو فریقو په مینځ کی با قاعده جنګ وسی چی تردی جنګ وروسته کومی نتیجی داسلام دفتح لښکاره کیدونکی دی هغه لښکاره سی په دی وجه فرمایی و وَلَكِنْ لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا یعنی ددی حالاتو سره سره جنګ څکه وسوچی الله ﷻ کوم کار کوی هغه پوره کړی وښیی اوهغه دا ووچی دزرو تنو باوسله څوانانوپه مقابله کی دری سوه دریارلس ۳۱۳ بی سر اواسبابه وړو ترړو مسلمانانو یوه ټولی

Maktaba Tul Ishaat.com

اودجنګی محاذپه اعتبارسره بی موقعی چی کله ددغه غره سره ټکر ووهی اودغه غردړی وړی کړی اوداکوچنی غوندی ټولی فتح منده سی اوداخبره واضحه اوپه ډاګه سی چی ددی ټولی پرشاهم یولوی طاقت اوقدرت وودکم څخه چی دغه دزرو تنو لښکر محرومه وو اوداهم ښکاره خبره ده چی د دوی تایید داسلام په وجه وو اودهغوی محرومی دکفرپه وجه وه چی په دی سره دحق اوباطل ښه اوبد پوره فرق دهر پوهیدونکی انسان مخ ته راغی په دی وجه دآیت په آخرکی ارشاد فرمایی: لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ یعنی دبدرپه واقعه کی داسلام ښکاره حقوالی اودکفر اوشرك باطلوالی اومردودوالی یی په دی وجه ښکاره کړی چی آئنده څوك په هلاکت کی لویږی هغه ښه په رغړیدلو سترګو په کی لویږی اوکم چی ژوندی پاته کیږی هغه هم په رغړیدلو سترګو ژوند تیروی په تیاره اوغلطی کی کارنه وی.

ددی آیت په الفاظوکی دهلاکت څخه مراد کفردی اودژوند څخه مراد دین داسلام دی مطلب دادی چی دحق ښکاره کیدو څخه وروسته دغلط فهمی احتمال اوعذرخو ختم سو اوس چی څوك کفر اختیاروی دی په رغړیدلو سترګو دهلاکت طرف ته خی اوڅوك چی اسلام اختیاروی هغه په رغړیدلو سترګو دهمیشه ژوند اختیاروی بیا فرمایی، وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ یعنی الله ﷻ ښه اوریدونکی پوهیدونکی دی چی دټولو په زړونوکی دپټ کفراوایمان څخه خبردی اودهر یوه جزا اوسزادهغه په وړاندی دی اومعلوم دی ورته.

په دروڅلویښتم اوڅلور څلویښتم دواړو آیتونوکی دقدرت دیوی خاصی ننبانی ذکردی کمه چی دبدر دغزاپه میدان کی ددی غرض دپاره ښکاره کړل سوه چی داسی ونه سی چی په دواړو لښکرونوکی یوهم میدان جنګ پریږدی اوجنګ ګرسره ونه سی څکه چی ددی جنګ په نتیجه کی په مادی حیثیت سره هم داسلام حقوالی ښکاره کول مقدر سوی وو.

اوهغه ننبانه دقدرت داوه چی دکفارو لښکرکه څه هم چی په واقع کی دمسلمانانو دری چنده وو مګرالله ﷻ په قدرت کامله سره مسلمانانوته ددوی شمیر ډیرکم ښکاره کی چی په مسلمانانوکی کمزوری اواختلاف پیدانه سی اوداواقعه دوه واره وښوول سوه یوځل نبی کریم ﷺ ته په خوب کی داوښوول سوه اوده ﷺ ټول مسلمانان په دی خبرکړل اوپه دی ددوی همتونه زیات سول بل واری عین په میدان جنګ کی کله چی دواړی ډلی یوه اوبل ته مخامخ ولاړی وی مسلمانانوته ددوی تعدادکم وښوول سو په آیت ۴۳ کی دخوب واقعه اوپه آیت ۴۴ کی دویښی واقعه ذکرده.

حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی زمونږپه نظرونوکی خپل مقابل لښکرداسی په نظر راتلی چی مادخپلی خوایوه سړی ته وویل چی دغه خلګ به نوی ۹۰ کسان وی هغه سړی وویل چی نه سل ۱۰۰ به وی په آخری آیت کی ددی سره داهم ذکردی، وَيُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ یعنی الله ﷻ مسلمانان هم دمقابل لښکرپه نظرکی کوم ښکاره کړل ددی دامعنی هم کیدی سی چی دمسلمانانو شمیر خوپه حقیقت کی هم کم وو نودغه صحیح شمیریی دوی ته وښووی اوداهم کیدی سی چی څومره شمیر ددوی په حقیقت کی وو ترهغه یی لاهم ورته کم وښووی لکه چی په څینو روایتونوکی دی چی ابوجهل دمسلمانانو لښکرته وکتل نوخپلو ملګروته یی وویل چی ددوی شمیر خوتردی زیات معلومیږی دکومو دخوراك دپاره چی یواوښ پوره وی په عربوکی به دلښکر دشمیر معلومولو دپاره ددی څخه اندازه لګول کیده چی څومره

Maktaba Tul Ishaat.com

حیوانان ددوی دخوراك دپاره ذبح کیږی یواوښ به دسلو تنو خوراك ګټل کیدی نبی کریم ﷺ هم دبدر په میدان کی دهغه ځای دځوخلګو ځخه دمکی دقریشو دلښکر ددرك لګولو دپاره پوښتنه کړی وه چی ددوی په لښکرکی روزانه څومره اوښان ذبح کیږی نولس ۱۰ اوښان روزانه دذبح کولو ورته وویل سول په دی سره ده دزر تنه لښکر اندازه قآئمه کړه لنډه دا ده چی دابوجهل په نظرکی مسلمانان ټول سل تنه په شمیر وښوول سول دلته هم په کمو ښوولوکی داحکمت ووچی دمشرکانو پرزړونو باندی دمسلمانانو رُعب دمخکی ځخه ونه لویږی او په دی وجه دوی میدان پری نږدی اوونه تښتی .

فآئده : ددی آیت ځخه داهم معلومه سوه چی ځینی وخت په معجزه اوخرقِ عادت سره داسی هم کیدی سی چی دسترګو دلیدلو اندازه غلطه سی لکه چی دلته وسوه .

په دی وجه یی دلته دوباره وفرمایل ، لِيَقْضِيَ اللهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولاً یعنی دادقدرت ښبانه اود سترګو پردید باندی تصرّف په دی وجه ښکاره کړل سوچی دکوم کار الله ﷻ کول غوښتی وی هغه پوره سی یعنی دمسلمانانودکموالی اوبی اسبابی سره سره دوی ته فتح ورکړی داسلام حقوالی اوداسلام او مسلمانانو تایید دغیبی طاقت په ذریعه ښکاره کیدل په دی جنګ کی مقصود وو هغه پوره کړی وښیی دآیت په آخرکی ارشاد فرمایی: وَإِلَى اللهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ یعنی آخر ټول کارونه دالله ﷻ طرف ته واپس کیږی څه چی غواړی هغه کوی اوځه چی غواړی حکم یی کوی چی لږوته پرډیرو ضعیف ته پر قوی غلبه ورکړی کم زیات او زیات کم کړی مولانا رومی رحمه الله په دی باره کی څه ښه فرمایلی دی ،

گرتو خواهی عین غم شادی شود	عین بند پائی آزادی شود
چون تو خواهی آتش آب خوش شود	ورتو خواهی آب هم آتش شود
خاك وباد وآب وآتش بنده اند	بامن وتو مرده باحق زنده اند

که ته وغواړی یاالله ﷻ نوعینی غم خوشحالی سی او بندی آزادسی اوکه ته وغواړی نو اور خوږی اوبه سی اوکه ته وغواړی نو اوبه هم اور سی خاوری باد اوبه او اور دهغه دحکم تابع فرمان دی زما اوستا په نزد مړه اودهغه په نزد ژوندی دی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾

ای مؤمنانو! کله چی مخامخ سی دیوه فوج سره نوثابت قدمه اوسی او الله ﷻ ډیریاد وی ددی دپاره چی مقصودپیدا کی

وَأَطِيعُوا اللهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا

اوحکم منی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ اودیوه اوبل سره جګړه مه کوی نوکم همته به سی اوستاسی رعب به

إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِن

ولاړسی اوصبرکوی بیشکه الله ﷻ سره دصبرکوونکو دی ، اومه کیږی دهغوپه شان کوم چی ووتل

Maktaba Tul Ishaat.com

دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

د خپلو کورونو څخه په تکبّر اوخلګوته په ځان ښوولو سره اومنع یی کوله د الله ﷻ دلاری څخه

وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ۝۴۷

اوالله ﷻ په واك کی دی څه چی دوی کوی .

لنډتفسیر: ای مؤمنانو! کله چی تاسی (کفارو) دیوی ډلی سره (په جهاد کی) مقابل سواست نو (ددی آدابو لحاظ ساتی یوداچی) ثابت قدم اوسی (تښتی مه) او (دوهم داچی) الله ﷻ ډیر یاد وی (چی په ذکر سره په زړه کی قوت راځی) اُمید دی چی تاسی به (په مقابله کی) کامیاب سی (ځکه چی کله ثابت قدمی اوثابت والی دزړه جمع سی نوکامیابی غالبه وی) او (دریم دا چی تول دجنګ په اړوند کارونوکی) دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دحکم منلو (لحاظ) کوی (دشریعت خلاف کارچی درڅخه ونسی) او (څلورم داچی دخپل امام سره اودیوه اوبل سره هم) جګړه مه کوی که نه وی (په نااتفاقی سره) بی همته به سی (ځکه چی قوتونه به موګډود سی پریوه اوبل به مواعتماد پاته نه سی او یوازی سړی به بیاځه کولی سی) او ستاسی رعب به ختم سی (یعنی بی رُعبه به سئ ځکه چی خلګ به ستاسی ددی نااتفاقی څخه خبرسی اوستاسی څخه به یی بیره بیانه وی) او (پنځم داچی که کوم سخت کار درته پیښ سی نو پردي) صبرکوی بیشکه الله ﷻ دصبر کوونکو سره دی (او دالله ﷻ مددګاری دنصرت سبب ده) او (شپږم داچی نیت خالص ساتی په فخراونمایش کی) ددی (کافرانو) خلګوپه شان کیږی مه کم چی (په دی واقعه دبدرکی) دخپلو کورونو څخه په تکبّر اوخلګوته (دخپل اسباب او شان) ښوونکی ووتل اوددی فخر (اوریا سره یی داهم نیت ووچی) خلک دالله ﷻ دلاری (یعنی دین څخه) منع کړی (ځکه چی مسلمانانوته دشکست ورکولو دپاره راغلی وه چی ددی اثر پرعامو طبیعتونو باندی هم ددین څخه لیری والی وو) اوالله (به دی خلګوته پوره سزا ورکړی ځکه چی هغه) د دوی عملونه (دخپل علم) په احاطه کی راوستلی دی .

معلومات اومسئلي

(په جنګ اوجهاد کي دکامیابي دپاره قرآني هدایتونه)

په اولنیو دوو آیتونوکی حق ﷻ مسلمانانوته دمیدانِ جنګ اوددښمن دمقابلی دپاره یوخاص هدایت نامه ورکړي ده کومه چی د دوی دپاره په دنیاکی دکامیابی اوفتح مندی او دآخرت دنجات او مقصد حاصلولو اکسیره (مجربه) نسخه ده او داولنیو صدیوپه ټولو جنګونوکی ترعادت دزیاتو کامیابیو اوفتوحاتو رازپه دی کی وو او هغه یو څه شیان دی .

اول ثبات : یعنی ثابت قدمه پاته کیدل چی په دی کی دقدمونو ثابت والی اودزړه ثابت والی دواړه داخل دی ځکه چی ترڅو پوری دیوه سړی زړه مضبوط نه وی دده قدمونه او نور اندامونه ثابت نسی پاته کیدی اودا یوداسی شی دی چی کم چی هرمؤمن اوکافر پیژنی اوپه پوهیږی اوددنیا هرقوم په خپلو جنګونوکی ددی اهتمام کوی ځکه چی دتجربی دخاوندانو څخه داخبره پټه نه ده چی دمیدانِ جنګ ترټولو اوله

Maktaba Tul Ishaat.com

کامیابه اسلحه مضبوط والی دزړه اوثابت قدمی ده نوری ټولی اسلحی ددی څخه پرته بی کاره دی.
دوهم دالله ﷻ ذکر: داهغه خاصه اومعنوی اسلحه ده دکمی څخه چی دمؤمن څخه ماسوا عامه دنیا غافله ده ټوله دنیا دجنګ دپاره ترټولو دغوره اسلحه اوتر نوی لادنوی اسباب تیارولو اودفوج دثابت قدمی ساتلو خوپوره تدبیرونه کوی مګر دمسلمانانو ددی روحانی اومعنوی اسلحی څخه بی خبره اونا اشنادی داوجه ده چی دجهادپه هرمیدان کی دمسلمانانو مقابله ددی هدایتونو مطابق دکوم قوم سره وسوه دمخالف پوره طاقت اسلحه اواسباب یی بی کاره کړل دالله ﷻ دذکر خپل ذاتی اومعنوی برکتونه خو پرخپل ځای دی داهم حقیقت دی چی دثابت قدمی دپاره تردی غوره هیڅ نسخه هم نسته دالله ﷻ یاد اوپردی باندی اعتماد دبریښنا هغه طاقت دی چی یوکمزوری انسان دغرونوسره ډغرو وهلوته تیاروی اوهرڅومره مصیبت اوپریشانی چی وی دالله ﷻ یاد هغه ټوله په هوا کی الوزوی اودانسان زړه مضبوط اوقدم یی ثابت ساتی.
دلته دا خبره هم ترنظر لاندی وساتی چی دجنګ اوجګړو وخت عادةً داسی وخت وی چی په دی کی هیڅوک بل هیڅ شی نه یادوی دهرچا سره خپل فکروی په دی وجه دعربو دجاهلیت شاعرانو دجنګ په میدان کی هم دخپل محبوب په یادولو باندی فخرونه کړی دی چی دغه دزړه دلوی طاقت اومحبت دپوخوالی دلیل دی یوجاهلی شاعر ویلی دی.

ذَكَرْتُكَ وَالْخَطِّيُّ يَخْطُرُ بَيْنَنَا

یعنی ماته هغه وخت هم یادکړی وی کله چی نیزی زمونږ په مینځ کی کرښیدلی.

قرآن کریم په دی خطرناکه موقع باندی مسلمانانوته دالله ﷻ دذکر تلقین وفرمایی اوهغه هم ډیرپه تاکید سره دلته داخبره دفکر کولوده چی په ټول قرآن کی دالله ﷻ دذکر څخه ماسوا دبل هیڅ عبادت په ډیروالی سره دکولو ذکر نسته صَلٰوةً كَثِيْرًا صِيَامًا كَثِيْرًا هیڅ ځای نه دی ذکر سبب دادی چی دالله ﷻ ذکر یوداسی آسانه عبادت دی چی په دی کی نه کم اولوی وخت خرڅیږی نه محنت اونه په بل شی سره په دی کی کمه منع پیدا کیږی اوپردی سربیره لا زیاته داده چی الله ﷻ محضی په خپل فضل سره دذکر الله دپاره څه شرط اوپابندی اودس پاکی جامه قبله اوداسی نورهم نه دی لګولی هرسړی په هرحال کی داوداسه سره بی اودسه په ولاړی ناستی اوپروتی یی کولی سی اوپردی که دامام جزری رحمۃ اللہ علیہ ددی تحقیق اضافه وکړل سی کومه چی ده په حصن حصین کی لیکلی ده چی ذکرالله یوازی په ژبه یاپه زړه سره ذکر کولو ته نه وایی بلکه هرجائز کارکوم چی دالله ﷻ او رسول الله ﷺ په فرمانبرداری کی دننه کول کیږی هغه هم ذکر الله دی نوددی تحقیق پربنآء باندی دذکر الله مفهوم دومره عام اوآسانه کیږی چی په خوب کی هم انسان ته ذاکر ویل کیږی لکه چی په ځینو روایتونوکی دی: نَوْمُ الْعَالِمِ عِبَادَةٌ یعنی دعالم خوب هم په عبادت کی داخل دی ځکه چی عالم کله په مقتضٰی دخپل علم عمل کوی دهغه دپاره دالازمه ده چی دهغه خوب اوبیداری ټول دالله ﷻ دفرمانبرداری په دآئره کی وی.
په میدان جنګ کی دذکرالله دکثرت حکم که څه هم چی په شکاره دمجاهدینو دپاره دیوه کار اضافه په نظر راځی کوم چی عادةً مشقت اومحنت غواړی لیکن دذکر الله داعجیبه خصوصیت دی چی دامحنت نه

Maktaba Tul Ishaat.com

غواړی بلکه یوه خوشحالی قوت خوند اومزه پیداکوی اودانسان په کارکی زیات کومکی جوړیږی داغسی خوهم دمحنت اومشقت کارکوونکو داعادت وی چی یوه کلمه یاسندره یابل شی دکار کولو سره سره وایی قرآن کریم ورته دهغه نعم البدل ورکی کم چی دزرګونو فآندو اوحکمتونو څخه یڅ دی په دی وجه دآیت په آخرکی یی وفرمایل ، لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ یعنی که تاسی دثابت قدمی اوذکر الله دوه دمه یاد کړل اودامو په میدان جنګ کی استعمال کړل نوفلاح اوکامیابی ستاسی ده .

په میدان جنګ کی ذکرکول یوهغه دی کوم چی په عام ډول سره دنعره تکبیرپه اندازکی کول کیږی په دی سربیره په الله ﷻ نظرکول اعتمادتوکّل اوپه زړه سره دهغه یادول دی چی لفظ دذکرالله دی ټولوته شامل دی .

په شپږځلویښتم آیت کی یی ددریم بل شی تلقین کړی دی او هغه دی ، اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ یعنی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ تابعداری لازمه ونیسی ځکه چی دالله ﷻ کومك اونصرت دهغه دفرمانبرداری په ذریعه حاصلول کیږی معصیّت اونافرمانی خودالله ﷻ دناراضګی اودهر فضل څخه دمحرومی اسباب وی .

دغه ډول دجنګ دمیدان دپاره دقرآنی هدایت نامی دری برخی سوی ثبات ذکرالله اطاعت تردی وروسته فرمایی چی ، وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا په دی کی یی دمضرو اړخونو خبرداری ورکی اودخلاصیدو هدایت یی وکی اودغه مضر اړخونه کوم چی دجنګ په کامیابی کی مانع کیږی په خپل مینځ کی جګړه اواختلاف دی په دی وجه فرمایی ، وَلَا تَنَازَعُوْا یعنی په خپل مینځ کی جګړه اوکش مکش مه جوړوئ که نه وی په تاسی کی به بی زړه توب پیدا سی اوستاسی رُعب به ختم سی .

په دی کی یی دخپل مینځ دجګړی دوی نیتجی بیان کړی یوه داچی تاسی به په ذاتی ډول سره کمزوری اوبی زړه سئ دوهم به ددښمن په نظرونوکی سپك سئ دخپل مینځ دکش مکش اوجګړوپه وجه دنوروپه نظرکی سپکیدل خو یوه بدیهی خبره ده لیکن په خپله پرخپل قوت باندی ددی څه اثرلویږی چی په دوی کی کمزوری اوبزدلی راسی ددی وجه داده چی دیوه اوبل سره دیوکیدو اوپه یوه اوبل داعتماد کولوپه صورت کی دهریوه انسان سره دپوره جماعت طاقت لګیدلی وی په دی وجه هریو سړی په خپل ځان کی دیو جماعت په اندازه قوّت محسوسوی اوکله چی په خپل مینځ کی اعتماد اواتحاد پاته نه سی نو دده قوّت یوازی سی او دا ښکاره خبره ده چی دجنګ اوقتال په میدان کی هیڅ شی نه دی .

تردی وروسته ارشاد فرمایی ، وَاصْبِرُوْا یعنی صبرلازم ونیسی ، دسیاق دکلام څخه داسی معلومیږی چی دایی دجنګ او جګړو څخه دساتلو کامیابه نسخه ښوولی ده اوبیان ددی دا دی چی یوجماعت که هرڅومره په خیال اومقصدکی یووی خو دانسانی افرادو طبعی خصوصیات ضرور مختلف وی دارنګه دیوه مقصد دپاره په سعی اوکوشش کی دهوښیارو اوتجربه کارو درایو اختلاف هم خامخا وی په دی وجه دنوروسره دچلیدلو او ددوی سره دملګری کیدلو دپاره ددی څخه ماسوا بل هیڅ علاج نسته چی سړی دطبیعت څخه په خلاف کارونودصبر کولو اونظر انداز کولو عادی سی اوپرخپل رایه باندی دومره اصرار اوتینګیدل یی نه وی چی څوك یی نه قبلوی نوجنګ ورسره کوی ددی صفت دوهم نوم صبردی .

نن صبا خوهر سړی داپیژنی اووایی چی دیوتربله جګړه ډیره بی کاره شی ده مګر ددی څخه چی دخلاصیدو کوم علت دی چی سړی دخلاف طبع کارونو پرزغملو عادت سی دخپلی خبری په بل باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

دمنلو فکرنه کوی دا په ډیرو کومو خلګوکی پیدا کیږی په دی وجه داتحاد اواتفاق ټول وعظونه او نصیحتونه بی کاره اوبی فآئدی سی دسړی خودا طاقت نه وی چی په بل باندی خپله خبره ومنی مګر دبل خبره منل اوکه دده دعقل او دیانتداری تقاضا داوی چی وی نه منی نولږ ترلږه دجګړی څخه دخلاصیدو دپاره خوچپ پاته کیدل دده په اختیارکی دی په دی وجه قرآنِ کریم دجګړی څخه دځان ساتلوسره سره دصبر تلقین هم دجماعت هرفردته کړی دی چی په عملی دنیاکی دجګړو څخه ځان ساتل آسان سی.

دلته داخبره هم دفکر قابله ده چی قرآنِ کریم دلته: لاَ تَنَازَعُوا فرمایلی دی یعنی دیوه اوبل سره یی دکش مکش څخه منع کړیده درایی داختلاف یادهغه دښکاره کولوڅخه یی منع نه ده کړی درایی اختلاف چی په دیانتداری اواخلاص سره وی هغه هیڅکله دجګړی صورت نه اختیاروی جنګ اوجګړه په هغه ځای کی وی کوم ځای چی درایی داختلاف سره دخپلی خبری په نورو دمنلو اودبل دخبری نه منلو جذبه کار کوی اوداهغه جذبه ده کومه چی قرآنِ کریم د وَاصْبِرُوا په لفظ سره ختمه کړیده اوپه آخرکی یی دصبر کوونکو یوه عظیم الشانه فآئده وښوولە اودصبر تریخوالی یی لیری کی ارشاد فرمایی ، اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰابِرِینَ یعنی صبر کوونکوته دالله ﷻ ملګرتیاحاصله وی الله ﷻ هر وخت په هرحال کی د دوی ملګری وی او دا دومره لوی دولت دی چی د دواړو جهانونو ټول دولتونه ددی په مقابله کی هیڅ نه دی.

نبی کریم ﷺ په ځینو غزاګانوکی دی هدایاتوته دحاضرولو دپاره عینی په میدانِ جنګ کی داخطبه ورکړه (ای خلګو! ددښمن دمقابلی آرزومه کوی بلکه دالله ﷻ څخه عافیت وغواړی اوکله چی په ناچاری سره مقابله جوړه سی نو بیا صبر او ثابت قدمی لازمه ونیسی اوپه دی پوه سی چی جنت دتورو ترسایو لاندی دی) مسلم.

په اووه څلویښتم آیت کی یی دیوه بل مضر اړخ څخه خبرداری اوددی څخه دپرهیز هدایت ورکړی دی هغه دی په خپل قوت اوکثرت باندی ناز یاپه کارکی داخلاص پرځای خپل یوبل غرض ساتل دی ځکه چی دادواړه شیان هم لوی لوی طاقتور جماعتونه پسپا اولاندی کوی.

په دی آیت کی یی اشاره دمکی دقریشو دحالاتو طرف ته هم ده کم چی دخپلی تجارتی قافلی دحفاظت دپاره په لوی شمیر اواسباب سره په خپل قوت اوډیروالی تکبّر کوونکی راوتلی وه اوکله چی تجارتی قافله دمسلمانانو تروالد دباندی ووتله دغه وخت هم په دی وجه ونه ګرځیدل چی دخپل شجاعت اوبهادری مظاهره کول یی مقصود وه.

په مستندو روایتونوکی دی چی کله ابوسفیان خپله تجارتی قافله روانه کړه اود مسلمانانو دوار څخه ووتله نوابو جهل ته یی قاصد ورولیږی چی اوس ستاسی دمخ ته تلو ضرورت پاته نه سو بیرته راځی او دنورو ډیرو قریشو سردارانو هم دارایه وه مګر ابو جهل په خپل کبر اوغرور اودشهرت پرستی په جذبه کی قسم وخوړی چی مونږ ترهغه وخته پوری نه واپس کیږی ترڅو چی بدرته ولاړ نسو اوهلته څوورځی دخپلی فتح جشن جوړ نه کړو ددی په نتیجه کی دی او دده لوی لوی ملګری ټول هلته تم سول (تر قیامته) اویو غار ته ورواچول سول په دی آیت کی یی مسلمانانو ته ددوی په شان دکار کولو څخه دځان ساتلو هدایت وفرمایی.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ اِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَ قَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ

اوکله چې ښایسته کړل دوی ته شیطان عملونه د دوی اووی ویل چې هیڅوك به غالب نه سی په تاسی نن ورځ

مِنَ النَّاسِ وَ اِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ

په خلګو کی اوزه ستاسی حمایت کوونکی یم نوکله چې مخامخ اسول دواړه فوجونه نودی واپس سوپرخپلو پوندو

وَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكُمْ اِنِّيْٓ اَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ

اووی ویل زه ستاسی سره نه یم زه وینم هغه کوم چې یی تاسی نه وینی زه بیریږم

اللّٰهَ ؕ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۴۸﴾ اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

دالله ﷻ اودالله ﷻ عذاب سخت دی، کله چې وویل منافقانو اودکومو په زړونوکی چې

مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۴۹﴾

ناجوړی ده داخلق مغروره دی په خپل دین کی اوڅوك چې توکل کوی پرالله باندی نوالله ﷻ زوروردی حکمت والا

لنډتفسیر: اوهغه وخت دوی ته وریادکړه کله چې شیطان دوی (کافرانو) ته (په وسوسه سره) ددوی عملونه (دکفر دښمنۍ اومخالفت دنبی کریم ﷺ) ښایسته ښکاره کړل (چې دوی دغه خبری ښې وګڼلی) او (تروسوسی زیات یی دا وکړه چې مخامخ یی دوی ته) وویل چې (ستاسی دومره قوت اوشوکت دی چې ستاسی مخالف) په خلګوکی نن هیڅوك پرتاسی غالب نه سی راتلی اوزه ستاسی حمایت کوونکی یم (مه ددباندی دښمنانو څخه بیریږی اومه ددننه دښمنانو څخه بیره کوئ) بیاچې کله دواړی ډلی (دکفارو اومسلمانانو) یوه اوبل ته مخامخ سوی (اوده دملائکو نازلیدل ولیدل) نودی مخ پرشا بیرته وتښتیدی اودایی وویل چې زما ستاسی سره هیڅ واسطه نسته (زه ستاسی هیڅ کومك نه سم کولی ځکه چې) زه هغه شیان وینم کم چې ستاسی په نظرنه راځی (مراد ورڅخه ملائکی دی) زه خودخدای ﷻ څخه بیریږم (هسی نه چې په دنیاکی په ملائکو زما خبر واخلی) اوالله ﷻ سخته سزا ورکوونکی دی اوهغه وخت هم دیادولو وړدی کله چې منافقانو (دمدینی والاوو څخه) اودکومو په زړونوکی چې د (شك) ناجوړی وه (دمکی والاووسره دمسلمانانو دبی سر اواسبابی په حالت کی دمقابلی دپاره دکفارو راتلل ولیدل) داسی یی وویل چې داخلګ (مسلمانان) ددوی دین په غرورکی اچولی دی چې دخپل دین (دحقوالی) په باور په داسی خطره کی ځانونه اچوی (الله ﷻ جواب ورکوی) اوکوم سړی چې په الله ﷻ باورکوی نو (هغه اکثره غالب کیږی ځکه چې) بیشکه الله ﷻ زورآور دی (په دی وجه په الله ﷻ بروسه کوونکی غالب کوی اوکه چیری کله مغلوب هم سی نو په هغه کی مصلحت وی ځکه چې) هغه حکمت والا (هم) دی (مقصد دا دی چې په ظاهری اسباب اوبی اسبابی باندی دار اومدار نه دی قادر ذات بل دی)

معلومات اومسئلې: دسورة انفال دشروع څخه دبدرپه غزاکی دپیښیدونکو واقعاتو اوحالاتو او ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه دحاصلیدونکو نصیحتونو اوعبرتونو او ددی سره داړوندو حکمونو بیان روان دی په دی کی یوه واقعه دمکی قریشوته دشیطان دفریب ورکولو اود مسلمانانو مقابلی ته یی دراپارولو اوبیا عین په میدان جنګ کی یی ددوی څخه دجلا کیدلوده کمه چی دذکر سوو آیتونوپه شروع کی ذکرده دشیطان دا فریب دقریشو په زړونو کی دوسوسی اچولوپه صورت کی وو یاپه انسانی شکل کی په مخامخ ورته راتلو او خبرو سره وو؟ په دی کی دواړه احتمالات سته مګر دقرآن دالفاظو څخه زیات تائید د دوهم صورت کیږی چی د انسان په شکل کی مخامخ راغی اوفریب یی ورکی امام ابن جریر رحمه الله دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دروایت څخه نقل کړی دی چی کله دمکی دقریشو لښکر دمسلمانانو دمقابلی دپاره دمکی څخه ووتی نوددوی پرزړونو یوه خطره داخپره سوه چی مونږته نژدی دبنوبکر قبیله هم زمونږ دښمنه ده هسی نه چی مونږ دمسلمانانو مقابلی ته ولاړ سو او دغه دښمنه قبیله موقع پیدا کړی اوزمونږ پرکورونو بنځو اوکوچنیانو باندی چاپه ووهی دقبیلی دامیر ابوسفیان په بیرول سوی آواز اوفریاد خو تیار سول او ووتل مګر دابیره ددوی دپاره دپښو زنځیر جوړ سوی وو چی ناڅاپه شیطان دسراقه بن مالك په صورت کی داسی مخ ته ورغی چی دده په لاس کی جنډه او ورسره یوه ټولی دبهادرفوج وه سراقه بن مالك ددغه علاقی اوقبیلی لوی سردار وو دکوم څخه چی دحملی پیړه وه دی راوړاندی سو دقریشو دڅوانانو لښکر ته یی خطاب وکی اوپه دوه قسمه فریب یی اخته کړل اول داچی ، لاَ غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ یعنی نن په ټولوخلګوکی پرتاسی څوك غالب راتلونکی نسته مطلب یی داووچی ستاسی دمقابل فریق دقوت څخه هم خبریم اوستاسی قوت اوډیروالی هم وینم په دی وجه تاسی ته یقین درکوم چی تاسی بی فکره سی وړاندی سی تاسی به غالب یاست څوك ستاسی په مقابله کی غالب راتلونکی نسته.

دوهم داچی ، إِنِّي جَارٌ لَكُمْ یعنی تاسی چی کوم دښی بکر اونورو څخه بیریږی چی ترتاسی وروسته به پرمکه حمله وکړی دهغه ذمه واری اخلم چی داسی نه کیږی ، زه ستاسی حمایت کوونکی یم دمکی قریش دسراقه بن مالك او ده دلوی شخصیت او اثر او رسوخ څخه مخکی خبر وه دده خبری چی یی واوریدی نوزړه یی پرځای سو اودښی بکر قبیلی دخطری څخه بی فکره سول اود مسلمانانو دمقابلی دپاره تیار سول په دی دوه قسمه فریب سره شیطان دوی دخپل دقتلیدو ځای ته ورورانډی کړل ، فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَى عَقِبَيْهِ کله چی دمکی دمشرکانو او مسلمانانو دواړه فوجونه (په مقام دبدر کی) مخامخ سول نو شیطان مخ په شا باندی واپس سو.

دبدر په غزا کی چی کله دمکی دمشرکانو په شا یو شیطانی لښکر هم راغلی وو په دی وجه الله ﷻ د دوی په مقابله کی دملائکو لښکر دجبرآئیل اومیکآئیل علیهما السلام په قیادت کی راولیږی امام ابن جریر رحمه الله او نورو په روایت دابن عباس رضی الله عنه نقل کړی دی چی شیطان کوم چی په شکل دانسان دسراقه بن مالك په صورت کی دغه وخت راغلی وو او دخپل شیطانی لښکر قیادت یی کوی کله چی یی جبرآئیل امین او ده سره دملائکو لښکر ولیدی نو وبیریدئ دغه وخت دده لاس دیوقریشی څوان حارث بن هشام په لاس کی وو فوراً یی دهغه څخه خپل لاس خلاص کی او وتښتیدئ حارث دی راکښ کی چی داڅه کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

نوحارث یی په سینه کی ووهی اوغوڅار یی کی اودخپل شیطانی لښکر سره ولاړی وتښتیدی حارث دی سراقه ګنی نو وی ویل ورته چی ای دعربو سرداره سراقه ! تاخو ویل چی زه ستاسی حامی او کومکی یم او اوس عین په میدانِ جنګ کی داسی کوی نو شیطان په شکل دسراقه وویل : إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ إِنِّي أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ : یعنی ستاسی دوعدی څخه خلاص یم ځکه چی زه شیان وینم کوم چی ستاسی سترګی یی نه وینی مراد ورڅخه دملائکو لښکروو او دا چی زه دالله ﷻ څخه بیریږم په دی وجه ستاسی ملګرتیا پریږدم شیطان دملائکو لښکر ولیدی دهغو دقوت څخه دی خبروو نوپوه سوچی اوس زماخیر نسته اوداچی یی وویل چی زه دالله ﷻ څخه بیریږم دتفسیر امام قتادة وایی چی داده درواغ وویل که دی دخدای ﷻ څخه بیریدی نونافرمانی به یی ولی کوله مګر اکثره حضرات فرمایی چی بیریدل هم پرخپل ځای صحیح دی ځکه چی دی دالله ﷻ دکامل قدرت او سخت عذاب څخه خبردی په دی وجه دنه بیریدو هیڅ وجه نسته البته یوازی بیره بغیر دایمان اوطاعت څخه هیڅ فآئده نه ورکوی.

ابوجهل چی کله دسراقه اودهغه دلښکرپه واپس کیدو سره دخپل لښکر زړونه ماتیدل ولیدل نوخبره یی جوړه کړه اووی ویل چی دده په تښتیدلو تاسی مه بی زړه کیږی ده په پته دمحمّد (ﷺ) سره سازش کړی وو دشیطان تر واپس کیدو وروسته چی ددوی کوم حشر کیدونکی وو اوهغه وسو نوبیاچی کله داخلک مکی ته بیرته راغلل اوپه دوی کی دچا ملاقات دسراقه بن مالك سره وسو نوسراقه یی ملامت کی چی دبدر په جنګ کی زمونږ دشکست اوټول نقصان ذمه واری پرتاده چی ته عین دجنګ په میدان کی واپس سوی اوزمونږ دځوانانو همّت دی مات کی هغه وویل چی زه خونه ستاسی سره تللی یم او نه ستاسی په کوم کار کی شریك سوی یم ما خو ستاسی دشکست خبر هم ستاسی مکی ته تر را رسیدلو څخه وروسته واوریدی دا ټول روایتونه امام ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کی دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی دشیطان لعین داعام عادت دی چی انسان په بدی کی مبتلا کړی اوپرعین موقع باندی بیا ورڅخه جلاسی قرآن کریم دده داعادت وار وارښیان کړی دی په یوه آیت کی ارشاد دی ، كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ .....

(دشیطان دوګه اوفریب او ددی څخه دخلاصیدنو طریقه)

په ذکرسوی آیت کی ددی واقعی څخه څرګندی حاصلی سوی اوّل داچی شیطان دانسان دښمن دی ده ته دنقصان رسولو دپاره قسم قسم حیلی کوی اوطریقه بدلوی ځینی وخت یوازی په زړه کی وسوسه وراچوی پریشانول کوی یی اوکله مخامخ راڅی دوکه ورکوی.

دوهم دا چی شیطان ته الله ﷻ ددی قدرت ورکړی دی چی دی په مختلفو شکلونوکی ښکاره کیدی سی په یوه مشهور حنفی فقهی کتاب ، آکام المرجان فی احکام الجان کی یی داپه وضاحت سره ثابته کړې ده په دی وجه تحقیق کوونکی صوفیان کرام رحمهم الله کوم چی خاوندان دکشف اوشهود دی دوی خلګ په دی باندی خبر کړی دی چی دیوسړی لیدل یا دده خبری او ریدل اوبی تحقیقه په ده پسی کیدل خطرناك وی په کشف اوالهام کی هم شیطانی خبری کیدی سی مولانا رومی رحمه الله فرمایی.

ای بسا ابلیس آدم روی ست ..... پس بهر دستی نشاید داد دست

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی ډیر دابلیس په شان شیطانان خلګ هم وی نوپه هرچا پسی کیدل اولاس نیول ورځخه نه دی په کار اول یی دحال تحقیق کول په کار دی او حافظ رحمه‌الله فرمایی.

در راه عشق وسوسه اهرمن بسی ست ..... هُشدار وگوش رابه پیام سروش دار

دعشق په لاره کی وسوسه کوونکی شیطانان ډیر دی هوښیار اوسه اوغوږونه دملائکی خبری ته یعنی وحی الهی ته نیولی ساته.

(دکامیابي دپاره یوازی اخلاص دنیت کافي نه دی اول دلاری سیده والي ضروری دی)

دریم دا چی کوم خلګ په کفر او شرك یانورو ناجآئزو عملونوکی اخته وی د دوی زیات سبب دا وی چی شیطان د دوی بدعملونه ښایسته اونفعمندښکاره کړی ددوی زړونه اودماغونه دحق اوصدق اوصحیح نتیجو ځخه وګرځوی دوی خپل باطل حق اوبد ښه ګڼی اودحق دخاوندانوپه شان په خپل باطل باندی دځان قربانولوته تیاروی په دی وجه دقریشو لښکر اوددوی سرداران چی کله دبیت الله شریفی ځخه رخصت کیدل نودبیت الله شریفی په وړاندی یی په دی الفاظو سره دعاوکړه اوروان سوه چی، اَللّٰهُمَّ انْصُرْ اَهْدَ الطَّآئِفَتَیْنِ یعنی ای الله په مونږ دواړو ډلوکی چی کمه زیاته پرهدایت باندی وی دهغی کومك وفرمایی اوفتح ورلره ورکړی داناپوه خلګ په شیطانی فریب کی راغلی وه خپل ځانونه یی زیات پر هدایت اوپرحقه ګڼل اوپه پوره اخلاص سره یی دخپل باطل په حمایت کی ځانونه او مالونه قربانول.

ددی ځخه معلومه سوه چی یوازی اخلاص کافی نه وی ترڅو پوری چی دعمل رُخ برابرنه وی.

تردی وروسته په دوهم آیت کی دمدینی دمنافقانو اودمکی دمشرکانو یوه شریکه وینا د مسلمانانو په باره کی دا نقل کړي ده چی ګواکی پردوی یی بیره راڅی نووایی چی، غَرَّ هٰؤُلَاءِ دِیْنُهُمْ یعنی دبدر په میدان کی دا یو موتی مسلمانان د دومره لوی او قوی لښکر سره دتکر وهلو دپاره راغلی دی داعاجزان د دوی دین په فریب کی اچولی دی دمرګ په ځُله کی یی ورکړل الله ﷻ د دوی په جواب کی فرمایی، وَمَنْ یَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ یعنی کوم سړی چی په الله ﷻ توکلّ اوبا ورکوی نویادساتی چی هغه هیڅکله نه ذلیل کیږی، ځکه چی الله ﷻ په تولو باندی غالب دی دهغه دحکمت په مخکی دتولو عقل او پوه حیران پاته سی مطلب دا دی چی تاسی خلګ یوازی په ماده اومادیاتو باندی پوه یاست اوپه هغه باور کوونکی یاست تاسی ته دهغه دپتو طاقتونو خبر نسته کوم چی ددی مادی اومادیاتو دپیدا کیدونکی په خزانو کی دی اوکوم چی دهغو خلګو سره وی چی په الله ﷻ ایمان او اعتماد ساتی، نن هم دیندار ساده مسلمانانو ته چی ګوری ډیر دعقل اوپوهی مدعیان داسی وایی چی.

یعنی دا دزړی زمانی خلګ دی دوی ته ګرسره څه وایاست مه.

لیکن که په دوی کی په الله ﷻ اعتماداوایمان پوره وی، نودوی ته ددی ځخه هیڅ ضررنه سی رسیدای.

وَلَوْ تَرٰٓی اِذْ یَتَوَفَّی الَّذِیْنَ کَفَرُوا الْمَلٰٓئِکَةُ یَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ

او که ته وویني کوم وخت چی روح قبض کوی دکافرانو ملائکی وهی د دوی مخونه او د دوی شاګانی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۵۰﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَ اَنَّ

او وایی چی وځکی عذاب سوځونکی دا بدله ده دهغه کوم چی تاسو په خپلولاسونو مخکی لیږلی دی او

اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۵۱﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَ الَّذِيْنَ

په دی وجه چی الله ﷻ ظلم نه کوی پربندګانو ، لکه چی قانون وو دفرعونیانو او کوم چی

مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ اِنَّ

تر دوی مخکی وه چی منکر سو دالله ﷻ دخبرو ځخه ، نو دوی ونیول الله ﷻ د دوی په ګناهونو بیشکه

اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۵۲﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا

الله ﷻ زورآور دی سخت عذاب ورکوونکی دی ددی سبب دا دی چی الله ﷻ هیڅکله نه دی بدلوونکی ،

نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ وَ اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۵۳﴾ ۙ

دهغه نعمت کوم چی ده ورکړی وی یوه قوم ته ترڅوچی هغوی بدل نه کړی خپل ځانونه او دا چی الله ﷻ او ریدونکی پوهیدونکی دی .

لنډتفسیر: اوکه ته (دهغه وخت واقعه) ووینی (نوعجیبه واقعه به ووینی) کله چی ملائکی ددی (موجوده) کافرانو روح قبض کولوته راسی (او) دوی پرمخانو اوشاګانو وهی اوداورته وایی چی (اوس څه دی مخ ته) داور سزا څکل (او) دا عذاب دهغو عملونو (کفریه) په وجه سره دی کوم چی تاسی په خپلو لاسونو راجمع کړی دی او دا خبره ثابته ده چی الله ﷻ په بندګانو ظلم کوونکی نه دی (نو الله ﷻ بی جُرمه سزانه درکوی نو) د دوی حالت (په دی باره کی چی پرکفر باندی یی سزا ولیده) داسی دی لکه دفرعونیانو اوتر دوی دمخکنیو (کافرانو) خلګوچی ووچی دوی دالله ﷻ دآیتونو ځخه انکار وکی نوالله ﷻ دوی د (دغو) ګناهونو (په عذاب) کی ونیول بیشکه الله ﷻ لوی قوت والا سخته سزاورکوونکی دی (چی دده په مقابله کی بل کوم داسی قوت نسته چی د دوی ځخه عذاب لیری کړی او) دا خبره (چی بی له جرمه ځخه مونږ سزا نه ورکوو) په دی سبب سره ده (چی زمونږ یوه قاعده کلیه مقرره ده اوبی له جُرمه ځخه سزانه ورکول ددی قاعدی یوه فرعه ده اوهغه قاعده دا ده چی) الله ﷻ یو داسی نعمت کوم چی یی پریوه قوم باندی فرمایلی وی نه بدلوی ترڅوچی هغه خلګ خپل ذاتی عملونه بدل نه کړی او داکار ثابت دی چی الله ﷻ لوی او ریدونکی لوی پوهیدونکی دی (نوهغه دخبری بدلون اوری اودکارپه بدلون باندی پوهیږی نودی موجوده کفارو خپل داحالت بدل کی چی په دوی کی سره دکفره اول دایمان راوړلو استعداد نژدی وو په انکار او مخالفت یی هغه لیری کړی نومونږ خپل نعمت دمهلت ددوی په نیولو سره بدل کی اووجه یی دغه ذکر سوی وه چی دوی داستعداد نژدی دغه نعمت بدل کی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: دذکر سوو آیتونو په وړاندی دوو آیتونو کی دمرګ په وخت کی دکافرانو دعذاب اودملائکو دوی ته دخبرداری ذکردی په دی کی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمایی چی که ته ددی کافرانو حال هغه وخت وویني کله چی دالله ﷻ ملائکی د دوی دروح قبض کولو په وخت کی دوی پرمخانو اوشاګانو وهی اودا ورته وایی چی په اورکی دسوځیدو عذاب وځکی نوته به یولوی هیبتناك منظر وویني ، دتفسیر دامامانو ځخه ځینو حضراتو دا دقریشو دهغو کافرانو په حق کی مقرر کړي ده ، کوم چی دبدر په میدان کی دمسلمانانو مقابلی ته راغلی وه ، اوالله ﷻ دمسلمانانو دکومك دپاره دملائکو لښکر رالیږلی وو په دی صورت کی به دآیت معنی داسی چی دبدر په میدان کی دقریشو کوم سرداران چی ووژل سول د دوی په وژلوکی دملائکو لاس وو کوم چی دوی به یی دمخ دخوا ځخه په مخانو او دشا ځخه په شاګانو وهل او مړه کول به یی او ددی سره به یی ورته په آخرت کی دجهنّم دعذاب خبر اوروی ، اوکومو حضراتو چی دآیت دالفاظو دعاموالی په وجه ددی مضمون عام کړی دی دهغه مطابق دآیت معنی دا ده چی کله کوم کافر مړ کیږی او دروح قبض کولو ملائکه دمرګ په وخت کی دده مخ اوشا وهی په ځینو روایتونوکی دی چی داور دُرّی او داوسپنی ګُرزونه ددوی په لاسوکی وی په کومو سره چی دوی مړ کیدونکی کافر وهی مګر کله چی ددغه عذاب تعلق ددی دُنیا سره نه دی بلکه دعالم قبر سره دی کم ته چی برزخ ویل کیږی په دی وجه په عام دول سره په سترګو باندی نه لیدل کیږی .

په دی وجه نبی کریم ﷺ ته یی داخطاب وکی چی که تالیدلی نوډیر عبرتناك منظربه دی لیدلای ددی ځخه معلومه سوه چی دمرګ ځخه وروسته به په عالم برزخ کی کافرانو ته عذاب ورکول کیږی مګر ددی تعلق دعالم غیب سره دی په دی وجه په عام دول سره نه سی لیدل کیدای دقبر دعذاب ذکر دقرآن مجید په نورو آیتونو کی هم راغلی دی او دحدیثونو په روایتونو کی خو بی شمیره ذکر دی .

په دوهم آیت کی کفاروته ارشاد کوی اوفرمایی چی داعذاب ددُنیا اوآخرت ستاسی دلاسونو ګټه ده کله چی عام کار اوبار دلاسونوپه ذریعه پیداکیږی په دی وجه دلاسونو ذکریی وکی مطلب دا دی چی داعذاب ستاسی دخپلو عملونو نتیجه ده اوداچی الله ﷻ په خپلو بندګانو باندی ظلم کوونکی نه دی چی بی له وجهی ځوك په عذاب کی اخته کوی .

په دریم آیت کی یی وښوولە چی پردی مجرمانو دالله ﷻ داعذاب کومه نوی خبره نه ده بلکه دالله ﷻ عادت دا دی چی الله ﷻ دخپلو بندګانو دهدایت دپاره دوی ته عقل اوپوهه ورکړي ده په شا اوخوا د .وی دپاره داسی شیان موجود وی په کوموکی چی په غور او فکر کولوسره دالله ﷻ لوی قدرت اولوی شان پیژندل کیږی اوچی عاجزه مخلوق ورسره شریك نه جوړوی بیایی د زیاتی خبرداری دپاره خپل کتابونه اورسولان رالیږلی دی دالله ﷻ رسولان هم په دغو ښوونو او پوهولوکی ځه کمی نه کوی او هغوی دوی ته دالله ﷻ دقاهره قدرت اوقوت ښانی هم په شکل دمعجزو سره ښیی کله چی یوفرد یاقوم ددی ټولو شیانو ځخه بالکل سترګی بندی کړی اوخدائی خبرداری یی هم پرغوږونو ونه لګیږی نو بیا دالله ﷻ عادت دداسی خلګو په باره کی دا دی چی په دنیاکی هم په دوی عذاب راځی او دآخرت په همیشه عذاب کی هم ګرفتاریږی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاد فرمایی ، كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ د ، دَأب معنی عادت دی مطلب دا دی چی لکه څنګه چی دفرعونیانو او د دوی څخه دمخکنیو کافرانو اوسرکښانو په باره کی دالله ﷻ عادت دنیاته معلوم سوی دی چی فرعون یی دده دټولو خادمانو اولښکریانو سره په دریاب کی غرق کی او تر دوی مخکی دعادیانو اوثمودیانو قومونه یی په مختلفو عذابونو سره هلاك کړل.

كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ : دی خلګو دالله ﷻ آیتونه اوښښانی درواغجنی کړلی نو الله ﷻ دوی په خپل عذاب سره ونیول إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ : وجه دا ده چی الله ﷻ قوی دی یو څوك طاقتور اوبهادر دخپل قوّت په زور سره دده دعذابه څخه نه سی خلاصیدی او دالله ﷻ سزا هم ډیره سخته ده.

په څلورم آیت کی الله ﷻ دخپل انعام اوبخښش دقآئم اوباقی پاته کیدو یوه قاعده بیان کړي ده ارشاد فرمایی ، بِأَنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ : یعنی الله ﷻ چی کوم نعمت یوه قوم ته ورکړی هغه ترهغه وخته پوری نه بدلوی ترڅوچی دغه خلګ په خپله خپل حالات اوعملونه بدل نه کړی.

دلته اوله خبره دفکر کولو قابله دا ده چی الله ﷻ دنعمت ورکولو دپاره کومه ضابطه نه ده بیان کړی اونه ددی دپاره یی کوم قید اوشرط ولګوی او نه یی په کوم ښه عمل باندی موقوف وساتی څکه چی که داسی وی نو ترټولو اولنی نعمت کوم چی زمونږ وجود دی او په دی کی دالله ﷻ دقدرت په عجیبه کار کردګی سره په زرګونوحیرانوونکی نعمتونه امانت اینبوول سوی دی دانعمتونه ښکاره ده چی هغه وخت راکړل سوی دی ، کوم وخت چی نه مونږ وو او نه زمونږ څه عمل وو.

مانبودیم وتقاضائی مانبود ..... لطف تو ناگفتهٔ ما می شنود

نه مونږ وو اونه زمونږ داخواهش ووچی مونږ داسی پیداکړه ستامهربانی زمونږناویلی آرزوګانی اوریدي که دالله ﷻ انعامات او احسانات دبندګانو دنیکو عملونومنتظر وای نودسره به زمونږ وجودنه وای قآئم سوی دالله ﷻ نعمت او رحمت خو دهغه ربّ العٰلمین او رحمٰن رحیم کیدو په نتیجه کی دی البته ددغه نعمت او رحمت دباقی پاته کیدو یوه قاعده یی په دی آیت کی دا بیان کړه چی کوم قوم ته الله ﷻ کوم نعمت ورکوی نودغه دهغو څخه ترهغه وخته پوری بیرته نه اخلی ترڅو پوری چی دوی خپل حالات اوعملونه بدل نه کړی او په خپله دالله ﷻ عذاب ته دعوت ورنه کړی.

دحالاتو دبدلولو څخه مراد دا دی چی ښه عملونه اوحالات بدل کړی اوبد عملونه اوبد حالات اختیار کړی یا دا چی دالله ﷻ دنعمتونو دورکولو په وخت کی په کومو بدوعملونو اوګناهونوکی چی اخته وی دنعمتونو تررسیدو وروسته ترپخوا په زیاتو بدو عملونوکی اخته سی.

ددی تفصیل څخه داهم معلومه سوه چی دکومو قومونو ذکرپه تیرو آیتونوکی راغلی دی یعنی دقریشو دکافرانو اودفرعونیانو ددوی تعلق ددی آیت سره پردی بنآء باندی دی چی داخلګ که څه هم چی دالله ﷻ دنعمتونو درسیدوپه وخت کی هم په یو ښه حالت کی نه وه ټول مشرکان اوکافران وه لیکن دانعاماتو څخه وروسته دا خلګ په خپلو بدعملونو او شرارتونو کی تراوله زیات تیز سول.

فرعونیانو په بنی اسرآئیلو قسم قسم ظلمونه شروع کړل بیا دحضرت موسیٰ ﷺ مقابلی اومخالفت ته تیار سول چی دا د دوی پرتیرو جُرمونو باندی سخت زیاتوالی وو دکوم په ذریعه چی دوی خپل حالات

Maktaba Tul Ishaat.com

زیات دبدی وطرف ته بدل کړل نوالله ﷻ هم خپل نعمت په عذاب بدل کی دغه ډول دمکی قریش که څه هم چی مشرکان اوبد عمله وه لیکن ددی سره په دوی کی یوځه ښه عملونه لکه صله رحمی میلمه پالنه دحاجیانو خدمت دبیت الله تعظیم اونورهم وه الله ﷻ په دوی باندی ددین اودُنیا دنعمتونو دروازی خلاصی کړی په دُنیاکی ددوی تجارتونه زیات سول اوپه داسی ملکونوکی کم ځای چی به دچا تجارتی قافله په سلامتی سره نه سوای تیریدلی ددی خلګو تجارتی قافلی به دشام او یمن په ملکوکی تلی اوپه کامیابی سره به راتلی دکومو ذکرچی دقرآنِ کریم په سورة: لایلف کی د: رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ په عنوان سره سوی دی.

اوددین په اعتبارسره هغه عظیم نعمت دوی ته ورکړل سوکوم چی تیر یوه قوم ته نه وو ورکړل سوی چی سردار دانبیاوو خاتم درسولانو ﷺ په دوی کی راولیږل سو دالله ﷻ آخری اوجامع کتاب قرآنِ کریم په دوی کی راغی.

مګر دی خلګو دالله ﷻ ددی انعامونو دشکر ګذاری اوقدر کولو او ددی په ذریعه دخپلو حالاتو دبرابرولو په ځای ترمخکی هم زیات مُردارکړل چی صله رحمی یی پریښول په مسلمانیدونکو وړونو وراره ګانو اوقریبانو باندی یی وحشیانه ظلمونه شروع کړل دمیلمه پالنی په ځای یی په دغو مسلمانانو داوبو بندولو عهدنامی ولیکلی دحاجیانو دخدمت پرځای یی مسلمانان په حرم کی ددا خلیدو څخه منع کول شروع کړل داهغه حالات وه چی دقریشو کافرانوبدل کړل ددی په نتیجه کی الله ﷻ خپل نعمتونه دعذابونو په صورت کی بدل کړل اودوی په دنیا کی هم ذلیل اوخوار سول اوکوم ذات چی رحمة للعٰلمین راغلی وو دهغه په ذریعه دوی خپل مرګ اوهلاکت ته دعوت ورکی.

او په تفسیر مظهری کی دتاریخ دمعتبرو کتابونو په حواله سره لیکلی دی چی کلاب بن مره کوم چی دنبی کریم ﷺ په نسب کی دریم نیکه دی دی داول څخه ددینِ ابراهیم او اسماعیل ﷺ پایبند اوپه دی قآئم وو اونسل په نسل ددی دین مشری اوسرداری ددوی په لاسو کی وه دقصی بن کلاب په زمانه کی په دی خلګوکی بُت پرستی شروع سوه تردی مخکی کعب بن لؤی ددوی دینی مشروو دجمعی په ورځ کمی ته چی به یی ددوی په ژبه کی عروبه ویله ټول خلګ به یی راجمع کول اوخطبه به یی ورکوله اودابه یی ورته ویل چی دده په اولادکی به خاتم الانبیآء ﷺ پیدا کیږی دهغه تابعداری به پرټولو لازمه وی څوک چی په ده ﷺ ایمان رانه وړی دده هیڅ عمل به قبول نه وی دنبی کریم ﷺ په باره کی دده عربی شعرونه دجاهلیت په شاعرانوکی مشهور دی او دی قصی بن کلاب به دټولو حاجیانو دپاره دخوراك او اوبو انتظام کوی تردی چی دا شیان د نبی کریم ﷺ په خاندان کی دده ترمبارك وخته پوری قآئم وه.

ددی تاریخی تشریح په بنآء باندی دا هم ویل کیدی سی چی دقریشو دحالاتو دتبدیلی څخه مراد دا وی چی ابراهیمی دین یی پریښوی اوبُت پرستی یی اختیار کړه.

په هرحال دآیت دمضمون څخه دامعلومه سوه چی ځینی وخت الله ﷻ خپل نعمت ځینی داسی خلګوته هم ورکوی کوم چی په خپل عمل سره ددی مستحق نه وی لیکن دنعمت ورکولو څخه وروسته که دی دخپلو عملونو مخ داصلاح اوبرابری طرف ته دراګرځولو په ځای په بدو عملونوکی نور زیاتی شروع کړی نوبیا

Maktaba Tul Ishaat.com

دا نعمت ددوی څخه واخیستل سی او دوی دعذاب الهی مستحق وګرځی .
دآیت په آخرکی فرمایی : وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ : یعنی الله ﷻ د دوی دهری خبری اوریدونکی او د دوی په تولو عملونو او کارونو پوهیدونکی دی په دی کی دځه غلطی یاغلط فهمی امکان نه وی .

كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ

لکه چی قانون وو دفرعونیانو اوکوم چی تردوی مخکی وه چی دوی درواغجنی کړی خبری دخپل رب بیاهلاک کړل

بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاَغْرَقْنَاۤ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵۴﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ

مونږ دوی د دوی په ګناهونو اوډوب کړل مونږ فرعونیان اوتول ظالمان وه ،بیکاره په تولوروح لرونکو کی

كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۵﴾ الَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ

دالله ﷻ په نزد هغه دی کوم چی منکر سول بیا دوی ایمان نه راوړی ، دکومو سره چی تافیصله کړې ده ددوی څخه

عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ

بیا دوی ماتوی خپل عهد په هر وار او دوی بیره نه لری نوکه چیری ته پیدا کی دوی

فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾

په جنګ کی نودوی لره داسی سزاورکړه چی ددوی په لیدنه نور وروسته وتښتی چی دوی عبرت حاصل کړی ،

وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ

اوکه تاته بیره وی دیوه قوم څخه د خیانت نو وغورزوه ددوی عهد دوی ته داسی چی تاسی اودوی برابرسی ،

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ ع

بیشکه الله نه خوښوی خیانت کوونکی

لنډتفسیر: (نوپه دی کاردتبدیلی کی هم) د دوی حالت دفرعونیانو اوتردوی دمخکنیو په شان دی چی دوی دخپل رب آیتونه درواغجن کړل په دی باندی مونږدوی ددوی د (دي) ګناهونوپه سبب سره هلاک کړل او (په دوی کی) فرعونیان په خاص ډول سره مونږ هلاک کړل چی (دوی مو) غرق کړل اودغه (فرعونیان اومخکی خلک) تول ظالمان وه بیشکه بد ترین په مخلوق کی دالله ﷻ په نزد داکافران خلک دی (کله چی دوی په علم دالله ﷻ کی داسی دی) نودوی ایمان نه راوړی چی اندازه یی داده چی تا د دوی سره (څو واره) عهد کړی دی (مګر) بیا (هم) دوی پرهروار خپل عهد ماتوی او دوی (دعهد ماتولو څخه)

Maktaba Tul Ishaat.com

نه بیریږی نوکه ته په جنګ کی پردی خلګو طاقت پیداکی (اودوی ستا په لاس درسی) نوپر دوی حمله داسی کوه چی ددوی په ذریعه نور خلګ (کوم چی ددوی څخه ماسوا دی) ګډوډ کړی ددی دپاره چی دغه خلګ پوه سی (چی دوعدی ماتولو تاوان داسی سو نومونږ به داسی نه کوو داحکم هغه وخت دی چی کله دغه خلق په ډاګه عهد مات کړی) اوکه چیری (تراوسه یی خولاپه ښکاره سره نه وی مات کړی لیکن) تاته دیوه قوم څخه دخیانت (یعنی وعدی ماتولو) ویره وی نو (اجازه ده چی) ته دوی ته هغه وعده داسی واپس کړی (یعنی داسی ددغه عهد دباقی نه پریښولو خبر ورکړی) چی تاسی اودغه خلګ (په دی خبرکی) برابرسی (اوبغیر ددی خبر څخه جنګ کول خیانت دی او) بیشکه الله ﷻ خیانت کوونکی نه خوښوی.

معلومات اومسئلي: په ذکرسوو آیتونوکی داوّل آیت مضمون بلکه الفاظ تقریبًا هغه دی کوم چی یو آیت مخکی راغلی دی ، كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللهِ فَأَخَذَهُمُ اللهُ بِذُنُوبِهِمْ : مګر مقصد دبیان په دواړو کی جلا جلادی په اولنی آیت کی مقصد دادی چی دالله ﷻ عام قانون دا دی چی کله په یوه قوم دالله ﷻ نعمتونه اورول سوی وی اودوی یی قدرونه پیژنی اودالله ﷻ په مخکی کښته نه سی نو دغه نعمتونه په مصیبتونو بدل سی فرعونیانو اوتردوی مخکنیو قومونو چی کله دالله ﷻ دنعمتونو قدرونه کی نو د دوی څخه نعمتونه واخیستل سول او دنعمتونو په ځای په عذاب کی ونیول سول څه یی په الفاظوکی هم څینی څینی فرق کړی دی او خاصی خاصی اشاری فرمایلی یی دی مثلاً په اول آیت کی د، كَفَرُوا بِآيَاتِ اللهِ الفاظ وه اودلته د ، بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لفظ دی دلفظ دالله په ځای یی صفت دربّ ذکر کی ، دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دغه خلګ دیر ظالمان حق نه پیژندونکی وه چی کوم ذات د دوی ربّ دی د دوی دابتدآء څخه واخله ترموجوده حالته پوری دهغه په نعمتونوکی ددوی پرورښت سوی دی اودوی دهغه نښانی درواغجنی بولی.

دارنګه په اول آیت کی یی ، فَأَخَذَهُمُ اللهُ بِذُنُوبِهِمْ فرمایلی وه دلته یی ، فَأَهْلَكْنَاهُم بِذُنُوبِهِمْ ارشاد وفرمایی په دی کی ددی اجمال تفصیل اوتشریح وسوه څکه چی په اولنی آیت کی ددوی په عذاب کی نیول یی ذکر کړل چی ددوی مختلف صورتونه کیدی سی چی په ژوندکی په مصیبتونوکی ګرفتارسی یایی ګرسره وجود ختم کړل سی نو په دی آیت کی یی ، أَهْلَكْنَاهُمْ وفرمایل او واضحه یی کړه چی ددی ټولو قومونو سزا دمرګ سزاوه مونږ دوی ټوله هلاک کړل دهرقوم دهلاکت مختلف صورتونه ښکاره سول په دوی کی فرعون چی کله دخدایی دعوه کوونکی وه اودده قوم دده تصدیق کوی په دی وجه په خصوصیت سره دده ذکر وسو: وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ یعنی مونږ فرعونیان غرق کړل دنورو قومونو دهلاکت صورتونه دلته ذکر نه سول په نورو کی آیتونوکی ددی تفصیل هم موجود دی چی پرچازلزله راغله څوک په مخکه کی دننه کړل سوه دچا صورتونه مسخ سول پرچا دهوا طوفان مسلط سو اوپه آخرکی دمکّی پرمشرکانو دبدرپه غزاکی دمسلمانانو دلاسه عذاب راغی.

تردی په وروسته آیت کی ددی کافرانو په باره کی ارشاد فرمایی ، إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللهِ الَّذِينَ كَفَرُوا : په دی کی لفظ ددواب د: دابة جمع ده چی لغوی معنی یی پرمخکه تلونکی دی په دی وجه انسان اوځومره حیوانان چی پرمخکه ګرځی ټولوته دالفظ شامل دی مګرپه عامو محاوروکی دالفظ خاص دځلورو پښو

Maktaba Tul Ishaat.com

لرونکو حیوانانو دپاره استعمالیږی ددی خلګو حال په بی شعوری (ناپوهی) کی ترحیوانانو هم زیات غورځیدلی وو په دی وجه یی په دی لفظ سره تعبیر ورځخه وکی معنی دآیت واضحه ده چی په ټولو حیوانانو اوانسانانوکی ترټولو بدترینه حیوانان داخلګ دی دآیت په آخرکی فرمایی: فَهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ یعنی داخلګ ایمان نه راوړی مطلب دادی چی دی خلګوخپل خدای ﷻ ورکړی استعداد اوقابلیت ضآئع کی دحیوانانو په شان خوراك او چینباك خوب او ویښیدل دوی دژوند خپل اصلی مقصد جوړکی په دی وجه ددوی ایمان ته رسیدل نه سی کیدی.

حضرت سعیدبن جبیرؓ فرمایی چی دا آیت دیهودو دشپږو سړیانو په باره کی راغلی دی دکومو په اړوند چی الله ﷻ مخکی خبر ورکی چی دوی ایمان نه سی راوړی.

دارنګه په دی لفظ کی هغه خلګ دعذاب ځخه مستثنی کول منظوردی کم چی که څه هم په دغه وخت کی دکفارو سره لګیدلی او دمسلمانانو اواسلام په خلاف جد اوجهد کی مشغول دی مګرپه راتلونکی څه وخت کی به اسلام قبول کړی دخپلوغلطو کارونو ځخه به توبه وباسی لکه چی داسی وسوه چی په دوی کی ډیر لوی جماعت مسلمانان سول نه داچی په خپله صالحان اومتقیان جوړسول بلکه ددنیا دپاره اصلاح کوونکی اودتقوی دعوت کوونکی سول.

دریم آیت ، اَلَّذِينَ عَاهَدتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِي كُلِّ مَرَّةٍ وَهُمْ لاَ يَتَّقُونَ : دا آیت دمدینی دیهودو بنی قریظه او بنی نضیروپه اړوند دی په تیرو آیتونوکی دمکی پرمشرکانو دبدر په میدان کی دمسلمانانو په لاسونو دالله ﷻ دعذاب دنازلیدو ذکر او دتیرو اُمتونو دکافرانو سره د دوی دمثال ذکر وو په دی آیت کی دهغه ظالم جماعت ذکردی کم چی مدینی منوری ته ترهجرت وروسته د مسلمانانو دپاره دلستونی مار جوړ سوی وو اوکم چی یوه طرفته دمسلمانانو سره صلح کوونکی وه بل طرف ته به یی دمکی دمشرکانو سره د مسلمانانو خلاف سازشونه کول دا خلګ دمذهب په لحاظ سره یهودیان وه اولکه څنګه چی دمکی په مشرکانوکی داسلام خلاف ترټولو لوی مقابله کوونکی ابوجهل وو دغه.ډول دمدینی په یهودوکی داسلام مقابله کوونکی کعب بن اشرف یهودی وو.

نبی کریم ﷺ چی کله ترهجرت وروسته په مدینه طیّبه کی استوګن سونو دمسلمانانو زیاتیدونکی اقتدار چی یی ولیدی داخلګ مرعوب خوسول لیکن په زړه کی یی داسلام ددښمنی اور همیشه بلیدی.

داسلامی سیاست تقاضاوه چی ترڅو پوری ممکنه وی دمدینی یهود تریوی نه یوی معاهدی اوفیصلی لاندی راولی ، ددی دپاره چی دوی مکی والاوو ته کومك ونه رسوی ، اویهود هم دخپل مرعوبیت پربنآء باندی ددی خواهشمند وه.

(داسلامي سياست اولني قدم اسلامي قوميت)

نبی کریم ﷺ چی مدینی ته ورسیدی نوداسلامی سیاست ترټولو اولنی بنیادیی داجوړکی چی دمهاجرینو اوانصارو وطنی او قومی عصبیتونه یی ختم کړل یونوی قومیت یی داسلام په نامه باندی قآئم کی دمهاجرینو اوانصارو مختلفی قبیلی یی په خپل مینځ کی وړونه وړونه جوړکړل او د دوی په ذریعه الله ﷻ دانصاروپه مینځ کی اختلافات کوم چی دصدیو راهیسی راروان وه ټول ختم کړل په خپل مینځ کی

Maktaba Tul Ishaat.com

یی هم اودمهاجرینو سره یی هم ورونه ورونه جوړ کړل.

(دوهم قدم دیهودو سره معاهده کول)

ددی سیاست دوهم قدم داوو چی مقابل دښمنان دوه وه یودمکی مشرکان دکومو دآزارونو په وجه سره چی مکی پریښوولو ته مجبوره سوی وه دوهم دمدینی یهود چی اوس دمسلمانانو گاونډیان جوړ سوی وه په دی کی دیهودو سره یوه معاهده وسوه دکمی چی په تفصیل سره عهدنامه ولیکل سوه ددی معاهدی پایبندی دمدینی داطرافو پرتولو یهودو اودی طرف ته پرمهاجرینو اوانصارو باندی لازم وه ددی معاهدی پوره متن په البدایه والنهایه دابنِ کثیر اوسیرة ابن هشام او نوروکی په تفصیل سره موجوددی ددی ترتولو مهم جزء داوو چی که زمونږ په مینځ کی څه اختلافات راپیدا سی نودنبی کریم ﷺ فیصله به دتولو دپاره قابلِ قبول وی دوهم جزء داووچی دمدینی یهودبه دمسلمانانو خلاف یوه دښمن ته هم په پټه یاپه ډاګه کومك نه ورکوی لیکن دی خلګو دبدر دغزاپه وخت کی وعده ماته کړه دمکی مشرکانوته په وسله اودجنګ په اسباب سره کومك ورسوی مګر کله چی دبدر دغزا انجام دمسلمانانو دښکاره فتح اودکفارودشکست په صورت کی مخ ته راغی نوپردی خلګورعب غالب سو اودنبی کریم ﷺ په مخکی حاضرسول اوعذریی وکی چی داوارزمونږ څخه غلطی وسوه دامعاف کړه آئنده به داسی نه کوو نبی کریم ﷺ چی اسلامی حلم اوکرم دده ﷺ عادت وو په دی بناء باندی د دوباره معاهدی نوی والی وفرمایی مګر دا خلګ دخپل خوی څخه مجبوره وه داُحدپه غزاکی چی دمسلمانانو دابتدائی شکست اودنقصان څخه خبرسول نوحوصلی یی لوړی سوی او ددوی سردار کعب بن اشرف په خپله سفروکی مکی ته ورسیدی اودمکی مشرکان یی دی ته جوړ کړل چی اوس دوی په پوره تیاری سره پر مسلمانانو حمله وکړی اودمدینی یهودبه ددوی سره وی.

داپه دوهمه پلا عهد ماتول وه کمه چی دی خلګو داسلام خلاف وکړه په ذکرسوی آیت کی یی ددی وار عهد ماتولو ذکر وفرمایی اوددی خلګو شرارت یی بیان کړی دی چی دا هغه خلګ دي دکومو سره چی تامعاهده کړي ده مګر دوی هروار خپل عهد ماتوی دآیت په آخرکی ارشاد فرمایی، وَهُمْ لاَ يَتَّقُوْنَ یعنی داخلګ نه بیریږی ددی دامطلب هم کیدی سی چی دابدنصیبه خلګ چی کله ددنیاپه هوس کی مست اوبی هوښه دی دآخرت فکریی نسته په دی وجه دآخرت دعذاب څخه نه بیریږی اودامطلب هم کیدی سی چی ددواسی بدکردارو وعده ماتوونکو خلګوکم بدانجام په دی دنیا کی کیږی داخلګ دخپل غفلت اوناپوهی په وجه سره ددی څخه نه بیریږی.

بیاتولی دُنیاپه خپلو سترګو ولیدل چی دغه خلګو ددی خپلی بدعملی سزا ولیده دابو جهل په شان کعب بن اشرف مړ سو او دمدینی یهود جلا وطن کړه سول.

په څلوم آیت کی الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته یوه هدایت نامه ورکړه چی دهغهٔ الفاظ دا دی، فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ: په دی کی دلفظ د تَثْقَفَنَّهُمْ معنی ده پر دوی دواك راوستلو او شَرِّدْ مصدر د تَشْرِيْد څخه جوړدی چی اصلی معنی یی څغلول اوګډودل کول دی دآیت معنی دا ده چی که په کوم جنګ کی په دوی باندی قدرت پیداکی نودوی ته داسی سخته دردناکه سزا ورکړه چی دنورو دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

عبرت سی په دوی پسی چی کوم خلګ د دوی په ډاډ سره داسلام په دښمنی کی لګیدلی وی هغوی پوه سی چی اوس خیرپه دی کی دی چی ددی ځایه ځخه وتښتو اوخپل ځانونه خلاص کړو مراد ددی ځخه دادی چی دوی ته داسی سزا ورکړل سی چی ددی په لیدو دمکی مشرکان اونور مشرکان قبآئل هم په متاثره سی اوپه راتلونکی کی دوی ته دمسلمانانو مقابلی ته دراتلو جرأت ونه سی.

دآیت په آخرکی یی ، لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ وفرمایل اودربّ العٰلمین دعام رحمت طرف ته یی اشاره وکړه چی ددی دردناکی سزااصلی مقصدهم کوم انتقام اخیستل یاخ پل درد سړول نه دی بلکه دامصلحت دی چی شاید داصورت حال ووینی داخلګ ځه په هوښ کی راسی اوپر خپلوکړو پښیمانه سی اوخپله اصلاح وکړی.

(دصلح دمعاهدی ختمولو صورت)

په پنځم آیت کی یی نبی کریم ﷺ ته دصلح اوجنګ دقانون یوه مهمه دفعه بنوول سویده چی په دی کی یی دمعاهدی دپایبندی دخاص اهمیت سره سره داهم وښوولە چی که کوم وخت دمعاهدی دبل فریق دطرفه دخیانت یاعهد ماتولو خطره پیداسی نو دا ضروری نه ده چی مونږ دی دمعاهدی پایبندی جاری وساتو لیکن دا هم جآئز نه ده چی دمعاهدی په صفا ډول سره ترختمولو مخکی مونږ دهغه خلاف کم اقدام وکړو بلکه صحیح صورت دادی چی دوی داطمینان اوفرصت په وخت کی ددی ځخه خبر کړوچی ستاسی بدنیتی یاخلاف ورزی مونږته ښکاره سوي ده یا دا چی ستاسی معاملی شکمنی دی په دی وجه مونږ آننده ددی معاهدی پایبند نه یو تاسی ته هم هر قسم اختیاردی چی زمونږ خلاف څه کار روایی غواړی نوکوی یی دآیت الفاظ دا دی.

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ : یعنی که تاسی ته دیوه قوم دمعاهدی ځخه دخیانت او وعدی ماتولو څه بیره پیدا سی نوددوی عهد دوی ته په داسی صورت کی واپس کړی چی تاسی اودوی سره برابر سی ځکه چی الله ﷻ خیانت کوونکی نه خوښوی.

مطلب دا دی چی دکم قوم سره چی معاهده دصلح سوي ده دهغه په مقابله کی کوم جنګی اقدام کول په خیانت کی داخل دی اوالله ﷻ خیانت کوونکی نه خوښوی که څه هم چی داخیانت دکافرانو دښمنانوپه حق کی وکړل سی هغه هم جآئزنه دی البته که دبل طرفه ځخه دعهد ماتولوبیره پیداسی نوداسی کولی سی چی په ښکاره ډول سره دوی په اعلان سره خبرداره کړی چی مونږ په راتلونکی کی دمعاهدی پایبندنه یو مګردا اعلان داسی وی چی مسلمانان اونوری فرقی په دی کی برابروی یعنی داسی صورت جوړ نه کړل سی چی داعلان اوخبر ځخه مخکی ددوی دمقابلی تیاری وسی اودوی بی فکره وی تیاری ونه کړی ، بلکه کومه تیاری کول چی وی تردی اعلان اوخبر وروسته دی یی کوی.

دا دی داسلام عدل اوانصاف چی دخیانت کوونکو دښمنانو هم دحقونوحفاظت کول کیږی او مسلمانان ددوی په مقابله کی ددی پایبند کول کیږی چی دعهد واپس کولو ځخه مخ ته دی د دوی خلاف څه تیاری نه کول کیږی (مظهری وغیره)

(دعهد پوره کولو یوه عجیبه واقعه)

ابوداؤد ترمذی نسآئی امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ دسلیم بن عامرپه روایت سره نقل کړی دی چی دحضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

معاویه ﷺ دیوه قوم سره تربیوه میعاده پوری دجنګ نه کولو معاهده وه حضرت معاویه ﷺ اراده وکړه چی ددی معاهدی په یوځو ورځوکی خپل لښکر اودجنګ اسباب دغه قوم ته نژدی ورسوی چی دمعاهدی دمیعاد په پوره کیدو پسی متصل دوی پردښمن حمله وکړی مګر عین په دغه وخت کی کله چی دحضرت معاویه ﷺ لښکر دغه طرف ته ره انیدی نودا ولیدل سوه چی یوزوړ سړی پرآس سپور په ډیره چیغه سره دانعری وهی: اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَفَآءً لَا غَدْرًا یعنی دنعری دتکبیر سره دا وایی چی مونږ ته دمعاهدی پوره کول په کار دی خلاف ورزی نه ده په کار نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دکوم قوم سره دصلح یاجنګ نه کولو معاهده وسی نوپه کار دی چی دهغه خلاف خو نه کمه غوټه خلاصه کړل سی اونه وترل سی حضرت معاویه ﷺ ته ددې خبر ورکړل سو نوچی ویی کتل داویونکی بزرګ حضرت عمرو بن عنبسة ﷺ صحابی وو حضرت معاویة ﷺ په دستی خپل فوج ته دواپسی حکم ورکی چی دجنګ نه کولوپه میعادکی دلښکر په لیږلو سره په خیانت کی داخل نه سو (ابن کثیر)

وَ لَا یَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا سَبَقُوْا اِنَّهُمْ لَا یُعْجِزُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَ اَعِدُّوْا لَهُمْ

او دا دی نه ګڼی کافران خلګ چی دوی به وتښتی دوی هیڅکله نه سی ستړی کولی مونږ ، او تیار وی د دوی

مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ وَّ مِنْ رِّبَاطِ الْخَیْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ

دجنګ دپاره هغه څه چی جمع کولی یی سی دقوت څخه او دساتلو آسونو څخه چی په دی سره هیبت لویږی دالله

وَ عَدُوَّكُمْ وَ اٰخَرِیْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ یَعْلَمُهُمْ ؕ وَ

په دښمنانو اوستاسی پردښمنانو اوپه نورود دوی څخه ماسوا کوم چی تاسی یی نه پیژنی اللہ ﷻ دوی پیژنی

مَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ یُوَفَّ اِلَیْكُمْ وَ اَنْتُمْ

او څه چی تاسی خرڅوی دالله ﷻ په لاره کی هغه به پوره ورسیږی تاسی ته اوستاسی ،

لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَ اِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَ تَوَكَّلْ عَلَى

حق به پاته نه سی او که دوی کښته سی صلح ته نوته هم کښته سه هغی ته اوتوکل کوه پر

اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۶۱﴾ وَ اِنْ یُّرِیْدُوْۤا اَنْ یَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ

الله ﷻ بیشکه هغه دی اوریدونکی پوهیدونکی ، اوکه دوی وغواړی چی ستاسی سره دوکه وکړی ،

حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِیْۤ اَیَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَ بِالْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۶۲﴾

نو تا ته کافی دی الله ﷻ هغه ته مضبوط کړی په خپل کومك اوپه مؤمنانو سره .

لنډتفسیر: اوکافران خلګ دی په خپله باره کی داخیال نه کوی چی دوی خلاص سول یقیناً دغه خلګ (خدای ﷻ) نه سی عاجزه کولی (چی ګویا دهغه په لاس به ورنه ،سی بلکه یاخوبه یی په دُنیاکی په عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

اخته کړی که دلته نه وی نوپه آخرت کی خویقینی ده، اوددی کافرانوسره د (مقابلی د) پاره څومره چی ستاسی په وسه کیدی سی دوسلی څخه اودساتلو دآسونو څخه اسباب برابر ساتی چی ددی (اسباب) په ذریعه سره تاسی (خپل) رُعب پردوی واچوی کم چی د (کفر په وجه د) الله ﷻ دښمنان دی او (ستاسی دفکر کولو په وجه) ستاسی دښمنان دی (دکوموسره چی شپه او ورځ ستاسی مسابقه راځی) او د دوی څخه ماسوا پرنورو (کافرانو) باندی هم (رُعب غورځولی ساتی) کوم چی تاسی (په یقین سره) نه پیژنی (بلکه) دوی الله ﷻ پیژنی (لکه کفار دفارس اوروم اونور دکومو سره چی دغه وخت مسابقه اومقابله نه وه واقع سوی مگر داصحابو﵃ ساز اواسباب اوفنونه دسپاه گری په خپل وخت کی ددوی په مقابله کی هم پکار راغی اوپردوی هم رُعب ولویدی څینو مقابله وکړه مغلوبه سول څینو جزیه قبوله کړه چی دا هم درعب اثر دی) او دالله ﷻ په لاره کی (چی جهاد په کی هم راغی) چی څه هم خرڅ کوی (په دی کی هغه خرڅ هم راغی کم چی په اسباب اوسپرلی خرڅول کیږی) هغه (یعنی ثواب یی) تاسی ته (په آخرت کی) به پوره پوره درکړل سی اوستاسی دپاره به (په دی کی) څه کمی ونه کړل سی اوکه هغه (کفار) دصلح طرف ته کښته سی نوتاته هم (اجازه ده چی که په دی کی مصلحت اوګڼه وینی نو) دغه طرف ته کښته سه او (که سره دمصلحته دا احتمال وی چی هسی نه دا ددوی چال نه وی نو) په الله ﷻ باورساتی (ددا سی احتمالاتو بیره مه کوئ) بیشکه هغه اوریدونکی اوښه پوهیدونکی دی (ددوی خبری اوحالات اوری اوپوهیږی هغه به یی په خپله انتظام وکړی) اوکه چیری (په واقع کی) دغه احتمال صحیح وی اودغه خلګ په رښتیاسره په صلح کی) تاته دوکه درکول غواړی نو الله ﷻ ستا (دکومك کولو اوحفاظت کولو) دپاره کافی دی لکه چی تردی مخکی یی هم ستاسی (کومك فرمایلی دی څکه چی) داهغه ذات دی چاچی تاته په خپل (غیبی) کومك (یعنی ملائکو)سره او(ښکاره کومك یعنی) مسلمانانوسره قوت درکی.

معلومات اومسائل: دذکرسوو آیتونوپه اولنی آیت کی دهغوکفاروذکردی کوم چی دبدر په غزاکی شریك نه وه په دی وجه خلاص سول یا دشریك کیدو څخه وروسته وتښتیدل اودغه دول یی خپل ځانونه خلاص کړل ددی خلګوپه اړوندپه دی آیت کی ارشاد فرمایی چی داخلګ دی داسی نه ګڼی چی مونږ خلاص سوځکه چی دبدر غزا دکفارو دپاره دالله ﷻ یوعذاب وواودهغه دنیولو څخه دخلاصیدو طاقت دهیچا نسته په دی وجه فرمایی: اِنَّهُمْ لَا یُعْجِزُوْنَ یعنی داخلګ په خپلی چالاکی سره الله ﷻ نه سی عاجزه کولی هغه چی کله ددوی نیول وغواړی دوی به یوقدم هم ونه ښوریدل سی کیدی سی چی په دُنیا کی یی ونیسی که نه وی نوپه آخرت کی خو د دوی ګرفتاری ښکاره ده.

په دی آیت کی یی دی طرف ته اشاره وکړه چی یومجرم ګناهګارکه دکم مصیبت او تکلیف څخه خلاصی پیداکی اوبیا هم توبه ونکړی بلکه پرخپل جُرم باندی اخته پاته سی نو دادی ددی نښانه نه ګڼی چی دی کامیاب سو اودهمیشه دپاره خلاص سو بلکه دی هر وخت دالله ﷻ په نیولو کی دی او دا مهلت دده عذاب او مصیبت نور هم زیاتوی که څه هم چی دی نه په پوهیږی.

(دجهاد دپاره وسله او دجنګ اسباب تیاروول فرض دی)

په دوهم آیت کی داسلام ددفاع او دکفارو دمقابلی دپاره دتیاری احکام ذکر دی ارشاد فرمایی، وَاَعِدُّوْا

Maktaba Tul Ishaat.com

لَهُم مَّا استَطَعتُم : یعنی دکفارو دپاره دجنګ اسباب تیاروی څومره چی ستاسی په وسه کیدی سی په دی کی دجنګ داسباب دتیاری سره یی د ، مَا استَطَعتُم قید ولګوی اودا ارشادیی وفرمایی چی ستاسی دکامیابی دپاره داضروری نه ده چی ستاسی دمقابل سره څنګه اوڅومره اسباب وی تاسی هم دومره حاصل کړئ بلکه دومره کافی ده چی څومره ستاسی په طاقت کی وی هغه جمع کړئ نو دالله ﷻ نصرت اوکومك به ستاسی سره وی .

تردی وروسته ددغه اسباب څه تفصیل یی داسی بیان کړی دی مِّن قُوَّةٍ یعنی دمقابلی قوّت جمع کړی په دی کی ټول جنګی اسباب وسله سپرلی اونور هم داخل دی اودخپل بدن ورزش اوتمرین کول هم اودجنګ چمونه زده کول هم قرآن کریم دلته دهغه زمانی درواجی وسلو ذکرونه فرمایی بلکه عام لفظ د قوت یی استعمال کی اودی طرف ته یی هم اشاره وکړه چی داقوت دهری زمانی اوهرملك اومقام په اعتبار سره مختلف کیدی سی دهغی زمانی وسله غشی توره اونیزه وه ترهغه وروسته دتوپك اوتوپ زمانه راغله بیا اوس دبمونو اوراکټونو وخت راغی لفظ دقوت دی ټولو لره شامل دی په دی وجه دنن مسلمانانوته په قدر دطاقت اټومی قوت ټانګونه اوجنګی جهازونه اوجنګی کښتی جمع کول په کار دی څکه چی دا ټول ددغه قوت په معنی کی داخل دی اوددی دپاره چی دکم علم اوفن دازده کولو ضرورت وی هغه ټول که په دی نیت سره وی چی ددی ټولوپه ذریعه داسلام اومسلمانانو دفاع اودکفارو مقابله وکړه سی نوداهم دجهاد په حکم کی دی .

دعام لفظ دقوت دذکر کولو څخه وروسته یی دیوه خاص قوت په صراحت سره ذکر وکی ، وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ لفظ د ، رباط په مصدری معنی کی هم استعمالیږی اود ، مَرْبُوط په معنی کی هم په اول صورت کی به یی معنی وی آسان ترل اوپه دوهم صورت کی ترلی آسان مطلب د دواړو یو دی چی دجهادپه نیت سره آسان تیارول اوترل یی یادتیار کړل سوو آسانو جمع کول دجنګ په اسباب کی یی دآسونو ذکرپه خصوصیت سره په دی وجه وکی چی په دغه زمانه کی دیوه ملك یاقوم په فتح کولوکی ترټولو زیات تاثیر کوونکی اوفآئنده منډ آسان وه اونن هم داسی ډیر ځایونه سته چی دآسانو پرته په بل شی نه سی فتح کیدی په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دآسانوپه تندیوکی الله ﷻ برکت اینبی دی .

په صحیح احادیثوکی نبی کریم ﷺ دجنګ اسباب جمع کول اوددی داستعمالولو مشق کول لوی عبادت اوسبب دلوی ثواب ګڼلی دی دغشوپه جوړولو اوچلولو باندی دلوی لوی اجر اوثواب وعده ده اوکله چی دجهاد اصلی مقصد داسلام او مسلمانانو دفاع ده اودفاع دهری زمانی اوهرقوم جلاوی په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی ، جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ (رواه ابوداؤد ونسائی والدارمی عن انس ﷺ) یعنی دکفارو سره جهاد کوی په خپلو مالونو ځانونو اوژبو باندی .

ددی حدیث څخه معلومه سوه چی لکه څنګه چی دفاع اوجهادپه وسلوسره کیږی ځینی وخت په ژبه سره هم کیږی اوقلم هم دژبی په حکم کی دی اسلام اوقرآن دکفر اوالحاد دحملو اوتحریفونو څخه ساتل په ژبه یاقلم سره داهم ددی صریح نص پربناء باندی په جهاد کی داخل دی .

په ذکرسوی آیت کی داسباب جنګ دتیاری دحکم کولو څخه وروسته ددغه اسباب دجمع کولو مصلحت

Maktaba Tul Ishaat.com

اواصلی مقصدهم په دی الفاظوکی بیان سوی دی ، تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُمْ یعنی دجنګ اودفاع داسباب جمع کولو اصلی مقصد قتل اوقتال نه دی بلکه کفر اوشرك کمزوری کول اومرعوب اومغلوب کول دی اوداکله یوازی په ژبه یاقلم سره هم کیدی سی اوکله ددی دپاره قتل اوقتال ضروری وی هرځنګه صورت حال چی وی دهغه مطابق دفاع کول فرض دی.

تردی وروسته ارشاد فرمایی چی دجنګ اوجهادپه تیاری سره چی دکومو خلګو مرعوب کول مقصوددی په هغوی کی ځینی خو مسلمانان پیژنی اوداهغه خلګ دی دکومو سره چی دمسلمانانو مقابله جاری وه یعنی دمکی کافران اودمدینی یهود اوځه هغه خلګ هم دی کم چی لاتر اوسه پوری یی مسلمانان نه پیژنی مراد ددی ځخه دټولی دنیا کافران او مشرکان دی چی لاتر اوسه پوری دمسلمانانو په مقابله کی نه ه‌ی راغلی مګر په راتلونکی وخت کی ددوی سره دمقابلی هم وخت راتلونکی دی قرآن کریم په دی آیت کی وښوولە چی که مسلمانانو دخپل موجوده دښمن دمقابلی تیاری وکړه نوددی رُعب به یوازی پردوی نه بلکی پرلیری لیری کافرانو کسرٰی قیصر اونورو باندی هم پریوزی لکه چی داسی وسوه اود خلفآء راشدینوپه زمانه کی داټول مرعوب اومغلوب سول.

دجنګ په اسباب جمع کولو اوجنګ کولوکی دمال ضرورت هم پیښیږی بلکه دجنګ اسباب هم دمال په ذریعه تیارول کیږی په دی وجه دآیت په آخرکی یی دالله ﷻ په لاره کی دمال خرڅ کولو فضیلت اوددی لوی ثواب داسی بیان کی چی په دی لاره کی تاسی چی هرڅه خرڅ کړی دهغه به پوره پوره بدله تاسی ته درکړل سی ځینی وخت خوپه دنیا کی هم دمالِ غنیمت په صورت کی دابدله پیدا کیږی که نه وی نودآخرت بدله خومقرره ده اوهغه ډیره قدرمنه ده.

په دریم آیت کی دصلح حکمونه او ددی دمتعلقاتو بیان دی ارشاد فرمایی ، وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا : لفظ د، سَلْم په زور دسین اوپه زیر دسین دواړه قسمه دصلح په معنٰی کی راځی دآیت معنی داده چی کله کافران دصلح طرف ته کښته سی نوتاته هم کښته کیدل پکاردی دلته صیغه دامر داختیار دپاره استعمال سوي ده مطلب دادی چی کله کفار دصلح طرف ته مآئل سی نوتاته هم اختیار دی چی که دمسلمانانو مصلحت په صلح کی وینی نوصلح کولی سی.

د، وَإِن جَنَحُوا دقید ځخه معلومه سوه چی صلح هغه وخت کیدی سی کله چی دکافرانو دطرفه ځخه دصلح خواهش ښکاره سی ځکه چی بغیر د دوی دخواهش ځخه که مسلمانان په خپله دصلح غوښتنه وکړی نودابه ددوی کمزوری ګڼل کیږی.

البته که یوه موقع داسی پیښه سی چی که مسلمانان په یوګیره اوتکلیف کی (خدا نکرده) راسی او دخپلی سلامتیا دپاره دصلح ځخه بغیربل ځه صورت نه وینی نوپه صلح کی مخ ته کیدل هم په قول دفقهاوو جآئزدی چی داشاراتو دنصونو ځخه ثابت دی.

اوکله چی ددښمن دطرفه ځخه دصلح په خواهش کی دااحتمال وی چی دوی مسلمانانوته دوکه ورکړی اوپه غفلت کی یی واچوی اوبیا ورباندی په یوه وارحمله وکړی په دی وجه دآیت په آخرکی یی نبی کریم ﷺ ته داهدایت وکی چی: وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ یعنی ته په الله ﷻ باور ساته چی هغه ښه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوریدونکی اوپوهیدونکی دی هغه ددوی خبری هم اوری او د دوی په زړونوکی پټی ارادی هم پیژنی هغه ستا دکومك دپاره کافی دی ته په داسی بی دلیله احتمالونو باندی دخپلو کارونو بنیاد مه ایږده اوداسی خطری الله ﷻ ته حواله کوه.

تردی وروسته په ځلورم آیت کی دامضمون نور زیات په وضاحت اوصراحت سره داسی بیانوی، وَإِن يُرِيدُوٓا أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ : که دا احتمال واقع سی چی په صلح کولوسره ددوی نیت خراب وی اوتاته دوکه درکول غواړی نوبیاهم ته کمه پروامه کوه ځکه چی الله ﷻ ستادپاره کافی دی اول هم دالله ﷻ په کومك او تائید سره ستاکار چلیدلی دی الله ﷻ په خاص تائیدسره ستا کومك فرمایلی دی کوم چی ستا دفتح اوکامیابی اصلی بنیاد اوحقیقت دی اوپه ظاهری ډول سره یی دمسلمانانو جماعت ستا دکومك دپاره ودروی کوم چی دظاهری اسبابو ځخه دی نوکوم مالك حقیقی اوقادر مطلق چی ټول اسباب دفتح اوکامیابی پیدا کړل هغه به نن ددښمنانو ددوکی اوفریب په معامله کی ستا کومك وفرمایی.

تردی خدایی وعدی لاندی ددی آیت دنزول ځخه وروسته نبی کریم ﷺ ته په ټول په عمر کی هیڅ ځای هم داسی پیښه مخ ته نه ده راغلی چی ددښمنانو ددوکی اوفریب ځخه دی ده ته کوم نقصان رسیدلی وی په دی وجه دتفسیر عالمان فرمایی چی دا وعده دنبی کریم ﷺ دپاره داسی ده لکه چی د، وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ وعده ده چی ددی آیت ترنزول وروسته نبی کریم ﷺ خپل نگرانی کوونکی اصحاب رخصت اوفارغ کړل ددی ځخه دا معلومیږی چی داوعده په نبی کریم ﷺ پوری خاص وه (بیان القرآن)

نورو خلګو ته دظاهری تدبیر اودشا اوخوا حالاتو مطابق کارکول په کار دی.

وَ اَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ

اوالفت یی واچوی ددوی په زړونوکی که تاخرچ کړی وای هغه څه چی په مځکه کی دی ټول الفت به دی نه وای اچولی ددوی

قُلُوْبِهِمْ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۳﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ

په زړونو کی لیکن اللهﷻ الفت واچوی په دوی کی بیشکه هغه زورآور دی حکمت والا ای نبی ﷺ

حَسْبُكَ اللّٰهُ وَ مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۴﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ

کافی دی تا ته الله ﷻ او څومره چی ستاسره دی مسلمانان، ای نبی (ﷺ) شوق ورکوه

الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا

مسلمانانو ته دجنګ که چیری واست تاسی شل تنه ثابت قدم پاته کیدونکی نوغالب به یاست

مِائَتَيْنِ وَ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْۤا اَلْفًا مِّنَ الَّذِيْنَ

په دوو سوو (۲۰۰) کسانو اوکه وی په تاسی کی سل (۱۰۰) کسه نو غالب به یاست پر زرو (۱۰۰۰) تنو

Maktaba Tul Ishaat.com

كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾ اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ

کافرانو باندی په دی وجه چی دغه خلک پوهه نه لری اوس بار سپک کی الله ﷻ په تاسی

وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ؕ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا

او ویی پیژنده چی په تاسی کی سستی ده نوکه وی په تاسی کی ۱۰۰ سل تنه ثابت قدمه پاته کیدونکی نوغالب

مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

به یاست پردوو سوو ۲۰۰ باندی اوکه وی په تاسی کی زرتنه (۱۰۰۰) نوغالب به وی پردوو زرو (۲۰۰۰) په اذن

مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۶۶﴾

سره دخدای ﷻ او الله ﷻ ملگری دی دثابت قدم پاته کیدونکو سره.

لنډتفسیر: او (مسلمانان ذریعه دکومك جوړولو دپاره) د دوی په زړونو کی یی اتفاق پیدا کی (لکه چی بنکاره ده چی که د دوی اتفاق نه وای نو هیڅ کار خاص کر ددین نصرت اوکومك به یی په یوځای سره نه سوای کولی او په دوی کی په وجه دمحبت دمشری او دغلبی دبغض اودښمنی اتفاق دومره گران ووچی) که تا (سره ددی چی عقل او تدبیرکامل لری اواسباب هم ددی دپاره ستاسره کافی وای تردی چی که) دټولی دنیا مال (دی ددی کار دپاره) خرڅ کړی وای نوبیابه دی هم د دوی په زړونوکی اتفاق نه وای پیدا کړی لیکن (دا د) الله (کار وو چی هغه) په دوی کی اتفاق نه وو پیدا کړی بیشکه هغه زبردست زورآور دی (چی څه غواړی په خپل قدرت سره یی کوی او) حکمت والادی (چی په کمه طریقه سره یی مناسب گنی دغه کارکوی اوکله چی دالله ﷻ غیبي کومك او په مسلمانانو سره ستا نصرت کول معلوم سو نو) ای نبی (ددی څخه ثابته سوه چی) ستادپاره (په حقیقت کی) الله ﷻ کافی دی اوکومو مؤمنانوچی ستا تابعداری کړي ده (په ظاهره) هغوی کافی دی ای پیغمبره ! ﷺ ته مؤمنانو ته دجهاد دپاره ترغیب ورکړه (او ددی په اړوند ورته دا قانون واوروه چی) که په تاسی کی شل تنه ثابت قدمه پاته کیدونکی وی نو (دڅان پرلس چنده شمیر یعنی) پردوه سوه به غالب کیږی او (دغه ډول) که په تاسی کی سل تنه وی نوپریوه زرکافرانو به غالب راځی په دی وجه سره چی هغه داسی خلک دی کم چی (په دین) هیڅ نه پوهیږی (اوپه دی وجه په کفر باندی اړ) دی اوپه دی سبب سره دوی ته غیبی امداد نه رسیږی نودوی مغلوب کیږی نوپرتاسی واجب دی چی دخپل لس چنده دمقابلی څخه به نه واپس کیږی اول داحکم نازل سوی وو نو چی کله پراصحابو ﷺ گران سو نو عرض یی وکی نو یوه مُده وروسته دا دوهم آیت نازل سو چی په دی سره اولنی حکم منسوخ سو یعنی) اوس الله ﷻ په تاسی آسانی راوسته اومعلومه یی کړه چی په تاسی کی دهمّت کمښت دی نو (داحکم درته کول کیږی چی) که په تاسی کی سل تنه ثابت قدمه پاته کیدونکی وی نو (پرخپل دوچنده شمیر یعنی) پردوه سوه به غالب راځی او (دغه ډول) که په تاسی کی زرتنه وی نوپه دوو زروبه دالله ﷻ په حکم سره غالب راځی او (مونږ چی کوم دصبرقیدلگولی دی، نو په دی وجه چی) الله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

دصبر کوونکو (یعنی کوم چی په زړه اوقدم سره ثابت وی ددوی) سره دی (یعنی ددوی کومك کوونکی دی)

معلومات اومسئلي : دسورهٔ انفال دذکر سوو ځلورو آیتونو ځخه په اولنی آیت کی دمسلمانانو دفتح اوکامیابی او ددی دحاصلولو طریقه بیان سوي ده تردی په مخکی آیت کی یی نبی کریم ﷺ ته خطاب کړی دی چی الله ﷻ په خپل خاص کومك سره اود مسلمانانو په جماعت سره تائید اونصرت فرمایلی دی په دی آیت کی یی دانبوولی ده چی دمسلمانانو په جماعت سره دچا کومك اونصرت ښکاره ده چی یوازی په هغه صورت کی کیدی سی چی کله داجماعت دیوه اوبل سره متفق اومتحد وی اوپه قدر داتحاد او اتفاق ددوی قوت اووزن وی چی دیوه اوبل سره دیووالی اواتفاق ریښی اوتعلقات قوی وی نوټول جماعت قوی وی اوکه داریښی اوتعلقات سُسْت وی نوټول جماعت سُسْت او کمزوری وی په دی آیت کی الله ﷻ دخپل هغه خاص انعام ذکر وفرمایی کوم چی دنبی کریم ﷺ دتائید اونصرت دپاره پرعامو مسلمانانو وسوچی ددوی په زړونوکی یی مکمل یووالی اواُلفت پیدا کی حال دا دی چی دنبی کریم ﷺ تر هجرت مخکی په مدینه کی ددی دواړو قبیلو اوس اوخزرج په مینځ کی سخت جنګونه سوی وه اوجګړی یی روانی وی دنبی کریم ﷺ په برکت سره الله ﷻ داځانی دښمنان دیوه اوبل سره شیر اوشکر وروڼه وروڼه کړل په مدینه منوره کی دقآئمیدونکی نوی اسلامی ریاست دقیام اوبقا اوپر دښمنانو دغالب راتلو حقیقی اومعنوی سبب خودالله ﷻ نصرت اوکومك وو او ظاهری سبب یی دمسلمانانو دیوه اوبل سره مکمل اُلفت اومحبّت اواتفاق اوتّحاد وو .

ددی سره یی په دی آیت کی داهم وښوولی چی دمختلفو خلګو زړونه یوکول اوپه دوی کی اُلفت اومحبّت پیدا کول دیوه انسان دوس کارنه دی یوازی دهغه ذات کاردی چاچی داټول پیدا کړی دی که یوانسان دټولی دنیا دولت هم ددی کار دپاره خرڅ کړی چی دیوه اوبل سره دنفرت لرونکو خلګوپه زړونوکی الفت اومحبّت پیدا کړی نو دوی به هیڅکله هم داسی ونه کړل سی .

(دمسلمانانو په مینځ کي حقیقي اوپائیدار اتفاق دالله ﷻ په فرمانبرداری باندی موقوف دی)

ددی ځخه دا هم معلومه سوه چی دخلګو په زړونو کی الفت او محبت دیوه اوبل سره پیدا کیدل دالله ﷻ انعام دی او دا هم ښکاره ده چی دالله ﷻ دنافرمانی سره دا انعام نه سی حاصلیدی بلکه دانعام حاصلولو دپاره دهغه فرمانبرداری اورضا لټول شرط دی .

دجماعتونو اوافرادو په مینځ کی یووالی اواتفاق یوداسی شی دی چی ددی دښه والی او فآئدی سره دیوه مذهب اوملّت اویوفکر اونظر والاوو اختلاف نه سی کیدی اوپه دی وجه هرهغه سړی کوم چی دخلګو داصلاح فکر کوی هغه دیوه اوبل سره پرمتفق کیدو زور ورکوی لیکن عامه دنیا ددی حقیقت ځخه ناخبره ده چی دزړونو پوره اوپائیدار اتفاق په ظاهری تدبیرونو سره نه سی حاصلیدی دا یوازی دالله ﷻ په فرمانبرداری اورضا لټولوسره حاصلیږی قرآن کریم ددی حقیقت طرف ته په ځو آیتونوکی اشاره فرمایلی ده یوځای ارشاد دی: وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا په دی کی یی داختلاف اوجلا جلا کیدو ځخه دساتلو داتدبیر ښوولی دی چی ټول یوسی دالله ﷻ رسیٔ یعنی قرآن یا اسلامی شریعت محکمه ونیسی نو ټول به خودبخوده متفق سی اوجلا جلا کیدل به ختم سی ، درایی اختلاف بل

Maktaba Tul Ishaat.com

شی دی اودغه چی ترځوپوری په خپلو حدودوکی دننه وی نودجلا جلا کیدو اوجګړو سبب هیڅکله نه
جوړیږی فسادهلته وی کله چی دشریعت ترحدونو تجاوز وکړه سی نن داتفاق اتفاق ناری خوټول وهی
مګر داتفاق معنی دهر سړی په نزد داوی چی خلګ زماخبره ومنی نواتفاق به وسی اونورهم داتفاق دپاره
په دی فکرکی وی چی دوی زمونږ خبره ومنی نواتفاق به راسی حال دادی چی کله درایو اختلاف په
هوښیارانو اودیانتدارو کی خامخا اوضروری دی نودا ښکاره ده چی که هرسړی داتفاق داخبره مقرره
کړی چی بل دی زما خبره ومنی نوتر قیامته پوری هم اتفاق نسی راتلی بلکه داتفاق صحیح اوفطری
صورت دغه دی کوم چی قرآن ښوولی دی چی دواړه یوسی دیوچا دریم خبره ومنی اودادریم هغه په کار
دی دچاپه فیصله کی چی دغلطی امکان نه وی اودا ښکاره ده چی الله ﷻ کیدی سی په دی وجه په ذکر
سوی آیت کی یی ددی هدایت وفرمایی چی ټول یوسی دالله ﷻ کتاب مضبوط ونیسی نو په خپل مینځ
کی به ستاسی جګړی ختمی سی اوکامل اتفاق به پیدا سی.

په یوه بل آیت کی ارشاد دی ، اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَیَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا : یعنی کوم خلګ چی ایمان
راوړی اونیك عمل کوی الله ﷻ به د دوی په مینځ کی محبّت او دوستی پیدا کړی ، دی آیت واضحه کړه
چی په زړونوکی دحقیقی محبّت اودوستی پیدا کیدو اصلی طریقه دایمان اونیك عمل پابندی ده ددی
پرته که یوځای یواتفاق او اتحاد په مصنوعی ډول سره قائم هم کړه سی نوهغه به محضی بی بنیاده
اوکمزوری وی په معمولی زور سره ختمیږی چی ددنیاپه قومونوکی په حالاتو اوتجربو سره لیدل سویده
لنډه داده چی په دی آیت کی یی پر نبی کریم ﷺ دالله ﷻ دهغه انعام وضاحت کړی دی کوم چی دمدینی
ټولو قبیلو په مینځ کی یی اُلفت پیدا کی اودنبی کریم ﷺ دنصرت او کومك دپاره یی داوسپنی ددیوال
په شان ودرول.

په دوهم آیت کی یی هم دغه مضمون دخلاصی یعنی نچوړپه ډول سره بیان کی نبی کریم ﷺ ته یی تسلی
ورکړیده چی ستا دپاره دحقیقت په اعتبار سره دالله ﷻ اودظاهر په اعتبار سره دمؤمنانو جماعت کافی
دی ته ترلویو لادلوی دښمن دډیروالی یااسباب څخه مه بیریږه تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چی دا
آیت دبدر دغزاپه میدان کی دجنګ شروع کیدو څخه مخکی نازل سوی ووچی لږ اوبی اسبابه مسلمانان
دخپل مقابل دزیات شمیر اوډیر اسباب څخه مرعوب نه سی.

په دریم اوځلورم آیت کی دمسلمانانو دپاره دیوجنګی قانون ذکردی چی دوی ته ترکمه حده پوری دخپل
مقابل په مقابله کی ثابت قدمه پاته کیدل فرض اوددی څخه پرشا کیدل ګناه ده په تیرو آیتونو او
واقعاتوکی ددی ذکرپه تفصیل سره راغلی دی چی دالله ﷻ غیبی کومك دمسلمانانو سره وی په دی وجه
ددوی معامله ددنیا دعامو قومونوپه شان نه وی دوی لږ هم پرډیر غالب کیدی سی لکه چی په قرآن کریم
کی ارشاد دی: کَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِیْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً کَثِیْرَةً بِاِذْنِ اللّٰهِ یعنی ډیرځله لږ شمیر جماعتونه دالله ﷻ په
حکم سره په ډیرو باندی غالب راځی په دی وجه داسلام ترټولو په اولنی جهاد دبدر په غزا کی یی لس ۱۰
مسلمانان دسلو ۱۰۰ مقابل کړل اوداحکم یی ورکی چی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسی کی سل تنه وی نوپر زرو تنو به غالب راځی.
دعنوان تعبیر خویی پردی خبره باندی ایښی دی چی سل ۱۰۰ مسلمانان به پرزرو کافرانو غالب راځی مگر مقصد ورځخه داحکم کول دی چی سلو تنو مسلمانانو ته دزرو تنو کافرانو دمقابلی څخه تبنتیدل جآئزنه دی دخبرپه عنوان ایښوولوکی مصلحت دادی چی دمسلمانانو زړونه په دی خوشخبری سره مضبوط سی چی دالله ﷻ وعده زمونږ دحفاظت اودغلبی ده که حکم یی په صیغه دامر سره دقانون په صورت کی پیش کړی وای نو په فطری ډول به داګرانه معلومیده.
دبدر اولنی جهادپه یوداسی حالت کی وو چی په دی کی دمسلمانانو مجموعی طاقت ډیر کم وو اوهغه هم ټول دجنګ محاذته نه وه تللی بلکه په فوری (پدستی) ډول سره چی کوم خلګ تیارسول هغوی ددی جنګ دپاره فوج جوړ سو په دی وجه په دی جنګ کی سلو ۱۰۰ مسلمانانوته دزرو تنو کافرانو دمقابلی حکم ورکړل سو اوپه داسی اندازکی یی ورکی چی دفتح اونصرت وعده ورسره وه.
په څلورم آیت کی یی داحکم دآننده دپاره منسوخ کی دوهم حکم یی داوکی چی.
اوس الله ﷻ آسانی وکړه او معلومه یی کړه چی په تاسی کی دهمّت کمی دی نوکه په تاسی کی سل تنه ثابت قدمه پاته کیدونکی وی نو په دوو سوو تنو به غالب راځی.
دلته هم مقصد دا دی چی سلو تنو مسلمانانو ته ددووسوو کافرانو دمقابلی څخه تبنتیدل جآئز نه دی په اولنی آیت کی یی یو مسلمان دلسو تنو دمقابلی دتیښتی څخه منع کړی وه په دی آیت کی یی یو ددوو تنو دمقابلی دتښتیدلو څخه منع کی او دا آخری حکم دی چی دهمیشه دپاره جاری اوباقی دی.
دلته یی ډم حکم دحکم په عنوان سره نه بلکه دخبر اوخوشخبری په انداز سره بیان فرمایلی دی په دی کی اشاره ده چی یوه مسلمان ته ددوو کافرانو په مقابله کی دثابت قدم پاته کیدو حکم معاذ الله کومه بی انصافی یاسختی نه ده بلکه الله ﷻ په مسلمانانو کی د دوی دایمان په وجه سره هغه قوّت ایښی دی چی په دوی کی یو د دوو برابر وی.
مگر دواړه ځایه یی ددی فتح او نصرت خوشخبری په دی شرط پوری تړلی ده چی دامسلمان ثابت قدم پاته کیدونکی وی او ښکاره ده چی دجنګ په میدان کی خپل ځان په خطره کی غورځول ثابت قدم پاته کیدل دهغه چا کار کیدی سی دچا چی ایمان کامل وی، څکه چی کامل ایمان انسان ته دشهادت دشوق جذبه ورکوی او دا جذبه دده طاقت ډیر زیاتوی.
دآیت په آخرکی یی دعام قانون په صورت سره وښوولە، وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِينَ یعنی الله ﷻ دثابت قدم پاته کیدونکو ملګری دی په دی کی دجنګ په میدان کی ثابت قدم پاته کیدونکی هم شامل دی اودعامو شرعی حکمونوپه پایبندی سره په کولو ثابت قدم پاته کیدونکی هم ددی ټولو دپاره دالله ﷻ دملګرتیا وعده ده اودا ملګرتیا د دوی دفتح او کامیابی اصلی راز دی څکه چی چاته دقادر مطلق ملګرتیا نصیب سی ده ته که ټوله دنیا یوه سی خو بیا یی هم دخپل ځای څخه نه سی ښورولی.

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ

نبی ته نه دی په کار چی دخان سره وساتی قیدیان ترڅوچی ښه خونریزی ونه کړی په ملک کی

تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ؕ وَاللّٰهُ

تاسی غواړی اسباب ددنیا اواللہ ﷻ غواړی آخرت اواللہ ،

عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۷﴾ لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ

زورآور دی حکمت والا ، که نه وای یوه خبره چی لیکلی ده اللہ ﷻ دمخکی څخه ، نوتاسی ته به رسیدلی وای

اَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۶۸﴾ فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ

په دی اخیستو کی عذاب لوی ، نو خوری کوم چی تاسی ته په غنیمت کی حاصل سول حلال پاك ،

وَّاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۶۹﴾ ع

اوبیره کوی دالله څخه بیشکه الله ﷻ دی بخښنی والا مهربانه

لنډتفسیر: (ای مسلمانانو! تاسی چی نبی ﷺ ته کوم ددی قیدیانو څخه دڅه اخیستو او د دوی دایله کولو مشوره ورکړه دابی ځایه وه ځکه چی) دنبی دشان سره لائقه نه ده چی دده قیدیان باقی پاته سی (بلکه قتلول کیږی دی) ترڅوپوری چی دی په مځکه کی په ښه ډول سره (دکفارو) وینی توی نه حلال پاك ، کړی (ځکه چی دجهاد روا کیدو اصلی غرض دفساد دفع کول دی او بغیر ددی څخه چی دکفارو شان او شوکت بالکل مات نه سی دفساد دفع کول ممکن نه دی نوتردی حالت مخکی دقیدیانو ژوندی ایله کول ستا داصلاحی شان سره مناسب نه دی البته کله چی داسی قوت راسی بیاقتل ضروری نه دی بلکه نور صورتونه هم روا دی نوداسی نامناسبه رایه تاسی ولی ورکړه) تاسی خوددنیا مال اواسباب غواړی (په دی وجه مو دفدیی رایه ورکړه) او الله ﷻ (مصلحت اوګڼه) دآخرت درلره غواړی (اوهغه په دی کی ده چی کفارپه بیره سره مغلوب سی چی په آزادی سره په کی داسلام نور او هدایت خپورسی اوبی دریغه خلګ ډیر مسلمانان سی او خلاصون پیدا کړی) او الله ﷻ لوی زورآور لوی حکمت والا دی (هغه به تاسی په کفارو غالب کړی او په ډیرو فتحو سره به تاسی مالدار کړی که څه هم چی په یوه مصلحت سره به په دی کی وخت ولګیږی کوم کار چی ستاسی څخه واقع سوی دی هغه داسی ناخوښه دی چی) که چیری دخدای ﷻ یو لیکلی تقدیر نه وای سوی (هغه دا چی په دی قیدیانو کی به خلګ مسلمانان سی چی دفساد دغه احتمال به ورڅخه واقع سی که چیری دا وای) نوکوم کار چی تاسی اختیار کړی دی ددی په باره کی به پرتاسی یوه لویه سزا واقع سوی وای (لیکن کله چی کم فساد ونه سو او اتفاقًا ستاسی مشوره صحیح وخته په دی وجه تاسی دسزا څخه خلاص سواست یعنی مونږ دغه فدیه مباح کړه) نوڅه چی تاسی (د دوی څخه په فدیه کی) اخیستی دی دا حلال اوپاك ګڼی او خوری یی اوداللہ ﷻ څخه بیره کوی (چی آئنده هر قسم احتیاط ساتئ) بیشکه الله ﷻ لوی بخښنی والا لوی رحمت والادی (چی ستاسی ګناه یی هم معاف کړه دایی مغفرت دی او فدیه یی هم حلاله کړه دا یی رحمت دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: دذکر سوو آیتونو تعلق دبدر دغزا دیوی خاصی واقعی سره دی په دی وجه ددی تر تفسیر مخکی په صحیح سند او مستندو روایتونو دحدیثو سره ددغه واقعی بیان ضروری دی.

واقعه دا ده چی دبدر غزاپه اسلام کی ترټولو اولنی جهاد دی اوناڅاپه پیښ سوی دی تردغه وخته پوری دجهادپه اړوند داحکاموتفصیل په قرآن کی نه وو نازل سوی په جهاد کی چی دغنیمت مال په لاس ورسی په دی به څه کول کیږی ددښمن سپایان که په قبضه کی راسی نو د دوی گرفتارول جائز دی اوکه نه دی او که گرفتار سی، نوبیا د دوی سره څه معامله په کار ده.

دغنیمت دمال متعلق دتیرو ټولو انبیاوو په شریعتونو کی قانون دا وو چی مسلمانانو ته ددی څخه نفع اخیستل او استعمالول حلال نه وو بلکه حکم دا وو چی ټول مال دغنیمت دی جمع سی اوپه یوه ډاگ دی کښی ښوول سی اوداللہ ﷻ دا قانون وو چی دآسمان څخه به یو اور راتلی اودغه ټول مال به یی سوزی اوایره کوی دابه ددغه جهاد دقبلیدو نخښه ګڼل کیده اوکه دغه مال به اسمانی اورونه سوزی نو دغه به ددغه جهاد دنه قبلیدو نخښه وه.

دصحیح بخاری اومسلم په روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ماته پنځه شیان داسی راکړل سوی دی، کوم چی زمانه اول یونبی ته نه وه ورکول سوی په دی کی یو داهم دی چی دکفارو څخه حاصل سوی مال دغنیمت دهیڅا دپاره حلال نه وو مګر دامت مرحومه دپاره حلال سو دغنیمت مال ددی امت دپاره په خاص طور سره حلالیدل داللہ ﷻ په علم کی خوو مګر دبدر دغزا تروا قعی پوری څه وحی پرنبی کریم ددی دحلالیدو متعلق نه وه نازله سوی او دبدر په غزا کی صورت حال داسی پیښ سو چی اللہ ﷻ مسلمانانوته بالکل خلاف قیاس غیر معمولی فتح ورکړه دښمن مال هم پرینبووی چه په طور دغنیمت دمسلمانانوپه لاس ورغلی اوددوی لوی لوی اویا ۷۰ سرداران مسلمانانو ګرفتار کړل مګر ددی دواړو شیانو دجائز کیدو وضاحت په وحی الهی سره لا تر اوسه نه وو سوی.

په دی وجه داصحابو ﷺ دتلواری په دی کار عتاب نازل سو ددی عتاب اوناراضتیا اظهار دوحی په ذریعه وسو چی په دی کی یی دجنګی قیدیانو متعلق په ښکاره خو مسلمانانوته ددوو شیانو اختیار ورکړی وو مګر په دی اختیار ورکولوکی یی یوه اشاره دی طرف ته هم کړی وه چی دمسئلی په دواړو اړخونوکی داللہ ﷻ یواړخ خوښ اوبل ناخوښه دی په جامع ترمذی سنن نسائی صحیح ابن حبان کی په روایت دحضرت علی مرتضیٰ ﷺ نقل دی چی په دی موقع حضرت جبرئیل امین نبی کریم ﷺ ته رالی او دا حکم یی ورته وویایه چی ته صحابه کرامو ته په دوو شیانوکی اختیار ورکړه یوداچی دا قیدیان قتل سی اوددښمن شوکت دهمیشه دپاره ختم سی دوهم دا چی ددی څخه فدیه یعنی څه مال واخیستل سی او پرینبول سی لیکن په دی دوهم صورت کی داللہ ﷻ دطرفه څخه داخبره فیصله سوي ده چی د دوی په بدل کی به په راتلونکی کال کی دمسلمانانو دومره سړی شهیدان کیږی څومره قیدیان چی نن په مال اخستلو سره پرینبول سی داصورت که څه هم داختیار وو اوصحابه کرامو ﷺ ته ددواړو شیانو اختیار ورکول سوی وو مګر په دوهم صورت کی داویا ۷۰ مسلمانانو دشهادت فیصله ذکر په کولو کی دی طرف ته یوه نری اشاره خامخا موجوده وه چی داصورت داللہ ﷻ په نزد خوښ صورت نه دی څکه چی که

Maktaba Tul Ishaat.com

دایی خوښ وای نو داویا ۷۰ مسلمانانو خون به ددی په نتیجه کی نه لازم کیدی.
داصحابو کرامو ﷺ په مخکی چی کله دادواړه صورتونه په طور داختیارپیش سوه نودځینو صحابوو کرامو خیال داسو چی که ددی خلګو څخه فدیه واخستل سوه اودوی پریښوول سوه نوډیره ممکنه ده چی داټول یاځینی په دوی کی څه وخت مسلمانان سی کم چی اصلی فائده اومقصد دجهاددی دوهم داهم خیال وو چی مسلمانان داوخت دنیستی په حالت کی دی که ددی اویا ۷۰ کسانو مالی فدیه دوی ته ورکول سی نوددوی تکلیف به هم لیری سی او دانده دپاره به دجهاد په تیاری کی هم مدد ورکول سی پاته سو داویا مسلمانانو شهید کیدل پس دغه خودمسلمانانو دپاره په خپله یونعمت اوسعادت دی ددی څخه بیربدل نه دی په کار ددی خیالاتو په بنا صدیق اکبر ﷺ اواکثرو صحابه کرامو دارایه ورکړه چی ددی قیدیانو څخه دی فدیه واخستل سی اودوی دی ازاد سی صرف حضرت عمربن خطاب ﷺ اوسعدبن معاذ ﷺ وغیره یوځو حضراتو ددی رایی څخه اختلاف وکی اوددی ټولو دقتلولو رایه یی پردی بنیاد ورکړه چی داډیره ښکلی موقع ده چی داسلام په مقابله کی دقوت اوطاقت راجمع کوونکی ټول قریشی سرداران داوخت په لاس کی راغلی دی د دوی داسلام قبلول خو یو وهمی خیال دی مګر داګمان غالب دی چی که داخلګ ایله سی نوتراول به زیات دمسلمانانو خلاف دسرګرمی سبب جوړ سی.
نبی کریم ﷺ چی رحمة للعٰلمین اومجسم رحمت وو داصحابو کرامو ﷺ دا دواړی رایی چی یی ولیدی نودوی هغه رایه قبوله کړه په کومه کی چی دقیدیانو په معامله کی رحمت او آسانی وه چی په فدیه اخستو باندی ازاد سی دوی فاروق اعظم ﷺ اوصدیق اکبر ﷺ ته خطاب وفرمایی ، لَوِاتَّفَقْتُمَا مَاخَالَفْتُكُمَا : یعنی که تاسی دواړه پریوه رایه متفق سوی وای نومابه ستاسی خلاف نه وای کړی (مظهری)
درایی داختلاف په وخت کی د دوی په مخلوق درحمت اوشفقت تقاضا دا سوه چی د دوی په معامله کی اسانی اختیار کړی چنانچی داسی وسوه او ددی په نتیجه کی په راتلونکی کال داحد په غزاکی دالله ﷻ دارشاد مطابق داویا ۷۰ مسلمانانو دشهید کیدو واقعه پیښه سوه.
په کی هغوا صحابوکرامو ﷺ ته خطاب دی کوموچی دفدیی اخستو اوقیدیانو دپریښودورایه ورکړی وه په دی ایت کی وُښودل سوه چی تاسو زمونږ رسول ته نامناسبه مشوره ورکړه څکه چی دیونبی دشان سره دالایقه نه ده چی پردُښمنانو دواك پیدا کیدو څخه وروسته ددوی قوت اوشوکت مات نه کړی اوفساد کوونکی دښمنان باقی پاته کړی اودمسلمانانو دپاره دی همیشه مصیبت پاته کړی.
په دی ایت کی د حتّٰی یُثخِنَ فِی الْاَرْضِ الفاظ راغلی دی دلفظ د: اثخان معنٰی په لغت کی دچاپه قوت اوشوکت ماتولوکی دمبالغی څخه دکار اخیستو ده ددی معنٰی دتاکید دپاره یی لفظ د: فِی الْاَرْضِ راوړی چی ددی مطلب دادی چی ددښمن شوکت په خاوروکی واچول سو کوموصحابوکرامو چی دفدیی اخستو اوقیدیانو پریښیدو رایه ورکړی وه که څه هم ددوی په رایه کی یوجزء خالص دینی وو یعنی دازادی څخه وروسته ددی خلګو دمسلمانیدو امید مګر ددی سره بل جزء دخپلی ذاتی نفع هم وو چی دوی ته مال په لاس ورسی اولا تراوسه پوری په یوواضح نص سره ددی مال جائز کبدل نه وو ثابت په دی وجه دانسانانو هغه معاشره کمه چی دنبی کریم ﷺ په تربیت کی په دی پیمانه سره جوړیده چی د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

مرتبی دملائکو څخه هم مخکی وی د دوی دپاره دادمال خیال هم یوقسم ګناه وګنل سوه اوکوم کار چی دجائز اوناجائز کارونو څخه مرکب وی دهغه مجموعی ته ناجائز ویل کیږی په دی وجه دصحابه کرامو داعمل دزورنی قابل مقرر سو اودا ارشاد نازل سو.

تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللّٰهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ: یعنی تاسی خلک دنیا غواړی حال دادی چی الله ﷻ ستاسی څخه دا غواړی چی تاسی داخرت طلب کوونکی جوړسی دلته په طور دعتاب یی ددوی صرف هغه فعل ذکرکی کم چی دناراضتیا وجه وه دوهم سبب یعنی دفدیانو دمسلمانیدو امید ددی یی دلته ذکرنه دی فرمایلی چی په دی کی دی طرف ته اشاره ده چی دصحابه کرامو ﷺ په شان دپاکباز مخلص جماعت دپاره داسی مشترکه نیت په کوم کی چی څه جزء ددین وی او څه ددنیوی نفع دا هم قبول نه دی دلته دا خبره هم دنظر قابله ده چی په دی آیت کی دعتاب اوتنبیه خطاب داصحابو کرامو طرف ته دی که څه هم نبی کریم ﷺ هم د دوی رایه قبوله کړه اویو قسم شرکت یی د دوی سره کړی وو مګر دنبی کریم ﷺ دا عمل خالص د دوی درحمة للعلمین ظهور وو چی په اصحابو کرامو کی داختلاف رایه کیدو په صورت کی هغه صورت اختیار کی کوم چی دفدیانو په حق کی اسانی او شفقت وو.

دایت په اخرکی یی، وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ وفرمایل اودی طرفته اشاره وفرمایله چی الله ﷻ زبردست حکمت والا دی که تاسی تلواری نه وای کړی نو هغه به په خپل فضل سره په راتلونکو فتحوکی ستاسی دپاره دمال اودولت هم انتظام کړی وای.

دوهم آیت هم ددی عتاب تتمه ده په دی کی فرمایی چی که دالله ﷻ یوه نوشته دتقدیر نه وای سوی نو کوم کار چی تاسی اختیار کی چی دمال اخستو اوفدیانو دپریښوولو فیصله مو وکړه نوددی په باره کی به پرتاسی څه لویه سزا واقع سوی وای.

ددی لیکلو دتقدیر څخه څه مراددی؟ ددی متعلق په ترمذی کی په روایت دحضرت ابو هریره ﷺ څخه نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دغنیمت مال حلاجل سوی نه وو په دی باندی دایت نازل سو چی دغنیمت دمال دحلالیدو څخه مخکی دمسلمانانو دا اقدام داسی ګناه وه چی پردی عذاب راتلل په کار وو لیکن چونکی دالله ﷻ داحکم په لوح محفوظ کی لیکل سوی وو چی ددی امت دپاره به دغنیمت مال حلالیږی په دی وجه یی دمسلمانانو په دی خطا عذاب نازل نه کی (مظهری)

دحدیث په څیرنو روایتونوکی دی چی ددی آیت په نازلیدو باندی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دالله ﷻ عذاب بالکل مخامخ راغلی وو الله ﷻ په خپل فضل سره منع کی اوکه عذاب راغلی وای نو بغیر دعمر بن خطاب ﷺ او سعد بن معاذ ﷺ څخه به نور هیڅوك ددی څخه بچ سوی نه وای ددی څخه معلومیږی چی سبب دعتاب دفدیانو څخه فدیه اخستل اوپریښوول وو اودترمذی دتیر روایت څخه ددی سبب دغنیمت مال جمع کول معلومیږی مګر په دواړو کی تضاد (یعنی اختلاف) نسته دفدیانو څخه فدیه اخستل هم دغنیمت دمال جزء دی.

مسئله: په ذکرسوی آیت کی دفدیانو څخه دفدیی اخستو او دازادولو یا دغنیمت دمال پرجمع کولو چی کم عتاب نازل سو اودالله ﷻ دعذاب څخه وبیرول سوه مګر بیا معافی ورکول سوه ددی څخه داخبره

Maktaba Tul Ishaat.com

بنکاره سوه چی دائنده دپاره په دی معاملو کی مسلمانانو ته څه کول پکاردی په دی وجه په راتلونکی آیت کی یی دغنیمت دمال مسئله خوصفا کړه ، فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ : یعنی دغنیمت کوم مال چی تاسی ته په لاس درغلی دی هغه اوس خوړی سی دغه په اثنده کی ستاسی دپاره حلال سوی دی مگرپه دی کی دایوه شبهه هم پاته کیږی چی دغنیمت دمال دحلالیدو حکم خواوس ورکول سوی دی ددی حکم څخه مخکی چی کم په غلطی سره جمع سوی دی شاید چی په دی کی یوقسم کراهت وی په دی وجه ددی څخه وروسته یی: حَلَالاً طَيِّبًا وفرمایل اوداشبهه یی هم لیری کړه چی که دحکم نازلیدو څخه مخکی دغنیمت جمع کولو کارصحیح نه وو مگر چی اوس دغنیمت دمال دحلالیدو حکم رالی نواول جمع سوی مال هم بغیر دځه کراهت څخه حلال دی .

مسئله: دلته دفقه داصولو یوه مسئله دنظر اودیادولو قابله ده چی کله دیو ناجائز اقدام څخه وروسته دمستقل آیت په ذریعه ددغه مال دحلالیدو حکم نازل سی نو دمخکنی اقدام په دی څه اثر نه کیږی دغه مال حلال اوپاك سی لکه چی دلته وسوه لیکن ددی یو بل نظیر دادی چی په یوه معامله کی حکم خودمخکی څخه نازل سوی وو مگر پرعمل کوونکو بنکاره سوی نه وی پردی بنا دهغه خلاف ورزی وکړی او وروسته معلومه سی چی زما داعمل دقرآن اوسنت دفلانی حکم خلاف وو نو په دی صورت کی دحکم دبنکاره کیدو څخه وروسته دغه مال حلال نه پاته کیږی که څه هم تیره غلطی معاف هم سی (نور الانوار ملاجیون)

په ذکرسوی آیت کی مال غنیمت حلال اوپاك مقرر سو مگر دایت په اخر کی یی داقید ولگوی ، وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ : په دی کی یی اشاره وکړه چی دغنیمت مال که څه هم حلال سوی دی خو هغه هم تر یوخاص قانون لاندی حلال سوی دی چی دهغه قانون څخه خلاف یا دخپل حق څخه زیات واخیستل سی نو هغه جائز نه دی .

دلته دوی معاملی وی یومال دغنیمت دوهمه دقیدیانو څخه فدیه اخستل اوپریښوول داولی معاملی متعلق خو دی آیت خبره صفا کړه مگر دوهمه معامله تراوسه پوری صفانه سوه ددی متعلق په سورة محمد کی دا ایت نازل سو ، فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا : یعنی کله چی په جنگ کی دکافرانو سره ستاسی مقابله وی نو د دوی قوت او شوکت مات کړی نو بیادوی قیدوی اومضبوط یی تړی ددی څخه وروسته یاپر دوی احسان کوی اوبغیر دځه معاوضی څخه یی ازادوی یافدیه ورڅخه اخلی اوپریږدی یی تردی چی جنگ خپله وسله وغورځوی حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی دبدر په غزاکی په فدیه اخستلو او ازادولو عتاب نازل سو داداسلام اولنی جهاد وو تردی وخته پوری دکافرانو قوت اوشوکت نه وو مات سوی ناڅاپه پردوی یو مصیبت راغلی وو بیا چی کله اسلام اومسلمانانو ته مکمله غلبه حاصله سوه نوالله ﷻ دغه حکم دمنسوخ کولو دپاره دسورة محمد ﷺ دا ذکر سوی آیت نازل کی په کوم کی چی نبی کریم ﷺ اومسلمانانو ته دقیدیانو په باره کی څلور اختیاره ورکول سوی دی هغه دا دی .

إِنْ شَاءُوا قَتَلُوهُمْ وَإِنْ شَاءُوا اسْتَعْبَدُوهُمْ وَإِنْ شَاءُوا أَفَادُوهُمْ وَإِنْ شَاءُوا أَعْتَقُوهُمْ (مظهری)

Maktaba Tul Ishaat.com

که غواړی نوټول دی قتل کړی یاکه غواړی نوغلامان دی جوړ کړی یاکه غواړی نوفدیه دی ورڅخه واخلی ازاد دی کړی یاکه غواړی نوبغیر دفدیی دی ازاد کړی.

په ذکرسوو څلورو اختیاراتوکی پراولنیو دوو خودټول امت اتفاق اواجماع ده چی دمسلمانانو امیر ته دقیدیانو قتل کولو هم اختیار دی او دغلام جوړولو هم لیکن د دوی په بی معاوضی پریښوولواوپه معاوضه اخستو اوپریښوولوکی دامت دفقهاؤ اختلاف دی.

امام مالك شافعی احمدبن حنبل ثوری اسحاق اوپه تابعینو کی دحضرت حسن بصری اوعطاء رحمهم الله قول دا دی چی دا دواړه صورتونه هم دمسلمانانو دامیردپاره جائز دی چی قیدیان په معاوضه اخستو پریږدی یایی بی دمعاوضی څخه ازاد کړی یایی دمسلمانانو قیدیانو سره په بدل کی پریږدی.

اوامام ابوحنیفه ابو یوسف محمد او زاعی قتاده ضحاك سدی اوابن جریج رحمهم الله فرمایی چی بی معاوضی پریښوول خویی بالکل جائزنه دی فدیه اخستل اوپریښوول یی هم دامام ابوحنیفه په مشهور مذهب کی جائزنه دی البته دسیر کبیر روایت دادی چی که مسلمانانو ته دمال ضرورت وی نوپه فدیه اخستلو یی پریښوولی سی البته دمسلمانانو قیدیانو سره په بدله کی ددوی پریښوول دامام ابوحنیفه اویارانو په نزد جائز دی (لکه چی دادوی څخه ښکاره روایت دی مظهری).

کومو حضراتو چی په فدیه اخستو سره دپریښوولو اجازت کړی دی دغه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دقول مطابق یی دسورة محمد آیت دسورة انفال دآیت ناسخ او دانفال آیت یی منسوخ مقرر کړی دی اواحناف دسورة محمد آیت منسوخ کوی اودسورة انفال آیت، فَشَرِّدْ بِهِمْ مَنْ خَلْفَهُمْ اوایت: اقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ ددی ناسخ ګڼی په دی وجه قیدیان ازادول برابره خبره ده که په فدیه اخستو سره وی اوکه بغیر دفدیی وی ددوی په نزد جائز نه دی (مظهری)

لیکن که دسورة انفال دایت په الفاظواودسورة محمد دآیت په الفاظوکی فکر وسی نو داسی معلومیږی چی په دی دواړوکی یوهم ناسخ اومنسوخ نه دی بلکه د دوو مختلفو حالتونو دوه حکمونه دی.

دسورة انفال په آیت کی هم اصل حکم، اثخان فی الارض یعنی دقتل په ذریعه دکافرانو قوت ماتول اودسورة محمد په آیت کی هم چی کم د: مَنًّا اوفِدَآءً (یعنی دقیدیانو بی معاوضی اویاپه معاوضی سره دازادولو) اختیار کړی دی ددی څخه مخکی د: اَثْخَانٌ فِی الْاَرْضِ بیان سوی دی یعنی دخونریزی په ذریعه دکفر دقوت دماتیدو څخه وروسته داهم اختیار دی چی قیدیان په فدیه اخستو یابغیر دفدیی اخستو څخه ازاد کړی.

دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله درواېت چی په سیر کبیرکی دی هم دامنشاء کیدی سی چی دمسلمانانو پرحالت اوضرورت به نظرکوی اودواړه قسمه احکام ورکولی سی والله سبحانه وتعالی اعلم.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَىٰ إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ

ای نبی ووایه هغوی ته کوم چی ستاسی په لاس کی دی قیدیان که معلومه کړه الله ستاسی په زړونوکی

خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ

څه نیکی نو دربه کړی تاسی ته ښه ددغه څخه کوم چی ستاسی څخه واخستل سو اوتاسی به وبخښی اوالله ﷻ دی

Maktaba Tul Ishaat.com

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۷۰﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ

بخښنی والا مهربانه ، اوکه وغواړی ستاسی سره خیانت کول نو دوی خیانت کړی دی دالله سره ددی څخه

مِنْ قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۷۱﴾

مخکی بیا هغه دوی ونیول او الله ﷻ دهرڅه پیژندونکی حکمت والا دی

لنډتفسیر: ای پیغمبره! ستاپه قبضه کی چی کوم قیدیان دی (په دوی کی چی کوم مسلمانان سوی دی) ته دوی ته وفرمایه چی که چیری الله ﷻ ته ستاسی په زړه کی ایمان معلوم سو (یعنی که تاسی په زړه سره مسلمانان سوی یاست ځکه چی دالله ﷻ علم دواقع مطابق وی الله ﷻ هغه مسلمانان ګڼی کوم چی په واقع کی مسلمان سوی وی اوکوم سړی چی غیر مسلم وی هغه غیر مسلم ګڼی پس که تاسی په زړه سره مسلمانان سوی یاست) نوځه چی ستاسی څخه (په فدیه کی) اخیستل سوي دی (په دنیاکی) تردی ښه به تاسی ته درکړی او (په اخرت کی به) تاسی وبخښی اوالله ﷻ لوی مغفرت والادی (په دی وجه به تاسی وبخښی او) که چیری (فرض کړه) داخلګ (دزړه په صدق سره نه وی مسلمانان سوی بلکه داسلام په ښکاره کولوسره محض تاته دوکه درکول غواړی اوپه زړه کی) ستاسره دخیانت کولو (یعنی عهد ماتولو اودمخالفت اومقابلی اراده لری) نو (ته هیڅ فکرمه کوه الله ﷻ به بیادوی ستاپه لاسونوکی گرفتارکړی لکه چی) ددی څخه مخکی دوی دخدای سره خیانت کړی وو (اوستا مخالفت اومقابله یی وکړه) بیا الله ﷻ دوی (ستا په لاسوکی) گرفتار کړل اوالله ﷻ ښه پوهیدونکی دی (چی څوك خیانت کوونکی دی او) لوی حکمت والا دی (داسی صورتونه پیدا کوی چی په هغه سره خیانت کوونکی به مغلوبه کیږی)

معلومات اومسئلي: دبدر دغزا دقیدیانو څخه فدیه واخستل سوه اوپریښوول سول داسلام اومسلمانانو هغه دښمنان کوم چی د دوی په ازارولو وهلو قتلولو کی یو وخت هم څه کمی نه وو کړی اوکله چی به موقع ورته ملاویده ډیر وحشیانه ظلمونه به یی پردوی کول دمسلمانانو په لاسونو کی دقید کیدو څخه وروسته ددوی معاف کول څه معمولی خبره نه وه ددوی دپاره لوی غنیمت او انتهایی لطف او کرم وو په فدیه کی چی کوم رقم د دوی څخه واخستل سو هغه هم ډیر معمولی وو .

دالله ﷻ لطف اوکرم ته وګوری چی ددی معمولی رقم په ورکولو سره هم چی کوم یو قسم تکلیف دوی ته ورپیښ سو هغه هم په یو ډول سره رفع کړل سی په ذکرسوی آیت کی ارشاد دی چی که الله ﷻ ستاسی په زړونو کی څه خیر پیدا کی نو کوم څه چی ستاسی څخه اخستل سوی دی ددی څخه ښه به تاسی ته درکړی اوپرهغه زیات داچی ستاسی تیر ګناهونه به وبخښی دخیر څخه مراد ایمان اواخلاص دی مطلب دادی چی دازادیدو څخه وروسته په دی خلګو کی چی کوم کسان ایمان اواسلام په اخلاص سره اختیار کړی نو څه چی دوی په فدیه کی ورکړی دی دهغه څخه زیات اوښه به دوی ته ورکول سی دقیدیانو دازادولو اوخودمختاره کولو سره داسی دعوت دوی ته ورکول سو چی دوی په ازادی سره پرخپله نفع اونقصان فکر وکړی چنانچی واقعات شاهد دی چی په دی خلګو کی کوم مسلمانان سول الله ﷻ د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

دمغفرت او دجنت دلورو درجو څخه علاوه په دنیا کی هم دوی ته دومره مال او دولت ورکی چی د دوی دفدیو څخه په ډیرو درجو زیات وو .

اکثره تفسیر لیکوونکی فرمایی چی دا آیت دنبی کریم ﷺ داکا حضرت عباس ﷺ په باره کی نازل سوی وو څکه چی هغه هم دبدر په قیدیانوکی شامل وو ددوی څخه هم فدیه اخستل سوی وه د دوی خصوصیت په دی معامله کی داوو چی په جنګ بدرکی ده دمکی څخه دخپل ځان سره تقریبًا اووه سوه گینی سره زر راوړی وه چی دادی دکفارو په لښکر خرڅ کړی او دغه لاخرڅ سوی نه وه چی دی سره ددغو سرو زرو گرفتار سو .

هرکله چی دفدیی ورکولو وخت رالی نوده نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی زماسره کوم سره وه هغه دی زما په فدیه کی ولګول سی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی کوم مال تا دکفر دامداد دپاره راوړی وو هغه خو دمسلمانانو مال غنیمت جوړ سو فدیه دهغه څخه علاوه په کار ده او ورسره یی دا هم وفرمایل چی دخپلو دوو وریرونو عقیل بن ابی طالب اونوفل بن حارث فدیه به هم ته ادا کوی حضرت عباس ﷺ عرض وکی چی که دومره مالی بار په ما وغورځول سو نو زه به دقریشو څخه په خیرات غوښتلو مجبوره سم زه به بالکل فقیر سم نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ولی؟ آیا ستاسره هغه مال موجوده نه دی کوم چی دمکی څخه دروانیدو په وخت کی تاخپلی ښځی ام الفضل ته حواله کړی دی حضرت عباس ﷺ پوښتنه وکړه چی تاته داڅنګه معلومه سوه حال دادی چی دغه مادشپی په تیاره کی په تنهایی کی خپلی ښځی ته سپارلی وو اوڅوك دریم سړی ددی څخه خبر نه دی حضور ﷺ وفرمایل چی ماته زما رب ددی پوره تفصیل ښوولی دی دحضرت عباس ﷺ په زړه کی ددی په اوریدو دربښتینی رسول کیدو دحضور ﷺ یقین پیدا سو ددی څخه اول هم دی په زړه سره دنبی کریم ﷺ معتقدوو مګر څه شکونه یی وه کوم چی الله ﷻ په دی وخت کی لیری کړل او دی په حقیقت کی ددی وخت څخه مسلمان سو مګر دده ډیری روپی دمکی دقریشو پرذمه قرض وی که ده ددی وخت څخه دخپلو مسلمانیدو اعلان کولی نودغه روپی یی وهل کیدی په دی وجه اعلان یی ونه کی اونبی کریم ﷺ هم چاته ددی اظهار ونه کی دمکی دفتحی څخه مخکی ده دنبی کریم ﷺ څخه دډی اجازه وغوښته چی دمکی څخه هجرت وکړی اومدینی طیبی ته راسی مګر حضور ﷺ ده ته دا مشوره ورکړه چی اوس دی هجرت نه کوی .

دحضرت عباس ﷺ سره په دی خبرو باندی نبی کریم ﷺ په ذکرسوی آیت کی راغلی وعده هم ده ته وروښوله چی که تا اسلام قبول کی اوپه اخلاص سره مومن سوی نوکم مال چی تاپه فدیه کی خرڅ کړی دی ددی څخه به ښه الله ﷻ تاته درکړی چنانچه حضرت عباس ﷺ به داسلام ښکاره کولو څخه وروسته فرمایل چی ما خوددی وعدی ښکاره کیدل په خپلو سترګو سره ولیدل څکه چی زما څخه شل اوقیه سره زر په فدیه کی اخستل سوی وه اوداوخت زماشل غلامان په مختلفو ځایونوکی دتجارت کارو بار کوی اودیوه کارو بار هم دشلو زرو درهمو څخه کم نه دی اوپردی سربیره دا انعام دی چی ماته دحاجیانو دزمزم داوبو چنبلو خدمت راکول سوی دی کوم چی زماپه نزد داسی دقدر ورکار دی ، چی دمکی والا وو مالونه ددی په مقابله کی هیڅ نه ګڼم .

Maktaba Tul Ishaat.com

دبدر دغزا په قیدیانو کی څه خلګ مسلمانان سوه مګر ددوی په باره کی دابیره دخلګو په زړونو کی وه چی شاید داخلګ مکی ته ورسیږی نو داسلام څخه به وګرځی اوبیابه مونږ ته څه نقصان رسوی الله ﷻ ددی څخه وروسته په راتلونکی آیت کی دابیره هم داسی لیږی کړه چی: وَاِنْ یُّرِیْدُوْا خِیَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ حَكِیْمٌ یعنی که داخلګ ستاسره دخیانت اراده وکړی نو ددی څخه به تاته هیڅ نقصان ونه رسیږی داخو هغه خلګ دی کوم چی ددی څخه مخکی یی دالله ﷻ سره خیانت کړی دی یعنی دازل په میثاق کی چی یی کوم دالله ﷻ درب العٰلمین والی اقرارکړی وو دهغه مخالفت یی وکی لیکن د دوی داخیانت په خپله ددوی دپاره مضر ثابت سو چی اخر ذلیل اوخوار اوګرفتار سول اوالله ﷻ خودزړونوپه رازونوپوهیدونکی اولوی حکمت والادی که داخلګ اوس هم ستا مخالفت وکړی نودالله ﷻ دقبضی څخه به چیری ولاړسی هغه به بیادوی دغه رکم ونیسی په تیر آیت کی یی ازادیدونکو قیدیانو ته داسلام طرف ته دعوت په ترغیبی انداز کی ورکړی وو په دی آیت کی یی دترهیب په ذریعه دوی خبرکړل چی ستاسی ددنیا اواخرت بنیګڼه په اسلام اوایمان کی منحصره ده.

تردی ځای پوری دکفارو سره دقتل اوقتال اوددوی دقیدولو ازادولو اوددوی سره دصلح اومصالحت داحکامو بیان کیدی په راتلونکو ایتونو کی دسورة تراخره پوری ددی سلسلی دیوخاص باب اوددی داحکامو څه تفصیل ذکردی اودغه احکام دهجرت دی څکه چی دکفارو سره په مقابله کی کله داسی حالات هم پیښیږی چی نه مسلمانانو ته ددوی په مقابله کی دقتل اوقتال طاقت وی اونه دغه کافران په صلح راضی وی ددا سی کمزوری په حال کی داسلام اودمسلمانانو دنجات لار هجرت دی چی دغه بنسټ او ملك پریږدی اویوی بلی داسی مځکی ته ولاړ سی قیام په کی وکی په کومه کی چی په اسلامی احکامو په ازادی سره عمل کولی سی.

اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ هَاجَرُوْا وَ جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَالَّذِیْنَ

کوم خلګ چی ایمان راوړی اوکور پاته کړی اووجنګیږی په خپلو مالونو اوخانونو سره دالله په لاره کی او

اٰوَوْا وَّ نَصَرُوْۤا اُولٰٓىِٕكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ بَعْضٍ ؕ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ لَمْ

کومو خلګو چی خای ورکی اومدد یی وکی دغه دیو بل ملګری دی اوکومو چی ایمان راوړی او کور

یُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَایَتِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ حَتّٰی یُهَاجِرُوْا ۚ وَاِنِ

یی پاته نه کی، تاسی ته د دوی دملګرتیا سره هیڅ کار نسته ترڅو چی دوی کور پاته نه کی اوکه،

اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِی الدِّیْنِ فَعَلَیْكُمُ النَّصْرُ اِلَّا عَلٰی قَوْمٍ بَیْنَكُمْ وَ

دوی ستاسی څخه مدد وغواړی په دین کی نو پرتاسی لازم دی د دوی مدد کول مګرپه مقابله دهغو خلګو کی چی

بَیْنَهُمْ مِّیْثَاقٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ۝ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ

د دوی اوستاسی په مینځ کی عهدوی اوتاسی څه چی کوی نوالله یی وینی، اوکوم خلګ چی کافران دی هغوی دیوبل

Maktaba Tul Ishaat.com

اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ اِلَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْاَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ﴿۷۳﴾

ملګری دی که تاسی داسی ونه کړی ، نو فتنه به خپره سی په ملك کی او لویه خرابی به وی ،

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ

اوکوم خلګ چی ایمان راوړی اوخپل کور پریږدی اوجنګ کوی دالله په لاره کی اوکومو خلګو چی

اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۴﴾

دوی ته ځای ورکی او د دوی مدد یی وکی دغه دی رښتینی مسلمانان ددوی دپاره بخښش دی اورزق دعزت دی

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ؕ

اوکزم چی ایمان راوړی ددی ځخه وروسته اوکور پریږدی اوجنګ وکی ستاسی په ملګرتیا کی پس دغه خلګ هم

وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۵﴾

ستاسی ځخه دی اوقریبان په خپل مینځ کی حقدار زیات دی دیوبل دالله ﷻ په حکم کی په تحقیق سره الله دهرشی ځخه خبردار دی .

لنډتفسیر: بیشکه کومو خلګو چی ایمان راوړی او دوی هجرت هم وکی اوپه خپل مال او ځان سره یی دالله ﷻ په لاره کی جهاد هم وکی (چی وقوع یی دلوازمو عادیه وو دهجرت ځخه وه که څه هم مدار دحکم دیوبل ځخه میراث ورڼ نه دی اودی جماعت ته مهاجرین وایی) اوکومو خلګو چی (دی مهاجرینوته) داوسیدوځای ورکی او (ددوی) مدد یی وکی (اودی جماعت ته انصار وایی) دا (دواړه قسمه) خلګ به دیوبل وارثان وی اوکومو خلګو چی ایمان خو راوړی اوهجرت یی ونه کی ستاسی (یعنی مهاجرینو) ددوی سره دمیراث هیڅ تعلق نسته (نه هغه ددوی وارثان دی نه دوی دهغو) ترڅو پوری چی دغه کسان هجرت ونه کړی (اوکله چی هجرت وکی بیابه هغوی هم په دی حکم کی داخل سی) او (که څه هم ددوی سره ستاسی دیوبل ځخه میراث ورڼ نه وی لیکن) که چیری دوی ستاسی ځخه ددین په کارکی (یعنی دکافرانو سره په جنګ کی) مدد وغواړی نوستاسی پر ذمه (ددوی) مدد کول واجب دی مګر دهغه قوم په مقابله کی نه دی چی ستاسی اوددوی په مینځ کی عهد (دصلح) وی اوالله ﷻ ستاسی ټول کارونه وینی (نو دده په مقرر کړو حکمونو کی په خلل اچولو مستحق دناخوښی مه کیږی) او (څنګه چی ستاسی په مینځ کی علاقه دتوارث ده دغه رکم) کوم خلګ چی کافران دی هغوی دیوبل وارثان دی (نه تاسی ددوی وارثان یاست نه دوی ستاسی) که په دی (ذکر سوی حکم) عمل ونه کړی (بلکه سره دمخالفت ددین ځخه محض دخپلولی په بناباندی په مومن اوکافرکی علاقه دتوارث قائمه پاته کړی) نوپه دنیا کی به لویه فتنه اولوی فساد وغورڼول سی (څکه چی په توارث سره به ټول یوجماعت ګډل کیږی او بغیر دجلا کیدو ددغه جماعت ځخه اسلام ته قوت اوشوکت نه حاصلیږی اوکمزوری داسلام ددنیادټولو فتنو اوفسادونو

Maktaba Tul Ishaat.com

ریښه ده لکه چې ښکاره ده) او (په دی حکم دتوارث په مینځ دمهاجرینو اوانصارو کی هرڅومره چی ټول مهاجرین برابردی برابره خبره ده که په زمانه دهجرت نبوی کی دوی هجرت کړی وی یا وروسته لیکن په فضیلت اومرتبه کی یی تفاوت سته چنانچی) کوم خلګ چی (اول) مسلمانان سول اودوی (دهجرت نبوی په زمانه کی) هجرت وکی او (داول څخه یی) دالله ﷻ په لاره کی جهاد کړی دی اوکمو خلګو چی (دغه مهاجرین) دخپل ځان سره پاته کړی دی او د دوی مدد یی کړی دی داخلګ (خو) دایمان پوره حق اداکوونکی دی (ځکه چی حق یی دادی چی مخکی والی یی په قبلولو کی وسی) د دوی دپاره (په آخرت کی) لوی مغفرت او (په جنت کی) لوی دعزت رزق (مقرر) دی اوکوم خلګ چی ستاسی سره جهاد وکړی (یعنی کارونه ټول وکړی خو وروسته) پس دغه خلګ (که څه هم په فضیلت کی ستاسی سره برابرنه دی لیکن بیاهم) ستاسی سره شماردی (په فضیلت کی خودیوی وجهی څخه ځکه چی دعملونو په تفاوت سره په مرتبه کی غوره والی راځی اوپه احکامو دمیراث کی دهری وجهی څخه ځکه چی دعملونو په غوره والی سره په شرعی حکمونو کی تفاوت نه راځی) او (په دی وروسته راتلونکو مهاجرینو کی) چی کوم خلګ (دیوبل سره یا دمخکنیو مهاجرینو سره) قریبان دی (که څه هم په فضیلت اومرتبه کی کم وی لیکن دمیراث په اعتبارسره) دالله ﷻ په کتاب (یعنی په حکم شرعی یاایت دمیراث) کی دیوبل (دمیراث په نسبت دغیر قریبانو) زیات حقداردی (که څه هم غیر قریب په فضیلت اومرتبه کی زیات وی) بیشکه الله ﷻ هرشی ښه پیژنی (په دی وجه دهر وخت دمصلحت مناسب حکم مقرر فرمایی)

معلومات اومسئلي: دا دسورة انفا ل آخری څلور ایتونه دی په دی کی اصل مقصود دهجرت هغه احکام دی دکمو تعلق چی دمهاجرو مسلمانانو دوراثت سره دی ددی په مقابله کی دغیرو مهاجرو مسلمانانو اودغیر مسلمو دوراثت هم ذکر راغلی دی

خلاصه ددی احکامو داده چی په کومو خلګو باندی شرعی احکام عائد کیږی دغه اولاً پر دوه قسمه دی مسلمانان کافران بیا مسلمانان دهغه وخت په لحاظ سره دوه قسمه وه یومهاجر کم چی دمکی څخه دهجرت په فرض کیدو سره مدینی منوری ته راغله اومقیم سول دوهم غیر مهاجرکم چی په یو جائز عذر یابله څه وجه سره په مکه مکرمه کی پاته سوی وه .

دیوبل په مینځ کی قرابت اوخپلولی دافرادو په دی ټولو قسمونوکی دائر وه ځکه چی داسلام په اول کی ډیرداسی وه چی زوی یی مسلمان پلاریی کافریاپلاریی مسلمان زوی یی کافر دغه رکم دورونو وریرونو نیکونو ماماګانو وغیره حال وو اوپه مسلمانانو مهاجرو اوغیر دمهاجرو کی قرابت خوښکاره خبره ده .

الله ﷻ دخپل کامل رحمت اوبالغ حکمت په وجه سره دمړ کیدونکی انسان دپاته کړی مال مستحق دهغه نژدی قریبان مقرر کړی دی حال دادی چی اصل حقیقت داوو چی چاته په دنیا کی څه ورکول سویدی داټول دالله ﷻ حقیقی ملکیت وو دهغه دطرف څخه په ټول ژوندکی داستعمالولو نفع اخستو دپاره انسان ته په عارضی طورسره ورکول سوی وه په دی وجه دعقل اوانصاف تقاضا خوداوه چی دهر یو مړ کیدونکی پاته سوی ما ل دالله ﷻ ملکیت ته بیرته تلی چی عملی صورت یی په اسلامی بیت الما ل کی داخلول وو چی ددی په ذریعه دخدای پاک دټولو مخلوق پرورش کیدی سی مګرپه داسی کولوکی خوبه

Maktaba Tul Ishaat.com

یودهر انسان جذباتو ته زور رسیدی کله چی هغه په دی پوهیدی چی زما ما ل زما څخه وروسته نه زما اولاد ته ورکول کیږی نه زما مور اوپلار ته اونه زمابنځی ته نوبیابه ددی دانتیجه هم په طبعی طورسره لازمی وه چی یوسړی به دخپل مال زیاتولو اودده دمحفوظ ساتلو فکرنه کولی صرف دخپل ژوند دضروریاتو ترحده پوری به یی دمال جمع کولو څخه زیات چامحنت اومشقت نه کولی اودابنکاره ده چی ددی نتیجه به دپوره انسانانو او ښارونو دپاره دبربادی صورت اختیار کړی وای.

په دی وجه الله ﷻ میراث دانسان دقریبانو حق مقرر کی اوخاص بیا دداسی قریبانو دکومو دفائدی دپاره چی دی په خپل ژوند کی مال جمع کوی او محنت برداشت کوی.

ددی سره اسلام دا اهم مقصد هم دوراثت په تقسیم کی مخ ته کښیږدی دکم دپاره چی دانسان پیدائش سوی دی یعنی دالله ﷻ فرمانبرداری اوعبادت او په دی لحاظ سره یی تول عالم انسان دوه جلا جلا قومونه مقرر کړل مومن او کافر دقرآن دایت، خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّ مِنْكُمْ مُّومِنٌ: هم دا مطلب دی.

دی دوی قومی نظریی نسبی اوخاندانی رشتی دمیراث ترحده پوری قطع کړی چی نه یو مسلمان ته دکافر قریب دمیراث څخه حصه ورکول کیږی اونه یوکافرته دمسلمان قریب دوراثت څخه څه حق رسیږی په اولنیو دوو ایتونوکی دامضمون بیان سوی دی اوداحکم دائمی اوغیر منسوخ حکم دی چی داسلام داول څخه واخله ترقیامته پوری دغه داسلام دوراثت اصول دی.

ددی سره یودوهم حکم دمسلمان مهاجر اوغیر مهاجر دواړو په مینځ کی دوراثت دی چی ددی متعلقږی په اول آیت کی دابنوولی دی چی مسلمان ترځو پوری چی دمکی څخه هجرت ونه کی ترهغه وخته پوری ددده تعلق هم دهجرت کوونکو مسلمانانو څخه دوراثت په باره کی منقطع دی نه به مهاجر مسلمان دخپل غیر مهاجر مسلمان قریب وارث وی اونه به غیر مهاجر دچا مهاجر مسلمان دمیراث څخه څه حصه پیداکی داحکم بنکاره دی چی ترهغه وخته پوری وو ترځو پوری چی مکه مکرمه فتح سوی نه وه دمکی دفتح څخه وروسته خوپه خپله نبی کریم ﷺ اعلان کړی وو: لاَ هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ یعنی دمکی دفتح څخه وروسته دهجرت حکم ختم سو اوکله چی دهجرت حکم ختم سو نودنه هجرت کوونکو سره دبی تعلقی سوال هم دسره ختم سو.

په دی وجه اکثره تفسیر لیکونکی فرمایی چی داحکم دمکی په فتح سره منسوخ سوی دی اودتحقیق کوونکو په نزد داحکم هم دائمی غیر منسوخ دی مگر دحالاتو مطابق بدل سوی دی په کومو حالاتوکی چی دقرآن دنزول په وخت کی دا حکم راغلی وو، که په څه زمانه کی یاپه څه ملك کی بیا دغسی حالات پیدا سی نو بیا به دا حکم جاری سی.

وضاحت ددی دا دی چی دمکی دفتح څخه اول په هر مسلمان سړی اوښځی دمکی څخه هجرت فرض عین سوی وو په دی حکم دعمل کولو په بنا بغیر دیوځو تنو مسلمانانو څخه تولو مسلمانانو هجرت کړی وو اومدینی طیبی ته راغلی وه اودغه وخت دمکی څخه هجرت نه کول ددی نبنه جوړه سوی وه چی هغه مسلمان نه دی په دی وجه دغه وخت دغیر مهاجر اسلام هم مشتبه اوشکمن وو په دی بنا سره بی دمهاجر اوغیر مهاجر په مینځ کی وراثت قطع کړی وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوس که چیری په یوملك کی بیاهم دغسی حالات پیدا سی چی هلته په پاته کیدو کی اسلامی فرض بالکل نه سی اداکیدی نوددغه ملك څخه هجرت کول به بیافرض سی اوپه داسی حالاتو کی بی دقوی عذر څخه هجرت نه کول که په یقینی طور سره دکفر نښه سی نوبیابه هم داحکم عائدوی چی دمهاجر اوغیر مهاجر په مینځ کی به وراثت نه جاری کیږی ددی تقریر څخه داهم واضحه سوه چی دمهاجر اوغیر مهاجر په مینځ کی دوراثت قطع کیدو حکم څه څان ته جلا حکم نه دی بلکی دغه اولنی حکم دی کوم چی په مسلمان اوغیر مسلمان کی دوراثت قطع کول بیانوی فرق دومره دی چی دی خویی دکفر دنښی په وجه سره دوراثت څخه محرومه گرځولی وو مگر محض ددومره نښی په وجه دی کافر نه سی گنهل کیدی ترڅو پوری چی دده څخه په ډاگه اوښکاره دکفر ثبوت ونه سی.

اوغالبًاددی مصلحت په وجه یی دلته یوبل حکم دغیرمهاجرومسلمانانوذکرکړی دی چی دوی دمهاجرو مسلمانانو څخه امداد اونصرت وغواړی نوپه مهاجرو مسلمانانو باندی ددوی مدد کول ضروری دی چی ددی څخه دامعلومه سی چی غیر مهاجر مسلمانان یی بالکل دکافرانو په صف کی ونه ساتل بلکه ددوی دا اسلامی حق یی باقی پریښووی چی دضرورت په وخت کی دی د دوی مدد کول کیږی.

اوچونکی ددی آیت شان نزول یوخاص هجرت دی دمکی څخه دمدینی طرف ته اوغیر مهاجر مسلمانان هغه وه کم چی په مکه کی پاته سوی وه اوددغه مکی دکافرانو په گیره کی وه نودانښکاره ده چی ددوی امداد طلب کول ددغه مکی دکافرانو په مقابله کی کیدی سی اوکله چی مهاجرو مسلمانانو ته قرآنکریم ددوی دامداد دحکم ورکی نوپه ښکاره ددی څخه داوگنهل سوه چی په هرحال کی اودهر قوم په مقابله کی ددوی امداد په مسلمانانو لازم سوی دی که څه هم دغه قوم دکومودمقابلی دپاره چی دوی امداد غواړی ددوی سره دمسلمانانو دجنگ نه کولو څه معاهده وی حال دادی چی داسلام په اصولو کی عدل اوانصاف اودمعاهدی پابندی یواهم فرض دی په دی وجه په دی آیت کی یو استثنایی حکم داهم ذکر فرمایلی دی چی که غیر مهاجر مسلمانان دمهاجرو مسلمانانو څخه دیوداسی قوم دمقابلی دپاره مدد وغواړی دکوم سره چی دمسلمانانو دجنگ نه کولو معاهده وی نوبیا دخپلو وروڼو مسلمانانو امداد هم دمعاهدو کفارو په مقابله کی جائز نه دی.

داخلاصه دمضمون دی داولنیو دوو ایتونو اوس دالفاظو سره دایوځای وکی اووی گوری ارشاددی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا .... یعنی هغه خلگ کوم چی ایمان راوړی اوکومو چی دالله ﷻ دپاره خپل وطن عزیزان اوخپلوان پریښوول او دالله ﷻ په لاره کی یی په خپلو مالونو اوخپلو ځانونو جهاد وکړی ما ل یی خرڅ کی وسلی اواسباب دجنگ یی باندی واخستی اودمیدان جنگ دپاره یی خپل ځانونه پیش کړل ددی څخه مراد مهاجرین اولین دی او هغه خلگ کومو چی ورته داوسیدو ځای ورکی اومدد یی وکی ددی څخه مراد دمدینی انصاردی ددی دواړو فریقو متعلق یی دا رشاد وفرمایه چی دوی په خپل مینځ کی دیوبل سرپرست دی بیافرمایی چی هغه خلگ کموچی ایمان خو راوړی مگر هجرت یی ونه کی ستاسی د دوی سره هیڅ تعلق نسته ، ترڅو چی د دوی هجرت ونه کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته قرآن کریم لفظ دولی اوولایت استعمال کړی دی چی اصلی معنٰی یی دوستی او ژور تعلق دی حضرت ابن عباس ﷺ حسن قتاده مجاهد وغیره دتفسیر امامان فرمایی چی دلته دولایت څخه مراد وراثت دی او دولی څخه مراد وارث دی اوځینی حضرات دولایت لغوی معنٰی یعنی دوستنی امداد اواعانت مراد اخلی.

داول تفسیر متعلق دایت مطلب داسو چی مسلمان مهاجر اوانصار به په خپل مینځ کی دیوبل وارثان وی ددوی تعلق دوراثت به نه دغیر مسلم سره قائم وی اونه دهغو مسلمانانو سره کومو چی هجرت نه دی کړی اولنی حکم یعنی داختلاف ددین په بنا باندی قطع دوراثت خودائمی اوباقی پاته ده مگر دوهم حکم دمکی دفتح څخه وروسته کله چی دهجرت ضرورت پاته نه سو نوپه مهاجر اوغیر مهاجر کی دوراثت دقطع حکم هم باقی پاته نه سو ددی څخه ځینو فقهاوو په دی باندی دلیل نیولی دی چی لکه څنګه چی ددین اختلاف دوراثت قطع کیدو سبب دی دغه رکم اختلاف ددارینو هم دوراثت قطع کیدو سبب دی چی تفصیلی بحث یی په کتابونو دفقه کی ذکردی .... ددی څخه وروسته ارشاد فرمایی.

وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ .

یعنی دغه خلق کومو چی هجرت نه دی کړی که څه هم د دوی سره تعلق دوراثت قطع کړل شومگر دغه بهرحال مسلمانان دی که هغوی دخپل دین دحفاظت دپاره دمهاجرو مسلمانانو څخه مدد وغواړی نو د دوی پرذمه دهغوی امداد کول واجب دی مگرددی سره سره دعدل اوانصاف اصول اوپابندی دمعاهدی شاته غورزول نه دی پکار که هغوی دچاداسی قوم په مقابله کی ستاسو څخه امداد غواړی دکم سره چی ستاسو معاهده دجنګ نه کولو ده نوددوی په مقابله کی ددغه مسلمانانو امدادهم جائزنه دی دصلح حدیبیی په وخت کی هم داسی واقعه مخ ته راغله کم وخت چی نبی کریم ﷺ دمکی دکفاروسره صلح وکړه او دصلح په شرطونوکی داهم داخل وه چی دمکی څخه کوم سړی اوس مدینی ته څی هغه به نبی کریم ﷺ راګرځوی عین دصلح ددی معاملی په وخت ابوجندل ﷺ کوم چی دمکی کفارو قیدی کړی وو په قسم قسم تکلیفونو کی یی اچولی وو په یودول سره په خدمت کی حاضر سو اودخپل مظلومیت اظهار یی وکی اود نبی کریم ﷺ څخه یی مدد وغوښتی نبی کریم ﷺ چی رحمة للعٰلمین وو دیومظلوم مسلمان په فریاد باندی به څومره اثر پرسوی وی ددی اندازه لګول هم دهرسړی دپاره اسان کار نه دی مگر ددی باوجود دذکرسوی آیت دحکم مطابق دده دامداد کولو څخه یی عذر وفرمایی اوبیرته یی ور واستوی.

دده واپسی دټولو مسلمانانو دپاره انتهایی دل ازاری وه مگر سرکار دوجهان دالله ﷺ دارشاداتو له مخی گویا دا په سترګو لیدل چی اوس ددی ظلمونو عمر زیات نه دی پاته سوی اودځو ورځو دصبر ثواب به ابوجندل ﷺ ته نور ورکول کیږی ددی څخه وروسته ډیر ژر مکه فتح کیدونکی اودا قصی ختمیدونکی دی په هرحال دغه وخت دقرانی ارشاد مطابق نبی کریم ﷺ دمعاهدی پابندی ته دده پرذاتی مصیبت باندی ترجیح ورکړه داداسلامی شریعت هغه امتیازی خصوصیت دی کم چی دوی یی په دنیا کی دفتح عزت اوداخرت دفلاح مالکان جوړکړی دی کنی په عام طور سره ددنیا حکومتونه دمعاهدو سره لوبی کوی دکوم په ذریعه چی دکمزوری دباوول اوطاقتورته فریب ورکول مقصودوی څه وخت چی

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل لږ مصلحت رامخ ته سی نو سل قسمه تاویلونه کوی او معاهده ختموی او الزام دنورو په سر ورتپی.
په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی ، وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ : یعنی کافران خلک په خپل مینځ کی دیوبل سرپرست دی لفظ د ، ولی لکه چی مخکی بیان سوی دی یوعام مفهوم لری چی وراثت هم په کی داخل دی او دمعاملو سر پرستی هم په دی وجه ددی آیت څخه معلومه سوه چی کافران خلک به په خپل مینځ کی دیوبل وارثان ګنل کیږی او دوراثت دتقسیم چی کم قانون ددوی په خپل مذهب کی رائج دی ددوی دوراثت په معامله کی به هغه قانون نافذ کیږی دارنګه د دوی دیتیمانو بچیانو ولی دانجونو دنکاح ولی به هم ددوی څخه وی لنډه یی داده چی په عائلی مسائلو کی به دغیر مسلمو خپل مذهبی قانون په اسلامی حکومت کی محفوظ ساتل کیږی.
دآیت په آخر کی ارشاد دی ، إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ : یعنی که تاسی داسی ونه کړل نو په ټوله مخکه کی به فتنه اولوی فساد وغورول سی.
ددی جملی تعلق دهغو ټولو احکامو سره دی کوم چی ددی څخه مخکی ذکر سوی دی مثلاً داچی مهاجرین اوانصار په خپل مینځ کی دیوبل سرپرست جوړیدل په کار دی چی په دی کی دیو بل سره امداد او اعانت هم داخل دی اووراثت هم دوهم داچی ددغه وخت دمهاجرو اوغیر مهاجرو مسلمانانو په مینځ کی دوراثت تعلق پاته کیدل نه دی په کار مګر دامداد او نصرت تعلق دخپلو شرطونو سره باقی پاته کیدل په کار دی دریم دا چی کافران په خپل مینځ کی دیو بل سره پرست وی د دوی په قانون دولایت او وراثت کی مسلمانانو ته څه دخل ورکول نه دی په کار.
که په دی حکمونو عمل ونه سی نوپه مخکه کی به فتنه اولوی فسادوغورول سی داخبر داری یی غالباً په دی وجه ورکی چی کوم حکمونه دلته بیان سوی دی دغه دعدل اوانصاف اوعام امن دپاره دبنیادی اصولو حیثیت لری څکه چی دی ایتونو داواضحه کړه چی دیوبل سره دامداد اواعانت اودوراثت تعلق لکه څنګه چی په قرابت باندی مبنی دی هم دغه رکم په دی کی مذهبی اودینی قرابت هم قابل لحاظ دی بلکه پرنسبی قرابت باندی دینی قرابت ته ترجیح حاصله ده په دی وجه سره کافر دمسلمان اومسلمان دکافر وارث نسی کیدی که څه هم دوی په خپلو کی په نسبی قرابت سره پلار زوی یاورونه وی ددی سره یی دمذهبی تعصب اودجاهلیت دعصبیت بندیز راوستو دپاره داهم هدایت ورکړی دی چی مذهبی قرابت که څه هم دومره قوی اومضبوط دی مګر دمعاهدی پابندی ددی څخه هم زیاته مخکی اودترجیح قابله ده دمذهبی تعصب په جوش کی دمعاهدی خلاف ورزی جائز نه ده دلته یی داهدایت هم کړی دی چی کفار په خپله مینځ کی دیوبل سرپرست اووارثان دی ددوی په شخصی ولایت اووراثت کی دی مداخت نه کول کیږی.
په کتوکی خودایو څوفرعی اوجزئی احکام دی مګرپه حقیقت کی دامن عالم دپاره دعدل اوانصاف بهترین اوجامع بنیادی اصول دی په دی وجه دلته ددی احکامو دبیانولو څخه وروسته یی په داسی الفاظو سره خبرداری وفرمایی چی په عام طور سره یی دنورو احکامو دپاره نه دی فرمایلی چی که تاسی په دی احکامو عمل ونه کی نوپه مزکه کی به فتنه اولوی فساد وغورول سی په دی الفاظو کی هم دی طرف ته اشاره ده چی دا احکام دفتنی اوفساد په بندولو کی خاص دخل اواثر لری.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دریم آیت کی دمکی څخه دهجرت کوونکو صحابه وو اوددوی دمدد کوونکو دمدینی دانصارو تعریف اوثنا اوددوی درښتینی مسلمانیدو شاهدی اوددوی سره دمغفرت اود باعزته روزی دوعدی ذکر دی ارشادفرمایی ، أُولٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا یعنی داخلګ رښتینی پاخه مسلمانان دی په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی هجرت نه کوونکی حضرات هم که څه هم مسلمانان دی مګر ددوی اسلام کامل هم نه دی اویقینی هم نه دی ځکه چی دا احتمال هم دی چی په اصل کی منافقان وی اوپه بنکاره داسلام دعوی ساتی ددی څخه وروسته ارشاد فرمایی: لَهُمْ مَغْفِرَةٌ یعنی ددوی دپاره مقرر دی مغفرت لکه چی په صحیح حدیث کی دی: اَلْاِسْلَامُ یَهْدِمُ مَاکَانَ قَبْلَهُ وَالْهِجْرَةُ تَهْدِمُ مَاکَانَ قَبْلَهَا یعنی مسلمانیدل دتیرو ټولو ګناهونو انبار نړوی دغه رنګه هجرت کول تیر ټول ګناهونه ختموی.

په څلورم آیت کی دمهاجرینو دمختلفو طبقو حکم فرمایی چی که څه هم په دوی کی ځینی خلګ اولنی مهاجرین دی کومو چی دصلح حدیبیه څخه اول هجرت کړی دی او ځینی ددوهمی درجی مهاجرین دی کومو چی دصلح حدیبیه څخه وروسته هجرت کړی دی اوپه دی وجه سره به ددوی داخرت په درجو کی فرق وی مګر ددنیا په احکامو کی ددوی حکم هم هغه دی کم چی داولنیو مهاجرینو دی چی دغه دیوبل وارثان دی په دی وجه مهاجرینو ته خطاب کوی اوارشاد فرمایی: فَأُولٰئِكَ مِنْكُمْ یعنی دا ددوهمی درجی مهاجرین هم ستاسی په ټولی کی شامل دی په دی وجه دوراثت په احکامو کی هم ددوی حکم دعامو مهاجرینو په شان دی.

دادسورة انفال بالکل اخری آیت دی ددی په اخر کی دمیراث دقانون یوه جامعه قاعده بیان سوې ده چی ددی په ذریعه یی هغه عارضی حکم منسوخ کړی دی کم چی دهجرت په اول کی دمهاجرینو اوانصارو په مینځ کی دمواخات یعنی دوروروالی په ذریعه دیوبل دوارثانو جوړیدو متعلق جاری سوی وو: وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلٰى بِبَعْضٍ فِی كِتَابِ اللّٰهِ لفظ د ، أُولوا په عربی ژبه کی دصاحب په معنی کی راځی چی ترجمه یی په اردو کی په والی سره کیږی اولوا العقل: عقل والا اولوا الامر: امر والا په دی وجه داولوا الارحام معنی سوه ارحام والا ارحام درحم جمع ده چی په اصل کی دهغه اندام نوم دی په کوم کی چی بچی جوړیږی اوچونکی دقرابت تعلق درحم په شرکت سره قائمیږی په دی وجه اولو الارحام دقریبانو په معنی کی استعمالیږی.

دایت معنی دا ده چی که څه هم که یو عام ولایت دټولو مسلمانانو په مینځ کی یو بل ته حاصل دی چی ددی په سبب دضرورت په وخت کی دیوبل امداد اواعانت هم واجب دی اودیوبل وارثان هم وی لیکن کم مسلمانان چی په خپل مینځ کی دخپلولی اوقرابت تعلق لړی هغه دنورو مسلمانانو څخه مخکی دی د: فِی كِتَابِ اللّٰهِ ، معنی دلته د ، فِی حُكْمِ اللّٰهِ ، ده یعنی الله په خپل خاص حکم سره داقانون جوړ کړی دی دی آیت داقاعده وښوولو چی دوراثت تقسیم دقرابت په معیار په کار دی اولفظ د ، اولو الارحام مطلقاً دخپلو انو اودقریبانو دپاره ویل کیږی په دوی کی دخاص قریبانو حصی خو په خپله قرآن کریم په سورة نساء کی مقررکړی دی کومو ته چی دمیراث په علم کی اهل فرائض یاذوی الفروض وائی دوی ته دورکولو څخه وروسته چی کوم مال باقی پاته سی هغه ددی ایت په روسرپه نورو قریبانوکی تقسیمول

Maktaba Tul Ishaat.com

په کاردی اوداهم ظاهره ده چی په تولو قریبانوکی دځه مال تقسیمول دهیچا په قدرت کی نسته ځکه چی لیری قرابت خودتولی دنیا په انسانانوکی بلاشبه موجوددی چی تول دیو پلار اومور ادم اوحواء [ځخه پیداسوی دی په دی وجه په قریبانو کی دتقسیمولو عملی صورت داکیدی سی چی نژدی قریبان په لیری باند مخکی کړی اودنژدی په مخکی لیری محرومه کړی چی تفصیلي بیان یی دنبی کریم ﷺ په احادیثو کی داسی موجود دی چی دذوی الفرضو دحصو دورکولو ځخه وروسته چی څه باقی پاته سی هغه به دمړی په عصباتو یعنی نیکنی قریبانوکی درجه په درجه تقسیمیږی یعنی عصبه نژدی به پرلیری باند مقدم کوی دنژدی په وراندبه لیری محروم کیږی اوکه په عصباتوکی هیڅوك هم ژوندی نه وی نوبیا به په باقی قریبانوکی تقسیمیږی.

دعصباتو ځخه علاوه چی کوم نور قریبان وی دعلم میراث او فرائض په خاصه اصطلاح کی لفظ د ذوی الارحام د دوی دپاره مخصوص سوی دی ، لیکن دا اصطلاح وروسته مقرر سوي ده ، په قرآن کریم کی داولو الارحام لفظ دلغوی معنی مطابق په تولو قریبانو باندی حاوی دی په کوم کی چی ذوی الفروض عصبات او ذوی الارحام تول په اجمالی طور سره دا خل دی.

بیا ددی څه تفصیل دسورة نساء په آیتونو کی راغی په کومو کی چی دخاصو خاصو قریبانو حصی حق تعالی په خپله مقرر کړی دی کومو ته چی په اصطلاح دمیراث کی ذوی الفروض وایی او دباقیو متعلق نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی ، اَلْحَقُوا الْفَرَآئِضَ بِاَهْلِهَا فَمَا بَقِیَ فَهُوَ لِاَوْلٰی رَجُلٍ ذَکَرٍ (بخاری) یعنی دکومو حصی چی قرآن مقرر کړی دی ، هغه دوی ته دپوره ورکولو ځخه وروسته چې څه باقی پاته سی هغه دی هغو خلګو ته ورکول سی ، کوم چی مړی ته زیات نژدی نارینه وی.

دوی ته په اصطلاح دمیراث کی عصبات وایی که دیومړی په عصباتو کی څوك موجود نه وی نودنبی کریم ﷺ دارشاد مطابق به بیانورو قریبانو ته ورکول کیږی کموته چی په اصطلاح کی ذوی الارحام وایی لکه مور ورور اوخور وغیره.

دسورة انفال ددی اخری آیت دی اخری جملی داسلامی وراثت هغه قانون منسوخ کی کوم چی ددی ځخه په اولو ایتونوکی ذکر دی دکوم په وجه چی په مهاجرینو اوانصارو کی وراثت جاری کیدی که څه هم د دوی په مینځ کی څه قرابت نه وی ځکه چی داحکم یو هنګامی حکم دی کوم چی په اول دهجرت کی ورکول سوی وو.

سورة انفال ختم سو الله ﷻ دی مونږ تولو ته په دی دپوهیدو او بیا په دی دعمل کولو توفیق راکړی آمین

﴿سُوْرَةُ التَّوْبَة﴾

سُوْرَةُ التَّوْبَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَتِسْعٌ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة التوبة په مدینه کی نازل سو او په دی کی یوسل نه ویشت (۱۲۹) آیتونه اوشپاړس (۱۶) رکوعګانی دی.

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ①

صفاجواب دی دالله دطرف ځخه او درسول ځخه هغومشرکانو ته دکومو سره چی ستاسی عهد سوی وو ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ

نو گرخی په دی ملك کی خلور میاشتی اوپوه سی چی تاسی

مُعْجِزِي اللَّهِ ۙ وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ ﴿٢﴾ وَأَذَانٌ مِّنَ اللَّهِ

نه سی ستړی کولی الله اوداچی الله رسوا کوونکی دی کافرانو لره ، اواورول دی دالله دطرف څخه

وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ

اودهغه درسول دطرف څخه خلګوته دلوی حج په ورځ باندی چی الله جلادی

مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُ ۚ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن

دمشرکانو څخه اودهغه رسول ، نو که تاسی توبه وکاړی نوستاسی دپاره ښه ده او که

تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ الَّذِينَ

یی نه منی نو پوه سی چی تاسی هیڅکله نه سی ستړی کولی الله او خوشخبری واوره کافرانو ته

كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣﴾ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ

دعذاب دردناك ، مګر دکومو مشرکانو سره چی تا وعده کړی وه

ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا

بیاهغوی هیڅ قصورونه کی ستاسی سره او مدد یی ونه کی ستاسی په مقابله کی دهیڅاپس ددوی سره پوره کړی

إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٤﴾

ددوی عهد ددوی تروعدی پوری ، بیشکه دالله خوښ دی احتیاط کوونکی

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ

بیاچی کله تیری سی میاشتی دپناه نووڅنی مشرکان کوم ځای چی ئی پیدا کړی

وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِن

اونیسی دوی اوګیروی یی اوکښینی دوی ته هر ځای په تاك کی بیاکه

Maktaba Tul Ishaat.com

تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۵

دوی توبه وکړی اوقائم کړی لمونځ اوورکوی زکوة نوپرېږدی د دوی لار بیشکه الله ﷻ دی بخښنی والا مهربان

لنډتفسیر: دالله ﷻ دطرف څخه او دهغه درسول دطرف څخه ددی مشرکانو (دعهد) څخه دست برداری ده دکومو سره چی تاسی (بی دتعین دمودی څخه) عهد کړی وو (دادریم جماعت حکم دی ددی جماعتونو تفصیل په معلوماتو اومسئلو کی راځی) او (څلورم جماعت یعنی دکومو سره چی هیڅ عهدنه وو دهغوی حکم هم ددی څخه په درجه اولی معلوم سو چی کله یی دهغوڅخه امان پورته کی دکومو سره چی معاهده سوی وه نو په غیرو معاهدوکی خودامن احتمال داول څخه هم نسته) نو (دی دواړو جماعتونوته اطلاع ورکړی چی) تاسی خلق په دی محکه کی څلور میاشتی گرځی راگرځی (اجازت دی چی خپله موقع اوپناه ولټوی) او (ددی سره) په داهم پوهه سی (چی ددی مهلت په وجه صرف دمسلمانانو دلاس څخه بچ کیدی سی لیکن) تاسی خدای ﷻ نه سی عاجزه کولی (چی دقبضی څخه یی ووزی) اودا (هم پوهه سی) چی بیشکه الله ﷻ (په اخرت کی به) کافران رسوا کړی (یعنی عذاب به ورکړی ستاسو گرځیدل تاسو دهغه څخه نه سی ساتلی او احتمال دقتل په دنیاکی جداجدا دی په دی کی ترغیب دی توبی ته) او (او داول او دویم جماعت حکم دادی چی) دالله ﷻ اورسول دطرف څخه دلوی حج په تاریخونوکی دعامو خلقو په وراندی اعلان کول کیږی چی دالله ﷻ اودهغه رسول دواړه (بفیر دمقرر کولو دڅه میعادڅخه اوس) دست بردار کیږی دی مشرکانو (ته دامن ورکولو) څخه (کوموچی په خپله عهد مات کی مراد ورڅخه اولنی جماعت دی مگر) بیا (هم دوی ته ویل کیږی چی) که تاسو (دکفر څخه) توبه وکاږی نوستاسو دپاره (په دواړوجهانوکی) غوره والی دی (په دنیاکی خوڅکه چی ستاسی عهد ماتول به معاف سی اودقتل څخه به محفوظ سی اوپه اخرت کی ښکاره ده چی نجات به وی) اوکه تاسی (داسلام څخه) منعه وکی نوپوه سی چی تاسی خدای پاك نه سی عاجزه کولی (چی به وتښتی) او(مخ ته دخدای دنه عاجزه کولو تفسیردی چی) دی کافرانو ته دیو دردناکی سزا خبر واوروی (کمه چی به په اخرت کی واقع کیږی داخویقینی دی اوددنیا دسزا احتمال جلادی مطلب داسو چی که منع وکړی نوسزابه وڅکی) البته مگر هغه مشرکان (ددی رفع کیدو اودست برداری څخه) مستثنی دی دکوموڅخه چی تاسی وعده اخیستی ده بیاهغوی (په وعده پوره کولو کی) ستاسی سره ذره هم کمی نه وی کړی اونه ستاسی په مقابله کی (ستاسی) دیو (دښمن) سره یی مدد وکی (مراد ددی څخه دوهم جماعت دی) نو د دوی وعده د دوی تر مودی (مقرری) پوری پوره کړی (او بد عهدی مه کوی څکه چی) الله ﷻ (دبدعهدی څخه) احتیاط کوونکی خوښوی (نوکه تاسی احتیاط وکی نو دالله ﷻ په خوښوکی به سی مخ ته دجماعت اول دحکم تتمه ده چی کله دوی ته څه مهلت نسته نوگویا ددوی سره اوس دقتال کولو گنجائش کیدی سی لیکن اوس دمحرم ترختمیدو پوری دحرمت میاشتی مانع دقتال دی) نو (ددی دتیریدو انتظار کوی او) کله چی دحرمت میاشتی ختمی سی نو (دغه وخت جماعت اول) ددی مشرکانوچی کم ځای قتلوی نیسی اوترې اودپتیدو په ځایونو کی دوی ته دموقعی کتلو دپاره کښینی (یعنی په جنگ کی چی کوم کوم کارونه

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی دټولو اجازه ده) بیاکه چیری (دکفرځخه) توبه وکاږی او (داسلام کارونه کول شروع کړی یعنی مثلاً) لمونځ کول شروع کړی زکوٰة ورکول شروع کړی نودوی ته لار پریږدی (یعنی قیدول اوقتلول ورسره مه کوی ځکه چی) واقعی الله ﷻ لوی مغفرت کوونکی لوی رحمت کوونکی دی (په دی واسطه دداسی سړی کفر یی وبخښی اودقتلولو ځخه یی محفوظ کی اوداحکم به دباقی جماعتونو وی ددوی دمیعادونو تیریدو ځخه وروسته)

معلومات اومسئلي: سورة براءت شروع کیږی کم ته چی سورة توبه ویل کیږی براءت ورته ځکه وایی چی په دی کی دکفارو ځخه دبراءت ذکردی اوتوبه ورته په دی وجه وایی چی په دی کی دمسلمانانو دتوبی قبلیدو بیان دی (مظهری) ددی سورة یوخصوصیت دادی چی دقرآن په صحیفوکی ددی سورة په شروع کی بسم الله نه لیکل کیږی ددی ځخه ماسوا دټولو قرآنی سورتونو په شروع کی بسم الله لیکل کیږی ددی دوجه معلومولو ځخه مخکی داپیژندل په کار دی چی قرآن کریم د درویشتو کالو په زمانه کی لړ لړ نازل سوی دی دیو سورت ایتونه په مختلفو وختونو کی نازل سوی دی جبرئیل امین ﷺ چی به کله وحی راوړه نوددی سره به یی دالله ﷻ په حکم سره داهم ښوولە چی دا ایت دفلانی سورة دفلانی آیت ځخه وروسته ایږدی ددی مطابق به نبی کریم ﷺ وحی لیکونکو ته ښودنه کوله اولیکل به یی.

اوکله چی به یوسورة ختم سو اوبل سورة به شروع کیدی نودسورة شروع کیدو ځخه مخکی به بسم الله الرحمٰن الرحیم نازله سوه چی په دی سره به داګڼل کیده چی اولنی سورة ختم سو اوس بل سورة شروع کیږی دقرآن کریم په ټولو سورتونوکی داسی سویدی سورة توبه دنزول په اعتبار سره بالکل داخری سورتونو ځخه دی ددی په شروع کی دعام دستور مطابق نه بسم الله نازله سوه اونه نبی کریم ﷺ وحی لیکونکو ته ددی هدایت فرمایلی دی په دی حالت کی دنبی کریم ﷺ وفات وسو.

دقرآن جمع کوونکی حضرت عثمان ﷺ دخپل خلافت په زمانه کی کله چی قرآن کریم په کتابی صورت کی جوړ کی نو دټولو سورتونو خلاف دسورة توبه په شروع کی بسم الله نه وه په دی وجه دا شبهه پیدا سوه چی شاید داځان ته مستقل سورة نه وی بلکه دبل سورة حصه وی اوس ددی فکر سو چی که داځان ته سورة نه وی دبل سورة حصه وی نو هغه کوم سورة کیدی سی؟ دمضامینو په اعتبار سره سورة انفال ددی مناسب معلوم سو.

اودحضرت عثمان ﷺ ځخه یوبل روایت داهم نقل دی چی دنبی کریم ﷺ په زمانه کی به یی دی دواړو سورتونو ته قرینتین یعنی پیوست وایه (مظهری) په دی وجه دسورة انفاجل ځخه وروسته دی کښیښول سو دا احتیاط خو په دی وجه وسو چی که دبل سورة جزء وی نودهغه سره په کاردی مګراحتمال داهم وو چی که جلا مستقل سورة وی نوپه دی وجه په لیکلوکی یی داصورت اختیار سو چی دسورة انفال پرختمیدو باندی دسورة توبه دشروع کیدو ځخه مخکی څه خالی ځای پریښوول سو لکه چی په نورو سورتونو کی چی دبسم الله ځای وی.

دسورة براءت یاتوبه په شروع کی دبسم الله نه لیکلو داتحقیق خو په خپله دجمع کوونکی دقرآن حضرت عثمان ﷺ ځخه په ابوداود نسایی مسند امام احمد ترمذی کی دتفسیر کوونکی دقرآن حضرت عبدالله

Maktaba Tul Ishaat.com

بن عباس ﷺ څخه دیوسوال په جواب کی نقل دی په دی سوال کی حضرت ابن عباس ﷺ دحضرت عثمان غنی ﷺ څخه دا پوښتنه هم کړی وه چی دقرآن دسورتونو کوم ترتیب چی قآئم کړل سوي دی داسی چې دټولو څخه مخکی اول اوږده سورتونه کښی ښوول سوه په کمو کی چی دسلو څخه زیات ایتونه وی ګڼلو ته چی په اصطلاح کی مئین ویل کیږی ددی څخه وروسته هغه اوږده سورتونه اینښوول سوی دی په کموکی چی دسلو څخه کوم ایتونه دی کومو ته چی مثانی ویل کیږی ددی څخه وروسته کوچنی سورتونه اینښوول سوی دی کموته چی مفصلات ویل کیږی ددی ترتیب هم تقاضا داده چی سورة توبه دسورة انفال څخه مخکی کښی ښوول سی ځکه چی دسورة توبه ایتونه دسلو څخه زیات اودسورة انفال دادسلو څخه کم دی په شروع کی اووه اوږده سورتونه دی کموته چی سبع طوال ویل کیږی په هغوی کی هم پرځای دانفا ل سورة توبه زیات مناسب دی ددی څخه چی په خلاف کولوکی څه مصلحت دی؟ حضرت عثمان غنی ﷺ وفرمایل چی داټولی خبری صحیح دی لیکن دقرآن په معامله کی داحتیاط مقتضٰی دغه ده کمه چی اختیار سوه ځکه چی که سورة توبه مستقل سورة نه وای بلکه دسورة انفال جزوای نودانښکاره ده چی دسورة انفال ایتونه اول نازل سوی دی او دسورة توبه دا وروسته په دی وجه دی دانفال په ایتونو مخکی کول بغیر دوحی څخه جائزنه دی اوپه وحی کی مونږته داسی څه هدایت نه دی رسیدلی نوپه دی وجه انفا ل مخکی اوتوبه وروسته سوه.

ددی تحقیق څخه دامعلومه سوه چی دسورة توبه په شروع کی دبسم الله نه لیکلو وجه داده چی ددی احتمال سته چی سورة توبه جلا سورة نه وی بلکه دانفا ل جزء وی په دی احتمال باندی دلته بسم الله لیکل داسی درست نه دی لکه یوسړی چی دسورة په مینځ کی بسم الله ولیکی.

په دی بناء فقهاء حضرات فرمایی چی کم سړی دلوړه څخه دسورة انفا ل تلاوت کوونکی راروان وی اوسورة توبه شروع کوی نو دی بسم الله نه وایی لیکن کوم سړی چی ددی سورة داول څخه یادمینځ څخه تلاوت شروع کوی هغه ته په کار دی چی بسم الله ووایی اوشروع وکړی ځینی ناپوهه داسی ګڼی چی دسورة توبه په تلاوت کی پر هیڅ حا ل بسم الله ویل جائز نه دی داغلطه ده اوپه دی سربیره بله غلطی داده چی پرځای دبسم الله داخلګ ددی په شروع کی ، أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ ووایی چی ددی هیڅ ثبوت دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ څخه نسته.

اودحضرت علی ﷺ څخه چی کوم په روایت دابن عباس ﷺ دا نقل دی چی دسورة براء ت په شروع کی دبسم الله نه لیکلو وجه دا ده چی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ امان دی اوپه سورة براءت کی یی دکفارو امان اوعهد او پیمان ختم کړی دی نودا یوه نکته اولطیفه ده چی داصلی سبب سره منافی نه ده یعنی اصلی سبب خودغه دی چی دسورة انفال او سورة توبه دیو والی داحتما ل په بنا بسم الله نه ده لیکل سوی بیا ددی نه لیکلو یوه لطیفه داهم کیدل ذکردی کم چی دبسم الله سره مناسب نه ده په دی وجه په تکوینی طور سره دلته داسی اسباب پیداسوه چی بسم ونه لیکل سی.

دسورة توبه په ذکرسوو ایتونو باندی دپوهیدو دپاره یوځو واقعات پیژندل ضروری دی دکومو په سبب

Maktaba Tul Ishaat.com

سره چی دا ایتونه نازل سوی دی په دی وجه اول ددغو واقعاتو څه لنډ تفصیل لیکل کیږی .

۱ :: په ټول سورة توبه کی دځو غزاګانو اوددی سره دمتعلقه واقعاتو اودهغه په ضمن کی دډیرو احکامو اومسئلو بیان سوی دی مثلاً دټولو قبائلو دعربو سره معاهدات ختمول دمکی فتح دحنین غزا دتبوك غزا په دی واقعاتو کی دمکی فتح دټولو څخه اول په سنه ۸ هجری کی بیا دحنین غزا په دی کال کی بیا دتبوك غزا په رجب سنه ۹ هجری کی بیا دټولو قبائلو دعربو سره دمعاهدی دختمولو اعلان په ذی الحجه سنه ۹ هجری کی وسوه .

۲ :: دعهد ختمولو متعلق چی کم مضامین په دی ایتونوکی ذکردی ددغو خلاصه داده چی په سنه ۲ هجری کی نبی کریم ﷺ دعمری اراده وفرمایله اودمکی قریشودوی مکی ته داخلیدوته پری نښودل اودحدیبیی په مقام کی ددوی سره صلح وسوه ددی صلحی میعاد دروح المعانی دنقل مطابق لس کاله وو په مکه کی دقریشو څخه علاوه نوری قبیلی هم وی دصلحی دمعاهدی یوه دفعه داهم وه چی دقریشو څخه علاوه په نورو قبائلو کی چی دچا زړه غواړی دقریشو سره ملګری کیږی اوکه دچازړه غواړی هغوی دنبی کریم ﷺ سره ملګری کیږی نوملګری کیدی سی چنانچی دخزاعه قبیلی دنبی کریم ﷺ سره ملګرتیا خوښه کړه اودبنی بکر قبیلی دقریشو سره ددی معاهدی په روسره دالازمی وه چی په دی لسو کلونو کی دننه به نه دیوبل سره جنګ کوی اونه به دنورو جنګ کوونکو مدد کوو او کومه قبیله چی دکوم فریق سره ملګری وی هغه به هم په دی حکم کی ګڼل کیږی چی پر دوی حمله کول یاباندی دحمله کوونکی مدد کول به دمعاهدی څخه خلاف ورزی ګڼل کیږی .

دامعاهده په سنه ۲ هجری کی وسوه په سنه ۷ هجری کی دمعاهدی مطابق نبی کریم ﷺ سره دصحابه وو کرامو دفوت سوی عمری دقضا کولو دپاره مکی معظمی ته تشریف وی وړی اودری ورځی دقیام کولو څخه وروسته یی دمعاهدی مطابق بیرته تشریف راوړی تردی وخته پوری دیو فریق دطرف څخه دصلحی دمعاهدی څه خلاف ورزی نه وه سوی .

ددی څخه پنځه شپږ میاشتی وروسته دبنی بکر قبیلی پربنی خزاعه باندی دشپی په وخت کی چاپه ووهله اوقریشو داوګڼله چی نبی کریم ﷺ ډیر لیری دی اودشپی وخت دی ددوی خبریدل ډیر ګران دی نوپه دی حمله کی یی دبنی بکر په وسله اوځوانانو سره مدد وکی .

او ددی واقعاتو اوحالاتو مطابق کم چی اخر قریشو هم تسلیم کړل دغه دصلحی معاهده ماته سوه کمه چی په حدیبیه کی ترلسو کالو پوری دجنګ نه کولو سوی وه .

خزاعه قبیله کومه چی دنبی کریم ﷺ ملګری وه هغوی ددی واقعی اطلاع دوی ته ورکړه نبی کریم ﷺ چی دقریشو دوعدی ماتولو څخه خبرسو نو دقریشو خلاف یی پټ دجنګ تیاری شروع کړه .

قریشو ته په بدر احد اواحزاب جنګونو کی دمسلمانانو دغیبی اوربانی طاقت اندازه لګیدلی وه اودخپل قوت اوطاقت نشه یی سره سوی وه داوخت دوعدی ماتولو څخه وروسته دمسلمانانو دطرف څخه دجنګ بیره خوپیدا سوی وه اونبی کریم ﷺ ته داطلاع رسیدو څخه وروسته د دوی په مکمله خاموشی سره دا بیره نوره زیاته قوی سوه دمجبوری څخه یی ابوسفیان مدینی ته ولیږی چی دی په خپله

Maktaba Tul Ishaat.com

ولارسی اودحالاتو اندازه ولگوی اوکه دنبی کریم ﷺ څخه دجنګ اندازه ښکاری نوپر تیره واقعه دی عذر او معذرت وکړی او دوعدی نوی والی دی وکړی.

ابوسفیان چی مدینی ته ورسیدی نودجنګ څه اندازه ورته معلومه سوه نوپریشانه سو دمشرانو اصحابو یوه یوه خواته ولاړی چی دوی سفارش وکړی اومعاهده نوی کړی مګر ټولو ورته دتیرو ترخو معاملو په وجه انکار وکی اوابوسفیان ناکامه بیرته واپس سو دمکی پرقریشو بیره راغله.

بل خوانبی کریم ﷺ دبدایه اوابن کثیر دروایت مطابق په لسمه درمضان المبارك سنه ۸ هجری دمدینی طیبی څخه داصحابو کرامو دیولوی جماعت سره پرمکه دحملی کولو په اراده سره کوچ وفرمایی اواخر مکه مکرمه فتح سوه.

(دمکي دفتح په وخت کي دمغلوبو دښمنانو سره بي مثله کريمانه سلوک)

دمکی دفتح په وخت کی ډیرو دقریشو سردارانو چی داول څخه یی داسلام دحقوالی یقین درلودی مګر دورورولی دبیری څخه یی اظهارنه سوای کولی اوس دوی ته موقع ورکول سوه اوهغوی په اسلام مشرف سول اوکم چی دغه وخت هم په خپل پخوانی مذهب دکفر باندی پاته سول هغوی ته هم بغیر دیوڅو افرادو څخه نبی کریم ﷺ ټولو ته دځان اومال امان ورکی دپیغمبرانه اومعجزانه اخلاقو هغه ثبوت یی ورکی دکم چی دنورو خلګو څخه تصور هم نه سوای کیدی ددوی ټولی دښمنی تیری اوظلمونه اودبی رحمی واقعات یی بیخی نظر انداز کړل اوارشادیی وفرمایی چی نن زه تاسی ته هغه خبره وایم کمه چی حضرت یوسف ﷺ خپلو ورونوته هغه وخت کړی وه کله چی دوی دمور اوپلار سره دحضرت یوسف ﷺ خواته مصر ته ورسیدل: لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ یعنی ستاسی دظلم زیاتی بدل اخستل یابله سزا درکول خوڅه کوی مونږ تاسی صرف ملامت کوو هم نه.

(دمکي دفتح په وخت کي دمشرکانو څلور قسمونه اود دوی حکمونه)

بهر حال داوخت پر مکه دمسلمانانو مکمله قبضه وسوه دمکی اوپه اطرافو دمکه کی اوسیدونکو غیر مسلمو ته دځان اومال امان ورکول سو لیکن داوخت ددی غیر مسلمو مختلف حالات وه یوقسم خوهغه خلګ وه دکمو سره چی په حدیبیه کی دصلح معاهده وسوه اوهغوی په خپله ماته کړه اودغه دمکی دفتح کولوسبب سو دویم څه داسی خلق هم وه دکوموسره چه دصلح معاهده ترڅه خاص میعاده پوری وسوه اوهغوی پردغه معاهده قائم پاته سول لکه دبنی کنانه دوی قبیلی بنی ضمره اوبنی مدلج دکموسره چه تریوی مودی پوری صلح سوی وه اودسورة براءت دنازلیدوپه وخت کی په قول دخازن ددوی دصلح دمیعاد نهه ۹ میاشتی باقی پاته وی.

دریم څه داسی خلګ هم وه دکومو سره چی دصلح معاهده بغیر دمقرر کولو دمیعاد څخه سوی وه څلورم هغه خلګ وه دکومو سره چی هیڅ قسم معاهده نه وه.

دمکی دفتح څخه اول څومره مشرکانو اواهل کتابو چی دنبی کریم ﷺ سره معاهدی کړی وی، ددی ټولو داترخه تجربه مسلسل کیده چی دوی په پته اوښکاره عهد شکنی وکړه اوددښمنانو سره یی سازش وکی اونبی کریم ﷺ اومسلمانانوته یی دنقصان رسولو دخپل طاقت مطابق پوره کوشش وکی په دی وجه نبی

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم ﷺ دخپلی پرله پسی تجربی اودالله ﷻ تر اشارو لاندی دا فیصله کړی وه ، چی اننده به دهیڅا سره دصلح معاهده نه کوی او جزیرة العرب به دیو اسلامی قلعه په حیثیت سره صرف دمسلمانانو دپاره خاصه سی ددی مقتضی داوه چی په مکه اوجزیرة العرب باندی داقتدار حاصلیدو سره اعلان وسی چی غیر مسلم دی ددی ځای څخه بل ځای ته ولاړسی لیکن داسلام دعدل اوانصاف داصولو اورحیمانه سلوك اودرحمة للعٰلمین دعام رحمت لاندی بی مهلته داسی کول مناسب نه وو په دی وجه دسورة برامن په شروع کی ددی څلورو قسمونو غیر مسلمو جماعتونو جلا جلا حکمونه نازل سوه .

اول جماعت کم چی دمکی قریش وه کومو چی دحدیبیی میثاق په خپله مات کړی وو اوس دوی دځ زیات میعاد مستحق نه وه مگر چونکی دازمانه دحرمت دمیاشتو وه په کموکی چی جنگ اوجگړه دالله ﷻ دطرف څخه منع وه په دی وجه ددوی متعلق خودغه حکم رالی کوم چی دسورة توبه په پنځم آیت کی ذکر دی ، فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ : الایة چی ددی حاصل دا وو ، چی دی خلکو عهد شکنی وکړه خپل څه حق یی باقی نه دی پری ایښی مگردحرمت دمیاشتو احترام بهر حال ضروری دی په دی وجه دحرمت دمیاشتو په ختمیدوبه یادوی دجزیرة العرب څخه وزی یابه مسلمانان کیږی کنه نوجنگ به ورسره کیږی .

او دوهم جماعت دکومو سره چی تریو خاص میعاده پوری دصلح معاهده سوی وه اوهغوی پردی قائم وه ددوی حکم دسورة توبه په څلورم آیت کی دا راغی ، إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ : یعنی هغه مشرکان خلگ دکومو سره چی تاسی معاهده دصلحی کړي ده بیا دوی پرمعاهده باندی په قائم پاته کیدوکی څه کمی ونه کړه ، اونه ستاسی په مقابله کی یی ستاسی دچادښمن مدد وکی نوتاسی ددوی معاهدی ددوی ترمودی پوری پوره کړی ځکه چی الله ﷻ احتیاط کوونکی خوښوی داحکم دښو ضمره اوښو مدلج وو ، دکوم په رو سره چی دوی ته نه میاشتی ورکول سوی .

او د دریم اوځلورم دواړو جماعتونو یوحکم راغی کم چی دسورة توبه په اول اودوهم ایتونوکی ، بَرَاءَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ یعنی اعلان ددست برداری دالله ﷻ دطرف څخه اودهغه درسول دطرف څخه دی دهغو مشرکانو دپاره دکومو سره چی تاسی معاهده کړی وه ، نو تاسی خلگ په دی مځکه کی څلور میاشتی گرځی او په دی پوه سی چی تاسی الله ﷻ نه سی عاجزه کولی ، او دا چی بیشکه الله ﷻ به کافران رسوا کړی .

غرض دا دی چی داول او دوهم آیتونو په روسره دغوتولو خلگوته دکومو سره چی بی دتعین دمودی څخه څه وعده وه یا ور سره څه معاهده نه وه څلور میاشتی مهلت ورکول سو .

اودځلورم آیت په رو سره هغو خلگوته دمعاهدی ترختمیدو پوری مهلت ورکول سو ، دکومو سره چی تر څه خاص میعادپوری وعده وه او په پنځم آیت کی دمکی مشرکانو ته دمیاشتو دحرمت ترختمیدو پوری مهلت ورکول سو

(دکفارو سره دوعدو پرختمیدو هم دوی ته دمهلت ورکولو کریمانه سلوک)

ددی حکمونو نافذ کیدل اودمهلت شروع کیدل دهغه وخت څخه وتاکل سوکله چی ددی حکمونو اعلان

Maktaba Tul Ishaat.com

په تولوعربوکی وسو ددی عام اعلان دپاره دا انتظام وسو چی دسنه ۹ هجری دحج په ورځوکی دمنی اوعرفات په عامو جمعوکی ددی اعلان وسی چی ذکر یی دسورة توبه په دریم آیت کی داسی راغی ،

وَأَذَانٌ مِنَ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ أَنَّ اللهَ بَرِيءٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ فَإِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللهِ وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ : یعنی عام اعلان دی دعامو خلګوپه مخکی دالله ﷻ او دهغه درسول دطرف څخه دلوی حج په تاریخونوکی ددی خبری چی الله ﷻ او دهغه رسول دواړه دست برداره دی ددی مشرکانو څخه بیا که تاسی توبه وکاږی نو ستاسی دپاره ښه ده اوکه تاسی منع وکړه ، نو په دی پوه سی چی تاسی خدای نه سی عاجزه کولی او دی کافرانو ته دیو دردناك عذاب خبر واوره .

(چې دکفارو سره معاهده ختمه سي نو دعام اعلان او دتولو دخبردارولو څخه بغير ددوی خلاف څه عمل کول جائزنه دی)

چنانچی دالله ﷻ په دی حکم باندی دعمل کولو دپاره نبی کریم ﷺ په سنه ۹ هجری کی دحج دپاره حضرت صدیق اکبر ﷺ او حضرت علی مرتضیٰ ﷺ مکی مکرمی ته ولیږل اوپه میدان دعرفات اومنی کی کوم ځای چی دعربو تول قبائل جمع وه دا اعلان یی باندی وکی او دا هم ښکاره وه چی ددی عظیم الشّان جمعی په معرفت په تولو عربوکی ددی حکم مشهورول لازمی وو بیایی دحضرت علی ﷺ په معرفت سره په یمن کی په خاص طور سره ددی اعلان وکی .

ددی عام اعلان څخه وروسته صورت حال داسی سو چی اول جماعت یعنی دمکی مشرکانوته دحرمت دمیاشتو ختمیدل یعنی دمحرم سنه ۱۰ هجری ترختمیدو پوری او نورو جماعتونوته تررمضان سنه ۱۰ هجری اودریم اوځلورم جماعتونوته ترلسمی دربیع الثانی سنه ۱۰ هجری پوری دحدودو څخه بهر کیدل په کار دی اوکوم چی ددی خلاف ورزی وکی هغوی دجنګ کولو مستحق دی دغه رنګه دراتلونکی کال تر زمانی دحج پوری دی یو کافر هم په دی حدودوکی دننه پاته نه سی چیٰ ذکریی دسورة توبه په اته ویشتم آیت کی به راسی په کوم کی چی ارشاد دی ، فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا یعنی دا خلګ ددی کال څخه وروسته مسجد حرام ته نه سی ورتلی اوپه حدیث کی دنبی کریم ﷺ دارشاد: لَا يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ دامطلب دی دسورة توبه داولنیو پنځو ایتونو تفسیر دواقعاتو په رڼا کی مخ ته راغی .

(دذکرسوو پنځو آیتونو متعلق څو مسئلي اوفائدی)

اول داچی دمکی دفتح څخه وروسته نبی کریم ﷺ چی دمکی دقریشو او دنورو دښمنو قبیلو سره کومه معامله دعفو درګذر او رحم اوکرم وفرمایله دی په عملی طور سره مسلمانانو ته دا اخلاقی درس ورکی چی کله ستاسی یودښمن ستاسی په واك کی راسی اوستاسی په مخکی عاجزه سی نودهغه څخه دتیرو دښمنیو اوضرورنو بدله مه اخلی بلکی دعفو اوکرم څخه کار اخلی اوداسلامی اخلاقو ثبوت ورکوی که څه هم داسی کول دطبعی جذباتو لاندی کول دی لیکن په دی کی څوعظیمی فائدی دی اول په خپله دځان دپاره چی په بدله اخستو سره دخپلی غصی په کمولوکه څه هم په وقتی طور نفس ته څه راحت محسوسیږی لیکن دا راحت فنا کیدونکی دی او ددی په مقابله کی دالله ﷻ رضا او دجنت لوړی درجی کومی چی ده ته رسیدونکی دی هغه ددی څخه په هرحیثیت سره زیاتی هم دی اودائمی هم دی اودعقل

Maktaba Tul Ishaat.com

تقاضا داده چی دائمی ته پرفانی ترجیح ورکړی .
دوهمه داچی پردښمن دواك پیدا کیدو څخه وروسته دخپلی غصی جذبات لاندی کول ددی ثبوت دی چی دده جنګ دخپل نفس دپاره نه دی بلکی محض دالله ﷻ دپاره دی او داهغه اعلی مقصد دی کوم چی په اسلامی جهاد اودعامو بادشاهانو په جنګونوکی دامتیاز اوپه جهاد اوفسادکی فرق کوونکی دی یعنی چی کم دالله ﷻ دپاره او دهغه داحکامو دجاری کولو دپاره وی هغه جهاددی کنه نو فساد .
دریمه فائده داده چی دښمن کله دمغلوب کیدو څخه وروسته دده دانبه اخلاق وویني نو دشرافت تقاضا داده چی دده به داسلام اومسلمانانو سره محبت پیداسی چی دا دده دپاره دکامیابی کیلی ده اوهم دا دجهاد اصل مقصد دی .

(دکفارو سره دعفو او درګزر دا معنی نه ده چې د دوی دضرر څخه دځان ساتلو اهتمام به هم نه کوی)

دوهمه مسئله کومه چی دذکرسوو آیتونوڅخه معلومه سوه داده چی دعفو اوکرم دامعنی نه ده چی د دښمنانو دشرڅخه به خپل حفاظت نه کوی اودوی به داسی ازادپریږدی چی بیادوی ته نقصان اوضرر رسوی بلکه سره دعفواوکرم څخه دعقل تقاضاداده چی دتیروتجربوڅخه دزاتلونکی ژوندډپاره سبق حاصل کی اوهغه ټول سوری بندکړی دکوم ځای څخه چی دوی په خپله ددښمنانو په زد کی راځی په دی وجه دنبی کریم ﷺ حکیمانه ارشاد دی ، لاَ یُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَیْنِ یعنی عقلمند سړی دیوسوری څخه دوه واره نه چیچل کیږی دکم سوری څخه چی یووار زهرناك شی چیچلی وی دوباره هغه سوراخ ته نه لاس کوی .
دسنه ۹ هجری دقران اعلان دبراء ت اومشرکانو ته مهلت ورکول اوپه اطمینان سره دحرم دحدونو خالی کولو هدایات ددی حکمت عملی ثبوت دی .
۳ :: دریمه فائده دسورة توبه دابتدایی آیتونو څخه دامعلومه سوه چی کمزورو قومونوته بی دمهلت څخه دیوځای څخه دایستلو حکم یاباندی په یووار ناڅاپی حمله کول بزدلی اوغیر شریفانه کاردی کله چی داسی کول وی نوداول څخه دی عام اعلان وسی اودوی ته دی ددی پوره مهلت ورکول سی چی که دوی زمونږ قانون نه منی نوپه ازادی سره چی کم ځای ته غواړی ولاړدی سی لکه چی په ذکر سوو ایتونوکی دسنه ۹ هجری عام اعلان اوددی څخه وروسته ټولو جماعتونو ته دمهلت ورکولو دحکمونو څخه واضحه سوه .
۴ :: څلورمه مسئله دذکرسوو آیتونو څخه دامعلومه سوه چی دیو قوم سره دصلحی دمعاهدی کولو څخه وروسته که دمیعاد څخه مخکی ددغه معاهدی دختمولو ضرورت پیښ سی نوکه څه هم دغو شرطونو سره ددی اجازه سته مګر نبه داده چی معاهده ترخپل میعاده پوری پوره سی لکه چی دسورة توبه په څلورم آیت کی دبنو ضمره اوبنو مدلج دمعاهدی دنهو میاشتو پوری دپوره کولو حکم راغلی دی .
۵ :: پنځمه مسئله ددی آیتونو څخه دامعلومه سوه چی ددښمنانو سره په هره معامله کی ددی خیال کول په کاردی چی دمسلمانانو دښمنی ددوی دذات سره نه ده بلکی ددوی دکافرانه عقیدو اوخیالاتو سره ده کوم چی ددوی دپاره ددنیا اواخرت دبربادی اسباب دی اودمسلمانانو ددوی سره مخالفت هم په حقیقت کی ددوی همدردی اوخیرخواهی ده په دی وجه دجنګ اوصلحی په هرمقام دی دوی ته نصیحت

Maktaba Tul Ishaat.com

اوخیرخواهی اوپوهول نه پریږدی لکه چی په دی ایتونو کی ځای پرځای ددی ذکردی چی که تاسی دخپلو خپلاتو څخه توبه وکاږی نودا ستاسی دپاره ددنیا اواخرت فلاح ده اوددی سره یی داهم وښوولـه چی که توبه مو ونه کاږله نوصرف دانه چی تاسی به په دنیا کی قتل اولوټ سی کم چی ډیر کافران خپله قومی کارنامه گنی اواختیاروی یی بلکه په دی هم پوه سی چی دمرګ څخه وروسته به هم دعذاب څخه نجات بیا نه کی پیدا په ذکرسوو آیتونو کی دبراءت داعلان سره په همدردی سره دپوهولو سلسله هم جاری ده .

۶ :: شپږمه مسئله دا ده چی په څلورم آیت کی کوم ځای چی مسلمانانوته دصلحی دمیعاد پرختمیدو دوعدی پوره کولو تلقین فرمایلی دی اوددی سره یی آیت په دی جمله باندی ختم کړی دی ، اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُتَّقِیْنَ : یعنی بیشکه الله ﷻ احتیاط کوونکی خوښوی په دی کی دی طرف ته اشاره ده چی په معاهده پوره کولوکی دډیراحتیاط څخه کاراخلی دعامو قومونو په شان په دی کی حیلی اوتاویلونه مه کوی اودخلاف ورزی لاری مه لټوی .

۷ :: او ومه مسئله دپنځم آیت دتفصیلاتو څخه دامعلومه سوه چی کله دصحیح مقصد دپاره دیوقوم سره جنګ ومنبلی نوبیا دهغوی دمقابلی دپاره هرقسم قوت په پوره طور سره استعمالول په کار دی دغه وخت رحمدلی یانرمی په حقیقت کی رحمدلی نه ده بلکه بزدلی وی .

۸ :: اتمه مسئله دذکر سوی پنځم آیت څخه دا ثابته سوه چی دیو غیر مسلم په مسلمانیدو اعتمادکول پردرو شیانو باندی موقوف دی چی یو توبه دوهم قائمول دلمانځه دریم ادا کول دزکوٰة دی ترڅوچی په دی عمل نه وی محض په کلمه ویلوسره ددوی سره جنګ نه سی بندیدی دنبی کریم ﷺ دوفات څخه کومو خلګو چی دزکوٰة دورکولو څخه انکار کړی وو ، دهغوی په مقابله کی صدیق اکبرؓ دجهاد کولو دپاره ددی آیت څخه دلیل ونیوی او ټول صحابه یی مطمئن کړل .

۹ :: نهمه مسئله په دی آیتونو کی دا ده چی د ، یَوْمَ الْحَجِّ الْاَکْبَرِ څخه څه مراد دی؟ په دی کی دتفسیر لیکونکو حضراتو مختلف قولونه دی حضرت عبدالله بن عباس ؓ فاروق اعظم ؓ عبدالله بن عمرؓ عبدالله بن زبیرؓ وغیره فرمایی چی دیَوْمَ الْحَجِّ الْاَکْبَرِ څخه مراد یوم عرفه ده ، ځکه چی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی اَلْحَجُّ عَرَفَةٌ (ابوداود ترمذی)

او ځینی حضرات فرمایی چی ددی څخه مراد یوم النحر ده یعنی دذی الحجی لسم تاریخ دی حضرت سفیان ثوری اوځینی نورو امامانو ددی ټولو قولونو دجمع کولو دپاره فرمایلی دی چی دحج پنځه سره ورځی دیوم الحج الاکبر مصداق دی ، چی په دی کی عرفه او یوم النحر دواړه داخلی دی اولفظ دیوم مفرد راوړل ددی محاوری مطابق دی لکه دغزوه بدر څو ورځی چی په قرآن کریم کی دیَوْمُ الْفُرْقَانِ په مفرد نوم یادی سوی دی او دعربو عام جنګونه په لفظ دیوم سره تعبیر کیږی که څه هم په دی کی څو ورځی صرف سوی وی لکه یوم بعاث یوم احد وغیره اوچونکه عمری ته حج اصغر یعنی کوچنی حج وایی نوددی څخه دجلا کولو دپاره حج ته حج اکبر وویل سوه ددی څخه معلومه.سوه چی په قرآنی اصطلاح کی دهرکال حج حج اکبردی په عوامو کی چی کمه دا مشهوره ده چی کوم کال عرفه په ورځ دجمعی واقع سی صرف هغه حج اکبر دی ددی اصلیت ددی څخه ماسوا نسته چی په اتفاقی طور سره په کوم کال کی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دنبی کریم ﷺ حجة الوداع سوی دی په هغه کی عرفه په ورځ دجمعی سوی وه دا په خپل ځای یو فضیلت خامخادی مګر دذکر سوی آیت دمفهوم سره ددی تعلق نسته.

امام جصاص رحمه الله په احکام القرآن کی فرمایی چې ایام حج ته دحج اکبر په ویلو سره دامسئله هم راوویله چې په ایام حج کی عمره نه سی کیدی ځکه چې داورځی قرآن کریم دحج اکبر دپاره مخصوصی فرمایلی دی.

وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ

او که یو مشرك ستا ځخه پناه وغواړی نوده ته پناه ورکړه تردی چې دی واوری کلام دالله ﷻ

اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ ۝ كَيْفَ يَكُوْنُ

بیا یی ورسوه ځای دامن ته دا په دی وجه چې دغه خلګ علم نه لری ، څه رنګه به وی د

لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖۤ اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ

مشرکانو دپاره عهد دالله په نزد او دهغه درسول په نزد مګر دکومو خلګو سره چې تاسی عهد کړی وو

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ فَمَا اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

دمسجد حرام په خواکی وروسته ترڅوچې دوی ستاسی سره برابر وی تاسی ورسره برابر اوسی بیشکه دالله خوښ

الْمُتَّقِيْنَ ۝ كَيْفَ وَاِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ

دی احتیاط کوونکی ځنګه به وی صلح اوکه دوی پرتاسی واك پیدا کی نولحاظ به نه کوی نه ستاسی دخپلولی

يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ وَتَاْبٰى قُلُوْبُهُمْ ۚ وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝ اِشْتَرَوْا

اونه دعهد تاسی راضی کوی دخپلو ځلو په خبرو او د دوی زړونه نه منی اواکثره په دوی کی بدعهده دی خرڅ کی

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ

دوی دالله ﷻ حکم په لږ قیمت سره بیا یی بند کی دهغه دلاری ځخه ناکاره کار دی

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ وَاُولٰٓئِكَ

کوم چې دغه خلګ کوی لحاظ نه کوی دیو مسلمان په حق دخپلولی اونه دعهد اودغه دی

هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ

په زیاتی باندی نو که توبه وکاږی اوقائم کړی لمونځ او ورکوی زکوة

فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ؕ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝

نوستاسی ورونه دی په شریعت کی اومونږ په تفصیل سره بیا نوو حکمونه دپوه خلګو دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: اوکه یوسړی دمشرکانو څخه (په زمانه داباحت دقتل کی وروسته دختم دمیعاد دامن څخه دتوبی اواسلام فائدی اوبرکتونه واوری دی طرف ته یی رغبت پیدا سی اودحقیقت اوحقوالی داسلام دتلاش په غرض سره ستا خواته راسی) ستا څخه دپناه طلب کوونکی وی (چی په اطمینان سره واوری اوپوه سی) نو (په داسی حالت کی) ته ده لره پناه ورکړه چی دی دالله ﷻ کلام (مراد مطلق دلیلونه دحق دین دی) واوری بیا (ددی څخه وروسته) دی ددده دامن ځای ته ورسوه (یعنی رسیدو ته یی پریږده چی دی سوچ او فکر وکی اوخپله رایه قائمه کړی) داحکم (ددومره پناه ورکولو) په دی سبب سره ورکول کیږی چی هغوی داسی خلګ دی چی پوره خبر نه لری (په دی وجه څه قدر مهلت ورکول ضروری دی اول جماعت چی کمه وعده ماته کړی وه ددوی دوعدی دماتولو څخه مخکی په طور دپیش ګویی فرمایی چی) ددی مشرکانو (قریشو) وعده به څنګه دالله په نزد او دهغه درسول په نزد (دساتنی قابل) وی (ځکه چی ساتنه خودهغه وعدی کیدی سی کومه چی بل سړی په خپله مات نه کړی کنه نوساتنه یی باقی نه سی پاته کیدی مطلب دا دی چی داخلګ به وعده ماته کړی نودغه وخت به د دوی دطرف څخه هم ساتنه نه وی) مګر دکومو خلګوسره چی تادمسجدحرام (یعنی حرم) په خواکی وعده کړیده (مرادورځخه بل جماعت دی دکم چی استثنا لوړه هم په: إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ الخ کی راغلی ده یعنی د دوی څخه امیددی چی دوی به وعده قائمه وساتی) پس ترڅوچی داخلګ ستاسی سره برابر اوسی (یعنی وعده ماته نه کړی) تاسی هم د دوی سره برابر اوسی (او موده دوعدی د دوی سره پوره کړی چنانچی په زمانه دنزول دبراء ت کی په دغه موده کی نه میاشتی باقی وی اوددوی دوعدی نه ماتولوپه وجه ددوی دامومده پوره سوه) بیشکه الله ﷻ (دبدعهدی څخه) احتیاط کوونکی خوښوی (نو تاسی به هم په احتیاط کولوسره دحق تعالی په خوښوکی سی دا استثناء یی وکړه بیا واپسی ده مضمون متعلقه داول جماعت ته چی) څنګه (به ددوی وعده دساتنی قابله پاته سی یعنی دغه خلګ پروعده باندی کله قائم پاته کیدی سی) حالانکه ددوی حالت دادی چی که دغه خلګ پرتاسی چیری غلبه پیداکی نوستاسی په باره کی به نه دخپلولی لحاظ کوی اونه دقول اواقرار (څکه چی ددوی داصلح دمجبوری اودبیری دجهادځخه ده په زړه سره نه ده پس) داخلګ تاسی (صرف) په خپلوزبانی خبرو سره راضی کوی او ددوی زړونه (داخبری) نه منی (پس کله چی په زړه سره یی ددی وعدی پوره کولو اراده نسته نوځه به پوره سی) اوپه دوی کی زیات خلګ شریکان دی (چی وعده پوره کول نه غواړی اوکه یو نیم پوره کول هم غواړی نودزیاتو په مقابله کی دیونیم څه خوښه چلیدی سی؟ اووجه ددوی دشریکانو کیدو داده چی) دوی دالله ﷻ دحکمونو په عوض کی (ددنیا) ناپائیدار اسباب اختیار کړی دی (لکه چی دکفارو حالت وی چی دین پریږدی اودنیاته باندی ترجیح ورکوی کله چی دنیا زیاته محبوبه سی نوپه وعده ماتولوکی دنیوی غرض حائل سی اوبیا ددی هیڅ باك نه کوی په خلاف دهغه سړی څخه کوم چی دین ته ترجیح ورکوی دی دالله ﷻ دحکمونو اودوعدی پوره کولو وغیره پابندوی) نو (ددنیا په دین باندی ترجیح ورکولو سره) داخلګ دچامسلمان په باره کی (هم) نه دخپلولی لحاظ کوی اونه دقول اواقرار او داخلګ (خاص کر په دی باب کی) دیر زیاتی کوی نو (کله چی ددوی په وعده باندی اطمینان اواعتمادنسته بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com

احتمال دوعدی ماتولوهم دی لکه چې ددوی دمخالف جانب هم احتمال دی په دی وجه مونږ ددوی په باره کی مفصل حکم اوروو چې، که داخلګ (دکفر څخه) توبه وکاږی (یعنی مسلمانان سی) او (دا اسلام ښکاره هم کړی مثلاً) لمونځ کول شروع کړی اوزکوٰة ورکول شروع کړی نو (بیابه ددوی وعدی ماتولو وغیره ته به هیڅکله نه سی کتل کیدی برابره خبره ده که دوی چې هرڅه کړی وی په اسلام راوړلو سره، به دوی ستاسی دینی وروڼه سی (اومخکی کړه به یی ټول معاف سی) اومونږ پوه خلګوته (دښوولو دپاره) حکمونه ښه په تفصیل سره بیانوو (نوپردی مقام باندی هم داسی وسوه)

معلومات اومسئلي: دسورة توبه په اولنیو پنځو آیتونوکی ددی ذکروو چې دمکی دفتح څخه وروسته دمکی اوددی داطرافو ټولو مشرکانو اوکفارو ته دجان او مال عام امان ورکول سو مګر ددوی دتیری غداری او وعده شکنی دتجربی پربنا دائنده دپاره ددوی سره څه وعده نه کول مقرر سوه ددی قرارداد باوجود دکمو خلګو سره چې څه وعده دمخکی څخه سوی وه اودوی وعده شکنی نه ده کړی نوددوی دوعدی دمیعاد تر ختمیدو پوری دپوره کولوحکمونه په دی ایتونوکی نازل سوه اودکمو سره چې څه وعده نه وه یاترڅه مقرر میعاد وعده نه وه ددوی سره هم دارعایت وسو چې دوی ته فوراً دمکی دپریښوولو دحکم پرځای دځلورو میاشتو اوږد مهلت ورکول سو چې په دی موده کی دوی مکه پریږدی کم ځای چې مناسب ګڼی په اسانی اواطمینان سره دی ولاړسی یاکه داسلام حقوالی پردوی ښکاره سی اومسلمانان سی ددی احکامو نتیجه داوه چې تر راتلونکی کاله پوری مکه مکرمه په اسانی سره ددی ټولوغدارو مشرکانوڅخه خالی سوه اوچونکی داخالی کول هم په څه انتقامی جذبه سره نه بلکه دپرله پسی تجربو څخه وروسته دخپل حفاظت ترمخه وسو په دی وجه ددوی داصلاح اوخیر خواهی دروازه اوس هم خلاصه وساتل سوه چې ذکریی په شپږم آیت کی دی چې خلاصه یی داده چې که په مشرکانوکی څوک ستاڅخه پناه وغواړی نوتاته په کار دی چې پناه ورکړی چې دوی تاته نژدی راسی دالله ﷻ کلام واوری اوداسلام حقوالی ورته معلوم سی اوصرف دانه ده چې په وقتی طورسره ورته پناه ورکول سی بلکه چې هغه کله ددی خپل کار څخه فارغ سی نوپه خپل حفاظت اونګرانی کی دی هغه مقام ته رسول هم دمسلمانانو ذمه واری ده کوم ځای چې دی خپل ځان محفوظ اوپه امن ګڼی دایت په اخرکی فرمایی چې داحکم څکه وسو چې داخلګ پوره خبرنه لری په نژدی راتلو سره خبریدی سی.

ددی آیت څخه هم څو مسئلی اوفائده حاصلی سوی کومی چې امام ابوبکر جصاص رحمه‌الله په تفصیل سره بیان کړی دی.

(داسلام حقوالي په دليلونو سره بنوول ددينې عالمانو فرض دی)

اول داچې ددی آیت څخه ثابته سوه چې که یوکافر دمسلمانانو څخه ددی مطالبه وکړی چې ماته په دلیل سره داسلام حقوالی وښیه نوپر مسلمانانو لازم دی چې دده مطالبه پوره کړی.

دوهم داچې کوم سړی داسلام دتحقیق اومعلوماتو حاصلولو دپاره زمونږ خواته راسی نوپر مونږ واجب دی چې هغه ته اجازه ورکړو اودهغه حفاظت وکړو ده ته هیڅ قسم تکلیف یا نقصان رسول جائز نه دی په تفسیر قرطبی کی دی چې داحکم په دی صورت کی دی کله چې دهغه دراتلو مقصد دالله ﷻ کلام

Maktaba Tul Ishaat.com

اوریدل او داسلام تحقیق کول وی اوکه څوك په بل غرض تجارت وغیره سره راسی نودغه دمسلمانانو په مصلحت اودمسلمانانو دحاکم پر رایه موقوف دی که مناسبه یی وګڼی نواجازه دی ورکړی کنه نواختیار یی دی.

(غیر مسلم چې ددار اسلام باشنده نه وی ده ته دضرورت څخه زیات په دار اسلام کې دپاته کیدو اجازه دی نه ورکول کیږی)

دریمه داچی غیر مسلم حربی دکم سره چی زمونږ څه وعده نه وی هغه ته دضرورت څخه زیات دپاته کیدو اجازه دی نه ورکول کیږی ځکه چی په ذکرسوی آیت کی دپناه ورکولو اوحصارولو داحد مقرر سوی دی، حَتّٰى يَسْمَعَ كَلَامَ اللّٰهِ: یعنی دی دخپل ځان سره دومره پاته کوی چی دی دالله ﷻ کلام واوری. څلورم داچی دمسلمان حاکم اوامیر په فرائضوکی دی چی کله یوځوك حربی غیر مسلم دځه ضرورت په وجه زمونږ څخه اجازه «ویزا» حاصله کړی، زمونږ په ملك کی داخل سی نودهغه په حال دی نظر ساتل کیږی، اوکله چی دی خپل کار پوره کړی، نو دی دی په حفاظت سره واپس کړی.

اووم اتم نهم لسم په څلورو کوچنی ایتونوکی دهغه اعلان دبراءت دحکمت بیان دی کم چی دسورة توبه په اولنیو ایتونوکی ذکردی په دی آیت کی دوعدی ماتوونکو مشرکانو دطبعی رزالت اودمسلمانانو سره دبغض اوعناد دسختوالی دذکر کولو سره یی دانبوولی ده چی ددوی څخه دوعدی پوره کولو امید ساتل غلطی ده ارشاد فرمایی چی بغیر دځو خلګو څخه دکمو سره چی دمسجد حرام په خواکی ستاسی وعده سوی وه ددی مشرکانو هیڅ وعده دالله ﷻ او دهغه درسول په نزد دساتنی قابله څنګه کیدی سی کله چی د دوی حال دا دی چی که دوی ته څه وخت هم لږ موقع ورکول سی نو دوی ستاسی په باره کی نه دځه خپلولی لحاظ کوی اونه دوعد او پیمان او وجه ددی دا ده چی داخلګ دوعدی کولو په وخت کی هم په زړه کی ددی دپوره کولو څه اراده نه ساتی بلکه صرف په الفاظو سره تاسی خوشحالول غواړی اوپه دوی کی اکثره خلګ فاسقان یعنی وعده ماتوونکی غداران دی.

(دکفارو په مقابله کې هم په ربښتیا قائم پاته کیدل او ددوی متعلق دمبالغې څخه دځان ساتلو تعلیم)

دقرآن کریم دی بیان مسلمانانوته دانبوونه وکړه چی دخپل مخالف دښمن په معامله کی هم کله چی څه خبری راسی نوربښتیا اوانصاف دلاسه مه غورزوی دمبالغی څخه کارمه اخلی لکه چی په دی ایتونوکی دمکی دمشرکانوپه باره کی ددی پوره لحاظ ساتل سوی دی چی که څه هم دیوځو خلګو څخه ماسوا ټولو غداری اووعده شکنی کړی وه اوپه داسی حالاتوکی په عام طورسره ویونکی ټولوته بدی ردی وایی مګر قرآن کریم: إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وفرمایل دهغو خلګو استثناء یی وکړه کمو چی وعده شکنی نه وه کړی اوداحکم یی وکی چی ترځو پوری دوی برابر اوپر وعده قائم وی تاسی هم پروعده قائم اوسی دنورو خلګو دخیانت څخه مه متاثره کیږی اوددوی وعده مه ماتوی.

ددی څخه وروسته دوعدی ماتوونکو چی یی کم ځای داحال بیان کی چی ددی خلګو په زړونوکی دشروع څخه خیانت وو دوعدی پوره کولو اراده یی دسره نه وه دلته یی هم: أَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ وفرمایل اواشاره یی وکړه چی په دوی کی هم دټولو داحا ل نه دی ځینی شریفان خلګ داسی هم دی چی پروعدی

Maktaba Tul Ishaat.com

قائم پاته کیدل یی غوښتل مګر دنوروپه مخکی ددوی خبره ونه چلیده .

دا هغه مضمون دی دکوم هدایت چی قرآن کریم په بل ځای کی په صفا لفظونو کی داسی ورکړی دی ، لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى اَنْ لَّا تَعْدِلُوْا . یعنی دیوقوم دښمنی دی تاسی دی ته تیار نه کړی چی تاسی انصاف پریږدی .

ددی څخه وروسته په نهم آیت کی دغدارو مشرکانو دغداری علت او ددوی دمرض سبب بیانوی اودوی ته هم یوه هدایت نامه ورکوی چی که دوی فکر وکی نوخپله اصلاح به وکړی اوعامو مسلمانان یی هم خبر کړل چی په کم سبب سره داخلګ په غداری اوخیانت کی اخته سول ددغه سبب څخه دی په پوره طور سره پرهیز کول خپل شعار جوړکړی او دغه سبب دی ددنیا محبت چی ددنیا دمال او اسباب محبت دوی راندہ کړی دی دلږو پیسو په بدله کی دالله ﷻ آیتونه او خپل ایمان خرڅوی او د دوی دا عمل دیر ناکاره دی په لسم آیت کی ددی خلګو دانتهایی کجروی دابیان دی لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّ لَا ذِمَّةً یعنی صرف دانه ده چی دی خلګو دوعده کوونکو مسلمانانوسره غداری وکړه اوددوی خپلولی اووعد اوپیمان یی شاته وغورځول بلکه د دوی حال دادی چی دهیڅ یومسلمان په باره کی نه دوی دخپلولی لحاظ کوونکی دی نه دځه وعد اوپیمان .

دذکرسوو مشرکانو دحالاتوطبعی تقاضا داکیدی سوه چی مسلمانان ددوی څخه دهمیشه دپاره بیزاره سی اوپه هیڅ حال کی هم ددوی سره دوروروڼی دتعلقاتو قائمولو دپاره تیار نه وی په دی وجه قرآنی عدل اوانصاف په یوولسم آیت کی دا هدایت ورکی .

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ : یعنی که داخلګ توبه وکاږی اولمونځ قائم کړی اوزکوٰة ادا کړی ، نو اوس دوی هم ستاسی دینی وروڼه دی .

په دی کی یی وښوولە چی که څوک هرڅومره دښمن وی اوهرڅومره ضرر چی یی رسولی وی کله چی هغه مسلمان سو نولکه څنګه چی الله ﷻ ددە ټول تیر ګناهونه معاف کوی په مسلمانانو هم لازم دە چی تیری ټولی معاملی دزړه څخه وباسی اودنن څخه دوی خپل دینی وروڼه وګڼی اود وروروڼی دتعلقاتو حقونه ادا کړی .

(په اسلامي ورور ولي کي ددا خليدو دپاره شرطونه)

دی آیت واضحه کړه چی په اسلامی وروروڼی کی ددا خلیدو دپاره دری شرطونه دی اول دکفر اوشرک څخه توبه دوهم لمونځ دریم زکوٰة څکه چی ایمان اوتوبه خویو پټ کاردی چی دحقیقت یی عامو مسلمانانو ته علم نه سی کیدی په دی وجه یی ددی دوی ظاهری نخښی بیان کړی یعنی لمونځ اوزکوٰة .

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی دی آیت داهل قبله مسلمانانو خون حرام کی یعنی کوم خلګ چی دلمانځه اوزکوٰة پابنده وی ، او داسلام خلاف څه کار او خبره د دوی څخه ونه سی نو دوی به په ټولو احکامو کی مسلمانان ګڼل کیږی که څه هم ددوی په زړه کی صحیح ایمان نه وی یانفاق وی .

حضرت صدیق اکبر ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه وروسته دزکوٰة څخه په انکار کوونکو باندی دجهاد کولو دپاره ددی آیت څخه دلیل ونیوی اوصحابه کرام یی مطمئن کړی وه (ابن کثیر)

دایت په اخرکی یی دوعدی کوونکواوتوبه کاږونکی سره دتعلق لرونکو حکمونو ذکر کولو څخه وروسته ارشاد وفرمایی، وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ یعنی مونږ دپوه خلګو دپاره حکمونه په تفصیل سره بیانوو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْٓا اَىِٕمَّةَ الْكُفْرِ ۙ

اوکه دوی مات کړه خپل قسمونه دوعدی کولو څخه وروسته اوعیب یی ولګوی ستاسی په دین کی نو جنګ کوی د کفر دسردارانو سره

اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ﴿۱۲﴾ اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا

بیشکه د دوی قسمونه هیڅ نه دی چی دوی بیرته راسی ، ولی نه جنګیږی د داسی خلګو سره

نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ

چی ماتوی خپل قسمونه اوپه دی فکر کی وی چی رسول وباسی اودوی اول شروع کړی دی ستاسی سره .

مَرَّةٍ ۭ اَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَوْهُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳﴾

آیا دوی څخه بیریږی نو دالله څخه بیره په کاره ده تاسی لره ډیره که تاسی ایمان لری .

قَاتِلُوْهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِاَيْدِيْكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ

جنګ کوی د دوی سره چی عذاب ورکړی الله ﷻ دوی ته ستاسی په لاس اورسوایی کړی اوتاسی په دوی غالب کی

وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۴﴾ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوْبِهِمْ ۭ

او یخ کړی زړونه د مسلمانانو خلګو ، اووباسی د دوی د زړونو څخه سوخت .

وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰي مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۵﴾ اَمْ

او الله ﷻ توبه نصیب کوی دهغه چاچی غواړی یی ، اوالله هرڅه پیژندونکی حکمت والا دی ایاتاسی

حَسِبْتُمْ اَنْ تُتْرَكُوْا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ

داګمان کوی چی پریښوول به سی اوحال دادی چی لامعلوم کړی به نه وی الله په تاسی کی هغه خلق چاچی جهاد کړی دی

وَلَمْ يَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ

اونه دی نیولی دوی ماسوا دالله ﷻ څخه اودهغه د رسول څخه اودمومنانو څخه

وَلِيْجَةً ۭ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾

چاته چی رازدار اوالله ځینی خبر دی څه چی تاسی کوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: اوکه دغه خلګ دوعدی کولو څخه وروسته خپل قسمونه (وعدې) مات کړی (لکه چی دا د دوی غالب حال دی) او (وعده ماته کړی ایمان هم رانه وړی بلکه په خپل کفرقائم پاته سی چی ددی یو اثردا دی چی) ستاسی په دین (داسلام) باندی طعنی (او اعتراضونه) کوی نو (په دی حالت کی) تاسی خلګ په دی قصد سره چی دوی (دخپل کفر څخه) بیرته وګرزی ددی پیشوایانو دکفر سره (ښه) جنګ کوی (ځکه چی په دی صورت کی) ددوی قسمونه (باقی) نه دی پاته (تردی ځای پوری دوعدی ماتولو څخه مخکی پیش ګویی وسوه اوس مخ او وروسته دواقع کیدو دوعدو ماتولو څخه دجنګ ترغیب دی چی) تاسی ددا سی خلګو سره جنګ ولی نه کوی کمو چی خپل قسمونه مات کړل (اود بنی بکرو مدد یی دخزاعه په مقابله کی وکی) اودرسول ﷺ دوطن څخه دایستو تجویز یی وکی اودوی ستاسی سره اول شروع وکړه (چی ستاسی دطرف څخه په پوره کولو دوعده کی څه کمی ونه سو دوی په خپله مخکی والی وکی پس ددا سی خلګوسره جنګ ولی نه کوی) ایا ددوی (سره دجنګ) څخه بیریږی (چی ګوندی دوی زیات دی) پس (که داخبره وی نوددوی څخه هیڅکله مه بیریږی ځکه چی) الله ﷻ ددی خبری زیات مستحق دی چی تاسی ددې څخه وبیریږی که تاسی ایمان لری (اوددې څخه دبیریدو تقاضا دا ده چی دده دحکم خلاف مه کوی او هغه حکم کوی دجنګ نو) د دوی سره جنګ کوی (د) الله ﷻ (وعده ده چې) دوی ته به ستاسی په لاسو سزا ورکړی او دوی به ذلیل (اوخوار) کړی او تاسی به پردوی غالب کړی او (د دوی په دی عذاب اوستاسی په نصرت سره) به دډیرو (داسی مسلمانانو زړونو) ته شفا ورکړی اودهغوی دزړونو غصی (اوغضب) به لیری کړی (کوم چی په خپله دمقابلی طاقت نه لری او د دوی داکارونه وینی او په زړه زړه کی ویلی کیږی) او (ددی کفارو څخه) په کومو چی (توجه او فضل کول) منظوروی الله ﷻ به توجه (هم) وفرمایی (یعنی دمسلمانیدو توفیق به ورکړی چنانچی په فتح کولو دمکه کی ځینی وجنګیدل اوذلیل اوقتل سول اوځینی مسلمانان سول) اوالله ﷻ لوی علم والا لوی حکمت والا دی (چی په علم سره دهریو انجام چی اسلام دی یاکفر پیژنی اوپه دی وجه په خپل حکمت سره مناسب حکمونه مقرر فرمایی اوتاسی چی کم دجنګ څخه زړه ستړی یاست که څه هم ځینی په تاسو کی وی نو) ایاتاسی داخیال کوی چی تاسی به هم دغسی (په دی حالت) پریښوول سی حال دا دی چی لا تر اوسه الله ﷻ (په ښکاره طور سره) هغه خلګ خو لیدلی نه دی کموچی په تاسی کی (په داسی موقع) جهاد کړی وی اوالله اورسول او مومنانو څخه ماسوا بل څوک یی په خصوصیت سره دوست نه وی جوړ کړی (چی ددی دښکاره کیدو ښه ذریعه په داسی موقع جهاد دی کوم ځای چی مقابله دعزیزانو اوخپلوانو سره وی چی په دی کی پوره امتحان کیدی سی چی څوک الله غواړی اوڅوک خپلولی) او الله ﷻ ته ټول خبردی ستاسی دټولو کارونو (پس که په جهادکی چستی وکړی اوکه سستی ددی موافق به تاسی ته بدله درکول سی)

معلومات اومسئلي: دمکی قریش دکوموسره چی په سنه ۶ هجری کی په مقام دحدیبی یوه وعده دجنګ نه کولو سوی وه ددی متعلق دسورة توبه په ابتدایی ایتونوکی په طور دپیش ګویی دا اطلاع ورکول سوی وه چی داخلګ په خپله وعده قائم نه پاته کیږی چی ذکریی دسورة توبه په اووم آیت کی د: كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ په الفاظو کی تیر سوی دی اوبیاپه اتم نهم لسم ایتونوکی ددوی دوعدی ماتولو

Maktaba Tul Ishaat.com

داسبابو بیان وسو په یوولسم آیت کی ددی بیان راغی چی دوعدی ماتولو ددی لوی جرم څخه وروسته هم که داخلګ مسلمانان سی اودخپل اسلام اظهار دلمونځ روژی په ذریعه شروع کړی نوبیا پر مسلمانانو لازمه ده چی دده تیر جرمونه نظر انداز کړی اودی خپل دینی ورور وګڼی اود وروروڼی معاملات ورسره شروع کړی په ذکرسوی دولسم آیت کی ددی بیان دی چی دپیش ګویی مطابق کله چی داخلګ وعده ماته کړی نوبیا مسلمانانو لره ددوی سره څه کول په کار دی.

په دی کی ارشاد فرمایی: وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ یعنی که داخلګ خپله وعده اوقسمونه مات کړی اومسلمانان هم نه سی بلکه هم دغسی په خپل دین پاته سی اوستاسو دین داسلام ته بدی ردی وایی نو ددی کفر دسردارانو سره جنګ کوی.

دلته دا خبره دفکرقابله ده چی دمقام تقاضادلته په ښکاره داوه چی: فَقَاتِلُوهُمْ یی فرمایلی وای یعنی ددی خلګو سره جنګ کوی قرآنکریم دلته دلنډضمیر استعمالولو په ځای، فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ وفرمایل أَئِمَّه دامام جمع ده معنی یی داده چی داخلګ دخپلی وعدی ماتولو په وجه سره دکفر امامان اوپیشوایان سوه ددی مستحق سوه چی ددوی سره جنګ وسی په دی کی دحکم دجنګ دعلت اووجی هم بیان وسو اوځینی تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چی دلته د: أَئِمَّةَ الْكُفْرِ څخه مراد دمکی دقریشوهغه سردارانو دی کومو چی به خلګ دمسلمانانو خلاف جنګ ته راپاروول اوپه جنګی تیاریوکی به یی مصروف کول ددوی سره جنګ کول یی په خاص طورسره ځکه ذکرکی چی دمکی والاوو داصل طاقت سرچینه دغه خلګ وه ددی څخه علاوه دمسلمانانو نژدی قرابتونه هم ددی خلګو سره وه دکومو په وجه سره چی ددی بیره کیدی سوه چی د دوی په باره کی به څه لحاظ وسی (مظهری)

(په دار اسلام کي غیرمسلم ذمیانو ته په اسلام دعلمي تنقید اجازه خوسته مګردبدو وردو ویلو اجازه ورته نسته)

د، طَعَنُوا فِي دِينِكُمْ: دلفظ څخه څینی حضراتو پردی دلیل نیولی دی چی دمسلمانانو دین ته بد رد ویل په وعده ماتولوکی داخل دی کوم سړی چی اسلام اوشریعت داسلام ته بدرد ووایی دی دمسلمانانو معاهدنه سی پاته کیدی مګر په اتفاق دفقهاوو ددی څخه مراد هغه بدرد دی کوم چی دمسلمانانو او داسلام دسپکوالی دپاره په ډاګه اعلانًا وسی داحکامو اومسئلو په تحقیق کی څه علمی تنقید کول ددی څخه مستثنی دی او په لغت کی دی ته بد رد هم نه سی ویل کیدی.

په دی آیت کی فرمایی، إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ: یعنی داخلګ داسی دی چی ددوی قسم څه داعتبار لائق قسم نه دی ځکه چی داخلګ دقسم اووعدو ماتولو سره عادت سوی دی او ددی جمعی دامعنی هم کیدی سی چی کله دوی خپل قسمونه مات کړل نواوس پر مسلمانانو هم ددوی دقسم او وعدی څه ذمه واری نسته دایت په اخر کی دی: لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ ددی دپاره چی دوی واپس سی په دی اخری جمله کی یی وښوولو چی دمسلمانانو دجنګ اوجهاد مقصد دعامی دنیا دخلګو په شان دښمن ازارول اودبدل اخستو جوش سړول یادعامو بادشاهانو په شان ملکونه نیول نه دی په کار بلکه د دوی دجنګ مقصد ددښمنانو خیر خواهی اوهمدردی اوداجذبه پکاردہ چی دغه خپل دخپلی غلطی طریقی څخه بیرته وګرزی.

ددی څخه وروسته په دیارلسم آیت کی مسلمانانوته دجهاد اوقتال دترغیب ورکولودپاره فرمایی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسی ددا سی قوم سره دجنګ کولو دپاره ولی نه تیاریږی کومو چی دنبی کریم ﷺ دایستلو منصوبه جوړه کړه مراد ددی څخه دمدینی یهوددی کومو چی دنبی کریم ﷺ دمدینی څخه دایستلو منصوبه جوړه کړه لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ یعنی داسی به خامخا وسی چی عزت اوقوت والا به کمزوری اوذلیل دمدینی څخه وباسی د دوی په نزد عزت والا دغه خلګ وه اومسلمانان یی کمزوری اوذلیل ګڼل چی ددی په جواب کی الله ﷻ د دوی وینا داسی پوره کړه او وی ښوولە چی نبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو دوی دمدینی څخه وایستل او دا یی ثابته کړه چی عزت والاهم دغه مسلمانان وه او کمزوری اوذلیل یهود وه دوهمه وجه د دوی سره دجنګ کولو یی دا وفرمایله ، وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ یعنی دجنګ او قتال مخکی والی ددغو خلګو دطرف څخه سوی دی اوس خوصرف مدافعانه کاروایی ده یعنی خپله دفاع کول دی کومه چی دهرفطرت سلیمه تقاضا ده .

بیادمسلمانانودزړونوڅخه ددغو خلګو درعب لیری کولو دپاره فرمایی ، اَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَوْهُ یعنی آیاتاسی خلق ددوی څخه بیره کوی حال دادی چی خوف اوبیره صرف دالله ﷻ څخه په کار ده دکوم عذاب چی هیڅ یو طاقت نه سی واپس کولی په آخر کی یی ، اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ وفرمایل اووی ښوولە چی دغیر الله څخه داسی بیره کول چی دشرعی احکامو په ادا کولوکی حائله سی دهیڅ یومومن مسلمان کار نه دی .

په څوارلسم اوپنځلسم ایتونو کی هم مسلمانانو ته دجنګ اوجهاد ترغیب په یوبل عنوان سره ورکوی چی په دی کی یی څوشیان ښوولی دی .

اول دا چی که تاسی ددی جنګ دپاره تیار سی نو دالله ﷻ مدد به ستاسی دحال شامل وی اودغه قوم خو دخپلوبد وعملونوپه وجه دالله دعذاب مستحق سوی خودی مګرپه دوی دالله ﷻ عذاب دتیرو قومونوپه شان داسمان یامځکی څخه نه راځی بلکه يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِاَيْدِيْكُمْ یعنی دوی ته الله ﷻ ستاسی په لاسوعذاب ورکوی .

دوهم دا چی ددی جنګ په نتیجه کی به الله ﷻ دمسلمانانو زړونوته دهغه رنځ اوغم څخه شفا ورکړی کوم چی دکفارو دطرف څخه دوی ته پرله پسی رسیدلی دی دریم داچی ددوی دغداری اووعدی ماتولو په سبب چی کومه غصه او غضب دمسلمانانو په زړونو کی پیدا سوی وه ددوی په لاسو به دوی ته عذاب ورکړی د دوی غصه به لیری کړی .

په تیر آیت کی یی ، لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ وفرمایل اومسلمانانو ته یی ددی هدایت کړی وو چی دوی دی دیوقوم سره دخپلی غصی سړولو دپاره جنګ نه کوی بلکه د دوی اصلاح او هدایت دی مقصود جوړ کړی په دی آیت کی یی داوښوولە چی کله هغوی خپل نیت دالله ﷻ دپاره صفاکړی اومحض دالله ﷻ دپاره جنګ کوی نو بیابه الله ﷻ هم په خپل فضل او کرم سره داسی صورتونه پیدا کړی چی د دوی دغم اوغصی بدله به خود بخوده وسی .

څلورم شی دارشاد فرمایی ، وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ : یعنی په دوی کی چی دچامتعلق الله ﷻ ته منظوره وی دهغه توبه به قبوله کړی .

ددی څخه معلومه سوه چی ددی جهاد یوه فائده به داهم وی چی ددښمن په جماعت کی به ډیرو خلګوته داسلام توفیق وسی هغوی به مسلمانان سی چنانچی دمکی په فتح کی ډیر سرکښه ذلیل اوخوار سول اوډیر خلګ په اسلام مشرف سول .

په دی ایتونو کی چی دکومو حالاتو اوواقعاتو خبر په طور دپیش ګوپی ورکول سوی دی تاریخ

Maktaba Tul Ishaat.com

شاهد دی چی دغه ټول یویو داسی پوره سو لکه څنګه چی قرآن کریم خبر ورکړی وو په دی وجه دا آیت په ډیرو معجزو مشتمل دی.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ

دمشرکانو کار نه دی چی اباد کړی جماتونه د الله ﷻ او تسلیموی په خپل ځان کفر ته

اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۖۚ وَفِى النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ اِنَّمَا

دغه خلګ خراب سوه د دوی عملونه او په اور کی به وی دوی همیشه هغه ،

يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ

آباد وی جماتونه د الله کوم چی یقین راوړی په الله او داخرت په ورځ او قائموی

الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ

لمونځ اوورکوی زکوٰة اونه بیریږی د الله ﷻ څخه ماسوا دبل چا څخه پس امید واردی دغه خلګ

اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۸﴾

چی سی د هدایت پیدا کوونکو څخه

لنډتفسیر: مشرکان ددی لائق نه دی چی دوی د الله ﷻ جماتونه (چی په دی کی مسجد حرام هم راغی) اباد کړی په کوم حالت کی چی دوی په خپله دخپل کفر (دخبرو) اقرار کوی (چنانچی دوی په خپله دخپل مشرب ښوولو په وخت کی به دداسی عقیدو اقرار کوی کوم چی په واقع کی کفر دی مطلب دا دی چی ابادول دجماتونو که څه هم ښه عمل دی لیکن دشرک سره منافی دی ددی عمل اهلیت په کی نسته نو بیا په دی سره دفخرخه ځای دی) ددی خلګو (کوم چی مشرکان دی) ټول عملونه (نیک لکه ابادول دجماتونو وغیره) عبث (او ضائع) دی (په دی وجه چی په دوی کی دقبولیت شرط نسته اوپه ضائع سوی عمل به څه فخر وی) اوپه دوزخ کی به دغه خلګ همیشه وی (ځکه چی ددوی هغه عمل کوم چی داسبابو دنجات څخه وو هغه یی ضائع سوی وو) البته د الله ﷻ جماتونه ابادول دهغو خلګو کار دی (یعنی په کمال درجه دهغوڅخه قبلیږی) کوم چی په الله ﷻ او په ورځ دقیامت (په زړه سره) ایمان راوړی (او په اندامونو سره ددی اظهارهم وکی مثلاً داسی چی) دلمانځه پابندی کوی اوزکوٰة ورکوی (په الله ﷻ داسی توکل لری چی) بغیرد الله څخه دبل هیڅاڅخه نه بیریږی نوددا سی خلګوپه باره کی توقع (یعنی وعده) ده چی خپل مقصود (یعنی جنت اونجات) ته به ورسیږی (ځکه چی ددوی عملونه به دایمان په وجه مقبول وی په دی وجه به په اخرت کی نفع پیدا کی اومشرکان ددی شرط څخه محروم دی اوپه بی فائدی عمل باندی فخربی حاصله دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي : په تیرو ایتونوکی دمکی دمشرکانو دکجروی وعدی ماتولو اود خپل باطل دین دپاره دهرقسم دکوشش اوددی په مقابله کی مسلمانانوته دجهاد دترغیب بیان راغلی وو په ذکر سوو آیتونو کی مسلمانانو ته دجهاد دتاکید سره دا ښوول سوي ده ، چی جنګ اوجهاد هغه شی دی ، چی په دی کی دمسلمانانو امتحان کیږی دمخلص مسلمان اومنافق یادکمزوری ایمان والا فرق باندی راځی اودا امتحان ضروری دی .

په شپارسم آیت کی ارشاد فرمایی چی ایا تاسی داسی ګڼلی ده چی تاسی صرف کلمه داسلام په ژبه سره دویلو اوداسلام په دعوی کولو باندی ازاد پریښوول کیږی ترڅو چی الله ﷻ په ښکاره طورباندی هم دغه رښتینی اوپاخه مسلمانان ونه ګوری کوم چی په تاسی کی جهاد کوونکی دی اوکوم چی دالله ﷻ او درسول اودمسلمانانو څخه ماسوا بل څوك خپل رازدار اودوست نه جوړ وی .

په دی آیت کی هغوعاموخلګوته خطاب دی کوم چی مسلمانان ګڼل کیدل که څه هم په دوی کی ځینی منافقان هم وه اوځینی کمزوری ایمان والا اومذبذب هم ددی خلګو دا حال وو چی خپل غیر مسلمه دوستان په یی دمسلمانانو په رازونو خبرول په دی وجه په دی آیت کی یی دمخلص مسلمان دوی ننباني وښوولی .

(دمخلص مسلمان دوی (۲) ننباني)

اول داچی دالله ﷻ دپاره دکفارو سره جهاد کوی او دوهم دا چی غیر مسلم خپل راز دار او دوست نه جوړ وی دایت په اخر کی فرمایی ، وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ : یعنی تاسی چی هرڅه کوی الله ﷻ په خبر دی دهغه په مخکی دچا حیله او تاویل نه چلیږی .

دامضمون دقرآن مجید په یوبل آیت کی په دی الفاظو سره راغلی دی ، اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْا اَنْ يَّقُوْلُوْا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ : یعنی آیادی خلګو داسی ګڼلی ده چی دوی به صرف په ژبه ځان ته مومن ویلو باندی ازاد پریښوول سی او د دوی به څه امتحان وانه خستل سی .

(دیوغیر مسلم همراز دوست جوړول جائزنه دی)

په ذکر سوی آیت کی چی کوم لفظ د: وَلِيْجَة : راغلی دی ددی معنی دزړه راز داردی اوپه یوبل آیت کی ددی معنی دپاره لفظ د: بِطَانَة: استعمال سوی دی دبِطَانة اصل معنی دهغه کپړی ده کومه چی تر نورو کپړو لاندی دنس او بدن سره متصل وی مراد ددی څخه داسی سړی دی ، کوم چی په دننه رازونو خبر وی ددی آیت الفاظ دا دی .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا : ای ایماندارو! دخپلو مسلمانانو څخه ماسوا بل څوك همراز اودپتی دوست مه جوړوی دوی تاسی ته په دوکه درکولو او بربادولوکی هیڅ کمی نه کوی .

ددی څخه وروسته په اوولسم اواتلسم آیت کی دمسجد حرام اونورو جماتونو دباطلو عبادتونو څخه دپاکولو اوصحیح اومقبوله طریقه سره دعبادت کولو هدایات دی .

اوتفصیل ددی دا دی چی دمکی دفتح څخه وروسته نبی کریم ﷺ دبیت الله څخه هغه ټول بتان ایستل دکمو چی به مشرکانو عبادت کوی دغه رکم په ښکاره طور سره خوبیت الله شریفه دبتانو څخه پاکه سوه لیکن نبی کریم ﷺ پر خپلو پخوانیو دښمنانودغالب راتلو څخه وروسته ټولوته معافی اوامان ورکړی دد

Maktaba Tul Ishaat.com

اودغومشرکانوبه اوس هم په بیت الله اوحرم محترم کی عبادت اوطواف وغیره په خپلوباطلوطریقو کوی.
اوس ضرورت ددی خبری وو چی لکه څنګه چی مسجد حرام دبتانو څخه پاك سو دغه رنګه دبت پرستی اوددی دټولو باطلو طریقو څخه هم دامقدسه مځکه پاکه سی اوددی څخه دپاکولو ښکاره صورت داوو چی دمشرکانو داخلیدل مسجد حرام ته بندسی لیکن دابه ددی ورکول سوی امان څخه خلاف وو او دوعدی پابیندی په اسلام کی ددی ټولو شیانو مخ ته اومهمه وه په دی وجه په فوری طور سره داسی احکام ورنه کول سو بلکه دمکی دفتح څخه وروسته په راتلونکی کال کی نبی کریم ﷺ دحضرت صدیق اکبر ؓ اوحضرت علی مرتضیٰ ؓ په ذریعه په منٰی اوعرفات کی په عامو اجتماعاتوکی دا اعلان وکی چی آئنده به هیڅ دمشرکانو په طرز عبادت اوحج اوطواف وغیره په حرم کی نه سی کیدی اوپه جاهلیت کی چی کوم په لغره دطواف کولو رسم وو ائنده به ددی اجازه ورکول کیږی چنانچه دطواف کولو رواج وو ائنده به ددی اجازه نه سی ورکول کیدی چنانچی حضرت علی کرم الله وجهه دمنٰی په عامه اجتماع کی ددی اعلان وکی چی.

لَا یَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا یَطُوْفَنَّ بِالْبَیْتِ عُرْیَانٌ: یعنی ددی کال څخه وروسته به یو مشرك حج نه سی کولی اونه به څوك په لغره دبیت الله طواف کولی سی.

او دا دټول کال مهلت په دی وجه ورکول سو چی په دوی کی ډیر هغه خلګ هم وه دکومو سره چی دمسلمانانو وعده وه او هغوی تر اوسه پوری په وعده قائم وه دوعدی دمیعاد دپوره کیدو څخه مخکی دوی دیو نوی قانون پابیند کول داسلامی رواداری خلاف وو په دی وجه دیوکال څخه مخکی دا اعلان جاری سو چی حرم محترم دمشرکانه عبادتونو اورسمونو څخه دپاکولو مقررتیا سوي ده ځکه چی داقسم عبادتونه په حقیقت کی عبادت او دجمات ابادی نه ده بلکه بیرانی ده.

دی دمکی مشرکانو به خپلو مشرکانه رسمونو ته عبادت اودمسجد حرام دابادی نوم ورکوی اوپه دی به یی فخر کوی چی مونږ دبیت الله اودمسجد حرام متولیان اوددی دابادولو ذمه واریو حضرت عبدالله بن عباس ؓ فرمایی چی حضرت عباس ؓ کله داسلام راوړلو څخه مخکی دبدر په غزا کی ګرفتار سو اومسلمانانو ده ته په کفر اوشرك باندی دشرم او عار ورکولو څخه دوی جواب ورکی چی تاسی خلګ صرف زمونږ بدی یادوی اودنیکیو ذکرنه کوی ایاتاسی ته معلومه نه ده چی مونږ دبیت الله اومسجد حرام ابادوونکی اوانتظام کوونکی یو اوحاجیانوته اوبه ورکول وغیره خدمتونه هم کوو پردی دقرآن کریم دا ایتونه نازل سول: مَاكَانَ لِلْمُشْرِكِیْنَ اَنْ یَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ یعنی مشرکانو ته دا حق نسته چی دوی دالله جماتونه ابادکړی ځکه چی جمات هغه ځای دی کوم چی دیو الله وحده دعبادت دپاره جوړسوی دی شرك اوکفر ددی خلاف دی دادجمات دابادولو سره نه جمع کیږی.

دعمارت دمسجد کوم لفظ چی په دی آیت کی راغلی دی په څومعانیوکی استعمالیږی یوه دظاهری درو دیوار ابادول دوهم دجمات حفاظت اوصفایی اودضروریاتوانتظام دریم دعبادت دپاره په جماتونو کی حاضریدل عُمری ته عمره په دی مناسبت سره ویل کیږی چی په دی کی دبیت الله دزیارت اوعبادت دپاره حاضروی.
دمکی مشرکانو په دی دری واړو معانیو سره خپل ځانونه دبیت الله ابادونکی اودمسجد حرام دابادولو

Maktaba Tul Ishaat.com

ذمه وارگنل اوپه دی به یی فخر کوی په دی ایتونوکی الله ﷻ واضحه کړه چی مشرکانو ته دالله ﷻ دجماتونو دابادولو هیڅ حق نسته کله چی دوی په خپل شرك او کفر شاهدوی ددی خلګو عملونه حبط اوضائع سول اودوی به همیشه دجهنم په اورکی وی.

په خپله دخپل شرك اوکفر دشاهدی مطلب یاخو دادی چی دخپلو مشرکانه کارونه اوعملونو په سبب ګویا په خپله دخپل کفر اوشرك شاهدی ورکوی اویا داچی عادةً کله دیو نصرانی یایهودی څخه پوښتنه وسی چی تاسی څوك یاست ؟ نودوی خپل ځان ته نصرانیان یایهودیان وایی دغه رکم مجوس اوبت پرست په خپلو کافرانه نومونو سره خپل تعارف کوی دا ددوی دکفر اوشرك اقرار اوشاهد دی (ابن کثیر)

په دی آیت کی یی دمسجد دعمارت منفی ارخ بیان کړی وو چی مشرکین ددی اهل نه دی په دوهم آیت کی یی دمسجد دعمارت مثبت ارخ داسی ارشاد وفرمایی: إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ : یعنی جماتونه ابادول دهغو خلګو کار دی کوم چی په الله ﷻ اودقیامت په ورځ ایمان راوړی اودلمانځه پابندی کوی اوزکوة ورکوی اوبغیردالله ﷻ څخه دبل هیڅاڅخه نه بیریږی نوددا سی خلګومتعلق امیددی چی دوی به په خپل مقصد کی کامیاب وی مطلب دا دی چی دجماتونو اصلی ابادی صرف هغه خلګ کولی سی کوم چی دعقیدی اوعمل په اعتبار سره دالله ﷻ دحکمونو پابنده وی په الله ﷻ اوپه ورځ داخرت ایمان لری اودلمانځه اوزکوة پابنده وی اودالله ﷻ څخه ماسوابل دهیڅا څخه نه بیریږی دلته یی صرف په الله اوپه ورځ دا خرت دایمان ذکر وکی په رسول دایمان ذکر کولو ضرورت څکه ونه ګنل سو چی په الله ﷻ باندی دایمان راوړو هیڅ صورت بغیر ددی څخه کیدی نه سی چی په رسول ایمان راوړی او ددی په ذریعه چی کوم احکام دالله ﷻ دطرف څخه راسی هغه په زړه سره قبول کړی په دی وجه په ایمان بالله کی ایمان بالرسول په فطری طور باندداخل دی داوجه ده چی نبی کریم ﷺ یوځل داصحابو کرامو ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی تاسو پوهیږی چی په الله ﷻ باند ایمان څه شی دی؟

صحابو ﷺ عرض وکی چی الله اودهغه رسول ښه په پوه دی دوی وفرمایل چی په الله ﷻ ایمان دا دی چی بنده په زړه سره ددی شاهدی وکړی چی دالله ﷻ څخه ماسوا څوك لائق دعبادت نسته ، او دا چی محمد ﷺ دالله رسول دی ، دی حدیث وښودله چی په رسول ایمان راوړل په الله باندی په ایمان راوړوکی داخل او شامل دی (مظهری بحواله صحیحین)

او داچی کوم ارشاد فرمایی چی دالله څخه ماسوا دبل چاڅخه نه بیریږی ددی معنی دا ده چی ددین په معامله کی دچا دبیری څخه دالله ﷻ حکم نه پاتی کوی ، کنه نو دبیری دشیانو څخه بیریدل خودعقل اوفطرت تقاضاده ددرندګانو زهرجنو حیوانانو غل او ډاکوګانو څخه په طبعی طورسره بیره کول ددی څخه خلاف نه دی هم دا وجه ده چی دحضرت موسی ﷺ په وړاندی کله جادوګرانو درسیو څخه ماران جوړ کړل ، نو دی وبیریدی ، فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَى : په دی وجه دآزار او نقصان رسوونکو څخه طبعی بیره نه دقرآن څخه خلاف ده نه درسالت او ولایت څخه البته ددی دبیری څخه مغلوب کیدل دالله ﷻ په احکامو کی خلل اچول یایی پاته کول دا دمومن شان نه دی ، په دی ځای کی دا هم مراد ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

دایت متعلق څینې مسئلې: اودمسجد دعمارت دکم متعلق چې په دی ایتونو کی داذکر دی چې مشرک کافر یې نه سی کولی بلکه دغه صرف دنیك صالح مسلمان کاردی ددی څخه مراد دجماتونو تولیت اوانتظامی ذمه واری ده.

حاصل یې دادی چې یوکافردیواسلامی وقف متولی اومنتظم جوړول جائزنه دی باقی پاته سودښکاره در اودیواروغیره تعمیر، نوپه دی کی که دیوغیرمسلم څخه هم کاروا خستل سی نوباك نسته (تفسیرمراغی)

دغه دول که یوغیرمسلم ثواب وګنی اوجمات جوړکړی یادجمات جوړولودپاره مسلمانانو ته چنده ورکړی نوقبلول یی هم په دی شرط سره جائزدی چې دده څخه دخه دینی یا دنیوی نقصان یا الزام یا اننده پردی دقبضی کولو یا احسان اچولو څه بیره نه وی (رد المحتار شامی مراغی)

او په دی آیت کی چې کوم دا ارشاد وفرمایی چې دجماتونو ابادول اوعمارت صرف دنیکانو مسلمانانو کار دی ددی څخه داهم ثابته سوه چې کم سړی دجماتونو حفاظت صفایی اودنورو ضرورتونو انتظام کوی اوکم چې دعبادت او ذکر الله دپاره یا دعلم دین اوقرآن ویلو دپاره جمات ته څی راځی دده دا عملونه دده دکامل مومن والی شاهد دی .....

امام ترمذی اوابن ماجه په روایت دابوسعید خدری ﷺ نقل کړی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې کله تاسی یو سړی وویني چې دی دجمات دحاضری پاییندہ دی. نو دده دایمان شاهدی کوی څکه چې الله ﷻ فرمایی، اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَاللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ .

او دصحیحینو په حدیث کی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې کوم سړی سهار مابنام جمات ته حاضری ورکوی، الله ﷻ دده دپاره دجنت یوه درجه تیار وی.

او حضرت سلمان فارسی ﷺ روایت کوی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې کوم سړی چې جمات ته راځی دی دالله ﷻ زیارت کوونکی میلمه دی اوپه کوربه حق وی چې دمیلمه عزت وکړی (مظهری په حواله دطبرانی ابن جریر بیهقی وغیره)

دقرآن تفسیر کوونکی حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی ﷺ فرمایی چې په عمارت دجمات کی دا هم داخله ده چې جمات دداسی شیانو څخه پاك کړی دکومو دپاره چې جماتونه نه دی جوړسوی، مثلاً اخیستل خرڅول ددنیا خبری دیو ورك سوی شی تلاش یا ددنیا دشیانو دخلګو څخه سوال یافضول قسم اشعار جګړه اوشور اوږغ وغیره (مظهری)

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ

آیاتاسی ګرځوی حاجیانو ته اوبه ورکول او ابادول دمسجد حرام برابردهغه چې څوك یقین راوړی په الله اوپه ورځ دآخرت او جنګ کوی.

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

دالله ﷻ په لاره کی	دا برابر نه دی دالله ﷻ په نزد	اوالله لار نه ښیی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ

ظالمانو خلګوته ، کوم چې ایمان راوړی اوپاته کړی کور کلی اوجنګ کوی

سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ

دالله ﷻ په لاره کی په خپل مال اوخپل ځان سره ددوی دپاره لوړه درجه ده دالله ﷻ

اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ

سره او دغه دی مرادته رسیدونکی ،خوشخبری ورکوی دوی ته رب ددوی دخپل طرف څخه دمهربانی

مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴿۲۱﴾ خٰلِدِيْنَ

او رضامندی اوباغونوچې په دی کی به دوی ته ارام وی همیشه اوسی به

فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۲﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

په دی کی مدام ، بیشکه دالله ﷻ سره لوی ثواب دی ، ای ایمانداروا

اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَآءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا

مه نیسی خپل پلرونه او ورونه ملګری که دوی خوښ کړی

الْكُفْرَ عَلَى الْاِيْمَانِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۳﴾

کفر په ایمان ، اوځوك چې په تاسی کی ددوی ملګرتیا کوی پس دغه خلګ دی ګناهګاران

لنډتفسیر: آیاتاسی خلګو حاجیانو لره اوبه ورکول اومسجد حرام اباد ساتل دهغه سړی (دعمل) برابر مقررکړل ګوم چې په الله ﷻ اودقیامت په ورځ یې ایمان راوړی وی اوده دالله په لاره کی جهاد کړی وی (دغه عمل ایمان اوجهاددی یعنی داعمل برابرنه دی اوکله چې اعمال برابرنه دی نو) دا (عمل کوونکی) خلګ (هم دیو بل) برابر نه دی دالله په نزد (غرض دا چې عمل دعمل سره اوعمل کوونکی دعمل کوونکی سره برابر نه دی مقصود په قرینه دسیاق سره دادی چې په ایمان اوجهاد کی هریوښه دی داوبو ورکولو اوابادولو دهریوه څخه یعنی ایمان هم دراوړلو څخه ښه دی اوپه دی سره جواب وسو دمشرکانو چې په دوی کی ایمان نه وو اوجهاد هم ددواړو څخه ښه دی په دی سره جواب وسو دځینو مومنانو کومو چې وروسته دایمان څخه اوبه ورکول اوابادول پرجهاد غوره کول او (داکار چې ذکرسو دیر ښکاره دی

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن) کوم خلک چی بی انصافه دی (مراد نژدی مشرکان دی) الله ﷻ دوی ته پوهه نه ورکوی (په دی وجه دوی بی نه منی په خلاف دایماندار وځخه چی دوی داتحقیق فوراً ومنی مخ ته ددی مضمون وضاحت دی کوم چی لوړ په ، لَایَسْتَوُنَ سره مقصود وو یعنی) کوم خلک چی ایمان راوړی او (دالله دپاره) دوی وطن پریښی وو اودالله په لاره کی یی په خپل مال اوځان سره جهاد وکی دغه په درجه کی دالله په نزد (په مقابله کی داوبو ورکوونکو اوابادونکو) ډیر لوی دی (ځکه چی که په اوبو ورکوونکو او ابادونکو کی ایمان نه وی نوبیا خودا لوئی ددغو مهاجرینو مومنانو مجاهدینو ده اوکه په دوی کی ایمان وی نوگویا دوی هم په درجه کی لوی دی مگر داځینی زیات لوی دی) اودا خلک پوره کامیاب دی (ځکه چی که ددوی په مقابلوکی ایمان نه وای نوبیا خو کامیابی خالصه ددغو ده اوکه ایمان وای نوبیا کامیابی په دواړو کی مشترکه ده لیکن ددوی کامیابی ددغوځخه اعلی ده مخ ته ددی درجی اوکامیابی بیان دی چی) ددوی رب دوی ته زیری ورکوی دخپل طرف ځخه دلوی رحمت اولوی رضامندی او (دجنت د) داسی باغونو چی ددوی دپاره په دی (باغونو) کی به دائمی نعت وی (او) په دی کی به دوی همیشه همیشه اوسی بیشکه دالله سره لوی اجردی (چی دوی ته به یی ورکړی ورځخه) ای ایماندارو! خپل پلرونه اوخپل ورونه (خپل) ملگری مه جوړوی که دغه خلک کفر په مقابله دایمان کی (داسی) عزیز ولری (چی ددوی دایمان راوړو امید پاته نه سی) اوکوم سړی چی په تاسی کی د دوی سره ملگرتیا ساتی نو داسی خلک ډیر نافرمانه دی (مطلب دا دی چی دهجرت ځخه لوی مانع ددی خلگو سره تعلق دی اودغه په خپله جائزنه دی بیا په هجرت کی گرانوالی څه دی)

معلومات اومسئلي : دشروع څلور آیتونه د۱۹ څخه تر۲۲ پوری دیو خاص واقعی سره متعلق دی هغه دا چی ډیرو مشرکانو دمکی دمسلمانانو په مقابله کی په دی فخر کوی چی مونږ مسجد حرام اباد وو او حاجیانو ته داوبو ورکولو انتظام کوو او ددی څخه زیات لوی بل عمل نه سی کیدی داسلام راوړو څخه مخکی کله چی حضرت عباس ﷺ په بدر کی گرفتار سو اودمسلمانانو په لاس ورغی اوده مسلمانانو خپلوانو دی په دی ملامت کی چی ته دایمان دنعمت څخه محروم یی نو دوی هم داویلی وه چی تاسی خلک ایمان او هجرت خپله لویه سرمایه دښه والی گنی مگر مونږ خوهم دمسجد حرام دابادولو او حاجیانو ته داوبو ورکولو متولیان یو چی ددی سره یوعمل هم نه سی برابریدی نوپه دی باندی دا ایتونه نازل سول (ابن کثیر په روایت دعلی بن ابی طلحه دابن عباس ﷺ څخه)

او دمسند عبد الرزاق په ځینی روایتونو کی دی چی دحضرت عباس ﷺ دمسلمانیدو څخه وروسته دطلحه بن شیبه ﷺ اوحضرت عباس ﷺ اوحضرت علی مرتضیٰ ﷺ په مینځ کی خبری کیدی حضرت طلحه ﷺ وویل چی ماته هغه فضیلت حاصل دی کم چی په تاسو کی هیڅاته حاصل نه دی چی دبیت الله چابی زما په لاس کی ده زه کعبه وغوارم نو بیت الله ته دننه تلی اوشپه په کی تیرولی سم حضرت عباس ﷺ وفرمایل چی زه حاجیانو ته داوبو ورکولو منتظم یم اوپه مسجد حرام کی زما اختیارات دی حضرت علی ﷺ وفرمایل چی زماپه فکر کی نه راځی چی تاسی حضرات په څه شی فخر کوی زما خو حال دادی چی مادتولو خلگو څخه شپږ میاشتی مخکی بیت الله ته لمونځ کړی دی ، اوډنبی کریم ﷺ سره په جهاد

Maktaba Tul Ishaat.com

کی شریك سوی یم په دی دا آیتونه نازل سول په دی کی یی واضحه کړه چی یوعمل که هرڅومره اعلی او افضل وی ، دایمان څخه بغیر دالله ﷻ په نزد دده هیڅ قیمت نسته اونه په حالت دشرك کی ددا سی عملونو کوونکی دالله ﷻ په نزد مقبول دی .

او په صحیح مسلم کی دحضرت نعمان بن بشیر ﷺ په روایت سره داواقعه نقل ده چی دی یوه ورځ دجمعی په ورځ په مسجد نبوی کی دیوڅو اصحابو حضراتو سره دنبی کریم ﷺ دمنبر په خوا کی موجود وو په حاضرینوکی یو سړی وویل چی داسلام اوایمان څخه وروسته زماپه نزد حاجیانوته داوبو ورکولو څخه بل لوی عمل نسته او ماته ددی په مقابله کی دبل هیڅ عمل پرواه نسته یوبل صاحب دده په جواب کی وویل چی نه ! دالله ﷻ په لاره کی جهاد دتولو څخه لوی عمل دی ددی دواړو بحث وو ، نو حضرت فاروق اعظم ﷺ دواړه وترټل چی دنبی ﷺ دمنبر په خوا کی شور او ږغ مه کوی مناسبه خبره دا ده چی دجمعی دلمانځه کولو څخه وروسته داخبره په خپله دنبی کریم ﷺ څخه معلومه کړی ددی تجویز مطابق دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه نوپه دی باندی دا ایتونه نازل سوه په کموکی چی یی جهاد دمسجد دعمارت اوداوبو ورکولو څخه زیات ښه عمل ښوولی دی .

او په دی کی هیڅ لیری والی نسته چی دایتونو اصل نزول خودمشرکانو دفخر اوتکبر په جواب کی سوی وی بیا ددی څخه وروسته چی کم واقعات دمسلمانانو په مینځ کی پیښ سوی وی په دغوکی یی هم دا ایتونه ددلیل دپاره پیش کړی وی چی اوریدونکو ته دامحسوسه سوی وی چی داایتونه په دی واقعه کی نازل سول .

بهرحال په ذکرسوو ایتونوکی ددواړو قسمه واقعاتو داجواب دی چی دشرك سره هیڅ یو عمل که هر څومره لوی وی مقبول اوقابل ذکرنه دی په دی وجه یومشرك ته دجمات ابادولو یاحاجیانوته داوبو ورکولو په وجه سره څه فضیلت اوبزرګی دمسلمانانو په مقابله کی نه سی حاصلیدی اودایمان څخه وروسته هم دایمان اوجهاد درجه په نسبت دعمارت دمسجد حرام اواوبو ورکولو دحاجیانو ډیره زیاته ده کم مسلمان چی په ایمان اوجهاد کی مخکی وی هغه دهغو مسلمانانو څخه ښه دی کومو چی په جهاد کی شرکت نه وی کړی صرف دمسجد حرام تعمیر اوحاجیانو ته داوبو ورکولو خدمت کوی .

ددی ابتدایی خبروڅخه وروسته دذکرسوو آیتونو په الفاظو اوترجمه باندی بیایو نظر واچوی ارشاد فرمایی، چی ایاتاسی حاجیانوته اوبه ورکول اودمسجدحرام ابادول دهغه سړی برابر ګڼی کوم چی په الله ﷻ او دقیامت په ورځ ایمان راوړی وی او ده دالله ﷻ په لاره جهاد کړی وی داخلګ برابر نه دی دالله ﷻ په نزد په قرینه دراتلونکی بیان سره مقصود دادی چی په ایمان اوجهادکی هریو افضل دی داوبو ورکولو او ابادولو دمسجد څخه یعنی ایمان هم تردواړو غوره دی اوجهاد هم دایمان په غوره والی سره دمشرکانو دخبری جواب وسو اودجهاد په غوره والی سره دهغو مسلمانانو دخبری جواب وسو کوموچی اوبه ورکولی حاجیانوته اوعمارت دمسجد حرام یی ترجهاد غوره ګڼی .

(دالله ذکر ترجهاد غوره دی)

په تفسیر مظهری کی حضرت قاضی ثناء الله رحمه الله فرمایی چی په دی ایت کی چی کم پرعمارت دمسجد

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی جهادته غوروالی اوترجیح ورکړی ده داعمارت دظاهری معنی په رو سره دی یعنی دجماعت ابادول او ضروری انتظامات چی جهاد ددی په مقابله کی غوره کیدل منل سوی دی.

لیکن دعمارت مسجد یوه بله معنی دعبادت اوذکر الله دپاره په جمات کی دحاضری دپاره هم راځی اوپه حقیقت کی دجمات اصل ابادی په دی سره ده ددی معنی په اعتبار سره دنبی کریم ﷺ دصریحو ارشاداتو په بنا عمارت دمسجد دجهاد څخه افضل اواعلی دی لکه چی په مسند احمد ترمذی اوابن ماجه کی دحضرت ابودرداء ﷺ په روایت سره نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ایازه تاسی ته داسی عمل ونه ښیم کوم چی ستاسی دټولو عملونو څخه ښه اوستاسی دمالك په نزد دټولو څخه زیات افضل وی اوستاسی ددرجو ترټولو زیات لوړونکی وی او دسرو اوسپینو دالله په لاره کی دخرڅ کولو څخه هم افضل وی اوددی څخه هم افضل وی چی تاسی په جهاد کی ددښمن سره سخته مقابله وکړی چی تاسی هغه په کښی قتل کی هغه تاسی قتل کړی اصحابو کرامو ﷺ عرض وکی چی یارسول الله هغه عمل خامخا مونږته وښیه دوی وفرمایل چی هغه عمل دالله ذکر دی ددی څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ ذکر فضیلت ترجهاد هم زیات دی اوابادول دجمات چی په معنی دذکر الله واخستل سی نوهغه هم دجهاد څخه افضل دی مګر دلته دمشرکانوفخر اوغرور ښکاره ده چی دذکر الله اوعبارت پربنا باندی نه وو بلکه دظاهری ابادی اوانتظاماتو پربنا باندی وو په دی وجه جهاد یی ددی څخه افضل مقرر کی.

او دقرآن اواحادیثو په مجموعی ارشاداتو دفکر کولو څخه معلومیږی چی دیو عمل دبل عمل څخه افضل والی اواعلی والی دحالاتو او واقعاتو تابع وی په ځینو حالاتوکی یو عمل دبل څخه افضل وی اودحالاتو بدلیدو څخه وروسته معامله ددی برعکس کیدی هم سی کم وخت چی اسلام اومسلمانانو ته ددفاع سخت ضرورت وی دغه وخت یقیناً جهاد به دټولو عبادتونو څخه افضل وی لکه دخندق په غزا کی دنبی کریم ﷺ څخه دځلورو لمونځونو دقضا کیدو دواقعی څخه ښکاره ده اوکوم وخت چی داسی سخت ضرورت نه وی، نو ذکر الله او عبادت په مقابله دجهاد کی افضل وی.

دآیت په آخر کی یی، وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ: وفرمایل اودایی وښوولە چی داځه ګرانه او باریکه خبره نه ده بلکه بالکل واضحه ده چی ایمان دټولو عملونو بنیاد اودټولو څخه افضل دی اوداچی جهاد په نسبت دعمارت دمسجد اوحاجیانو لره داوبو ورکولو څخه افضل دی لیکن الله ﷻ بی انصافو خلګو ته پوهه نه ورکوی، په دی وجه هغوی په داسی ښکاره خبرو کی کوږوالی لټوی.

په شلم آیت کی ددی مضمون تفصیل دی کوم چی په اولنی آیت کی دلاَ یَسْتَوُوْنَ په الفاظو سره بیان سوی دی یعنی ایمان راوړونکی مجاهدین اوصرف جمات ابادونکی او حاجیانو لره اوبه ورکوونکی دالله ﷻ په نزدبرابرنه دی په دی کی ارشاد فرمایی: اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَاللّٰهِ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ: یعنی هغه خلق کوم چی ایمان راوړی اوکوموچی هجرت وکی اوپه خپل ځان اومال سره یی دالله ﷻ په لاره کی جهادوکی دغه دالله ﷻ په نزدپه درجه کی لوی دی اوپوره کامیابه دغه خلق دی څکه چی د دوی په مقابله کی چی کوم مشرکان دی دوی ته خودکامیابی هیڅ درجه هم حاصله نه ده اوکوم چی مسلمانان دی که څه هم په نفس کامیابی کی دغه هم شریك دی مګر ددوی کامیابی دهغو

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه زیاته ده په دی وجه پوره کامیابه داخلګ دی.

په یوویشتم اودوه ویشتم آیتونو کی ددی کامیابو خلګو دلوی اجر او اخرت د درجو بیان دی ، يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُقِيمٌ ! خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ : یعنی دی خلګو ته د دوی پروردګار خو شخبری اوروی دخپل رحمت او رضا او دداسی جنتونو په کومو کی چی به د دوی دپاره همیشه قائم پاته کیدونکی نعمتونه وی او دا خلګ به هم په دی نعمتونو کی همیشه اوسی دوی به ددی ځای څخه هیڅ چیری ونه ایستل سی بیشکه دالله ﷻ سره ډیر لوی اجر دی.

په ذکر سوو آیتونو کی دهجرت اوجهاد دفضیلتونو بیان راغلی دی په کومو کی چی وطن اوخپل خپلوان اویاران دوستان اومالونه جائداد ونه ټول پریښوول وی اوښکاره ده چی دانسان په طبیعت داکار ډیر ګران وی په دی وجه په راتلونکی آیت کی ددی شیانو سره دحد څخه دزیات تعلق اومحبت بدوالی فرمایی اودمسلمانانو ذهنونه یی دهجرت اوجهاد دپاره تیار کړی دی ارشاد فرمایی : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ : یعنی ای ایماندارو تاسی خپل پلار نیکه اوورونه ملګری مه جوړوی که دغه خلګ کفر په مقابله دایمان کی عزیز لری اوپه تاسی کی چی کوم سړی د دوی سره سره د دوی دکفره ملګرتیا ساتی ، نو داسی خلګ لوی نافرمانه دی.

دمور اوپلار خوندی ورونه اوټولو قریبانو سره تعلق مضبوط ساتل او ددوی سره دښه سلوک کولو دهدایاتو څخه ټول قرآن ډک دی مګر په دی آیت کی یی داوښوولو چی دهر یو تعلق یوحدوی په دی کی هریو تعلق برابره خبره ده که دمور اوپلار اواولاد وی اوکه د حقیقی خوندو او ورونو دالله ﷻ او دهغه درسول دتعلق په مقابله کی دنظر انداز کولو قابل دی پرکومه موقع چی دا دواړه قرابتونه ټکراو وخوری نو بیا قرابت اوتعلق دالله ﷻ او درسول قائمول په کار دی ددی په مقابله کی ټول نور تعلقات نظر انداز کول په کار دی.

(دذکرسوو آیتونو متعلق څوفائدی اومسئلی)

د ذکرسوو پنځو آیتونو څخه یوڅو فائدی او مسئلی حاصلی سوی ، اول دا چی ایمان دعمل روح دی ددی څخه بغیر که هرڅومره ښه عمل وی هغه صرف بی روحه صورت وی اوناقابل قبول وی داخرت په نجات کی ددی هیڅ قیمت نسته ، ها دالله ﷻ په نزد بی انصافی نسته دکافرانو داسی بی روحه نیک عملونه هم بالکل نه ضائع کوی ددوی بدله دوی ته په دنیا کی په ارام اوعیش دولت اوراحت ورکولو سره حساب بی باقه کول کیږی چی بیان یی دقرآن کریم په ډیرو ایتونو کی راغلی دی.

دوهمه فائده ددی ایتونو څخه داحاصله سوه چی په ګناه اونافرمانی سره دانسان عقل هم خراب سی ښه بد اوبد ښه ګڼی دنولسم آیت په اخرکی : اِنَّ اللهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ یی وفرمایل دی طرف ته یی اشاره کړیده لکه چی ددی په مقابله کی په یوآیت کی: اِنْ تَتَّقُوا اللهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وفرمایل اودی طرف ته یی اشاره کړیده چی په اطاعت او تقوی سره دانسان عقل روښانه کیږی دفکر سلامتی نصیب کیږی اودښه اوبدپه تمیزکی غلطی نه کوی.

دریمه مسئله دا ورڅخه معلومه سوه چی په نیکو عملونو کی هم دیوبل څخه ښه والی دی او په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

مناسبت سره دعمل کوونکو په درجوکی تفاضل قائمیږی ټول عمل کوونکی په یوه درجه کی نه سی اینبوول کیدی اومدار دعمل پرډیروالی نه دی بلکه پرښه والی دعمل دی په سورة ملك کی راغلی دی ، لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلاً : یعنی الله ﷻ ستاسی ازمائش کوی ، چی څوك زیات ښه عمل کوونکی دی .

څلورمه فائده دا څینی حاصله سوه چی دراحت اونعمت دهمیشه پاته کیدو دپاره دوه شیان ضروری دی یوداچی دغه نعمت هیڅ وخت ختم نه سی دوهم داچی هیڅ وخت دغه خلګ ددی نعمتونو څخه جلا نه سی په دی وجه دالله ﷻ مقبولو بندګانو ته ددوو شیانو ضمانت ورکول سو نَعِيْمٌ مُقِيْمٌ یی وفرمایل اودنعمتونو همیشه والی یی بیان کی او ، خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا یی وفرمایل او ددغو خلګو هیڅکله ددی نعمتونو څخه دنه لیری کولو اطمینان یی ورکی .

(اصل قرابت داسلام او ایمان قرابت دی نسبي او وطني تعلقات ټول په دی قربانول په کار دی)

پنځمه مسئله یوه بنیادی مسئله ده چی دقریبی او دوستی پرټولو تعلقاتو دالله اودهغه درسول ﷺ تعلق مخکی دی کوم تعلق چی ددی سره ټکراو خوری هغه دماتولو قابل دی داصحابو کرامو ﷺ هغه عمل دکوم په وجه چی هغوی پرټول امت افضل مقررسول داشی وو چی دوی په نبی کریم ﷺ خپل ځانونه اومالونه اوهره خپلولی اوتعلق قربان کړل ، په زبان حال سره یی داسی وویل .

تو نخل خوش ثمر کیستی که سرود سمن همه زخویش بریدند وباتو پیوستند

یعنی ته څومره دښی میوی درخته یی چی سرو او رامبیلو ټولو دخپلو خپلوانو څخه قطع تعلق وکی اوستا سره پیوست سول .

بلال حبشی ﷺ صهیب رومی ﷺ سلمان فارسی ﷺ دمکی قریش دمدینی انصار خوټول په خپل مینځ کی ورونه ورونه سول اودبدر اواُحد په میدانونو کی دپلار زوی ورور او ورور توری دیوبل سره ټکراو سوی ددی شاهدی یی ورکړه چی ددوی مسلك دا وو چی .

هزار خویش که بیگانه ازخدا باشد فدائی یك تن بیگانه کآشنا باشد

یعنی په زرګونو خپلوان چی دخدای څخه پردی وی تریوه پردی دی قربان سی چی دخدای سره اشنا وی .

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا اِتِّبَاعَهُمْ وَاجْعَلْ حُبَّكَ اَحَبَّ الْاَشْيَاءِ اِلَيْنَا وَخَشْيَتَكَ اَخْوَفَ الْاَشْيَاءِ عِنْدَنَا آمين

یا الله ددوی تابعداری زمونږ نصیب کړی اوخپل محبت مونږ ته دهرشی دمحبت څخه زیات محبوب کړی اوخپله بیره مونږ ته دټولو شیانو دبیری څخه زیاته نصیب کړی امین یا رب العٰلمین .

قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ

ته ووایه که ستاسی پلرونه اوزامن اورونه .

وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ ِۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ

او ښځی او برادری اومالونه کوم چی تاسی ګټلی دی اوسوداګری

Maktaba Tul Ishaat.com

تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

دکومی دبندید وځخه چی تاسی بیربړی اوکورونه کوم چی تاسی خوښوی تاسی ته زیات خواږه وی دالله

وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ

اودهغه درسول ځخه او دجهاد ځخه دهغه په لاره کی ، نو انتظار کوی تردی چی راولیږی الله ﷻ خپل حکم ،

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۴﴾

او الله ﷻ لار نه ښیی نافرمانه خلګو ته .

لنډتفسیر: (مخ ته ددی مضمون زیات تفصیل دی چی ای محمد ﷺ) ته (دوی ته) ووایه چی که ستاسی پلرونه ستاسی زامن اوستاسی ورونه اوستاسی بیبیانی اوستاسی خاندان اوهغه مال کوم چی تاسی ګټلی دی او هغه تجارت دکوم چی دبندیدو ستاسی بیره ده او هغه کورونه کوم چی (داوسیدو دپاره) تاسی خوښوی (که چیری داشیان) تاسی ته دالله اودهغه درسول ځخه اودهغه په لاره کی دجهاد کولو ځخه زیات خواږه وی نوتاسی انتظار کوی تردی چی الله خپل حکم (دهجرت نه کولو سزا) راولیږی (لکه چی په نورو ایتونو کی دی : إِنَّ الَّذِينَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ تر: فَأُولٰئِكَ مَأْوٰهُمْ جَهَنَّمُ پوری او الله ﷻ نافرمانه خلګ د دوی مقصود ته نه رسوی (یعنی د دوی مقصود وو ، ددی شیانو ځخه نفع اخستل او هغه دیر ژر په مرګ سره قطع سی)

معلومات اومسئلې: دسورة توبه دا ایت په اصل کی دهغو خلګو په باره کی نازل سو کمو چی دمکی ځخه دهجرت فرض کیدوپه وخت کی هجرت ونه کی مور پلار خوندی ورونه اولاد اوښځی اودمالونو جائدادونو محبت دوی دفرضِ هجرت داداکولو ځخه منع کړل ددوی په باره کی الله ﷻ نبی کریم ﷺ نه دا حکم وکی چی ته دی خلګو ته ووایه چی .

(که ستاسی پلرونه ستاسی زامن ستاسی ورونه اوستاسی بیبیانی اوستاسی خاندان او هغه مال کوم چی تاسی ګټلی دی اوهغه تجارت دکم دکوټ کیدو چی ستاسی سره بیره ده اوهغه کورونه کم چی تاسی یی خوښوی تاسی ته دالله ﷻ ځخه اودهغه درسول ځخه او دهغه په لاره کی دجهاد کولو ځخه زیات خواږه وی نوتاسی انتظار کوی تردی پوری چی الله ﷻ خپل حکم راولیږی اوالله ﷻ نافرمانی کوونکی د دوی مقصود ته نه رسوی)

په دی آیت کی چی کوم دا ارشاد فرمایلی دی چی منتظر اوسی تردی چی الله ﷻ خپل حکم راولیږی دتفسیر امام مجاهد رحمه الله فرمایی چی دحکم ځخه مراد جهاد او قتال او دمکی دفتحی حکم دی اومطلب دادی چی دغه وخت پردنیاوی تعلقاتو باندی دالله اورسول دتعلقاتو قربانوونکو بد انجام (دیر ژر مخ ته راتلونکی دی چی مکه به فتح سی اونا فرمانی کوونکی به ذلیل اوخوارسی اوددوی دانعلقات به دغه وخت ددوی په کار ورنه سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوحضرت حسن بصری فرمایی چی دلته دحکم څخه مراد حکم دعذاب دی چی پردنیوی تعلقاتو باندی داخرت دتعلقاتو قربانوونکو اوهجرت نه کوونکو باندی دالله ﷻ دعذاب حکم ډیر ژر راتلونکی دی یابه په دنیاکی پردوی عذاب راسی کنه نوداخرت عذاب خو یقینی دی په آیت کی دلته مقصود خودهجرت په نه کولو باندی زورنه دعذاب ده مګر ذکر پرځای دهجرت دجهاد سوی دی کوم چی دهجرت څخه وروسته قدم دی په دی کی اشاره وسوه چی اوس خوصرف دهجرت اووطن پریښوولو حکم سوی دی په دی کی څه خلګو همت وبایلی مخ ته دجهاد حکم راتلونکی دی په کوم چی دالله اورسول په محبت باندی ټول محبتونه اوپه خپله خپل ځان قربانول وی اوداهم ممکنه ده چی دلته یی هجرت په جهاد سره تعبیر کړی وی ځکه چی دغه هم په حقیقت کی دجهاد یوشعبه ده.

اودایت په اخر کی یی ، وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الْفٰسِقِیْنَ وفرمایل اودایی هم وښوولە چی کوم خلګ دهجرت دحکم باوجود خپلو دنیوی تعلقاتوته ترجیح ورکړی اودخپلو خپلوانو او مال اومکان سره مینتی پاته سی نوددوی داعمل به په دنیا کی هم ددوی دپاره فائده مند نه وی او ددوی دامقصد به حاصل نه سی چی همیشه په خپل اهل او عیال او مال اومکان کی په امن اوارام سره پاته سی بلکه دجهاد دحکم شروع کیدو سره به داټول شیان ددوی دپاره وبال دجان جوړسی ځکه چی الله ﷻ نافرمانی کوونکی د دوی مقصود ته نه رسوی.

دهجرت متعلق مسئلي: اول ، کله چی دمکی څخه مدینی ته هجرت فرض سو نو دغه صرف یوفرض نه وو بلکه دمسلمانیدو یوه نښانه وه چاچی سره دقدرته هجرت ونه کی هغه به مسلمان نه ګڼل کیدی داحکم دمکی دفتح څخه وروسته منسوخ سو اواصل حکم داباقی پاته سو چی په کومه ځکه باندی انسان ته دالله داحکامو لمونځ روژه وغیره پوره کول ممکن نه وی ددغه ځکی څخه هجرت کول دهمیشه دپاره فرض دی په دی شرط چی پرهجرت یی قدرت وی.

دوهمه درجه داده چی بنده هرداسی ځای پاته کړی کم ځای چی فسق اوفجور زیات وی دادهمیشه دپاره مستحب دی (تفصیل ددی په فتح الباری کی دی)

په ذکرسوی آیت کی خوسیده په سیده خطاب هغو خلګوته دی کمو چی دهجرت دفرض کیدو په وخت کی ددنیوی تعلقاتو په وجه هجرت ونه کی لیکن دایت دالفاظو عاموالی ټولو مسلمانانوته دا حکم کوی چی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ محبت په دی درجه کی لازم اوواجب دی چی بل هیڅ تعلق اوهیڅ محبت پردی غالب رانه سی اوچاچی په دی درجه کی محبت پیدانه کی دغه مستحق دعذاب سو دوی ته دالله ﷻ دعذاب منتظر اوسیدل په کار دی.

(رښتیني ایمان ددی څخه بغیر نه سي کیدی چي دالله ﷻ او درسول ﷺ محبت دټولي دنیا او په خپله دخپل ځان څخه هم زیات نه وی)

په دی وجه په یو صحیح حدیث کی کوم چی په صحیحینو کی په روایت دانس ﷺ نقل دی نبی کریم ﷺ فرمایی چی یوسړی ترهغه وخته پوری مومن نه سی کیدی ترڅو چی زه دده په نزد دده دمور اوپلار اواولاد ددنیا دټولو خلګو څخه زیات محبوب نه سم.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه ابوداؤد ترمذی کی په روایت دابوامامه ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی یوسړی دچاسره دوستی کوی نو دالله ﷻ دپاره یی کوی او چی دښمنی کوی ، نو هم دالله ﷻ دپاره یی کوی اوکه مال خرڅ کوی نوهم دالله ﷻ دپاره یی کوی ، اوکوم ځای چی خرڅ نه کوی ، نو هغه هم دالله ﷻ دپاره نوره خپل ایمان مکمل کی .

دحدیث ددی روایتونو څخه داهم ثابته سوه چی دایمان مکمل والی پردی باندی موقوف دی چی دنبی کریم ﷺ محبت پرتولو محبتونو باندی غالب وی اودانسان دوستی دښمنی ورکړه یانا ورکړه تول دالله ﷻ او درسول ﷺ دحکم تابع وی .

دتفسیر امام قاضی بیضاوی رحمة الله علیه وغیره فرمایی چی ډیرکم خلګ دی چی ددی آیت دوعدو څخه مستثنیٰ وی ، ځکه چی په عام طور سره دلوی څخه لوی عالم عابد زاهد اومتقی هم داهل او عیال اومال اومتاع په محبت کی مغلوب په نظر راځی اِلاّ مَا شَاءَ الله مګرددی سره قاضی بیضاوی رحمة الله علیه فرمایی چی دمحبت څخه مراد دلته اختیاری محبت دی غیر اختیاری اوطبعی محبت مراد نه دی ځکه چی الله ﷻ یو انسان ته دهغه دطاقت اواختیار څخه زیات تکلیف نه ورکوی په دی وجه که دیو سړی زړه ددی دنیوی تعلقاتو څخه په طبعی محبت سره ډک وی مګر ددی څخه دومره مغلوبه نه وی چی دالله ﷻ اورسول داحکامو دخلاف ورزی پرواه نه کوی نوهغه هم ددی وعید څخه خارج اودالله ﷻ اود رسول ﷺ دمحبت غالب لرونکی دی لکه یو ناجوړی چی ددوایی دتریخوالی څخه یاد اپریشن دتکلیف څخه طبعًا بیره کوی مګر عقلاً دا دخپل نجات اوسلامتی ذریعه ګڼی اواختیارًا وی نودی دهیڅاپه نزد دملامتیا قابل نه دی اونه یوعقل سلیم دی پردی مجبوره کوی چی طبعی اوغیر اختیاری بیره اوبد ګڼل هم دزړه څخه وباسی دغه رکم چاته دمال اواولاد دمحبت په وجه دالله ﷻ دځینو حکمونوپه پوره کولوکی غیر اختیاری تکلیف محسوسیږی مګرددی باوجود دی دغه تکلیف برداشت کوی اودالله ﷻ حکمونه پرځای راوړی ، نو دغه هم دملامتولو قابل نه دی بلکه دشاباسی قابل دی او ده ته به دالله ﷻ او رسول ﷺ دمحبت ددی آیت مطابق غالب لرونکی ویل کیږی .

البته په دی کی شك نسته چی دمحبت اعلی مقام دادی چی محبت پرطبیعت هم غالب راسی اودمحبوب دحکم پوره کولو خوند هرتریخوالی اوتکلیف خوږ جوړکی لکه دفانی دنیا خوند اوراحت طلب کوونکی چی شپه او ورځ لیدل کیږی چی دلوی څخه لوی محنت اومشقت په خندا اوهوس اختیاروی دیودفتر په ملازمت کی، دمیاشتی په څټمیدو دیو څو پیسو دورکول کیدو محبت دانسان پرخوب او ارام اوتولو تعلقاتو داسی غالب راسی چی ددی څخه وروسته راتلونکی مشقتونه په ډیرو کوششونو سفارشونو اورشوتونو سره حاصلوی .

رنج راحت شد چو مطلب شد بزرگ گرد گله تو تیائی چشم گرگ

یعنی کله چی مطلب اوغرض لوی وی نودهغه دپاره تکلیف تیرول راحت معلومیږی لکه چی دګلی دپښو ګرد دشرمښی دسترګو رانجه وی .

خدائی خلګو ته دامقام دالله ﷻ اودرسول ﷺ اوداخرت دنعمتونوپه محبت کی هم داسی حاصلیږی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی په مقابله کی یوتکلیف هم تکلیف نه گنی دصحیحینو په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دری خصلتونه داسی دی چی داپه کم سړی کی پیداسی نوده ته دایمان خوند حاصل سی هغه دری خصلتونه دادی یوداچی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ده ته ددوی څخه ماسوا دهرشی څخه زیات محبوب سی دوهم داچی دی دالله ﷻ دیوبنده سره صرف دالله دپاره محبت ساتی دریم داچی کفر اوشرک ده ته په اور کی داچولو په شان محسوسیږی.

په دی حدیث کی دایمان دخوند څخه مراد دمحبت هغه مقام دی کم چی دانسان دپاره هر مشقت اومحنت خوندناك جوړوی.

از محبّت تلخها شیرین شود

په محبت سره ټول ترخه خواړه جوړ سی اوخوند دار سی ددی مقام متعلق څینی عالمانو فرمایلی دی.

وَاِذَا حَلَتِ الْحَلَاوَةُ قَلْبًا لَشَطَتْ فِی الْعِبَادَةِ الْاَعْضَاءُ

یعنی کله چی دچاپه زړه کی خوند اوخوږوالی دایمان پیداسی نوپه عبادت اواطاعت کی دده اندامونه خوند پیدا کی اوخوند ورته حاصلیږی.

ددی څخه په څینو روایتونوکی په بشاشت یعنی تازګی دایمان سره تعبیر سوی دی او په حدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی زما دسترګو یخوالی په لمانځه کی دی.

قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله په تفسیرمظهری کی فرمایی چی دالله اودرسول دمحبت دامقام یوی نعمت دی مګر داصرف دخدایی خلګو په صحبت اوملګرتیا کی حاصلیږی په دی وجه صوفیاء کرام دمشائخو په خدمت سره ددی دحاصلولو تاکید کوی صاحب دروح البیان فرمایی چی دامقام ددوستی هغه چاته حاصلیږی کوم چی دخلیل الله په شان دخپل مال اواولاد اوخپل ځان دالله ﷻ په محبت کی قربانولو ته تیار وی.

خلیل آسا در ملك یقین زن نوائی لا اُحبّ الآفلین زن

دحضرت خلیل په شان یقین حاصل کړه اواواز وکی چی فنا کیدونکی نه خوښوم.

قاضی بیضاوی فرمایی چی دنبی کریم ﷺ دسنتو حفاظت اوپه دی کی دسریو کوونکو دفع کول هم دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ سره دمحبت یوښکاره نښانه ده.

الله ﷻ دی زمونږ او دټولو مسلمانانو دالله ﷻ او رسول ﷺ محبت نصیب کړی، داسی چی دی باندی رضا کیږی. آمین

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِیْ مَوَاطِنَ كَثِیْرَةٍ ۙ وَّیَوْمَ حُنَیْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ

مدد کړی دی الله ستاسی په ډیرو میدانونوکی اودحنین په ورځ کله چی خوشحاله سواست تاسی په خپل ډیروالی

تُغْنِ عَنْكُمْ شَیْـًٔا وَّضَاقَتْ عَلَیْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ

بیا هغه هیڅ په کار درنه غی ستاسی او تنګه سوه پرتاسی مځکه سره دخپلی فراخی بیا ولاړاست تاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَ

پرشا باندی ، بیا نازل کی الله ﷻ دخپل طرف څخه تسکین په خپل رسول باندی

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ

اوپه ایماندارو باندی اونازل یی کړل فوجونه کوم چی تاسی نه لیدل اوعذاب یی ورکی

كَفَرُوْا ۭ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶﴾ ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ

کافرانو لره ، او دا سزا ده دمنکرانو ، بیا توبه نصیب کوی الله چالره چی غواړی

ذٰلِكَ عَلٰى مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۷﴾

ددی څخه وروسته او الله بخښنی والا مهربانه دی .

لنډتفسیر: تاسو لره الله (د جنګ) پردیرو موقعو (پرکفارو) غلبه درکړه (لکه په بدر وغیره کی) اودحنین په ورځ هم (چی قصه یی عجیبه اونا اشناده تاسی لره یی غلبه درکړه) کله چی (واقعه داسوی وه چی) تاسی خپل ډیروالی مغروره کړی واست بیادغه ډیروالی ستاسی هیڅ په کار درنغی او (دکفارو دغشوباران داسی پریشانه کړاست چی) په تاسی محکه سره دخپلی (دی فراخی تنګه سوه) بیا (اخر) تاسی په شا وتښتیدلاست ددی څخه وروسته الله ﷻ (په زړه) دخپل رسول اوپه (زړونود) نورو مومنانو خپله تسلی نازله کړه او (دمدد دپاره یی) داسی لښکر (دآسمان څخه) نازل کی کوم چی تاسی نه لیدی (مراد څینی ملائکی دی چی ددی څخه وروسته تاسی بیاجنګ ته تکړه سواست اوغالب سوی) او (الله ﷻ) کافرانوته سزاورکړه (چی هزیمت اوقتل اوقیدسول) اوداد کافرانو (په دنیاکی) سزاده بیاالله ﷻ (په دی کافرانوکی) چاته چی وغواړی توبه به نصیب کړی (چنانچی ډیرپه کی مسلمانان سول) اوالله ﷻ لوی مغفرت کورونکی لوی رحمت کورونکی دی (چی کوم سړی په دوی کی مسلمانان سوه دهغه تیر تول ګناهونه یی معاف کړل او مستحق دجنت یی کی)

معلومات اومسئلې: په ذکرسوو ایتونوکی دحنین دغزا واقعات دشکست اودفتح او ددی په ضمن کی دډیرو اصولی اوفروعی مسئلو اوفائدو بیان دی لکه چی ددی څخه په مخکی سورة کی دمکی فتح اوددی دمتعلقاتو ذکروو دایت په شروع کی الله ﷻ دخپل هغه انعام اواحسان ذکر فرمایلی دی کوم چی پرمسلمانانو په هرحالت کی اوهره موقع کی سوی دی ارشاد فرمایی ، لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ یعنی الله ﷻ ستاسی مدد فرمایلی دی په ډیرو ځایونو کی او ددی ابتدایی بیان څخه وروسته په خصوصیت سره فرمایی ، وَيَوْمَ حُنَيْنٍ یعنی دحنین دغزا په ورځ هم دالله ﷻ مدد را ورسیدی .

دحنین دغزا خصوصیت یی په دی وجه بیان فرمایلی دی چی په دی کی ډیر واقعات او حالات دتوقع څخه خلاف په عجیبه اندازکی ښکاره سوه چی په دی کی په غور کولو سره دانسان په ایمان کی قوت

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه عمل کی همت پیدا کیږی په دی وجه دذکرسوو ایتونو دلفظی تشریح څخه مخکی ددی غزا ضروری واقعات کوم چی دحدیثو اوتاریخ په مستندو کتابونوکی ذکردی څه قدرپه تفصیل سره بیانول مناسب دی چی په ذکر سوو ایتونو باندی پوهیدل اسان سی اودکومو فائدو دپاره چی داواقعات بیان سوی دی هغه مخ ته راسی ددی واقعاتو ډیره حصه دتفسیر مظهری څخه راخستل سوي ده چی په دی کی په حواله دکتابونو دحدیثو او تاریخ واقعات ذکر دی.

حنین دمکی مکرمی او طائف په مینځ کی دیو مقام نوم دی ، چی دمکی مکرمی څخه دلسو میلو څخه په لږ زیاته فاصله واقع دی په رمضان سنه ۸ هجری کی کله چی مکه مکرمه فتح سوه اودمکی مکرمی قریشو دنبی کریم ﷺ په مخکی وسله وغورزوله نودعربو یوه ډیره لویه مشهوره بهادره جنګ کوونکی اومالداره قبیله ، هوازن دکومی چی یوښاخ دطائف اوسیدونکی بنوثقیف هم وه په دوی کی یوشور خپور سو دوی جمع سول اودایی وویل چی دمکی دفتح کیدو څخه وروسته اوس مسلمانانو ته کافی قوت حاصل سو ددی څخه دفارغ کیدو څخه وروسته لازمی خبره ده چی ددوی مونږ ته مخ سی په دی وجه دهوښیارتیا خبره دا ده چی د دوی دحملی کولو څخه مخکی مونږ په خپله په دوی حمله وکړو ددی کار دپاره هوازن خپل ټول ښاخونه کم چی دمکی څخه ترطائف پوری خپاره وه جمع کړل ددی قبیلی ټول لوی واړه بغیر دیو څو کسانو څخه چی دسلو څخه یی هم شمیر کم وو ټول جمع سول.

ددی تحریک لیډر (لار ښوود) مالك بن عوف وو چی بیا وروسته مسلمان سو اوداسلام لوی علمبردار ثابت سو داوخت دمسلمانانو خلاف دحملی دټولو څخه زیات جوش په ده کی وو دقبیلی ډیرو خلګو دده درایی سره اتفاق وکی اودجنګ تیاری یی شروع کړی ددی قبیلی کوچنی کوچنی دوه ښاخونه بنو کعب اوبنو کلاب ددی رایی سره متفق نه سوه الله ﷻ دوی ته څه پوهه ورکړی وه دوی وویل که دمشرق څخه ترمغربه پوری ټوله دنیا هم دمحمد ﷺ خلاف جمع سی نوهم به دی غالب باندی راسی مونږ دخدایی طاقت سره جنګ نه سو کولی باقی نورو ټولو وعده وکړه اومالك ابن عوف ددی ټولو په پوزه قوت سره پرجنګ دقائم پاته کیدو یوتدبیر داوکی چی دهرسړی سره به خپل ټول اهل او عیال هم ځی اوخپل ټول مالونه به هم دځان سره باسی ددی مقصد داوو چی که دوی دمیدان څخه تښتی نودښځو بچیانو اومال محبت ددوی پښوته زنځیر جوړیږی اودمیدان څخه به تیښته نه سی کولی ددوی دتعداد په باره کی دتاریخ مختلف قولونه دی دحدیثو حافظ علامه ابن حجر رحمه الله وغیره راجح دامقرر کړي ده چی څلیر ویشت یا اته ویشت زره مجمع وه اوځینو حضراتو دځلورو زرو تعداد بیان کړی دی داممکنه ده چی ټول دښځو اوبچیانو سره اته ویشت زره وی یاځلیر ویشت زره اوجنګ کوونکی ځوانان په دوی کی څلور زره وی.

بهرحال نبی کریم ﷺ ته په مکه مکرمه کی ددوی ددی خطرناکو ارادو اطلاع ورکول سوه نو دوی ددی خلګو مقابلی ته دتلو قصد وفرمایی پرمکه مکرمه باندی یی حضرت عتاب رضی الله عنه بن اُسید امیر مقرر کی اوحضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه یی دده سره خلګوته داسلامی تعلیماتو دښودنی دپاره پرینښووی اودمکی دقریشو څخه یی وسله اواسباب دجنګ په سوالی طور سره وغوښتله صفوان بن امیه کم چی دقریشو سردار وو وی ویل چی ایا دا اسباب دجنګ ته زمونږ څخه غصب کول غواړی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی

Maktaba Tul Ishaat.com

نه! بلکه په عاریت سره یی اخلم چی ددی بیرته درکول به زما پرذمه وی چی دایی واوریدل نوهغه سل زغری مستعار ورکړی اونوفل بن حارث دری زره نیزی دغه ډول پیش کړی دامام زهری دروایت مطابق نبی کریم ﷺ دځوارلس زره لښکر سره ددوی طرف ته روان سو چی په دوی کی دولس زره مدینی انصاروه کوم چی دمکی فتح کولودپاره ددوی سره راغلی وه اودوه زره هغه مسلمانان وه کوم چی دمکی او داطرافو دمکی دخلکو څخه دفتح په وخت کی مسلمانان سوی وه کموته چی طلقاء ویل کیږی دکوچنی اختر په شپږم تاریخ دهفتی په ورځ حضور ﷺ ددی غزا دپاره ووتی اووی فرمایل چی صبا به انشاء الله تعالی زمونږ قیام دخیف بن کنانه پر هغه مقام باندی وی کم څای چی دمکی قریش جمع سوی وه اودمسلمانانو خلاف یی دمقاطعی دپاره عهد نامه لیکلی وه .

دادځوارلس زره مجاهدینو لښکر خود جهاد دپاره ووتی ددوی سره دمکی بی شمیره خلک سړی اوښځی دتماشی دپاره ووتل چې ددوی په زړونو کی په عام طور سره داوه چی که په دی موقع مسلمانانو ته شکست وسو نومونږ ته به هم دخپل بدل اخستو موقع ورسیږی اوکه دوی کامیاب سول نوهم زمونږ څه نقصان نسته .

په دی قسم خلګو کی یوشیبه بن عثمان هم وو کم چی بیا مسلمان سو په خپله یی خپله واقعه بیان کړه چی دبدر په غزا کی زماپلار دحضرت حمزه ﷺ دلاس څخه او اکا دحضرت علی ﷺ دلاسه مړه سوی وه چی دهغوی دبدل اخستو جوش اوانتهایی غصه زماپه زړه کی وه مادامو قع غنیمت وګڼله دمسلمانانو سره سومه چی کله موقع پیداکړم نوپه نبی کریم ﷺ باندی حمله وکړم زه د دوی سره وم هروخت می موقع تلاش کوله تردی چی ددی جهادپه ابتدایی وخت کی کله چی دمسلمانانو پښی وښویدی اوڅوی وتښتیدل نوما موقع پیداکړه اوحضور ﷺ ته نژدی ورسیدم مګر ما ولیدل چی راسته طرف ته حضرت عباس ﷺ د دوی حفاظت کوی اوچپه طرف ته ابوسفیان ابن حارث په دی وجه زه دشا طرف څخه راغلم اواراده می کوله چی دتوری یوه ناڅاپی حمله باندی وکړم چی ناګهانه ددوی پرما نظر ولویدی اوماته یی اواز وکی چی شیبه دی خواته راسه زه یی نژدی راوغوښتم اولاس مبارك یی زماپه سینه کښی ښوری اودعا یی وکړه چی یا الله دده څخه شیطان لیری کړی اوس چی مانظر پورته کی نونبی کریم ﷺ زماپه زړه کی ماته دخپلو ستړګو غوږونو اوروح څخه هم زیات خوږ سوی وو نبی کریم) ماته حکم وکی چی ورسه دکفارو مقابله کوه اوس خو زما دا حال وو چی ماخپل ځان په دوی قربانوی اوپه ډیره بی دلاوری سره می ددښمن مقابله وکړه کله چی نبی کریم ﷺ ددی جهاد څخه بیرته راغی نوزه یی په خدمت کی حاضر سوم دوی ماته زما دزړه ټول خیالات وښوول چی ته دمکی څخه په دی نیت سره وتلی وی اوزما چاپیره به زما دقتل دپاره ګرځیدی مګر دالله ﷻ اراده ستا څخه دنیك کار اخستو وه کومه چی وسوه .

دغه ډول واقعه نضربن حارث ته هم پیښه سوه چی دی هم په دی نیت سره حنین ته تللی وو هلته چی ورسیدی نوالله ﷻ دده په زړه کی دنبی کریم ﷺ معصومیت اومحبت وغورځوی او یومرد مجاهد جوړ سو او ددښمن دصفونو سره وجنګیدی .

په دی سفر کی ابوبرده بن نیار ﷺ ته داواقعه پیښه سوه چی مقام اوطاس ته ورسیدی نو وی لیدل چی

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی کریم ﷺ تریوی درختی لاندی تشریف فرمادی اویو بل سړی ددوی په خواکی ناست دی نودوی ورته ذکر وکی چی زه بیده وم داسړی راغی اوزما توره یی په خپله قبضه کی واخسته اوزما پرسر ودریدی او وی ویل چی ای محمده ﷺ اوس وایه چی تابه څوك زما دلاس څخه خلاص کړی؟ ماجواب ورکی چی الله ﷻ می خلاص کولی سی چی دایی واوریدل نوتوره یی دلاس څخه ولویده ابوبرده ﷺ عرض وکی چی یارسول الله اجازه راکړه چی زه دخدای ددی دښمن څټ ووهم دادښمن قوم جاسوس معلومیږی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ابوبرده چپ سه الله ﷻ زما حفاظت کوونکی دی ترڅو پوری چی زمادین پرتولو دینونو غالب رانه سی او دوی دغه سړی څه ملامت هم نه کی اوازاد یی پریښووی.

دحنین مقام ته چی ورسیدل اومسلمانانو هلته دیره سوه نو حضرت سهیل بن حنظله ﷺ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی دا خبر راوړی چی په آس سپور سړی اوس ددښمن دطرف څخه راغلی دی هغه وایی چی دهوازن قبیلی ټول خلګ سره دخپل ټول اسبابه مقابلی ته راغلی دی ، نبی کریم ﷺ چی دا واوریدل نو تبسم یی وفرمایی اووی فرمایل چی پروامه کوی دا ټول اسباب دمسلمانانو دپاره مال غنیمت دی او د دوی په لاس به ورسی.

دلته دوی پاته سوه نبی کریم ﷺ حضرت عبدالله ﷺ بن حداد جاسوس جوړکی اووی لیږی چی ددښمن پته ولګوی ، دی دغه قوم ته ولاړی دوی ورځی یی په کښی تیری کړی ، ټول حالات یی ولیدل واوریدل د دوی لیډر اوکماندر مالك بن عوف یی ولیدی چی دی خپلو خلګو ته وایی چی دمحمد ﷺ تر اوسه پوری دیوبهادر تجربه کار قوم سره مقابله نه ده سوی اوس به دوی ته پته ولګیږی تاسی ټول سم دسهارڅخه داسی صفونه برابر کړی چی دهر یوه پرشا دده ښځه اوبچی اومال وی او دخپلو تورو تیکیانی پریکړی اوټول په جمع په یو وار حمله وکړی ، دا خلګ دجنګ ډیر تجر کار وه دخپل فوج یو څو دستی یی په مختلفو ځایونو کی پټی کښینولی وی.

دی طرف ته دکفارو دلښکر دا تیاری وی بل طرف ته دمسلمانانو دا اولنی جهاد وو په کوم کی چی څوارلس زره سپایان دمقابلی دپاره راوتلی وه او دجنګ اسباب هم دهمیشه څخه زیات وه او دی خلګو دبدر او احد په میدانونو کی دا لیدلی وه ، چی صرف دری سوه دیارلسو بې اسبابه خلګو دزرو تنو په لښکر باندی فتح پیدا کړیده نونن یی په خپل ډیروالی اوتیاری نظر وکی دحاکم اوبزار دروایت مطابق په دوی کی دځینو دځلی څخه داسی الفاظ ووتل چی نن خو دا ممکنه نه ده چی مونږ دچا څخه مغلوبه سو ، نن خو به دمقابل کیدو سره دښمن تښتی.

مالك الملك والملکوت عزّ وجل ته داشی ناخوښه وو چی په خپل طاقت څوك بروسه وکړی چنانچی مسلمانانو ته ددی سبق داسی ورکول سو چی کله دهوازن قبیلی دقرار داد مطابق په جمع حمله وکړه او دغره په غونډیو کی پټو دستو دځلور طرفه څخه محاصره واچوله نوګرد اوغبار د ورځی څخه شپه جوړه کړه داصحابو کرامو پښی وښویدی او په تیښته سول صرف نبی کریم ﷺ په خپله سپرلی سپور دپه شا کیدو په ځای مخ ته کیدی او ډیر لږ صحابه کرام چی شمیر یی دری سوه اوځینو سل اوددی څخه هم کم ښوولی دی ، دنبی کریم ﷺ سره پاته سول او هغوی هم دا غوښتل چی دوی نور مخ ته ولاړ نه سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

چی داحالت یی ولیدی نو دوی ﷺ حضرت عباس ؓ ته حکم وکی چی په چیغه باندی اصحابو کرامو ؓ ته اوازوکړه چی هغه خلګ چیری دی چاچی ترشجری لاندی دجهاد بیعت کړی وو اوسورة بقره والا حضرات چیری دی اوهغه انصار چیری دی چاچی دځان قربانولو وعده کړی وه ؟ تولو لره په کار دی. چی بیرته راسی او نبی کریم ﷺ دلته دی. دحضرت عباس ؓ یوه چیغه دبجلی په شان خپره سوه اوفوراً تول تښتیدونکی پښیمانه سول اوپه ډیره زړه ورتیاسره بیرته راستانه سول او ددښمن مقابله یی وکړه په دی حالت کی الله ﷻ دفرښتو لښکر راولیږی ددوی کماندر مالك بن عوف خپل اهل او عیال اوتول پریښووی وتښتیدی اوولاړی دطائف په قلعه کی پټ سواوبیانورتول قوم وتښتیدی ددوی اویاسرداران مړه سوه دځینومسلمانانودلاسه څه بچی زخمی سول نونبی کریم ﷺ په سختی سره منع وفرمایله ددوی تول مال دمسلمانانوپه قبضه کی راغی شپږ زره جنګی قیدیان ځلور ویشت زره اوښان ځلویښت زره بزی ځلور زره اوقیه سپین زر په لاس ورغلل. په اول او دوهم آیت کی ددی مضمون بیان دی ارشاد فرمایی چی کله تاسی په خپل ډیروالی باندی مغروره سوی واست بیادغه ډیروالی ستاسی هیڅ پکار درنغی اومزکه سره دخپلی فراخی پرتاسی تنګه سوه بیاتاسی پرشا وتښتیداست بیا الله ﷻ خپله تسلی نازله کړه په خپل رسول اومسلمانانو او داسی دفرښتو لښکر یی را ولیږی چی تاسی نه لیدی اوکافرانو ته یی ستاسی په لاس سزا ورکړه. په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ، یعنی بیا الله ﷻ په خپل رسول اوتولو مسلمانانو خپله تسلی نازله کړه. معنی ددی دا ده چی دحنین دغزا په اوله مرحله چی کله دصحابه کرامو ؓ پښی وښوي دی الله ﷻ د دوی په زړونو خپله تسلی نازله کړه چی د دوی ښویدلی قدم بیا مضبوط سو او تښتیدونکی بیا راستانه سول اوپرنبی کریم ﷺ او د دوی په اصحابو ؓ کوم چی په مضبوطی سره ثابت قدم پاته سوه دتسلی نازلولو مطلب دادی چی دوی ته خپله فتح نژدی په نظر ورغله اوچونکی دتسلی دا دوه قسمونه وه یو دتښتیدونکو دپاره دوهم دنبی کریم ﷺ او دثابت قدم پاته کیدونکو دپاره دی طرف ته داشاری کولو دپاره یی ، عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ : جلا جلا په تکرار دعلی سره بیان فرمایلی دی. ددی ځخه وروسته فرمایی: وَاَنْزَلَ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا یعنی داسی لښکر یی نازل کی کم چی تاسی نه لیدی ددی ځخه مراد په عام طور سره دخلګونه لیدل دی دیو تن یادځو تنو ځخه کوم چی په ځینو روایتونو کی ددی لښکر لیدل نقل دی هغه ددی منافی نه دی.

بیا فرمایی ، وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ : یعنی کافرانو ته الله ﷻ سزا ورکړه او دکافرانو دا سزا وه ددی سزا ځخه مراد د دوی دمسلمانانو په لاس فتح کیدل او مغلوب کیدل دی کوم چی په واګه ولیدل سو مطلب دا دی چی دا دنیوی سزا وه کومه چی په فوری طور سره دوی ته ورکول سوه مخ ته داخرت دمعاملی ذکر په ورپسی آیت کی داسی راغلی دی.

ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ : یعنی بیا خدای ﷻ چاته چی وغواړی توبه به یی نصیب کړی ، او الله ﷻ لوی مغفرت کوونکی لوی رحمت کوونکی دی.

په دی کی اشاره ده چی په دی جهادکی کومو خلګو ته دمسلمانانو په لاس دمفتوح او مغلوب کیدو سزا ورکول سوي ده اوتر اوسه پوری په خپل کفر ولاړ دی د دوی ځخه به هم څه خلګو ته دایمان توفیق نصیب

Maktaba Tul Ishaat.com

سی چنانچی هم داسی وسوه چی ددی تفصیل داسی دی.

(دحنین فتح دهوازن اوثقیف دسردارانو مسلمانیدل اوحاضریدل اودقیدیانو واپس کیدل)

په حنین کی دهوازن اوثقیف قبیلو څه سرداران مړه سوه څه وتښتیدل ددوی سره چی کم اهل اوعیال اومالونه وو هغه دمسلمانانو قیدیان اومال غنیمت جوړسو دمسلمانانو لاس ته ورغلل چی په دی کی شپږ زره قیدیان څلورویشت زره اوښان دڅلویښتو زرو څخه زیاتی بزی اوڅلور زره اوقیه سپین زر چی تقریباً څلورمنه ورڅخه جوړیدل نبی کریم ﷺ حضرت ابوسفیان بن حرب دغنیمت دمالونونګران مقرر کی. بیا شکست خورده هوازن اوثقیف په مختلفو مقاماتو دمسلمانانو خلاف اجتماع وکړه خوپه هرمقام یی شکست وخوړی اوډیر سخت رعب ورباندی پریوتی اودطائف په نهایت مستحکم قلعه کی قلعه بنده سول نبی کریم پنځلس شل ورځی ددی قلعه محاصره وکړه اوقلعه بند دښمن به ددننه څخه غشی اورول چی هیڅوك مخ ته نه سو ورتلی اصحابو کرامو رضی الله عنهم عرض وکی چی یارسول الله! ددی خلګو په باره کی بنیری وفرمایه مګر دوی ورته دهدایت دعا وفرمایله اواخر نبی کریم ﷺ دصحابه ګرامو سره مشوره وفرمایله دبیرته تلو قصد یی وکی اوچی جعرانه مقام ته ورسیدل اوارادہ یی وفرمایله چی اول مکی مکرمی ته ولاړسی اوعمره ادا کړی بیابه مدینی منوری ته ځی دمکی دخلګو لوی شمیر کوم چی دمسلمانانو دفتح یا شکست دتماشی دپاره راغلی وو دی ځای ته چی ورسیدی نو ډیرو خلګو په کی دخپل اسلام راوړو اعلان وکی.

دی مقام ته په رسیدو یی دغنیمت دمال تقسیمولو انتظام کړی وو او عین دغنیمت دمال دتقسیم په وخت کی ناڅاپه دهوازن دڅوارلسو سردارانو یو وفد دزهیر بن صرد په قیادت کی دنبی کریم ﷺ رضاعی اکا ابو یرقان هم وو دوی حاضرسول او عرض یی وکی چی مونږ مسلمانان سوی یو اودا درخواست یی وکی چی زمونږ اهل او عیال اومالونه دی مونږ ته بیرته راکول سی په دی درخواست کی یی عرض وکی چی یارسول الله ﷺ! مونږ په سلسله درضاعت ستاسی خپلوان اوعزیزان یو اوکوم مصیبت چی په مونږ راغلی دی هغه ستا څخه پټ نه دی ته پرمونږ احسان وفرمایه دوفد مشر یوشاعر سړی وو ده وویل چی یارسول الله ﷺ که مونږ دروم بادشاه یادعراق بادشاه ته دخپل داسی مصیبت پروخت څه درخواست کړی وای نوزمونږ خیال دادی چی هغه به هم زمونږ درخواست نه وای ردکړی او ته خوالله ﷻ په اخلاق فاضله وو کی ترټولو زیات غوره کړی یی تاته خو مونږ په ډیر لوی امید سره راغلی یو.

درحمة للعٰلمین ﷺ دپاره داموقع دغبرګو مشکلاتو وه چی یوطرف ته پردی خلګو درحم او کرم تقاضا داوه چی ددوی ټول قیدیان اومالونه دوی ته ورکول سی بل طرف ته دغنیمت په دی مالونو کی دټولو مجاهدینو حق وی داټول ددوی دحق څخه محرومه کول دانصاف په وجه سره صحیح نه دی په دی وجه دصحیح بخاری دیو روایت مطابق نبی کریم ﷺ د دوی په جواب کی وفرمایل

زما سره دمسلمانانو څه قدر لښکردی چی ددی مالونو حقداردی زه رښتیا اوصفا خبره خوښوم په دی وجه تاسی ته اختیار درکوم چی یا خپل قیدیان بیرته بوزی یا دغنیمت مالونه بیرته واخلئ په دی دواړو کی چی کوم تاسی خوښوی هغه به تاسی ته درکړل سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ټولو دقیدیانو واپس کیدل غوره کړل نبی کریم ﷺ ټول صحابه کرام رضی الله عنهم جمع کړل یوه خطبه یی ورکړه چی دحمد اوثنا څخه وروسته یی په کی وفرمایل.

داستاسی ورونه توبه ګار سوی راغلی دی زه غواړم چی د دوی قیدیان دوی ته بیرته ور واپس کړل سی په تاسی کی چی کوم خلګ په خوشحالی سره دخپلی حصی واپس ورکولو ته تیاروی هغوی دی احسان وکړی اوکوم چی ددی دپاره تیار نه وی نومونږ به په آئنده مالونو دفی کی ددی بدله دوی ته ورکړو.

(دحقونو په معامله کي درائي عامه معلومولو دپاره دعوامي جلسو آوازونه کافي نه دی دهر یوه څخه جلا رایه معلومول په کار دی)

دمختلفو طرفونو څخه دا آوازونه پورته سول چی مونږ دزړه په خوشحالی سره ټول قیدیان واپس کولو ته تیاریو مګر دعدل اوانصاف او دحقونو په معامله کی داحتیاط ترمخه نبی کریم ﷺ داسی مختلف آوازونه کافی ونه ګڼل او ویی فرمایل چی زه نه پوهیږم چی کوم خلګ دخپل حق پریښودلو ته دزړه په رضا سره تیار سول اوکوم داسی دی چی دشرم څخه خاموش پاته سول معامله دخلګو دحقونو ده په دی وجه داسی دی وسی چی دهر جماعت اوخاندان مشر دی دخپلی خپلی ډلی دخلګو څخه جلا جلا صحیح خبره ځان ته معلومه کړی اوماته دی ووایی.

ددی مطابق سردارانودهریوه څخه جلاجلا اجازت حاصل کړی اوبیا یی نبی کریم ﷺ ته وویل چی ټول خلق دزړه په خوشحالی سره خپل حق پریښودلوته تیاردی نونبی کریم ﷺ دغه ټول قیدیان هغوی ته واپس کړل داهغه خلګ وه دکومو دتآئب کیدو طرف ته چی په ذکر سوی آیت کی اشاره سوي ده ، ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ الآية په حنین کی دپیښو سوو واقعاتو چی کم تفصیل لوړ بیان سوي دی ددی څه حصه خو په خپله په قرآن کریم کی ذکرده اوباقی دمستندو روایتونو د حدیث څخه را اخیستل سویده (مظهری وابن کثیر)

احکام اومسئلي: ددی واقعاتو په ضمن کی ډیر احکام اوهدایات اوضمنی فائدی راغلی دی دغه ددی واقعاتو دبیانولو اصل مقصد دی.

په ذکرسوو ایتونو کی دټولو څخه اول هدایت خودا ورکول سو چی مسلمانانو ته په هیڅ وخت کی هم په خپل جمعیت اوطاقت باندی مغروره کیدل نه دی په کار لکه څنګه چی دکمزوری اوبی اسبابی په وخت کی ددوی نظر دالله ﷻ په نصرت او امداد باندی وی دغه ډول دقوت اوطاقت په وخت کی هم د دوی مکمل اعتماد صرف پرامداد دالله ﷻ باندی په کار دی.

دحنین په غزاکی دمسلمانانو دتعداد دزیاتوالی اودجنګ داسباب په ډیروالی چی دځینو صحابه کرامو په ژبه لویه خبره راغلی وه چی نن خوډهیڅا مجال نسته چی زمونږ څخه بازی وګټی الله ﷻ ته ددی خپل محبوب جماعت دژبی څخه داسی کلمی ویل خوښ نه سو او نتیجه یی داسوه چی داولنی ځپی په وخت کی دمسلمانانو پښی وښویدی اوپه تیښته سول بیا دالله ﷻ په غیبی امداد سره دامیدان فتح سو.

(دمفتوحو اومغلوبو کفارو په مالونو کي عدل انصاف اواحتیاط)

دوهم هدایت ددی واقعی څخه داحاصل سو چی نبی کریم ﷺ دحنین دغزا دپاره دمکی دمفتوح غیر مسلمو څخه چی کم دجنګ اسباب زغری اونیزی اخستی وی داداسی موقع وه چی ددوی څخه په زور هم

Maktaba Tul Ishaat.com

دا شیان اخستل کیده لیکن نبی کریم ﷺ عاریت وفرمایل اووایی خستی اوبیایی تولوته ددوی مستعار شیان بیرته ورکړل دی واقعی مسلمانانو ته ددښمنانو سره هم دپوره عدل او انصاف اورحم اوکرم دمعاملی کولو سبق ورکی.

دریم هدایت ددی ارشاد نبوی څخه حاصل سو په کوم کی چی حنین ته دتلو اوپه خیف بن کنانه کی دقیام په وخت وفرمایل چی صبابه مونږ پرداسی مقام باندی قیام کوو په کوم کی چی دمکی قریش کښینستل اودمسلمانانو خلاف دمقاطعی پر قرارداد یی دستخطونه کړی وه په دی کی اشاره ده چی کله مسلمانانو ته الله ﷻ فتح اوقوت ورکی نوخپل تیر دمصیبت دور دی نه هیروی ددی دپاره چی دالله ﷻ شکر اداسی دهوازن دشکست خورده خلګو دبار بار غشو اورولو اوحملی کولو په جواب کی درحمة للعٰلمین ﷺ دژبی مبارکی څخه دښیراوو پرځای ددوی دپاره دهدایت دعا مسلمانانو ته داسبق ورکوی چی دمسلمانانو دجنګ اوجهاد مقصد صرف دښمن لاندی کول نه دی بلکی دوی په هدایت راوستل دی په دی وجه ددی دکوشش څخه په هیڅ وخت کی غفلت نه دی په کار.

دریم آیت داهدایت ورکی چی کوم کفارپه مقابله کی مغلوبه سی ددوی څخه هم مایوسه کیږی مه چی شاید الله ﷻ دوی ته بیا داسلام اوایمان هدایت وکړی لکه چی دهوازن دوفد دواقعی داسلام څخه ثابته سوه.

دهوازن دوفد په درخواست باندی ددوی دجنګی قیدیانو دواپسی په وخت کی کله چی دصحابه کرامو ﷺ دجمعی څخه نبی کریم ﷺ سوال وکی او دجمعی دطرف څخه دا اوازونه راغلل چی مونږ تول د دوی دواپسی دپاره په زړه سره خوشحاله سوو نونبی کریم ﷺ دا کافی ونه ګڼله بلکه جلاجلا دهر یوه داجازی دمعلومولو اهتمام یی وفرمایی.

ددی څخه ثابته سوه چی دحقونو په معامله کی ترځو پوری چی دزړه درضامندی اطمینان ونه سی نودچا حق اخستل جائزنه دی دمجمع درعب یادخلګو دشرم څخه دچا خاموش پاته کیدل درضامندی دپاره کافی نه دی په دی سره فقهاوو حضراتو فرمایلی دی چی پر چا باندی دخپلی مرتبی رعب اچوول اودیو دینی مقصد دپاره چنده کول هم جائزنه دی ځکه چی په داسی حالاتو کی ډیر شریفان خلګ محض دشرم په وجه څه ورکوی پوره رضامندی یی نه وی په داسی مال کی برکت هم نه وی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ

ای ایماندارو! مشرکان چی کوم دی نو دوی پلیت دی، نو نژدی دی نه راځی مسجد حرام

الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ

ته ددی کال څخه وروسته اوکه تاسی بیربیږی دفقر څخه نوائنده به غنی کړی تاسی الله ﷻ

مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ۚ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۸﴾

په خپل فضل سره که وغواړی بیشکه الله ﷻ په هرڅه پوهیدونکی حکمت والادی

لنډتفسیر: ای ایماندارو! مشرکان خلګ (په وجه دخبیثو عقیدو) خالص ناپاک دی پس (پردی ناپاکی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم احکام مرتب سوی دی په دی کی یودادی چی) دا خلګ دی ددی کال څخه وروسته مسجد حرام (یعنی حرم) ته نه نژدی کیږی (یعنی چی دننه حرم ته داخل نه سی) اوکه تاسی (ددی حکم دجاری کولو څخه په دی وجه) دمفلسی څخه ویره کوی (چی ددوی سره مودمعاملو زیات تعلق دی کله چی داپاته نه سی نوکار به څنګه وچلیږی) نو (تاسی په خدای توکل کوی) خدای به تاسی په خپل فضل سره که وغواړی (د دوی) محتاجه نه کړی بیشکه الله ﷻ (داحکامو دمصلحتونو) ښه پیژندونکی دی (او ددی مصلحتونو دپوره کولو په باره کی) لوی حکمت والا دی (په دی وجه داحکم یی مقرر کی او ستاسی دمفلسی لیری کولو اسباب به هم برابر کړی)

معلومات اومسئلې: دسورة توبه په شروع کی دکفارو اومشرکانو څخه اعلان دبراء ت سوی وو په دی ذکر سوی آیت کی ددغه اعلان دبراء ت سره دمتعلقه احکامو ذکر دی دبراء ت داعلان خلاصه دا وه چی په دی ټول کال کی به دټولو کفارو وعدی ختمی یاپوره سی او داعلان څخه یوکال وروسته به یومشرک دحرم حدودو ته نه داخلیږی.

په دی آیت کی یی ددی بیان په یوخاص انداز کی کړی دی چی په دی کی یی ددی حکم حکمت اومصلحت هم وښووی او ددی په عمل راوستو کی چی دځینو مسلمانانو څخه کمی خطری وی دهغو جواب یی هم ورکی په دی کی لفظ د: نَجَس په زبر دجیم سره استعمال سوی دی کوم چی دنجاست (پلیتی) په معنی کی دی اونجاست ویل کیږی هرهغه ګندګی ته دکمی څخه چی دانسان طبیعت نفرت کوی امام راغب اصفهانی ﷺ فرمایی چی په دی کی هغه نجاست هم داخل دی کم چی په سترګو پرته لاسو وغیره سره محسوسیږی اوهغه هم کم چی په علم اوعقل سره معلوم وی په دی وجه په لفظ دنجس کی هغه غلاظت اوګندګیانی هم شاملی دی کومی چی په ښکاره طور یی هرڅوک محسوسوی او هغه معنوی نجاست هم دکم پربنا چی شرعًا اودس یاغسل واجبیږی لکه جنابت یادحیض اونفاس دختمیدوڅخه وروسته حالت اوهغه باطنی نجاست هم دکوم تعلق چی دانسان دزړه سره دی لکه فاسدی عقیدی او رزیل اخلاق.

په ذکرسوی آیت کی یی کلمه د: اِنَّمَا: راوړی ده کومه چی دحَصْر دپاره استعمالیږی په دی وجه د: اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ معنی دا سوه چی مشرکان خالص نجاست دی اوصحیح خبره داده چی په عام طور په مشرکانو کی دری واړه قسمه نجاستونه وی ځکه چی دیر ظاهری ناپاك شیان دوی ناپاك نه ګڼی په دی وجه ددی ظاهری نجاستونو څخه هم نه بچ کیږی لکه شراب اوددی څخه جوړسی شیان اودمعنوی نجاست لکه غسل دجنابت وغیره خودوی معتقد نه دی دغه ډول فاسدی عقیدی اورذیل اخلاق خودوی هیڅ نه ګڼی په دی وجه په ذکرسوی آیت کی یی مشرکان خالص نجاست مقرر کی اوداحکم یی ورکی، فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا یعنی داسی کول په کار دی و چی ددی کال څخه وروسته دامشرکان مسجد حرام ته نژدی ورنه سی.

دمسجد حرام لفظ خوپه عام طور سره هغه ځای ته ویل کیږی کوم چی دبیت الله څخه چاپیره په چار دیواری کی ګیردی لیکن په قرآن اوحدیث کی ځینی وخت دالفظ دپوره حرم مکی دپاره هم استعمال

Maktaba Tul Ishaat.com

سوی دی کمه چی دځومیله مربع رقبه ده اوځلور طرفه دحضرت ابراهیم ﷺ په قائم کړو حدونو کی ګیر دی لکه چی په واقعه دمعراج کی د ، مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ځخه په اتفاق سره دامعنی مراد اخستل سویده ځکه چی واقعه دمعراج دمعلوم مسجد حرام ځخه نه بلکه دحضرت اُمّ هانی ﷺ دکور ځخه سوي ده دغه دول په آیت کریمه ، إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ : کی دمسجد حرام ځخه پوره حرم مراد دی ځکه چی دصلح دکمی واقعی چی په دی کی ذکردی دغه په مقام دحدیبیه کی سوي ده کومه چی دحرم دحدونو ځخه دباندی ددی سره متصل واقع ده (جصاص رحمه الله)

په دی وجه معنی دایت دا سوه چی ددی کال ځخه وروسته دمشرکانو داخله دحرم حدونو ته منع دده ددی کال ځخه مراد کوم کال دی؟ ځینی حضرات فرمایی چی سنه ۱۰ هجری مراددده مګر دجمهورو مفسرینو په نزدسنه ۹ هجری راجح قول دی ځکه چی نبی کریم ﷺ اعلان دبراءت دحضرت صدیق اکبر ﷺ اوحضرت علی مرتضی ﷺ په ذریعه سره دحج په موسم کی په دی سنه کی کړی دی په دی وجه دسنه ۹ ځخه ترسنه ۱۰ پوری دمهلت کال دی دسنه ۱۰ هجری ځخه وروسته داقانون نافذ سو.

(دمشرکانو په مسجدِ حرام کي ددا خليدو ځخه دمنع کولو مطلب اوداچي دا دمسجد حرام خصوصيت دی که ټولو جماتو نو لره عام دی؟)

په ذکرسوی آیت کی چی کم داحکم ورکول سوی دی چی دسنه ۱۰ هـ ځخه وروسته به یو مشرك مسجد حرام ته نه نژدی کیږی ددی متعلق دری خبری دغور طلب دی چی داحکم دمسجد حرام سره خاص دی یا ددنیا نور جماتونه هم په دی حکم کی داخل دی اوکه دمسجد حرام سره خاص وی نو دیومشرك داخله مسجد حرام ته مطلقاً منع ده اوکه صرف دعمری اوحج دپاره یی داخله منع ده دغسی تلی سی دریم داچی په آیت کی داحکم دمشرکانو بیان سوی دی کفار اهل کتاب هم په دی کی شامل دی که نه ؟

ددی تفصیلاتو متعلق چونکی دقرآن الفاظ خاموش دی په دی وجه دقرآن اشارات او دحدیثو روایتونه یی مخ ته اینبی دی مجتهدینو امامانو دخپل خپل اجتهاد مطابق احکام بیان فرمایلی دی.

په دی سلسله کی اولنی بحث په دی کی دی چی قرآن کریم په کوم اعتبار سره مشرکان نجس مقرر کړی دی که ظاهری نجاست یامعنوی جنابت وغیره مراد وی نو ښکاره ده چی په هیڅ یوجمات کی نجاست داخلول جائزنه دی دغه دول جنابت والاسړی لره یاحیض او نفاس والا ښځی لره جماعت ته داخلیدل جائزنه دی اوکه په دی کی دنجاست ځخه مراد دکفر اوشرك باطنی نجاست وی نوممکنه ده چی ددی حکم دښکاره نجاست ځخه مختلف وی.

په تفسیر قرطبی کی دی چی دمدینی فقهاء امام مالك رحمه الله وغیره فرمایی چی مشرکان دهری معنی په اعتبار سره نجس دی دښکاره نجاست ځخه هم په عام طور سره ځان نه ساتی او دجنابت وغیره ځخه وروسته دغسل اهتمام هم نه کوی اودکفر اوشرك باطنی نجاست خو په دوی کی دی چی دی په دی وجه داحکم ټولو مشرکانو اودټولو جماتونو دپاره عام دی اوددی په دلیل کی یی دحضرت عمر بن عبدالعزیز دافرمان پیش کی په کوم کی چی دوی دښارونو امیرانو ته هدایت کړی وو چی کفار جماتونو ته داخلیدو ته پری نه ږدی په دی فرمان کی یی دا ذکرسوی آیت لیکلی وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

دارنګه په دی حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، لَا اُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ : یعنی جمات ته داخلیدل دچا حائضی ښځی یاجنب سړی دپاره زه حلال نه ګنم .

او مشرکان اوکافران په عام طور سره دجنابت په حالت کی دغسل اهتمام نه کوی په دی وجه ددوی داخله جماتونو ته منع ده .

امام شافعی فرمایی چی داحکم دمشرکانو اوکافرانو اهل کتابو ټولو دپاره عام دی مګر دمسجد حرام سره مخصوص دی په نورو جماتونو کی ددوی داخلیدل منع نه دی (قرطبی) اوپه دلیل کی دثمامه بن اثال واقعه پیش کوی چی دمسلمانید وځخه مخکی چی کله دی ګرفتار سو نونبی کریم ﷺ دی دمسجد نبوی دیوی ستنی سره تړلی وو .

دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد په آیت کی مشرکان مسجد ته دنژدی ورتلو ځخه دمنع کولو مطلب دادی چی دراتلونکی کال ځخه به دوی ته په مشرکانه طرز دحج اوعمری کولو اجازه نه وی اودلیل یی دادی چی څه وخت په موسم دحج کی دحضرت علی مرتضی ﷺ په ذریعه دبراء ت اعلان وسو نو په دی کی اعلان ددی وو چی ، لَا یَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ په دی کی یی ښکاره کړی وه چی ددی کال ځخه وروسته به یو مشرك هم حج نه سی کولی په دی وجه په دی آیت کی د ، فَلَا یَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ معنی هم ددی اعلان مطابق دا ده چی دوی ته دحج او عمری ممانعت سوی دی اودیو ضرورت دپاره دامیر المومنین په اجازه داخلیدی سی دثقیف دوفد واقعه ددی شاهد ده چی دمکی دفتح ځخه وروسته کله چی د دوی یووفد دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو نو دوی هغوی په جمات کی کښینول حال دا دی چی داخلګ دغه وخت کافران وه صحابه کرامو ﷺ عرض هم وکی چی یارسول الله ﷺ دانجس قوم دی نو دوی وفرمایل چی دجمات په مخکه ددی خلګو دنجاست څه اثر نه لویږي (جصاص)

دی روایت داخبره هم واضحه کړه چی په قرآن کریم کی مشرکانو ته دنجس ویلو ځخه ددوی نجاست دکفر اوشرك مراددی لکه چی دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مسلك دی دغه ډول دحضرت جابر بن عبدالله ﷺ په روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی یو مشرك دی جمات ته نژدی نه ځی بغیر ددی چی دی دیو مسلمان غلام یامینځه وی نوپه ضرورت سره دی داخلیدلی سی (قرطبی)

داحدیث هم ددی شاهد دی چی دښکاره نجاست په وجه یی مشرکان دمسجد حرام ځخه نه دی منع کړی کنه نوپه دی کی دغلام اومینځی څه تخصیص بیانه وو بلکه بنیاد اصل شرك اوکفر اوددوی دغلبی بیره ده په غلام اومینځه کی دابیره نسته دوی ته یی اجازه ورکړه ددی ځخه علاوه دښکاره نجاست په اعتبار سره خومسلمان هم په دی کی داخل دی چی دنجاست یا لویی بی اودسی په حالت کی خودده دپاره هم مسجد حرام ته داخله منعه ده .

دارنګه دجمهورو دتفسیر مطابق دمسجدحرام ځخه چی کله دلته پوره حرم مراد وی نو دغه هم ددی مقتضی دی چی دا ممانعت دظاهری نجاست په بنیاد باندی نه دی بلکه دکفر او شرك دنجاست په بنا باندی دی په دی وجه صرف مسجد حرام ته د دوی داخله نه ده منع سوی بلکه په ټول حرم محترم کی منع سوي ده ځکه چی دا داسلام یوه قلعه ده په دی کی دیو غیر مسلم ساتل نه سی برداشت کیدی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام ابوحنیفه رحمه‌الله ددی تحقیق حاصل دا دی چی که څه هم دپلیټیو څخه دجماتونو پاکول هم یوه مستقله مسئله ده کومه چی په قرآن اوپه حدیثو سره ثابته ده لیکن ددی آیت تعلق ددی مسئلی سره نسته بلکه داسلام ددی سیاسی حکم سره دی دکوم اعلان چی دسورة براءت په شروع کی سوی چی څومره مشرکان په مکه که چیری موجود وه ددی ټولو څخه دحرم محترم خالی کول مقصود وه لیکن په تقاضا دعدل اوانصاف اورحم اوکرم دمکی دفتح کیدو سره یی په یوه پلا دخارج کولو حکم ونه کی بلکه دکوموخلکو سره چی تریو خاص میعاده پوری وعده وه اوهغه خلک پر دغه وعده باندی قائم وه نوددوی دوعدی میعاد پوره کول اوباقیولره څه مهلت ورکول او دټول کال دننه ددی تجویز پوره کول وو ددی بیان په دی ذکرسوی آیت کی راغی چی ددی کال څخه وروسته به دمشرکانو داخله په حدونو دحرم کی منع سی دوی به دشرك په طریقه حج اوعمره نه سی کولی.

اولکه څنګه چی دسورة توبه په ایتونو کی په واضح طور سره بیان سوي ده چی دسنه ۹ هجری څخه وروسته به یومشرك دحرم حدونو ته نه سی داخلیدی دحدیث په روایتونو کی نبی کریم ﷺ دا دائره نوره هم فراخه کړه دټول جزیرة العرب دپاره یی هم حکم ورکړی وو مګر په زمانه درسالت کی داپوره سوه بیاصدیق اکبر رضی الله عنه هم دنورو هنګامی حالاتو په وجه سره دی ته توجه ورنه کول سوه حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه په خپله زمانه کی دا حکم نافذ وفرمایی.

اوس پاته سوه دکفارو دنجاست اودجماتونو ددوی دنجاست څخه دپاکولو مسئله هغه په خپل ځای ده دکمی مسئلی چی دفقهی په کتابونوکی په تفصیل سره ذکردی یومسلمان هم دښکاره نجاست یاجنابت سره یوجمات ته نه سی داخلیدی اوعام کفار اومشرکان وی یا اهل کتاب هغوی هم عموماً ددی پلیټیو څخه پاك نه وی په دی وجه بغیر دسخت ضرورت څخه ددوی داخله هم یوجمات ته جائزه نه ده.

ددی آیت په وجه سره کله چی دکفارو اومشرکانو داخله حرم ته منع سوه نودمسلمانانو مخ ته یوه معاشی مسئله دارا وراندی سوه چی په مکه کی هیڅ پیداوار نسته ددباندی راتلونکو به دځان سره ضروریات راوړل اودحج په موسم کی به دمکی والاوو دپاره ټول ضروریات جمع کیدل اوس ددوی دداخلی منع کیدو څخه وروسته به کار څنګه چلیږی ؟ ددی جواب یی په قرآن کی داورکی چی ، وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ : یعنی که تاسی دمعاشی مشکلاتو څخه بیریږی نوپوه سی چی نظام دمعاش دټول مخلوق دالله ﷻ په لاس کی دی که هغه وغواړی نوتاسی به ددی ټولو کفاروڅخه بی حاجته کړی اودلته د: که وغواړی قیدلګول مطلب دانه دی چی په دی کی څه شك اوتردد دی بلکه اشاره ددی خبری طرف ته ده چی صرف پرمادی اسبابو نظر لرونکو ته که دا خبره ډیره لیری او مشکله ښکاری چی ښکاره ذریعه دمعاش دغه غیر مسلم وه د دوی داخله منع کول دځان دپاره اسباب دمعاش قطع کول دی لیکن دوی ته دی معلومه وی چی الله ﷻ ددی اسبابو محتاج نه دی کله چی دهغه اراده دځه کار دکولو وسی نوټول اسباب بیا مطابق سی بس دهغه تررضا پوری حصارتیاوی نورهیڅ نه وی په دی وجه یی ، إِنْ شَاءَ وفرمایل دی طرف ته یی اشاره وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ

جنګ کوی دهغو خلګو سره کوم چی ایمان نه راوړی په الله اونه په ورځ د اخرت باندی او نه حرام ګڼی هغه چی حرام

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

کړی دی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ اونه قبلوی دین ریښتینی دهغو خلګو څخه کوم چی اهل کتاب

الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۲۹﴾

دی تردی چی دوی جزیه ورکړی په خپل لاس سره په ذلت

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ۨ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ

او یهودو وویل چی عزیر ؑ دالله ﷻ زوی دی او نصارا وایی چی مسیح ؑ

ابْنُ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ يُضَاهِـُٔوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ

زوی دی دالله ، داخبری وایی دوی په خپلو خلو سره دوی هم خبری کوی دهغو

كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۰﴾

کافرانو په شان چی ، مخکی وه هلاک دی کړی الله ﷻ دوی کوم طرف ته واپس کیږی .

لنډتفسیر: اهل کتاب کم چی نه په خدای باندی (پوره پوره) ایمان لری اونه دقیامت په ورځ (پوره ایمان لری) اونه هغه شیان حرام ګڼی کوم چی خدای ﷻ او دهغه رسول (محمد ﷺ) حرام ښوولی دی اونه ریښتینی دین (اسلام) قبلوی د دوی سره ترهغه جنګ کوی چی دوی ماتحت سی اورعیت جوړسی جزیه ورکول منظور کړی اویهود (ځینی) وایی چی (نعوذ بالله) عزیر ؑ دخدای زوی دی اوپه نصارا وو (کی ډیر) وایی چی مسیح ؑ دخدای زوی دی دا ددوی خبره ده ددوی دخُلی دویلو (چی په واقع کی ددی څه نوم او نخښه نسته) دوی هم دهغو خلګو په شان خبری کوی کم چی ددوی څخه مخکی کافران سوی دی (مراد ورڅخه مشرکان دعربو دی کمو چی ملائکوته به دخدای لونی ویلی مطلب دادی چی هغوی خودوی هم کافران ګڼی بیا دهغوی په شان دکفر خبری کوی او مخکی والی په دی معنی سره دی چی دمشرکانو ګمراهی پخوانی وه) خدای دی دوی تباه کړی دوی چیرې چپه روان دی (چی په خدای باندی داسی دروغ جوړوی داخو ددوی دکفر خبری دی)

معلومات اومسئلي: د ذکرشوو آیتونو څخه په مخکی آیت کی دمکی دمشرکانو سره دجهاد اوقتال ذکروو په دی ایتونوکی داهل کتابو سره دجهاد بیان دی داګویا دتبوک دغزا تمهید دی کوم چی داهل

Maktaba Tul Ishaat.com

کتابو په مقابله کی مخ ته راغله په تفسیر در منثور کی دقرآن دتفسیر کوونکی مجاهد څخه نقل کوی چی دا ایتونه دغزوه تبوك په باره کی نازل سوی دی اولفظ داهل کتابو که څه هم دخپلی خطا معنی په اعتبار سره پرهر هغه کافر جماعت باندی حاوی کیږی کم چی په یو اسمانی کتاب باندی ایمان لری لیکن دقرآن کریم په اصطلاح کی دالفظ صرف دیهودو اونصاراوو دپاره استعمال سوی دی څکه چی دعربو په خوا او شاکی دا دوی فریقی داهل کتابو معلومی وی په دی وجه قرآن کریم دعربو مشرکینو ته خطاب کوی اوفرمایی.

اِنْ تَقُوْلُوْا اِنَّمَا اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ : او دجهاد او قتال کوم حکم چی په دی آیت کی په مقابله داهل کتابو کی ورکول سوی دی دغه په حقیقت کی داهل کتابو سره مخصوص نه دی بلکه دکفارو دټولو طائفو داحکم دی څکه چی په دی آیت کی دقتال دحکم چی کومی وجی مخ ته بیان سوی دی داپه ټولو کفارو کی مشترکی دی نوحکم هم مشترك پکاردی مگر په ذکرکی یی داهل کتابو تخصیص څکه وکی چی داممکنه وه چی مسلمانانو ته ددوی په مقابله کی دجهاد اوقتال څخه په دی وجه تردد وای چی داخلګ په یوه درجه کی ایمان لری په تورات انجیل اوحضرت موسی ﷺ باندی د دوی ایمان خوسته خوممکنه وه چی دتیرو پیغمبرانو اوددوی دکتابونو سره ددوی نسبت دمسلمانانو دپاره دجهاد څخه دمنع کولو سبب جوړسی په دی وجه په خاص طور سره یی ددوی سره دقتال ذکر وکی.

دوهم دلته داهل کتابو دذکرخاص کولوسره دی طرف ته هم اشاره وسوه چی په یوحیثیت سره داخلګ دزیاتی سزا مستحق دی څکه چی دوی دعلم خاوندان وه ددوی سره دتورات اوانجیل علم وو په کوم کی چی دخاتم النبیین ﷺ دذکر مبارك اوحیلی پوری تفصیل ذکردی ددی علم باوجود ددوی کفر اوانکار اوداسلام اومسلمانانو خلاف سازشونه خوپه یوحیثیت سره د دوی جرم زیات سخت سو په دی وجه په خصوصی طور سره یی د دوی دجنګ ذکر وکی.

دجنګ دحکم څلور وجی په دی آیت کی بنوول سوی دی: اول، لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ یعنی دوی په الله ایمان نه راوړی دوهم: وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ یعنی په اخرت باندی ایمان نه راوړی دریم: لَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ یعنی هغه شیان حرام نه ګڼی کوم چی الله ﷻ حرام بنوولی دی څلورم: وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ یعنی ربښتینی دین نه قبلوی دلته دا سوال پیداکیږی چی اهل کتاب یهود اونصارا خوپه ښکاره په خدای ﷻ باندی هم ایمان لری اوداخرت اوقیامت هم قائل دی بیاپه دی شیانو باندی ددوی دایمان نفی ولی وسوه وجه داده چی محض دایمان راوړو الفاظ خوکافی نه دی څنګه ایمان چی دالله ﷻ په حکم کی دی کله چی په هغه شان ایمان یی نه وی نو هغه دنستوالی په حکم کی دی یهودو اونصاراوو که څه هم په ډاګه دتوحید انکارنه وو کړی خولکه څنګه چی په راتلونکی آیت کی راځی چی یهودوحضرت عزیر ﷺ اونصاراوو حضرت عیسی ﷺ دخدای زوی ومنی اوپه خدایی کی یی ورسره شریك کړل په دی وجه د دوی دتوحید اقرار او دایمان دعوی غلطه سوه.

دغه دول په آخرت چی څنګه ایمان مطلوب دی هغه هم په اکثرو اهل کتابو کی نه وو پاته سوی په دوی کی ددیرو خلګو داعقیده وه چی په قیامت کی به ددی مادی اجسامو دوباره ژوندی کیدل نه وی بلکه یو

Maktaba Tul Ishaat.com

قسم روحانی ژوند به وی اودجنت اودوزخ هم څه خاص مقامات نسته دروح دخوشحالی نوم جنت دی اودتکلیف نوم جهنم دی کمه چی دالله ﷻ دارشاداتو څخه سراسر خلاف خبره ده په دی وجه داخرت په ورځ هم د دوی ایمان په حقیقت کی ایمان نه سو.

دریم شی کوم چی دا فرمایی چی کوم شیان الله ﷻ حرام کړی دی دوی دغه حرام نه ګڼی ددی څخه مراد دا دی چی ډیر شیان کوم چی تورات یا انجیل حرام مقرر کړی وو دوی دهغو دحرامو الی قائل نه دی لکه سود اودغه رکم نور ډیر دخوراك چنباك شیان کوم چی په تورات اوانجیل کی حرام مقرر سوی وه دوی حرام نه ګڼل اومبتلا سوه په کی.

ددی څخه دا مسئله هم معلومه سوه چی کوم شی الله ﷻ حرام مقرر کړی دی دا حلال ګڼل صرف یوه ګناه نه ده بلکه کفر دی دغه ډول یوحـ ل شی حرام ګڼل هم کفردی البته که حرام حرام ګڼی خوځه عملی کوتاهی یاغلطی څینی وسی، نو دغه کفر نه دی فسق اوګناه ده.

په ذکرسوی آیت کی یی ددی خلګو سره دجهاد اوقتال کولو یوحد اوانتها هم بنوولی ده، حَتّٰی یُعْطُوا الْجِزْیَةَ عَنْ یَّدٍ وَّهُمْ صَاغِرُوْنَ یعنی دا حکم دقتال به ترهغه وخته پوری جاری وی ترڅو چی دوی ماتحت سم ـیت جوړسی اوجزیه ورکول منظور نه کړی.

د جز ـی لفظی معنی بدله اوجزاء ده په اصطلاح دشرع کی ددی څخه مراد هغه رقم دی کوم چی دکفارو څخه قتل په بدله کی اخستل کیږی.

وجه دا ده چی کفر اوشرك دالله ﷻ اورسول څخه بغاوت دی چی ددی اصلی سزا قتل دی مګرالله ﷻ په خپل کامل رحمت سره ددوی په سزاکی رعایت وکی چی که دوی داسلامی حکومت رعیت جوړسی اوداسلامی قانون لاندی اوسیدل منظور کړی نوددوی څخه دی معمولی رقم جزیی اخستل کیږی اوپری دی بنوول سی او داسلامی ملك داوسیدونکو په حیثیت سره ددوی دڅان اومال اوعزت حفاظت به داسلامی حکومت ذمه واری وی ددوی په مذهبی رسمونوکی به څه مزاحمت نه کول کیږی دی رقم ته جزیه ویل کیږی.

دجزیی مقررول که په خپلوکی په مصالحت اورضامندی سره وی نوشرعًا ددی څه حد نسته په څومره مقدار اوڅه شی باندی چی په خپلو کی وعده دصلح وسوه هغه به ددوی څخه اخستل کیږی لکه چی نبی کریم } داهل نجران سره داسی معامله وفرمایله چی ددوی دپوره جماعت څخه پر سالانه دوه زره حُلی اخستلو باندی وعده وسوه حُلّه ددوو کپړو جوړی ته یولنګ یوڅادر ته ویل کیږی دهری حُلی قیمت هم په دی اندازه مقرر سوی وو چی هره حُلّه به دیو اوقیه سپینو زرو دقیمت وی اوقیه څلویښت درهمه یعنی زمونږ دوزن په اعتبار سره یوولس نیمی ! ۱۱ تولی سپین زر وی.

دغه ډول دنصاراوو دتغلب قبیلی سره دحضرت فاروق اعظم ﷺ په دی وعده وسوه چی د دوی جزیه به داسلامی زکوٰة په حساب سره وصول کیږی مګر دزکوٰة څخه دوچنده.

اوکه مسلمانانو یو ملك دجنګ په ذریعه فتح کی بیایی دهغه ځای داوسیدونکو جائدادونه ددوی به ملکیت کی برقرار وساتل اودوی په رعیت جوړیدو باندی رضامند سول نو د دوی دجزیی مقرره شرح به

Maktaba Tul Ishaat.com

دا وی کومه چی حضرت فاروق اعظم ﷺ دخپل خلافت په دورکی نافذه کړی وه چی دسرمایه دار څخه څلور درهمه اودمتوسط څخه دوه درهمه اودغریب تندرست محنت مزدوری یاکاریګری تجارت وغیره کوونکی څخه یو درهم ماهوار (دمیاشتی) یعنی دری نیمی ماشی سپین زر یاددی قیمت اخستل کیږی اوکم چی بالکل شل ګوډ اوغریب وی دهغه څخه به هیڅ نه اخستل کیږی دغه ډول دښځو بچیانو بوډاګانو څخه اودتارك الدنیا مذهبی پیشوایانو څخه به هیڅ نه اخستل کیږی.

ددی لږ مقدار داخستو دپاره هم دنبی کریم ﷺ هدایت داوو چی پریو سړی دده دطاقت څخه زیات بارنه سی اچول کیدی اوکم سړی چی پریو غیر مسلم اوسیدونکی باندی ظلم کوی نوزه به دقیامت په ورځ دظالم په مقابله کی ددغه غیر مسلم حمایت کوم (مظهری)

ددی ټولو روایتونو څخه دځینی فقهاوو مذهب دادی چی په اصل کی دجزیی څه خاص شرح په شریعت کی مقرره نه ده بلکه دحاکم وخت پررایه باندی موقوف ده چی ددغو خلګو دحالاتو جائزه واخلی اومناسب څه ورته وټاکی.

ددی بیان څخه داحقیقت هم واضح سو چی دکفارو څخه جزیه دقتل دسزا درفع کولو معاوضه ده داسلام بدله نه ده په دی وجه داشبهه نه سی کیدی چی په لږو پیسو اخستلو داسلام څخه دمخ اړولو اوپه کفر دقائم پاته کیدو اجازه څنګه ورکول سوه ددی واضح دلیل دادی چی پرخپل مذهب دقائم پاته کیدو اوپه اسلامی حکومت کی داوسیدو اجازه ډیروهغو خلګوته هم ورکول کیږی دکموځخه چی جزیه نه اخستل کیږی مثلاً ښځی بچی بوډاګان مذهبی پیشوایان شل ګوډ معذور که چیری جزیه داسلام بدله وی نوبیا خوددوی څخه هم اخستل په کار وو.

په ذکرسوی آیت کی چی یی دجزیی ورکولو سره ، عَنْ یَدٍ فرمایلی دی په دی کی حرف عَنْ په معنی دسبب او: یَدْ په معنی دغلبی اوقوت دی اومعنی داده چی داجزیه ورکول په اختیاری طور سره دچندی یاخیرات نه وی بلکه اسلامی غلبه تسلیمول اوددی لاندی داوسیدو په طور سره وی (لکه چی په روح کی دی) اود: وَهُمْ صٰغِرُوْنَ معنی دامام شافعی دتفسیر مطابق داده چی دغه خلګ داسلام عام (جنرل) قانون منل پرځان لازم کړی (روح المعانی اومظهری)

اوپه دی آیت کی چی کوم داهدایت سوی دی چی کله داخلګ جزیه اداکول منظور کړی نو جنګ دی ورسره بندسی په دی کی دجمهورو فقهاوو په نزد ټول کفار شامل دی برابره خبره ده که اهل کتاب وی اوکه غیر اهل کتاب البته دعربو مشرکان ددی څخه مستثنی دی چی ددوی څخه جزیه نه ده قبوله سوی.

په دوهم آیت کی ددی مضمون زیات تفصیل دی چی ذکریی په اول آیت کی اجمالاً راغلی دی چی دا اهل کتاب په الله ﷻ ایمان نه لری په دی دوهم آیت کی فرمایی چی یهود خو عزیر ﷺ ته دخدای زوی وایی اونصارا حضرت عیسیٰ ﷺ ته په دی وجه د دوی دتوحید او ایمان دعوی غلطه سوه.

بیا فرمایی ، ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ : یعنی دا د دوی خبره ده د دوی دخُلو څخه ددی معنی داهم کیدی سی چی داخلګ په صفا طور سره په خپلو ژبو سره ددی اقرار کوی څه پټ شی نه دی اودا معنی هم کیدی سی چی داکلمه دکفر صرف ددوی په ژبو ده نه ددی څه وجه ښوولی سی نه دلیل.

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا ارشاد فرمایی ، يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ : یعنی دوی دهغو خلګو په شان خبری کوی کوم چی ددوی څخه مخکی کافران سوی دی خدای دی دوی تباه کړی دوی کومی خواته چپه روان دی مطلب دا دی چی یهود اونصارا انبیاوو علیهم السلام ته دخدای په زامنو ویلو کی داسی سوی دی ، لکه چی تیر کفار اومشرکان وه چی فرښتو ته اولات اومنات ته به یی دخدای لونی ویلی .

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ

نیولی دی دوی خپل عالمان اوپیران خدایان دالله ﷻ څخه ماسوا اومسیح علیه السلام

مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ

دمریم زوی هم او دوی ته حکم دا سوی دی چی بندګی کوی دیومعبود ، نسته دچابندګی دهغه څخه ماسوا

سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣١﴾ يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ

هغه پاك دی د دوی دشریك جوړولو څخه ، غواړی چی مړه کړی رڼا دالله

بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ﴿٣٢﴾

په خپلو خُلو سره ، اوالله ﷻ نه پاته کیږی بغیر دخپلی رڼا پوره کولو څخه او که څه هم که بدیی ګنی کافران

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ

هغه لیږلی دی خپل رسول دهدایت او رښتنی دین سره چی ده لره غلبه ورکړی ،

عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ ۙ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

په هر دین باندی او که څه هم بد یی ګنی مشرکان ای ایمانداروا

إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ

دیر عالمان او درویشان داهل کتابو څخه خوری مالونه دخلګو

بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۗ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ

په ناحقه او بندوی د الله ﷻ دلاری څخه اوکوم خلګ چی خزانه کوی

الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ

سره زر اوسپین زر اودانه خرچ کوی دالله په لاره کی ، نو دوی ته خوشخبری راورسوه

Maktaba Tul Ishaat.com

بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۳۴﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ

دعذاب دردناك ، په کومه ورځ چې ګرمیږي په اور دجهنم کې بیادا غل کیږي به

بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ

په دې سره تندی ددوی ،اوارخونه ددوی اوشاګانی ددوی (وبه ویل سی) داهغه دې کوم چې تاسی خزانه کړی وه دخان دپاره

فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿۳۵﴾

اوس خوند وځکی دخپلو خزانو

لنډتفسیر: (مخ ته دکفر دعملونو بیان دی چې) دوی (یعنی یهودو اونصاراوو په توحید اوطاعت کې) خدای پاته کړی دی خپل عالمان اوشیخان یې (په اعتبار دطاعت سره) رب جوړ کړی دی (چې د دوی حکم په حلالو اوحرامو کې په مثل دحکم دخدای منی چې په نص باندی د دوی قول لره ترجیح ورکوی او داسی حکم منل بالکل عبادت دی ، نو په دی حساب سره دغه خلګ د دوی عبادت کوی) اومسیح بن مریم ﷺ هم (په یو اعتبار سره دوی رب جوړ کړی دی چې ده ته دخدای زوی وایی چې الوهیت ورسره لازم دی) حا ل دا دی چې دوی ته (دالله په کتابونوکی) صرف داحکم سوی دی چې صرف دیو معبود (برحق) عبادت کوی چې دهغه څخه ماسوا بل څوك دعبادت لایق نسته هغه ددوی دشرك څخه پاك دی (اودا خوبیان وو دباطل دتابعداری مخ ته بیان دی ددی چې دغه خلګ حق دین رد کوی چې داهم کفر دی یعنی) دغه خلګ داغواړی چې دالله ﷻ نور (یعنی دین اسلام) په خپلو خُلو سره (په پوکلو باندی) مړکړی (یعنی په خلو سره دردونو اواعتراضونو خبری په دی غرض سره کوی چې حق دین نه خپریږی) حال دادی چې الله ﷻ بغیر ددی څخه چې خپل نور (ذکر سوی) کمال ته ورسوی منی به یی نه که څه هم کافران خلګ (چې دوی هم په کی راغلل) هرڅومره ناخوښه وی (چنانچې) دغه الله داسی دی چې (ددی نور دتمام کولو دپاره) ده خپل رسول (ﷺ داسباب) دهدایت (یعنی قرآن) اورښتنی دین (یعنی اسلام) سره (دنیاته) لیږلی دی ددی دپاره چې دا (دین چې دغه ذکرسوی نوردی) پرټولو (باقی) دینونو باندی غالب کړی (چې دایی اتمام دی) که څه هم مشرکان (چې دوی هم پکی داخل سول) هرڅومره باندیٔ ناخوښه وی ای ایمانداروا اکثره عالمان اوشیخان (یعنی دیهودو او نصاراوو عالمان اوشیخان) دخلګو (عوامو) مالونه په ناجائزه طریقه سره خوری (یعنی حق حکمونه پټوی اودعوامو درضا موافق فتوی ورکوی او د دوی څخه نذرانی اخلی) او (په دی وجه سره دوی) دالله ﷻ دلاری څخه (یعنی داسلام ددین څخه خلګ) منع کوی (څکه چې د دوی په دروغو فتوی کی راسی په ګمراهی کی ګیرسی او دحق طلب بیانه کوی) او (دډیر حرص څخه مالونه هم جمع کوی چې دهغه په نسبت داوعید دی چې) کوم خلګ سره اوسپین جمع کوی اودالله ﷻ په لاره کی یی نه خرڅ کوی (یعنی زکوة نه څینی باسی) پس ته دوی ته دیوی لویی دردناکی سزاخوشخبری واوروه کومه چې به په دغه ورځ واقع کیږی چې دغه به ددوزخ په اور کی (اول) ګرم کیږی بیابه سره دی

Maktaba Tul Ishaat.com

سره دخلګو تندیان اوددوی بغلونه اوددوی شاګانی داغل کیږی (اودابه وریاده سی چی) داهغه دی کوم چی تاسی دخپل ځان دپاره جمع کړی اوایښی وه پس اوس دخپلو جمع کړو خوند وځکی.

معلومات اومسئلي: په دی ځلورو آیتونو کی دیهودو اونصاراؤ دعالمانو اوشیخانو اوزاهدانو دګمراهی او د دوی دعملی اوقولی کفریاتو ذکر دی اَحْبار دحِبر جمع ده او رهبان دراهب جمع ده حبر دیهودو اونصاراؤ عالمانو ته او راهب عابد او زاهد ته وایی.

په اولنی آیت کی فرمایی چی دی خلګوخپل عالمان اوشیخان دالله ﷻ څخه ماسوا خپل رب اومعبود جوړکړی دی، دغه ډول عیسیٰ ابن مریم ﷺ یی خپل رب جوړ کړی دی دحضرت عیسیٰ ﷺ رب اومعبود جوړول خو په دی وجه ښکاره خبره ده چی دی یی دخدای ﷻ زوی ومنی او دعالمانو اوشیخانو دمعبود جوړولو کوم الزام چی په دوی لګول کیږی که څه هم په واضح طور سره یی دوی ته خپل رب نه ویل وجه یی داده چی دوی هغه اطاعت کوم چی خالص دالله ﷻ حق دی دغه حق یی دوی ته حواله کړی وو چی په هر حال کی به یی د دوی دوینا پیروی کوله که څه هم د دوی خبره به دالله او رسول دخبری څخه خلاف ولی نه وه، نو دا ښکاره خبره ده چی دچاداسی فرمانبرداری کول چی که هغه دالله او رسول دفرمان څخه خلاف هم څه خبره ووایی نومنی یی داداسی ده لکه چی څوك خپل رب او معبود ومنی کوم چی ښکاره کفر دی.

ددی څخه معلومه سوه چی ددینی مسئلو څخه دناخبره عوامو دپاره دعالمانو دفتوی دتابعداری پاپه اجتهادی مسئلو کی دامامانو مجتهدینو دتابعداری ددی آیت سره څه تعلق نسته، ځکه چی داتابعداری په حقیقت کی دخدای او درسول داحکامو تابعداری ده اهل علم او اهل نظر سیده په سیده دالله او رسول خبری ګوری اوعمل باندی کوی اوهغه اهل علم کوم چی داجتهاد درجه نه لری هغوی هم په اجتهادی مسئلو کی دمجتهدینو امامانو تابعداری کوی اوناپوهه عوام دعالمانو څخه پوښته کوی اوعمل باندی کوی دا تابعداری په خپله دقرآن کریم دحکم مطابق ده اودالله ﷻ فرمانبرداری ده، لکه چی ارشاد دی، فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ: یعنی که تاسی په خپله دالله او رسول داحکامو څخه خبر نه یاست نودعالمانو څخه پوښته کوی اوعمل باندی کوی.

دیهودو اودنصاراؤ عوامو دالله کتاب اودخدای اودرسول احکام بالکل نظر انداز کړی وه دخود غرضو کسبی عالمانو یادجاهلو شیخانو قول اوعمل یی خپل دین جوړ کړی وو چی ددی بدوالی په دی آیت کی فرمایل سوی دی.

ددی څخه وروسته فرمایی چی دی خلګو دا ګمراهی اختیار کړه حال دا دی چی دوی ته دالله ﷻ دطرف څخه دیو الله دعبادت حکم ورکول سوی وو کوم چی ددغو ټولو شیانو دشرك څخه پاك دی چی داخلګ یی دالله ﷻ سره شریك ګڼی.

په دی آیت کی خوددوی دباطلی تابعداری اودغیر الله دناجائز اطاعت ذکروو ددی څخه وروسته په بل آیت کی د دوی دیوی بلی ګمراهی ذکردی چی داخلګ صرف پردی بسوالی نه کوی چی په خپله په ګمراهی کی پریوتلی دی بلکه دهدایت اوحق دین دورانولو اورد کولو کوشش کوی دامضمون یی په

Maktaba Tul Ishaat.com

طور دمثال داسی بیان کړی دی چی داخلګ دخپلو خلو په پوکلو سره دالله ﷻ نور مړ کول غواړی حال دادی چی دا د دوی دوس خبره نه ده الله ﷻ دا مقرر کړي ده چی هغه به خپل نور یعنی دین داسلام مکمل اوپوره کوی برابره خبره ده که کافران خلګ هرځومره ناخوښه وی.

ددی څخه وروسته ددریم آیت خلاصه هم دا ده چی الله ﷻ خپل رسول ته دهدایت اسباب یعنی قرآن اوحق دین یعنی اسلام ورکړی دی ددی دپاره یی رالیږلی دی چی دادتولی دنیا پرباقی دینونو غالب کړی تقریباً په دی الفاظوسره په قرآنکریم کی ډیر ایتونه راغلی دی چی داوعده پکښی ده چی دین داسلام به دتولی دنیا پردینونو غالب کیږی.

په تفسیر مظهری کی دی چی داسلام ددین پرتولو نورو دینونو باندی دغالب کولو دا خوشخبری داکثرو زمانو اواکثرو حالاتو په اعتبار سره ده لکه چی دحضرت مقداد ﷺ په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی پرمخ دمځکی به هیڅ کځه یاپوخ کور باقی پاته نه سی چی داسلام کلمه به په کی داخله نه سی دعزت دارو دعزت سره اود ذلیلانو دذلت سره کومو ته چی الله ﷻ عزت ورکړی هغوی به مسلمانان سی اوکوم چی ذلیل کوی هغوی خوبه اسلام قبول نه کړی مګر داسلامی حکومت تابعداربه سی چنانچی دالله ﷻ داوعده پوره سوه اوپوره زر کاله قریب داسلام شان اوشوکت په دنیا خپور وو.

دنبی کریم ﷺ اودسلف صالحینو په زمانه کی خوددی نورتکمیل اوپوره کیدل تولی دنیا لیدلی دی اوپه اینده کی به هم ددلیلونو اوحقیقتونو په اعتبار سره په هره زمانه کی ولیدل سی داسلام دین داسی مکمل دین دی چی هیڅ عقل پسند انسان ته پردی داعتراض موقع نه سی ورکول کیدی په دی وجه دکفارو دمخالفتونو باوجود داحق دخپل حجت اودلیل په اعتبار سره همیشه غالب دی اوکله چی مسلمانان ددی دین پوره پیروی وکړی نو د دوی ښکاره غلبه اوحکومت هم ددی دلوازموڅخه دی لکه چی دتاریخ اسلام تجربه ددی شاهده ده چی کله هم مسلمانانو په قرآن اوسنتو په پوره شان سره عمل وکی نوهیڅ غږ اودریاب ددوی دارادو په لاره کی بندیزنه دی جوړسوی اودی پرتوله دنیا غالب سوی دی اوکله اوکم ځای چی دی مغلوب اومقهور سوی دی دغه دقرآن اوسنت داحکامو څخه غفلت اودخلاف ورزی بده نتیجه وه کومه چی دوی ته ورپیښه سوي ده حق دین بیاهم په خپل ځای کامیاب اوفتح مند پاته سوی دی.

په ځلورم آیت کی مسلمانان مخاطب کوی اودیهودو اونصاراوو دعالمانو اوشیخانو دداسی حالاتو ذکردی دکمو په وجه چی په عوامو کی ګمراهی خپره سو دمسلمانانو د مخاطب کولو څخه شاید دی طرف ته اشاره ده چی که څه هم داحالت دیهودو اونصاراوو اودعالمانو اوشیخانو بیانیږی لیکن دوی لره هم ددی څخه خبریدل پکاردی چی داسی حالت ددوی جوړ نه سی.

په دی آیت کی ارشاد فرمایی چی دیهودو او نصاراوو او د ډیرو عالمانو شیخانو دا حال دی چی په باطلو طریقو سره دخلګو مالونه خوری اودالله ﷻ دسیده لاری څخه خلګ منع کوی.

دیهودو اونصاراؤ داکثرو عالمانو شیخانو داحال وو اوپه داسی حالاتو کی په عام طور سره ویونکو تولو ته بدوایی لیکن قرآن کریم دلته لفظ دکثیراً زیات کی اومسلمانانو ته یی ددښمنانو په معامله کی

Maktaba Tul Ishaat.com

هم دخبری داحتیاط نبوونه وکړه چی ددی حال نسبت تولو ته نه دی بلکه داسبی یی وفرمایل چی په دوی کی ډیر خلګ داسی کوی د دوی ګمراهی یی دا وښوولە چی دغه دخلګو مالونه په باطله طریقه سره خوری دباطلی طریقی څخه مراد دادی چی داخلګ څینی وخت ددغو خلګو څخه پیسی واخلی دتورات دحکمونو خلاف فتوی ورکوی اوځینی وخت دالله ﷻ حکمونه پټوی یایی ګډوډ کوی په دی سربیره د دوی دا ګمراهی وښوول سوه چی دا کم بختان صرف په خپله ګمراهان نه دی بلکی دنورو طلب کوونکو دحق دپاره دالله ﷻ دلاری څخه دمنع کولو سبب هم دی ځکه چی کله خلګ خپل پیشوایان په داسی کارونو کولو ووینی نوپه دوی کی هم دحق پرستی جذبه مړه سی ددی څخه علاوه ددوی دغلطو فتوو پربنیادباندی هغوی ګمراهی اوغلطی سمه او صحیح وګڼی.

دیهودو اونصارا ؤ دعالمانو اوشیخانو داناجوړی چی دپیسوپه لالچ کی غلطی فتواوی ورکړی چونکی ددنیا دمال دمحبت اوحرص په وجه سره پیدا سوی وه په دی وجه په ذکرسوی آیت کی دمال دمحبن دبدی دنتیجی او ددردناك عذاب بیان او ددی ناجوړی څخه دنجات حاصلولو طریقه یی ذکر کړي د ارشاد دی ، وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ : یعنی کوم خلګ چی سره اوسپین زر جمع کوی اود الله ﷻ په لاره کی یی نه خرڅ کوی دوی ته د دردناك عذاب خوشخبری واوره. د ، وَلَا يُنفِقُونَهَا دلفظونو څخه دی طرف ته اشاره وسوه چی کوم خلګ په قدر ضروری سره دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی نو باقی جمع کړی مال دده په حق کی مضر نه دی.

په حدیث کی په خپله نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی چی په کوم مال کی زکوٰة ادا سی هغه په کَنَزْتُم کی دا خل نه دی (ابوداود احمد وغیره) ددی څخه معلومه سوه چی دکم مال څخه زکوٰة وزی نو دباقی مانده مال جمع کول څه ګناه نه ده.

دجمهورو فقهاؤ اوامامانو دامسلك دی د ،لَا يُنفِقُونَهَا ضمیر دفضه طرف ته راجع دی چی معنی یی سپین زر ده لوړ دسرو سپینو دوو شیانو ذکروو مګر ضمیرصرف دسپینو طرف ته راجع سو په تفسیر مظهری کی یی دااشاره ددی خبره مقرر کړي ده چی کله دیو سړی سره سره اوسپین لړ لړ موجود وی نو اعتبار سپینولره ورکول کیږی دسروقیمت به هم دسپینوپه حساب سره لګول کیږی اوزکوٰة به ورکول کیږی.

په پنځم آیت کی یی ددی دردناك عذاب تفصیل داسی بیان کړی دی ، يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ : یعنی زکوٰة نه ادا کوونکو ته به دا دردناك عذاب په هغه ورځ وی کله چی به د دوی جمع کړی سره اوسپین دجهنم په اورکی ګرمیږی بیابه په دی سره د دوی تندی بغلونه او شاګانی داغل کیږی اودوی ته به دزبانی سزا په طورسره ویل کیږی چی دا هغه شی دی کوم چی تاسی دځان دپاره جمع کړی وو نو دخپلی جمع کړی سرمائی خوند وڅکی.

ددی څخه معلومه سوه چی دعمل جزا عین عمل دی کمه سرمایه چی په ناجائز طور سره جمع سوی وه یا اصل سرمایه خوجائزه وه مګر زکوٰة ادانه سو ورڅخه نوپه خپله دغه سرمایه ددغو خلقو عذاب جوړی په دی ایت کی یی دداغ لګولودپاره دتندیو بغلونو اوشاګانو ذکرکړی دی یاخوددی څخه مراد تول بدن دی اویابیا ددی درو شیانو تخصیص په دی وجه دی چی بخیل سړی کوم چی خپله سرمایه دالله ﷻ په

Maktaba Tul Ishaat.com

لاره کی نه خرڅ کوی کله چی یوڅوك سوال کوونکی یازکوة طلب کوونکی دده مخ ته راسی نوددده په لیدو سره اول دده تندی گونجی سی بیا بغل ورڅخه وگرڅوی اوچی هیڅ ونه سی نوبیا ورته شا کړی په دی وجه یی دتندی بغل او شا ذکر ددی عذاب دپاره په خاص طور سره کړی دی .

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا

دمیاشتو شمیر دالله ﷻ په نزد باندی دولس میاشتی دی دالله په حکم کی په کومه ورځ چی ده پیدا کړی وه اسمانونه او مځکه په دی کی ،

أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ ۚ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ

ځلور میاشتی دادب دی ، دا دی سیده دین نو په دی کی ظلم مه کوی ،

أَنفُسَكُمْ ۚ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً ۚ

په خپلو خانونو اوجنګ کوی دټولو مشرکانو سره په هر حال کی لکه چی دوی جنګ کوی ستاسو سره په هرحال کی

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾ إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي

اوپوه سی چی الله سره دبیریدونکودی ، داکوم چی میاشتی هیرول دی نو زیاته سوی خبره ده ،

الْكُفْرِ ۖ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ

دکفر په وخت کی په ګمراهی کی پریوزی په دی سره کافران حلالوی دامیاشتی یوکال اوحراموی یی بل کال چی

عَامًا لِّيُوَاطِئُوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ ۚ زُيِّنَ

پوره کړی شمیر دهغو میاشتو کومی چی الله ﷻ دادب مقرر کړی دی نو حلالوی هغه میاشت چی الله حرامه کړی ده نباسته سوی دی ،

لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٧﴾

ددوی په نظر کی د دوی بدکار اوالله ﷻ لار نه ښیی کافرانو خلقوته

لنه تفسیر: یقیناً شمیر دمیاشتو (کوم چی) په کتاب دالله ﷻ (یعنی شرعی احکامو) کی دالله ﷻ په نزد (معتبردی) دولس ۱۲ میاشتی (قمری) دی (او څه دنن څخه نه دي بلکه) په کومه ورځ چی الله ﷻ آسمانونه اومځکه پیدا کړی وو (دهغی ورځی څخه) او په دی کی څلور خاص میاشتی دادب دی (ذی القعده ذی الحجه محرم رجب) دا (حکم چی ذکر سو) دین برابر دی (یعنی ددی میاشتودولس والی اودځلورو په

Maktaba Tul Ishaat.com

کښی دحراموالی دپاره خاص کول اوپه خلاف دعادت دجاهلیت څخه چی کله به یی دکال دمیاشتو شمیر زیاتوی اوکله به یی دحرمت دمیاشتو خاصوالی پریښودی اوچی دایه دینی ده) نو تاسی ددی میاشتو په باره کی (ددین څخه په خلاف کولو کم چی گناه واجبوی) خپل نقصان مه کوی (یعنی دجاهلیت ددی عادت موافق مه کوی) او ددی مشرکانو سره (کله چی دوی داخپلی دکفر خبری چی داخاص عادت هم پکښی راغی نه پریږدی) دتولوسره جنگ کوی لکه چی دوی ستاسی تولو (مسلمانانو) سره جنگ کوی (هروخت ورته تیاروی) او (که ددوی دډیر والی اواسباب څخه وبیریږی نو) پوه سی چی الله ﷻ دمتقیانو سره دی (نو ایمان اوتقوٰی خپل شعار جوړکړی اودچا څخه مه بیریږی مخ ته ددوی دجاهلیت دعادتونوبیان دی چی) دا (دمیاشتو یاددوی حرمت دمخ څخه) لیرې کول په کفر کی نوره ترقی ده چی په دی سره (نور عام) کافران گمراه کول کیږی (په دی طور سره) چی دوی دغه میاشتی یو کا ل (دنفسانی غرض دپاره) حلالوی اویوکال (چی څه غرض یی نه وی) حرامه گنی ددی دپاره چی الله تعالی کمی میاشتی حرامی کړیدی (صرف) ددوی شمیر (بی دلحاظ دتخصیص اوتعین څخه) پوره کړی بیا (چی تخصیص اوتعین پاته نه سو نو) دالله ﷻ حرامی کړی میاشتی حلالوی ددوی بدعملونه دوی ته ښه معلومیږی او (دوی چی پرکفر اصرار کوی په دی غم کول بی گټی دی څکه چی) الله ﷻ داسی کافرانو ته (توفیق د) هدایت نه کوی (څکه چی دوی په خپله په لاره کیدل نه غواړی)

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونوکی دکفارو اومشرکانو دکفر اوشرک گمراهی اوبدو عملونو ذکروو په دی دوو ایتونو کی هم ددی سلسلی دیومضمون اودعربو دجاهلیت دیو جاهلانه بدرسم بیان اومسلمانانو ته ددی څخه دځان ساتلو هدایت دی دغه بد رسم دیوی واقعی سره تعلق لری چی تفصیل یی دادی چی دپخوانی زمانی څخه دتولو تیرو پیغمبرانو په شریعتونوکی دکال دولس میاشتی منل کیدی اوپه دوی کی څلور میاشتی ډیری مبارکی اودادب اواحترام میاشتی ګڼل کیدی دری میاشتی پرله پسی ذی القعده ذی الحجه محرم اویوه رجب.

دتولو پیغمبرانو شریعتونه پردی متفق دی چی په دی څلورو میاشتوکی دهر عبادت ثواب زیات وی اوگه په دی کی څوک گناه وکړی نو ددی وبال اوعذاب هم زیات دی په تیرو شریعتونوکی په دی میاشتو کی قتل اوقتال هم منع وو.

دمکی مکرمی عرب چونکی دحضرت اسمٰعیل ﷺ په واسطه سره دحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اولاد دی په دی وجه داتول خلګ دحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ دنبوت اورسالت قائل وه او دده دشریعت منلو دعوٰی یی کوله اوپه ابراهیمی دین کی هم په دی څلورو میاشتو کی قتل اوقتال اونښکار منع وو په جاهلیت کی په دی حکم باندی عمل کول څکه گران وو چی په دور دجاهلیت کی قتل او قتا ل ددوی کسب جوړ سوی وو په دی وجه په دی کی داسانی پیدا کولو دپاره دوی دخپلو نفسانی غرضونو دپاره قسم قسم حیلی را ایستلی کله چی به دحرمت په یوه میاشت کی دجنګ ضرورت پیښ سویابه په جنګ جنګ کی پردوی دحرمت میاشت راغله نو ویل به یی چی په دی کال کی دامیاشت دحرمت نه سوه راتلونکی میاشت به دحرمت وی مثلاً چی دمحرم میاشت به راغله نوویل به یی چی په دی کال کی دمحرم

Maktaba Tul Ishaat.com

میاشت دحرمت نه ده بلکی دصفری میاشت به دحرمت وی اوکه زیات ضرورت به پیښ سو نوویل به یی چی دربیع الاول میاشت به دحرمت وی یابه یی داسی ویل چی په دی کا ل کی دصفری میاشت مخکی راله دمحرم دابه ورپسی راځی دغه ډول به یی دمحرم څخه صفره جوړه کړه غرض داچی په ټول کا ل کی به یی څلور میاشتی چی به یی غوښتلی ذی الحجه به یی ورته ویله اوکومه چی به یی غوښتله رمضان به یی ورته ویل کومه چی به یی غوښتله مخکی کوله به یی اوکومه چی به یی غوښته وروسته کوله به یی اوکله چی به یی زیات ضرورت پیښ سو مثلاًپه جنګ جنګ کی به لس میاشتی تیری سوی اودکال به صرف دوی میاشتی باقی پاته سوی نوپه داسی موقع به یی دکال دمیاشتو شمیر زیاتوی اوویل به یی چی دااوسنی کا ل به دځوارلسومیاشتو وی دغه ډول به یی پاته څلورمیاشتی دحرمت میاشتی جوړولی. غرض داچی دابراهیمی دین خوبه یی دومره احترام کوی چی په کا ل کی به یی دځلورو میاشتو احترام کوی اوپه دی کی به دقتل اوقتال څخه محفوظ پاته کیدل مګر الله ﷻ چی کوم ترتیب دمیاشتو مقرر کړی وو اوپه دی ترتیب سره یی څلور میاشتی دحرمت مقرر کړی وی په دی کی به یی قسم قسم تاویلونه کول اوخپل نفسانی غرضونه به یی پوره کول.

ددی نتیجه داوه چی په دغه زمانه کی ددی فرق ګران سوی وو چی کومه میاشت درمضان یاشوال ده اوکومه دذی الحجی یارجب ده دهجرت په اتم کا ل کله چی مکه مکرمه فتح سوه اوپه نهم کال کی نبی کریم ﷺ صدیق اکبر ؓ دحج په موسم کی دټولو کفارو او مشرکانو څخه دبراءت داعلان کولو دپاره ولیږی نودا میاشت په حقیقی حساب سره که څه هم دذی الحجی میاشت وه مګر دجاهلیت دپخوانی دستور مطابق دامیاشت دذی القعدی مقرر سوی وه اوپه دی کال ددوی په نزد دحج میاشت پرځای دذی الحجی ذی القعده مقرروه بیاپه سنه ۱۰ هجری کی چی کله نبی کریم ﷺ دحجة الوداع دپاره تشریف یو وړی نوپه قدرتی طور سره داسی نظام جوړسو چی میاشت اصلی دذی الحجی وه دجاهلیت په حساب سره هم دغه ذی الحجه مقرر وه په دی وجه نبی کریم ﷺ دمنی په خپله خطبه کی ارشاد وفرمایی ، اَلَا اِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَةِ يَوْمِ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ : یعنی زمانه ګرځیده ګرځیده بیاپه خپل هغه شکل باندی راغله په کوم باندی چی الله ﷻ دادمځکی اوآسمان دپیداکولوپه وخت کی اینبی وه یعنی کومه میاشت چی اصلی دذی الحجی وه دجاهلیت والاووپه نزدباندی هم په دی کال کی هغه میاشت دذی الحجی مقرر سوه. دا وو هغه رسم دجاهلیت کوم چی دمیاشتو په شمیر اوترتیب اوتعین کی په کمی زیاتی او رد اوبدل سره کیدی چی ددی په نتیجه کی به په هغه ټولوشرعی احکامو کی خلل راتلی کوم چی دیوی خاصی میاشتی یاخاص تاریخ سره تعلق درلودی یاکوم چی به دکا ل دشروع یاختمیدو سره تعلق درلودی مثلاً ددی الحجی دلسمی دحج احکام اودمحرم دلسمی روژه اودکال په ختمیدو دزکوٰة وغیره احکام.

خبره خولنده وه چی دمیاشتی نوم به یی بدل کی مخ ته یاوروسته به یی کړه چی دمحرم څخه به یی صفره اودصفری څخه به یی محرم جوړه کړه لیکن ددی په نتیجه کی به په سوونو شرعی حکمونه بدل سول اوعمل به بربادسو دقرآن کریم په دی دوو ایتونو کی ددی جاهلیت درسم خرابی اومسلمانانو ته ددی څخه دځان ساتنی هدایت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په اولنی آیت کی ارشاد دی ، اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا : په دی کی لفظ د ، عِدَّةَ دشمیر په معنی کی دی او ، شُهُوْرٌ د ، شَهْرٌ جمع ده دشهر معنی ده میاشت معنی دا ده چی دالله ﷻ په نزد دمیاشتو شمیر دولس متعین دی په دی کی چاته دکمی او زیاتی هیڅ اختیار نسته .

ددی څخه وروسته یی د: فِیْ کِتٰبِ اللهِ لفظ زیات کی اووی ښوولـه چی داخبره دازل څخه په لوح محفوظ کی لیکل سوی وه بیایی ، یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ : وفرمایل اواشاره یی وکړه چی دخدای تقدیر په دی معامله کی که څه هم چی دازل څخه جاری سوی وو لیکن دادمیاشتو ترتیب اوتعین هغه وخت په عمل کی راغی کله چی اسمانونه اومځکه پیدا سوه .

بیا ارشاد فرمایی ، مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ یعنی په دی دولسو میاشتو کی څلور میاشتی دحرمت دی دی ته یی حرمت والا ددوو معانیو په اعتبار سره وویل یوخو ددی وجی څخه چی په دی کی قتل او قتال حرام دی دوهم ددی وجی څخه چی دامیاشتی مبارکی اوداحترام قابلی دی په دی کی دعبادتونو ثواب زیات ورکول کیږی په دی کی اولنی حکم خو په اسلامی شریعت کی منسوخ سو مگر دوهم حکم داحترام او ادب او په دی کی دعبادت داهتمام په اسلام کی هم باقی دی .

دحجة الوداع داختر دورځی په خطبه کی نبی کریم ﷺ ددی میاشتو تشریح داسی فرمایلی ده چی دری میاشتی پرله پسی دی ذالقعده ذی الحجه محرم اویوه میاشت درجب ده مگر درجب په معامله کی دعربو دوه قوله مشهور وه څینی قبیلو به هغه میاشتی ته رجب ویل کومی ته چی مونږ رمضان وایو اودمضر قبیلی په نزد رجب هغه میاشت وه کومه چی دجمادی الثانی اوشعبان په مینځ کی ده په دی وجه نبی کریم ﷺ دی ته رجب مضر وفرمایل اودا وضاحت یی هم وکی چی کومه دجمادی الثانی اوشعبان په مینځ کی ده هغه درجب میاشت مراد ده .

ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ : دادی دین برابر یعنی دمیاشتو تعین اوترتیب اوپه دی کی دهری میاشت خصوصاً دحرمت دمیاشتو متعلق چی کم حکمونه دی دادالله ﷻ دازلی حکم مطابق لرل برابر دین دی په دی کی دخپل طرف څخه کمی زیاتی تغیر اوتبدیل کول دعقل اوپوهی دکوږوالی ننبه ده .

فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ : یعنی په دی مقدسو میاشتوکی تاسی خپل نقصان مه کوی چی ددی دمقرر احکامو او احترام خلاف ورزی وکړی یاپه عبادت کی کوتاهی په کی وکړی .

امام جصاص په احکام القرآن کی فرمایی چی په دی کی اشاره ده ددی خبری طرف ته چی ددی مبارکو میاشتوخاصه داده چی په دی کی کوم سړی څه عبادت کوی ده ته په باقی میاشتو کی هم دعبادت توفیق اوهمت حاصلیږی دغه ډول کوم سړی چی کوشش وکړی په دی میاشتو کی خپل ځان دګناهونو او بدو کارونو څخه منع کړی نو دباقی ټول کال په میاشتو کی ده ته دبدو څخه ځان ساتل اسان سی په دی وجه ددی میاشتو څخه فائده نه اخستل یو لوی نقصان دی .

تردی ځای پوری دمکی دمشرکانو دیوخاص رسم دجاهلیت بیان اوددی دباطلوالی بیان وو دایت په اخرت کی بیا ددی حکم اعاده ده کوم چی دسورة په شروع کی ورکول سوی وو چی دوعدی دمیعاد دختمیدو څخه وروسته دټولومشرکانو اوکفارو سره جهاد واجب دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دوهم آیت کی هم دجاهلیت درسم ذکر داسی فرمایی ، اِنَّمَا النَّسِیْءُ زِیَادَةٌ فِی الْکُفْرِ لفظ د : نَسِیْ : مصدر دی شانه کول او وروسته کول یی معنی ده او د وروسته کولو په معنی کی هم استعمالیږی .

دعربو مشرکانو ددی میاشتو مخکی کول وروسته کول داسی ګڼلی وه چی په دی شان سره به زمونږ نفسانی غرضونه هم پوره کیږی اوالله ﷻ په حکم باندی به عمل هم کیږی الله ﷻ وفرمایل چی داستاسی دمیاشتو وروسته کول اودخپل ځای څخه یی لیږی کول په کفر کی نور زیاتوالی دی چی په دی سره ددی کافرانو ګمراهی نوره زیاتیږی چی دوی دحرمت میاشت یوکال خوحراموی اوبل کال یی حلالوی .

لِّيُوَاطِـُٔوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ : یعنی ددی دپاره چی دوی پوره کړی شمیر دهغو میاشتو کومی چی الله ﷻ حرامی مقرر کړی دی مطلب دا دی چی محض په شمیر پوره کولو سره حکم نه منل کیږی بلکه کوم حکم چی دکومی میاشتی دپاره ورکول سوی دی په دغه میاشت کی دغه پوره کول ضروری دی .

احکام اومسئلې: د ذکرسوو آیتونو څخه ثابته سوه چی دمیاشتو کوم ترتیب او ددی میاشتو چی کوم نومونه په اسلام کی معلوم دی دغه دانسانانو جوړه سوی اصطلاح نه ده بلکه رب العٰلمین چی په کومه ورځ آسمانونه اومځکه پیدا کړل په هغه ورځ یی داترتیب اودانومونه اوددی سره دخاصو خاصو میاشتو خاص خاص حکمونه مقرر فرمایلی وه ، ددی څخه داهم معلومه سوه چی الله ﷻ په نزد په شرعی احکامو کی قمری میاشتی معتبری دی په دی قمری حساب باندی ټول شرعی حکمونه روژه حج زکوٰة وغیره مقرر دی لیکن قرآنی حکم لکه چی څنګه دتاریخ او کال معلومولو دپاره سپوږمی ننبانه مقرره کړې ده ، دغه ډول یی لمر هم ددی ننبانه فرمایلی ده ، لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِیْنَ وَالْحِسَابَ : په دی وجه دتاریخ او کال حساب په سپوږمی او لمر دواړو سره جائز دی ، لیکن الله ﷻ دخپلو احکامو دپاره دسپوږمی حساب خوښ کړی دی او شرعی احکام یی په دی باندی مقرر فرمایلی دی په دی وجه دمیاشتی حساب محفوظ ساتل فرض کفایی دی که ټول امت قمری حساب پریږدی اوهیریی کړی نوټول به ګناهګار وی اوکه دامحفوظ وی نو دنور حساب استعمال هم جائز دی ، لیکن دالله ﷻ او دتیرو مشرانو دسنتو څخه خلاف خامخاده په دی وجه بی ضرورته دا اختیارول ښه نه دی .

دحساب پوره کولو دپاره چی کومه دلوند میاشت زیاتیږی څینو خلګو دا هم تردی آیت لاندی ناجائز ګڼلی ده مګر دغه صحیح نه ده څکه چی په کوم حساب کی دلوند میاشت زیاتیږی ددی سره دشرعی احکامو تعلق نسته دجاهلیت خلګو به په قمری اوشرعی میاشتو کی زیاتوب کوی او شرعی احکام به یی بدلول په دی وجه منع سوی وه دلوند هیڅ اثر پرشرعی احکامو نه پریوزی په دی وجه هغه په دی ممانعت کی دا خله نه ده .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

ای ایماندارو! تاسی ته څه وسوه کله چی تاسی ته وویل سی چی کوچ کوی دالله ﷻ په لاره

اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ؕ اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ

کی نولویږی مخکی ته آیاخوشحاله سواست ددنیا په ژوند په اخرت پاته کولو ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿۳۸﴾ اِلَّا تَنْفِرُوْا

نو هیڅ نه ده نفع اخستل ددنیا دژوند داخرت په مقابله کی ، مگر ډیره لږ ، که تاسی ونه وزی ،

يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ

نو دربه کړی تاسی ته عذاب دردناك اوپه بدله کی به راولی نورخلق ستاسی څخه ماسوا اوهیڅ به ورانه کړی تاسی

شَيْـًٔا ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۹﴾ اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ

دهغه اواللہ په هرڅه قادردی که تاسی مدد ونه کی درسول نومدد یی کړی دی .

اللّٰهُ اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِيَ اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ

اللہ کوم وخت چی دی وایستی کافرانو چی دی دوهم وو په دوو کی کله چی دواړه وه په غار کی

اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ

کله چی هغه ویل خپل ملګری ته غم مه کوه بیشکه اللہ زمونږ سره دی بیا اللہ نازل کی

سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ

په ده باندی تسکین او ددہ مدد ته یی هغه فوجونه ولیږل چی تاسی نه لیدل او کښته یی وغورځوله خبره

الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ؕ وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ

دکافرانو او دالله ﷻ خبره همیشه لوړه ده او الله ﷻ زبردست دی

حَكِيْمٌ ﴿۴۰﴾ اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ

حکمت والا ، وخی سپك او درانه او جنګ کوی په خپلو مالونو سره او خانونو سره

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ لَوْ كَانَ

په لاره دخدای کی دا ښه ده ستاسی په حق کی که تاسی پوهه لری که

عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ وَلٰكِنْ بَعُدَتْ

مال وی نژدی او سفر لنډ وی نودغه خلګ به خامخا ستاسره سوی وای لیکن اوږد ښکاره سو

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا

دوی ته مسافت او اوس به قسمونه اخلی په الله که زمونږ په وس کیدی سوی نو مونږ به خامخا وتلی وای

مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۴۲﴾

ستاسی سره په وبال کی اچوی خپل ځانونه اوالله ﷻ پوهیږی چی دوی درواغجنان دی

لنډتفسیر: ای ایماندارو تاسی خلګوته څه وسوه چی کله تاسی ته وویل سی چی دالله ﷻ په لاره کی (یعنی دجهاد دپاره) ووزی نوتاسی مزکی ته لویږی (یعنی پورته کیږی او روانیږی نه) ایاتاسی داخرت په بدله کی ددنیا پرژوند صبرکړی دی پس ددنیا دژوندنفع هیڅ هم نه ده ډیره لږ ده که تاسی (ددی جهاد دپاره) ونه وزی نوالله ﷻ به تاسی ته سخته سزا درکړی (یعنی تاسی به هلاک کړی) اوستاسی په بدله کی به بل قوم پیدا کړی (او ددوی څخه به خپل کار واخلی) اوتاسی (دین د) الله ته هیڅ ضرر نه سی رسولی اوالله ﷻ په هر شی باندی قدرت دی پوره که تاسی خلګ درسول ﷺ مدد ونه کړی نو (الله ﷻ به یی مدد وکړی لکه چی) الله ﷻ ددوی مدد هغه وخت کړی دی کله چی (ددی څخه زیات دمصیبت اوپریشانی وخت وو کله چی) دی کافرانو (تنګ کړی دمکی څخه) جلا وطن کړی وو کله چی په دوو کی یو دی وو (اوبل حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ددوی سره وو) کوم وخت چی دواړه (صاحبان) په غار (ثور) کی (موجود) وه کله چی دوی خپل ملګری ته وفرمایل چی ته (هیڅ) غم مه کوه یقیناً (مدد د) الله ﷻ زمونږ سره دی پس (هغه مدد داسی وسو چی) الله ﷻ پر (زړه د) دوی (دخپل طرف څخه) تسلی نازله کړه او دوی ته یی (دملائکو) په داسی لښکرو سره مدد ورکی کوم چی تاسی نه لیدل اوالله ﷻ دکافرانو خبره (اوتدبیر) لاندی کی (چی دوی ناکامه سول) اوالله ﷻ خبره لوړه پاته سوه (چی دهغه تدبیر اوحفاظت غالب سو) الله زبردست حکمت والادی (په دی وجه دهغه خبره اوحکمت غالب سو دجهاد دپاره) ووزی (برابره خبره ده که) په لږ اسباب سره (وی) او (که) ډیر اسباب سره (وی) اوالله ﷻ په لاره کی په خپل مال اوځان سره جهادکوی داستاسی دپاره ښه ده که تاسی یقین لری (نوناوخته کوی مه) که څه مال لاس ته راتلونکی وای اوسفر هم معمولی وای نودا (منافقان) خلګ به خامخا ستاسی سره سوی وای لیکن دوی ته مزل اوږد معلومیدی (په دی وجه دلته پاته سول) اواوس (کله چی تاسی خلګ بیرته راسی نو) دخدای قسمونه به واخلی چی که زمونږ دوس خبره وای نومونږ به خامخاستاسی سره وتلی وای داخلګ (په دروغو ویلو) خپل ځانونه تباه (یعنی دعذاب مستحق) کوی اوالله ﷻ پوهیږی چی داخلګ یقیناً درواغجن دی (بیشکه چی د دوی طاقت دوتلو وو خو بیا هم دوی ونه وتل)

معلومات اومسئلي: په ذکرسوو ایتونو کی دنبی کریم ﷺ په غزاګانو کی دیوی مهمی غزابیان او ددی په ضمن کی ډیر احکام اوهدایتونه دی دی غزاته دتبوک غزا وایی او دنبی کریم ﷺ تقریباً چی اخری غزا ده. تبوک دمدینی څخه شمال ته دشام پرسرحد باندی دیومقام نوم دی شام دغه وخت دروم دمسیحیانو دحکومت یوه صوبه وه نبی کریم ﷺ چی په سنه ۸ هجری کی دمکی دفتح او دحنین دغزاڅخه فارغه سو

Maktaba Tul Ishaat.com

اومدینی طیبی ته ورسیدی نودغه وخت دجزیرة العرب مهمی حصی داسلامی حکومت ترقبضی لاندی راغلی وی اودمکی دمشرکانو سره داته کاله جنگونو څخه وروسته اوس مسلمانانو ته دسکون لږ وخت پیدا سوی وو .

مگر دکوم ذات په باره کی چی الله ﷻ دمخکی څخه ، لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهِ ناز فرمایلی وو دټول عالم دفتحو اوپه دی کی دخپل حق دین دغالب کولو زیری ورکړی وو دوی ته اود دوی ملگروته فرصت کوم دی مدینی ته درسیدو سره دشام څخه راتلونکو تجارت کوونکو خلگو کوموچی دشام څخه دزیتون تیل راوړل اوپه مدینه وغیره کی به یی خرڅول دی خلگو داخبر راوړی چی دروم بادشاه هرقل خپل فوجونه دتبوك په مقام دشام پر سرحد جمع کړی دی اوفوجونو ته یی دپوره کال تنخواه پیشگی ورکړې ده خوشحاله کړی اومطمئن کړی یی دی او دعربو دځینو قبیلو هم ددوی سره ساز باز دی د دوی مقصد دا دی چی په یو وار په مدینه حمله وکړی .

هرکله چی نبی کریم ﷺ ته دا اطلاع راورسیده نو دوی دا اراده وفرمایله چی د دوی دحملی څخه اول پیش قدمی وکړی اوهلته مقابله وکړی کوم ځای چی د دوی فوجونه جمع دی (تفسیر مظهری په حواله دمحمد بن یوسف صالحی)

دا زمانه اتفاقاًسخته دگرمی وه او دمدینی خلگ په عام طورسره زمیندار وه د دوی دمخکو اوباغونو میوی پخی سوی وی پرکومو چی د دوی دژوند او دټول کال دارو مدار وو چی لکه څنگه چی دنوکری کسب والا خلگو جیبونه دمیاشتی په اخری ورځو کی خالی سوی وی دغه شان کروندگر خلگ دفصل پرختمیدو باندی خالی لاس وی یوطرف ته غریبی بل طرف ته دنژدی امدنی امید اوپردی سربیره دگرمی دموسم سختوالی ددی قوم دپاره کموته چی اوس اوس دیومقابل سره داته کاله پرله پسی جنگونو څخه لږ دساه اخستو موقع ورکول سوی وه یوانتهایی دصبر اوامتحان موقع وه .

مگر وخت داغوښتله اوداجهاد په خپل قسم سره دمخکنیو ټولو جنگونو څخه په دی وجه یوخاص شان درلودی چی اولنی خو دخپلو ځانونو په شان دعوامو سره جنگونه وه اودلته دروم دبادشاه هرقل دتربیت یافته فوج سره مقابله وه په دی وجه نبی کریم ﷺ دمدینی طیبی ټولو مسلمانانوته ددی جهاد دپاره دوتلو حکم ورکی اوڅه دخوا اوشا نورو قبائلو ته یی هم په دی جهاد کی دشرکت کولو دعوت ورکړی وو .

داعام اعلان پراسلام دځان قربانوونکو دپاره یوسخت امتحان وو او دمنافقانو دعوی لرونکو امتیازهم ددی څخه علاوه دلازمی نتیجی په طور سره داسلام دکلمه ویونکو مختلف حالات جوړسول قرآن په دوی کی دهر حالات متعلق جلا جلا ارشادات فرمایلی دی .

یوحالت دهغوکاملو مکملو حضراتوو کم چی بغیردڅه تردد څخه دجهاد دپاره تیار سول دوهم هغه خلگ وه کوم چی په اول کی دڅه تردد څخه وروسته ملگری سول ددی دواړو طبقو متعلق قرآنکریم فرمایی ، الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ : یعنی هغه خلگ دصفت لائق دی کومو چی دسختی تنگی په وخت کی دنبی کریم ﷺ تابعداری وکړه ، وروسته ددی چی په دوی کی دیوی فریقی زړونه په ښویدو سوی وه .

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم حالت دهغو خلگو وو کوم چی دځه صحیح عذر په بنا باندی دی جهاد ته نه ولاړه د دوی متعلق قرآن کریم په آیت ، لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَى کی د دوی دعذر دقبولیت اظهار فرمایلی دی .

څلورم قسم دهغو خلگو وو کوم چی هیڅ عذریی نه وو دسستی په سبب په جهادکی شریك نه سوه ددوی متعلق دیر ایتونه نازل سوی دی: اعْتَذَرُونَ اعْتَذَرُوا إِلَيْكُمْ او: اعْتَذِرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللهِ وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا الآية دادری واړه ایتونه دداسی حضراتو په باره کی نازل سوی دی چی په دی کی ددوی په سستی باندی زورنه اوترتنه هم ده اوپه اخر کی ددوی دتوبی قبلیدو زیری هم دی .

پنځمه طبقه دمنافقانو وه چی دخپل نفاق په وجه سره یی په دی سخت امتحان کی خپل نفاق پټ ونه ساتلی سو اوپه جهاد کی شریك نه سول ددی طبقی ذکر په دیرو ایتونو کی راغلی دی .

شپږمه طبقه دهغو منافقانو وه کوم چی دجاسوسی اوشرارت دپاره دمسلمانانو سره سوی وه ددوی دحالت ذکر دقرآن کریم په دی ایتونوکی دی: وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ او: وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ وَهُمُوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا .....

لیکن ددی ټولی سختی او تکلیف باوجود دجهاد دشرکت څخه دپاته کیدونکومجموعی شمیر هم برایی نام وو لوی اکثریت ددغو مسلمانانو وو کومو چی خپلی ټولی نفعی او راحتونه قربان کړل او دالله ﷻ په لاره کی دهرقسم تکلیفونو برداشت کولو دپاره تیار سول په دی وجه په دی جهاد کی دوتلی اسلامی فوج شمیر دیرش زره وو کوم چی ددی څخه مخکی په یو جهادکی هم نه دی لیدل سوی .

ددی جهاد نتیجه دا سوه چی کله دروم بادشاه هرقل ته دمسلمانانو ددومره لوی لښکر دمقابلی دپاره دراتلو خبر ورسیدی نورعب باندی غالب سو اومقابلی ته رانه غی نبی کریم ﷺ دخپلو صحابه کرامو سره څو ورځی دجنګ په ځای کی قیام وفرمایی اوکله چی دمخالف مقابلی ته دراتلو څخه نا امیده سو نو بیرته یی تشریف راوړی .

کوم آیتونه چی لوړ لیکل سوی دی په ښکاره ددی تعلق ددی څلورم جماعت سره دی کوم چی بغیر دځه صحیح عذر څخه د خپلی سستی او ناراستی په وجه او غفلت باندی خبرداری دی ، او ددی سره د دوی ددی سستی او ناراستی دمرض سبب او بیا ددی علاج هم ارشاد فرمایی ، چی ددی په ضمن کی دا هم واضحه سوه چی .

(ددنیا محبت اوداخرت څخه غفلت دټولو جرمونو بنیاد دی)

څکه چی دمرض چی کوم سبب او علاج دلته بیان سوی دی که څه هم دلته ددی تعلق دیوی خاصی واقعی سره وو لیکن که فکر وسی نو ثابته به سی چی ددین په معامله کی هره کوتاهی سستی اوغفلت اودټولو جرمونو اوګناهونو اصلی سبب دا ددنیا محبت اوداخرت څخه غفلت دی په دی وجه په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاددی: حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ یعنی ددنیا محبت دهری خطاء اوګناه بنیاد دی په دی وجه په ذکرسوی آیت کی فرمایی .

ای ایماندارو! تاسی ته څه وسوه چی کله تاسی ته دالله ﷻ په لاره کی دوتلودپاره وویل سی نوتاسی مخکی ته لویږی (حرکت کول نه غواړی) ایاتاسی داخرت په بدله کی صرف ددنیا په ژوند باندی مین سوی یاست .

دمرض پیژندو څخه وروسته ددی علاج په راتلونکی جمله کی داسی ارشادسو چی ددنیا دژوند څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

نفع اخستل خوهیځ هم نه ده ډیره لږ اوبی کاره ده ددی خلاصه داده چی لوی فکر د آخرت دهمیشه ژوند په کار دی او دا فکر داخرت په حقیقت کی دټولو مرضونو واحد اومکمل علاج دی او دجرمونو دبندولو دپاره بی مثله اکسیر نسخه ده.

داسلامی عقیدو بنیادی اصول دری ۳ دی، توحید رسالت او آخرت په دی کی داخرت عقیده په حقیقت کی دعمل داصلاح اودجرمونو اوګناهونو په مخکی داوسپنی یو دیوال دی که فکر وسی نوخود بخود به معلومه سی چی په دنیاکی امن اوسکون ددی عقیدی څخه بغیرنه سی قائمیدی نن په دنیاکی مادی ترقی خپل عروج ته رسیدلی ده دجرمونو دبندولو دپاره هم په یو ملك اوقوم کی دمادی تدبیرونو هیڅ کمی نسته دقانون سختول اوددی دپاره انتظامی مشینریانی ورځ په ورځ په ترقی دی مګر ددی سره داهم دسترګو لیدلی حال دی چی جرمونه هرځای اوپه هرقوم کی ورځ ورځ په ترقی دی زمونږ په نظر کی ددی وجه ددی څخه ماسوا بله هیڅ نسته چی دمرض دتشخیص اوعلاج طریقه صحیح نه ده دمرض بنیاد ماده پرستی اوپه مادیاتو کی ورکیدل اوداخرت څخه غفلت اومخ اړول دی او ددی واحد علاج دالله ﷻ ذکر اوداخرت فکر دی کوم وخت اوپه کوم ځای کی چی دا اکسیره نسخه استعمال سوي ده ټول قوم اوپوره معاشره صحیح انسانان جوړسوی دی او فرینښتو قصدباندی کړی دی درسالت زمانه اودصحابه کرامو زمانه کتل ددی دپاره پوره دلیل دی.

نن دنیا دجرائمو بندول خوغواړی مګر دخدای اواخرت څخه په غافله کیدوکی یی غواړی اوقدم په قدم داسی داسی اسبابونه جمع کوی چی په هغوی کی دپاته کیدو سره دخدای اواخرت طرف ته ګرسره فکرهم نه ګرځی نوددی لازمی نتیجه دغه وه کومه چی مخ ته راځی چی دښه څخه ښه قانون اوقانونی مشینری ټولی ناکامی لیدل کیږی جرمونه پر خپل ځای نه صرف موجود دی بلکه ورځ په ورځ په طوفانی رفتار سره زیاتیږی افسوس چی یو وار ددنیا عاقلان داقرآنی نسخه استعمال کړی اووی وینی نودوی ته به معلومه سی چی څومره په اسانی سره دجرمونو پربندولو باندی واك پیدا کیږی.

په دوهم آیت کی سستی اوناراستی کوونکو ته ددوی په مرض اوعلاج یی دخبرولو څخه وروسته اخری فیصله داواورله چی.

که تاسی دجهاد دپاره ونه وتلاست نوالله ﷻ به تاسی په دردناك عذاب کی اخته کړی او ستاسی پرځای به بل یوقوم راپورته کړی اوپه دین باندی په عمل نه کولو سره تاسی الله یا دالله رسول ته څه نقصان نه سی رسولی څکه چی الله ﷻ په هرڅه باندی قادر دی.

په دریم آیت کی یی دنبی کریم ﷺ دهجرت واقعه پیش کړه اودایی وښوولە چی دالله ﷻ رسول دیو انسان دنصرت اوامداد محتاجه نه دی الله ﷻ ده ته سیده په سیده دغیبو امداد رسولی سی لکه چی دهجرت په وخت کی وسوه کله چی دوی د دوی قوم او دوطن خلګو دوطن څخه پرایستلو مجبوره کړی په سفر کی د دوی ملګری هم دیوصدیق ﷺ څخه ماسوابل څوك نه وه ددښمنانو سپاره اوپیاده به ورپسی وه اوددوی دپناه ځای هم څه محکمه قلعه نه وه بلکه یوغار وو چی ددغه خلی ته تلاش کوونکی دښمنان رسیدلی وه اودغار دملګری ابوبکرﷺ سره دځان خوغم نه وو مګر ددی څخه بیریدی چی دادښمنان به په

Maktaba Tul Ishaat.com

سردار ددواړو جهانو حمله وکړی مګر رسول الله ﷺ دغره په شان ثابت قدم وو نه صرف په خپله مطمئن وو بلکه خپل ملګری صدیق اکبر ﷺ ته یی ویل ، لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ته غم مه کوه څکه چی الله ﷻ زمونږ سره دی دا خبره خو په وینا کی دوه لفظونه دی چی ویناییی څه مشکله نه ده مګر اوریدونکی چی دحالاتو پوره نقشه مخ ته راولی پرزړه لاس کښیږدی اووګوری چی محض پرمادیاتو باندی نظر کوونکی ته دا اطمینان ممکن نه دی ددی سبب ددی څخه ماسوانه وو کم چی قرآن په راتلونکی جمله کی ارشاد فرمایلی دی چی

الله ﷻ ستاپه زړه مبارك باندی تسلی نازله کړه اوپه داسی لښکرو سره یی ددوی امداد وفرمایی کوم چی تاسی خلګو نه لیدی ،

دا لښکر دفرښتو لښکرهم کیدی سی اودتولی دنیا قوتونه په خپله هم خدایی لښکری دی دغه هم کیدی سی چی ددی نتیجه داسوه چی اخر دکفر کلمه لاندی سوه اودالله ﷻ کلمه لوړه سوه .

په څلورم آیت کی بیادتاکیدپه طورددی حکم اعاده فرمایی چی کله نبی کریم ﷺ تاسی خلګوته دجهاد دپاره دتلوحکم درکی نوپرتاسی باندی وتل په هرحال کی فرض سوه او ددی حکم په منلو کی ستاسی ګټه ده.

په پنځم آیت کی په جهاد کی دسستی اوغفلت په وجه دنه شریکیدونکو دیوعذر بیان کوی اوددی رد کوی چی داعذر دقبلیدو قابل نه دی څکه چی الله ﷻ دوی ته کوم اختیار اوقدرت ورکړی دی ، هغه دوی دالله ﷻ په لاره کی دخپل طاقت مناسب استعمال نه کی ، نو دطاقت دنستوالی عذر صحیح نه دی .

عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ

الله ﷻ دی عفوه وکړی تاته ولی رخصت ورکی تا دوی ته تر دی چی بنکاره سوی وای تاته

صَدَقُوْا وَ تَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۴۳﴾ لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

رښتیاویونکی اوپیژندلی دی وای درواغجن ،نه غواړی رخصت ستاڅخه هغه خلګ کوم چی ایمان راوړی په الله

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ

او په ورځ داخرت داسی چی جنګ وکی په خپلو مالونو سره اوڅانونو سره اوالله ﷻ

عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۴﴾ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

نه پیژنی بیریدونکی ، رخصت هغه خلګ غواړی ستاڅخه کوم چی ایمان نه راوړی په الله او داخرت په ورځ

الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَ

اوبه شك کی پریوتلی دی زړونه د دوی نو دوی په خپل شك کی په تردد کی دی او ،

لَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً وَّ لٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ

که دوی غوښتلی وتل نو خامخا به یی تیار کړی وای څه اسباب ددی لیکن خوښ نه کی الله ددوی پورته ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ اقْعُدُوْا مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿۴۶﴾ لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ

کیدل نو بندیی کی اوحکم ورته وسو چی کښینی سره دکښیستونکو که وتلی په تاسی کی نوهیڅ به

اِلَّا خَبَالًا وَّلَاْ اَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ

یی نه زیاتول ستاسی دپاره مگر خرابی اواسونه زغلوی په تاسی کی دفتنی اچولو په تلاش کی او په تاسی کی

لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ

خینې جاسوسان دی د دوی اوالله ﷻ نه پیژنی ظالمان ، دوی تلاش کوی دورانی دمخکی څخه اوچپه کوی

الْاُمُوْرَ حَتّٰى جَآءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْهُمْ

تاته کارونه تردی چی راغله رښتنی وعده اوغالب سو حکم دالله اودوی یی نه خوښوی اوخینی په

مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ ؕ اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ؕ وَاِنَّ

دوی کی وایی چی مونږ ته اجازه وکړه اوپه ګمراهی کی می مه غورځوه خبردارچی دوی خوپه ګمراهی کی لویدلی

جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۹﴾ اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۚ وَ

دی اوبیشکه دوزخ راګیرونکی دی دکافرانو که ورسیږی تاته څه خیر نوپردوی بدلګیږی اوکه

اِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَاۤ اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا وَّ

ورسیږی تاته سختی نووایی چی مونږ سنبال کړی دی خپل کار دمخکی څخه اوبیرته واپس کیږی

هُمْ فَرِحُوْنَ ﴿۵۰﴾ قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَاۤ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى

اوخوشحالی کوی ته ووایه چی مونږ ته هیڅکله نه رسیږی مگر هغه چی لیکلی دی الله زمونږ دپاره هغه دی

اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَاۤ اِلَّاۤ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ؕ

کارساز زمونږ اوپرالله په کار ده چی بروسه کوی مومنان ته ووایه چی ایاتاسی څه امید کوی زمونږ په حق کی مگر

ددوو ګټو څخه دیوی ،

وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖۤ اَوْ

اومونږ امید کوو ستاسی په حق کی چی واچوی الله پرتاسی څه عذاب دخپل طرف څخه یا

بِاَيْدِيْنَا ؕ فَتَرَبَّصُوْۤا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿۵۲﴾

زمونږ په لاسونو ، نو انتظار کوی مونږ هم ستاسی سره انتظار کوو .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: الله ﷻ ته معاف (خو) کړی (لیکن) تادوی ته (داسی ژر) اجازه ولی ورکړی وه ترڅو چی تاته ربښتینی خلګ ښکاره نه سوه او (ترڅوچی) درواغجن دی نه وه معلوم کړی (ددی دپاره چی دوی نه وای خوشحاله سوی چی مونږ دوی لره دوکه ورکړه او) کم خلګ چی په الله ﷻ اوپه ورځ دقیامت ایمان لری هغوی په خپلو مالونو اوځانونو سره دجهاد کولوپه باره کی (په دی کی دنه شریکیدوبه هیڅکله) ستاڅخه رخصت ونه غواړی (بلکی دحکم کیدو سره به په منډه وی) اوالله ﷻ دغه دخدای ځخه بیریدونکی سه پیژنی (دوی ته به اجر او ثواب ورکړی) البته دغه خلګ (جهاد ته دنه تلو) ستا ځخه رخصت غواړی کوم چی په الله اودقیامت په ورځ ایمان نه لری اوددوی زړونه (داسلام ځخه) په شك کی لویدلی دی پس دوی په خپلو شکونوکی حیران پراته دی (کله یی دموافقت خیال پیداکیږی اوکله (دمخالفت) اوکه دغوخلګو (غزاته) دتلواراده کولای (لکه چی دوی دخپل عذرپه وخت کی اظهارکوی چی زمونږ دتلوار اراده وه لیکن څه وکړو فلانی ضرورت راپیښ سو نو که داسی وای) نو ددی (تلو) څه اسباب خو به یی برابرکړی وای (لکه چی دلوازماتو دسفرځخه څه دی) لیکن (دوی دشروع ځخه اراده نه وه کړی اوتاخیر په کی وسو لکه چی مخ ته راځی: لَوْخَرَجُوا فِيكُمْ اوددی تاخیر کیدو په وجه سره) الله ﷻ د دوی تلل خوښ نه کړل په دی وجه دوی ته یی توفیق ورنه کی او (په تکوینی حکم سره) داسی وویل سوه چی (دشلو اوګودانوسره تاسی هم دلته) ناست اوسی (اوددوی په تلوکی خیر ځکه نسته چی) که داخلګ ستاسی سره شامل سوی وای نوددوچنده فساد کولو ځخه ماسوا به یی نورڅه کولی (هغه فساد به داوو چی) ستاسی په مینځ کی به یی دفتنی پورته کولو په فکر کی منډی وهلی (یعنی دځانه به یی دیوبل په مینځ کی خبری جوړولی په تاسی کی به یی تفریق او ګډوډ کیدل پیداکولی اوپریشانه کولی به یی اوستاسی په زړونوکی به یی ددښمن درعب اچولو کوشش کولی په دی وجه ددوی نه تلل غوره سوه) او (اوس هم) په تاسوکی ددوی جاسوسان موجوددی کموته چی ددی ځخه دزیات دفساد په تدبیرونوکی مهارت نسته) اوددی ظالمانو سره به الله ﷻ ښه پوه سی (اوددی خلګو فسادونه اوفتنی څه نن نوی نه دی) دوی خودمخکی ځخه (په جنګ احدوغیره کی) دفتنو پورته کولو فکرونه کړی وه (چی درسره سوه اوبیا بیرته جلاسوه چی دمسلمانانو زړونه مات سی) او (ددی ځخه علاوه هم) تاته (دضرر رسولو دپاره) کارروایانی کوی تردی چی ربښتینی وعده راغله او (ددی راتلل دادی چی) دالله ﷻ حکم غالب سو اوپر دوی داخبره بده ولګیده (دغه دول اننده هم تسلی ساته هیڅ فکرمه کوه) اوپه دوی (منافقانو) کی ځینی خلګ هغه دی کوم چی (تاته) وایی چی ماته (غزاته دنه تلو اوپه کورکی دپاته کیدو) اجازه راکړی اوماپه خرابی کی مه اچوی ښه پوه سه چی داخلګ په خرابی کی پریوتلی دی (ځکه چی دنبی کریم ﷺ دنافرمانی اودکفر ځخه زیاته به بله څه خرابی وی) اویقیناً دوزخ به (په اخرت کی) داکافران راګیر کړی که تاته څه ښه حالت درپیښیږی نودغه دوی غمجن کوی اوکه پرتا باندی څه حادثه راپریوزی نو (خوشحالیږی) وایی چی مونږ خو (په دی وجه) داول ځخه دخپل احتیاط کولوطرف اختیارکړی وو (چی ددوی سره جنګ وغیره ته ولانه ړو) او (دا ووایی) دوی خوشحالی کوی روان سی ته (په جواب کی دوی ته دوی خبری) وفرمایه (یوه خوداچی) پرمونږ څه حادثه نه سی راتلای مګر هغه کومه چی الله ﷻ زمونږ دپاره مقرره کړې

Maktaba Tul Ishaat.com

ده هغه زمونږ مالك دی (نو مالك چی څه خوښ کړی مملوك لره په دی راضی کیدل واجب دی) او (زمونږ څه تخصیص دی) ټولو مسلمانانو ته په کار دی چی خپل ټول کارونه الله ﷻ ته وسپاری (دوهمه خبره دا) وفرمایه چی (زمونږ دپاره لکه څنګه چی ښه حالت ښه دی دغه ډول حادثی هم په اعتبار دانجام چی په دی سره لوړیدل ددرجو اولیری کیدل دګناهونودی ښه دی پس) تاسی زمونږ په حق کی ددوو ګټو څخه دیوی ګټی انتظار کوی (یعنی تاسی چی کوم زمونږ دحالت منتظره اوسی چی ګوروبه څه کیږی نو برابره خبره ده که دغه ګټه وی اوکه مصیبت زمونږ دپاره دواړه ښه دی) اومونږ ستاسی په حق کی ددی انتظارکووچی خدای ﷻ په تاسی څه عذاب را استوی (برابره خبره ده که) دخپل طرف څخه (په دنیا کی یا په اخرت کی وی) یا زمونږ په لاسو سره (وی چی کله تاسی خپل کفر بنکاره کړی نو دنورو په شان به قتل سی) نوتاسی (په خپل طور سره) انتظار کوی (او) مونږ ستاسی سره (په خپل طور باندی) انتظارکوو

معلومات اومسئلي : ددی ټولی رکوع په اوولسو ایتونو کی زیات دهغو منافقانو ذکر دی کومو چی درواغجن عذر پیش کی تبوك ته دنه تلو اجازه یی دنبی کریم ﷺ څخه حاصله کړی وه په دی ضمن کی ډیرې مسئلی احکام او هدایتونه دی.

په اولنی آیت کی په یوباریك انداز سره دنبی کریم ﷺ څخه ددی خبری شکایت دی چی دی منافقانو دروغ وویل اوځانونه یی معذور بنکاره کړل اوتا مخکی ددی څخه چی ددوی تحقیق دی کړی وای ددرواغجنانو اوربښتیاوو پته دی لګولی وای دوی لره دی رخصت ورکی چی په دی بنادی خلګو خوشحالی کولی اوددا سی ویلو سره واپس سول چی مونږ نبی کریم ﷺ ته ښه دوکه ورکړه که څه هم په راتلونکو ایتونو کی الله ﷻ ددی هم اظهار وفرمایی چی دی خلګو محض دحیلو بهانو دپاره عذر پیش کړی کنه نوکه دوی ته دپاته کیدو اجازه نه وای ورکول سوی خوبیاهم داخلګ دتللو نه وه اوپه یوایت کی ددی هم اظهار فرمایی چی که بالفرض داخلګ جهادته تللی هم وای نوددوی څخه مسلمانانو ته څه فائده نه رسیده بلکه د دوی دسازشونو او فتنو څخه به نوره خطره وای.

لیکن منشاء داده چی که دوی ته دپاته کیدو اجازه نه وای ورکول سوی بیاهم دوی تلونکی نه وه مګر ددوی نفاق به بنکاره سوی وای اومسلمانانو ته ددی طعنو ورکولو موقع به نه وای ورکول سوی چی مونږ ددوی څخه ښه بی عقله جوړکړل اومقصدپه حقیقت کی زورنه نه ده بلکه داخبره ده چی اننده ددا سی خلګو دچلونو څخه خبردار اوسه او صورتًا یوقسم زورنه هم ده نوپه څومره نرمی اومهربانی سره ده چی دزورنی خبره کومه چی د ، لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ څخه شروع کیږی یعنی تادی خلګو لره ولی اجازه ورکړه ددی ذکرکولو څخه مخکی یی: عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ وفرمایل چی معنٰی یی داده چی الله ﷻ ته معاف کړی.

او دنبی کریم ﷺ په منصب اومقام اوالله ﷻ سره د دوی په تعلق نظر لرونکی حضرات فرمایی چی دنبی کریم ﷺ چی کوم انتهایی تعلق دحضرت حق جلّ شانه سره وو ددی په بنا سره د دوی زړه مبارك ددی برداشت نه سو کولی چی دالله ﷻ دطرف څخه دی په یوه معامله کی د دوی څخه جواب طلب کړل سی که په شروع کی د ، لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ الفاظ ذکر سوی وای په کومو کی چی صورةً دجواب طلبی عنوان دی نود نبی کریم ﷺ زړه مبارك ددی برداشت نه سو کولی په دی وجه ددی څخه مخکی یی: عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ وفرمایل

Maktaba Tul Ishaat.com

یو طرف ته یی په دی خبر ورکی چی یو داسی کارسوی دی کوم چی دالله ﷻ په نزد غوره نه وو دویم طرف ته یی ددی اطلاع داول څخه ورکړه چی ته معاف یی ددی دپاره چی راتلونکی خبره پر زړه مبارک زیاته گرانه ونه لگیږی.

اودمعافی دلفظ څخه دی داشبهه نه سی کیدی چی معافی خودجرم اوگناه وی اونبی کریم ﷺ خودگناه څخه معصوم دی نوبیا دمعافی دلته څه معنی کیدی سی وجه داده چی معافی لکه څنگه چی دگناه څخه کیدی سی هم دغسی دخلاف اولی اوناخوښه کار څخه هم کیدی سی یعنی دمعافی لفظ ورته استعمالیدی سی اودا دپاکدامنی څه منافی نه ده.

په دوهم اودریم آیت کی یی دمومنانو اومنافقانو دافرق وښووی چی په الله ﷻ باندی صحیح ایمان لرونکی په داسی موقع هیڅکله هم دخپل ځان اومال په محبت کی دجهاد څخه دځان پاته کولو دپاره ستا څخه رخصت نه غواړی بلکی داصرف دهغو خلگو کار دی دکومو چی په الله اوپه ورځ داخرت ایمان صحیح نه وی اوالله ﷻ متقیان خلگ بنه پیژنی.

په څلورم آیت کی ددوی دعذر دغلطوالی یوه قرینه یی دانبوولی ده چی، وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً یعنی که په واقع کی دی خلگو دجهاد دپاره دوتلو اراده لرلی نو ددوی دپاره ضروری وه چی څه تیاری خویی هم کړی وای لیکن دوی هیڅ تیاری ونه کړه نو ددی څخه معلومه سوه چی د دوی دعذر بهانه غلطه وه په حقیقت کی د دوی دجهاد دپاره دسره دوتلو اراده نه وه.

(په معقول اونامعقول عذر کې فرق)

(ددی آیت څخه یومهم اصول معلوم سو چی په دی سره په معقول اونامعقول عذر کی فرق کول کیږی هغه داچی عذر دهغو خلگو قبلیدی سی کوم چی دحکم منلو دپاره تیاروی بیا دځه اتفاقی حادثی په سبب معذور سی دمعذورو دټولو معاملو داحکم دی کومو چی دحکم منلو دپاره څه تیاری نه وی کړی او اراده یی نه وی کړی بیاځه عذر ورپیښ سی نودا د (عذرِ گناه بد تر از گناه) مثال سو صحیح عذربه نه گڼل کیږی کوم سړی چی دجمعی دلمانځه دحاضری دپاره تیاری مکمله کړي ده اودتلو اراده کوی چی ناڅاپه یو داسی عذر ورپیښ سی چی دهغه په وجه دی ولاړ نه سی نودده عذر معقول دی اوالله ﷻ داسی سړی ته دده دعبادت پوره اجر ورکوی اوچاچی څه تیاری کړی نه وی بیا اتفاقًا څه عذرمخ ته راسی نوداخومحض یوه بهانه ده.

سهاروختی یی دلمانځه دپاره دپورته کیدو تیاری پوره کړه په گهړی کی یی الارم (زنگ وهونکی ساعت) پرځای ولگوی یایی څوک مقررکی چی مابه پروخت پورته کوی بیا اتفاقًا داتدبیرونه ټول غلط سول چی ددی په وجه سره لمونځ قضاسو لکه چی رسول الله ﷺ ته په لیلة التعریس کی پیښه سوه چی پر وخت دپاچیدو دپاره یی دا انتظام وفرمایی چی حضرت بلال ﷺ یی کښینوی چی دی به دسهار کیدو سره ټول راکښینوی مگر اتفاقًا پرهغه هم خوب غالب سو اودلمر ختو څخه وروسته دټولو سترگی وغړیدی نودا عذر صحیح اومعقول دی دکم پربنا چی نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته تسلی ورکوله اووی فرمایل لَا تَفْرِيْطَ فِي النَّوْمِ اِنَّمَاالتَّفْرِيْطُ فِي الْيَقْظَةِ : یعنی په خوب کی بنده معذوره دی کوتاهی هغه ده چی

Maktaba Tul Ishaat.com

بنده په ویښه کوتاهی وکړی وجه داوه چی دخپل طرف څخه یی پر وخت دپورته کیدو انتظام مکمل کړی وو لنډه داده چی دحکم منلو دپاره په تیاری کولو اونه کولو سره دعذر دمعقول یا نامعقول کیدو فیصله کول کیږی محض په زبانی جمع اوخرڅ سره هیڅ نه سی کیدی.

په پنځم آیت کی یی په دوکه سره داجازی اخستونکو منافقانو داحال هم بنوولی دی چی ددوی جهاد نه تلل ښه وو که دوی تللی وای نوپه سازشونو اوددرواغو په خبرونو به یی فساد غورولی: وَفِيكُمْ سَمّٰعُونَ لَهُمْ یعنی په تاسی کی څه ساده اوناپوهه مسلمانان داسی هم دی چی ددوی ددرواغجنانو اغواء گانو څخه متاثره کیدی سی.

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ: یعنی دی خلگو ددی څخه مخکی هم داسی فتنی اوفسادونه خپاره کړی دی لکه په غزا داحد کی چی داسی سوی وه.

وَظَهَرَ اَمْرُاللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ: یعنی حکم دالله غالب راغی حال دا دی چی منافقان په دی ډیر خفه وه په دی سره یی اشاره وفرمایله چی غلبه اوفتح دالله ﷻ په قبضه کی ده لکه چی په تیرو واقعاتو کی یی تاته فتح درکړیده په دی جهاد کی به هم داسی وسی اودمنافقانو ټول چلونه به ناکامه سی.

په شپږم آیت کی دیوخاص منافق جد بن قیس یوه خاصه بهانه ذکر کړې ده او ددې گمراهی یی په ډاگه کړې ده ده جهاد ته دتلو څخه داعذر پیش کړی وو چی زه څوان سړی یم درومیانو مقابلی ته که ولاړسم نوددوی دښائستو ښځو په فتنه کی داخته کیدو څخه می بیره ده قرآن کریم دده په جواب کی وفرمایل اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا چی دابی عقله دیوی موهومی فتنی بهانه کوی په یوی یقینی فتنه یعنی درسول دحکم دخلاف ورزی اودترک جهاد په گناه کی فی الحال اخته سو.

وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ بِالْكٰفِرِيْنَ: یعنی جهنم ددی ټولو کافرانو په خپله گیره کی اخستونکی دی چی دوی به ورڅخه وتلی نه سی ددی څخه مراد یاخو دا دی چی په اخرت کی به جهنم دوی ټوله په گیره کی واخلی اویا داچی جهنم ته درسیدو اسباب کوم چی دا وخت دوی په گیره کی اخیستی دی دایی په جهنم سره تعبیر وفرمایی ددی معنی په اعتبار سره گویا فی الحال هم داخلگ دجهنم په گیره کی دی.

په اووم آیت کی د دوی دیوی بلی کم ظرفی بیان دی چی داخلگ که څه هم په ښکاره کی دمسلمانانو سره ووینی لیکن حال دادی چی، اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ یعنی که تاته څه فتح اوکامیابی حاصلیږی نوپردوی ډیره بده لگیږی: وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَا اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا وَهُمْ فَرِحُوْنَ یعنی که تاته څه مصیبت رسیږی نودا خلگ وایی چی مونږ خوداول څخه پوه وو چی داخلگ څانونه په مصیبت کی اچوی په دی وجه مونږ خپل مصلحت اختیار کی ددوی سره نه شریکیدو اوداوایی په خوشحالی خوشحالی بیرته واپس کیږی.

په اتم آیت کی الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته اومسلمانانو ته دمنافقانو ددی ذکرسوو خبرو څخه دنه متاثره کیدو اوداصل حقیقت په مخکی دراوستو هدایت په دی الفاظو سره کوی، قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا هُوَ مَوْلٰىنَا وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ: یعنی ته په دی مادی اسبابو مغروره کیدونکوته ووایه چی تاسی دوکه کیږی دامادی اسباب خو صرف یوه پرده ده په دوی کی دننه کارکوونکی قوت صرف دالله ﷻ دی مونږ ته چی کوم حال مخ ته راځی دا ټول هغه دی کوم چی الله ﷻ زمونږ دپاره لیکلی دی او هغه زمونږ مولی او مدد

Maktaba Tul Ishaat.com

کار دی او مسلمانانو لره په کار دی چی پرده باندی اصل بهروسه وساتی مادی اسباب صرف اسباب اونخښی وګنی په دی باندی دی دځه خیر اوشر دار ومدار نه ایږدی.

(دتقدیر عقیده دتدبیر داستعمال سره په کارده دتدبیر نه کولو نوم توکل اینبوول غلط دی)

دی آیت دتقدیر دمسئلی اودتوکل اصل حقیقت هم په ډاګه کی چی پرتقدیر او توکل باندی دیقین درلودو دامطلب اخستل نه دی په کار چی بنده تیار کښینی اوداوایی چی څه په قسمت کی وی هغه به کیږی بلکه په کار ده چی داختیاری اسبابو په اختیارولو کی خپل پوره طاقت اوهمت ولګول سی اودخپل طاقت مناسب داسبابو جمع کولو څخه وروسته معامله تقدیر اوتوکل ته وسپاری نظر صرف په الله ﷻ باندی لری چی نتیجی دهرکار دهغه په قبضه دقدرت کی دی.

په مسئله دتقدیر اوتوکل کی دعامی دنیاخلګ ډیرمختلف دی څه بی دینه خلګ خوهغه دی چی دسره دتقدیر اوتوکل قائل نه دی دوی دمادی اسبابو څخه خدای جوړکړی دی اوځه ناپوهه داسی هم دی کومو چی تقدیر اوتوکل دخپلی بیکاری اوکم همتی بهانه جوړه کړي ده ، دنبی کریم ﷺ دجهاد دپاره پوره پوره تیاری او ددی څخه وروسته ددی آیت نزول دا افراط اوتفریط ختم کی صحیح لار یی وښوولە چی ز

بر توکّل زانوئی اشتر به بند

یعنی اختیاری اسباب هم دالله ﷻ ورکول سوی نعمت دی ، ددی څخه فائده نه اخستل نا شکری اوبی وقوفی ده البته اسباب ددرجی څخه مخ ته نه دی زیاتول په کار اوعقیده داسی لرل چه کار دی چی نتیجی او فائدی ددی اسبابو تابع نه دی بلکه دحق ﷻ دفرمان تابع دی.

په ټهم آیت کی یی دمردِ مومن دیوامتیازی شان ذکرکړی دی اوددوی پرمصیبت خوشحالی کوونکو منافقانوته یی داجواب ورکړی دی چی تاسی کم شی زمونږ دپاره مصیبت ګڼی اوخوشحالیږی زمونږ په نزد دغه مصیبت هم مصیبت نه دی بلکی دراحت اوکامیابی یوبل صورت دی ځکه چی مردِ مومن چی په خپله اراده کی ناکامه هم سی نودهمیشه اجر اوبدلی مستحق کیږی کم چی دټولو کامیابیو اصل مقصود دی په دی وجه که دی ناکامه هم سی خوکامیاب وی او وران کار یی هم دجوړ په شان وی.

یعنی دمعشوق زلفی چی بادِصبا ورانولی اوشوخی یی کوله نودغه شوخی دده ونه چلیده ځکه چی په ورانولو سره دمعشوق زلفی لا ښائسته وځلیدی.

په ذکرسوی آیت کی د ، هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ همدا مطلب دی ددی سره یی دا هم وښوولە چی دکفارو حال ددی څخه بالکل بر عکس دی چی دوی په هیڅ حال کی د عذاب اومصیبت څخه نه سی خلاصیدی یابه په دنیا کی دمسلمانانو په لاسو په دوی دخدای ﷻ عذاب راځی او دغه شان به په دنیا او اخرت دواړو کی دوی عذاب څکی او که په دنیا کی په یو ډول سره خلاص سی نو داخرت دعذاب څخه خویی دخلاصون هیڅ امکان نسته.

قُلْ أَنفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿٥٣﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ

ووایه چی مال خرڅ کوی په خوښی سره یاپه ناخوښی سره هیڅکله به قبول نه سی ستاسی څخه بیشکه تاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ

د دوی دخرڅ کولو مګر په دی خبره چی دوی منکر سول د الله ﷻ څخه او دهغه درسول څخه اونه راځی

الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿۵۴﴾

لمانځه ته مګر په نا زړه سره او خرڅ نه کوی مګر په بدګنلو سره ،

فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ

نو تعجب مه کوه ته ددوی په مالونو اوپه اولاد سره داغواړی الله

لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ

چی دوی په عذاب کی وساتی په دی شیانو سره ددنیا په ژوند کی او وزی د دوی روح اودوی

كٰفِرُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ؕ وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ

دغه وخت کافران وی ،او قسمونه اخلی په الله ﷻ چی دوی بیشکه ستاسی څخه دی اودوی ستاسی څخه نه دی

وَلٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ ﴿۵۶﴾ لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَاً اَوْ مَغٰرٰتٍ

او لیکن دغه خلګ بیریږی ، ستاسی څخه که دوی پیدا کی دپناه څه خای یا غار

اَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ

یادسرپناه کولوخای نوچپه تښتی هغه طرف ته رسی شکونکی اوځینی په دوی کی هغه دی

يَّلْمِزُكَ فِى الصَّدَقٰتِ ۚ فَاِنْ اُعْطُوْا مِنْهَا رَضُوْا وَاِنْ لَّمْ

چی تاملامت کوی په خیرات ویشلو کی ، نوکه دوی ته ورکول سی ددی څخه نو راضی سی اوکه

يُعْطَوْا مِنْهَآ اِذَا هُمْ يَسْخَطُوْنَ ﴿۵۸﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ رَضُوْا مَآ اٰتٰىهُمُ

ورنه کول سی ورته ددی څخه نو دغه وخت دوی ناخوښه وی، اوځه به ښه وای که دوی راضی کیدی په هغه چی ورکړی دوی نه

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۙ وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ سَيُؤْتِيْنَا اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ

الله اودهغه رسول او ویلیه یی چی کافی دی مونږ لره الله ﷻ اوهغه به راکړی مونږ ته دخپل فضل څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَرَسُوْلُهٗ ۚ اِنَّاۤ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوْنَ ﴿۵۹﴾

او دهغه رسول اومونږ لره خو صرف الله ﷻ په کار دی

لنډتفسیر: ته (دی منافقانو ته) ووایه چې تاسې (جهاد په وغیره کې) برابره خبره ده که په خوښۍ سره خرڅ کوی یا په ناخوښۍ سره تاسې په هیڅ شان (دخدای په نزد) مقبول نه یاست (ځکه چې) بیشکه تاسې نافرمانی کوونکی خلګ یاست (مراد ددی څخه کفردی لکه چې مخ ته راځی) اوددوی خیرات په قبلیدوکی ددی څخه ماسوابل څه مانع نسته چې دوی دالله ﷻ سره اودهغه درسول سره کفر کړی دی (دی ته یې لورنافرمانی ویلی وه اودکافر هیڅ عمل مقبول نه دی) او (ددی باطنی کفرعلامه په ښکاره داده چې) دغه خلګ لمونځ نه کوی مګر په بی زړه سره او (په نیك کار کی) خرڅ نه کوی مګر په ناخوښۍ سره (ځکه چې په زړه کی یې ایمان خوسته نه چې دثواب امید یی وی اوپه دی امید سره یی رغبت وی محض دبدنامی څخه دخلاصیدو دپاره یی کوی څه چې کوی اوکله چې دوی داسی مردود دی) نو د دوی مالونه او اولاد دی تاپه (دی) تعجب کی وانه چوی (چې داسی غیر مقبول مردودو خلګو ته دومره انعامات څه رنګ ورکول سوه ځکه چې داپه واقع کی ددوی دپاره نعمت نه دی یوقسم عذاب دی ځکه چې) الله ﷻ ته صرف دامنظوره ده چې ددی شیانو په وجه سره ددنیا په ژوند کی (هم) دوی په عذاب کی ګرفتار وساتی اوددوی روح دکفر په حالت کی ووزی (چې په دی سره په اخرت کی هم په عذاب کی ګرفتاروی نودکوم مال اواولاد چې دا انجام وی هغه انعام ګڼل غلطی ده) اودا (منافقان) خلګ په الله ﷻ قسمونه اخلی چې دوی ستاسی څخه دی (یعنی مسلمانان دی) حال دادی چې (په واقع که چیرته) دوی ستاسی څخه نه دی لیکن (خبره داده چې) دوی ډاریان خلګ دی (دبیری څخه په دروغ قسمونه اخلی خپل کفر پټوی چې دنورو کفارو په شان معامله مسلمانان را سره ونه کړی اوبل ځای ددوی ځای نسته چې په ازادی سره ورته ولاړ سی کنه نو) دی خلګوته که څه دپناه ځای ورکول سی یا (په غږ وغیره کې) غار (ورکول سی) یاڅه دپناه کیدو اوننوتو څه ځای (ورکول سی) نودوی به خامخا مخامخ پورته کړی هغه ته به روان سی (مګرداصورت نسته په دی وجه په دروغوقسمونه اخلی اوځانونه مسلمانان جوړوی) اوپه دوی کی ځینی خلګ هغه دی کوم چې دصدقو (دتقسیم) په باره کی تا ملامت کوی (چې په دی تقسیم کی نعوذ بالله انصاف ونه سو) نوکه دصدقو څخه دوی ته (ددوی دخواهش مطابق) ورکول سی نوهغوی راضی سی اوکه چیری ددی صدقو څخه دوی ته (دخپل خواهش مطابق) ورنه کول سی نوناراضه سی (نوددی څخه معلومه سوه چې ددوی داعتراض منشاء په اصل کی څه اصول نه دی بلکه ددنیاحرص اوخودغرضی ده) اوددوی دپاره به ښه وای که دغه خلګ په دی راضی کیدی کم چې الله ﷻ دوی ته (ورکړی وه) او دهغه رسول ورکړی وه او (ددی متعلق یی) داسی ویلی چې مونږته (ورکړه د) الله کافی ده (مونږ ته هم دومره په قاعده سره راکول کیږی نوپه دی کی به خیرات اوبرکت وی اوبیاکه حاجت پیښ سی اومصلحت وی نو) اینده به الله ﷻ دخپل فضل څخه مونږ ته نور را کړی او دهغه رسول ﷺ به یی راکړی مونږ (په زړه سره) دالله طرف ته رغبت کوو (او ټول امیدونه دهغه څخه لرو)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونوکی دمنافقانودبدو اخلاقو اوبدوعملونو ذکرووپه دی ذکرسوو تولو ایتونوکی هم دغه مضمون دی په ، اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ لِیُعَذِّبَهُمْ بِهَا : کی چی کوم دا ارشاد سوی دی چی دمنافقانو مال او اولاد د دوی دپاره نعمت نه دی عذاب دی وجه ددی داده چی ددنیا په محبت کی ورکیدل دانسان دپاره په دی دنیاکی عذاب اومصیبت جوړیږی اول ددنیا دمال حاصلولو ارزوګانو اوبیا ددی په تدبیرونو کی څومره څومره محنتونه مشقتونه اوجسمانی اوروحانی سختی برداشت کړل کیږی نه دورځی ارام اونه دشپی خوب وی نه دخپل تن او بدن څخه خبروی اونه ورته دخپل اهل او عیال سره دزړه مشغولولو فرصت وی بیاچی دغه مال حاصل سی نوددی حفاظت اودزیاتولو فکر یی شپه ورځ یوعذاب جوړسی اوکه لږځه نقصان وسی یاځه ناجوړی ورپیښه سی نودغمونو یو غر پرراپریوزی اوکه تول شیان په اتفاق سره دطبیعت اوخواهش مطابق حاصل هم سی نو ددی دکمیدو فکر او دزیاتولو فکر خو یی هیڅ وخت هم ارام ته نه پریږدی.

بیاهرکله چی اخر داشیان دمرګ په وخت کی یاتردی مخکی دده دلاس څخه ووزی نوپه دی افسوس حسرت اونا امیدی پرمسلطه سی داټول سراسر عذاب دی کم چی بی عقله انسان دراحت داسباب نوم راحت اینبی دی او دحقیقی راحت یعنی دزړه دسکون او اطمینان خوپرده هواهم نه لګیږی په دی وجه اسباب دراحت یی راحت ګڼلی دی په دی کی ډوب دی کوم چی په حقیقت کی دده دپاره ددنیا دارام او راحت هم دښمن دی او د اخرت دعذاب مقدمه هم.

﴿ ایا دصدقو مال کافر ته ورکول کیدی سي؟ ﴾

دآخری آیت څخه معلومیږی چی دصدقو دمالونو څخه به منافقانوته هم حصه ورکول کیده مګردوی به دخواهش مطابق په نه ورکول کیدو ناراضه کیدل اولعن طعن اوملامتیابه یی کول دلته که دصدقو څخه مراد عامه معنٰی واخستل سی چی صدقی واجب اوصدقی نفلی تولی په کی شاملی دی نوهیڅ اشکال نسته ځکه چی دنفلی صدقو څخه غیر مسلموته ورکول په اتفاق دامت سره جائز اوپه سنتو سره ثابت دی اوکه دصدقو څخه مراد دلته فرض صدقی زکوٰة عشر وغیره وی نو منافقانوته ددی څخه حصه ورکول پردی بنا باندی وه چی دوی خپل ځان مسلمان ښکاره کوی اوظاهری څه دلیل د دوی پرکفر نه وو قائم سوی اوالله ﷻ په مصلحت دحکم سره هم دامقرر کړی وه چی دمنافقانوسره دی هغه معامله کول کیږی کومه چی دمسلمانانوسره کول کیږی (بیان القرآن ملخصاً)

وَلَا یَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ کُسَالٰی: په دی آیت کی یی دمنافقانو دوی ننبانی ښوولی دی یوه داچی کله لمانځه لره راځی نوپه سستی سره اودزړه په نه غوښتلو سره راځی دوهم داچی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی نوپه ناخوښی سره یی کوی اوزړه یی باندی خوشحاله نه وی.

په دی کی مسلمانانو ته هم خبرداری دی چی په لمانځه کی سستی او ناراستی او دزکوٰة او صدقو په ورکولوکی دزړه ناخوښی پیداکیدل دنفاق ننبانه ده مسلمانانو ته کوشش کول پکاردی چی ددی نخښو اوعلامو څخه ځانونه وساتی.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ

زکوٰة حق دی دغریبانو محتاجانو اوپه زکوٰة کی دکار کوونکو اودکمو چی زړونه مائله کول منظور وی

وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ فَرِيْضَةً

اوپه ازادولو دګردنونوکی اودچاچی تاوان سوی وی اودالله په لاره کی اودمسافردلاری دامقررکړی دی

مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۰﴾

الله ﷻ اوالله ﷻ په هرڅه پوه حکمت والا دی

لنډتفسیر: (فرض) صدقی خوصرف حق دی دغریبانو محتاجانو اوکم چی کارکوی په دی صدقو کی (دحاصلولو اووصولولو) اودچازړه ساتل چی (منظور) وی اودغلامانو په ګردنونو ازادولوکی (دی صرف کړل سی) اودقرضدارانو په قرضه (اداکولو) کی او (د) جهاد والاوو (په تیارولو داسباب) کی اوپه مسافرانو (په امداد) کی داحکم دالله ﷻ دطرف څخه مقرر دی اوالله ﷻ لوی علم والا لوی حکمت والادی

معلومات اومسئلې: دصدقومصرفونه: ددی څخه په مخکی ایتونوکی یی دصدقوپه باره کی پرنبی کریم ﷺ باندی دځینو منافقانو د اعتراضونو اودهغه دجوابونو ذکروو چی منافقانو په نبی کریم ﷺ دا الزام لګولی وو چی ته (معاذ الله) دصدقو په تقسیم کی انصاف نه کوی چاته چی وغواړی او څومره چی وغواړی نو ورکوی یی.

په دی آیت کی الله ﷻ دصدقو مصرفونه مقرر کړل او د دوی داغلط فهمی یی لیری کړه چی الله ﷻ دا خبره په خپله مقرره کړي ده چی صدقی کومو خلګو ته ورکول په کار دی او نبی کریم ﷺ دصدقو په تقسیم کی دالله ﷻ دارشاد مطابق عمل فرمایی په خپله رایه سره هیڅ هم نه کوی.

ددی تصدیق ددی حدیث څخه هم کیږی کوم چی ابوداود اودار قطنی دحضرت زیاد بن حارث صدائی په روایت سره نقل کړی دی دی فرمایی چی زه دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سوم نومعلومه سوه چی دوی دده دقوم دمقابلی دپاره یولښکر دمسلمانانو روانوی ماعرض وکی چی یارسول الله! تاسی لښکر مه لیږی زه ددی ذمه واری اخلم چی دوی به ټول حکم ومنی اوفرمانبردار به حاضرسی بیا ماخپل قوم ته خط ولیکی نو ټول مسلمانان سول نوپه دی باندی دوی وفرمایل: يَا أَخَا صُدَاءَ المطاعِ فِيْ قَوْمِهِ: چی په دی کی ګویاده ته داخطاب ورکول سو چی دی دخپل قوم محبوب اومقتداء دی ماعرض وکی چی په دی کی زما هیڅ کمال نسته دالله ﷻ په کرم سره دوی ته هدایت وسو اودوی مسلمانان سول دی فرمایی چی زه لاپه دی مجلس کی حاضر وم چی یوسړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی دڅه پوښتنی کولو دپاره حاضرسو دوی داجواب ورته ورکی چی.

دصدقو تقسیم الله ﷻ چا نبی یاغیر نبی ته هم نه دی حواله کړی بلکه په خپله یی ددی اته مصرفونه مقررکړی دی که تاسی په دی اتوکی داخل یاست نوزه یی تاسی ته درکولی سم انتهی (قرطبی ص۱۶۸ج ۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

دایت دشان نزول معلومولو څخه وروسته دایت دمکمل تفسیر اوتشریح اوریدو څخه مخکی په دی خبره
څان پوه کی چی الله ﷻ ټول مخلوقات انسان اوحیوان وغیره ته درزق ورکولو وعده فرمایلی ده ، وَمَا مِنْ
دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا اوددی سره یی په خپل بالغ حکمت سره داسی نه ده کړی چی ټول یی په رزق
کی برابر کړی وای دغنی اوفقیر فرق یی نه وای راوستلی په دی کی دانسان داخلاقو تربیت اوددنیا
دنظام متعلق په سوونو حکمتونه دی چی دتفصیل یی داموقع نه ده ددی حکمت لاندی یی څوک مالدار
کړل څوک غریبان اوفقیران بیا دمالدارانو په مال کی یی دغریبانو حصه مقرره کړه ارشاد فرمایی
وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ ! لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ په دی کی یی وښوولـه چی دمالدارو په مال کی الله ﷻ
یو معین مقدار حصه دفقیرانو دپاره مقرره کړی ده ، کومه چی ددغو فقیرانو حق دی .

ددی څخه یوه خو دامعلومه سوه چی دمالدارو دمال څخه چی دکومی صدقی دایستلو حکم ورکول سوی
دی داڅه ددوی احسان نه دی بلکی دفقیرانو یوحق دی چی ادا کول یی ددوی پرذمه ضروری دی دوهمه
داهم معلومه سوه چی داحق دالله ﷻ په نزد مقرردی داسی نه ده چی ګوندی دچازړه غواړی اوکله یی
غواړی په دی کی کمی زیاتی کولی سی الله ﷻ ددی معین حق دمقدار ښوولو کار نبی کریم ﷺ ته
وسپاری اوپه دی وجه دوی ددی دومره اهتمام وفرمایی چی صحابه کرامو ﷺ ته یی صرف په زبانی
ښوولو بس والی ونه فرمایی بلکه ددی معاملی متعلق یی مفصل فرمان ولیکی حضرت فاروق اعظم ﷺ
اوعمرو بن حزم ﷺ ته یی وسپاری چی په دی کی په واضح طور سره ثابته شوه چی دزکوٰة نصاب اوپه
هرنصاب کی دزکوٰة مقدار دهمیشه دپاره الله ﷻ دخپل رسول په واسطه سره متعین کړی او ښوولی دی
په دی کی په هیڅ زمانه او هیڅ ملك کی چاته دکمی اوزیاتی رد اوبدل هیڅ حق نسته .

دصدقی زکوٰة فرضوالی صحیح داده چی په اول داسلام کی په مکه مکرمه کی نازل سوی وو لکه چی
دتفسیر امام ابن کثیر دسورة مزمل دایت ، فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ څخه دلیل فرمایلی دی ځکه
چی داسورة بالکل دابتدایی وحی دسورتونو څخه دی په دی کی دلمانځه سره دزکوٰة حکم هم دی البته
دحدیث دروایتونو څخه داسی معلومیږی چی داسلام په ابتداء کی دزکوٰة دپاره څه خاص نصاب
یاخاص مقدار مقرر نه وو بلکه څه چی به یومسلمان دخپلو ضرورتونو څخه زیات پیدا کړل هغه به یی
ټول دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول دنصابونو تعین اودزکوٰة دمقدار بیان وروسته دهجرت څخه په مدینه
طیبه کی سوی دی اوبیا دزکوٰة اودصدقو دوصولولو محکمانه نظام خودمکی دفتح څخه وروسته په
عمل کی راغلی دی .

په دی آیت کی په اجماع داصحابو اوتابعینو ددغه واجب صدقی دمصرفونو بیان دی کومه چی دلمانځه
په شان په مسلمانانو فرض ده ، ځکه چی کوم مصرفونه په دی آیت کی متعین سوی دی دغه دفرض
صدقو مصرفونه دی په نفلی صدقو کی دصحیح روایتونو دتصریحاتو په بنا باندی دیر وسعت دی دغه
په دی اتو مصرفونو کی حصر نه دی .

که څه هم په لوړو آیتونو کی دصدقو لفظ دعاموصدقو دپاره استعمال سوی دی په کومو کی چی واجب
او نفلی دواړه دا خل دی مګر په دی آیت کی په اجماع دامت دفرض صدقو دمصرفونو بیان مراد دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

په تفسیر قرطبی کی دی چی په قرآن کریم کی کوم ځای لفظ دصدقو مطلق راغلی دی اوځه قرینه ورسره دنفلی صدقونه وی نوهلته خاص فرض صدقه مراد وی.

دا ایت یی دلفظ د، اِنَّمَا ځخه شروع کړی دی دالفظ دحَصْرْ اوانحصاردپاره استعمالیږی دی دشروع کلمی داوښوولهٔ چی دصدقو چی کوم مصرفونه مخکی بیانیږی تولی واجبی صدقی صرف په دوی کی خرڅ کول پکاردی ددی ځخه علاوه په بل نیك مصرف کی واجب صدقی نه سی صرف کیدی لکه دجهاد تیاری یاجمات مدرسه جوړول یانوری دعامی فائدی ارادی داټول شیان هم که څه هم ضروری دی اوپه دوی کی دخرڅ کولو ډیر لوی ثواب دی مگر فرض صدقی دکمو چی مقدارونه متعین سوی دی دغه په دی کارونو کی نه سی لګول کیدی.

دایت دوهم لفظ: صَدَقَاتْ: دصدقی جمع ده صدقه په لغت کی دهغه مال جزء ته ویل کیږی کوم چی دالله دپاره خرڅ سی (قاموس) امام راغب په مفردات القرآن کی فرمایی چی صدقی ته صدقه ځکه وایی چی ددی ورکوونکی ګویا دادعوی کوی چی زه په خپل قول اوفعل کی صادق یم ددی په خرڅ کولو کی زما څه ددنیا غرض نسته صرف دالله ﷻ درضا دپاره یی خرڅ کوم په دی وجه په کومه صدقه کی چی څه نوم اونمائش یا ددنیا څه غرض شامل سی، قرآن کریم دغه صدقه نیستی ګنلی ده.

لفظ دصدقی دخپلی اصلی معنی په روسره عام دی نفلی صدقی ته هم ویل کیږی فرض زکوٰة ته هم دنفلی دپاره خو ددی استعمال عام دی دفرض دپاره هم په قرآن کریم کی ډیر ځایه دالفظ استعمال سوی دی لکه، خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً او په دی تیر سوی آیت کی، اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ وغیره بلکه دقرطبی دتحقیق مطابق تحقیق دا دی چی کله په قرآن کریم مطلق لفظ دصدقې ذکرسی نو ددی ځخه فرض صدقه مراد وی او په روایتونو دحدیث کی لفظ دصدقی دهرنیك کار دپاره هم استعمال سوی دی لکه په حدیث کی دی چی دیو مسلمان سره په خوشحالی لیدل هم صدقه ده یوچاته دهغه بار ورپورته کول هم صدقه ده دځاه ځخه دځان دپاره اوبه را ایستل اوبل ته هم ورځخه ورکول هم صدقه ده په دی حدیث کی لفظ دصدقی په مجازی طور سره په عامه معنی کی استعمال سوی دی.

دریم لفظ ددی ځخه وروسته د، لِلْفُقَرَآءِ ځخه شروع سوی دی ددی په شروع کی حرف د: لام: دی کوم چی دتخصیص په معنی کی استعمالیږی په دی وجه معنی دجملی داسوه چی ټول صدقات صرف ددی خلګو حق دی دکومو ذکر چی وروسته سوی دی.

اوس ددی اتو مصرفونو تفصیل واوری کوم چی ددی ځخه وروسته ذکردی په دوی کی اول مصرف: فقیران دی دوهم: مسکینان دفقیر اومسکین په اصل معنی کی که څه هم اختلاف دی دیوه معنی ده دچاسره چی هیڅ نه وی ددوهم معنی ده دچاسره چی دنصاب ځخه کم وی لیکن په حکم دزکوٰة کی دواړه یوډول دی هیڅ اختلاف په کی نسته خلاصه یی دا سوه چی دکوم سړی سره دده داصلی ضرورت ځخه زیات په قدر دنصاب مال نه وی ده ته زکوٰة ورکولی سی اوده لره زکوٰة اخستل هم جائز دی په ضرورتونو کی د اوسیدو کور داستعمال لونبی جامی اودلرګیو اسباب وغیره نصاب یعنی سره اووه نیمی تولی یا سپین زر دوه پنځوس نیمی تولی یاددی قیمت چی دچاسره وی اودی قرض داری هم نه وی نه ده ته زکوٰة

Maktaba Tul Ishaat.com

اخستل جائز دی اونه ورلره ورکول دغه ډول هغه سړی دچاسره چی څه سپین یانقد پیسی دی یالږ څه سره زر دی نودتولو قیمت به ولګوی که د دوو پنځوس نیمو تولو دسپینو زرو دقیمت سره برابر سی نوهغه هم دنصاب خاوند دی ده لره زکوٰة ورکول اواخستل جائزنه دی اوکوم سړی چی صاحب دنصاب نه وی لیکن تندرست قوی اودګتی وتی قابل وی او دیوی ورځی دګذاری خرڅ ورسره موجود دی ده ته که څه هم زکوٰة ورکول جائز دی خو دا ورته جائز نه دی چی دی ګرځی دخلګو څخه سوال کوی په دی کی دیر خلګ غفلت اوبی پرواهی کوی دداسی خلګو دپاره سوال کول حرام دی داسی سړی چی په سوال څه حاصلوی نبی کریم ﷺ دی ته د دوزخ سکروټی فرمایلی دی (ابوداود په روایت دعلی ﷺ قرطبی)

لنډه دا ده چی په فقیر اومسکین کی دزکوٰة په باره کی څه فرق نسته البته دوصیت په حکم کی فرق راځی چی دمسکینانو دپاره یی وصیت کړی وی نوځنګه خلګو ته ورکول کیږی اوکه دفقیرانو دپاره یی کړی وی نوځنګه خلګو ته به ورکول کیږی خوددی دبیان دلته ضرورت نسته دفقیر اومسکین په دواړو مصرفونو کی داخبره مشترکه ده چی چاته دزکوٰة مال ورکول سی هغه مسلمان وی اوداصلی حاجتونو څخه ماسوا ورسره په قدر دنصاب مال موجود نه وی.

که څه هم عامی صدقی غیر مسلموته هم ورکول کیږی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، تَصَدَّقُوْا عَلٰی اَهْلِ الْاَدْیَانِ کُلِّهَا یعنی په هر مذهب والا باندی صدقه کوی.

لیکن دزکوٰة دصدقی په باره کی نبی کریم ﷺ حضرت معاذ ﷺ ته دیمن طرف ته دلیږلو په وخت کی داهدایت فرمایلی وو چی دزکوٰة مال صرف دمسلمانانو دغنیانو څخه اخله اوددوی په فقیرانو یی خرڅ کوه په دی وجه دزکوٰة مال صرف په مسلمانانو فقیرانو او مسکینانو خرڅ کولی سی دزکوٰة دمال څخه علاوه نوری صدقی تردی چی صدقه فطر هم غیر مسلمانانو فقیرانو ته ورکول جائزدی (هدایه)

او دوهم شرط دنصاب دنه مالك کیدو څخه په خپله دفقیر اومسکین دمعنی څخه واضح کیږی ځکه چی یاخوبه دده سره هیڅ نه وی یابه دنصاب دقدر څخه کم وی ، په دی وجه فقیر اومسکین دواړه په دومره خبره کی شریك دی چی ددوی سره په قدر دنصاب مال موجود نه وی ددی دواړو مصرفونو څخه وروسته دنورو شپږو مصرفونو بیان دی په دی کی اولنی مصرف دزکوٰة دکار کوونکو دی.

دریم مصرف: اَلْعَامِلِیْنَ عَلَیْهَا دی دلته دعاملین څخه مراد هغه خلګ دی کوم چی داسلامی حکومت دطرف څخه په صدقو زکوٰة عشر وغیره دخلګو څخه په وصول کولو اوپه بیت المال کی په جمع کولو مامور وی داخلګ چونکه خپل ټول وخت په دی خدمت کی خرڅ کوی په دی وجه ددوی دضرورتونو ذمه واری پراسلامی حکومت باندی ده قرآن کریم په دی آیت کی دزکوٰة په مصرفونو کی ددوی حصه کښیښوولە اودایی متعیّنه کړه چی د دوی دخدمت حق به ددی زکوٰة څخه ورکول کیږی.

په دی کی اصل دادی چی الله ﷻ دمسلمانانو څخه دزکوٰة اودصدقو دوصولولو فریضه سیده په سیده نبی کریم ﷺ ته سپارلی ده چی ذکریی په دی سورة کی په مخ ته راتلونکی یوآیت کی داسی دی: خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً یعنی ته دمسلمانانو دمالونو څخه صدقه وصولوه ددی ایت مفصّل بیان خوبه مخ ته راسی البته دلته دانبوول دی چی ددی آیت په وجه سره دمسلمانانو پرامیر دافرض راځی چی دی زکوٰة اد

Maktaba Tul Ishaat.com

صدقی وصول کړی اودا ظاهره ده چی امیر په خپله داکار په تول ملك کې بغیر دمددګارانو څخه نه سی کولی نو ددی مددګارانو ذکر په دی ذکرسوی آیت کی د وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا په الفاظو سره سوی دی.
په دی آیتونو دعمل کولو دپاره نبی کریم ﷺ دیر صحابه کرام رضی الله عنهم دصدقو په وصولولو کار کوونکی جوړ کړل اودملك مختلفو حصوته یی ولیږل اوددکر سوی آیت دښوونی مطابق یی دزکوٰة دوصول سوی مال څخه دوی ته دخدمت حق ورکړیدی په دوی کی هغه حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم هم شامل دی کم چی غنیان وه په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی صدقه دیو غنی یعنی مالدار دپاره حلاله نه ده بغیر دپنځو تنو څخه یو هغه سړی چی دجهاد دپاره وتلی دی اوهلته دده سره په قدر دضرورت مال نسته که څه هم چی په کورکی مالدار وی دوهم دعامل دصدقی چی دصدقی وصولولو خدمت کوی دریم هغه سړی چی که څه هم چی دده سره مال سته خودی ددی موجوده مال څخه زیات قرضدار دی څلورم هغه سړی چی دیو غریب اومسکین څخه یی دصدقی مال په پیسو اخیستی وی پنځم هغه سړی چی یو څوك غریب یافقیر ورلره دصدقی مال په طور دتُحفی ډالی ورکړی.
پاته سوه دا مسئله چی کار کوونکی دصدقوته به ددی څومره ورکول کیږی نوددی حکم دادی چی ددوی دمحنت اوکار مطابق به دوی ته ورکول کیږی (احکام القرآن للجصاص قرطبی)
البته دابه ضروری وی چی دکار کوونکو تنخواه ګانی به دصدقودمال دنیمی څخه نه زیاتوی که زکوٰة دومره کم وصول سوی وو چی که دکار کوونکو تنخواه ګانی ورڅخه ورکړل سی نوبیا به دنیمی څخه کم پاته کیږی نوبیابه په تنخواه ګانوکی کمی کول کیږی دنیم زکوٰة څخه زیات به په تنخواه ګانو دکار کوونکوکی نه خرڅ کړل کیږی (تفسیر مظهری ظهیریه)
د ذکر سوی بیان څخه معلومه سوه چی دصدقو کار کوونکوته کوم رقم دزکوٰة دمال څخه ورکول کیږی هغه په حیثیت دصدقی نه دی بلکه ددوی دخدمت بدله ده په دی وجه سره دغنی والی اومالدار والی هم دوی ددی رقم مستحق دی اودزکوٰة څخه دوی ته ورکول جائز دی اودزکوٰة په اتو مصرفونوکی صرف یودا مصرف داسی دی چی په دی کی رقم دزکوٰة په طور دمعاوضی دخدمت ورکول کیږی کنه نوزکوٰة نوم دهغه ورکړو دی کوم چی غریبانوته بغیر دځه معاوضی دخدمت څخه ورکول کیږی اوکه دیوغریب اوفقیر څخه یی څه خدمت واخیستی اوزکوٰة یی ورکړی نونه دی اداء سوی.
په دی وجه دلته دوه سوالونه پیدا کیږی اول دا چی دزکوٰة مال دخدمت په معاوضه کی څنګه ورکوی ؟ دوهم داچی دمالدار دپاره دا دزکوٰة مال څنګه حلال سو ؟ ددی دواړو سوالونو جواب یودی چی دصدقو دکار کوونکو اصلی حیثیت وپیژندل سی هغه دادی چی داحضرات دفقیرانو دوکیلانو حیثیت لری اوپه دی هرسړی پوه دی چی دوکیل قبضه داصلی مؤکل دقبضی په حکم کی وی که یوسړی دخپلی قرضی دوصولولو دپاره یوڅوك وکیل اختیار منډ جوړ کړی اوقرضدار داقرضه وکیل ته وسپاری نوچه وکیل یی قبضه کړی قرضدار بری سو نوکله چی دزکوٰة رقم دصدقو وصوولونکو دفقیرانو دوکیل کیدو په حیثیت سره وصول کی نوددوی زکوٰة اداسو اوس داتول رقم دهغو فقیرانو ملکیت دی دکومو دطرف څخه چی په طور دوکیلانو دوی وصول کړی دی اوس چی کوم رقم په طور دحق دخدمت دوی ته ورکول

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی دغه دمالدارو دطرف څخه نه دی بلکه دفقیرانو دطرف څخه سو اوفقیرانو ته په دی کی دهر قسم تصرف کولو اختیار دی دوی ته دا حق هم سته چی کله دوی خپل کار ددی خلګو څخه اخلی نو چی دخپل رقم څخه څه دوی ته دخدمت په معاوضه کی ورکړی.

اوس سوال داپاته کیږی چی فقیرانو خو دوی ګرسره مختار وکیلان نه دی جوړکړی نودوی دهغوی وکیلان څنګه جوړسوه ددی وجه داده چی داسلامی حکومت سربراه چاته چی امیر ویل کیږی دغه په قدرتی طور دالله ﷻ دطرف څخه دټول ملك دفقیرانو اوغریبانو وکیل وی ځکه چی ددی ټولو دضرورتونو ذمه واری پرده باندی راځی دحکومت امیر چی کوم کوم خلګ دصدقو دوصولولو کی کوونکی جوړکړی دغه ټول ددې دنائبانو په حیثیت سره دفقیرانو وکیلان جوړ سی.

ددی څخه معلومه سوه چی دصدقو کار کوونکوته چی څه ورکول سوه دغه په حقیقت کی زکوٰة نه دی بلکه زکوٰة چی دکمو فقیرانو حق دی دهغوی دطرف څخه دخدمت معاوضه ورکول سوه لکه یوغریب فقیر چی څوك دخپلی مقدمی وکیل جوړکړی اوده لره دخدمت حق دزکوٰة څخه دوصول سوی مال څخه ورکوی نو دلته یی نه ورکوونکی په طور دزکوٰة سره ورکوی وی اونه یی اخستونکی په حیثیت دزکوٰة سره اخلی.

فائده: دذکرسوی تفصیل څخه داهم معلومه سوه چی نن صبا کوم داسلامی مدرسو اوانجمنونو مهتممان یاددوی دطرف څخه لیږل سوی سفیران صدقی زکوٰة وغیره دمدرسو اوانجمنونو دپاره وصولوی ددوی هغه حکم نه دی کوم چی دصدقو دکار کوونکو په دی آیت کی ذکر دی چی دزکوٰة درقم څخه د دوی تنخواه ورکړی بلکه دوی ته دمدرسو او انجمنونو دطرف څخه جلا تنخواه ورکول ضروری دی دزکوٰة درقم څخه دوی لره تنخواه نه سی ورکولی وجه داده چی داخلګ دفقیرانو وکیلان نه دی بلکه دزکوٰة دخاوندانو یعنی مالدارانو وکیلان دی د دوی دطرف څخه دزکوٰة مال دزکوٰة په مصرف کی دلګولو دوی ته اختیار ورکول سوی دی په دی وجه د دوی دقبض کولو څخه وروسته هم ترهغه وخته پوری زکوٰة نه سی ادا کیدی تر څو چی دا حضرات دا په مصرف کی خرڅ نه کړی.

دفقیرانو څخه وکیل والی په دی وجه ښکاره دی چی په حقیقی طور سره خویو فقیر هم دی خپل وکیل نه دی جوړکړی اودامیر المومنین دولایت عامه په بنا چی کم خود بخوده دفقیرانو وکالت حاصلیږی هغه هم دوی ته حاصل نه دی په دی وجه ددی څخه بغیر بل هیڅ صورت نسته چی دوی دزکوٰة دخاوندانو یعنی مالدارنو وکیلان مقرر سی اوترڅو پوری چی دوی دامال په مصرف کی خرڅ نه کړی د دوی قبضه داسی ده لکه دزکوٰة رقم چی په خپله دمال دخاوند سره پروت وی.

په دی معامله کی په عام طور سره بی پرواهی کیږی ډیری اداری دزکوٰة فنډ وصولوی او په کلونو پروت وی اودزکوٰة خاوندان داسی ګمان کوی چی زمونږ زکوٰة اداسو حال دا دی چی د دوی زکوٰة به هغه وخت اداسی ګله چی د دوی رقم دزکوٰة په مصرف کی صرف سی.

دغه ډول ډیر خلګ دناپوهی په وجه داخلګ دصدقو دکار کوونکوپه حکم کی داخل ګڼی دزکوٰة درقم څخه دوی ته تنخواه ګانی ورکوی دا نه دورکوونکو دپاره جائز دی او نه داخستونکو دپاره.

Maktaba Tul Ishaat.com

یوبل سوال پر عبادت باندی اجرت: دلته یوبل سوال داپیدا کیږی چی دقرآن کریم داشاراتو اودنبی کریم ﷺ داحادیثو دډیرو وضاحتونو څخه داخبره ثابته ده چی په څه عبادت باندی اجرت اومعاوضه اخستل حرام دی دمسند احمد په حدیث کی په روایت دعبد الرحمٰن بن شبل نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اقْرَأُوا الْقُرْآنَ وَلَا تَأْكُلُوا بِهِ یعنی قرآن کریم ووایاست خو دا دخوراك ذریعه مه جوړوی او په څنو روایتونو کی یی هغه معاوضی ته دجهنم اور ویلی دی کومه چی په قرآن کریم واخستل سی په دی وجه دامت دفقهاؤ اتفاق دی چی په طاعت اوعبادت باندی اجرت اخستل جائزنه دی اوداهم ښکاره ده چی دصدقو وصولولو کار یودینی خدمت اوعبادت دی نبی کریم ﷺ دی ته یو قسم جهاد فرمایلی دی نو ددی مقتضٰی دا وه چی په دی هم څه اجرت اومعاوضه اخستل حرام وی حال دا دی چی دقرآن کریم دی آیت په واګه جائزه کړه اودزکوٰة په اتو مصرفونو کی یی داداخله وفرمایله.

امام قرطبی رحمه‌الله په خپل تفسیر کی ددی متعلق فرمایی چی کم عبادتونه عین فرض یاواجب دی په هغه اجرت اخستل مطلقًا حرام دی لیکن کوم چی فرض کفایه دی په دی څه معاوضه اخستل ددی آیت په روسره جائزدی دفرض کفایه معنٰی داده چی یوکار دټول امت یاټول ښار په ذمه فرض سی مګر دالازمه نه ده چی ټول خلګ دی دغه کار وکړی که څینی خلګ یی ادا کړی نودټولو غاړه خلاصیږی البته که یویی هم ونه کړی نو ټول به ګناهګار سی.

امام قرطبی رحمه‌الله فرمایی چی ددی آیت څخه ثابته سوه چی په امامت اوخطابت معاوضه اخستل هم جائز دی ځکه چی دغه هم عین واجب نه دی بلکه واجب علی الکفایه دی انتهٰی دغه شان دقرآن اوحدیثو په تعلیم اونورو دینی علومو باندی هم معاوضه اخستل کیږی ځکه چی داکارونه دټول امت په ذمه فرض کفایی دی که څینی خلګ یی وکړی نو دټولو غاړه به خلاصه سی نوکه په دی څوك معاوضه اوتنخواه اخلی نو دا هم ددې پاره جائز دی.

څلورم مصرف : دزکوٰة په مصرفونو کی : مَؤَلَّفَةُ الْقُلُوْب دی دا هغه خلګ دی دکومو دزړه ساتنی دپاره چی به دوی ته صدقی ورکول کیدی په عام طور سره داسی بیانیږی چی په دوی کی دری څلور قسمه خلګ شامل وه څه مسلمانان څه غیر مسلم بیاپه مسلمانانو کی څینی خوهغه خلګ وه کوم چی غریبان حاجتمندان هم وه اونوی مسلمانان هم ددوی زړه ساتنه به ځکه کیده چی پراسلام پاخه سی اوځینی هغه وه چی مالداران هم وه او مسلمانان سوی وه مګر لاتراوسه پوری دایمان رنګ ددوی په زړونه وو ختلی اوځینی هغه خلق وه چی په خپله خوپاخه مسلمانان وه مګرددوی قوم د دوی په ذریعه هدایت ته راوسټل مقصود وو اوپخته کول یی مقصود وو اوپه غیر مسلموکی هم څه هغه خلق وه دکومو دښرځخه چی دخلاصیدو دپاره به دهغوی دزړه ساتنه کول کیده اوځینی هغه وه دکومو په باره کی حی داتجربه وه چی نه په تبلیغ اوتعلیم سره په دوی اثرکیږی اونه په جنګ اوسختی سره بلکه احسان اونیه سلوك پردوی اثر کوی رحمة للعٰلمین ﷺ خوپه دی پوهه وو چی دخدای مخلوق دکفر دتیاری څخه راوباسی اودایمان درنا طرف ته یی راولی ددی دپاره به یی هرهغه جائز تدبیر کوی په کوم سره چی به دغه خلګ متاثر کیدی سوَل دا ټول قسمونه په عام طور سره په مؤلفة القلوب کی داخل ګڼل کیږی ، کوم چی دصدقو څلورم

Maktaba Tul Ishaat.com

مصرف په دی آیت کی مقرر سوی دی.

څلورم مصرف: مولفة القلوب دی د دوی متعلق په دی تیرو مخونو کی داوښوول سوه چی داهغه خلګ دی دکومو دزړه ساتنی دپاره چی به دوی ته دصدقو څخه حصه ورکول کیده دعام خیال مطابق په دوی کی مسلم اوغیر مسلم ټول شامل وه دغیر مسلمو زړه ساتنه به اسلام ته دمائله کیدو دپاره او دنو مسلمو دزړه ساتنه به پراسلام دپخته کیدو دپاره کول کیده په عام طور سره مشهوره دا ده چی دوی ته دنبی کریم ﷺ په مبارك وخت کی دیوخاص علت اومصلحت دپاره چې ذکر یې اوس وسو صدقی ورکول کیدی دنبی کریم ﷺ دوفات څخه وروسته کله چی اسلام ته مادی قوت هم حاصل سو اودکفارو دشر څخه دبچ کیدو یادنوو مسلمانانو په اسلام دپخته کولو دپاره ددا سی تدبیرونو ضرورت پاته نه سو نودغه علت او مصلحت ختم سو په دی وجه د دوی حصه هم ختمه سوه کومه چی فقهاؤ ورڅخه تعبیر په منسوخ کیدو سره کړی دی دفاروق اعظم ﷺ حسن بصری شعبی ابوحنیفه مالك بن انس رحمهم الله طرف ته ددی قول نسبت کول کیږی.

اونور ډیر حضرات فرمایی چی دمؤلفة القلوب حصه منسوخ نه ده بلکه دصدیق اکبر ﷺ اوفاروق اعظم ﷺ په زمانه کی ددی دساقط کولو مطلب دادی چی دضرورت څخه دپاته کیدو په وجه سره یی ددوی حصه ساقطه کړه آئنده په یوه زمانه کی بیاکه داسی څه ضرورت پیښ سی نوبیا ورکول کیږی امام زهری قاضی عبد الوهاب ابن عربی امام شافعی اودامام احمد هم دامذهب دی لیکن تحقیق اوصحیح خبره دا ده چی غیر مسلمو ته دصدقاتو وغیره څخه په هیڅ وخت اوهیڅ زمانه کی څه حصه نه ده ورکول سوی او نه دوی په مولفة القلوب کی داخل دی دکومو ذکر چی دصدقو په مصرفونو کی راغلی دی.

امام قرطبی په خپل تفسیر کی ددی ټولو خلګو نومونه په تفصیل سره شمارلی دی کومو ته چی دزړه ساتنې دپاره نبي کریم ﷺ دصدقو څخه حصه ورکړي ده او ددی ټولو دشمیرلو څخه وروسته فرمایی، وَبِالْجُمْلَةِ فَكُلُّهُمْ مُؤْمِنٌ وَلَمْ يَكُنْ فِيهِمْ كَافِرٌ: یعنی لنده دا ده چی مؤلفة القلوب ټول مسلمانان وه په دوی کی هیڅوك کافر شامل نه وه.

دغه ډول په تفسیر مظهری کی دی، لَمْ يَثْبُتْ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْطٰى اَحَدًا مِّنَ الْكُفَّارِ لِلْاِئْلَافِ شَيْئًا مِّنَ الزَّكٰوةِ یعنی دا خبره په هیڅ روایت سره ثابته نه ده چی نبی کریم ﷺ یوکافر ته دزکوة دمال څخه دده دزړه ساتنی دپاره حصه ورکړی وی ددی تائید دتفسیر کشاف ددی خبری څخه هم کیږی چی دمصرفونو دصدقو بیان دلته دهغو کفارو او منافقانو په جواب کی راغلی دی کومو چی په نبی کریم ﷺ دصدقو دتقسیم په باره کی اعتراض کوی چی مونږ ته صدقی نه راکوی په دی آیت کی دصدقو دمصرفونو دتفصیل بیانولو څخه مقصد دا دی چی دوی ته وښوول سی چی دکافر هیڅ حق دصدقو په مال کی نسته که په مؤلفة القلوب کی کافران هم داخل وای، نو ددی جواب ضرورت به نه وای.

په تفسیر مظهری کی یی دا مغالطه هم په ښه شان سره واضحه کړي ده کومه چی داحادیثو دځینو روایتونو څخه خلګو ته ورپیښه سوي ده، دکوموڅخه چی داثابتیږی چی نبی کریم ﷺ ځینی غیر مسلمو ته څه عطیات ورکړی دی لکه چی دصحیح مسلم اوترمذی په روایت کی داذکر دی چی نبی کریم

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ صفوان بن امیه ته دکافروالی په زمانه کی څه عطیات ورکړل ددی متعلق دامام نووی رحمه الله په حواله سره لیکی چی داعطیات دزکوٰة دمال نه وو بلکه دحنین دغزا دغنیمت دمال کم خمس چی په بیت المال کی داخل سو ددی څخه یی ورکړی وو اودا ښکاره ده چی دبیت المال ددی مد څخه په مسلمان اوغیر مسلمان دواړو باندی خرڅ کول په اتفاق دفقهاووجائزدی بیافرمایی چی امام بیهقی رحمه الله ابن سید الناس امام ابن کثیر وغیره ټولو دامقرر کړي ده چی داورکړه دزکوٰة څخه نه وه بلکه دغنیمت دخمس څخه وو.

یوه لویه فائده: ددی څخه داهم معلومه سوه چی په خپله دنبی کریم ﷺ په مبارك وخت کی دصدقومالونه که څه هم په بیت المال کی جمع کیده مگرددوی حساب به بالکل جلا وو اودبیت المال دنورو مدونو لکه دغنیمت خمس یاخمس دمعادنو وغیره ددی حساب به جلاوو اودهریو مصرف جلاوو لکه چی فقهاوو حضراتو وضاحت فرمایلی دی چی داسلامی حکومت په بیت المال کی څلور مدونه جلا جلا ساتل په کار دی او اصل حکم دا دی چی صرف حساب یی جلا ساتل نه دی بلکه دهر یومد بیت المال جلا په کار دی فرمایلی دی چی دهر یوه په خپل مصرف کی دخرڅ کولو پوره احتیاط کیږی البته که څه وخت په یو خاص مد کی کمی وی نو دبل مد څخه په طور دقرض اخستل او په هغه کی خرڅ کولی سی ، دبیت المال دغه مدونه دا دی ،

اول دغنیمتونو خمس : یعنی کوم مال چی دکفاروڅخه په ذریعه دجنګ حاصل سی ددی څلور حصی په جهاد کوونکو باندی تقسیم سی باقی پنځمه حصه کومه چی دبیت المال ده اوخمس دکانونو یعنی دمختلف قسم کانونوڅخه په راوتونکو شیانوکی پنځمه حصه دبیت المال حق دی خمس درکاز ، یعنی کومی پخوانی خزانی چی په یومځکه کی راووزی دهغه هم پنځمه حصه دبیت المال حق دی دا دری قسمه خمسونه دبیت المال په یو مد کی داخل دی.

دوهم مد دصدقو دی : چی په دی کی دمسلمانانو زکوٰة صدقه فطر اودمسلمانانو دمزکو عشر داخل دی دریم مد دخراج اومال دفی دی: چی په دی کی دغیرمسلمو دمزکوڅخه حاصل سوی خراج او د دوی جزیه او د دوی څخه حاصل سوی تجارتی ټیکس اوهغه ټول مالونه داخل دی کوم چی دغیر مسلمو څخه د دوی په رضامندی سره په مصالحانه طور سره حاصل سوی دی.

څلورم مد دضوائعو دی : چی په دی کی لا وارثه مال دلا وارث سړی میراث وغیره دا خل دی ددی څلورو مدونو مصرفونه که څه هم جلا جلادی لیکن دفقیرانو اومسکینانو حق په دی څلورو مخکی مدونو کی اینبوول سوی دی ددی څخه اندازه لګول کیږی چی په اسلامی حکومت کی دقوم ددی کمزوری طبقی دقوی کولو څومره اهتمام سوی دی کم چی په حقیقت کی داسلامی حکومت دامتیاز لویه نښانه ده کنی ددنیا په نظامونوکی یوه مخصوصه طبقه پرمخ زیاتیږی اوغریب ته دپورته کیدو موقع نه ورکول کیږی چی ددی درد عمل څخه هغه اشتراکیت اوکمیونزم پیدا سو مگر دغه بالکل یوغیر فطری اصول دبرابر څخه دتښتیدو اوترناوی لاندی ددریدو مثال دی او دانسانی اخلاقو دپاره زهر قاتل دی.

لنډه دا ده چی په اسلامی حکومت کی څلور بیت المالونه دڅلور مدونو دپاره جلاجلا مقرر دی او دفقیرانو اومسکینانو حق یی په څلورو واړو مدونوکی اینبی دی په دی کی داولنیو درو واړو مدونو مصارف په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله قرآن کریم په تفصیل سره متعین اوپه واضح طورسره بیان کړی دی داولنی مد یعنی دغنیمتونو دخمس دمصارفو بیان په سورة انفال کی دلسمی پاری په شروع کی ذکر دی او د دوهم مد یعنی دصدقو دمصرفونو بیان دسورة توبه په ذکرسوی شپیتم آیت کی راغلی دی چی تفصیل یی داوخت تربحث لاندی دی او دریم مدکوم ته چی په اصطلاح کی مال دفی وایی ددی بیان په سورة حشر کی په تفصیل سره راغلی دی داسلامی حکومت داکثرو مدونو فوجی خرچونه اودحکومت دکار کوونکو تنخواه گانی وغیره ددی مد څخه خرڅ کړل کیږی څلورم مد یعنی لا وارثه مال دنبی کریم ﷺ دهدایاتو اودخلفاء راشدینو دعمل مطابق دشل اوگرو اولا وارثه بچیانو دپاره مخصوص دی (شامی کتاب الزکوة)

خلاصه دخبری دا ده چی فقهاوو حضراتو دبیت المال څلور مدونه بالکل دجلا جلا ایښوولو اوپه خپل خپل متعین مصرف کی دخرڅ کولو چی کوم هدایتونه کړی دی دا ټول دقرآنی ارشاداتو اودنبی کریم ﷺ اوبیا دخلفاء راشدینو دعمل څخه په واضح طور سره ثابت دی.

ددی ضمنی فائدی څخه وروسته بیاپه اصل مسئله د، مؤلفة القلوب څان پوه کړی چی په ذکرسوی بیان کی دتحقیق کوونکو محدثینو اوفقهاؤ دتصریحاتو څخه دا ثابته سوي ده چی دمؤلفة القلوب حصه یو کافر ته په هیڅ وخت کی هم نه ده ورکول سوی نه دنبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کی اونه دخلفاء راشدینو په زمانه کی اوکوموغیرمسلموته چی ورکول ثابت دی هغه دصدقو اودزکوة دمدڅخه نه دی بلکه دغنیمت دخمس څخه ورکول سوی دی دکوم څخه چی هرحاجتمند مسلمان اوغیر مسلم ته ورکول کیږی نو مؤلفة القلوب صرف مسلمانان پاته سول اوپه دوی کی چی کوم فقیران دی دهغوی حصه په دستورسره پرباقی پاته کیدو دټول امت اتفاق دی اختلاف صرف په دی صورت کی پاته سو چی داخلګ غنیان دنصاب خاوندان وی نودامام شافعی اوامام احمد په نزد چونکی په ټولو مصرفونو دزکوة کی فقیرالی اوحاجتمندی شرط نه ده په دی وجه دوی مؤلفة القلوب هم په داسی خلګو کی داخلوی کوم چی غنیان او دنصاب خاوندان وی (ابوحنیفه رحمه الله) او امام مالك په نزد دعاملینو دصدقو څخه علاوه باقی په ټولو مصرفونوکی فقر او حاجتمندی شرط ده په دی وجه دمؤلفة القلوب دغه حصه به هم دوی ته په دی شرط سره ورکول سی چی دوی فقیران اوحاجتمندوی لکه تاوان یی سوی وی یاقرضداران وی یا مسافران وغیره په ټولوکی په دی شرط سره دوی ته زکوة ورکول کیږی چی هغوی دلته حاجتمندوی که څه هم په خپل څای کی مالداران وی.

ددی تحقیق نتیجه دارا ووتله چی دمؤلفة القلوب حصه دځلورو واړو امامانو په نزد منسوخ نه ده فرق صرف دومره دی چی ځینوحضراتودفقیرانو اومسکینانو څخه علاوه په بل مصرف کی فقر او حاجتمندی نه ده شرط کړی اوځینو داشرط کړي ده کومو حضراتو چی دا شرط کړي ده دوی یی په مؤلفة القلوب کی صرف هغو خلګوته ورکوی کوم چی حاجتمند اوغریبان وی بهرحال داحصه قائم اوباقی ده (مظهری)

تردی څای پوری دصدقو داتو مصرفونو څخه دځلورو بیان راغلی دی ددی ځلورو واړو حق صرف ترلام لاندی بیان سوی دی: لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ مخ ته دکمو ځلورو مصرفونو چی ذکردی په دی کی یی عنوان بدل کی دلام په څای یی حرف د: فِیْ استعمال کی، وفی الرِّقَابِ وَالْغَارِمِيْنَ زمخشری په کشاف کی دلته

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه دابیان کړي ده چی ددی څخه دی طرف ته اشاره کول منظور دی چی دا اخری څلورمصرفونه په نسبت داولنیو څلورو زیات مستحق دی ځکه چی حرف د: فی دپاره دظرفیت راځی ددی په وجه سره معنی داپیدا کیږی چی صدقی په دی خلګوکی دننه ساتل یه کار دی او د دوی دزیات مستحق کیدو وجه د دوی زیاته ضرورتمندی ده ځکه چی کوم سړی دیو مملوك غلام دی نو دغه په نسبت دعامو فقیرانو زیات په تکلیف کی وی دغه ډول څوك چی دچاقرضدار وی او قرضدار قرضه ورځخه غواړی نودغه دعامو فقیرانو اوغریبانو څخه زیات په تکلیف کی وی چی دخپلو حاجتونو څخه زیات دقرضدارانو دقرض فکر ورسره وی.

په دی باقی څلورو مصرفونوکی اولنی مصرف د: وَفِی الرِّقَاب ذکردی رقاب درقبه جمع ده په اصل کی گردن (څنګ) ته رقبه وایی په عرف کی هغه چاته رقبه ویل کیږی دچاګردن چی دچاپه غلامی کی بندوی په دی کی دفقهاوو اختلاف دی چی درقاب څخه مراد په دی آیت کی څه دی؟ جمهور فقهاء اومحدثین په دی باندی متفق دی چی ددی څخه مراد هغه غلام دی دکم مالك چی ده ته ویلی وی چی دومره مال ماته راکړه نوته به ازاد سی کوم ته چی دقرآن اوسنت په اصطلاح کی مکاتب وایی داسی غلام ته مالك ددی اجازه ورکړی چی دی دځه تجارت یامزدوری په ذریعه مال وګټی اومالك ته یی راوړی اووریی کړی په ذکرسوی آیت کی درقاب څخه مراد دا دی چی دی سړی ته دزکوٰة درقم څخه حصه ورکړی او دده غاړه خلاصه کړی.

دفقهاؤ اوتفسیر لیکونکو په اتفاق سره دلفظ د، وَفِی الرِّقَابِ څخه مراد دا قسم غلامان دی چی دزکوٰة درقم څخه دوی ته څه ورکړی او په غاړه خلاصولو کی د دوی مدد وسی ددی څخه علاوه نور غلامان اخیستل اوازاد ول یا د دوی مالکانو ته دزکوٰة څخه ورکول اوډا معاهده ورسره کول چی دوی ازادکړی په دی کی دفقهاوو امامانو اختلاف دی جمهور امامان ابوحنیفه شافعی احمد بن حنبل وغیره دا جائز نه ګڼی او امام مالك هم په یوروایت کی دجمهورو سره متفق دی چی: فِی الرِّقَابِ صرف په مکاتب غلامانو پوری خاص ګڼی اوپه یوروایت کی دامام مالك څخه داهم نقل دی چی دی په: فِی الرِّقَابِ کی عام غلامان داخلوی اوددی هم اجازه ورکوی چی دزکوٰة په رقم غلام اخلی اوازادوی یی (احکام القرآن لابن عربی المالکی)

جمهور امامان اوفقهاء کوم چی داجائزنه ګڼی ددوی په نظرکی یوفقهی اشکال دی چی که دزکوٰة په رقم غلام واخلی اوازادیی کړی نوپردی دصدقی تعریف نه سی صادق کیدی ځکه چی صدقه هغه مال دی کوم چی یومستحق ته بی دځه عوض څخه ورکول سی دزکوٰة رقم که مالك ته ورکول سی نوښکاره ده چی نه دی مستحق دزکوٰة دی اونه دارقم دوی ته بی عوضه ورکول کیږی اوغلام چی مستحق دزکوٰة دی هغه ته دارقم ورنه کول سو دا جلا خبره ده چی ددی رقم دورکولو فائده غلام ته ورسیده چی دی واخستل سو اوازاد سو مګر ازادول دصدقی په تعریف کی نه سی داخلیدی اوحقیقی معنی بلاوجه پاته کول او دمجازی معنی بی ضرورته دمراد اخستلو څه جواز نسته او دا هم ښکاره ده چی په ذکر سوی آیت کی دزکوٰة دمصرفونو ذکر دی په دی وجه دفی الرقاب مصداق یو داسی شی نه سی جوړیدی په کوم چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دصدقی تعریف نه سی صادق کیدی او دا رقم دزکوٰة په خپله غلام ته ورکول سی نو دغلام خوځه ملکیت نه سی کیدی دغه خود بخوده دمالك مال جوړیږی بیا ازادول اونه ازادول هم دهغه په اختیار کی وی ددی فقهاوو داشکال په وجه سره جمهور امامان اوفقهاء فرمایی چی دفی الرقاب څخه مراد صرف غلام مکاتب دی ددی څخه داهم معلومه سوه چی دصدقی دادا کولو دپاره داشرط دی چی څوك مستحق یی مالك جوړ سی اودهغه په قبضه کی ورسی ترڅو پوری چی دمستحق مالکانه قبضه پردی نه وی راغلی زکوٰة نه ادا کیږی.

شپږم مصرف: اَلْغَارِمِین غارمین دغارم جمع ده چی معنی یی ده قرضداری دامخکی ذکر سوی دی چی پنځم اوشپږم مصرف په حرف د: فی سره ذکرسوی دی په مستحق والی کی داولنیو څلورو مصرفونو څخه دازیات دی په دی وجه دغلام دغاړی ازادولو یادقرضدار دقرض اداکولو دپاره ورکول دعامو فقیرانو اومسکینانو ته دورکولو څخه زیات ښه دی شرط دادی چی ددی قرضداری سره دومره مال نه وی چی دی قرض باندی اداکړی ځکه چی غارم په لغت کی هم داقرضدار ته ویل کیږی اوځینو فقهاوو امامانو داشرط هم لګولی دی چی داقرض ده دځه ناجائز کاردپاره نه وی را اخیستی اوکه دځه ګناه دپاره یی قرض کړی وی لکه شراب وغیره یادغم بنادی دناجائزو رسمونو دپاره نوداسی قرض دزکوٰة دمد څخه نه سی ادا کیدی چی دګناه اوبی ځایه اسراف حوصله افزایی ونه سی.

او وم مصرف: فِیْ سَبِیْلِ اللّٰہِ دی دلته بیا دحرف، فی اعاده وسوه په تفسیر کشاف کی دی چی ددی اعادی څخه دی طرف ته اشاره کول منظور دی چی دامصرف دمخکی تولو مصرفونو څخه زیات ښه دی وجه داده چی په دی کی دوی فائدی دی یوه دغریب دمفلسی امداد اودوهم په یودینی خدمت کی اعانت اومدد کول ځکه چی دفِیْ سَبِیْلِ اللّٰہِ څخه مراد هغه غازی اومجاهددی دکم سره چی دوسلی اودجنګ دضروری اسباب اخستو دپاره مال نه وی یاهغه سړی دچاپرذمه چی حج فرض سوی وی مګر دده سره اوس مال ختم سوی وی اودومره مال ورسره نه وی چی دی فرض حج باندی ادا کړی دا دواړه کارونه خالص دینی خدمت اوعبادت دی په دی وجه دزکوٰة مال په دوی خرڅ کول یودغریب امداد هم اوبل دعبادت په ادا کولو کی تعاون هم دی دغه رکم فقهاوو طالب علمانو هم په دی کی شامل کړی دی چی دوی یی هم دیو عبادت دادا کولو دپاره اخلی «روح په حواله دظهیریه»

اوصاحب دبدائع فرمایی چی هرهغه سړی چی څه نیك کار یاعبادت کول غواړی اوددی په اداکولو کی دمال ضرورت وی نودغه هم په فی سَبِیْلِ اللّٰہِ کی داخل دی په دی شرط چی دده سره دومره مال نه وی چی دغه کاربانډی پوره کړی لکه ددین تعلیم اوتبلیغ اوددی دپاره نشرواشاعت چی که یومستحق دزکوٰة دا کارکول غواړی نوددده امداد دزکوٰة په مال سره کولی سی مګر دمالدار صاحب نصاب امداد نه سی کولی دذکرسوی تفصیل څخه معلومه سوه چی په دی تولو صورتونوکی کم چی دفی سبیل الله په تفسیر کی ذکردی دفقر اوحاجتمندی شرط ضروری دی دغنی صاحب نصاب په دی مدکی هم حصه نسته بغیرددی څخه چی ددده موجوده مال ددده ضرورت نه سی پوره کولی کم چی دجهاد یاحج دپاره ده ته ورپیښ دی نو که څه هم په قدر دنصاب مال ورسره موجود دی اوپه دی وجه ده ته غنی ویل کیږی مګر په دی وجه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

فقر اوحاجتمند سو چی څومره مال دجهاد یاحج دپاره په کاردی هغه دده سره موجود نه دی په فتح القدیر کی شیخ ابن همام رحمه الله فرمایی چی دصدقو په آیت کی چی یی څومره مصرفونه ذکرکړی دهریوه الفاظ په خپله په دی دلالت کوی چی دوی دفقراوحاجتمندی په لحاظ سره مستحق دی په لفظ دفقیراومسکین کی خودابنکاره ده درقاب غارمین فِی سبیل الله ابن السبیل الفاظ هم دی طرف ته اشاره کوی چی ددوی دحاجت پوره کولوپه بنا سره دوی ته ورکول کیږی البته عاملینو ته په طور دمعاوضی دخدمت ورکول کیږی په دی وجه په دی کی غنی اوفقیربرابردی لکه دغارمینو په مصرف کی چی ذکرسوی دی چی دکوم سړی پرذمه لس زره روپی قرض وی اوپنځه زره روپی ددده سره موجودی وی نوده لره په قدر دپنځو زرو زکوٰة ورکولی سی ځکه چی کم ماجل ددده سره موجود دی هغه د قرض په وجه دنیستی په حکم کی دی.

خبرداری: دلفظ د: فی سَبِیلِ اللهِ لفظی معنی ډیره عامه ده کوم کوم کارونه چی دالله ﷻ د درضا دپاره کول کیږی هغه ټول ددی عامی معنی په اعتبارسره په دی فی سبیل الله کی داخل دی کوم خلق چی دنبی کریم ﷺ په تفسیر اوبیان اودتفسیر دامامانو په ارشاداتو ځان نه پوهوی محض دلفظی ترجمی په ذریعه په قرآن پوهیدل غواړی دلته دوی په دی غلطی خوری چی په لفظ دفی سبیل الله په لیدلو سره یی دزکوٰة په مصرفونو کی داټوله کارونه داخل کړل کم چی په څه حیثیت سره نیکی یاعبادت دی دجماتونو مدرسو هسپتالونو مسافرخانو وغیره جوړول څاهان پلونه اوسړکونه جوړول اوددی عامو فائدو دادارو نوکرانو تنخواه ګانی اونورټول دفتری ضرورتونه دوی داټول په فی سبیل الله کی داخل کړل دزکوٰة مصرفونه یی جوړ کړل کم چی سراسر غلط دی اودامت داجماع څخه خلاف دی صحابه کرامو د کمو چی سیده په سیده دنبی کریم ﷺ څخه قرآن کریم ووایه اوځان یی باندی پوه کی د دوی اودتابعینو امامانو څخه چی څومره تفسیرونه ددی لفظ متعلق ذکر دی په هغه کی یی دالفظ دحاجیانو اومجاهدینو دپاره مخصوص مقرر کړی دی.

اوپه یوحدیث کی دی چی یوسړی خپل یواوښ فی سبیل الله وقف کړی وو نونبی کریم ﷺ ده ته وفرمایل چی دا اوښ دحاجیانو دسفر دپاره استعمالوه (مبسوط سرخسی ص۱۰ ج۳).

امام ابن جریر اوابن کثیر دقرآن تفسیر دحدیث دروایتونو څخه دکولو پایبنده دی دی ټولو لفظ دفی سبیل الله دداسی مجاهدینو اوحاجیانو دپاره مخصوص کړی دی دکمو سره چی دجهاد یادحج اسباب نه وی اوکومو فقهاوو حضراتو چی طالب علمان یانور نیك کار کوونکی په دی کی داخل کړی دی نوپه دی شرط سره یی داخل کړی دی چی دغه فقیران اوحاجتمندوی اودابنکاره ده چی فقیر اوحاجتمندخوپه خپله دزکوٰة په مصرفونو کی اولنی مصرف دی که دفی سبیل الله په معنی کی یی نه شاملولی خوبیا هم مستحق دزکوٰة وو لیکن په ځلورو امامانو اودامت په فقهاوو کی هیڅادانه دی ویلی چی دعامی فائدی دادارو جماتونو اومدرسو جوړول اوددوی ټول ضرورتونه دزکوٰة په مصرفونو کی داخل دی بلکه ددی خلاف یی ددی وضاحتونه فرمایلی دی چی دزکوٰة مال په دی شیانو کی خرڅ کول جائز نه دی په احنافو فقهاوو کی شمس الائمة سرخسی رحمه الله په مبسوط (ص ۲۰۲ ج۲) اوشرح سیر (ص ۲۴۴ ج۴) کی اوپه شافعیه فقهاوو کی ابوعبید په کتاب الاموال کی اوپه مالکی فقهاوو کی دردیز په شرح مختصر خلیل

Maktaba Tul Ishaat.com

(ص ۱۶۱ ج ۱) کی او دحنبلی فقهاوو څخه موفق په المغنی کی دا په پوره تفصیل سره لیکلی دی.
دتفسیر دامامانو اودامت دفقهاؤ دذکرسوو وضاحتونو څخه علاوه که په یوه خبره غور وکړل سی نو
ددی مسئلی دپوهیدو دپاره کافی ده هغه داچی که دزکوٰة په مسئله کی دومره عام والی وی چی په ټولو
عبادتونو اوطاعتونو اوهرقسم نیکی باندی خرڅ کول په دی کی داخل وی نوبیاپه قران کی ددی اتو
مصرفونو بیان (معاذ الله) بالکل فضول وو او دنبی کریم ﷺ ارشاد چی مخ ته په دی سلسله کی بیان سوی
دی چی دوی فرمایلی دی چی الله ﷻ دصدقو دمصرفونو دمتعین کولو کار نبی ﷺ ته هم نه دی سپارلی
بلکه په خپله یی ددی اته مصرفونه متعین کړل.
نو که دفی سبیل الله په مفهوم کی ټولی نیکی اوطاعتونه داخل وی اوپه دی کی په هریوه کی دزکوٰة مال
خرڅ کولی سوای نومعاذ الله دا ارشادنبوی بیا بالکل غلط کیږی معلومه سوه چی دفی سبیل الله دلغوی
ترجمی څخه چی کم ناپوهه عوام مطلب اخلی دغه دالله ﷻ مراد نه دی بلکه مراد هغه دی کوم چی دنبی
کریم ﷺ دبیان اواصحابو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله دوضاحتونو څخه ثابت دی.
اتم مصرف: اِبْنُ السَّبِیْل دی دسبیل معنی لاره ده اودابن لفظ په اصل کی دزوی دپاره استعمالیږی لیکن
دعربی په محاوروکی دابن اواب اواخ الفاظ دهغوشیانودپاره هم ویل کیږی دکموسره چی ژورتعلق وی
ددی محاوری مطابق ابن السبیل (لاری تلونکی مسافر ته وایی څکه چی دده ژور تعلق دلاری قطع کولو
اومنزل مقصودته درسیدو سره دی اودزکوٰة په مصرفونوکی ددی څخه مرادهغه مسافردی دکوم سره چی
په سفرکی په قدر دضرورت مال نه وی که څه هم په وطن کی دده سره هرڅومره مال وی داسی مسافرته
زکوٰة مال ورکولی سی چی په دی سره دی دخپل سفرضرورتونه پوره کړی اووطن ته بیرته باندی ولاړسی
تردی څای پوری ددغو اتو مصرفونو بیان پوره سو کوم چی په ذکر سوی آیت کی دصدقو اوزکوٰة دپاره
بیان سوی وو اوس څه داسی مسئلی بیانیږی دکومو تعلق چی ددی ټولو مصرفونو سره یو ډول دی.
دتملیک مسئله: جمهور فقهاء په دی باندی متفق دی چی دزکوٰة په متعینو اتو مصرفونو کی هم دزکوٰة
دادا کیدو دپاره داشرط دی چی په دی مصرفونو کی چامستحق ته دزکوٰة پرمال باندی مالکانه قبضه
ورکول سی بغیر دمالکانه قبضی ورکولو څخه که څوك مال ددی خلګو دفائدی دپاره خرڅ کړی نوزکوٰة
نه ادا کیږی په دی وجه سره څلور واړه امامان اودامت جمهور فقهاء په دی باندی متفق دی چی دزکوٰة په
رقم جمات یا مدرسی یاهسپتالونه یتیم خانی ابادول یاپه نورو ضرورتونوکی یی ددی خرڅ کول جائزنه
دی که څه هم ددی ټولو شیانو فائده دغو فقیرانو اونورو حضراتوته رسیږی کم چی دزکوٰة مصرفونه دی
مګر ددوی مالکانه قبضه پردی شیانو دنه راتلو په سبب زکوٰة دده څخه نه ادا کیږی.
البته په یتیم خانوکی که دیتیمانو خوراك جامه وغیره په مالکانه حیثیت سره ورکول سی نوصرف ددی
خرڅ ترحده پوری دزکوٰة رقم خرڅ کولی سی دغه ډول په شفاخانوکی چی کومه دوایی حاجتمندو
غریبانو ته په مالکانه حیثیت سره ورکول کیږی ددی قیمت دزکوٰة په رقم کی حسابیدی سی دغه ډول
دامت دفقهاؤ بیان دی چی دلا وارثه مړی په کفن دزکوٰة رقم نه سی لګول کیدی څکه چی په مړی کی
دمالك کیدو صلاحیت نسته ها داکیدی سی چی دزکوٰة رقم دلا وارث مړی په کفن خرڅ کړی دغه شان

Maktaba Tul Ishaat.com

که ددی مړی په ذمه قرض وی نو دغه قرضه سیده په سیده دزکوٰة په مال نه سی ادا کولی البته که دده وارث غریب مستحق دزکوٰة وی نو ده ته یی په مالکانه طور سره ورکولی سی اوچی دی ددغه رقم مالك سی نودی یی په خپله رضامندی سره دمړی په قرضه کی ورکولی سی دغه شان دعامی فائدی ټول کارونه لکه دځاه پل سړك وغیره ابادول که څه هم ددی فائده دزکوٰة مستحقینوته هم رسیږی مګر ددوی دمالکانه قبضی دنستوالی په وجه په دی سره زکوٰة نه ادا کیږی.

په دی مسئلو کی ځلور سرهه امامان مجتهدین ابوحنیفه شافعی مالك احمد بن حنبل او دامت جمهور فقهاء متفق دی شمس الائمه سرخسی رحمه‌الله دامسئله دامام محمد په کتابونو په شرح مبسوط اوشرح سیر کی په پوره تحقیق اوتفصیل سره لیکلی ده اودشافعی مالکی اوحنبلی فقهاؤ په عامو کتابونو کی ددی وضاحتونه موجود دی.

شافعی فقیه امام ابوعبید په کتاب الاموال کی فرمایی چی دمړی دطرف څخه دده دقرض ادائیګی یاددده دفن کولو په خرڅونو کی اودجماتونو په ابادولو کی نهر کښلو وغیره کی دزکوٰة مال خرڅ کول جائز نه دی ځکه چی سفیان ثوری اوټول امامان په دی متفق دی چی په دی کی په خرڅ کولو سره زکوٰة نه ادا کیږی ځکه چی داپه دغو اتو مصرفونو کی نه دی دکمو ذکر چی په قرآن کریم کی راغلی دی.

دغه ډول فقیه حنبلی موفق په مغنی کی لیکلی دی چی بغیر ددغو مصرفونو څخه دکومو بیان چی په قرآن کریم کی ذکردی په بل نیك کار کی دزکوٰة مال خرڅ کول جائزنه دی لکه جماتونه یاپلونه یا داوبو سیبلونه جوړول یاسړکونه جوړول یادمړو کفن باندی کول یا په میلمنو باندی خوړل وغیره کوم چی بیشکه دثواب کارونه دی مګر دصدقوپه مصرفونو کی داخل نه دی.

ملك العلماء په بدائع کی دزکوٰة داداکولو دپاره دمالك کولو دشرط دا دلیل ورکړی دی چی په قرآن کریم کی عموماً دزکوٰة او واجبو صدقو لفظ دایتاء سره ذکرکړی دی ، أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ اقَامِ الصَّلوٰةِ وَايْتَاءِ الزَّكٰوةِ اٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ وغیره اولفظ د ، ایْتَاء په لغت کی دعطاء کولو یعنی د ورکولو په معنٰی کی راځی امام راغب اصفهانی په مفردات القرآن کی فرمایی ، وَالْاِيْتَاءُ الْاِعْطَاءُ وَخُصَّ وَضْعُ الصَّدَقَةِ فِی الْقُرْاٰنِ بِالْاِيْتَاء یعنی دایتاء معنٰی دعطاء کولو ده او په قرآن کریم کی یی دواجب صدقی اداء کول دایتاء دلفظ سره مخصوص فرمایلی ده او ښکاره ده چی چاته دیو شی عطاء کولو حقیقی مفهوم دا دی چی دی ددغه شی مالك جوړ سی.

او دزکوٰة اوصدقو څخه علاوه هم لفظ دایتاء په قرآن کریم کی دمالك جوړولو دپاره استعمال سوی دی مثلاً ، اٰتُو النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ یعنی ښځو ته ددوی مهر ورکړی ښکاره ده چی دمهر ادا کول هلته تسلیمیږی چی کله دمهر په رقم باندی ښځی ته مالکانه قبضه ورکول سی.

دوهم داچی په قرآن کریم کی یی زکوٰة دصدقی په لفظ سره تعبیر فرمایلی دی: اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ اودصدقی حقیقی معنٰی داده چی یوفقیر حاجتمند ددی مالك جوړ سی.

چاته خوراك ورکول یادعامی فائدی په کارونو کی یی خرڅ کولو ته دحقیقی معنٰی په اعتبار سره صدقه نه سی ویل کیدی شیخ ابن الهمام په فتح القدیر کی فرمایی چی په حقیقت کی صدقه هم دا ده چی یو

Maktaba Tul Ishaat.com

فقیر ددی مالك جوړسی دغه ډول امام جصاص په احکام القرآن کی فرمایی چی دصدقی لفظ دمالك کولو نوم دی (جصاص ص ۱۵۲ ج ۲)

(دزکوة ادا کولو متعلق څینی مهمی مسئلی)

مسئله: په صحیح حدیث کی دی چی نبی کریم حضرت معاذ ﷺ ته دصدقو وصولولو دپاره داهدایت کړی وو چی، خُذْهَا مِنْ اَغْنِیَآئِهِمْ وَرُدْهَا فِیْ فُقَرَآئِهِمْ یعنی صدقی دغنیانو مسلمانانو څخه اخله او د دوی په فقیرانو باندی یی خرچ کوه په دی بنا باندی فقهاؤ فرمایلی دی چی بی ضرورته دیوښار یاکلی زکوة بل ښار یاکلی ته دی نه لیږل کیږی بلکه ددی ښار یاکلی فقیران ددی زیات حقداردی البته که دیو سړی نژدی خپلوان غریبان وی اوهغه په بل ښار یاکلی کی وی نوخپل زکوة دوی ته لیږلی سی، څکه چی نبی کریم ﷺ په دی کی ددوچنده ثواب خوشخبری ورکړې ده.

دغه شان که دبل کلی یاښار خلګ ورته دخپل کلی یاښار دخلګو څخه زیات حاجتمند او ضرورتمند معلومیږی نوهم یی هلته لیږلی سی څکه چی دصدقو ورکولو څخه مقصد دفقیرانو حاجت رفع کول دی په دی وجه به حضرت معاذ ﷺ دیمن په صدقو کی اکثره کډې اخستلی چی دفقیرانو مهاجرینو دپاره یی مدینی منوری ته ولیږلی (قرطبی په حواله ددار قطنی)

که یو سړی په خپله په یوښار کی اوسی مګر دده مال په بل ښار کی دی نوپه کم ښار کی چی دی په خپله اوسی اعتبار به هغه ښار لره وی څکه چی دزکوة ورکوونکی داسړی دی (قرطبی)

مسئله: په کوم مال چی زکوة واجب دی ددی داداکولو دپاره داهم جائز دی چی ددغه مال څلویښتمه حصه وباسی اومستحقینو ته یی ورکړی لکه دتجارت کپړه لوښی دلرګو اسباب وغیره اوداهم ده چی دزکوة په مقدار دمال زکوة وباسی اوقیمت یی کړی اودغه قیمت په مستحقینوکی تقسیم کړی په صحیح حدیثونو سره داسی کول ثابت دی (قرطبی) اوځینی فقهاء امامان فرمایی چی په دی زمانه کی نقد قیمت ورکول زیات ښه دی څکه چی دفقراوو ضرورتونه مختلف اوډیردی نقد قیمت په هریوضرورت کی په کار راوستل کیږی.

مسئله: که خپل خپلوان یی غریبان اودزکوة مستحق وی نودوی لره زکوة اوصدقی ورکول زیات ښه وی اودوچنده ثواب لری یوثواب دصدقی اوبل دصله رحمی په دی کی داهم ضروری نه ده چی دوی ته دانبکاره کړی چی دادرته زکوة یاصدقه درکوم دځه تحفی یاډالی په طور یی هم ورکولی سی څکه چی اخستونکی شریف بنده ته خپل سپکاوی ښکاره نه سی.

مسئله: کوم سړی چی په څه ویلو یاکولو سره ځان غریب یادزکوة مستحق ښکاره کړی او دزکوة یاصدقو سوال کوی نوایا ورکوونکوته داضروری دی چی دده داصل حالاتو تحقیق وکړی اوبغیر دتحقیق څخه ورته صدقه ورنه کړی په دی باره کی دحدیث روایتونه اودفقهاؤ قولونه دادی چی ددی ضرورت نسته بلکه دده دښکاره حال څخه که غریب اوفقیر حاجتمند معلومیدی نو زکوة ورته ورکولی سی لکه چی په حدیث کی دی چی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی څه خلګ ډیر په بدحال کی راغلل دوی دهغوی دپاره خلګو ته دصدقو جمع کولو دپاره وفرمایل په کافی مقدار کی صدقی جمع سوی نو دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

ته یی ورکړی نبی کریم ﷺ ددی ضرورت ونه ګڼی چی ددوی دپټ حال تحقیق یی فرمایلی وای (قرطبی)
البته قرطبی په احکام القرآن کی فرمایی چی دصدقو په مصرفونو کی یوقرضدار هم دی که یوسړی دا
روایی چی زما پرذمه دومره قرض دی دهغه داداکولو دپاره دی ماته دزکوٰة رقم راکول سی نوددی قرض
ثبوت دده څخه طلب کول په کار دی (قرطبی) اوښکاره خبره ده چی په غارم په فی سبیل الله ابن السبیل
وغیره کی هم داسی تحقیق کول ګران نه دی په دی مصرفونو کی دموقعی مطابق تحقیق کول په کار دی.
مسئله: دزکوٰة مال خپلو قریبانو ته ورکول زیات ثواب لری مګر بنځه خاوند مور پلار اولاد یوبل ته یی
په خپل مینځ کی نه سی ورکولی وجه داده چی دوی ته یی ورکول په یو حیثیت سره دځان سره پاته کول
دی ځکه چی ددی خلګو مصرفونه په عام طورسره شریك وی خاوند که بنځی ته یابنځی خاوند ته خپل
زکوٰة ورکی نوپه حقیقت کی دغه په خپل استعمال کی پاته سو دغه ډول دمور اوپلا اواولاد معامله ده
داولاد اونیکه ورنیکه هم داحکم دی چی دوی ته زکوٰة ورکول جائز نه دی.
مسئله: که یوسړی یوڅوك دخپل ګمان مطابق مستحق اودزکوٰة مصرف وګڼی اوزکوٰة یی ورکی بیا
ورڅخه معلومه سوه چی دغه خودده غلام یاکافر وو نوزکوٰة نه ادا کیږی او دوباره به یی ورکوی ځکه
چی دغلام ملکیت خودمالك ملکیت وی اوددده دملکیت ځخه دسره ونه وتی په دی وجه زکوٰة ادانه سو
اوکافر مصرف دزکوٰة نه دی.
ددی ځخه علاوه که ورڅخه داثابته سوه چی چاته یی زکوٰة ورکړی دی هغه مالدار یا سید هاشمی یا
پلار یازوی یابنځه یاخاوند دی نوددوباره زکوٰة ورکولو ضرورت نسته ځکه چی دزکوٰة رقم دده دملکیت
ځخه ووتی اودثواب ځای ته رسیدلی دی اودمصرف په پیژندوکی که څه غلطی دتیری یادبلی غلطی په
وجه وسی نومعاف ده (درمختار) دصدقو دایت تفسیر اوددی متعلق دضروری مسئلو تفصیل پوره سو.

وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَ يَقُوْلُوْنَ هُوَ اُذُنٌ ؕ قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ

اوڅینی په دوی کی بدګویی کوی درسول ﷺ اووایی چی داسړی خوغوږونه دی ته ووایه چی غوږدی خوستاسی
دخیر اوګټی دپاره یقین لری په الله اویقین کوی،

لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ

دمومنانو په خبره اورحمت دی دایماندارو په حق کی چی ستاسی څخه دی، اوکوم خلق چی بدګویی کوی،

رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۱﴾ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ

دالله ﷻ درسول د دوی دپاره عذاب دی دردناك، قسمونه اخلی په الله ستاسی په مخکی چی

لِيُرْضُوْكُمْ ۚ وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا

تاسی راضی کړی او دالله اودهغه درسول ضروری دی راضی کول که دوی

مُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۳﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ

ایمان لری ، ایا دوی پوه نه سول چی څوك مقابله کوی د الله سره او دهغه درسول سره نوده ،

لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۴﴾ يَحْذَرُ

دپاره د دوزخ اوردی همیشه به وی په دی کی دا ده لویه رسوایی ، بیره کوی ،

الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِيْ

منافقان ددی خبری چی نازل به سی په مومنانو داسی سورة چی خبر به کړی دوی په هغه چی

قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلِ اسْتَهْزِءُوْٓا ۚ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿۶۵﴾

د دوی په زړونه کی دی ته ووایه چی مسخری کوی ، الله به ښکاره کړی هغه شی د کوم څخه چی تاسی بیره کوی ،

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ؕ قُلْ

او که ته د دوی څخه پوښتنه وکړی نو دوی به ووایی چی مونږ خو خبری کولی اولوبی ته ووایه چی

اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۶۶﴾ لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ

ایا په الله ﷻ پوری او دهغه په حکمونو پوری او دهغه په رسول پوری تاسی مسخری کولی بهانی مه جوړوی

كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ

تاسی خو کافران سوی یاست دایمان داظهار څخه ، نو که مونږ معاف کړوپه تاسی کی څینی نو خامخا

نُعَذِّبْ طَآئِفَةً ۢ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۶۶﴾

عذاب به هم ورکړو څینو ته په دی سبب سره چی دوی ګناهګار وه .

لنډتفسیر: په دی (منافقانو) کی څینی داسی دی چی نبی ﷺ ته ازارونه رسوی (یعنی ددوی په شان کی داسی خبری کوی چی دهغه په اوریدو سره دوی ته ازار رسیږی) او (کله چی یی څوك منع کوی نو) وایی چی ته هری خبری ته غوږ ایږدی اوری یی (تاته دروغ ویل او دوکه درکول اسان دی په دی وجه هیڅ فکر نسته) ته (په جواب کی) وفرمایه چی (تاسی په خپله دوکه سواست دنبی کریم ﷺ خبری ته اوریدل په دوه طریقو دی یو دتصدیق په طور چی په زړه سره هم دغه صحیح وګڼی دوهم دښه خوی اوښو اخلاقو په طور چی سره ددی چی پوه وی باندی چی داخبره محض غلطه ده خودنفس دشرافت اوښه خوی په وجه دغه هسی پریږدی اوویونکی نه باندی نیسی اونه یی درواغجن کوی په دا ډاګه پس، دغه نبی غوږ ایږدی

Maktaba Tul Ishaat.com

نوهغه خبره اوری کومه چی ستاسی په حق کی (سراسر) خیر وی (چی ددی خلاصه اونتیجه دا ده) چی دی په الله ﷻ یعنی په هغه خبرویی چی په وحی ورته معلومی سوی وی) ایمان راوړی (چی ددی په ریښتوالی کی خیر کیدل دټول عالم دپاره ښکاره دی ځکه چی تعلیم اوعدل په دی تصدیق پوری تړل سوی دی) اوپه (خبره د) مومنانو (ملخصانو چی په حیثیت دایمان اواخلاص وی) یقین کوی (اوپه دی کی خیروالی ښکاره دی چی عام عدل تړل سوی دی دحالاتو په صحیح خبر پوری اوددی ذریعه هم دامخلص مومنان دی غرض دادی چی غوږ ایږدی اوریښتنی ګنی خوصرف دریښتنو مخلصانوخبره چی وایی وری) او (پاته سوه ستاسی دشرارت خبری چی اوری یی نوددی وجه داده چی) دوی ددی خلګو په حال مهربانی فرمایی کم چی په تاسی کی دایمان اظهار کوی (که څه هم په زړه کی یی ایمان نه وی پس ددی مهربانی اوښه خوی په وجه سره ستاسی خبری اوری اوسره ددی چی په حقیقت یی پوه وی خودرګذر اوخاموشی اختیار وی ، نو ددی خبرو اوریدل په بل طور سره دی خوتاسی دخپلی بی وقوفی ځخه باندی ګمان دغه بل ډول کوی چی ګویا دوی باندی پوه نه دی لنډه داچی تاسی داسی ګنی چی په حقیقت باندی حضور ﷺ نه پوهیږی او په واقع کی په حقیقت تاسی نه پوهیږی) اوکوم خلګ چی دالله رسول ته ازار رسوی (برابره خبره ده که په دی خبرو سره دکومو ځخه وروسته چی یی: اُذُنٌ ویلی وو یاپه خپله ددی: هُوَ اُذُنٌ په ویلو سره ځکه چی ددغو خلګو دوی ته اُذُن ویل ددوی دناقص ښکاره کولو دپاره وو چی معاذ الله دوی نه پوهیږی هرڅه چی اوری هغه منی) دهغه خلګو دپاره به دردناکه سزاوی داخلګ ستاسی (مسلمانانو) په مخکی (په دروغه) قسمونه اخلی (چی مونږ فلانی خبره نه ده کړی یامونږ غزاته دفلانی عذر په وجه ولانه ړو) ددی دپاره چی تاسی راضی کی (چی په دی سره ددوی ځان اومال محفوظ سی) حال دادی چی الله ﷻ اودهغه رسول زیات حق لری چی که چیری داخلګ ریښتنی مسلمانان وی نودی دی راضی کړی (کوم چی داتړل سوی دی په اخلاص او ایمان پوری) ایادوی نه دی پوه چی کوم سړی دالله ﷻ اودهغه درسول مخالفت وکړی (لکه چی داخلګ یی کوی) نودا خبره مقرره سوی ده چی دی سړی ته به د دوږخ اور په داسی طور سره نصیب سی چی دی به همیشه په کی اوسی (او) دالویه رسوایی ده (درسوایی خبره ده) منافقان خلګ (طبعًا) ددی ځخه بیره کوی چی پر مسلمانانو (په ذریعه دوحی دپیغمبر ﷺ ځه داسی صورة (مثلاً یا ایت) نازل نه سی کوم چی دوی ته ددی منافقانودزړه دخبری اطلاع ورکوی (یعنی دوی چه کمی دمسخرو خبری په پټه کړی دی چی دمسلمانانو ځخه دراز په شان ددوی په زړونوکی پټی دی ددی خبر ورنه کی) ته ووایه چی ښه ده تاسی مسخری کوی (په دی کی یی ددوی مسخری وریادی کړی لکه چی مخکی په خپله ارشاددی چی) بیشکه الله ﷻ به هغه شی ښکاره کوی دکم (داظهار) ځخه چی تاسی بیره کوله (چنانچی ښکاره یی کړه چی تاسی مسخری کولی) او (دښکاره کیدو ځخه وروسته) که ته ددوی ځخه (ددی مسخرو دوجی) پوښتنه وکړی نو وبه وایی چی مونږ خومحض خندا اوخوش طبعی کوله (ددی خبری حقیقی معنی زمونږ مقصود نه وه محض دزړه خوشحالولو دپاره چی سفر باندی اسان سی داسی خبری مونږ په ژبه سره کولی) ته (دوی ته) ووایه چی ایا دالله ﷻ سره اودهغه دایتونو سره اودهغه درسول سره تاسی خنداګانی کولی (یعنی برابره خبره ده غرض هرڅه چی هم وی مګرداخو وګوری چی تاسی مسخری دځه شی کوی دکم سره چی مسخری په هیڅ غرض سره هم جائزی نه دی) تاسی اوس (داعبث) عذر مه کوی (مطلب دادی چی داعذر

Maktaba Tul Ishaat.com

مقبول نه دی اوپه دی عذر سره مسخری نه سی جائز کیدی، تاسی خوځان ته مومنان وویل اوکفر مو وکړی (ځکه چی ددین سره مسخری مطلق کفردی که څه هم په زړه کی خوایمان دمخکی څخه هم نه وو البته که څوك په زړه سره توبه وکاږی اومخلص مومن جوړسی نوالبته دکفر اودعذاب دکفر څخه به خلاص سی لیکن ددی توفیق به هم ټولو ته ونه سی البته ځینی به مسلمانان سی اودوی به معاف سی پس حاصل داسو چی، که مونږ په تاسی کی ځینی پریږدو هم (ځکه چی دوی مسلمانان سول) نومونږ به ځینولره (خامخا) سزا ورکړو په سبب ددی چی دوی په علم ازلی کی، مجرمان وه (یعنی دوی مسلمانان نه سول)

معلومات اومسئلي: په ذکرسوو ایتونوکی هم دتیرو ایتونو په شان دمنافقانو دعیښو اعتراضونو اونبی کریم ﷺ ته دازار رسولواوبیاددروغوقسمونوخورلواودخپل ایمان دښوولوواقعات اوپه دی خبرداری دی په اول آیت کی ذکردی چی داخلګ دنبی کریم ﷺ متعلق په طور دمسخرو داوایی چی دی خوبس غوږونه دی یعنی څه چی دچا څخه اوری په هغه یقین کوی په دی وجه زمونږ هیڅ فکر نسته که زمونږ سازش ښکاره هم سی نومونږ به بیا قسمونه واخلو او دوی ته به دخپلی پاکی یقین ورکړو ددی په جواب کی الله ددوی بی وقوفی ښکاره کړه چی دوی کمی دمنافقانو اومخالفانو خبری اوری اودخپل ښه خوی په بناء باندی خاموش پاته کیږی په دی سره دامه ګڼی چی دوی دحال په حقیقت باندی پوه نه دی صرف ستاسی په وینایقین کوی بلکه دوی دهرڅه دپوره پوره حقیقت څخه خبردی ستاسی دغلطو خبرو په اوریدو دوی ستاسی درښتنوالی نه قائله کیږی البته دخپل نفس دشرافت اوکرم په بناباندی مخامخ ستاسی ردنه کوی.

اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ: په دی آیت کی داخبر ورکول سوی دی چی الله ﷻ به دمنافقانو پټ سازشونه اوشرارتونه ښکاره کړی چی ددی یوه واقعه دتبوك څخه دواپسی ده کله چی ځینی منافقانو دحضور ﷺ دقتل سازش کړی وو الله ﷻ دی ﷺ دجبرئیل امین دوحی په ذریعه خبر کړی اودهغه لاری څخه یی واړوی کوم ځای چی دغه منافقان ددی کار دپاره جمع سوی وه (مظهری عن البغوی)

اوحضرت ابن عباس ؓ فرمایی چی الله ﷻ داویا تنو منافقانو نومونه سره دپلرونو دنومونو اودپوره نښانو اوپټو سره نبی کریم ﷺ ته ښوولی وه لیکن رحمة للعلمین ﷺ دوی خلګو ته ښکاره نه کړل (مظهری)

اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَ الْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ

دمنافقانو سړو اومنافقانو ښځو ټولو یو دول حال دی ښیی دوی بده خبره او منع کوی

عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ؕ

دنیکی خبری څخه اوبند ساتی خپل لاسونه هیر یی کی الله ﷻ نوهغه هیر کړه دوی

اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ

په تحقیق سره منافقان هم دوی نافرمانه دی ، وعده کړې ده الله دمنافقانو سړو ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ

اومنافقانو ښځو سره اوکافرانو سره د دوزخ داور چې پراته به وي په دې کې اودغه کافي دي دوی لره ،

وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۶۸﴾ كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

او الله ﷻ لعنت کړی دی په دوی او د دوی دپاره عذاب دی برقرار پاته کیدونکی ، لکه چې ستاسی څخه مخکی

كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ؕ فَاسْتَمْتَعُوْا

خلګ زیات وه ترتاسی په زور کی اوزیات یی درلودی مال او اولاد بیایی فائده واخسته دخپلی ،

بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ

حصی څخه ، فائده واخسته تاسی دخپلی حصی څخه لکه چې فائده اخستی وه ترتاسی مخکی خلګو دخپلی

مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ؕ اُولٰٓئِكَ

حصی څخه اوتاسی هم چلیږی دهغوی دچال په شان دغه خلګ وه چې

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

خراب سول د دوی عملونه په دنیا کی او په اخرت کی اودغه خلګ په نقصان کی

الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۹﴾ اَلَمْ يَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوْحٍ

ولویدل ، ایاونه رسیدی دوی ته خبر دهغو خلګو چې مخکی وه ددوی څخه دنوح ﷺ قوم

وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۙ وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ

اوعادیان اوثمودیان او قوم دابراهیم ﷺ اودمدین والا وو

وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ

او دهغو کلو خبرچې سرچپه سوی وه راغلل دوی ته رسولان د دوی دښکاره حکمونو سره ، نو داسی نه وو

لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۷۰﴾

چې په دوی یې ظلم وکی لیکن دوی په خپلو ځانونو په خپله ظلم کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: منافقان سړی اومنافقانی ښځی ټولی یوډول دی چی دبدی خبری (یعنی دکفر اواسلام دمخالفت) تعلیم ورکوی اودښی خبری څخه (یعنی ایمان اوتابعداری دنبی ﷺ څخه) منع کول کوی او (دخدای په لاره کی دخرڅ کولو څخه) خپل لاسونه بندساتی دوی دخدای پرواه ونه کړه (یعنی فرمانبرداری یی ونه کړه) نو خدای د دوی پروا ونه کړه (یعنی پردوی یی خاص رحمت ونه کی) بیشکه دامنافقان لوی سرکښان دی الله ﷻ دمنافقانو سړو اوښځو او (په ډاګه) دکفر کوونکو سره د دوزخ داور وعده کړې ده چی دوی به همیشه په کی اوسی دغه د دوی دپاره (سزا) کافی ده اوالله ﷻ به دوی دخپل رحمت څخه لیری کړی اودوی ته به (دذکرسوی وعدی مطابق) همیشه عذاب وی (ای منافقانو!) ستاسی حالت (دکفر اوپه مستحق کیدو دسزا دکفرکی) دهغو خلګوپه شان دی کم چی ترتاسی په مخکی (زمانه کی) تیرسوی دی چی په سختوالی دطاقت کی اوپه ډیروالی دمال اواولاد کی ستاسی څخه هم زیات وه نودوی دخپلی (دنیوی) حصی څخه ښه فائده حاصله کړی وه اوتاسی هم (په بدو خبروکی) داسی ننوتلی یاست لکه چی دغه خلګ (په بدو خبروکی) ننوتلی وه ددی خلګو (نیک) عملونه په دنیا اواخرت (ټولو) کی ضائع سول (چی په دنیا کی پردی عملونو دثواب زیری نسته اوپه اخرت کی ثواب نسته) اوَ (په وجه ددی حبطه کیدو دعمل په دنیا اواخرت کی) دغه خلګ په لوی نقصان کی دی (چی په دواړه جهانه دخوشحالی اوراحت څخه محرومه دی ، نو دغه ډول تاسی هم د دوی په شان کفر کوی نو د دوی په شان تاوان کوونکی او زیان کاره سواست او لکه څنګه چی د دوی اولاد اومالونه د دوی په کار ورنه غلل تاسی خو په دی شپانو کی د دوی څخه کم یاست ، نو ستاسی خو به ګرسره په کار درنه سی داخو داخرت دضرر زورنه سوه اوس یی ددنیا دضرر داحتمال په ذکر سره خبروی چی) ایادی خلګوته ددوی (دعذاب اوهلاکت) خبرنه دی رسیدلی کوم چی د دوی څخه مخکی تیرسوی دی لکه قوم دنوح اوعادیان او ثمودیان اوقوم دابراهیم اواهل دمدین اوچپه سوی کلی (یعنی قوم دلوط) چی دوی ته د دوی پیغمبرانو صفا نخښی (دحق) راوړی (لیکن په نه منلو سره یی برباد سول) نوَ (په دی بربادی کی) الله ﷻ خو په دوی ظلم نه دی کړی لیکن دوی په خپله پرخپلو ځانونو ظلم کوی (دغه ډول دی منافقانو ته هم بیره په کار ده)

معلومات اومسئلې: په دی ذکر سوو آیتونوکی په اول آیت کی دمنافقانو یو حال یی دا وښووی چی دوی خپل لاسونه بند ساتی ، یَقْبِضُوْنَ اَیْدِیَهُمْ : په تفسیر قرطبی کی دی چی دلاسونو دبندو ساتلو څخه مراد جهاد نه کول او واجب حقونه نه ادا کول دی ، نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِیَهُمْ ددی ښکاره معنی دا ده چی دی خلګو الله ﷻ هیر کی نوالله ﷻ دوی هیر کړل الله ﷻ خو دهیریدو څخه پاک دی مراد دلته دادی چی دی خلګو دالله ﷻ حکمونه داسی پریښول لکه چی یی هیر سوی وی ، نو الله ﷻ هم دوی دآخرت دثواب په معامله کی داسی پریښول چی په نیکی او ثواب کی هیڅکله هم د دوی نوم را نغی .

دایت (۶۹) کَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ : یو تفسیر دا دی چی داخطاب منافقانوته دی لکه چی په لنډتفسیرکی راغلی دی او دوهم تفسیر یی دا دی چی خطاب مسلمانانو ته دی یعنی (اَنْتُمْ کَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ) مراد دا دی چی تاسی خلګ هم ترځان دمخکی خلګو په شان یاست څنګه چی دغه خلګ ددنیا په خوندونوکی ورک سول آخرت یی هیر کی او په قسم قسم ګناهونو او بدو اخلاقو کی اخته سول تاسی به هم دغه خلګ سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی آیت په تفسیر کی حضرت ابوهریره ﷺ روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی تاسی به هم هغه طریقی اختیار کی کومی چی ترتاسی مخکی امتونو اختیار کړی دی لاس په لاس اولویشت په لویشت یعنی هوبهو د دوی نقل به کوی تردی چی که په دوی کی څوك دسمساری په غارکی ننوتلی وی نو تاسی به هم ننوزی حضرت ابوهریره ﷺ ددی روایت نقل کولو څخه وروسته وفرمایل چی که ددی حدیث تصدیق ستاسی زړه غواړی ، نو دقرآن دا آیت وواياست : كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ .

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ چی داواوریدل نو وی فرمایل ، مَا أَشْبَهَ اللَّيْلَةَ بِالْبَارِحَةِ : یعنی نن شپه دتیری شپی سره څنګه یو شان او مشابه ده دا بنی اسرائیل دی مونږ ته یی د دوی سره تشبیه راکړې ده (قرطبی) دحدیث مقصد واضح دی چی په اخره زمانه کی به مسلمانان هم دیهودو او نصاراوو پر طریقو روان سی اودمنافقانو دعذاب بیانولو څخه وروسته ددوی بیان کول دی طرف ته اشاره ده چی دیهودو اونصاراوو دطریقوتابعداری کوونکی مسلمانان به هغه وی دکوموپه زړونوکی چی مکمل ایمان نسته دنفاق جراثیم په دوی کی پیداسی دامت صالحانو ته ددی څخه دبچ کیدو اوبچ کولو هدایت په دی آیت کی سوی دی .

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ

اوایماندار سړی اوایمانداری ښځی دیو بل مددګاران دی ښیی دنیکی خبره

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُونَ

او منع کوی دبدی خبری څخه اوقائم ساتی لمونځ او ورکوی

الزَّكٰوةَ وَيُطِيعُونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ ۚ أُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ۗ

زکوٰة او حکم منی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دغه خلق دی په کومو چی به رحم وکړی الله

إِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

بیشکه الله زبردست دی حکمت والا ، وعده کړی ده الله دایمانداروسړو اوایمانداروښځو سره ،

جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسٰكِنَ

دباغونو چی بهیږی به لاندی تردوی ویالی اوسی به په دی کی همیشه ،

طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللّٰهِ أَكْبَرُ ۚ ذٰلِكَ

اوسترې کوروونه داوسیدو په باغونو کی اورضامندی دالله ددی ټولو څخه لویه ده داده لویه

Maktaba Tul Ishaat.com

هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿۷۲﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ

کامیابی ای نبی ! جنګ کوه دکافرانو سره

وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۷۳﴾

او دمنافقانو سره او سختی کوه پر دوی او ددوی ځای دوزخ دی او دا بد ځای دی

لنډتفسیر: اومسلمانان سړی اومسلمانانی ښځی په خپل مینځ کی دیوبل (دینی) ملګری دی دنیکو خبرو تعلیم ورکوی اودبدو خبروڅخه منع کول کوی او دلمونځ پابندی کوی اوزکوٰة ورکوی اوداللہ ﷻ اودهغه درسول خبره منی پردی خلقوبه خامخا اللہ ﷻ رحمت وکړی (چی تفصیل یی په : وَعَدَ اللہ الخ کی دیر ژر راروان دی) بیشکه اللہ ﷻ قادر (مطلق) دی (پوره جزاورکولی سی) حکمت والادی (مناسبه جزا ورکولی سی اوس ددی رحمت بیان کیږی چی) اللہ ﷻ دمسلمانانو سړیو اومسلمانانو ښځو سره ددا سی باغونو وعده کړی ده چی لاندی نهرونه بهیږی چی دوی به همیشه په کی اوسی اودلوړو (کورونو وعده یی کړی ده) کوم چی په دغو همیشه باغونوکی به وی او (ددی تولو نعمتونوسره) داللہ ﷻ رضامندی (کومه چی به دجنتیانوسره همیشه همیشه وی) د (دی) تولو (نعمتونو) څخه لوی شی دی دا (ذکرسوی جزا) لویه کامیابی ده ای نبی ﷺ دکفارو (سره په وسله) او دمنافقانو سره (په ژبه) جهاد کوه اوسختی باندی کوه (په دنیا کی خو دوی ددی مستحق دی) او (په) آخرت کی د دوی د اوسیدو ځای دوزخ دی او دغه ناکاره ځای دی.

معلومات اومسئلې: په تیرو آیتونوکی دمنافقانو حالات د دوی دسازشونو اوازارونو او د دوی دعذاب بیان وو دقرآن دقانون مطابق مناسب وه چی دلته دمخلصو مومنانو حالات او د دوی دثواب او درجو هم بیان راسی په ذکر سوو آیتونو کی ددی بیان دی.

دلته داخبره دنظر قابله ده چی پردی موقع دمنافقانو اومخلصو مومنانو مقابله ذکر سوې ده مګر یوځای دمنافقانو په باره کی خویی دا وفرمایل چی ، بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ : او ددی په مقابله کی چی دمومنانو ذکر راغی نوپه دی کی فرمایی ، بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ په دی کی اشاره ده چی دمنافقانو دیوبل سره تعلقات او رابطی محضی په خاندانی شریکوالی یا غرضونو باندی مبنی وی نه یی عمر زیات وی اونه په دی هغه فائده مرتب وی کومه چی دزړه د دوستی او دزړه په همدردی باندی مرتب وی په خلاف دمومنانو څخه چی دوی دیو بل مخلص دوستان اوربنتنی همدرد وی (قرطبی)

اوچونکی دادوستی اوهمدردی خالصه داللہ ﷻ دپاره وی دغه په ښکاره اوپه باطن اوپه مخامخ اوپه وروسته دشا پسی یودول وی او دهمیشه دپاره وی دمومن مخلص دانښه وی دایمان اونیک عمل خاصه داده چی په خپل مینځ کی دوستی اومحبت پیدا کوی دقرآن کریم ارشاد ددی متعلق دی: سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَانُ وُدًّا یعنی کم خلګ چی ایمان راوړی اونیک عمل کوی اللہ ﷻ د دوی په مینځ کی دزړه او زوړه دوستی پیدا کوی نن صبا زمونږ دایمان او نیک عمل کوتاهی ده چی دمسلمانانو دیو بل سره تعلقات هیڅ ځای داسی په نظر نه راځی بلکه دغرضونو تابع دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

جاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ : په دی آیت کی دکفارو او منافقانو دواړو سره دجهاد او د دوی په معامله کی دسختی اختیارولو حکم نبی کریم ﷺ ته ورکول سوی دی دظاهری کافرانو سره دجهاد معامله خوښکاره خبره ده لیکن دمنافقانو سره دجهاد مطلب په خپله دنبی کریم ﷺ دعمل څخه داثابت سوی دی چی دا د دوی سره دجهاد څخه مراد زبانی جهاد دی چی دوی ته داسلام دحقوالی په پوهیدو طرف ته بلنه ورکړی چې دوی داسلام په خپله دعوی کی مخلصان سی (قرطبی ومظهری)

وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ دلفظ د : غلظ اصلی معنی دا ده چی دمخاطب سره کوم طرز عمل په کار وی په هغه کی کمی ونه سی اونه په کښی نرمی او رعایت وسی دالفظ د ، رَافَةٌ په مقابل کی استعمالیږی چی ددی معنی رحمت او رحمدلی ده .

امام قرطبی فرمایی چی دلته په لفظ دغلظت استعمالولو سره عملی غلظت مراد دی چی پردوی باندی دشرعی احکامو په جاری کولو کی څه رعایت اونرمی ورسره ونه سی په ژبه اوخبره کی ورسره سختی اختیارول مرادنه دی ځکه چی دا دپیغمبرانو دطریقی څخه خلاف ده دوی دهیڅا سره سختی خبری اوبدری ردی نه کولی په یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی ، اِذَا زَنَتْ اَمَةُ اَحَدِكُمْ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَ وَلَا يُثَرِّبُ عَلَيْهَا (قرطبی) که ستاسی یوه مینځه زنا وکړی ، نو شرعی حد باندی جاری کوی مګر په ژبه ملامته کول او بدی ردی ورته مه ویاست .

او دنبی کریم ﷺ په حال کی په خپله الله ﷻ فرمایی ، وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ : یعنی که ستا خبری سختی او زړه سخت وای نو خلګ به ستا دخوا څخه تښتیدلی وای او دنبی کریم ﷺ په معامله کی هیڅ ځای دا ثابته نه ده چی دکفارو او منافقانو سره یی په خبرو کی یو ځای سختی اختیار فرمایلی وی .

خبرداری: افسوس دی چی په خطاب اوخبرو کی سختوالی دکفارو په مقابله کی هم اسلام نه دی اختیار کړی اونن صبا یی یومسلمان دبل مسلمان په باره کی بی دریغه استعمالوی اوډیر خلګ خودا ددین خدمت ګڼی اوپه دی خوشحالیږی چی داګوندی مونږ ښه کوو . اِنَّا لِلّٰهِ .

يَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوا ۗ وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ

قسمونه اخلی په الله چی مونږ نه دی ویلی اوبیشکه ویلی دی دوی لفظ ،

الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا ۚ

دکفر اومنکره سول وروسته داسلام څخه اوقصدیی کړی وو دهغه شی چی دوی ته ورنه کول سو

وَمَا نَقَمُوا اِلَّا اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُولُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ

اوداتول ددی بدله وه چی غنیان کړل دوی الله او دهغه رسول په خپل فضل سـ د ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِنْ يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَإِنْ يَّتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ

نو که توبه وکاړی نوښه ده د دوی په حق کی اوکه ویی نه منی نوعذاب به ورکړی دوی لره الله

عَذَابًا أَلِيْمًا ۙ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ

عذاب دردناك په دنیا اوپه اخرت کی او نسته په مخ دمخکه

مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٧٤﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ اٰتٰنَا

دوی ته څوك دوست اونه مددګار اوځینی په دوی کی هغه دی چی وعده یی کړی وه دالله سره چی که راکړی مونږته

مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٧٥﴾

دخپل فضل څخه نومونږبه خامخا خیرات کوو اوسو به مونږدنیکی کوونکو څخه

فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ

نو کله چی ورکړل دوی ته الله دخپل فضل څخه نوبخل یی پکی وکی اوواپس سول

مُّعْرِضُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ إِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ

منع کوونکی نوددی اثروسو نفاق په زړونو د دوی کی تر هغه ورځی پوری چی دوی به په کښی ورسره یوخای سی

بِمَآ أَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿٧٧﴾ أَلَمْ

په دی وجه چی دوی خلاف کړه دالله ﷻ څخه کومه وعده چی یی ورسره کړی وه اوپه دی وجه چی دروغ یی ویل ایا

يَعْلَمُوْٓا أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ وَأَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٧٨﴾

دوی پوه نه سو چی الله ﷻ ته معلوم دی د دوی راز او د دوی مشوره او دا چی الله ښه پیژنی ټولی پټی خبری

لنډتفسیر: دغه خلق قسمونه اخلی چی مونږ فلانی خبره (مثلاً داچی نبی کریم ﷺ قتل کړی) نه ده کړی حال دا دی چی یقیناً دوی دکفر خبره کړی وه (څکه چی دحضور ﷺ دقتل په باره کی خبری کول ښکاره کفر دی) او (ددغه خبری په کولو سره) دخپل (ښکاره) اسلام څخه وروسته (په ظاهر کی هم) کافران سول (که څه هم خبره یی په خپل مینځ کی کړې ده چی بیامسلمانان هم په خبر سول اوپه دی سره یی کفر ښکاره سو) او دوی ددغسی خبری اراده کړی وه چی لاس یی باندی برنه سو (چی دنبی ﷺ قتل وو خوناکامه سول) اودا دوی صرف ددی خبری بدله ورکړی ده چی دوی الله ﷻ او دهغه رسول په رزق دخدای سره مالا مال کړل (ددی احسان بدله د دوی په نزد داده چی بدی وکړی) نوکه (ددی څخه وروسته) توبه وکاړی نو د دوی

دپاره (په دواړو جهانونو) ښه ده (اونفع منده ده چنانچې جلاس ﷺ ته دتوبې توفیق وسو) اوکه چیرې (دتوبې څخه) روګردانی وکړی (اوپر کفر اونفاق پاته سی) نوالله ﷻ به دوی ته په دنیا اواخرت (دواړو) کی دردناکه سزا ورکړی (چنانچې ټول عمر بدنامه اوپریشانه اوپه بیړه کی اوسیدل اودمرګ په وخت کی مصیبت لیدل دا ددنیا عذاب دی اوپه اخرت کی دوزخ ته تلل خوښکاره خبره ده) او د دوی په دنیا کی نه څوک یارسته اونه مددګار (چې دعذاب څخه یې خلاص کړی اوکله چې په دنیا کی ددوی څوک یار اومددګار نسته چې دلته خواکشره مدد کیدی سی نوپه اخرت کی خوپه درجه اولی نسته) او په دی (منافقانو) کی ځینې خلګ داسی دی چې دخدای سره وعده کوی (څکه چې دنبی کریم ﷺ سره وعده کول اوالله ﷻ سره وعده کول برابر دی او دغه وعده دا وه چې) که الله ﷻ مونږ ته دخپل فضل څخه (ډیر مال) راکی نو مونږ به (په دی کی) ښه خیرات کوو او مونږ به (ددی په ذریعه سره) ښه نیک نیک کارونه کوو پس کله چې الله ﷻ دوی ته دخپل فضل څخه (ډیر څه) ورکړل نوبخل یې په کښې شروع کی (چې زکوٰة یې ورنه کی) او (دطاعت څخه) یې مخ اړول شروع کړل اودوی خودمخ اړولو (دمخکی څخه) عادتیان دی ، نو الله ﷻ ددی (کار) په سزا کی د دوی په زړونو کی نفاق (قائم) کی کوم چې به خدای ته دتللو تروړخی پوری (یعنی ترمرګه پوری) وی په دی سبب سره چې دوی خپله وعده دخدای سره خلاف کړه اوپه دی سبب سره چې دوی (په دی وعده کی دشروع څخه) دروغ ویل (یعنی دوفاء کولو نیت یې هغه وخت هم نه وو نونفاق یې دغه وخت هم په زړه کی وو چې دا دروغ اوخلاف یې فرع ده بیا ددی دروغو اوخلاف په واقع کیدو سره نور زیات دغضب مستحق سول اوددی زیات غضب اثر داوسو چې دغه تیر نفاق یې اوس دائمی او نه لیرې کیدونکی سو چې توبه به یې هم نصیب نه سی اوپردی حالت چې مړسی نودائمی جهنم به یې نصیب سی اوسره دپټ کفر څخه چې کوم داسلام اظهار کوی نو) ایا دوی (منافقانو) ته داخبر نسته چې الله ﷻ ته د دوی دزړه راز او د دوی پټې جرګې ټولې معلومې دی او دا چې الله ﷻ دغیبو په ټولو خبرو باندی ښه پوه دی (او په دی وجه دغه ښکاره اسلام او اطاعت د دوی په کار نه سی ورتلی بیا خاص په آخرت کی نو دجهنم سزا ضروری ده)

معلومات اومسئلې: د ذکرسوو آیتونوپه اولنی آیت کی په ، یَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ کی بیادمنافقانو ذکر دی چې دوی په خپله مجلسونو کی دکفر خبری کوی بیا که مسلمانان په خبرسی نو په دروغه قسمونه اخلی او خپل پاکوالی ثابتوی ددی آیت په شان نزول کی بغوی دا واقعه نقل کړې ده چې نبی کریم ﷺ دتبوک دغزا په موقع یوه خطبه ورکړه چې په دی کی دمنافقانو دبدحالی اوبد انجام ذکریی وفرمایی په حاضرینوکی یومنافق جلاس هم موجود وو چې دی ولاړی نوپه خپل مجلس کی یې وویل چې محمد ﷺ چې څه وایی که دا رښتیا وی نو مونږ ترخرو زیات بدتر یو دده داکلمه یوصحابی عامر بن قیس ؓ واوریده نو وی ویل چې بیشکه نبی کریم ﷺ چې څه فرمایلی دی دارښتیا دی اوتاسی واقعی ترخرو هم زیات بدتر یاست کله چې نبی کریم ﷺ دتبوک دسفر څخه بیرته مدینې طیبې ته راورسیدی نوعامر بن قیس ؓ دا واقعه نبی کریم ﷺ ته واوروله اوجلاس دخپلې خبری څخه منکره سو اووی ویل چې عامربن قیس ؓ په ماپوری تهمت پوری کړی دی نبی کریم ﷺ دواړو ته حکم وکی چې دمنبر نبوی په خوا کی ودریږی قسمونه واخلی

Maktaba Tul Ishaat.com

جلاس فوراً په دروغو قسم واخستی چی ماداسی نه دی ویلی عامر ﷺ دروغ وایی چی دحضرت عامر ﷺ نمبر راغی نو ده هم قسم واخستی او بیایی ددعا دپاره لاسونه لوړ کړل چی یا الله! ته دخپل رسول ﷺ په ذریعه دوحی ددی معاملی حقیقت ښکاره کړی په دی دعا نبی کریم ﷺ اوټولو مسلمانانو امین وویل اوس لا داخلګ پرځای ناست وه چی جبرئیل امین وحی راوړی حاضر سو چی دا ذکرسوی آیت په کی وو جلاس چی کله دااایت واوریدی نوفوراً ودریدی اوویی ویل چی یارسول الله! اوس زه اقرارکوم چی دا غلطی زما څخه سوی وه اوعامر بن قیس ﷺ چی څه وویل دارښتیا وه مګر په دی آیت کی حق تعالی ماته دتوبی هم حق راکړی دی زه اوس دالله ﷻ څخه بخښنه غواړم اوتوبه کاړم نبی کریم ﷺ دده توبه قبوله کړه او بیادی په دی خپله توبه قائم پاته سو دده حالات برابر سوه (مظهری)

ځینی تفسیر لیکونکو حضراتو دغه ډول نور واقعات ددی په شان نزول کی بیان کړی دی خاص په دی وجه چی ددی آیت په یوه جمله کی داهم دی ، وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا یعنی دوی اراده وکړه دیو داسی کار چی دوی په کی کامیاب نه سول ددی څخه معلومیږی چی دا ایت دیوی داسی واقعی متعلق دی په کومه کی چی منافقانو دنبی کریم ﷺ او مومنانو خلاف سازش کړی وو چی دوی په کی کامیاب نه سول لکه ددی تبوك دغزا څخه دواپسی واقعه چی مشهوره ده چی دولس منافقان دغره په یوه غونډی کی ددی دپاره پټ ناست وو چی کله حضور ﷺ دی ځای ته راورسیږی نوپه یووار به حمله باندی وکړی او قتل به یی کړی جبرئیل امین دی خبر کی نو دوی لاره بدله کړه او دهغو سازش خاوری سو .

او ځینی نور واقعات هم دمنافقانو دطرف څخه داسی پیښ سوی دی مګر په دی کی تضاد یاځه لیږی والی نسته چی داټول واقعات په دی آیت کی مراد دی .

دوهم آیت ، وَمِنْهُمْ مَنْ عٰهَدَ اللّٰهَ : هم دیوی خاصی واقعی سره متعلق دی کومه چی ابن جریر ابن ابی حاتم ابن مردویه طبرانی اوبیهقی دحضرت ابوامامه باهلی ﷺ په روایت سره نقل کړي ده چی یو سړی ثعلبه ابن حاطب انصاری دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او دا درخواست یی وکی چی تاسی دعاوکی چی زه مالدارسم حضور ﷺ وفرمایل چی ایاستا زما طریقه خوښه نه ده قسم دی په هغه ذات دچاپه قبضه کی چی زما روح دی چی که ما غوښتلی نودمدینی غرونه به سره زر سوی وای اوزما سره به ګرځیدل مګر زما داسی مالداری خوښه نه ده داسړی ولاړی بیا دوباره راغی اوبیایی دغه درخواست ددی وعدی سره پیش کی چی که ماته مال راکول سی نوزه به هریوحقدار ته دهغه حق رسوم نبی کریم ﷺ دعا وکړه چی اثر یی داسی ښکاره سو چی دده بزی بی اندازی زیاتیدل شروع سو تر دی چی دمدینی ځای پرده تنګ سو نودباندی ولاړی اودماپښین اوماخیګر دوه لمونځونه به یی په مدینه کی په حضور ﷺ پسی کول باقی لمونځونه به یی په ځنګل کی کوم ځای چی دده دامال وو ، کول به یی .

بیا په دی بزوکی نور دومره زیات سو چی دغه ځای هم باندی تنګ سو اودمدینی منوری څخه یولیږی ځای یی واخستی اوهلته ولاړی دهغه ځای څخه به صرف دجمعی لمونځ ته مدینی ته راتلی اونور پنځه وخته لمونځ به یی هلته کوی بیا یی دغه ما ل نور هم دومره زیات سو چی دغه ځای یی هم پریښودی اودمدینی منوری څخه ډیرلیری ولاړی چی هلته دجمعی اوجماعت ټولو څخه محرومه سو .

Maktaba Tul Ishaat.com

څه زمانه وروسته نبی کریم ﷺ دخلګو څخه دده پوښتنه وکړه اوخلګو وویل چی دهغه مال دومره زیات سوی دی چی دښار په خوا کی اوس هغه نه سی اوسیدی په دی وجه یولیری ځای تللی دی اوهلته اوسی نودلته اوس نه ښکاری نبی کریم ﷺ چی دا واوریدل نو دری واره یی وفرمایل ، وَيْحَ ثَعْلَبَةَ یعنی په ثعلبه افسوس دی په ثعلبه افسوس دی په ثعلبه افسوس دی .

اتفاقاًپه دی زمانه کی دصدقو آیت نازل سوچی په دی کی یی نبی کریم ﷺ ته دمسلمانانو څخه دصدقو وصولولو حکم ورکړی دی ، خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً دوی دځاروو دصدقو مکمل قانون ولیکی او دوه سړی یی دصدقو دعاملانو په حیثیت سره دځارویو دزکوٰة وصولولو دپاره ولیږل اودوی ته یی حکم وکی چی ثعلبه بن حاطب ته هم ورسی او دبنی سلیم دیو بل سړی خواته دتللو حکم یی ورته هم وکی .

دا دواړه چی کله ثعلبه ته ورسیدل اودنبی کریم ﷺ فرمان یی ورته وښووی نو ثعلبه وویل چی دا خو جزیه سوه کومه چی دغیر مسلمو څخه اخستل کیږی او بیا یی ورته وویل چی ښه دی اوس تاسی ځی کله چی بیرته راسی نو بیا دلته راسی دا دواړه ولاړل .

او دوهم سړی سُلَیْمِی چی کله دنبی کریم ﷺ فرمان واوریدی نو په خپلو ځاروو اوښانو اوبزوکی چی کوم دټولو څخه ښه ځاروی وو دصدقی دنصاب مطابق یی هغه ځاروی دنبی کریم ﷺ قاصدانو ته په خپله را وستل هغوی ورته وویل چی مونږ ته خو دا حکم دی چی په ځاروو کی به اعلی ځاروی نه چانِ کوو بلکه درمیانه به اخلو په دی وجه مونږ دا نه سو اخستی خو سُلَیْمِی اصرار وکی چی زه په خپله خوشحالی دا درکوم دا ځاروی قبول کړی ،

بیادی دواړو حضراتو دنورو مسلمانانو څخه صدقی وصول کړی اوبیرته راغلل نوبیا ثعلبه ته ورغلل نوده وویل چی راوړی دصدقو هغه قانون ماته وښیاست چی هغه یی ولیدی نووی ویل چی داخو یوقسم جزیه سوه چی دمسلمانانو څخه یی اخستل نه دی په کار ښه ده اوس تاسی ځی زه به غور وکړم او بیا به څه فیصله وکړم .

هرکله چی دا دواړه حضرات بیرته مدینی طیبی ته را ورسیدل او دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول نو دوی دحالاتو دپوښتنی څخه مخکی بیا هم هغه کلمه دوباره وفرمایله کومه چی یی اول فرمایلی وه ، یَاوَیْحَ ثَعْلَبَةَ یَاوَیْحَ ثَعْلَبَةَ یَاوَیْحَ ثَعْلَبَةَ (یعنی پرثعلبه باندی سخت افسوس دی) داجمله یی دری واره ارشاد وفرمایله په دی واقعه دا ایت نازل سو ، وَمِنْهُمْ مَنْ عٰهَدَ اللّٰهَ الخ یعنی په دوی کی ځینی خلګ داسی هم دی کومو چی دالله ﷻ سره وعده کړی وه ، چی که الله ﷻ دوی ته مال ورکړی نو دوی به صدقه خیرات کوی او دامت دصالحانو په شان به دټولو حقدارانو قریبانو اوغریبانو حقونه ادا کوی بیاچی کله الله ﷻ دوی ته په خپل فضل سره مال ورکی ، نو بخل یی وکی او دالله ﷻ او رسول داطاعت څخه راوګرځیدل .

فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِی قُلُوْبِهِمْ : یعنی الله ﷻ د دوی په دی بدعملی او بد عهدی په نتیجه کی د دوی په زړونو کی نفاق نور پوخ کی چی د دوی دتوبی توفیق نه سی کیدی .

فائده : ددی څخه معلومه سوه چی دځینو بدو عملونو بدبختی داسی وی چی دتوبی توفیق باندی واخستل سی نعوذ بالله منها ابن جریر دابو امامه دتفصیلی روایت په اخر کی کوم چی اوس ذکرسو

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکلی دی چی کله نبی کریم ﷺ دثعلبه په حق کی: یَاوَیْحَ ثَعْلَبَةَ دری واری وفرمایل نوپه دی مجلس کی دثعلبه څه خپلوان هم موجود وه هغوی چی دا واوریدل نوفوراً دهغوی څخه یو تن سفر وکی اوثعلبه ته ورسیدی اودی یی ملامت کی اوورته یی وویل چی ستاپه باره کی دقرآن کریم آیت نازل سو چی دایی واوریدل نوثعلبه وبیریدی اومدینی ته حاضر سو اودرخواست یی وکی چی زما صدقه دی قبوله سی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی زه الله ﷻ ستا دصدقی قبلولو څخه منع کړی یم چی دایی واوریدل نوثعلبه پرخپل سربانډی خاوری اچول شروع کړل.

نبی کریم ﷺ وفرمایل چی داستا خپل عمل دی ماتاته حکم وکی تاونه منی اوس ستا صدقه نه سی قبلیدی ثعلبه ناکامه راغی اوددی څخه څو ورځی وروسته نبی کریم } وفات سو اوصدیق اکبر ﷺ خلیفه سو نو ثعلبه دصدیق اکبر ﷺ په خدمت کی حاضر سو او ویی ویل چی زما صدقه قبوله کړی صدیق اکبر ﷺ وفرمایل چی کله نبی کریم ﷺ نه ده قبوله کړی ، نو زه یی څنګه قبلولی سمه ؟

بیا دصدیق اکبر ﷺ دوفات څخه وروسته ثعلبه دفاروق ﷺ په خدمت کی حاضر سو او دغه دصدقی قبلولو درخواست یی وکی خو هم هغه جواب ورکول سو کوم چی صدیق اکبر ﷺ ورکړی وو بیا دحضرت عثمان ﷺ دخلافت په زمانه کی یی درخواست وکی هغوی هم انکار وکی او دحضرت عثمان ﷺ دخلافت په زمانه کی ثعلبه مړ سو (نعوذ بالله من سیئات الاعمال یا الله مونږ په خپل فضل او رحم سره دداسی بدو عملونو څخه محفوظ وساتی آمین)

مسئله : دلته داسوال پیداکیږی چی کله ثعلبه توبه وکښله اوحاضر سو نو دده توبه ولی قبوله نه سوه وجه یی بنکاره ده چی نبی کریم ﷺ ته په ذریعه دوحی معلومه سوی وه چی دی اوس هم په اخلاص سره توبه نه کاږی اودده په زړه کی نفاق موجوددی محض دوخت دمصلحت په بنا سره مسلمانانو ته دوکه ورکوی اوراضی کوی یی په دی وجه قبوله نه ده اوکله چی نبی کریم ﷺ دی منافق مقرر کی نو وروسته خلیفه ګانو ته دده دصدقی قبلولو حق پاته نه سو ځکه چی دزکوة دپاره مسلمانیدل شرط دی البته (نبی کریم } څخه وروسته چونکی دچا دزړه دنفاق پته په قطعی طورسره چاته نه سی معلومیدی په دی وجه دائنده دپاره حکم دا دی چی کوم سړی توبه وکاږی او داسلام اوایمان اقرارو کړی دده سره به دمسلمانانو په شان معامله کول کیږی برابره خبره ده که دده په زړه کی هرڅه چی وی (بیان القرآن)

اَلَّذِیْنَ یَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِیْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ فِی الصَّدَقٰتِ وَالَّذِیْنَ

هغه خلق چی طعنی ورکوی هغو مسلمانانو ته کوم چی دزړه داخلاصه صدقی کوی اوهغو ته کوم چی نه لری

لَا یَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَیَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ

طاقت مګر دخپل محنت بیاپه دوی پوری مسخری کوی الله په دوی پوری مسخری کوی او د دوی

اَلِیْمٌ ﴿۷۹﴾ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِیْنَ

دپاره عذاب دردناك دی ، که ته د دوی دپاره بخښنه وغواړی یاکه یی ونه غواړی که ته د دوی دپاره اویا ۷۰

Maktaba Tul Ishaat.com

مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَاللّٰهُ لَا

واری بخښنه وغواړی نو هم به هیڅکله ونه بخښی الله دوی داپه دی وجه چی دوی منکره سول دالله ﷻ او درسول

يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۸۰﴾

دهغه څخه اوالله لار نه ښیی نافرمانو خلګوته.

لنډتفسیر: دوی (منافقان) داسی دی چی په نفلی صدقه کوونکو مسلمانانو باندی دصدقو په باره کی (په لږوالی) طعن کوی او (خاص) پرهغو خلګو (ډیرزیات) کمو ته چی بغیر دمحنت مزدوی (دامدنی) څخه نور څه نه ورځی په لاسو (اودغه عاجزان ددغه مزدوری څخه همت کوی څه خیرات ورڅخه ورکوی) یعنی په دوی پوری مسخری کوی (یعنی مطلق طعن خو پرتولو کوی چی څومره لږ شی یی په صدقه کی راوړی اوپه دغو محنت کوونکو غریبانو پوری هم مسخری کوی چی واخله دوی هم دصدقو ورکولو قابل سول) الله ﷻ به دوی ته دمسخرو (خوخاص) بدله ورکړی (هسی دمطلق طعنو خوبه دابدله ورکول سی چی) ددوی دپاره (په اخرت کی) به دردناکه سزاوی تاسی برابره خبره ده که ددی منافقانو دپاره استغفارکوی یاکه ددوی دپاره استغفارنه کوی (دواړه حالته برابردی چی دوی ته به ددی څخه هیڅ نفع نه وی دوی ته مغفرت نه سی کیدی) که ته ددوی دپاره اویا ۷۰ واری (یعنی ډیر) استغفار وکړی خوبیابه هم الله ﷻ دوی ونه بخښی دا په دی وجه دی چی دوی دالله ﷻ او درسول سره کفر وکی اوالله ﷻ داسی سرکښو خلګو ته (چی هیڅکله هم دایمان اوحق طلب ونه کی) هدایت نه کوی (په دی وجه دوی ټول عمر په کفر قائم پاته سول او په دی مړه سول)

معلومات اومسئلې: په اولنی آیت کی پرنفلی صدقو ورکوونکو مسلمانانو دمنافقانو دبدو ردو ذکردی په صحیح مسلم کی دی چی حضرت ابومسعود﷜ فرمایلی دی چی دالله ﷻ دطرف څخه مونږ ته دصدقو حکم وسو او زمونږ حال دا وو چی مونږ به محنت او مزدوری کولی (هیڅ مال زمونږ سره نه وو په دی مزدوری سره چی به مونږ ته څه راکول کیدل ددی څخه به مونږ صدقی ورکولی) نوابو عقیل نیم اوړی (تقریباً پاوکم دوه سیره) صدقه پیش کړه بل سړی راغی هغه ددی څخه لږ زیاته صدقه ورکړه منافقانو پردی باندی بدی ردی شروع کړه چی څومره لږ اوحقیر شی یی په صدقه کی راوړی دالله ﷻ داسی شی ته څه ضرورت دی اوچاچی څه زیاته صدقه ورکړه پرهغه یی دا الزام ولګوی چی ده دریاء دپاره خلګوته دخان ښوولو دپاره صدقه ورکړې ده، په دی دا ایت نازل سو په، سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ کی یی جزاء دمسخرو په مسخرو سره تعبیر کړې ده.

په دوهم آیت کی چی یی کوم دمنافقانو په باره کی نبی کریم ﷺ ته دافرمایلی دی چی که ته د دوی دپاره استغفار کوی اوکه نه کوی برابردی اوکه هرڅومره استغفار وکړی ددوی مغفرت نه سی کیدی ددی پوره بیان به مخ ته تر راتلونکی آیت: لَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ لاندی راسی.

فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ

خوشحاله سوه وروسته پاته کیدونکی په خپلو کښی نسلو جلاسوی درسول الله څخه اوبیریدل ددی څخه چی جنګ وکړی په خپلو مالونو اوخانونو سره،

Maktaba Tul Ishaat.com

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِی الْحَرِّ ؕ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ

دالله ﷻ په لاره کی او وایی چی مه خی په گرمی کی ته ووایه چی د دوزخ اور ډیر

اَشَدُّ حَرًّا ؕ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۱﴾ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا

گرم دی که دوی پوهیده ، نو ودی خاندی لږ اوودی ژاړی

كَثِيْرًا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَاِنْ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى

ډیر په بدله ددی کی چی دوی کول نو که چیری واپس گرځی تا الله

طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَاسْتَاْذَنُوْكَ لِلْخُرُوْجِ فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا

دیوی ډلی طرف ته گرځی ته ددوی څخه بیابه اجازه غواړی ستا څخه دوتلو ، نو ته ووایه چی تاسی هیڅکله مه وزی

مَعِیَ اَبَدًا وَّلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِیَ عَدُوًّا ؕ اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ

زما سره هیڅ چیری اومه جنګ کوی زما په ملګرتیا کی ددښمن سره ستاسی خوښی سوی دی

بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخٰلِفِيْنَ ﴿۸۳﴾

کښینستل په اول واری ، نو ناست اوسی دوروسته پاته کیدونکو سره

لغوتفسیر: داوروسته پاته کیدونکی خوشحاله سول دنبی کریم ﷺ د (تلو څخه) وروسته په خپلو کی نسلو باندی اودوی ته دالله ﷻ په لاره کی په خپلو مالونو اوځانونو سره جهاد کول ناخوښه سو (په دوو وجهو سره اول په کفر دوهم په ارام طلبی) او (نورو ته هم) وایی چی تاسی (په داسی تیزه) گرمی کی (دگور څخه) مه وزی ته (په جواب کی) ووایه چی دجهنم اور (ددی څخه هم) زیات (تیزاو) گرم دی (پس تعجب دی چی ددی گرمی څخه خوځانونه ساتی اودجهنم دتلو اسباب په خپله تیاروی چی کفر اومخالفت نه پاته کوی) څه نښه به وای که دوی پوهیدی پس (ددی ذکر سوو کارونو نتیجه داده چی په دنیاکی) لږ ورځی وخاندی (ولوبیږی) او (بیاپه اخرت کی) به ډیری ورځی (یعنی همیشه) وژاړی (یعنی خندل لږ ورځی دی بیا ژړاهمیشه همیشه ده) ددی کارونو په بدله کی کوم چی تاسی (کفر اونفاق اوخلاف وغیره) کوی (کله چی د دوی حال معلوم سو) نوکه خدای ﷻ تا (ددی سفر څخه مدینی ته صحیح اوسالم) ددوی یوی ډلی طرف ته واپس راولی (دله یی په دی وجه وویل چی ممکنه ده چی ځینی تردغه وخته پوری مړه سی یاځینی بی یوځای ولاړ سی او) بیادغه خلق (دخوشامندی اوتیر الزام ددفع کیدو په طور په یوجهاد کی تاسره) دتلو اجازت وغواړی (اوپه زړه کی به یی دغه وخت هم داوی چی پرعین وخت به څه بهانه وکړی) نوته داسی

Maktaba Tul Ishaat.com

ورایه چی (اگرچی داوخت ددنیا دجوړولو دپاره خبری جوړوی لیکن الله ﷻ ستاسی دزړه خبره واورولە په دی وجه دیر په وثوق سره وایم چی) تاسی به هیڅکله هم زماسره (جهادته) نه ځی اونه به زماپه ملګرتیا کی دیو دښمن (ددین) سره جنګ کوی (کوم چی دتلو اصلی مقصود دی ځکه چی) تاسی مخکی هم کښینستل خوښ کړی وو (او اوس موهم قصد دغه دی) نو (خامخا دروغ خبری ولی جوړوی بلکه دتیر په شان اوس هم) دهغو خلګو سره ناست اوسی (کوم چی واقعی) د وروسته پاته کیدو لائق دی (په وجه دعذر لکه بوډاګان بچیان او ښځی)

معلومات اومسئلي: دلوړه څخه سلسله دمنافقانو دحالاتو رارواته ده کم چی دتبوك په غزاکی دعام حکم باوجود شریك نه سوه په دی ذکرسوو ایتونوکی هم ددوی یوحال اوبیا ددوی داخرت سزا اوپه دنیا کی په راتلونکی وخت کی ددوی نوم دمجاهدینو داسلام دفهرست څخه خارجول اوائنده دوی لره په جهاد کی دشرکت اجازه نه ورکول ذکر دی.

مُخَلَّفُوْنَ: دمُخَلَّفٌ جمع ده چی معنٰی یی ده پاته سوی یعنی کم چی اوم پاته سوی وی په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی داخلګ خو داګنی خوشحالیږی چی مونږ خپل ځان په مصیبت کی دلویدو څخه وساتی اوپه جهادکی موشرکت ونه کی مګر حقیقت دادی چی الله ﷻ دوی ددی قابل ونه ګڼل چی دوی دا فضیلت پیداکی په دی وجه دوی دجهاد پریښوونکی نه دی بلکی دوی پاته سوی دی چی الله ﷻ اورسول ﷺ دوی دپاته کولو قابل وګڼل.

خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ: دلفظ د: خلاف: معنٰی دلته د: وروسته او: پس هم کیدی سی ابو عبید یی دامعنٰی اخستی ده ددی مطلب داسو چی داخلګ دنبی کریم ﷺ جهاد ته دتلو څخه وروسته د دوی څخه په وروسته پاته کیدو خوشحالیږی کوم چی په حقیقت کی دخوشحالی شی نه دی.

بِمَقْعَدِهِمْ: دالفظ دلته په مصدری معنٰی کی په معنٰی دقُعُوْد دی (یعنی کښینستل) دوهمه معنٰی د: خلاف: دلته دمخالفت هم کیدی سی چی دی خلګو دنبی کریم ﷺ دحکم مخالفت وکی په کور کی کښی نستل اوصرف په خپله نه دی کښینستلی بلکه نورو ته هم دا تلقین کوی چی لَا تَنْفِرُوْا فِی الْحَرِّ یعنی دګرمی په زمانه کی جهاد ته مه وزی.

دامخکی معلومه سویده چی دتبوك دغزا حکم په داسی وخت کی سوی وو چی سخته ګرمی وه الله ﷻ د دوی دخبری جواب داسی ورکی: قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا یعنی دابد نصیبه ددی وخت ګرمی خوویني او ددی څخه دخلاصیدو فکر کوی ددی په نتیجه کی دالله ﷻ اودرسول ﷺ دحکم په نافرمانی باندی چی دجهنم کوم اور ته لویدونکی ده دهغه فکر نه کوی ایا دا دموسم ګرمی دجهنم دګرمی څخه زیاته ده فرمایی.

فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا الایة ددی لفظی معنٰی دا ده چی خاندی لږ اوژاړی زیات دالفظ که څه هم په صیغه دامر راوړل سو مګر تفسیر لیکونکو حضراتو داپه معنٰی دخبر مقرر کړی دی اوپه صیغه دامر سره یی په ذکر کولو کی داحکمت بیان کړی دی چی داسی کیدل خامخا اویقینی دی یعنی داخبره په یقینی طور سره کیدونکی ده چی ددی خلګو دا خندا اوخوشحالی صرف دیوځو ورځو ده ددی څخه وروسته په اخرت کی دهمیشه دپاره ژړا اوژړا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن ابی حاتم د حضرت ابن عباس ﷺ څخه ددی آیت په تفسیر کی نقل کړی دی چی

الدُّنْيَا قَلِيلٌ فَلْيَضْحَكُوا فِيهَا مَا شَاءُوا فَإِذَا انْقَطَعَتِ الدُّنْيَا وَصَارُوا إِلَى اللهِ فَلْيَسْتَأْنِفُوا بُكَاءً لَا يَنْقَطِعُ أَبَدًا (مظهری)

دنیا څو ورځی ده په دی کی چی څومره غواړی وخاندی بیاچی کله دنیاختمه سی او الله ﷻ ته حاضرسی نوژړا به شروع سی چی هیڅکله به ختمیږی نه.

په دوهم آیت کی د: لَنْ تَخْرُجُوا ارشاد دی ددی مطلب خو په ذکر سوی لنډ تفسیر کی دا اخستل سوی دی چی داخلګ که په راتلونکی وخت کی په جهاد کی دشریکیدو اراده هم وکړی خوچونکه ددوی په زړونو کی ایمان نسته دغه اراده به هم په اخلاص سره نه وی کله چی دوتلو وخت راسی دغه وخت به دمخکی په شان حیلی بهانی کوی پاته کیږی به په دی وجه تاته حکم دی چی کله دوی په یوجهاد کی دشریکیدو په خپله هم ووایی خوته ورته داحقیقت ښکاره کړه چی ستاسی په هیڅ وینا اوکار باندی اعتماد نسته تاسی به نه یوجهاد ته وزی اونه به زما په ملګرتیا کی داسلام دیو دښمن سره جهاد کوی.

اکثره تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چی داحکم د دوی دپاره دیوی دنیوی سزا په طور سره نافذ سو چی که دوی په رښتیا سره هم یوځای په یوجهاد کی دشریکیدو دپاره ووایی خوهم به دوی نه شریکیږی.

وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا

اولمونځ مه کوه په دوی کی پریوتن باندی چی مړ سی هیڅکله او مه یی په قبر دریږه دوی منکره سوی

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۸۴﴾

دی دالله ﷻ څخه او دهغه درسول څخه او دوی مړه سول نافرمانه

لنډتفسیر: اوپه دوی کی چی څوک مړسی نوپه ده (دجنازی) لمونځ هیڅکله مه کوه اوته (ددفن کولو وغیره دپاره) دده په قبر دریږده (څکه چی) دوی دالله ﷻ اودهغه درسول سره کفر کړی دی اودوی دکفر په حالت کی مړه دی.

معلومات اومسئلي: په صحیح احادیثو سره دامت په اتفاق سره ثابت دی چی دا ایت دعبدالله بن اُبیّ منافق دمرګ اوپرده دجنازی دلمونځ متعلق نازل سوی دی اودصحیحینو دروایت څخه ثابته ده چی ددده پرجنازه باندی نبی کریم ﷺ لمونځ وکی دلمونځ کولو څخه وروسته دا ایت نازل سو اوددی څخه وروسته دوی هیڅکله دیومنافق هم دجنازی لمونځ نه دی کړی.

په صحیح مسلم کی دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ دروایت څخه دنزول دواقعی داتفصیل بیان سوی دی چی کله عبدالله بن ابی بن سلول مړسو نوددده زوی عبدالله چی مخلص مسلمان اوصحابی وو دی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسو اودرخواست یی وکی چی تاسی خپل قمیص مبارک راکړی چی زه یی خپل پلارته په کفن کی واغوندم نبی کریم ﷺ ورته خپل قمیص مبارک ورکی بیاحضرت عبدالله دادرخواست هم وکی چی دجنازی لمونځ یی هم تاسی وکی دوی قبول کی اودجنازی دلمانځه دپاره ودریدی نو حضرت عمربن خطاب ﷺ د دوی جامه ونیوله اوعرض یی وکی چی تاسی ددی منافق جنازه

کوی حال دادی چی الله ﷻ تاسی د دوی دجنازی دلمونځ څخه منع کړی یاست نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ماته الله ﷻ اختیار راکړی دی چی که زه دعا دمغفرت کوم اوکه یی نه کوم اوپه آیت کی چی کوم په اویا ۷۰ واری داستغفار په کولو دمغفرت نه کیدو ذکر دی نو زه داویا ۷۰ واری څخه زیات استغفار کولی سم دایت څخه مراد دسورة توبه دغه آیت دی کوم چی اوس ذکرسویعنی، اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ : بیا نبی کریم ﷺ دده دجنازی لمونځ وکی دلمانځه څخه وروسته دا آیت نازل سو . وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ (چنانچی ددی څخه وروسته دوی هیڅکله هم دیومنافق دجنازی لمونځ نه دی کړی)

(په ذکر سوی واقعه یوځو اشکالونه او دهغه جوابونه)

دلته یوسوال خو دا پیداکیږی چی عبدالله ابن اُبیّ یوداسی منافق وو چی دده نفاق په مختلفو وختونو کی ښکاره سوی هم وو او دټولو منافقانو سردار منل کیدی نو دده سره دنبی کریم ﷺ دا امتیازی سلوك څنګه وسو چی دده دکفن دپاره یی خپل مبارك قمیص ورکی .

ددی جواب دا دی چی ددی دوه سببه کیدی سی اول دده زوی چی مخلص صحابی وو دهغه په درخواست محض دهغه دزړه دتسلی دپاره داسی وسوه دوهم سبب یوبل هم کیدی سی کم چی دبخاری په حدیث کی په روایت دحضرت جابر ﷺ نقل دی چی دبدر دغزا پرموقع باندی چی کله دقریشو سرداران گرفتار سول نوپه دوی کی دنبی کریم ﷺ اکا حضرت عباس ﷺ هم وو حضور ﷺ ولیدل چی دده په بدن قمیص نسته نواصحابو ﷺ ته یی ارشاد وفرمایی چی ده ته قمیص واغوندی حضرت عباس ﷺ ډیر جګ وو دعبدالله بن اُبیّ څخه ماسوا دبل چاقمیص نه باندی پوره سمیدی نونبی کریم ﷺ دعبدالله ابن اُبیّ قمیص ورواغوستی ددی احسان دبدلی پوره کولو دپاره نبی کریم ﷺ خپل قمیص ده ته ورکی (قرطبی)

دوهم سوال: دلته دا دی چی فاروق اعظم ﷺ چی کوم عرض نبی کریم ﷺ ته وکی چی الله ﷻ تاسی دمنافق دجنازی څخه منع کړی یاست دایی پرځه بنا باندی وویل ځکه چی ددی څخه مخکی په یوایت کی هم په وضاحت سره دی دمنافق دجنازی دلمانځه څخه نه دی منع سوی ددی څخه ښکاره داده چی حضرت عمر بن خطاب ﷺ دمنع مضمون ددی سورة توبه ددی تیر آیت: اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ الایة څخه ګڼلی دی نواوس سوال داپیدا کیږی چی که داایت دجنازی دلمانځه پرممانعت دلالت کوی نونبی کریم ﷺ ددی څخه ممانعت ولی ونه ګڼی بلکه دا یی وفرمایل چی په دی آیت کی ماته اختیار راکول سوی دی .

جواب: دا دی چی په حقیقت کی دایت دالفاظو ظاهری مطلب اختیار ورکول دی او دا هم ښکاره ده چی داویا واری ۷۰ ذکرهم دلته دحد دپاره نه دی بلکه دډیروالی بیانولو دپاره دی نوددی آیت معنی دظاهری مطلب په اعتبار سره داسوه چی دمنافق مغفرت خونه سی کیدی برابره خبره که ته هرځو واری استغفار وکړی لیکن په دی کی یی په وضاحت سره دی داستغفار کولو څخه منع کړی هم نه دی اودقرآن کریم یوبل آیت دسورة یس ددی په مثل دی چی په هغه کی یی فرمایلی دی: وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ لکه چی دی آیت دی دبیرولو اوتبلیغ څخه نه دی منع کړی بلکه په نورو آیتونوسره دتبلیغ او د عوت سلسله ددوی دپاره هم جاری ساتل ثابت دی ، بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ او اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ وغیره لنډه داچی په آیت : ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ سره خودوی ته اختیار ورکول ثابت سوی وه بیا په مستقل دلیل

Maktaba Tul Ishaat.com

سره بیرول جاری ساتل ثابت سوه نبی کریم ﷺ دذکرسوی آیت څخه داهم ګڼلی وه چی دده مغفرت نه سی کیدی مګر دیوبل آیت په ذریعه یی دی تراوسه لا داستغفار څخه منع کړی هم نه وو .

اونبی کریم ﷺ خوپوهیدی چی زماپه قمیص سره یاپه لمانځه کولو سره دده مغفرت خونه سی کیدی مګر په دی سره دنورو اسلامی مصلحتونو حاصلیدو امید وو چی دده دخاندان خلګ اونور کفار کله چی دنبی کریم ﷺ دامعامله دده سره ووینی نودوی به اسلام ته نژدی راسی اومسلمانان به سی اوواضح ممانعت دلمانځه کولو تردغه وخته پوری موجود نه وو په دی وجه دوی لمونځ وکی .

ددی جواب شاید چی یوه خو هغه جمله ده کومه چی په صحیح بخاری کی دحضرت ابن عباس ؓ دروایت څخه نقل ده چی که ماته دامعلومه وای چی داویا ۷۰ وارو څخه په زیاته دمغفرت په دعا کولو سره به دده مغفرت وسی نومابه داهم کړی وای (قرطبی)

دوهم شاید هغه حدیث دی په کوم کی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی زما قمیص دی دالله ﷻ دعذاب څخه نسی بچ کولی مګر ما داکار په دی وجه وکی چی زما امید دی چی په دی عمل سره به دده دقوم په زرګونو سړی مسلمانان سی چنانچی په مغازی اودتفسیر په نورو کتابونوکی دی چی داواقعه یی ولیده نودخزرج قبیلی زر تنه سړی مسلمانان سول .

لنډه دا ده چی دتیرایت څخه په خپله نبی کریم ﷺ ته دایقین خوسوی وو چی زمونږ په یو عمل سره ددی منافق مغفرت نه سی کیدی مګر په ظاهری الفاظو دایت کی اختیار ورکړل سوی وو اوپه بل ایت کی ددی ممانعت لاتراوسه نه وو راغلی بل طرف ته دیو کافر داحسان څخه په دنیاکی دنجات حاصلولو فائده هم وه اوپه دی معامله کی دنورو کافرانو دمسلمانیدو امید هم هم وو په دی وجه دوی لمونځ کولو ته ترجیح ورکړه .

اوفاروق اعظم ؓ داوګڼله چی کله ددی ایت څخه داثابته سوه چی مغفرت نه سی کیدی نودده جنازه کول اودمغفرت دعا کول یوعبث اوبی فائدی کاردی کم چی دنبوت دشان څخه خلاف دی ددی څخه فاروق اعظم ؓ په منع سره تعبیر وفرمایی او نبی کریم ﷺ که څه هم داکار فی نفسه فائده مندنه ګڼی مګر دنورو داسلام راوړو فائده یی دنظر په وړاندی وه په دی وجه عبث کارنه سو دغه ډول نه دنبی کریم ﷺ په عمل باندی څه اشکال پاته سو نه دفاروق اعظم ؓ په قول (بیان القران)

البته کله چی په وضاحت سره دایت نازل سو: لاَ تُصَلِّ ، نو معلومه سوه چی که څه هم په لمانځه کولوکی یو دینی مصلحت د دوی په مخکی وو مګر په دی کی یوه خرابی اوفساد هم وو دکوم طرف ته چی دنبی کریم ﷺ خیال نه وو تللی هغه داچی په دی سره دمخلصو مسلمانانو په زړونوکی دیوی بی دلی پیداکیدو خطره وه چی د دوی په نزد خومخلص مسلمان اومنافق تول په یوه پله کی تلل کیږی ددی خطری په مخکی په قرآن کریم کی دا ممانعت نازل سو اوبیا هیڅکله هم دوی دیو منافق دجنازی لمونځ نه دی کړی .

مسئله: ددی آیت څخه معلومه سوه چی دیوکافر دجنازی لمونځ اوددہ دپاره دمغفرت دعاکول جائزنه دی

مسئله: ددی آیت څخه داهم ثابته سوه چی دیوکافر دعزت اواکرام دپاره دده پرقبر دریدل یاددہ دزیارت دپاره تلل حرام دی دعبرت حاصلولو دپاره وی یا دځه مجبوری په وجه نوهغه ددی منافی نه دی لکه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

په هدایه کی دی چی که دچا مسلمان کافر قریب مړسی اوده څوك ولی وارث نه وی نومسلمان قریب دی دغسی بغیر دمسنون طریقی درعایت ساتلو څخه په غار کی ښخولی سی (بیان القرآن)

وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ ۖ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا

اوتعجب مه کوه ددوی په مالونو اواولادسره الله ﷻ داغواړی چی عذاب ورکړی دوی ته په دی شیانو سره په دنیاکی

وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ

اووزی د دوی روح اودوی تردغه وخته پوری کافر وی اوکله چی نازل سی یوسورة چی ،

آمِنُوا بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ اسْتَأْذَنَكَ أُولُو الطَّوْلِ

ایمان راوړی په الله اوجنګ کوی دده درسول په ملګرتیاکی نوستاڅخه اجازه غواړی خاوندان دطاقت ددوی څخه

مِنْهُمْ وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُنْ مَعَ الْقَاعِدِينَ ﴿٨٦﴾ رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا

اووایی چی مونږ پریږده چی پاته سو سره دکښینستونکو خوشحالیږی چی پاته سی

مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٨٧﴾

سره دپاته کیدونکو ښځو او مهر وهل سوی دی پرزړونو د دوی ، نو دوی نه پوهیږی

لَٰكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ

لیکن رسول اوکومو خلګو چی ایمان راوړی دی دده سره دوی جنګ کوی په خپلومالونو سره

وَأَنْفُسِهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٨٨﴾

اوخانونو سره او ددوی دپاره دی ګټی اودغه دی مرادته رسیدونکی ،

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ

تیارکړی دی الله ﷻ د دوی دپاره باغونه چی بهیږی به لاندی ددی څخه نهرونه اوسی به همیشه

فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٨٩﴾

په دی کی دا ده لویه کامیابی ده

لنډتفسیر: او د دوی مالونه اواولاددی تاپه (دی) تعجب کی نه اچوی (چی دداسی غضب سوو سره دومره نعمتونه ولی دی پس داپه واقع کی د دوی دپاره نعمتونه نه دی بلکه اسباب دعذاب دی ځکه چی الله ﷻ ته صرف دامنظوره ده چی ددی (ذکرسوو) شیانو په وجه سره په دنیا کی (هم) دوی په عذاب کی گرفتار وساتی اوددوی ساه په حالت دکفر کی ووزی (چی په دی سره به په آخرت کی هم په عذاب کی اخته وی) اوکله چی دقرآن یوه ټکړه په دی مضمون سره نازله سی چی تاسی (دزړه په خلوص سره) په الله ایمان راوړی اوددی درسول سره ملگری سی جهاد کوی نوپه دوی کی دطاقت خاوندان ستاڅخه رخصت غواړی او (رخصت په دی مضمون سره غواړی چی) مونږ ته اجازه راکړی چی مونږ هم دلته دپاته کیدونکو سره پاته سو (البته دایمان اواخلاص په دعوی کی څه کول نه غواړی اودی ته وایی چی مونږ مخلصان یو) دغه خلگ (دډیری بی غیرتی څخه) دکور دکښینستونکو ښځو سره په پاته کیدو راضی سول اوددوی پر زړونو مهر ولگیدی چی په دی سره دوی (غیرت اوبی غیرتی) نه پیژنی البته لیکن رسول ﷺ اوددی په ملگرتیا کی چی کم مسلمانان دی دوی (البته داحکم منی او) په خپلو مالونو سره اوپه خپلو ځانونو سره جهاد کوی او د دوی دپاره ټولی ګټی دی او داخلق کامیاب دی (اودغه ګټه اوکامیابی داده چی) الله ﷻ ددوی دپاره داسی باغونه تیارکړی دی چی لاندی به یی نهرونه جاری وی (او) دوی به همیشه په دغه کی اوسی اودا لویه کامیابی ده.

معلومات اومسئلي: په ذکرسوو آیتونوکی هم ددغو منافقانوحال بیان سوی دی کوم چی دتبوك دغزا څخه دحیلو اوبهانو په کولو سره پاته سوی وه په دی منافقانو کی ځینی مالداره اوخوشحاله خلگ هم وه د دوی په حال سره به مسلمانانوته داخیال راتلی چی کله داخلگ دالله ﷻ په نزد نامقبول اومردود دی نو دوی ته په دنیا کی داسی نعمتونه ولی ورکړل سوی دی ؟

ددی په جواب کی په اول آیت کی فرمایی چی که فکر وکړی نو د دوی مالونه او اولاد د دوی دپاره رحمت اونعمت نه دی بلکه په دنیا کی خوهم عذاب دی اوداخرت عذاب ددی څخه علاوه دی په دنیا کی عذاب داسی دی چی دمال محبت او حقارت اوبیا ددی دزیاتولو فکر داسی ددوی سره وی چی په هیڅ وخت اوهیڅ حال کی دوی ته ارام نه ورکوی دراحت اوارام ساز او اسباب که ددوی سره هرځومره وی مگر دوی لره راحت نه ورکوی کم چی دزړه دسکون او اطمینان نوم دی ددی څخه علاوه ددنیا مال او اسباب چونکی دوی داخرت څخه غافله کوی اودکفر اوګناهونو سبب جوړیږی په دی وجه دعذاب سبب کیدو په وجه سره یی هم دی ته عذاب وویل په دی وجه دقرآن په الفاظو کی یي: لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا وفرمایل چی الله ﷻ ددی مالونوپه ذریعه دوی ته سزاورکول غواړی د: أُولُوا الطَّوْلِ لفظ دتخصیص دپاره نه دی بلکه ددی څخه دغیر طاقت لرونکو خلگو حال په درجه اولی سره معلوم سو چی ددوی سره خویو ظاهری عذر هم وو.

وَ جَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَ قَعَدَ الَّذِيْنَ

اوراغلل بهانی کوونکی دکلیو خلگ چی دوی ته رخصت ورکول سی اوکښی نسټل کومو چی درواغ ویلی وه

كَذَّبُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

دالله سره او دهغه درسول سره اوس به ورسیږی هغوته چی کافران دی په دوی کی عذاب دردناك .

لغوتفسیر: اوخه بهانه جوړونکی خلګ دکلی والاووخخه راغلل چی دوی ته (په کورونو کی دپاته کیدو) اجازه ورکول سی او (په دی کلیوالوکی) کومو چی دخدای اودهغه درسول سره (په دعوی دایمان کی) بالکل دروغ ویلی وه هغوی خامخا ناست پاته سول (په دروغو عذر جوړولوته هم را نه غلل) په دوی کی چی کوم (تراخره پوری) کافر پاته سی دوی لره (په اخرت کی) به دردناك عذاب وی (اوکوم چی توبه وکاږی هغوی به خلاص پاته سی دعذاب څخه)

معلومات اومسئلي: ددی تفصیل څخه معلومه سوه چی په دی کلیوالو کی دوه قسمه خلګ وه یوهغه چی دحیلو اوبهانو پیش کولو دپاره دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسول چی دوی ته په جهادکی دتلو څخه رخصت ورکړی اوخه داسی سرکښه هم وه چاچی ددی هم پرواه ونه کړه چی رخصت واخلی دوی دخانه په کورونو کی ناست پاته سول .

حضرت جابر بن عبدالله فرمایی چی کله نبی کریم ﷺ جدبن قیس ته جهاد ته دنه تلو اجازه ورکړه نویوځو منافقان هم په خدمت کی حاضر سول اوخه حیلی اوبهانی یی پیش کړی جهاد ته دنه تللو اجازه یی وغوښتله دوی ورته اجازه خو ورکړه مګر دایی وګڼله چی دوی په دروغو عذرکوی په دی وجه ددوی څخه یی مخ واړوی په دی باندی داایت نازل سو اووی ښوولە چې ددوی عذر دقبلیدو نه دی په دی وجه یی دوی ته ددردناك عذاب خبر واوریدی البته ددی سره یی: اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ وفرمایل اواشاره یی وکړه چی په دوی کی دځینو عذر دکفر اونفاق په وجه سره نه وو بلکه دطبعی سستی په وجه سره وو هغوی ددی کافرانو په عذاب کی شامل نه دی .

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ مَا يُنْفِقُوْنَ

نسته په ضعیفانو او نه په مریضانو اونه په هغو خلګو دکومو سره چی نسته څه چی خرڅ کړی

حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ

هیڅ ګناه کله چی زړونه یی صفاوی دالله او دهغه درسول سره نسته په نیکی کوونکو باندی

سَبِيْلٍ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۹۱ وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَاۤ اَتَوْكَ

دالزام څه لار او الله ﷻ بخښنی والا مهربانه دی ، او نه په هغو خلګو کله چی تاته راسی

لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَاۤ اَجِدُ مَاۤ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ۖ تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ

چی ته سپرلی ورلره ورکړی تا وویل چی زما سره هیڅ نسته چی تاسی باندی سپاره کړم نو واپس سول او ددوی

Maktaba Tul Ishaat.com

تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا مَا يُنْفِقُوْنَ ﴿۹۲﴾ اِنَّمَا

دسترگو څخه اوښکی بهیدی په دی غم کی چی نه یی کی پیدا هغه شی چی خرڅ یی کړی لار د الزام په

السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ وَهُمْ اَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوْا بِاَنْ

هغو ده کوم چی رخصت غواړی ستا څخه اودوی مالداردی خوشحالیږی په دی خبره

يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ ۙ وَطَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۳﴾

چی پاته سی سره د وروستو پاته کیدونکو اومهر وهلی دی الله ﷻ په زړونو ددوی باندی نو دوی نه پوهیږی

لنډتفسیر: په کوم طاقتو خلګو باندی څه ګناه نسته اونه په ناجوړیو اونه په هغوخلګو دکومو سره چی (دجهاد داسباب تیارولو دپاره) دخرڅ کولو څه نه وه کله چی داخلګ دالله او درسول سره (اوپه احکاموکی) خلوص ساتی (اوپه زړه سره حکم منی اوفرمانبرداری کوی نو) پردغو نیکو کارو باندی څه قسم الزام نسته (ولی چی: لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا) اوالله ﷻ لوی مغفرت والا لوی رحمت والا دی (چی که داخلګ په خپل علم کی معذور وی اودخپل طرف څخه دخلوص اوفرمانبرداری کوشش کوی اوپه واقع کی څه کمی پاته سی نومعاف به یی کړی) اونه پرهغو خلګو (څه ګناه اوالزام دی) چی څه وخت دوی تاته ددی دپاره راځی چی ته دوی لره څه سپرلی ورکړی اوته (دوی ته) ووایی چی زما سره خو هیڅ شی داسی نسته چی تاسی باندی سپاره کړم نودوی په دی حال (ناکامه) بیرته ځی چی دسترګو څخه یی اوښکی روانی وی په دی غم کی چی (افسوس) ددوی سره (دجهاد داسباب تیارولو دپاره) دخرڅ کولو څه نسته (نه ورسره په خپله څه سته اونه ورته دبل طرف څخه څه ورکول سوه غرض داچی داذکر سوی معذوران نه دی نیول سوی) بس الزام (اومواخذه) خوپرهغو خلګو دی کوم چی سره داسباب (دقوته) نه (پرکور دپاته کیدو) اجازه غواړی دغه خلګ (دډیری بی غیرتی څخه) دکور دناستو ښځو سره په پاته کیدو راضی سول اوالله ﷻ د دوی په زړونو مهر وهلی دی.

معلومات اومسئلې: په تیروآیتونوکی دهغو خلګو دحالاتو بیان وو کوم چی په حقیقت کی دجهاد دشرکت څخه معذوره نه وه مګر دسستی په سبب یی عذرونه ګول اوکښی نستل یاداسی منافقان کومو چی دخپل کفر اونفاق په وجه حیلی بهانی وکړی دنبی کریم ﷺ څخه یی اجازه اخستی وه اوځه هغه سرکښان هم وه کومو چی دعذر کولو او اجازه غوښتلو ضرورت نه وو ګڼلی او هم دغسی ناست پاته سول د دوی دعذر نستوالی او په دوی کی چی کومو کفر او نفاق کړی وو د دوی دپاره د دردناك عذاب کیدل په تیرو ایتونو کی بیان سوی دی.

په دی ذکرسوو ایتونوکی دهغو مخلصو مسلمانانو ذکردی کوم چی په حقیقت کی دمعذوری په سبب دجهاد دشرکت څخه بی وسه وه په دوی کی څه خومخکی ناجوړی او معذوره وه چی د دوی عذر خو ښکاره وو اوځه هغه خلګ هم وه کوم چی په جهادکی دشرکت دپاره تیاروه بلکه په جهادکی دتلو دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

بی فرار وه مگر دغوی سره د سفر دپاره د سپرلی خلورو نه وو سفر اوږد اومرسه دګرمی دو دوی د جهاد دپاره دخپلی خپلی اودسپرلی دنه پیدا کیدو دمجبوری ذکر وکی سی کریم ﷺ نه بی درخواست وکی چی زمونږ دپاره د سپرلی څه انتظام وسی

وضیر او تاریخ په کتابونو کی ددی قسم دیر بی شمیره واقعات لیکل سوی دی دغسی معامله خو داسی وسوه چی په شروع کی نبی کریم ﷺ دوی نه عذر وکی چی زما سره د سپرلی هیڅ انتظام نشته مګر داخلک به زړا زړا بیرته راغلل اوپه صبح بی زړل نواللہ ﷻ د دوی دپاره داسی انتظام وکی چی نبی اوسنی کریم ﷺ نه دغه وخت راغلل . نو نبی کریم ﷺ دغه دوی نه ورکړل په دوی کی د درو کسانو د سپرلی انتظام حضرت عثمان غنی ﷺ وکی حال دا وو . چی هغه ددی څخه مخکی د ډیرو ریاښو جګړو انتظام هم په خپل خرڅ سره کړی وو

لوښی داسی خلک هم پاته سول چی دغوی د سپرلی انتظام نراخوا پوری هم ونه سو او هغوی دمجبوری څخه پاته سول په ذکر سوو اینو نوکی دی نولو حضراتو ذکر راعلی وی دګومو عذر چی اللہ ﷻ نبی وفرمایی په اخرکی بی بیا په دی خبره باندی خبردارې وفرمایی چی وبال خو صرف په هغو خلکو باندی دی ګومو چی دطاقت لو طاقت سره د جهاد څخه پاته کیدل دښکو په شان خوښ کړل د . پاک خښل هر لاین نشلوالله ولهم لنبیاء . هم دا مطلب دی

لسمه پاره ختمه سوه

.....

تفسیر معارف القرآن د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دغا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کې

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۱۱)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي رود حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	صفحہ
يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ، الخ ۹۴ تر ۹۲	۴
الْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا ، الخ ۹۷ تر ۹۹	۲
وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ ، الخ ۱۰۰	۸
اصحاب کرام ﷺ تول جنتیان دی	۹
وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ ، الخ ۱۰۱	۱۰
وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا ، الخ ۱۰۲ تر ۱۰۲	۱۰
نیک او بد اریک شریک عملونه	۱۳
وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا ، الخ ۱۰۷ تر ۱۱۰	۱۲
إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ ، الخ ۱۱۱ تر ۱۱۲	۲۲
مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ ، الخ ۱۱۳ تر ۱۱۴	۲۵
إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ ، الخ ۱۱۶	۲۸
لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ ، الخ ۱۱۷ تر ۱۱۹	۲۸
د کعب بن مالک ﷺ په حدیث پوری متعلق فائدی	۳۷
مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ ، الخ ۱۲۰ تر ۱۲۱	۳۹
وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ ، الخ ۱۲۲	۴۰
دعلم دین طلب کولو فرضوالی او اداب او فرائض دعلم دین فضیلتونه	۴۱
دفرض عین او فرض کفایه علم دین تفصیل	۴۲
علم تصور هم په فرض عین کی دا خل دی	۴۳
دعلم دین نصاب	۴۴
دعلم دین حاصلولو څخه وروسته دعالم فرائض	۴۴
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ ، الخ ۱۲۳ تر ۱۲۷	۴۵
لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ ، الخ ۱۲۸ تر ۱۲۹	۴۸
﴿سورة يونس﴾	۴۹
الر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ ، الخ ۱ تر ۴	۴۹
هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ ، الخ ۵ تر ۶	۵۵
إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا ، الخ ۷ تر ۱۰	۵۸
وَلَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ ، الخ ۱۱ تر ۱۷	۶۲
وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ ، الخ ۱۸ تر ۲۰	۶۸
وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِنْ بَعْدِ ضَرَّاءَ ، الخ ۲۱ تر ۲۴	۷۰

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاللّٰهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ وَيَهْدِي ، الخ ۲۵ تر ۳۲	۷۳
كَذَلِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ فَسَقُوا أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ، الخ ۳۳ تر ۴۰	۷۸
وَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ لِي عَمَلِي ، الخ ۴۱ تر ۵۲	۸۱
يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ ، الخ ۵۷ تر ۷۱	۸۵
أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ، الخ ۷۲ تر ۷۴	۹۰
وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيعًا هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ، الخ ۷۵ تر ۹۱	۹۵
فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً ، الخ ۹۲ تر ۹۸	۱۰۲
وحضرت یونس علیہ السلام مفصله واقعه	۱۱۵
وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ ، الخ ۹۹ تر ۱۰۰	۱۱۷
قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ ، الخ ۱۰۱ تر ۱۰۳	۱۱۷
قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي شَكٍّ مِنْ دِينِي ، الخ ۱۰۴ تر ۱۰۷	۱۱۸
قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ ، الخ ۱۰۸ تر ۱۰۹	۱۱۹
﴿سورة هود﴾	۱۲۰
الٓرٰ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ، الخ ۱ تر ۵	۱۲۰
معلومات اومسئلی	۱۲۲

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

.....

Maktaba Tul Ishaat.com

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ؕ قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا

بهانی به جوړ وی تاسی ته کله چی تاسی بیرته راسی د دوی طرف ته ، ته ووایه چی بهانی مه جوړ وی ،

لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ ؕ وَسَيَرَى اللّٰهُ

مونږ هیڅکله نه منو ستاسی خبره مونږ ته ښوولی ده الله ﷻ ستاسی حالات او اوس به وګوری الله

عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ

ستاسی کار او دهغه رسول بیابه تاسی بیرته راسی طرف ته ددغه پوهیدونکی په پټو اوپه ښکاره وو

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۴﴾ سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا

نو وبه ښیی تاسی ته څه چی تاسی کول ، اوس به قسمونه اخلی په الله ستاسی په مخکی کله

انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ اِنَّهُمْ

چی تاسی بیرته راسی د دوی طرف ته چی تاسی ورته څه ونه وایاست ، نو تاسی دوی ته څه مه وایاست بیشکه

رِجْسٌ وَّمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۵﴾ يَحْلِفُوْنَ

دوی پلیت دی اود دوی ځای دوزخ ، دی بدله د دوی دکارونو دغه خلګ به قسمونه اخلی

لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَاِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۹۶﴾

ستاسی په مخکی چی تاسی ورڅخه راضی سی نو که تاسی راضی سواست د دوی څخه نو الله نه راضی کیږی دنافرمانو خلګو څخه .

لنډتفسیر: داخلګ به ستاسی (ټولو) په مخکی عذر پیش کوی کله چی تاسی دوی ته بیرته راسی (پس ای محمد ﷺ) ته (د ټولو دطرف څخه صفا) ووایه چی (بس پریږدی) دا عذر مه پیش کوی مونږ به هیڅکله هم تاسی ریښتینی ونه ګڼو (ځکه چی) الله ﷻ مونږ ته ستاسی (دواقعی حالاتو) خبر راکړی دی (چی تاسی ته هیڅ صحیح عذرنه وو) او (خیر) اننده به هم الله ﷻ او دهغه رسول ستاسی کار ګزاری ګوری (نومعلومه به سی چی ستاسی په خیال تاسی څومره فرمانبردار اومخلصان یاست) بیا به دداسی ذات طرف ته ورسی کوم چی په پټو اوپه ښکاروو ټولو پوه دی (چی دهغه څخه ستاسی هیڅ عقیده اوعمل پټ نه دی) بیابه هغه تاسی ته وښیی څه چی تاسی کول (اوبدله به یی درکړی) البته اوس به دوی ستاسی په مخکی په الله ﷻ قسمونه اخلی (چی مونږ معذور وو) کله چی تاسی دوی ته ورسی ددی دپاره چی تاسی دوی په خپل حالت پریږدی (اوملامتیا وغیره ورته ونه کړی) نو تاسی (د دوی مطلب پوره کړی او) دوی د دوی په

Maktaba Tul Ishaat.com

حالت پریږدی (په دی فانی غرض حاصلیدو سره به ددوی هیڅ ګټه ونه سی ځکه چی) دغه خلګ بالکل ګنده دی او (په اخر کی) ددوی ځای دوږخ دی دهغه کارونو په بدله کی کوم چی دوی (نفاق اوخلاف وغیره) کول (دارنګه دا وجه هم ده چی دوی په خپل حال پریښوول سی ځکه چی په دوی غرض درلودل داصلاح دپاره دی اوددوی دخبائث څخه داصلاح امید نسته اودارنګه) دوی به په دی وجه قسمونه اخلی چی تاسی د دوی څخه راضی سی نو (اول خوته دخدای ددښمنانو څخه راضی ولی سی لیکن بالفرض) که چیری ته ددوی څخه راضی هم سی نو (دوی ته ددی څه فائده ده ؟ ځکه چی) الله ﷻ خو دداسی شریرو خلګو څخه نه راضی کیږی (او بغیر درضا دخالق څخه دمخلوق رضا هسی بی سوده او بی فائدی ده)

معلومات اومسئلي: په اولنیو ایتونوکی دهغو منافقانو ذکرو کومو چی دتبوك په غزا کی دوتلو څخه مخکی په دروغو حیلی اوبهانی وکړی اوجهادته دتلو څخه عذر یی کړی وو په دی ذکرسوو ایتونوکی دهغو ذکر دی ، کوم چی دجهاد دواپسی څخه وروسته دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسوه اوجهاد ته دنه تلو ددروغو عذر یی پیش کی دا ایتونه مدینی منوری ته دبیرته رارسیدو څخه مخکی نازل سوی وه چی په دی کی ددی راتلونکی پیښیدونکی واقعی خبرو چی کله تاسی مدینی طیبی ته بیرته ورسی نو منافقان به دعذر کولو دپاره تاسی ته راسی نوچنانچی هم دغه ډول واقعه وسوه .

په ذکرسوو آیتونوکی ددی متعلق نبی کریم ﷺ ته دری حکمونه ورکول سوه اول داچی کله داعذر کوونکی راسی نوته ورته ووایه چی عبث ددروغو عذرونه مه کوی مونږ ستاسی خبره نه رښتیا کوو ځکه چی الله ﷻ مونږ دوحی په ذریعه ستاسی دټولو حالاتو اوخیالاتو اوستاسی دشرارتونو څخه اوپه زړونو کی دټولو پټو ارادو څخه خبر کړی یو چی په دی سره ستاسی درواغجن کیدل مونږته ښکاره سوه په دی وجه عذر بیانول فضول دی ددی څخه وروسته فرمایی ، وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ په دی کی دوی ته مهلت ورکول سو چی که اوس هم توبه وکاږی نفاق پریږدی اورښتینی مسلمانان سی ځکه چی په دی کی دافرمایی چی اټنده الله ﷻ او دهغه رسول ستاسی عمل ګوری چی څنګه اوڅه عمل کوی؟ دهغه مطابق به درسره عمل کول کیږی که تاسی توبه وکاږی اورښتنی مسلمانان سواست نوستاسی ګناهونه به معاف سی کنه نودادروغو حیلی بهانی به تاسی ته هیڅ فائده درنه کړی .

دوهم حکم په دوهم آیت کی بیان سوی دی چی داخلګ به ستا دبیرته راتلو څخه وروسته په دروغو قسمونه اخلی تابه مطمئن کوی اومقصد به ددی څخه داوی چی: لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ یعنی چی ته ددوی دادجهاد څخه غیر حاضری نظر انداز کړی په دی یی ملامت نه کړی نوپه دی باندی دا ارشاد وسو چی ته ددوی داخواهش پوره کړه: فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ یعنی ته دوی ته څه مه وایه مه یی ملامتوه اومه ورسره سم سلوك کوه ځکه چی دملامتولو څخه یی څه فائده نسته کله چی ددوی په زړه کی ایمان نسته اوطلب یی هم نه کوی نو په ملامتولو به څه وسی فضول خپل وخت خرابول نه دی په کار .

دریم حکم په دریم آیت کی دادی چی داخلګ قسمونه اخلی اوستا اودمسلمانانو راضی کول غواړی ددی متعلق الله ﷻ دانبوونه وکړه چی ددوی داخواهش مه پوره کوی تاسی مه ورڅخه راضی کیږی او دا یی هم وفرمایل چی که بالفرض تاسی ورڅخه راضی هم سی نو دوی ته یی فائده څکه نه رسیږی چی الله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

ددوی څخه راضی نه دی او الله ﷻ به څنګه ځینی راضی سی چی دوی په خپل کفر او منافقت باندی قائم وی

اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا وَّاَجْدَرُ اَلَّا يَعْلَمُوْا حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

کلیوال ډیر سخت دی په کفر کی او په نفاق کی او ددی لائق دی چی زده نه کړی هغه قاعدی کومی چی نازلی کړی دی الله

عَلٰى رَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۹۷﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا وَّيَتَرَبَّصُ

په خپل رسول باندی او الله په هرڅه پوه حکمت والا دی ، او ځینی کلیوال داسی دی چی شمیری خپل خرڅ کول تاوان او انتظار کوی ،

بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۹۸﴾

په تاسی دزمانی دګردشونو په دوی دی راسی ګردش بد او الله ﷻ اوریدونکی پوهیدونکی دی ،

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا

او ځینی کلیوال هغه دی چی ایمان راوړی په الله ﷻ او په ورځ دقیامت او شمیری خپل خرڅ

يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ؕ اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ؕ

کول نژدی کیدل الله ﷻ ته او دعا اخستل درسول واوره دغه د دوی په حق کی نژدیکت دی ،

سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۹﴾

داخل به کړی دوی الله په خپل رحمت کی بیشکه الله بخښنی والا مهربانه دی .

لنډتفسیر: (په دی منافقانو کی چی کوم) کلیوال (دی دغه) خلګ (په وجه د سختوالی دمزاج) په کفر اونفاق کی ډیر سخت دی او (په وجه دلیری والی دعالمانو اوهوښیارانو) دوی لره داسی کیدل په کاردی چی دوی ته دهغه احکامو علم وی کوم چی الله ﷻ په خپل رسول ﷺ نازل کړی دی (ځکه چی کله دپوهیدونکو څخه لیری لیری اوسی نوددوی جاهلان پاته کیدل خوددی لازمی نتیجه ده اوپه دی وجه سره په مزاج کی سختی اوپه دی تولو خبرو سره په کفر اونفاق کی سختی وی) اوالله ﷻ لوی علم والا لوی حکمت والا دی (هغه په دی تولوکارونو خبردی اوپه حکمت سره به مناسبه سزا ورکړی) اوپه دی (ذکر سوو منافقانو) کلی والاوو کی ځینی ځینی داسی دی چی (دکفر نفاق اوجهل څخه علاوه دبخل اودښمنی صفت هم په کښی دی تردی پوری چی) هرڅه چی (دجهاد زکوٰة وغیره په موقعو کی دمسلمانانو دشرم څخه) خرڅ کوی دا (په مثل د) جرمانه ګڼی (داخو بخل سو) او (دښمنی داده چی) تاسی دمسلمانانو دپاره د (زمانی د) ګردشونو منتظر اوسی (چی کله به پردوی یوه حادثه راسی اوددوی خاتمه وسی پس)

Maktaba Tul Ishaat.com

بد وخت پردوی (منافقانو) راتلونکی دی (چنانچی فتحی ډیری وسوی کفار ذلیله سول اوددوی ټول حسرتونه په زړه کی پاته سول اوټول عمریی په غم اورنج کی تیرسو) اوالله ﷻ (د دوی دکفر اونفاق خبری) اوری (او د دوی دزړه خیالونه چی گردش اوتاوان دی) پیژنی (نو ددی ټولوسزابه ورکړی) اوځینی دکلی والاووځخه داسی هم دی کوم چی په الله ﷻ اوپه ورځ دقیامت (پوره پوره) ایمان لری اوځه چی (په نیکوکارونوکی) خرڅ کوی دغه دالله ﷻ په نزد دنژدیکت حاصلولو ذریعه اودرسول ﷺ ددعا (اخیستو) ذریعه جوړوی (ځکه چی ددوی عادت شریف وو چی په داسی موقعو خرڅ کوونکوته به یی دعاگانی کولی لکه چی په احادیثو کی دی) یادساتی چی ددوی داخرڅ کول بیشکه ددی خلقودپاره سبب دنژدیکت (دالله ﷻ) دی (اودعاوالی خویی دوی په خپله اوری نو ددی دخبر ورکولو ضرورت نه وو اودغه نژدیکت دادی چی خامخابه دوی الله ﷻ په خپل خاص) رحمت کی داخل کړی (ځکه چی) الله ﷻ لویی بخښنی والا رحمت والادی (پس ددوی خطاگانی به معاف کړی په خپل رحمت کی به یی واخلی)

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونوکی دمدینی دمنافقانو ذکروو په دی آیتونوکی دهغو منافقانو ذکر دی کوم چی دمدینی په اطرافو اوکلیو کی اوسیدل اَعْرَابْ: دالفظ دعَرَبْ جمع نه ده بلکه اسم جمع دی کوم چی دکلیو اوسیدونکوته ویل کیږی ددی مفرد: اَعْرَابِی دی لکه دانْصَارو مفرد چی اَنصاری دی.

ددوی حال یی په ذکرسوی ایت کی داوښووی چی دوی په کفراونفاق کی دښاردخلقوځخه هم زیات دی ددی وجه یی داوښوده چی داخلق دعلم اوعالمانو ځخه دلیری اوسیدو په سبب عام طورپه جهالت اوسخت دلی کی اخته وی سخت زړی وی: اَجْدَرُ اَلاَّ یَعْلَمُوا حُدُودَ مَا اَنْزَلَ اللهُ یعنی ددی خلقو ماحول داسی دی چی دوی دالله ﷻ دنازل سوو حدونوځخه بی خبره دی ځکه چی نه قران د دوی په مخکی راځی او نه ددی دمعانیو مطلبونو او احکامو ځخه دوی خبر وی.

په دویم ایت کی هم ددی کلی والاوو یوحال دابیان سوی دی چی داخلق څه چی په زکوٰة وغیره کی خرڅ کوی داتاوان گنی وجه داده چی په زړه کی خویی ایمان سته نه محضی دخپل کفر پټولو دپاره لمونځ هم کوی اوفرض زکوٰة هم ورکوی مگرپه زړه کی وایی چی دامال عبث ولاړی په دی وجه په دی انتظارکی اوسی چی په څه ډول سره پرمسلمانانوځه مصیبت راسی اودوی شکست وخوری نوددی تاوان ځخه به مونږ خلاص سو: اَلدَّوَآئِر ددائره جمع ده دعربی لغت په اعتبار سره دائره هغه بدل سوی حالت ته وایی کم چی داولنی ښه حالت ځخه وروسته بدسی په دی وجه قرآن کریم د دوی په جواب کی وایی، عَلَیْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ یعنی پردوی بد حالت راتلونکی دی او دوی به ددی کارونو او خبرو په بنا نور زیات ذلیله سی.

دکلی والاوومنافقانودحالاتو ذکرکولو ځخه وروسته دقرآن دطریقی په مطابق دهغه کلی والاوو ذکر کول یی هم مناسب وگڼل کوم چی ربښتنی اوپاخه مسلمانان دی چی دامعلومه سی چی دکلیو اوسیدونکی هم ټول یودول نه دی په دوی کی مخلص مسلمانان اوپوهه خلګ هم وی ددوی حال دادی چی دوی کوم زکوٰة اوصدقی ورکوی دادالله ﷻ دنژدیکت ذریعه گنی اودنبی کریم ﷺ ددعاگانو په امیدیی ورکوی.

صدقی دالله ﷻ دنژدیکت ذریعه خومعلومه اوښکاره خبره ده دنبی کریم ﷺ ددعاگانو امید په دی بنا باندی دی چی نبی کریم ﷺ ته چی کوم ځای دمسلمانانو ځخه دصدقو وصولولو او دزکوٰة دمالونو

Maktaba Tul Ishaat.com

وصولولو حکم سوی دی هلته یی داهدایت هم فرمایلی دی چی دزکوة ادا کوونکو دپاره ته دعا هم کوه لکه چی مخکی په راتلونکی آیت کی ارشاد دی ، خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ : په دی آیت کی نبی کریم ﷺ ته دصدقو دوصولولو سره دا حکم هم ورکړی دی چی د دوی دپاره دعاکوه دا حکم په لفظ د: صلوة سره راغی ، وَصَلِّ عَلَيْهِمْ په دی وجه په ذکر سوی آیت کی یی هم دنبی کریم ﷺ دعاګانی په لفظ دصلوة سره تعبیر کړی دی.

وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ

اوکوم خلق چی مخکی دی دټولو څخه مخکی هجرت کوونکی اومدد کوونکی اوکوم چی د دوی تابعداره سول په نیکی

رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ

سره الله راضی سو د دوی څخه او دوی راضی سول دهغه څخه اوتیارکړی یی دی ددوی دپاره باغونه چی بهیږی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۰۰﴾

به لاندی ترهغه نهرونه ، اوسی به په دی کی همیشه همیشه دا ده لویه کامیابی.

لنډتفسیر: اوکوم مهاجرین او انصار چی (په ایمان راوړلوکی دټول امت څخه) مخکی دی او (په باقی امت کی) څومره خلګ چی په اخلاص سره (په ایمان راوړلو کی) د دوی پیرو کار دی الله ﷻ د دوی ټولو څخه راضی سو (چی ددوی ایمان یی قبول وفرمایی چی دوی ته به باندی جزا ورکول سی) اوهغه ټول دالله ﷻ څخه راضی سول (چی اطاعت یی اختیار کی چی په جزاسره به یی دارضا نوره هم زیاته سی) اوالله ﷻ د دوی دپاره داسی باغونه تیار کړی دی چی لاندی به یی نهرونه جاری وی چی دوی به په کی همیشه همیشه اوسی (او) دا لویه کامیابی ده.

معلومات اومسئلې: ددی څخه په مخکی آیت کی دکلی والاوو مسلمانانو مخلصانو ذکر وو په دی آیت کی دټولو مومنانو مخلصانو ذکردی چی په دی کی ددوی ددرجو دفضیلت هم بیان دی.

اَلسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ : په دی جمله کی اکثرو تفسیر لیکونکو حضراتو: مِنْ دتبعیض دپاره مقرر کړی دی دمهاجرینو اوانصارو صحابه کرامو ﷺ دوی طبقی یی قائمی کړی دی یوه دسابقینو اولینو بله د دوهمی درجی دصحابه کرامو.

بیا په دی کی قولونه مختلف دی ځینی حضراتو په صحابه کرامو ﷺ کی سابقین اولین هغه مقرر کړی دی کوموچی دواړو قبلوته لمونځ کړی دی یعنی کوم چی دقبلی بدلیدو څخه مخکی مسلمانان سوی دی هغوی سابقین اولین دی داقول دسعید بن مسیب ﷺ او قتاده ﷺ دی حضرت عطاء ابن رباح ﷺ فرمایی چی سابقین اولین هغه صحابه دی کوم چی دبدر په غزاکی شریك سوی دی اوشعبی فرمایی چی کوم صحابه په بیعت رضوان کی شریك سوی دی هغوی سابقین اولین دی اودهریو قول مطابق باقی صحابه کرام مهاجرین وی اوکه انصار دسابقینو اولینو څخه وروسته په دوهمه درجه کی دی (مظهری قرطبی) اوپه تفسیر مظهری کی یوقول داهم نقل کړی دی چی حرف: من: په دی آیت کی دتبعیض دپاره دانه

Maktaba Tul Ishaat.com

خستل سی بلکه دبیان په معنی کی وی نومطلب ددی جملی به داسی چی ټول صحابه کرام ﷺ په نسبت دباقی امت سابقین اولین دی او، مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَار ددی بیان دی دبیان القرآن لنډ تفسیر کوم چی لوړ نقل سو په دی کی یی دا تفسیر اختیار کړی دی.

داول تفسیر مطابق دصحابه کرامو دوی طبقی جوړیږی یوه دسابقینو اولینو دوهم کوم چی دقبلی بدلیدو یادبدر دغزایا دبیعت رضوان څخه وروسته مسلمانان سول اوداخری تفسیر مطلب داسو چی صحابه کرام ټول په جمع سابقین اولین دی ځکه چی ددوی ایمان دباقی امت څخه اول اوسابق دی.

وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ: یعنی کومو خلګو چی په عملونو اواخلاقو کی دسابقینو اولینو تابعداری په مکمله طریقه سره وکړه داولی جملی داولنی تفسیر مطابق په دی خلګو کی داولی درجی هغه مهاجرین اوانصار صحابه دی کوم چی دقبلی بدلیدو یادبدر دغزا یا بیعت رضوان څخه وروسته مسلمانان سول په صحابه کرامو کی داخل سول دوهمه درجه ددی څخه وروسته دټولو مسلمانانو څخه کوم چی ترقیامته پوری په ایمان اونیك عمل اوښو خویونوکی دصحابه کرامو پرطریقه وچلیدل اوددوی مکمله تابعداری یی وکړه اوددوهم تفسیر مطابق په: اَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ کی دصحابه کرامو څخه وروسته ټول حضرات داخل دی کومو ته چی په اصطلاح کی تابعی ویل کیږی اوبیا ددی اصطلاحی تابعینو څخه وروسته ترقیامته پوری راتلونکی هغه ټول مسلمانان هم په دی کی شامل دی کوم چی په ایمان اونیك عمل دصحابه کرامو مکمله تابعداری کوی.

(اصحاب کرام ټول په جمع بې داستثناء څخه جنتیان اوالله ﷻ په رضاسره مشرف دی)

دمحمد بن کعب قرظی څخه چاپوښتنه وکړه چی دنبی کریم ﷺ دصحابه کرامو په باره کی تاسی څه فرمایاست؟ دوی وویل چی صحابه کرام ټول په جمع جنتیان دی که څه هم هغه خلګ وی دکومو څخه چی په دنیا کی غلطی اوګناهونه هم سوی وی دی سړی پوښتنه وکړه چی داخبره ته دکوم ځای څخه وایی؟ (ددی دلیل څه دی) دوی وفرمایل چی دقرآن کریم دا ایت ووایه: اَلسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ په دی کی دټولو صحابه کرامو متعلق بی دځه شرط څخه، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ارشاد فرمایلی دی البته دتابعینو په معامله کی د، اِتِّبَاعٍ بِاِحْسَان شرط یی لګولی دی ددی څخه معلومه سوه چی صحابه کرام ﷺ بی دځه قید او شرط څخه ټول په جمع بی داستثناء څخه په رضوان الهی سره سرفرازه دی.

په تفسیر مظهری کی ددی قول دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی زماپه نزد دټولو صحابه کرامو په جنتی کیدو ددی څخه هم زیات واضح دلیل په دی آیت کی دی، لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ اُولٰئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوْا وَكُلًّا وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى په دی آیت کی په پوره صراحت سره دابیان سوی دی چی صحابه کرام اوّلین وی یا اخرین دټولو سره الله ﷻ دحسنٰی یعنی دجنت وعده فرمایلی ده.

اوپه حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی دجهنم اور هغه مسلمان نه سی مسح کولی کومو چی زه لیدلی یم، یا زما لیدونکی یی لیدلی وی (ترمذی عن جابر ﷺ)

خبرداری: کوم خلګ چی دصحابه کرامو په مینځ کی دپورته سوو اختلافونو اوپه دوی کی دپیښو واقعاتو په بنا دځینو صحابه کرامو متعلق داسی تنقیدات کوی دکومو په ویلو سره چی دویونکو په

Maktaba Tul Ishaat.com

زړونو کی د دوی دطرف څخه بدګمانی پیدا کیدی سی دوی خپل ځانونه پریوه خطر ناکه لاره باندی روانوی نعوذ بالله منه.

وَ مِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛ وَ مِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ

اوخینی ستاسی ګیر چاپیره کلیوال منافقان دی اوخینی خلګ مدینی والا

مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۫ لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ۟

اړدی په نفاق باندی ته دوی نه پیژنی مونږ ته دغه معلوم دی دوی ته به مونږ عذاب ورکودوه واری بیابه دوی بیرته راسی لوی عذاب ته.

لنډتفسیر: او څه ستاسی په خوا او شاکی اوخه په مدینه والاوو کی داسی منافقان دی چی دنفاق دکمال درجی ته (داسی) رسیدلی دی (چی) ته (هم) دوی نه پیژنی (چی دا منافقان دی بس) دوی مونږ پیژنو مونږ به دوی ته (دنورو منافقانو په نسبت داخرت څخه مخکی هم) دوه واری سزا ورکړو (یوه دنفاق دوهمه دکمال دنفاق او) بیا (په اخرت کی به هم) دوی دلوی غټ عذاب (یعنی جهنم سره ددائمی اوسیدو) طرف ته ولیږل سی.

معلومات اومسئلي: په تیرو ډیرو ایتونوکی دهغو منافقانو ذکر راغلی دی دکومو نفاق چی ددوی دخبرو اوکارونو څخه ښکاره سوی وو اونبی کریم ﷺ پیژندل چی دامنافقان دی په دی آیت کی دداسی منافقانو ذکردی دکومو نفاق چی دانتهایی کاملوالی په وجه دنبی کریم ﷺ څخه تراوسه پوری پټ وو په دی آیت کی پرداسی سختو منافقانو باندی داخرت څخه مخکی ددوو عذابونو ذکر راغلی دی یوپه دنیاکی چی هروخت دخپل نفاق دپټولو په فکرکی اودظاهریدو په بیره کی اخته اوسی.

اوداسلام اومسلمانانو سره دانتهایی بغض اودښمنی ساتلو باوجود په ښکاره کی ددوی په تعظیم اوعزت اوددوی په تابعداری مجبوره کیدل هم څه کوم عذاب نه دی اودوهم عذاب دقبر اوبرزخ عذاب دی کوم چی به دقیامت اواخرت څخه مخکی دوی ته ورسیږی.

وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ

اوخینی نور چی اقرار وکی دوی په خپلو ګناهونو یوخای یی کی دوی یونیک کار اوبل بد تردی چی الله ﷻ معاف

يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۰۲﴾ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً

کړی دوی بیشکه الله بخښنی والا مهربانه دی ، اخله د دوی دمالونو څخه زکوٰة ،

تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ

چی پاک کړی ته دوی اوبرکتی کړی دوی په دی سره اودعاکوه دوی ته بیشکه ستا دعا د دوی دپاره تسکین دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۳﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ

اواللہ هرڅه اوری پیژنی ، ایا دوی پوهه نه سول چی اللہ پاك په خپله قبلوی توبه

عَنْ عِبَادِهٖ وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۴﴾

دخپلو بندګانو څخه اواخلی زکاتونه اوداچی اللہ توبه قبلوونکی مهربانه دی ،

وَقُلِ اعْمَلُوْا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ وَ

او ووایه چی عمل کوی بیابه مخکی وګوری اللہ ستاسی کارلره اورسول دهغه اومسلمانان

سَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

تاسی به ډیرژر واپس سی هغه ته چی په ټولو پټو اوښکاره شیانو خبردی بیابه هغه خبرکړی تاسی په هغو چی تاسی کول

وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾

اوځینی هغه خلګ دی چی دهغوی کار لا وروسته سوی دی حکم دالله ﷻ ته یابه ورته هغه عذاب ورکړی او یابه دوی معاف کړی اواللہ ﷻ په هرڅه پوه حکمت والا دی .

لنډتفسیر: اوځینی خلګ دی چی دخپلی ګناه اقراریی وکی کوموچی ګډوډ شریك عملونه وکړل ځینی ښه (لکه اقرار چی ددی منشاء پښیمانی ده اوداتوبه ده اولکه نوری غزاګانی چی مخکی سوی دی غرض داکارونه خویی ښه وکړل) اوځینی بد (یی وکړل لکه پاته کیدل بلاعذره پس) دالله څخه امیددی (یعنی دهغه وعده ده) چی (په رحمت سره به ددوی پرحال باندی) توجه به وفرمایی (یعنی توبه به یی قبوله کړی) بیشکه اللہ ﷻ لوی مغفرت والا لوی رحمت والا دی (کله چی په دی آیت سره یی توبه قبوله سوه اودغه حضرات دستنو څخه خلاص سول نوخپل مال یی ددوی په خدمت کی راوړی اودرخواست یی وکی چی دادالله ﷻ په لاره کی خرڅ سی نوارشاد وسو چی) ته ددوی دمالونو څخه صدقه (کومه چی دوی راوړی) اخله چی ددی (داخستو) په ذریعه ته دوی (دګناه دائر څخه) پاك صفا کړی او (کله چی ته یی ځینی واخلی نو) ددوی دپاره دعا کوه بیشکه ستا دعا ددوی دپاره سبب داطمینان (دزړه) دی اواللہ ﷻ (ددوی اقرار) ښه اوری (اوددوی پښیمانی) ښه پیژنی (په دی وجه ددوی اخلاص وینی تاته داحکم کوی داذکر سوی نیك عملونه یعنی توبه اوپښیمانی اوپه نیکی کی دخرڅ کولو ترغیب اوبدعملونه لکه دجهاد څخه پاته کیدل وغیره دائنده دپاره ترهیب دی پس اول ترغیب دی یعنی) ایادوی ته داخبر نسته چی خاص اللہ ﷻ دخپلو بندګانو توبه قبلوی اوهغه صدقی قبلوی او (ایادوی ته) دا (خبر نسته) چی اللہ (ددی) توبه قبوله کړه اوپه خپل (په صفت) کی اورحمت کولو (په صفت) کی کامل دی (په دی وجه ددوی توبه یی قبوله کړه اوپه خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

رحمت سره یی دما ل قبلولو حکم او د دوی دپاره یی ددعا کولو حکم وفرمایی پس اثنده دی هم په گناهونو اوخطاګانو کیدو توبه کارې اوکه توفیق یی وی نوخیر اوخیرات دی کوی، او (دترغیب څخه وروسته اوس مخ ته ترهیب دی یعنی) ته (دوی ته داهم) ووایه چی (څنګه غواړی) عمل کوی پس (اول خوپه دنیا کی) اوس ګوری ستاسی عملونه الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ اوایمانداران (پس پربد عمل په دنیا کی خواری اوذلت راځی) او (بیاپه اخرت کی) خامخا ستاسی دداسی (الله) خواته تلل دی کوم چی په ټولو پټو اوښکاره شیانوپوهیدونکی دی پس هغه به ستاسی ټول کړی عملونه تاسی ته وښیی (پس دبدو عملونو لکه دجهاد څخه دپاته کیدو وغیره څخه اثنده احتیاط ساتی داداول قسم بیان وو اومخ ته ددوهم قسم ذکردی) اوځه نور خلګ دی چی ددوی معامله دخدای دحکم تراتلوپوری حصاره ده چی (یا توبه کی داخلاص دنستوالی په وجه) دوی لره به سزا ورکړی یا (داخلاص په وجه سره) ددوی توبه قبوله کړی اوالله ﷻ (دخلوص اونه خلوص دحال) ښه پیژندونکی دی (او) لوی حکمت والا دی (پس په مقتضا دحکمت سره دخلوص توبه قبلوی اوبغیردخلوص څخه توبه نه قبلوی اوکه چیری کله بغیر دتوبی څخه په معاف کولوکی حکمت وی نوداسی هم کوی)

معلومات اومسئلي: دتبوك دغزا دپاره چی کله دنبی کریم ﷺ دطرف څخه عام اعلان او ټولو مسلمانانوته دتلوحکم وسو نودسختی ګرمی زمانه وه مزل ډیرلیری وو اودیو باقاعده لوی حکمت دتربیت یافته فوج سره مقابله وه کومه چی داسلام په تاریخ کی اوله واقعه وه دا اسباب وه دکومو په وجه سره چی ددی حکم متعلق دخلګو حالات مختلف سول او ددوی ډیر قسمونه ډلی جوړی سوی.

یو قسم ډله دهغومخلصو حضراتووه چی داول حکم اوریدو سره بی دځه تردد څخه دجهاد دپاره تیار سول دوهم قسم هغه خلګ وه کوم چې اول په څه تردد کی وو بیاملګری سول په آیت ، الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ کی ددی حضراتو ذکر دی.

دریم قسم دهغو حضراتودی کوم چی په واقعی طورسره معذور وه په دی وجه ولاړ نه سول ددوی ذکرپه آیت: لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ کی راغلی دی څلورم قسم دهغومخلصینو مومنانو دی کوم چی دعذر دنستوالی باوجود دسستی او ناراستی په وجه په جهادکی شریك نه سول ددوی ذکرپه دی ذکرسوی آیت: وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا او: آخَرُونَ مُرْجَوْنَ کی راغلی دی پنځم قسم دمنافقانو وو کوم چی دنفاق په سبب په جهاد کی شریك نه سول ددوی ذکر په تیرو ډیرو ایتونو کی راغلی دی لنډه داده چی په تیرو ایتونوکی زیات ذکر دپنځم قسم منافقانو سوی دی په دی ذکرسوو ایتونوکی دځلورم قسم حضراتو ذکردی کوم چی سره دمومن کیدو څخه دسستی اوناراستی په وجه په جهاد کی شریك نه سول.

په اولنی آیت کی فرمایی چی څه خلګ داسی هم دی کوموچی دخپلو ګناهونو اقرار وکی ددی خلګو عملونه ګډود دی څه ښه څه بد امید دی چی الله ﷻ ددوی توبه قبوله کړی حضرت عبدالله بن عباس ؓ فرمایی چی لس کسان وه کوم چی بی دځه صحیح عذرځخه دتبوك غزاته نه وه تللی بیادوی په خپل کار باندی پښیمانه سول په دوی کی اوو تنو خپل ځانونه دمسجد نبوی په ستنو پوری وترل اوداوعده یی وکړه چی ترڅو پوری زمونږ توبه قبوله نه سی اونبی کریم ﷺ مونږ خلاص نه کړی دغسی به بند یو په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

حضراتو کی دابولبابه ﷺ په نوم باندی دټولوروایتونو اتفاق دی دنوروپه نومونوکی مختلف روایتونه دی نبی کریم ﷺ چی کله دوی ترلی ولیدل اومعلومه سوه چی دوی داسی وعده کړیده چی ترڅو پوری نبی کریم ﷺ په خپله دوی خلاص نه کړی ترهغه وخته پوری به بندوی نو دوی وفرمایل چی زه هم په الله ﷻ قسم کوم چی ترهغه وخته پوری به یی خلاص نه کړم ترڅوچی الله ﷻ ماته د دوی دخلاصولوحکم ونه کی څکه چی جرم لوی دی په دی باندی دا ذکر سوی آیت نازل سو اونبی کریم ﷺ د دوی دخلاصیدو حکم وکی او دوی خلاص سول (قرطبی)

دسعید بن مسیب په روایت کی دی چی کله دابولبابه ﷺ دخلاصولو اراده وسوه نودوی انکار وکی اووی ویل چی ترڅو په خپله نبی کریم ﷺ راضی نه سی اوماپه خپلو لاسونو خلاص نه کړی زه به بند یم نوچی کله نبی کریم ﷺ دسهار دلمانځه څخه تشریف راوړی نو په خپلو مبارکو لاسونو یی خلاص کړی.

(نیک اوبد گډوډ عملونه څه وه؟)

په آیت کی فرمایی چی ددی خلګو څه عملونه نیك وه څه بد ددوی نیك عملونه خو ددوی ایمان لمونځ روژه اوددی جهاد څخه په مخکی غزاګانو کی دنبی کریم ﷺ سره شرکت اوپه خپله دتبوك په دی واقعه کی دخپل جرم اعتراف کول اوپښیمانه کیدل توبه کښل وغیره دی اوبدعملونه په تبوك کی نه شریکیدل اوپه خپل عمل سره دمنافقانو موافقت کول دی.

(دکومو مسلمانانو عملونه چې نبه بد ګډوډ وی ترقیامته هغوی هم په دی حکم کې داخل دی)

په تفسیر قرطبی کی دی چی که څه هم دا ایت دیوخاص جماعت په باره کی نازل سوی دی مګر حکم ددی ترقیامته پوری عام دی دهغو مسلمانانو دپاره دکومو عملونه چی نیك او بد ګډوډ وی که دوی دخپلو ګناهونو څخه توبه وکاږی نو د دوی دمعافی او مغفرت امید سته.

ابوعثمان ﷺ فرمایی چی دقرآن کریم دا ایت ددی امت دپاره لوی امید ورکوونکی دی اوپه صحیح بخاری کی په روایت دسمره بن جندب ﷺ دمعراج نبوی په یوتفصیل روایت کی دی چی پراووم آسمان باندی کله چی دنبی کریم ﷺ ملاقات دحضرت ابراهیم ﷺ سره وسو نو دهغه په خوا کی یی څه خلګ ولیدل چی مخونه یی سپین وو اوڅه داسی چی پرمخونو یی داغونه اوتکی وو دادوهم قسم خلګ په یونهر کی داخل سول اوغسل یی وکی اوبیرته راغلل نوددوی مخونه هم بالکل صفا اوسپین سوی وو حضرت جبرائیل ﷺ دوی ته وښوول چی داسپینو مخونو والا هغه خلګ دی کومو چی ایمان راوړی اوبیا دګناهونو څخه پاك صاف پاته سول: الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اودوهم قسم هغه خلګ دی کومو چی ګډوډ ښه اوبد هرقسم کارونه کړی دی بیایی توبه کښلی ده الله ﷻ د دوی ګناهونه معاف کړل اوتوبه یی قبوله سوه (قرطبی)

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً واقعه ددی آیت دا ده چی دکومو حضراتو چی لوړ ذکروسوچی بی عذره دتبوك دغزا څخه پاته سوی وه بیا ستومانه سول اوخانونه یی دجمات په ستنو پوری وترل بیاپه ذکرسوی آیت کی ددوی دتوبی قبول والی نازل سو اودقید څخه ازاد سول نو دی حضراتو په طور دشکرانی خپل ټول مال دصدقی کولو دپاره پیش کی نبی کریم ﷺ یی دقبلولو څخه انکار وفرمایی چی ماته دما ل اخستو حکم

Maktaba Tul Ishaat.com

نسته په دی داذکر سوی آیت: خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ الخ نازل سو اودوی دټول مال پرځای دریمه حصه مال صدقه کول قبول کړل ځکه چی په آیت کی دی طرف ته اشاره ده چی ټول مال دی نه اخستل کیږی بلکه ددی څه حصه دی واخستل سی حرف د: مِنْ پردی باندی شاهد دی.

(دمسلمانانو صدقي زکوة وغيره وصولول اوبه خپل مصرف کي يي خرڅ کول داسلامي حکومت ذمه واری ده)

په دی آیت کی که څه هم دشان نزول په اعتبار سره دیوخاص جماعت څخه دصدقی وصولولو حکم ورکول سوی دی لیکن دغه دخپل مطلب په اعتبار سر عام دی.

په تفسیر قرطبی احکام القرآن جصاص مظهری وغیره کی یی دی ته ترجیح ورکړیده او قرطبی اوجصاص داهم واضحه کړیده چی که په دی آیت کی دشان نزول دغه خاصه واقعه مقرر سی دکمی ذکر چی لوړ راغلی دی خوبیاهم دقرآن داصولو په بناسره داحکم به عام وی اوترقیامته پوری به په مسلمانانو گیره کوونکی وی ځکه چی دقرآن کریم ډیر احکام په خاصو خاصو واقعو کی نازل سوه لیکن ددوی دعمل دائره دهیڅاپه نزد هم تر دغه خاصی واقعی پوری محدوده نه ده بلکه ترځوپوری چی دخاصوالی څه دلیل نه وی دغه حکم دټولو مسلمانانو دپاره عام اوشامل ګڼل کیږی.

تردی چی دټول امت محمدی په دی هم اتفاق دی چی په دی آیت که څه هم چی خطاب خاص نبی کریم ﷺ نه دی مګرداحکم نه ددوی سره خاص دی اونه د دوی دزمانی پوری محدود دی بلکه هرهغه سړی کوم چی دنبی کریم ﷺ قائم مقام دمسلمانانو امیروی هغه ددی حکم مخاطب اوپه دی مامور ه دی دده په فرائضو کی به دادخله وی چی دمسلمانانو څخه دزکوة صدقو وصولولو اوپه مصرف کی یی دخرڅ کولو انتظام کوی.

دصدیق اکبر ؓ دخلافت په ابتدایی وخت کی چی دزکوة پرمنع کوونکو باندی دجهاد واقعه پیښه سوه په دی کی هم دزکوة نه ورکوونکی څه خوهغه خلګ وه کوم چی بنکاره په بنکاره داسلام څخه باغیان اومرتدسوی وه اوځه داسی خلګ هم وه کومو چی خپل ځان ته به مسلمانان ویل مګر دزکوة نه ورکولو دابهانه به یی کوله چی په دی آیت کی نبی کریم ﷺ ته زمونږ څخه دزکوة اوصدقو وصولولو حکم د دوی دژوند پوری وو اودغه مونږ ومنی د دوی دوفات څخه وروسته دابوبکر ؓ څه حق دی چی زمونږ څخه زکوة اوصدقی غواړی او په اول اول کی حضرت عمر ؓ ته پردوی دجهاد کولو په دی وجه تردد وو چی دوی مسلمانان دی خودیو ایت په دلیل نیولو سره دزکوة څخه ځانونه خلاصول غواړی په دی وجه د دوی سره هغه معامله نه سی کیدی کومه چی دعامو مرتدانو سره کیږی لیکن صدیق اکبر ؓ په پوره عزم او قصد سره وفرمایل چی کوم سړی په لمانځه او زکوة کی فرق کوی په ده به جهاد کول کیږی.

اشاره دی طرف ته وه چی کوم خلګ دزکوة حکم دنبی کریم ﷺ دخاص کولو او د دوی څخه وروسته ددی دساقط کیدو قائل سو هغوی سبا داهم ویلی سی چی لمونځ هم دنبی کریم ﷺ سره خاص وو ځکه چی په قرآن کریم کی دا ایت هم راغلی دی: اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ چی په دی کی دلمانځه قائمولو مخاطب نبی کریم ﷺ دی مګر لکه څنګه چی دلمانځه دایت حکم دټول امت دپاره عام دی اودا دنبی کریم ﷺ سره دمخصوص کولو غلط تاویل کوونکی دکفرڅخه نه سی خلاصیدی دغه ډول په دی آیت: خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ کی داتاویل دوی دکفر اومرتد کیدوڅخه نه خلاصوی په دی باندی فاروق اعظم ؓ مطمئن سو

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه اجماع داصحابو باندی ددغو خلکو خلاف جهاد و سو

(زکوة دحکومت ټیکس نه دی بلکه عبادت دی)

دقرآن کریم دذکرسوی آیت خُذ من اموالهم خُحه وروسته چی ارشاد فرمایی. صفا تطهرهم وتزکیهم بها په دی کی دااشاره پیدا کیږی چی زکوة اوصدقی دحکومت خه ټیکس نه دی کوم چی عام حکومتونه دحکومت چلولو دپاره وصولوی بلکه ددی مقصد په خپله دمال خاوندان دگناهونو خُحه پاک صاف کول دی دلته داخبره دنظر قابله ده چی دزکوة اوصدقو وصولولو خُحه به حقیقت کی دوی فائدی حاصلیږی یوه فائده په خپله دمال دخاوند ده چی ددی په ذریعه دی دگناهونو خُحه اود مال دحرص اومحبت خُحه وپیدا کیدونکو اخلاقی بیماریو دجرائیمو خُحه پاک صفاسی دوهمه فائده داده چی ددی په ذریعه دفقیر دهغو ضعیفانو پرورش کیږی کوم چی په خپله دخپلو ضرورتونو پوره کولو خُحه مجبوره یاپی وسه وی لکه یتیمان بچی کونډی بنځی شل اوگونډ معذوره سړی اوبنځی اوعام فقیران اومسکینان وغیره

لیکن قرآن حکیم دلته صرف اوله فائده بیان کړه اودی طرف ته یی هم اشاره وکړه چی دزکوة اوصدقو اصل مقصد هم اوله فائده ده دوهمه فائده ددی خُحه په ضمنی طور سره حاصلیدی سی په دی وجه که بالفرض په یوځای کی یا یووخت څوك یتیم گونډه فقیر مسکین موجود نه وی بیا هم دمال دخاوندانو خُحه دزکوة حکم نه ساقطیږی.

ددی مضمون تائید ددی خُحه هم کیږی چی په تیرو امتونوکی به چی کوم مال دالله ﷻ دپاره ایستل کیدی ددی استعمال دچادپاره جائز نه وو بلکه دستور داوو چی دابه یی په یوجلا خای باندی کښی بنروی اواسمانی بجلی به راغله اودابه یی سوزی دانخښه وه ددی خبری چی دا صدقه الله ﷻ قبوله کړه اوکله چی به دا آسمانی اور رانغی نو دصدقی دنه قبلیدو نښانه به گنل کیده بیابه دغه منحوس مال نه هیڅا لاس نه ورورې.

ددی خُحه معلومه سوه چی دزکوة اوصدقو اصل رواکیدل دچا دحاجت پوره کولو دپاره نه دی بلکه دایومالی حق اوعبادت دی لکه لمونځ اوروژه چی بدنی عبادتونه دی دا دامت مرحومه دخصوصیاتو خُحه ده چی دامال کوم چی دالله ﷻ په لاره کی ایستل سوی دی ددی امت دفقیرانو اومسکینانو دپاره ددی استعمال جائز سو لکه چی دصحیح مسلم په حدیث کی دنبی کریم ﷺ خُحه ددی وضاحت نقل دی

پوسوال اوجواب: دلته داسوال پیدا کیږی چی په ذکرسوی واقعه کی کله چی ددی حضرانو توبه قبوله سوه نودگناه معافی اوپاکوالی خوپه توبه سره وسو بیا مال اخستل ذریعه دپاکوالی مقرروول ددی به خه معنی وی؟

جواب دا دی چی که خه هم په توبه سره گناه معاف سوه مگر دگناه معاف کیدو خُحه وروسته ددی خه تیاره اوخرابالی باقی پاته کیږی کوم چی دانسته گناه کولو سبب جوړیدی سی په صدقه کولو سره دغه خرابالی لیږی سی اومکمله پاکی اوسی

وصل علیهم په دی کی دصلوة دلفظ خُحه مراد ددوی دپاره درحمت دعا کول دی اودنبی کریم ﷺ خُحه نقل دا ده چی دوی دخپلو خلگو دپاره په لفظ دصلوة سره دعا فرمایلی ده لکه اللهم صل علی ال ابی اوفی په

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث کی راغلی دی لیکن وروسته لفظ دصلوة دانبیاء ﷺ مخصوصه علامه جوړه سوه په دی وجه داکثرو فقهاوو داقول دی چی اوس دیوسړی دپاره دعا په لفظ دصلوة سره نه سی کیدی بلکه دالفظ صرف دانبیاء ﷺ دپاره مخصوص سوی دی چی خلط اواشتباه نه وی (بیان القرآن وغیره)

دلته دوی ته دصدقی ورکوونکو دپاره ددعا کولو حکم دی په دی وجه ځینی فقهاء فرمایی چی امام اوامیرته دصدقي ورکوونکودپاره دعاء کول واجب دی اوځینی حضرات یی مستحب ګڼی (قرطبی)

وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ: لس حضرات مومنان کوم چی بی دعذر ځخه دتبوك دغزا ځخه پاته سوی وه په هغوی کی اوو ۷ کسانو خودخپلی پښیمانی اوافسوس پوره اظهار وکی او خپل ځانونه یی دجمات په ستنو پوری وترل دهغوی حکم په مخکی آیت کی راغی: وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا ددی آیت ځخه هغه باقی دری کسان مراد دی کومو چی په جمات کی دقیدیدو داعمل نه وو کړی اودغه شان ښکاره اقرار یی ونه کی د دوی په باره کی نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته حکم وکی چی مسلمانان دی ددوی سره قطع تعلق وکی د دوی سره دی سلام کلام بند کړی ددی معاملی ځخه وروسته ددوی حالت سم سواوپه اخلاص سره یی دجرم اعتراف وکی اوتوبه ګاړ سول نوددوی دپاره هم دمعافی احکام ورکول سول (صحیح بخاری اومسلم)

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا

اوهغو چی جوړ کړی دی جمات په ضدباندی او په کفر او په جدایی راوستو په مینځ دمومنانو کی اوخای،

لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَاۤ اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ

دپټ کښینستو دهغه چادپاره چی جنګ یی کړی دی دالله اودهغه درسول سره مخکی اودوی به قسمونه اخلی چی زمونږ اراده خو دنفعی ده اوالله ﷻ شاهد دی چی دوی ،

لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ

دروغجنان دی ،ته مه دریږه په دی کی هیڅکله ، البته هغه جمات چی بنیادیی اینبوول سوی دی په پرهیزګاری ،

اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ؕ فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ؕ

داولی ورځی ځخه هغه لائق دی چی ته ودریږی په دی کی ، په دی کی داسی خلک دی چی خوښوی پاك اوسیدل

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ اَفَمَنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى تَقْوٰى

او الله خوښوی پاك اوسیدونکی ، آیا چاچی بنیاد اینبی دی دخپلی ابادی دالله ځخه په بیره باندی

مِنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا

او دهغه په رضامندی هغه ښه دی یاچاچی بنیاد اینبی دی دخپلی ابادی په غاړه دیوی

Maktaba Tul Ishaat.com

جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهٖ فِیْ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ

کندی چی لویدونکی وی ، نو ولویږی په دی سره اور دجهنم ته ، اواللہ ﷻ لارنه ښیی ظالمانو خلګوته

الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾ لَا یَزَالُ بُنْیَانُهُمُ الَّذِیْ بَنَوْا رِیْبَةً فِیْ قُلُوْبِهِمْ

همیشه به وی شك ددغه ابادی څخه چی دوی جوړه کړي ده په زړونو د دوی کی

اِلَّاۤ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ حَكِیْمٌ ﴿۱۱۰﴾ ع

مګر کله چی ټکړی ټکړی سی زړونه د دوی او اللہ ﷻ په هر څه پوه حکمت والا دی

لنډتفسیر: اوځینی داسی دی کومو چی ددی غرضونو دپاره جمات جوړکړی دی چی (اسلام ته) ضرر ورسوی او (په دی کی په کښینستو سره) دکفر (یعنی درسول ددښمنی) خبری وکړی او (ددی په وجه سره) دایماندارو (په جمع کی) جلاوالی واچوی (ځکه چی کله دوهم جمات جوړسی اوښکاره سی چی په ښه نیت سره جوړسوی دی نوضروری خبره ده چی داولنی جمات په جمع کی څه ناڅه ګډوډوالی راځی) او (داهم غرض دی چی) دهغه سړی داستوګنی ځای جوړ کړی کوم چی ددی (جمات جوړولو) ځخه مخکی دخدای اود رسول مخالف دی (مراد ورځخه ابوعامر راهب دی) او (که پوښتنه ورځخه وکړی نو) قسمونه به خوری (لکه چی مخکی یی هم په پوښتنی کولو خوړلی دی) چی بغیر دګټی ځخه زمونږ بل څه نیت نسته (دګټی ځخه مراد اسائش اوګنجائش دی) اواللہ شاهد دی چی دوی (په دی دعوی کی) بالکل درواغجن دی (کله چی ددی جمات داحالت دی چی دی په واقع کی جمات نه دی بلکه اسلام ته ضرر رسوونکی دی نو) ته هیڅکله هم په دی کی (دلمانځه دپاره) مه دریږه البته دکوم جمات بنیاد چی داولی ورځی څخه (یعنی دورځی دتاکلوځخه) په تقوی (اوپه اخلاص) سره اینبوول سوی دی (مراد مسجد قبادی) دغه (واقعی) ددی لایق دی چی ته په دی کی (دلمانځه دپاره) ودریږی (نوکله کله به دوی هلته تشریف وړی اولمونځ به یی په کی کوی) په دی (مسجد قبا) کی داسی (ښه) خلګ دی چی دوی ښه پاکیدل خوښوی اواللہ ﷻ دښه پاکی کوونکوسره مینه کوی (کله چی د دواړو جماتونو دجوړونکو حال معلوم سو نو) بیا (پوه سی) آیا داسی سړی ښه دی چاچی دخپلی ابادی (یعنی جمات) بنیاد دخدای ځخه په بیره اودخدای په خوشحالولو اینبی وی یاهغه سړی (به ښه وی) چاچی دخپلی ابادی (یعنی جمات) بنیاد دلوړی (یعنی کندی) په غاړه کوم چی لویدونکی وی اینبی وی (مراد ددی ځخه دکفر باطل غرضونه دی چی په ناپائیداری کی یی ددی سره تشبیه ورکړه) بیا دغه (ابادی) دا (جوړونکی) واخلی اور ددوزخ ته یی ورواچوی (یعنی دغه ابادی خوونړیده په دی وجه چی پرغاړه ده کله چی دغه غاړه اوبه پریکوی لویږی نودغه ابادی هم لویږی اوجوړونکی یی ځکه ولویدی چی دی په کښی اوسیدی اوجونکی مراد ددی ځخه غرضونه دکفردی کوم چی رسوونکی دی اور ته په دی وجه یی دا وفرمایل چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه ابادی ددی جوړونکی سره جهنم ته ولویده، او الله ﷻ داسی ظالمانو ته (ددین) پوهه نه ورکوی (چی جوړیی کی خودجمات په نوم سره کوم چی ددین دنخښو څخه دی اوغرضونه په دی کی څنګه څنګه فاسد وه) ددوی دا ابادی (یعنی جمات) کوم چی دوی جوړ کړی دی همیشه به ددوی په زړونو کی (دازغی په شان) ورګرځول کیږی (ځکه چی دکوم غرض دپاره یی جوړکړی وو هغه پوره نه سو اورازیی ښکاره سو دایوطرف ته اوبیاپه دی سربیره یی جمات ونړول سو غرض داچی یوارمان یی هم پوره نه سو په دی وجه تول عمر به یی دا افسوس اوارمان باقی وی) البته که ددوی (دغه) زړه (په کوم کی چی دغه ارمان دی) فناسی نوخیر (دغه ارمان به یی هم دغه وخت ختم سی) اوالله ﷻ لوی حکمت والا دی (د دوی په حال پوه دی او مناسبه سزا به ورکړی)

معلومات اومسئلي: دمنافقانو حالات اوداسلام خلاف ددوی دحرکتونو ذکر دلوړه څخه په ډیرو ایتونوکی راغلی دی په دی ذکرسوو ایتونوکی هم ددوی دیو سازش ذکر دی چی واقعه یی داده چی په مدینه طیبه کی یوسړی چی نوم یی ابوعامر وو دجاهلیت په زمانه کی نصرانی سوی وو اودابو عامر راهب په نوم سره مشهور وو داهغه سړی دی دکوم زوی حضرت حنظله ﷺ چی مشهور صحابی دی دچا مړ بدن ته چی فرښتو غسل ورکی اوپه دی وجه دغسیل ملائکه په نوم سره مشهور سو مګر پلار یی پرخپله ګمراهی اونصرانیت قائم پاته سو.

کله چی نبی کریم ﷺ مدینی منوری ته تشریف راوړی نوابو عامر راهب په خدمت کی حاضرسو اوپه اسلام یی اعتراضونه وکړل دنبی کریم ﷺ په جواب باندی هم ددی بد نصیبه اطمینان ونه سو بلکه دایی وویل چی په مونږ دواړو کی چی کوم درواغجن وی هغه دی مردود اودخپلو خپلوانو څخه لیری په مسافری کی مړ سی اووی ویل چی ستا په مقابله کی چی کوم یو دښمن راځی زه به یی مدد کوم چنانچی دحنین ترغزا پوری په ټولو غزاګانو کی یی دمسلمانانو ددښمنانو سره په جنګ کی شرکت وکی کله چی دهوازنو لویی اوقوی قبیلی هم شکست وخوړی نودی مایوسه سو اودشام ملك ته وتښتیدی ځکه چی داملك دنصرانیانو مرکز وو هلته چی ولاړی نودخپلو خپلوانو څخه لیری مړ سو کومه دعاچی یی کړی وه هغه هم پرده فټ سوه کله چی دیوسړی رسوایی په تقدیر کی مقرر سی نوهغه هم داسی کارکوی په خپله دعا سره ذلیل اوخوار سو.

مګرترڅوپوری چی ژوندی ووداسلام اومسلمانانو په خلاف سازشونو کی اخته وو چنانچی دروم بادشاه قیصریی دی ته تیارکی چی دی په خپل لښکرسره پرمدینه منوره حمله وکړی اومسلمانان ددی څخه وباسی ددی سازش یوه معامله داسی پیښه سوه چی ده دمدینی منافقانوته دکومو چی دده سره تعلق وو خط ولیکی چی زه ددی کوشش کوم چی قیصر پرمدینه حمله وکړی مګر ستاسی یواجتماعی طاقت په کار دی چی په دغه وخت دقیصر مدد وکی ددی صورت داسی پکاردی چی تاسی په مدینه کی یوکور جوړکړی اودانبکاره کړی چی مونږ جمات جوړوو چی دمسلمانانو شك نه وی بیاپه دغه ځای کی تاسی خپل خلګ جمع کوی او څومره وسله اوسامان چی جمع کیږی هغه هم جمع کړی دلته دمسلمانانو خلاف په خپل مینځ کی په مشوره سره معاملی طی کوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دده په مشوره باندی دولسو منافقانو دمدینی طیبی په محله قبا کی کوم خای چی دهجرت په اول کی نبی کریم ﷺ قیام وفرمایی اویوجمات یی جوړکړی وو هلته یی دیوبل جمات بنیادکښی ښووی ددی منافقانو نومونه هم ابن اسحاق وغیره نقل کړی دی بیامسلمانانو ته دفریب ورکولو اوپه دوکه کی دساتلو دپاره یی دا اراده وکړه چی په خپله نبی کریم ﷺ یو لمونځ دلته وکړی چی ټول مسلمانان مطمئن سی چی داهم یوجمات دی لکه چی ددی څخه مخکی یوجمات دلته جوړسوی دی .

د دوی یوه ډله دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضره سوه اوعرض یی وکی چی دقبا موجوده جمات دډیرو خلکو څخه لیری دی کمزورو اوناجوړو ته هلته تلل مشکل دی اوپه خپله مسجد قباء دومره لوی اوپراخ هم نه دی چی دټول کلی خلک په دی کی څای سی پا دی وجه مونږ یوبل جمات ددی کار دپاره جوړ کړی دی چی ضعیفو مسلمانانوته فائده ورسیږی تاسی په دی جمات کی یولمونځ وکی چی برکتی سی .

نبی کریم ﷺ دغه وخت دتبوك دغزا په تیاری کی مشغول وو دوی داوعده وکړه چی دا وخت خومونږته سفرپه مخکی دی دواپسی څخه وروسته به مونږ په دی کی لمونځ وکړو .

لیکن دتبوك دغزا څخه په واپسی کی چی کله دوی دمدینی طیبی په خواکی پریو مقام باندی دیره واچوله نوداذکر سوی ایتونه پردوی نازل سول چی ددی منافقانو سازش یی په کی په ډاګه کی ددی ایتونو په نازلیدو نبی کریم ﷺ خپل څواصحاب په کومو کی چی عامر بن سکن اووحشی قاتل دحمزه ﷺ شریك وو دوی ته یی حکم وکی چی اوس ولاړ سی دغه جمات ونړوی اواور ورپوری کړی داټول حضرات دغه وخت ولاړل اوحکم یی ومنی دغه ابادی یی ونړوله اودمخکی سره پی برابره کړه داټوله واقعه دتفسیر قرطبی او مظهری دروایتونو څخه را اخیستل سوي ده .

په تفسیرمظهری کی دمحمد بن یوسف صالحی په حواله سره داهم ذکرسوی دی چی کله نبی کریم ﷺ دقباء څخه مدینی منوری ته ورسیدی نودمسجد ضرار څای خالی پروت وو دوی عاصم بن عدی ته ددی اجازه ورکړه چی څانته دی دلته کور جوړکړی دوی عرض وکی چی یارسول الله دکوم څای متعلق چی دقرآن کریم دا ایتونه نازل سوی دی زه په دغه منحوس څای کی کور جوړول نه خوښوم البته ثابت بن اقرم ضرورتمند دی دده سره هیڅ کور نسته ده ته اجازه ورکړی چی هغه دلته کور جوړکړی دده دمشوری مطابق حضور دغه څای ثابت بن اقرم ته ورکی مګر وسوه داچی دکله څخه ثابت ﷺ په دی څای کی اوسیدی دده هیڅ بچی پیدا نه سو یا ژوندی پاته نه سو .

تاریخدانان لیکی چی انسان خوځه کوی په دی څای کی دیوی چرګی هم هګی اوبچی نه دی زیږیدلی هیڅ کوتره اوحیوان هم په دی څای کی نه دی پالل سوی چنانچی ددی څخه وروسته داځای ترننه پوری دمسجد قبا څخه په څه فاصله ویران پروت دی .

دواقعی دتفصیل اوریدو څخه وروسته دذکرسوو ایتونو متن وګوری په اولنی آیت کی فرمایی ، وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا یعنی لکه څنګه چی لوړ دنورو منافقانو دعذاب اوذلت او رسوایی ذکرسوی دی دامنافقان هم په دوی کی شامل دی کومو چی دجمات په نوم یوه داسی ابادی جوړه کړه چی مقصد یی مسلمانانو ته نقصان رسول وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی آیت کی دذکرسوی جمات جوړولو دری غرضونه ذکر سوی دی اول ، ضِرَاراً یعنی مسلمانانو ته دنقصان رسولودپاره لفظ د: ضَرَرْ او: ضِرَار دواړه په عربی ژبه کی دنقصان رسولوپه معنی کی استعمالیږی ځینی حضراتو یی دافرق بیان کړی دی چی: ضرر خو هغه نقصان ته ویل کیږی په کوم کی چی دکوونکی خپله خوفائده وی خونورو ته نقصان ورسیږی او: ضرار نوروته هغه نقصان رسول دی په کوم کی چی درسوونکی خپله څه فائده هم نه وی چونکی ددی جمات انجام داسی کیدونکی وو چی جوړونکی ته ددی څخه څه فائده ونه رسیږی په دی وجه دلته لفظ د: ضرار استعمال سو .

دوهم غرض ددی جمات : لِتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ بنوول سوی دی یعنی د دوی مقصد ددی جمات دجوړولو څخه داهم وو چی دمسلمانانو جماعت دوی ټکړی سی یوه ټکړه په دی جماعت کی دلمونځ کوونکو جلاسی اوداچی دپخوانی مسجد قبا لمونځ کوونکی کم سی اوځه خلګ دلته لمونځونه کوی .

دریم غرض : إِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللهَ بنوول سوی دی چی ددی مطلب دادی چی ددی جمات څخه داکار هم اخستل وو چی دلته دالله ﷻ اودرسول ﷺ دښمنانو ته پناه ورکول سی او هغوی دلته دمسلمانانو خلاف سازشونه کوی .

ددی ټولو څخه داثابته سوه چی کوم جمات ته قرآن کریم مسجدضرار ویلی دی اودنبی کریم ﷺ په حکم سره هغه نړول سوی دی او اور ورپوری سوی دی په حقیقت کی نه هغه جمات وو اونه دهغه مقصد دلمونځ کولو دپاره وو بلکه دغه دری مقصدونه یی وه دکومو ذکر چی لوړ وسو ددی څخه معلومه سوه چی نن صبا که دیوجمات په مقابله کی دده په خوا اوشاکی بل جمات څینی مسلمانان جوړکړی اودجوړولو مقصد یی دغه دیوبل په مینځ کی تفرقه اوداولنی جمات جمع ماتول وغیره فاسد غرضونه وی نو که څه هم ددی جمات جوړونکی ته ثواب نه ورکول کیږی بلکی دمومنانو په مینځ کی دجلاوالی په وجه به ګنهګاروی لیکن ددی ټولوخبرو باوجود دغه ځای ته په شرعی حیثیت سره جمات ویل کیږی اوټول اداب اواحکام دجمات به باندی جاری وی ددی نړول او اور ورته پوری کول جائزنه دی اوکوم خلګ چی په دی کی لمونځ کوی د دوی لمونځ به کیږی که څه هم داسی کار به فی نفسه ګناه وی .

ددی څخه داهم معلومه سوه چی دغه شان دریاء اونمائش دپاره یادضد اوعنادپه وجه چی کوم مسلمانان یوجمات جوړکړی نو که څه هم جوړونکی ته دجمات جوړولو ثواب نه ورکول کیږی بلکه ګنهګاردی مګر دقرآن په اصطلاح کی مسجد ضراردی ته نه سی ویل کیدی څینی خلګ کوم چی دی قسم جمات ته مسجد ضرار وایی دادرست نه دی البته دمسجد ضرار مشابه ورته ویل کیږی په دی وجه ددی جوړونکی منع کیږی هم لکه چی حضرت فاروق اعظم ﷺ یوفرمان جاری کړی وو چی دا هدایت په کښی سوی وو چی دیو جمات په خواکی به بل جمات نه جوړیږی ځکه چی په دی سره داولنی جمات جمع اورونق متاثره کیږی (کشاف)

ددی مسجد ضرار متعلق په دوهم آیت کی نبی کریم ﷺ ته دا حکم ورکول سوی دی ، لَا تَقُمْ فِيْهِ أَبَدًا په دی کی ددریدو څخه مراد دلمانځه دپاره دریدل دی مطلب دادی چی ته په داسی نومی جمات کی هیڅکله لمونځ مه کوه .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: ددی څخه دومره معلومیږی چی نن هم که یونوی جمات داولنی جمات په خواکی بی دځه ضرورت محض یادریا او نمائش یاضد اوعناد په وجه جوړسی نوپه دی کی لمونځ کول ښه نه دی که څه هم لمونځ کیږی.

په دی آیت کی یی دوی ته داهدایت کړی دی چی ستا لمونځ په هغه جمات کی کول درست دی دکم بنیاد چی داول څخه پرتقوٰی اینبوول سوی دی اوپه دی کی داسی خلګ لمونځ کوی دکومو چی پاکی اوطهارت ډیر خوښ وی اوالله ﷻ هم داسی پاکوونکی خوښوی.

دسیاق دایت څخه ښکاره ده چی مراد ددی څخه مسجد قباء دی چی په دی کی دغه وخت نبی کریم ﷺ لمونځ کوی اودځینی روایتونو دحدیثونو څخه هم ددی تائید کیږی (لکه چی روایت یی کړی دی ابن مردویه دابن عباس ؓ څخه اوعمر بن شیبه دسهل انصاری اوابن خزیمه په خپل صحیح کی دعویمربن ساعده څخه ازمظهری)

اوپه ځینی روایتونوکی چی داراغلی دی چی ددی څخه مراد مسجد نبوی دی هغه ددی منافی نه دی ځکه چی مسجد نبوی دکم بنیاد چی دوحی مطابق نبی کریم ﷺ په خپلو لاسونو مبارکو اینبی دی ښکاره ده چی ددی بنیاد په تقوٰی باندی دی او دنبی کریم ﷺ څخه زیات پاك څوك دی په دی وجه دغه هم ددی مصداق خامخا دی (لکه چی روایت یی کړی ترمذی اوصحیح کړی یی دی دابی سعید خدری ؓ څخه مرفوعًا ازقرطبی)

لَهٗ رِجَالٌ یُّحِبُّوْنَ اَنْ یَّتَطَهَّرُوْا: په ذکرسوی آیت کی یی دنبی کریم ﷺ دلمانځه دپاره داجمات زیات حقدار ګڼلی دی دکم بنیاد چی داول څخه پرتقوٰی اینبوول سوی دی چی په معنٰی کی یی مسجد قباء اومسجد نبوی دواړه داخل دی ددی جمات یوفضیلت دابنبوول سوی دی چی ددی جمات لمونځ کوونکی داسی خلګ دی کم چی دپاکی ډیر زیات خیاجل او اهتمام ساتی دطهارت په معنٰی کی دلته دعامو پلیتو اوګندګیو څخه پاکی هم داخله ده اودګناهونو اوبد اخلاقیو څخه پاکی هم دمسجد قباء اومسجد نبوی لمونځ کوونکی په عام طور سره په دی تولو صفتونو سره موصوف وه.

فائده: ددی څخه داهم معلومه سوه چی دیوجمات دفضیلت اصل مدار خوپردی دی چی دی په اخلاص سره دالله ﷻ دپاره جوړسوی وی په دی کی دځه ریاء اونوم نمائش یابل څه فاسد غرض هیڅ دخل نه وی اوداهم معلومه سوه چی دلمانځه کوونکو په نیك صالح او عبادت کوونکو کیدو باندی هم دجمات فضیلت زیاتیږی دکوم جمات لمونځ کوونکی چی په عام طور سره عالمان صالحان اوتقوٰی داروی په دی کی دلمونځ کولو فضیلت زیات دی.

په دریم اوځلورم آیت کی ددی مقبول جمات په مقابله کی دمنافقانو دجوړ سوی مسجد ضرار بدوالی بیان سوی دی چی ددی مثال داسی دی لکه ددریاب غاړه چی ځینی وخت اوبه دمخکی ددننه حصی دطرف څخه خوری اوسربیره دمخکی مخ هوار په نظر راځی پر دی که څوك ابادی وکړی نوښکاره خبره ده چی فوراً به ورولویږی دغه ډول ددی مسجد ضرار بنیاد ناپائیدار وو ددی انجام داسو چی هغه ولویدی اودجهنم اورته ورسیدی دجهنم اور ته تلل دمجازی معنٰی دپاره هم کیدی سی ددی دجوړونکو دپاره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

دجهنم لاره هواره کړه اوخپلې حضراتو داپه حقیقت هم محمول کړی دی چې په حقیقت کې چې کله داجمات ونړول سو نوجهنم ته ولاړې . والله اعلم

مخ ته فرمایی چې ددوی دا ابادی به همیشه د دوی شك اونفاق زیاتوی ترڅو چې د دوی زړونه پریکړل سی یعنی ترڅو چې د دوی ژوند ختم نه سی د دوی شك او نفاق اوحسد اوغصه به په مخ زیاتیږی .

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ

الله ﷻ اخستی دی دمسلمانانو ځخه ددوی ځانونه او ددوی مالونه په دی قیمت چې د دوی دپاره جنت دی

يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ

جنګ کوی دالله ﷻ په لا[illegible]ی بیا وژنی او مری ، وعده سوې ده په دی

حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ

رښتینی په تورات انجیل اوقرآن کی او څوك دی په قول پوره

اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

دالله ځخه زیات نو خوشحالیږی په دی معامله چې تاسی کړی ده دده سره او دا ده لویه

الْعَظِيمُ ﴿١١١﴾ التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ

کامیابی ، دغه توبه کوونکی عبادت کوونکی شکر کوونکی دی روژه نیوونکی دی رکوع کوونکی

السَّاجِدُونَ الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَ

سجده کوونکی دی حکم کوونکی دنیکی خبری منع کوونکی د بدی خبری ځخه

الْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾

اوحفاظت کوونکی دی دهغو حدونو کوم چې ترلی دی الله اوخوشخبری واوروه ایماندارو ته

لنډتفسیر: بیشکه الله ﷻ دمسلمانانو ځخه د دوی ځانونه او د دوی مالونه ددی خبری په عوض کی اخستی دی چې دوی ته به جنت ورکول کیږی (اودخدای په لاس دځانونو او مالونو خرڅولو مطلب دادی چې) دغه خلګ دالله ﷻ په لاره کی (یعنی په جهاد کی) جنګیږی چې په دی کی (کله نور) قتلوی او (کله) قتلیږی (یعنی دغه بیع جهاد کول دی برابره خبره که په دی کی دقتل کولو نوبت پیښ سی اوکه دقتل کیدو) په دی (جنګ) باندی (ددوی سره دجنت) رښتنی وعده سوې ده په تورات کی (هم) اوپه انجیل کی

Maktaba Tul Ishaat.com

(هم) اوپه قرآن کی (هم) او (دامنل سوي ده چې) دالله څخه زیات دخپل وعدی څوك پوره کوونکی دی (اوده پردی بیع باندی دجنت وعده کړي ده) نو (په دی حالت کی) تاسی خلګ (کوم چی جهاد کوی) په خپلی دی بیعی (ذکرسوی) باندی دکومی چی تاسی (دالله ﷻ سره) معامله کړي ده خوشحالی کوی (څکه چی په دی بیعه به تاسی ته دوعدی مطابق ذکرسوی جنت درکول سی) اودا (جنت پیداکیدل لویه کامیابی ده (نوخامخا تاسی لره داسودا کول په کار دی) دغه (جهاد کوونکی داسی دی کوم چی دجهاد څخه علاوه په دی صفتونو دکمال سره موصوف دی چی دګناهونو څخه) توبه کښونکی دی (اودالله) عبادت کوونکی دی (اودالله) ثناویونکی (دی او) روژه نیونکی (دی او) رکوع اوسجده کوونکی (دی یعنی لمونځ کوی او) دنیکو خبرو تعلیم کوونکی (دی) اودبدو خبرو څخه منع کوونکی (دی) اودالله دحدودو (یعنی احکامو) خیال ساتونکی (دی) اوداسی مومنانو (په کوموکی چی دجهاد اودا صفتونه وی) ته خوشخبری واورووه (چی ددوی سره دا ذکر سوی وعده دجنت ده)

معلومات اومسئلي: دآیتونو تړون: په تیرو ایتونوکی دجهاد څخه دبی عذره پاته کیدونکی دبدوالی بیان وو په دی ایتونو کی دمجاهدینو دفضیلت بیان دی.

شان نزول: داکثرو تفسیر لیکونکو دوضاحت مطابق دا ایتونه په بیعت عقبه کی دشریك سوو اصحابو په باره کی نازل سوی دی کوم چی دهجرت څخه مخکی په مکه مکرمه کی دمدینی دانصارو څخه اخستل سوی وو په دی وجه دټول صورة مدنی کیدو باوجود دی ایتونو ته مکی ویل سوی دی.

عقبه دغره حصی ته وایی دلته هغه عقبه مراد ده کومه چی په منی کی دجمرهٔ عقبه سره دغره حصه ده (نن صبا دحاجیانو دډیروالی په وجه دغره داحصه یی صفاکړیده میدان یی ورځخه جوړکړی دی صرف جمره پاته سوي ده) په دی عقبه باندی دمدینی طیبی دحضراتو څخه دری واری بیعت اخستل سوی دی اول دپیغمبری په یولسم کال چی په دی کی شپږ حضرات مسلمانان سوی وه بیعت یی وکی اومدینی منوری ته ولاړل نودمدینی په کور کور کی دنبی کریم ﷺ اوداسلام آوازه خپره سوه په راتلونکی کال دحج په موسم کی دولس حضرات دلته جمع سول چی پنځه په کښی زاړه او اووه نوی وه ټولو بیعت وکی اوس په مدینه منوره کی دمسلمانانو خاص شمیر پیداسو چی دځلویښتو څخه زیات وو دوی درخواست وکی چی زمونږ سره دقرآن دویلو دپاره څوك راسره کړی نبی کریم ﷺ حضرت مصعب بن عمیر ﷺ د دوی سره ولیږی دوی موجوده مسلمانانو ته قرآن هم وایه اوتبلیغ به یی هم کوی چی ددی په نتیجه کی په مدینه منوره کی ډیری ډلی مسلمانی سوی.

ددی څخه وروسته دپیغمبری په دیارلسم کال اویا سړی او دوی ښځی دلته جمع سوی دادریم بیعت عقبه دی کوم چی اخری دی اوپه عام طور سره دبیعت عقبه څخه دابیعت مرادوی دابیعت داسلام په اصولی عقیدو اوعملونوسره اوپه خاص طور دکفارو سره په جهاد اوکله چی نبی کریم ﷺ هجرت وکی مدینی منوری ته ورسیږی نو د دوی په حفاظت او حمایت باندی واخستل سو په دی کی حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ عرض وکی چی یا رسول الله داوخت وعده کیږی تاسی چی کوم شرطونه دخپل رب متعلق یادځان متعلق کول غواړی نوهغه واضح کړی دوی وفرمایل چی زه دالله ﷻ دپاره خوداشرط ایږدم چی

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسی تول به دهغه عبادت کوی او دهغه څخه ماسوا به دبل چا عبادت نه کوی او دځان دپاره دا شرط دی چی زماحفاظت به داسی کوی لکه دخپلو ځانونو خپلو مالونو اواولاد حفاظت چی کوی دی خلګو پوښتنه وکړه چی که مونږ دادواړه شرطونه پوره کړل نومونږ ته به ددی په بدله کی څه راکول کیږی؟ دوی وفرمایل چی جنت به درکول کیږی داتول حضرات خوشحاله سول اووی ویل چی مونږ په دی سودا راضی یو اوداسی راضی یو چی نه به ددی په خپله دماتولو درخواست وکړو اونه به ددی ماتول خوښ کړو.

دلته چونکی په دی بیعت کی ظاهراً صورت دیوی دمعاملی په شان جوړ سو نو په دی دا ایت په لفظ دبیعی اودشراء نازل سو: إِنَّ اللهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ : داایت یی چی واوریدی نو دټولو څخه اول حضرت براء بن معرور ابو الهیثم او اسعد ﷺ دنبی کریم ﷺ په لاس مبارك باندی خپل لاس کښی ښووی چی مونږ په دی معامله تیاریو ستاحفاظت به دخپلو ښځو بچیانوپه شان کوو اوستا مقابلی ته که ددنیا ټول تور اوسپین جمع سی نومونږ به دټولو مقابله کوو.

دجهاد دټولو څخه اولنی دا ایت دی: په مکه معظمه کی دجهاد او قتال احکام نه وه داد ټولو څخه اولنی آیت دی کوم چی په مکه مکرمه کی دجنګ متعلق نازل سو اوپه دی عمل دهجرت څخه وروسته شروع سو ددی څخه وروسته دوهم آیت نازل سو: أُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقَاتَلُوْنَ کله چی دابیعت عقبه دمکی دقریشو کافرانو څخه پټ مکمل سو نو نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته دمکی مکرمی څخه مدینی ته دهجرت حکم وکی اوکرار کرار دصحابه کرامو دهجرت سلسله شروع سوه نبی کریم ﷺ دالله ﷻ دطرف څخه داجازه ورکول کیدو منتظر وو صدیق اکبر ﷺ دهجرت قصد وکی نو دوی دی دځان دپاره منع کی (داټوله واقعه په تفسیر مظهری کی په حواله سره ذکر ده)

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ (تر) فِي التَّوْرٰةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ ددی آیت څخه معلومیږی، چی دجهاد اوقتال حکم دټولو تیرو امتونودپاره هم په ټولوکتابونوکی نازل سوی وو اوداچی مشهوره ده چی په انجیل کی دجهادحکم نسته ممکنه ده چی وروسته خلګو کوم رد اوبدل په دی کی کړی دی دجهاد احکام یی ورڅخه خارج کړی وی. والله اعلم

فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمْ : دبیعت عقبه په دی واقعه کی چی کومه وعده دنبی کریم ﷺ سره وسوه ددی ښکاره صورت دبیعی اوشراء جوړسو په دی وجه دایت په شروع کی دشراء په لفظ سره ورڅخه تعبیر وسو په دی جمله کی مسلمانانوته خطاب کوی فرمایی چی دا معامله دبیعی ستاسی دپاره دنفع سودا اومبارکه ده څکه چی یوفانی شی ځان او مال ورکوی اوهمیشه باقی پاته کیدونکی شی درته درکول کیږی اوکه فکر وسی نوخرڅ خو صرف مال سی ځان یعنی روح خودمرګ څخه وروسته هم باقی وی اوهمیشه وی اوچی پرمال فکر وسی نودغه خو هم دالله ﷻ ورکړه ده انسان خودخپل پیدائش په وخت کی خالی لاس راغلی وو هغه دټول سامان اومال دولت دی مالك جوړ کړی دی خپله ورکړه یی داخرت دنعمتونو اودجنت عوض جوړکی اوجنت یی ورکی په دی وجه حضرت فاروق اعظم ﷺ فرمایی چی دا خو عجیبه بیعه ده چی مال او قیمت یی دواړه تاسی ته درکړل.

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی واوری ! داځنګه دنفع تجارت دی کوم چی الله ﷻ دهر مومن دپاره خلاص کړی دی، اوفرمایی چی الله ﷻ تاسی ته مال درکړی دی تاسی ددی څخه لږ خرڅ کی اوجنت واخلی (مظهری)

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلتَّائِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ: الایة داصفتونه دهغو مومنانو دی دکومو په باره کی چی دافرمایی چی الله ﷻ د دوی خانونه اومالونه دجنت په بدله کی اخستی دی ددی نزول دیوخاص جماعت دشریکانو دبیعت عقبه دپاره وو مگر مطلب دایت تولو مجاهدینو فی سبیل الله لره شامل دی اوکوم صفتونه چی د دوی په : اَلتَّائِبُوْنَ سره بیان سول دا دشرط په طور باندی نه دی ځکه چی دجنت وعده مطلق په جهاد فی سبیل الله سره راغلی ده ددی صفتونو دبیانولو ځخه مقصد دادی چی کوم خلک دجنت اهل وی د دوی داسی صفتونه وی خاص کر په بیعت عقبه کی دشریکو صحابه وو ﷺ دا حال وو .

د، اَلسَّآئِحُوْنَ معنی دجمهورو تفسیر لیکونکو په نزد د: صَآئِمُوْنَ یعنی دروژه دارو ده په اصل کی دالفظ دسیاحت ځخه را اخستل سوی دی داسلام ځخه مخکی دنصرانیت په دین کی سیاحت یوعبادت وگنل سو چی انسان خپل کورکلی پریږدی اودعبادت دپاره ووزی په اسلام کی دی ته رهبانیت وایی او ددی ځخه منع سوي ده ددی په ځای دروژی عبادت مقرر سو ځکه چی دسیاحت مقصد دنیا پریښوول وو روژه یوداسی شی دی چی په خپل کور کلی کی اوسی اوپه یومقرر وخت کی ددنیا تول خواهشات پریښوول وی او په دی بناباندی په ځینو روایتونوکی جهاد ته هم سیاحت ویل سوی دی ابن ماجه حاکم بیهقی په صحیح سند سره روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی ، سِیَاحَةُ اُمَّتِیْ اَلْجِهَادُ فِیْ سَبِیْلِ الله یعنی ددی امت سیاحت جهاد فی سبیل الله دی .

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی په قرآن کریم کی کوم ځای چی دسائحین لفظ راغلی دی ددی ځخه مراد دصائمین (روژه نیونکی) دی حضرت عکرمه ﷺ دسائحین په تفسیر کی فرمایی چی داطالب علم دی چی دعلم دطلب دپاره خپل کور کلی پریږدي ووزی (مظهری)

دلته دمومنانو مجاهدینو په صفتونو کی دعابدون حامدون تائبون سائحون راکعون ساجدون آمرون بالمعروف والناهون عن المنکر اووه صفتونو بیانولو ځخه وروسته اتم صفت : اَلْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ الله ، یی وفرمایی دا په حقیقت کی دتیرو ذکر سوو تولو صفتونو یو جمع کوونکی لفظ دی گویا په دی اوو صفتونو کی چی کوم ښوول سوی دی ددی خلاصه دا ده چی داخلګ په خپل هرکار اوخبره دالله ﷻ دحدونو یعنی شرعی احکامو پابینده وی اوحفاظت یی کوی .

دایت په اخر کی فرمایی ، وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ: یعنی دکومو مومنانو چی داصفتونه وی کوم چی لوړ بیان سول دوی ته ددا سی نعمتونو خوشخبری واوروه کوم چی دچاپه وهم اوخیال کی هم نه سی راتلی اونه په ځه عبارت سره دانبوول کیږی اونه دچا غوږونو ددی ذکر اوریدلی دی مراد ورځخه دجنت نعمتونه دی .

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ

لایق نه دی نبی لره اومسلمانانو چی بخښنه وغواری دمشرکانو که څه هم وی دغه خپلوان

بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۳﴾ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ

کله چی ښکاره سی دوی ته چی هغوی دی دوزخیان ، او بخښنه غوښتل

Maktaba Tul Ishaat.com

إِبْرٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ

دابراهیم ﷺ دخپل پلار دپاره نونه وو مگر دوعدی په سبب چی وعده سوی وه دده سره بیاچی کله ښکاره سوه ابراهیم

أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ۚ إِنَّ إِبْرٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾

ته چی هغه دښمن دی دالله ﷻ نوبیزاره سو ورځخه بیشکه ابراهیم ﷺ ډیر نرم زړه وو بردباره وو

لنډتفسیر: پیغمبر ﷺ ته اونورو مسلمانانو لره جائزنه دی چی دمشرکانو دپاره دبخښنی دعا غواړی که څه هم ددوی قریب (ولی نه) وی ددی کار دښکاره کیدوڅخه پس چی دغه خلګ دوزخیان دی (په دی وجه چی کافران مړه دی) او (که دابراهیم ﷺ دقصی څخه موشك وی چی دخپل پلار دپاره دبخښنی دعا یی کړی وه نوددی جواب دا دی چی) دابراهیم ﷺ دخپل پلار دپاره دبخښنی دعاغوښتل (هغه ددی څخه مخکی وه چی دهغه دوزخی کیدل ښکاره سواو) هغه (هم) صرف دوعدی په سبب وو کومه چی یی ورسره وعده کړی وه (په دی قول کی: سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي غرض داچی جوازخوپه دی ووچی دهغه دوزخی کیدل ښکاره سوی نه وه او وقوع ته په دی سره ترجیح ورکول سوی وه چی وعده یی کړی وه کنه نوسره دجواز څخه هم به وقوع نه وه سوی) بیاچی کله ده ته داخبره ښکاره سوه چی دغه دخدای دښمن (یعنی کافرمړ) دی نوهغه ددی څخه محض بی تعلقه سو (چی بخښنه غوښتل یی هم پریښوول ځکه چی په داسی وخت کی دعا کول بی معنی دی ځکه چی په کافرکی احتمال دبخښنی ګرسره سته نه په خلاف دژوندی څخه چی داوخت د بخښنی دعاکول طلب دتوفیق دهدایت کیدی سی چی دهدایت دتوفیق دپاره بخښنه لازمی ده اوپاته سوه داچی وعده یی ولی کړی وه وجه دهغه داده چی) واقعی ابراهیم ﷺ ډیر رحم دله اوبردباره وو (چی سره ددی چی پلار ده ته څومره سختی سختی خبری وکړی مګر دبردباری څخه یی کار واخستی او پردی سربیره یی دډیر شفقت دجوش څخه وعده وکړه اودنفع تراحتماله پوری یی داوعده پوره کړه کله چی نا امیده سو نوپاته یی کړه په خلاف دبخښنی ستاسی څخه چی دمشرکانو دمرګ څخه وروسته کیږی چی دشرك په حالت کی ددوی مړه کیدل ښکاره دی اولیدل سوی دی اوپه شرعی احکامو کی دومره ښکاره والی کافی دی بیاقیاس نه صحیح کیږی اوپه دی قیاس باندی شبهه بنا کیدی سی)

معلومات اومسئلي: ټول سورة توبه دکفارو اومشرکانو څخه دبیزاری اوځان جلا کولو پراحکامو باندی مشتمل دی دسورة شروع د: بَرَاءَةٌ مِّنَ اللهِ څخه سویده اوپه دی وجه ددی سورة یونوم سورة براءت هم مشهوره دی لوړ چی څومره بیان سو داپه دنیوی ژوند کی دکفارو اومشرکانو څخه دبیزاری اوقطع تعلق متعلق دی په دی آیت کی داحکم دبیزاری اوقطع تعلق داخرت دژوند دپاره راغلی دی چی دمرګ څخه وروسته دکافر او مشرك دپاره دبخښنی دعاکول هم جائزنه دی لکه چی ددی څخه مخکی په یوایت کی دمنافقانو دجنازی دلمانځه کولو څخه نبی کریم ﷺ منع سوی دی.

ددی آیت دنزول واقعه دصحیح بخاری اومسلم دروایت مطابق دا ده چی دنبی کریم ﷺ اکا ابوطالب که څه هم مسلمان سوی نه وو مګر ټول عمر یی دنبی کریم ﷺ ملګرتیا او حفاظت کوی اوپه دی معامله کی

Maktaba Tul Ishaat.com

یی دخاندان دیوتن خبره نه منله نبی کریم ﷺ به هم ددی خبری ډیر اهتمام کوی چی په یوډول سره دی داسلام کلمه ووایی اوایمان راوړی نو دشفاعت موقع به ماته راکول سی اودی به دجهنم دعذاب څخه خلاص سی دوفات په مرض کی چی کله دده اخری وخت سو نودنبی کریم ﷺ سره ډیر فکر وو چی که دا وخت هم دی کلمه ووایی نوکار به وسی چنانچی په دی حالت کی دی دده خواته ورسیدی مګر ابوجهل عبدالله بن امیه دمخکی څخه هلته موجود وه ده وفرمایل چی زما اکا! دلآ الهَ اللهُ کلمه ووایه نوزه به ستا دپخبنی دپاره کوشش وکړم مګر ابوجهل وویل چی ایاته به دعبدالمطلب دین پریږدی نبی کریم ﷺ ورته بیا بیا څوواری خپله کلمه وویله مګر په هروار به ورته ابوجهل داخبره کوله تردی چی په اخری خبره کی ابوطالب داوویل چی زه دعبدالمطلب پردین باندی یم اوپه دی حالت کی وفات سو نونبی کریم ﷺ قسم واخستی چی زه به ستا دپاره برابر بخښنه غواړم ترڅو چی زه ددی څخه منع نه سم په دی باندی دا ایت دممانعت نازل سوپه کوم کی چی نبی کریم ﷺ اوټول مسلمانان یی دکفارو اومشرکانو دپاره دبخښنی ددعا څخه منع کړل که څه هم هغوی نژدی قریب وی.

په دی باندی ځینو مسلمانانو ته داشك وسو چی حضرت ابراهیم ﷺ خوهم دخپل کافر پلار دپاره دعا کړی وه ددی په جواب کی دوهم آیت نازل سو: وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ الایه ددی خلاصه دا ده چی حضرت ابراهیم ﷺ چی دخپل پلار دپاره کومه دعا کړی وه ددی معامله داوه چی په شروع کی ترڅو پوری حضرت ابراهیم ﷺ ته دامعلومه نه وه چی تراخره پوری به پرکفر قائم وی پردی به مری نودده دوږخی کیدل یقینی نه وو دغه وخت دوی داوعده کړی وه چی زه به ستادپاره دمغفرت دعاکوم: سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّیْ بیاچی کله حضرت ابراهیم ﷺ ته داخبره بنکاره سوه چی دی دالله ﷻ دښمن دی یعنی پرکفر دده خاتمه سویده نودده څخه بی تعلقه سو اوبخښنه غوښتل یی پریښوول.

دقرآن مجید په مختلفو موقعو کی چی کوم دحضرت ابراهیم ﷺ دخپل پلار دپاره بخښنه غوښتل نقل دی هغه ټول پردی حمل کول په کار دی ، ددی مطلب به داوی چی ده ته دایمان اواسلام توفیق ورکړی چی دده بخښنه وسی.

داحد په غزا کی چی کله دنبی کریم ﷺ مخ مبارك کفارو زخمی کی نودوی دمخ مبارك څخه وینی صفا کولی اودا دعایی فرمایله: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِیْ اِنَّهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ: یعنی ای الله! زما قوم وبخښی دوی ناپوه دی دکفارو دپاره ددی دعا مطلب هم دا دی چی دوی ته دایمان توفیق ورکړی چی دبخښنی قابل سی.

امام قرطبی فرمایی چی ددی څخه ثابته سوه چی دژوندی کافر دپاره په دی نیت سره دبخښنی دعا کول جائزدی چی دوی ته دایمان توفیق وسی او دوی مستحق دبخښنی سی.

اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ: لفظ د ، اَوَّاهٌ دډیرو معانیو دپاره استعمالیږی قرطبی په دی کی پنځلس قولونه نقل کړی دی مګر دټولو معانیوی سره نژدی دی څه حقیقی اختلاف په کی نسته دهغه څخه یوڅو معانیوی دا دی ، ډیرآه کوونکی یادیره دعا کوونکی دالله ﷻ په بندګانو رحم کوونکی دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه دامعنی نقل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ

او الله داسی نه دی چی گمراه کړی یو قوم کله چی دوی پرلار کړی تر دی چی ښکاره نه کړی دوی ته هغه چی دوی ته

إِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ إِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ؕ

ورځخه ځان ساتل په کار وی بیشکه الله ﷻ په هرشی پوه دی ، دالله حکومت دی په آسمانونو اوپه مځکه کی

يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۱۶﴾

هغه ژوندی کوی اوهغه وژنی اوستاسی هیڅوک نسته دالله ﷻ ځخه ماسوا دوست اونه مددګار.

لنډتفسیر: او الله ﷻ داسی نه کوی چی یو قوم دهدایت کولو ځخه وروسته گمراه کړی ترڅو چی هغه شیان ورته صفا صفا ونه ښیی دکومو ځخه چی دوی لره ځان ساتل په کار وی (پس هرکله چی مونږ تاسی مسلمانانو ته هدایت وکی او ددی ځخه مخکی مونږ تاسی ته دمشرکانو دپاره دبخښنی غوښتلو ممانعت نه وو ښوولی نو ددی په کولو سره به تاسی ته دا سزا نه درکول کیږی ، چی په تاسی کی دګمراهی ماده پیداکړی) بیشکه الله ﷻ هر شی ښه پیژنی (نو هغه په دی هم پوه دی چی بغیر زما دښوونی ځخه داسی حکمونه هیڅوک نه پیژنی نو په دی وجه په داسی کارونو سره موضرر رسیدونه هم نه پریږدی او) بیشکه دالله ﷻ حکومت دی په آسمانونو او په مځکه کی هغه ژوندی کوی اوهغه مړه کوی (یعنی دهرڅه حکومت اوقدرت هغه لره خاص دی په دی وجه چی څه غواړی حکم یی کوی اود کم ضرر ځخه چی غواړی خلاصولی موسی) اوستاسی دالله ﷻ ځخه ماسوانه ځوک دوست سته اونه مددګار سته (بلکه هغه یار.اومددګاردی په دی وجه دمنع ځخه مخکی تاسی دضرر ځخه ساتی اوکه تاسی وروسته دمنع ځخه حکم ونه منی نوبل ځوک خلاصوونکی ستاسی نسته)

لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ

الله ﷻ مهربانه سو په نبی باندی اوپه مهاجرینو اوپه انصارو باندی کوموچی ملګرتیا وکړه دنبی

فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ

په مشکل وخت کی وروسته تردی چی نژدی وه چی واپس سی زړونه دځینو د دوی ځخه ،

ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ؕ إِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۷﴾ وَعَلَى الثَّلٰثَةِ

بیا مهربانه سو په دوی باندی . بیشکه هغه په دوی مهربانه دی رحم کوونکی دی ، او په دغودروتنو باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ

کوم چی وروسته سوی وه تردی پوری چی کله تنګه سوه په دوی باندی مخکه سره دفراخی څخه

وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْۤا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّاۤ

اوتنګ سوه په دوی باندی د دوی ځانونه او پوه سوه چی هیڅ ځای دپناه نسته دالله څخه مګر

اِلَيْهِ ؕ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۱۸﴾

دهغه سره دی ، بیا مهربانه سو په دوی چی دوی بیرته ورسی بیشکه الله ﷻ دی مهربانه رحم والا ،

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾

ای ایماندارو! بیره کوی دالله ﷻ څخه اوسی سره درښتینو

لنډتفسیر: الله ﷻ دپیغمبر ﷺ پرحال مهربانی وفرمایله (چی دوی ته یی نبوت اوامامت دجهاد اوټولی خوبی ورکړی) اودمهاجرینو اوانصارو پرحال یی هم (یی مهربانی وفرمایله چی دوی یی په داسی سخت جهاد کی ثابت قدم وساتل) کومو چی ددا سی تنګی په وخت کی دپیغمبر ملګرتیا وکړه وروسته ددی څخه چی ددوی څخه دیوی ډلی په زړونو کی نښوییدل راغلی وه (اوجهاد ته دتلو څخه همت بایلونکی وه مګر) بیا الله ددغو (ډلی) پر حال رحم وفرمایی (چی دوی تیار سول اواخر ملګری سول ورسره پس) بیشکه الله ﷻ په ټولو ډیر مشفق مهربانه دی (چی دخپلی مهربانی څخه یی دهر یوه پرحاجل باندی څنګه څنګه توجه وفرمایله) اودهغو دروکسانوپه حال هم (یی توجه وفرمایله) دکومو معامله چی وروسته سوی وه تردی چی کله (ددوی پریشانی دی حد ته ورسیده چی) مخکه سره دخپلی (دومره لویی) فراخی په دوی تنګه سوه او دوی په خپله دخپلو ځانونو څخه تنګ سول او دوی پوه سول چی دخدای (دګرفت) څخه هیڅ ځای پناه نه سی ورکول کیدی بغیر ددی څخه چی دهغه طرف ته رجوع وسی (دغه وخت دوی دخاص توجه قابل سول) بیا د دوی په حال یی (هم خاص) توجه وفرمایله چی دوی په راتلونکی وخت کی هم (په داسی موقعو دمصیبت اونافرمانی کی دالله ﷻ طرف ته) رجوع کوی بیشکه الله ﷻ ډیر توجه کوونکی لوی رحم کوونکی دی ای ایماندارو! دالله ﷻ څخه بیره کوی او (په عمل کی) درښتنو سره سی (یعنی کوم چی په نیت اوخبره کی رښتنی وی دهغوی په لاره ځی چی تاسی هم رښتنی سی)

معلومات اومسئلي: ددی ځای څخه یوځو ایتونه مخکی دایت ، وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا: په بیان کی دالیکل سوی وه چی دتبوک غزاته دوتلودپاره ټولومسلمانانوته دعام حکم کیدو په وخت کی دمدینی خلګ پنځه قسمه جوړسوی وه دوه قسمونه دمنافقانو وه چی بیان یی په تیرو ایتونوکی په تفصیل سره تیر سوی دی په ذکرسوو ایتونوکی دمخلصو مومنانو ددرو قسمونو ذکردی اول هغه خلګ چی جهاد دحکم

کیدو سره فوراً تیار سول ددوی بیان دذکرسوی آیت په اولنی جمله کی دی چی: اِتَّبَعُوهُ فِی سَاعَةِ الْعُسْرَةِ دوهم هغه خلگ چی په اول کی په څه تردد کی وه مگر بیاسم سوه او دجهاد دپاره دتولو سره یو ځای سوه ددوی بیان ددی آیت په دی جمله کی دی چی: مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ دریم هغه مومنان وه کوم چی که څه هم دوقتی سستی اوناراستی په وجه سره جهادته ولانه ړل لیکن وروسته ستومانه اوتوبه گار سول اواخر ددی تولو توبه قبوله سوه مگر په دوی کی هم بیا دوه قسمه سوی وه داتول لس کسان وه چی په دوی کی اوو ۷ کسانو خود نبی کریم ﷺ دواپسی سره فوراً دخپلی پښیمانی اوتوبی اظهاریی په داسی شان سره وکی چی خپل ځانونه یی دمسجد نبوی په ستنو پوری وترل چی ترڅو پوری زمونږ توبه قبوله نه سی ترهغه پوری به مونږ بندیو ددوی دتوبی آیت خوپه دغه وخت نازل سو چی بیان یی مخکی سوی دی دری کسان په کی هغه وه کومو چی داکار ونه کی ددوی په باره کی نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته ددوی سره دقطع تعلق حکم وکی چی څوك ددوی سره سلام اوکلام مه کوئ په دی سره داحضرات ډیر پریشانه سول ددوی ذکر په دوهم آیت: وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا کی سوی دی چی په دی کی اخر ددوی دتوبی قبلیدو بیان دی اوپه دی سره یی ددوی سره دقطع تعلق حکم ختم کی: لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِی سَاعَةِ الْعُسْرَةِ یعنی الله ﷻ توبه قبوله کړه دنبی کریم ﷺ اودهغو مهاجرینو اوانصارو کومو چی دتنگی اوتکلیف په وخت کی دنبی کریم ﷺ تابعداری وکړه.

دلته داسوال پیدا کیږی چی توبه خودگناه اونافرمانی په وجه سره وی نبی کریم ﷺ خود دی څخه پاك دی دده دتوبی قبلولو څه مطلب دی ددی څخه علاوه کوم صحابه کرام انصار اومهاجرین چی داول څخه دجهاد دپاره تیارسول دوی خوهم څه قصور نه وو کړی ددوی توبه دکوم جرم وه چی قبوله سوه؟

جواب: دا دی چی الله ﷻ دا ټول دگناه څخه وساتل نوددی څخه یی تعبیر دتوبی په نوم سره وکی یاداچی داټول حضرات الله ﷻ تواب جوړکړل په دی کی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی دتوبی دحاجت اوضرورت څخه هیڅ یوسړی بی حاجته نه دی تردی چی نبی کریم ﷺ اوددوی مخصوص صحابه هم لکه چی په یوبل آیت کی دی: وَتُوبُوا إِلَى اللّٰهِ جَمِيعًا یعنی توبه وکاږی الله ﷻ ته ټول په جمع وجه داده چی الله ﷻ ته دنږدیکت درجی بی حسابه دی کوم سړی چی کوم مقام ته ورسیږی ددی څخه مخ ته هم ددی څخه لوړ مقام سته چی ددی په مقابله کی پرموجوده مقام دریدل یونقص اوکوتاهی ده مولانا رومی رحمه الله دا مضمون په یوشعر کی داسی بیان کړی دی.

ای برادر بی نهایت درگی است هرچه بروی می رسی بروی مائیست

ای برادره! الله ﷻ ته درسیدو درجی ډیری زیاتی دی نوته چی کمی یوی درجی ته ورسیږی په هغی مه دریږه مخ ته نور کوشش کوپه دی وجه په موجوده مقام کی دتوبی ضرورت دی چی مخ ته بل مقام حاصل سی سَاعَةِ الْعُسْرَةِ ددی جهاد موقع قرآن کریم په: ساعة العسرة سره تعبیر کړي ده څکه چی مسلمانان دغه وخت په غربت اوتنگی کی وه حسن بصری رحمه الله فرمایی چی دلسو کسانو دپاره یوه سپرلی وه چی په وار وار به باندی سپریدل دسفر توښه هم کمه وه او معمولی وه بل طرف ته سخته گرمی وه اوبه هم پرلاره په خینو خینو ځایو کی اولږی وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ : په دی کی چی کوم دځینوخلکو دزړونو ښویدل بیان کړی دی ددی ځخه مراددین ځخه ګرځیدل نه دی بلکه دموسم دسختی اوکموالی داسباب په سبب همت بایللی دی اودجهاد ځخه خان پاته کول دی دحدیثونو روایتونه په دی شاهد دی ددی قصور ځخه د دوی توبه قبوله سوه .

وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا : په دی کی د ، خُلِّفُوا لفظی معنی دا ده چی کوم وروسته سوی وه مراد دا دی چی دکومو دتوبی معامله چی وروسته سوی وه هغه دادری حضرات حضرت کعب بن مالك ﷺ شاعر مراره بن ربیع ﷺ او هلا ل بن امیه ﷺ دی دا دری سره انصاری مشران دی کوم چی ددی ځخه مخکی په بیعت عقبه اودنبی کریم ﷺ سره په نورو غزاګانو کی شریك سوی وه مګرداوخت په اتفاقی طورسره په دی خطاکی اخته سول اوکوم منافقان چی په دی جهاد کی دمنافقت په وجه شریك سوی نه وه دوی هم دوی ته داسی مشوری ورکولی چی ددوی همتونه باندی مات سول مګر کله چی نبی کریم ﷺ ددی جهاد ځخه بیرته راغی نو دغه ټول منافقان حاضر سول د درواغو عذرونه یی وکړل اوپه دروغو یی قسمونه اخستل او دنبی کریم ﷺ راضی کول یی وغوښتل نبی کریم ﷺ ددوی باطنی حالات الله ﷻ ته وسپارل او د دوی ظاهری قسمونه یی قبول کړل اودغه خلګ په ارام سره اوسیدل ځینی خلګو دی انصارو مشرانوته هم دامشوره ورکړه چی تاسی هم ددروغو عذر وکی اوخپله صفایی پیش کړی مګر ددوی زړونو دوی ملامت کړل چی یوه ګناه مو دجهاد ځخه دپاته کیدوکړې ده اوس دوهمه ګناه دنبی کریم ﷺ په مخکی ددروغو ویلو کوی په دی وجه یی دخپل قصور صفا صفا اقرار وکی چی ددی په سزاکی ددوی سره دسلام کلام قطع کولو حکم جاری سو انجام یی داسو چی الله ﷻ په خپل کلام کی ددی ټولو حقیقت ښکاره کی ددروغو دقسمونو اخستونکو اوعذرکوونکو پرده یی هم ښکاره کړه چې ددوی ذکر اوبد انجام یی په مخکی ډیرو ایتونوکی ، يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ځخه تر: عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ : پوری بیان سوی دی اودی دری تنو مشرانو چی رښتیا وویل اواقرار یی وکی نوددوی توبه په دی آیت کی نازله سوه اوپنځوس ورځی ورځخه دنبی کریم ﷺ دمخ اړولو اوداصحابو ورسره دسلام کلام قطع کولو انتهایی سخت مصیبت تیرولو ځخه وروسته په ډیره سرخ رویی اومبارکبادیوسره په نبی کریم ﷺ اوټولو مسلمانانو کی مقبول سوه .

د دری واړو انصاری مشرانو واقعه په تفصیل سره دصحیح احادیثو ځخه: په صحیح بخاری اومسلم اواکثرو کتابونو دحدیثوکی ددی واقعی متعلق دحضرت کعب بن مالك ﷺ یواوږد حدیث لیکلی دی چی په ډیرو فائدو مسئلو او حقیقتونو باندی مشتمل دی په دی وجه مناسبه معلومه سوه چی ددغه حدیث پوره ترجمه دلته نقل سی په دی درو مشرانو کی یوکعب بن مالك ﷺ وو دوی خپله واقعه په تفصیل سره داسی ښوولی ده .

نبی کریم ﷺ چی په ځومره غزاګانو کی شرکت کړی دی په دی ټولوکی بغیر دتبوك دغزا ځخه ددوی سره شریك سوی یم البته دبدر واقعه چونکی ناڅاپه پیښه سوی وه اونبی کریم ﷺ ټولوته په دی کی دشریکیدو حکم هم نه وو کړی اوپرنه شریك کیدونکو یی څه بدهم نه وه فرمایلی په دی کی هم نه وم شریك سوی اوزه دلیلة العقبه په بیعت کی هم حاضروم په کوم کی چی مونږ داسلام دمرستی اوحفاظت

Maktaba Tul Ishaat.com

وعده کړی وه او ماته دا دبیعت عقبه حاضری دبدر دغزا دحاضری څخه هم زیاته محبوبه ده که څه هم دبدر غزا په خلګو کی زیاته مشهوره ده اوزما واقعه دتبوك په غزاکی دغیر حاضری داده چی زه هیڅ وخت هم ددغه وخت څخه زیات خوشحال اومالدارنه وم په خدای قسم دی چی زماسره هیڅکله هم ددی څخه مخکی دوی سپرلی نه وی جمع سوی کومی چی دغه وخت موجودی وی.

اودنبی کریم ﷺ عادت شریف دغزاګانوپه باره کی داوو چی دمدینی څخه دوتلوپه وخت کی به یی دخپلی ارادی دپټولو دپاره داسی کول چی کوم طرف ته به جهاد کولوته تلی د هغه مخالف طرف ته به وتی چی منافقان مخبری ونه کړی اومقابل فریق خبرنه کړی او فرمایل به یی چی په جنګ کی داسی دوکه جائزده تردی چی دتبوك دغزا داواقعه پیښه سوه «داجهاد په څو وجهو ممتاز وو» دوی دسختی ګرمی اوتنګدستی په حالت کی ددی جهاد قصد وفرمایی اوسفر هم ډیر لیری وو په مقابله کی ددښمن قوت اوشمیر هم زیات وو په دی وجه نبی کریم ﷺ ددی جهاد په ډاګه اعلان وکی چی مسلمانان ددی جهاد دپاره پوره تیاری وکړی.

په دی جهاد کی دشریکیدونکو شمیر دصحیح مسلم دروایت مطابق دلسو زرو څخه زیات وو اودحاکم روایت دحضرت معاذ څخه دادی چی مونږ په دی جهاد کی دنبی کریم ﷺ سره ووتلو نو زمونږ شمیر د دیرشو زرو څخه زیات وو.

او په دی جهاد کی دوتونکو فهرست هم نه وو لیکل سوی په دی وجه کوموخلګو چی په جهادکی تلل نه غوښتل هغوی ته داموقع ورکول سوه چی که مونږولاړنه سونوځوك به خبر نه سی څه وخت چی نبی کریم ﷺ دی جهادته ووتی نوداهغه وخت ووچی خرماپخی وی دباغونوخاوندان په دی کی مشغول وه په دی حالت کی نبی کریم ﷺ اوعامومسلمانانو دسفر تیاری شروع کړی اودجمعرات په ورځ نبی کریم ﷺ ددی سفر شروع وکړه اودسفردپاره دنبی کریم ﷺ دجمعرات ورځ خوښه وه برابره خبره ده که دجهادوواوکه بل مقصد زماحال داوو چی مابه روزانه سهار اراده کوله چی دجهادتیاری وکړم مګر بغیر دڅه تیاری څخه به بیرته راغلم مابه په زړه کی ویل چی پرجهاد قادریم ماته وتل پکاردی مګر هم دغسی په نن اوصباکی به زما اراده وروسته کیده تردی چی نبی کریم ﷺ اوعام مسلمانان دجهاد دپاره روان سول بیابه هم زماپه زړه کی داراتله چی زه به هم روان سم اوپه لاره کی به ورسره یوځای ووینم اوکاشکی چی ماداسی کړی وای لیکن افسوس چی داکار ونه سو.

دنبی کریم ﷺ دتشریف وړلوڅخه وروسته چی به کله زه په مدینه کی یوځای تلم نودی خبری به غمجن کولم چی دغه وخت په ټوله مدینه کی یاخو هغه خلګ په نظر راتلل کوم چی په نفاق کی ډوب وه اویابیا داسی معذوران اوناجوړان چی قطعًا دسفر قابل نه وه بل طرف ته په ټوله لاره کی نبی کریم ﷺ ته زما خیال هیڅ ورنغی تردی چی تبوك ته ورسیدل دغه وخت دوی په یومجلس کی ذکر وکی چی کعب بن مالك ﷺ ته څه وسوه؟ «هغه چیری دی» ؟

دبنوسلمه دخلګوڅخه یوه تن وویل یارسول الله! هغه دجهادڅخه دهغه بنوجامو اوهغوته نظرکولو پاته کړی دی حضرت معاذبن جبل ﷺ عرض وکی چی تا دا بده خبره وکړه یارسول الله! په خدای قسم دی مابه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه کی دخیر څخه ماسوا هیڅ نه دی پیدا کړی په دی اوریدو سره نبی کریم ﷺ خاموش سو.
حضرت کعب ؓ بیان کوی چی کله ماته داخبر راکول سو چی نبی کریم ﷺ بیرته تشریف راوړی نوزما سره
دیر فکر سو اونژدی وه چی مادخپلی غیرِ حاضری څه عذر دبیری څخه تیار کړی وای چی دهغو په وجه
زه دنبی کریم ﷺ دناراضتیا څخه وتلی وای اوددی دپاره می دخپل اهل اودوستانو څخه هم مدد اخستی
سوای (زماپه زړه کی داخیالات او وسوسی گرځیدی) تردی چی کله داخبر راغی چی نبی کریم ﷺ تشریف
راوړی دی نودا فاسد خیالات زما دزړه څخه ووتل اوزه پوه سوم چی زه ددوی دناراضتیا څخه په څه
داسی خبره باندی نه سم وتلی چی په هغه کی دروغ وی په دی وجه مابالکل دربنتیا ویلو قصد وکی چی
ماصرف ربنتیا خلاصولی سی.
نبی کریم ﷺ چی بیرته تشریف راوړی نودعادت مطابق دځانښت په وخت کی یعنی دسهار لمر لږ لوړ راتلو
په وخت کی مدینی ته داخل سو اوعادت شریف یی هم داوو چی دسفر څخه په بیرته راتلوکی به په عام
طورسره په دی وخت کلی ته راتلی اودا عادت شریف یی وو چی اول به جمات ته تلی اودوه رکعاته به یی
کړل بیابه دحضرت فاطمی ؓ کره تلی بیابه دپاکو بیبیانو کورونو ته تلی.
ددی عادت مطابق اول چی دوی جمات ته تشریف یو وړی دوه رکعاته یی وکړل بیاپه جمات کی
کښینستی کله چی خلگو داولیدل نودتبوک غزاته چی کوم منافقان نه وه تللی اوشمیریی داتیاوو څخه
څه لوړ وو په خدمت کی حاضرسول ددروغو عذرونه یی جوړکړل اوپه دروغ باندی یی قسمونه اخستل
نبی کریم ﷺ د دوی ظاهری قول او اقرار او قسمونه قبول کړل او بیعت یی ورسره وکی او د دوی دپاره یی
دبخښنی دعا وغوښتله او ددوی باطنی حالات یی الله ﷻ ته وسپارل.
په دغه حال کی زه هم په خدمت کی حاضر سوم اوتلم تلم چی مخ ته ورته کښینستم کله چی ماسلام
واچوی نونبی کریم ﷺ داسی مسکی سولکه چی کله کله ناراضه سړی مسکی کیږی اوپه څینو
روایتونوکی دی چی نبی کریم ﷺ خپل مخ مبارك واړوی نوماعرض وکی چی یارسول الله ﷺ تاسی زما
څخه مخ مبارك ولی اړوی په خدای قسم دی مانفاق نه دی کړی اونه ددین په معامله کی په څه شك
اوشبهه کی اخته سوی یم اونه می څه تبدیلی په کښی کړې ده دوی وفرمایل چی بیا جهاد ته ولی نه
تلی؟ ایا تا سپرلی نه وه اخستی؟ ماعرض وکی چی بیشکه یارسول الله ﷺ که ستاسی څخه ماسوا ددنیا
دبل سړی په مخکی ناست وای نوزما یقین دی چی مابه څه عذر جوړ کړی وای اودهغه دناراضتیا څخه
به می ځان خلاص کړی وای څکه چی ماته په جگړه اوخبره جوړولوکی مهارت حاصل دی لیکن قسم دی
په الله چی زه په دی پوه یم چی که ماتاته څه دروغ خبره وویله چی ته باندی په دغه وخت کی راضی سی
نوخه لیری نه ده چی الله ﷻ صحیح حالات تاته ښکاره کړی او زما څخه خفه سی او که زه ربنتیا خبره
وکړم او ته باندی خفه هم سی خو زما امید دی چی الله ﷻ به مامعاف کړی صحیح خبره دا ده چی جهاد
ته دنه تلو زما هیڅ عذر نه وو زه په هیڅ وخت کی هم په مالی اوجسمانی طور سره دومره قوی اومالدار
نه وم څومره چی دا وخت وم.
نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دی سړی خورښتیا وویل بیایی وفرمایل چی ښه ده څه تردی چی الله ﷻ ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

متعلق څه فیصله وکړی زه ددغه ځای څخه ولاړ سوم نو دبنی سلمه یو څوسړی په ماپسی سوه اووی ویل چی ددی څخه مخکی خوزمونږ په علم کی تاځه ګناه نه ده کړی داتاځه بی عقلی وکړه چی داوخت یوعذر کړی وای لکه چی نورو پاته سوو وکی اوستا دګناه دمعافی دپاره دنبی کریم ﷺ استغفار کول به کافی سوی وای په خدای قسم دی چی دی خلګو بار بار زه ملامتولم تردی چی زماپه زړه کی داخیال راغی چی زه بیرته ورسم اوعرض وکړم چی ماکومه خبره اول کړی وه هغه غلطه وه زماصحیح عذر موجود وو.

مګر ما بیاپه زړه کی وویل چی زه دیوګناه څخه دوه ګناهونه نه سم جوړولی چی یوه ګناه راڅخه دپاته کیدو وسوه اوبله ګناه ددروغو ویلو وکړم بیا ماددغو خلګو څخه پوښتنه وکړه چی په پاته کیدونکو کی څوک بل هم زما سره سته چی هغه دخپل جرم اقرار کړی وی؟ دی خلګو وویل چی دوه کسان نورهم دی کوموچی ستاپه شان دجرم اقرار کړی دی او دوی ته هم دغه جواب ورکول سوي دی کوم چی تاته درکړل سوي دی (چی دالله ﷻ دفیصلی انتظارکوئ) ما پوښتنه وکړه چی دغه دوه کسان څوک دی دوی وویل چی یومراره ابن ربیع العمری دوهم هلال بن امیه واقفی دی.

دابن ابی حاتم په روایت کی دی چی په دوی کی دمراره ابن ربیع ﷺ دپاته کیدو خو دا سبب سو چی دده یوباغ وو چی میوه یی داوخت پخیده نوده په خپل زړه کی وویل چی تا ددی څخه مخکی په دیرو غزاګانوکی حصه اخستی ده که په دی پیره ولاړ نه سی نوداڅه جرم دی؟ ددی څخه وروسته چی دی کله په خپله ګناه باندی پوه سو نو ده دالله ﷻ سره وعده وکړه چی داباغ ما دالله ﷻ په لاره کی صدقه کی.

او دبل بزرګ حضرت هلال بن امیه ﷺ واقعه داسی وسوه چی ددده اهل او عیال دپیره موده ددده څخه جلاوو اوپه دی موقع ټول جمع سول نو دا خیال یی وکی چی په دی کال زه جهاد ته نه څم اودخپل اهل اوعیال سره یی تیروم دی چی هم کله په خپله ګناه پوه سو نوده دا وعده وکړه چی اوس به زه دخپل اهل اوعیال څخه جلا اوسم.

کعب بن مالك ﷺ فرمایی چی دی خلګو ددا سی دوو مشرانو ذکروکی کوم چی دبدر دغزا په مجاهدینو کی دی نوما وویل، چی بس زما دپاره ددی دواړو بزرګانو داکار دتقلید دپاره کافی دی، دا می وویل او خپل کور ته بیرته ولاړم.

اخواته نبی کریم ﷺ صحابه کرام زمونږ درو واړو سره دسلام کلام څخه منع کړل دغه وخت خو زمونږ دټولو مسلمانانوسره هم دغه شان محبت وو مګر ددی ټولو مخ مونږ څخه ګرځیدلی وو دابن ابی شیبه ﷺ په روایت کی دی چی اوس زمونږ حال داسی سو چی که مونږ به دچا خواته ځو ددی کیدو نو نه به چا زمونږ سره خبری کولی نه به یی سلام اچوی او نه به یی دسلام جواب را کوی.

په مسند عبد الرزاق کی دی چی دغه وخت زمونږ دنیا بالکل بدله سوه داسی معلومیده چی نه هغه خلګ سته کوم چی مخکی وه نه زمونږ باغونه اوکورونه هغه دی کوم چی مخکی وه ټول په دی شکاریدل زما سره ترټولو لوی فکر داوو چی که زه په دی حال کی مړسم نونبی کریم ﷺ به زما دجنازی لمونځ نه کوی یاخدای مه کړه که په دی وخت نبی کریم ﷺ وفات سی نو زه به ټول عمر دغه شان په خلګوکی ذلیل او خوار ګرځم په دی وجه ماته ټوله مخکه په دی او خرابه په نظر راتله په داسی حاجل کی په مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځوس شپی تیری سوی په دی زمانه کی زما ددواړو ملګرو (مراره ﷺ اوهلال ﷺ) زړونه خومات سول په کورونو کی کښینستل اوشپه ورځ به یی ژړل لیکن زه ځوان سړی وم دباندی به راووتم اوګرځیدم به اوپه لمانځه کی به دټولو مسلمانانو سره شریکیدم اوپه بازارونو کی به ګرځیدم مګرنه به چا زماسره خبری کولی اونه به یی زما دسلام جواب راکوی دنبی کریم ﷺ مجلس ته به دلمانځه ځخه وروسته حاضر سوم اوسلام به می وکی نوکتل به می چی دنبی کریم ﷺ شوندی مبارکی دجواب دپاره ښوری اوکه نه بیابه زه د دوی خواته نژدی په لمانځه ودریدم نو په پټ نظر سره به می ورته کتل نو داسی به معلومیده چی کله زه په لمانځه کی مشغولیږم نو دوی ماته ګوری او کله چی ورته زه ګورم نو مخ مبارک رانه اړوی.

کله چی دخلګو دابی وفایی اوږده سوه نوزه دخپل اکازوی قتاده ﷺ خواته ولاړم چی زما دټولوځخه زیات دوست ووزه دده باغ ته پردیوال باندی وروختم اوده ته می سلام واچوی په خدای قسم دی! چی ده هم زمادسلام جواب رانه کی ماپوښتنه ورځخه وکړه چی ای قتاده ﷺ! ایاتاته نه ده معلومه چی زه دالله ﷻ او رسول الله ﷺ سره محبت ساتم په دی هم قتاده ﷺ خاموش وو هیڅ جواب یی رانه کی کله چی ورځخه مابار بار داپوښتنه وکړه نوپه دریم یاځلورم وار یی داجواب راکی چی الله ﷻ پوه دی اودهغه رسول زه په ژړاسوم اوبیرته پردیوال راوختم په دی زمانه کی زه یوه ورځ دمدینی په بازارکی روان وم چی ناڅاپه دشام یونبطی سړی چی دغلی خرڅولو دپاره دشام ځخه مدینی ته راغلی وو دی می ولیدی چی دخلګو ځخه پوښتنه کوی چی ایا څوک ماته دکعب بن مالك ﷺ پته ښوولی سی؟ خلګو چی زه ولیدم نوزما طرف ته یی اشاره وکړه دغه سړی ماته راغی او ماته یی دغسان بادشاه یوخط راکی چی دوریښمو پر روما ل لیکل سوی وو او مضمون دا وو.

(نوماته داخبر رارسیدلی دی چی ستاسی نبی ستاسره بی وفایی وکړه اوته یی دځان ځخه لیری کړی یی الله ﷻ ته دذلت او هلاکت په ځای کی نه یی اینبی ته که مونږ ته راتلل غواړی نوراسه مونږبه ستامدد وکو)

ماچی کله داخط ووایه نوومی ویل چی دایوبل امتحان او ازمائش راغی چی دکافرانو زماځخه داطمع او امید پیدا سو (چی زه ددوی سره ووینم) ماداخط واخستی مخ ته ولاړم په یو دکان کی تنور بلیدی هغه تنور ته می دغه خط ورواچوی.

حضرت کعب ﷺ فرمایی چی کله په پنځوسو کی څلویښت شپی تیری سوی نو ناڅاپه می ولیدل چی دنبی کریم ﷺ یوقاصد خزیمه بن ثابت ﷺ ماته راروان دی راغی دایی وویل چی نبی کریم ﷺ دا حکم کړی دی، چی تاسی دخپلو بیبیانو ځخه جلاسی ماپوښتنه وکړه چی ایاطلاق ورکړو اوکه څه وکړو دوی وویل چی نه عملاً د دوی ځخه جلاسی نژدی مه ورځی دغه شان حکم زمادوو ملګرو ته هم رسیدلی وو ماخپلی بی بی ته وویل چی ته دخپل پلار کورته ولاړه سه اوهلته اوسه ترهغه چی خدای پاك څه فیصله وفرمایی.

دهلال بن امیه ﷺ بی بی خوله بنت عاصم چی داحکم واوریدی نودنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضره سوه اوعرض یی وکی چی هلال بن امیه ډیر کمزوری اوضعیف سړی دی او دده څوك خدمتګار نسته دابن ابی شیبه په روایت کی داهم دی چی دده نظر هم خراب دی ایا تاسی دانه خوښوی چی زه دده خدمت وکړم؟ حضور ﷺ وفرمایل چی دخدمت کولو ممانعت نسته البته چی دی تاته نژدی نه سی دی عرض وکی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی هغه خو دزورِوالی په وجه داسی سوی دی چی په ده کی څه حرکت نسته اوپه الله ﷻ قسم دی چی هغه خو شپه او ورځ ژاړی.

کعب بن مالك ﷺ فرمایی چی ماته هم زما ځینو تعلقدارانو مشوره راکړه چی ته هم دنبی کریم ﷺ څخه دښځی دځان سره دساتلو اجازه واخله لکه چی هلال بن امیه ﷺ ته چی یی ورکړه ماوویل چی زه داسی نه سم کولی معلومه نه ده چی نبی کریم ﷺ به څه جواب راکوی اوددی څخه علاوه زه څوان سړی یم (نښځه دځان سره ساتل داحتیاط څخه خلاف ده) چنانچی پردی حال باندی مالس شپی نوری تیری کړی تردی چی پنځوس شپی مکملی سوی په مسند عبدالرزاق کی دی چی داوخت زمونږ توبه ددریمی حصی شپی تیریدو په وخت کی نازله سوه دمومنانو مور حضرت ام سلمه ﷺ کومه چی دغه وخت حاضره وه هغی عرض وکی چی که اجازه وی نوچی کعب بن مالك ﷺ دا وخت خبر سی حضور ﷺ وفرمایل چی که داسی وسوه نو اوس به دخلګو یو غوبل جوړ سی او دشپی خوب به مشکل سی.

کعب بن مالك ﷺ فرمایی چی دپنځوسمی شپی دسهار لمونځ چی می وکی نودخپل کور په چت باندی ناست وم اوحالت می دغه وو دکوم ذکر چی الله ﷻ په قرآن کریم کی کړی دی چی پرما زما ځان اومخکه سره دفراخی تنګه سوی وه چی ناڅاپه مادسلع دغر څخه دیوچا چیغی وهونکی سړی اواز واوریدی چی په لوړ اواز سره یی ویل ای کعب بن مالکه! مبارك سه.

دمحمد بن عمرو په روایت کی دی چی داپه چیغه اواز کوونکی ابوبکر ﷺ وو کوم چی دسلع غره ته وختی دا اواز یی وکی چی الله ﷻ دکعب ﷺ توبه قبوله کړه مبارك دی سه او دعقبه ﷺ په روایت کی دی چی حضرت کعب ﷺ ته دخوشخبری اوریدلو دپاره دوه سړی په منډه سول په دوی کی یومخکی سو نوکوم چی وروسته پاته سو هغه داسی وکړه چی سلع غره ته وختی اواز یی ورکی او ویل یی چی دا دواړه بزرګان چی منډی یی وهلی یو حضرت صدیق اکبر ﷺ اوبل حضرت فاروق اعظم ﷺ.

کعب بن مالك ﷺ فرمایی چی دا اوازمی واوریدی نوپرسجده پریوتم او ډډیری خوشحالی څخه په ژړاسوم اوماته معلومه سوه چی اوس فراخی راغله نبی کریم ﷺ دسهار دلمانځه څخه وروسته صحابه کرامو ته زمونږ دتوبی خبر ورکړی وو اوس دهرطرف څخه خلګ مونږ دری واړوته دمبارکی ورکولو دپاره رامات وه ځینی خلګ په اسونو سره ماته را ورسیده مګر دغره څخه داواز کوونکی اواز دټولو څخه اول ماته راورسیدی.

کعب بن مالك ﷺ وایی چی زه دنبی کریم ﷺ په خدمت کی دحاضری دپاره ووتلم نو خلګ ډلی ډلی ماته دمبارکی راکولو دپاره راتلل کعب ﷺ فرمایی چی زه مسجد نبوی ته داخل سوم نوومی لیدل چی نبی کریم ﷺ تشریف فرمادی چاپیره ورته صحابه ﷺ جمع دی چی زه یی ولیدم نودټولو څخه اول طلحه بن عبیدالله ودریدی ماته رامخ ته سو او مصافحه یی راسره وکړه اودتوبی قبلیدو مبارکی یی راکړه دطلحه دا احسان زه هیڅ کله نه سم هیرولی کله چی مانبی کریم ﷺ ته سلام واچوی نوددوی مخ مبارك دخوشحالی څخه برینبیدی ویی فرمایل چی ای کعبه! مبارك دی سه داسی مبارکه ورځ چی کمه ستا په عمرکی دپیدائش څخه ترننه پوری دټولوڅخه زیاته ښه ورځ ده ماعرض وکی چی یا رسول الله! داحکم

Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسی دطرف څخه دی اوکه دالله ﷻ دطرف څخه دوی وفرمایل چی نه دا حکم دالله ﷻ دی تاربنتیا ویلی وه ، نو الله ﷻ ستا ربنتونوالی بنکاره کی .

کله چی زه ددوی په مخکی کښینستم نوعرض می وکی چی یارسول الله زماتوبه داده چی زه خپل ټول مال اواسباب دالله ﷻ په لاره کی صدقه کوم دوی وفرمایل چی نه! څه ما ل دخپل ضرورت دپاره پریږده دابنه ده ماعرض وکی چی بنه ده نیم ما ل به صدقه کړم دوی ددی څخه هم انکار وکی مابیا ددریمی حصی دما ل اجازه وغوښتله نودوی دا قبول کی ماعرض وکی چی یارسول الله! الله ﷻ ماته دربنتیا ویلو په وجه سره نجات راکړی دی په دی وجه زه وعده کوم چی ترڅو پوری زه ژوندی یم هیڅ کله به دربنتیاوو څخه ماسوایوه کلمه ونه وایم بیافرمایی چی دکله څخه مادنبی کریم ﷺ سره دادربنتیاوو وعده وکړه الحمدلله چی ترننه پوری یوه کلمه ددروغو زما پرژبه نه ده راغلی اوزما امید دی چی الله ﷻ به په باقی ژوندکی هم مادی څخه محفوظ وساتی کعب ﷺ فرمایی چی په خدای قسم دی داسلام څخه وروسته ددی څخه لوی نعمت ماته نه دی راکول سوی چی مادنبی کریم ﷺ په مخکی ربنتیا وویل او د درواغو څخه می پرهیز وکی ځکه چی که مادروغ ویلی وای نودغه ډول به په هلاکت کی پریوتلی وای لکه څنګه چی نورپه دروغو قسمونه اخستونکی هلاك سول دکومو په باره کی چی دقرآن کریم دایت نازل سو: سَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ څخه تر: فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ : پوری څینی حضرات فرمایی چی ددی دری واړو حضراتو سره دقطع تعلق ترپنځوسو ۵۰ ورځو پوری جاری پاته کیدل شاید پردی حکمت باندی مبنی وه چی دنبی کریم ﷺ دتبوك په غزاکی پنځوس ورځی تیری سوی وی «داپوره روایت اوتفصیلی واقعه دتفسیر مظهری څخه را اخستل سوي ده»

(دکعب بن مالک ﷺ په ذکرسوی حدیث پوری متعلق فائدی)

حضرت کعب بن مالك ﷺ چی خپله واقعه څنګه په تفصیل سره بیان کړي ده په دی کی دمسلمانانو دپاره ډیری فائدی اوهدایتونه دی په دی وجه دلته داحدیث پوره ولیکل سو هغه فائدی دا دی .

۱ په دی حدیث کی ښوول سوی دی چی دنبی کریم ﷺ عادت شریف په عامو غزاګانو کی دا وو چی کوم طرف ته به تلل وو دهغه مخالف طرف ته به دمدینی منوری څخه وتی چی داسلام مخالفینو ته دامعلومه نه سی چی دوی دکوم قوم یاقبیلی سره دجهاد کولو دپاره ځی دی ته دوی فرمایلی دی چی ، اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ یعنی په جنګ کی دوکه کول جائز دی ددی څخه ځینی خلګ په دی غلطی کی پریوزی چی په جنګ اوجهاد کی دروغ ویل اومخالف دوکه کول جائزدی داصحیح نه ده بلکه مراد ددی دوکی څخه دادی چی خپل عمل داسی وکړی چی مخالفین باندی دوکه سی لکه دجهاد دپاره دمخالف طرف څخه وتل بنکاره دروغ ویل اودوکه ورکول مراد نه دی دغه په جنګ کی هم جائز نه دی دغه ډول په دی هم پوهیدل په کار دی چی داعملی دوکه کومه چی جائز سوي ده ددی څه تعلق دعذاب او دوعدی سره نسته او وعده ماتول په صلح کی وی او که په جنګ کی په هیڅ حال کی جائز نه دی .

۲ دسفردپاره دنبی کریم ﷺ دجمعرات ورځ خوښه وه برابره خبره ده دغه سفرکه به دجهادوواوکه دبل ضرورت

۳ دخپل مشر پیر یا استاد یاپلار دراضی کولو دپاره دروغ ویل هم جائز نه دی اوانجام یی هم بنه نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی کریم ﷺ ته خوبه دوحی په ذریعه دحا ل حقیقت معلومیدی په دی وجه ددروغو ویلو انجام بد وو لکه چی دکعب بن مالك ﷺ اودنورو وروسته پاته سوو دواقعی څخه بنکاره سوه ددوی څخه وروسته نورو مشرانو ته خو وحی کیدی نه سی په الهام اوکشف سره علم راتلل هم ضروری نه دی لیکن تجربه شاهده ده چی ددروغو ویلو یوه بدبختی وی چی په قدرتی طور سره داسی اسباب جمع کیږی چی اخر دامشر ددې څخه ناراضه سی.

۴ ددی واقعی څخه معلومه سوه چی دغه گناه په سزا کی دمسلمانانو امیر ته داهم حق دی چی دچاسره دسلام اوکلام قطع کولو حکم وکی لکه په دی واقعه کی چی ددی دری مشرانو متعلق پیښه سوه.

۵ ددی واقعی څخه دصحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ سره انتهایی محبت معلوم سو چی ددی ناراضتیا اوسلام اوکلام دقطع کیدو په زمانه کی به هم دډیر محبت څخه دنبی کریم ﷺ په مجلس کی دحاضری څخه نه منع کیدل اودسترگوپه کُنجانوبه یی کتل ددوی د توجه اوتعلق دحال معلومولو په فکر کی به وو

۶ دکعب بن مالك ﷺ ډیر زیات ژور دوست قتاده ﷺ معامله چی دده دسلام جواب یی ورنه کی اوهیڅ خبره یی ونه کړه دابنکاره ده چی دادغه دښمنی یامخالفت یابغض سره نه وه بلکه دنبی کریم ﷺ دحکم نه منلو په وجه سره وه ددی څخه معلومه سوه چی دنبی کریم ﷺ جوړ سوی قانون به صرف دخلگو پربنکاره باندی نافذ نه وو بلکه پر زړونو به یی هم دده حکومت وو اوپه پته په بنکارهٔ په هیڅ حال کی به یی ددی خلاف نه کول که څه هم په دی کی به دلوی څخه دلوی دوست اوخپل قریب خلاف هم وو.

۷ حضرت کعب ﷺ ته دغسان دبادشاه خط راتلل اوهغه تنورته دغورزولو دواقعی څخه دصحابه کرامو دایمان انتهایی پوخوالی معلومیږی چی دنبی کریم ﷺ اوتولو مسلمانانو دقطع تعلق هغه دسختی پریشانی په حالت کی هم دیولوی بادشاه دفریب په ورکولو دده څه میلان پیدا نه سو.

۸ دتوبی دقبلیدو دنازلیدو څخه وروسته دصدیق اکبر ﷺ اوفاروق اعظم ﷺ اوعامو صحابه کرامو کعب بن مالك ﷺ ته دزیری ورکولو دپاره منډی وهل اوددی څخه مخکی ورځخه دتولو څان ساتل دابنکاره کوی چی دقطع تعلق په زمانه کی هم ددی تولو په زړونو کی دکعب بن مالك سره محبت اوتعلق وو مگر درسول ﷺ دحکم په مخکی یی هر څه پاته کړی وه کله چی دتوبی آیت نازل سو نوددوی دزړه دتعلق اندازه ورځخه ولگیده.

۹ دصحابه کرامو حضرت کعب ﷺ ته دخوشخبری ورکولو دپاره دتلو څخه معلومه سوه چی دچا دخوشحالی په موقع خپلو دوستانو اوخپلوانو ته مبارك باد ورکول دسنتو څخه ثابت دی.

۱۰ دیوی گناه څخه دتوبی په وخت کی دمال صدقه کول دگناه داثر زائل کولو دپاره بسه دی مگر ټول مال خیرات کول بسه نه.دی ددریمی حصی دمال څخه زیات صدقه کول نبی کریم ﷺ خوښ نه کړل.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ : په تیرو ایتونوکی چی کومه واقعه دجهاد څخه پاته کیدل دځینو مخلصانو څخه وسوه بیا ددوی توبه قبوله سوه داټوله ددوی دتقوٰی او دخدای څخه دبیری نتیجه وه په دی وجه په دی آیت کی عامو مسلمانانو ته دتقوٰی هدایت فرمایل سوی دی اوپه: كُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ کی یی دی طرف ته اشاره وفرمایله چی دتقوٰی دصفت حاصلولو طریقه دصالحانو اوصادقانو صحبت اوپه

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل کی ددوی موافقت دی په دی کی شاید دی طرف ته اشاره وی چی دکومو حضراتو څخه داخطا وسوه په دوی کی دمنافقانو دصحبت اومجلس اوددوی دمشوری هم دخل وو دالله ﷻ دنافرمانو دصحبت څخه څان ساتل په کار دی اودصادقانو صحبت اختیارول په کار دی دلته قرآن کریم دعالمانو اوصالحانو پرځای دصادقانو لفظ اختیار کی دصالح اوعالم نښانه یی هم ښوولی ده چی صالح صرف هغه سړی کیدی سی دکوم چی ظاهر اوباطن یودول وی نیت او ارادی یی هم ربښتنی وی قول یی هم ربښتنی وی اوعمل یی هم ربښتنی وی.

مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا

نه دی په کار دمدینی خلکو لره او د دوی څخه چا پیره دکلیو خلکو لره چی وروسته پاته سی د

عَنْ رَسُولِ اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهِ ۚ ذَٰلِكَ

د رسول الله څخه اونه دا چی خپل ځانونه خوښ کړی درسول ﷺ ترنفس دا په دی وجه چی

بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ

جهادکوونکو ته نه رسیږی تنده او نه محنت اونه لوږه په لاره

اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ

دالله کی اونه یوځای قدم ایږدی چی خفه کیږی باندی کفار اونه رسیږی ددښمن څخه

نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ

دوی ته څه شی مگر لیکل کیږی د دوی دپاره ددی په بدله کی نیک عمل ، بیشکه الله نه ضائع کوی حق

الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً

دنیکی کوونکو ، اونه خرچ کوی څه خرچه کوچنی یا لویه

وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾

اونه قطع کوی یومیدان مگرلیکل کیږی ددوی دپاره چی بدله ورکړی دوی ته الله ښه دهغه کارکوم چی دوی کوی

لنډتفسیر: دمدینی اوسیدونکو اوکوم چی گیر چاپیره ورڅخه اوسی دوی لره نه ښایی چی درسول الله ﷺ ملگرتیا ونه کړی اونه ورته دا (ښایی) چی خپل ځانونه ددوی دځان څخه عزیز وگڼی (چی دوی تکلیف تیروی اودغه خلگ په ارامه ناست وی بلکه ددوی سره تلل ورته ضروری وه او) دا (د دوی) سره تلل

Maktaba Tul Ishaat.com

ضروری کیدل په دی سبب سره دی چی (علاوه داداکولو دحق دمحبت درسول دغو مجاهدینوته په خبره خبره باندی ثواب حاصل سو که دوی په اخلاص سره تلی نودوی ته به هم داورکول کیدی چنانچی) دوی ته دالله په لاره کی (یعنی جهاد کی) چی کومه تنده ورسیږی اوکوم ستړی والی ورسیږی اوکومه لوږه ورسیږی اوکوم چی څی چی په دغه تلوکفار خفه کوی اوددښمنانو چی څه خبر واخلی په دی تولو ددوی په نوم یویو کار لیکل کیږی (سره ددی چی څینی کارونه په اختیار کی نه وی مګر دادمقبولیت اومحبوبیت مقتضاده چی بی اختیاره کارونه هم داختیاری کارونو په شان موجب دثواب مقرر سوه اوبه دی وعده کی دخلاف احتمال نسته څکه چی) یقیناً الله ﷻ دمخلصینو اجرنه ضائع کوی (نو وعده یی وکړه ، نو ضائع به نه سی) او (دارنګه) څه چی لږ یادیر دوی خرڅ کړه اوځه میدانونه چی دوی قطع کړه داتول (په نیکیوکی) ولیکل سوه چی الله ﷻ دوی ته ددوی (دتولو) کارونو دښوځخه ښه بدله ورکړی (څکه چی کله یی ثواب ولیکی نوبدله به ورکول کیږی)

معلومات اومسئلي: په دی دواړو ایتونوکی دجهاد څخه دپاته سوو پرپاته کیدو باندی ملامتیا اوپوهول اودجهاد دشریکانو فضیلتونه اوپه سلسله دجهاد کی په قدم قدم هرقول اوفعل اوهر محنت اومشقت باندی دلوی اجر ذکردی چی دجهاد په وخت کی دښمن ته څه تکلیف رسول اوپرداسی چل چلیدل چی دوی باندی غصه کیږی داتول نیك عملونه دی اوثواب باندی ورکول کیږی.

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ

او داسی خو نه دی مسلمانان چی کوچ وکړی تول ، نو ولی نه وزی د هری فریقی د دوی څخه یوه

طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا

دله چی پوهه پیداکړی په دین کی او ددی دپاره چی خبر ورسوی خپل قوم ته کله چی بیرته راسی

إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

دوی ته چی دوی ځان وساتی.

لنډتفسیر: او (دهمیشه دپاره) مسلمانانو ته دا (هم) نه ده په کار چی (دجهاد دپاره) تول (په جمع) ووزی (چی په دی سره نور اسلامی ضرورتونه معطل پاته کیږی) پس داسی ولی نه سی کولی چی ددوی دهر لوی جماعت څخه یوکوچنی جماعت (جهاد ته) ولاړسی (او څه په خپل وطن کی پاته سی) چی پاته خلګ (درسول الله ﷺ په وخت کی ددوی څخه او ددوی څخه وروسته دښار دعالمانو څخه) ددین پوهه حاصلوی اوددی دپاره چی داخلګ خپل قوم (کوم چی جهاد ته تللی وی) کله چی دوی ته بیرته راسی (ددین خبری ورته وکړی دخدای دنافرمانی څخه) یی وبیروی چی دوی (ددوی څخه ددین خبری واوری اودبدو کارونو څخه) احتیاط وکړی.

معلومات اومسئلي: په سورة توبه کی په دیر اهمیت سره دتبوك دغزا ذکر پرله پسی را روان دی چی په دی کی دنبی کریم ﷺ دطرف څخه عام اعلان سوی وو چی تول مسلمانان دی په دی کی شریك سی ددی حکم

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاف ورزی بغیر دصحیح عذر څخه جائزنه وه کوم خلک چی په خلاف ورزې کی اخته سول په دوی کی زیات خومنافقان وه چی ذکریی په ډیرو ایتونوکی لوړ راغلی دی څه مخلصان مومنان هم وه کوم چی دوقتی سستی اونا راستی په وجه پاته سوی وه ددوی توبه الله ﷻ قبوله کړه ددی ټولو واقعاتو څخه په ښکاره داسی ګڼل کیږی چی په هریو جهاد اوغزاکی ټولومسلمانانو لره وتل فرض اوپاته کیدل حرام دی حال دادی چی شرعی حکم دانه دی بلکه جهاد په عام حالت کی فرض کفایی دی چی حکم یی دادی چی دمسلمانانو څه ډله کومه چی دجهاد دپاره کافی وی په جهادکی مشغوله وی نودباقی مسلمانانو غاړه هم دفرضو څخه خلاصیږی البته که په جهاد کی شریکه ډله پوره نه وی هغوی مغلوبه کیږی نودخواو اوشا په مسلمانانو ددوی دقوی کیدو دپاره وتل اوپه جهاد کی شریکیدل فرض کیږی اوکه هغوی هم پوره نه وی نو دوی ته په نورو نژدی خلګو باندی اوکه دوی هم نه پوره کیږی نودوی ته نژدی چی نور کوم مسلمانان وی تردی چی دټولی دنیا پرمسلمانانو باندې په داسی حالت کی جهاد فرض عین کیږی چی ددی څخه پاته کیدل بیاحرام وی دغه ډول دفرض کیدو یوصورت دادی چی دمسلمانانو امیر ضرورت وګڼی اوعام اعلان وکړی اوټولو مسلمانانوته دجهاد بلنه ورکړی نوپه دی وخت کی هم په جهاد کی شریکیدل فرض او وروسته کیدل ورڅخه حرام سی لکه دتبوک په غزاکی چې دعام اعلان په وجه سره پیښه سوه په ذکرسوی آیت کی یی داحکم واضح کړی دی چی دادتبوک په غزاکی دعام اعلان په وجه سره خصوصی حکم وو په عامو حالاتوکی جهاد فرض عین نه دی چی پرټولو مسلمانانو باندی جهاد ته تلل فرض وی ځکه چی دجهاد په شان داسلام اومسلمانانو اجتماعی مسئلی اوکارونه هم دی کوم چی دجهاد په شان فرض کفایی دی دهغو دپاره هم دمسلمانانو مختلفو ډلو لره دکار دتقسیم پراصولو باندی کارکول پکاردی په دی وجه ټولو مسلمانانو ته هریو جهاد ته تلل نه دی په کار ددی مضمون څخه دفرض کفایی حقیقت هم تاسی معلومولی سی چی کوم کار دیوتن نه وی اجتماعی وی اوپرټولومسلمانانوددی دپوره کولوذمه واری وی دغه په شریعت کی فرض کفایی مقرر سوی دی ددی دپاره چی دکار دتقسیم پر اصولو باندی ټول کارونه په خپل خپل ځای چلیږی اوداجتماعی فرض ټول اداکیږی پر مسلمانانو سړو دجنازی لمونځ اوکفن دفن کول دجماتونو ابادول اونګرانی یې کول جهاد داسلامی سرحدونو حفاظت داټول فرض کفایی دی چی ددی ذمه واری دټولی دنیا پرمسلمانانو باندی ده مګرپه قدر دکفایت چی یی څه خلګ وکړی نودنورو مسلمانانو غاړه هم دفرضو څخه خلاصیږی ددی فرض کفایی دسلسلی یومهم کاردینی تعلیم دی په دی آیت کی یی په خصوصیت سره ددی دفرض کیدو ذکر داسی کړی دی چی دجهاد په شان په مهمو فرائضوکی هم دی دفرضو پاته کول نه دی په کار چی ددی صورت دادی چی دهری لویی ډلی څخه دی یوه کوچنۍ ډله دجهاد دپاره ووزی اوباقی پاته خلګ دی علم دین حاصلوی بیاچی دوی علم دین حاصل کړی نوجهاد ته تللی مسلمانانو اونورو مسلمانانو ته دعلم دین ورزده کوی

دعلم دین دطلب کولوفرض والي او ددی اداب اوفرائض: امام قرطبی رحمه‌الله فرمایی چی داایت دعلم دین دطلب اصل اوبنیاد دی اوچی فکر وسی نوپه دی آیت کی یی دعلم دین دنصاب خلاصه هم ښوولی ده اودعلم حاصلولو څخه وروسته دعالم فرائض هم په دی وجه دامضمون لږ څه په تفصیل سره لیکل کیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

(دعلم دین فضیلتونه)

دعلم دین په فضیلتونو اولوی ثواب اوددی په متعلقاتو باندی علماوو مستقل کتابونه لیکلی دی دلته یوځو لنډ روایتونه نقل کیږی ترمذی دحضرت ابودرداء ﷺ څخه روایت کړی دی چی مادنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی کوم سړی په یولار باندی څی چی مقصد یی علم حاصلول وی الله ﷻ ددی تلو په ثواب کی دده لار جنت ته برابروی او دا چی الله ﷻ فرښتی دطالب علم دپاره خپلی وزری خپروی اوداچی دعالم دپاره دټولو آسمانونو اومځکی مخلوقات اوداوبو ماهی دعا اواستغفار کوی اودا چی دعالم ښه والی پرډیر نفلی عبادت کوونکی باندی داسی دی لکه دځوارلسمی دسپوږمی ښه والی چی پرباقی ستورو باندی دی اوداچی عالمان دپیغمبرانو وارثان دی اوداچی انبیاوو دسرو سپینو څه میراث نه دی پاته کړی لیکن دعلم میراث یی پاته کړی دی نوکوم سړی چی دادعلم میراث حاصل کی هغه ډیر لوی دولت حاصل کی (ازقرطبی)

اودارمی په خپل مسند کی داحدیث روایت کړی دی چی دنبی کریم ﷺ څخه یوسړی پوښتنه وکړه چی په بنی اسرائیلوکی دوه سړی وه یوعالم وو چی صرف لمونځ به یی کوی اوبیابه خلګو ته په دینی تعلیم ورکولو کی مشغولیدی دوهم به ټوله ورځ روژه نیوله اوټوله شپه به یی عبادت کوی په دی دواړو کی کوم یو ښه دی؟ دوی وفرمایل چی ددی عالم ښه والی په عبادت کوونکی باندی داسی دی لکه زمانبه والی چی په تاسی کی په یوادنی سړی دی (داروایت امام ابن عبد البر په کتاب جامع بیان العلم کی په سند سره دحضرت ابوسعید خدری ﷺ څخه نقل کړی دی قرطبی)

اونبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی یوفقیه دشیطان په مقابله کی دیوزر عبادت ګزارو څخه زیات قوی اومضبوط دی (ترمذی عن ابن عباس مظهری)

اونبی کریم ﷺ فرمایی چی کله انسان مړسی نودده عمل منقطع سی مګر دری عملونه داسی دی چی ثواب یی انسان ته دمرګ څخه وروسته هم رسیږی یوه صدقه جاریه لکه جمات یاددینی تعلیم ابادی یادعامو خلګو دفائدی اداری دوهم هغه علم چی دده دمرګ څخه وروسته ورځخه هم خلګ نفع اخلی مثلاً شاګردان یی عالمان پاته سول چی پرمخ باندی خلګو ته دعلم دین ازده کولو سلسله جاری پاته سوه یایی کتاب جوړکی چی دده څخه وروسته ورځخه هم خلګ فائده اخلی دریم صالح اولاد چی دده دپاره دخیر اود بخښنی دعا کوی (قرطبی)

(دفرض عین اوفرض کفایي علم دین تفصیل)

ابن عدی اوبیهقی په صحیح سند سره دحضرت انس ﷺ روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ (ازمظهری) یعنی علم حاصلول فرض دی په هرمسلمان دانښکاره ده چی په دی حدیث او ذکرسوو تیرو حدیثونوکی دعلم څخه مراد علم دین دی ددنیاعام علمونه اوهنرونه ددنیا دعام کارو بارپه شان دانسان دپاره که ضروری دی خوددی هغه فضیلتونه نسته کوم چی په ذکرسوو حدیثونوکی راغلی دی بیاعلم دین یوعلم نه دی بلکه پرډیرو علمونه باندی مشتمل یوجامع نظام دی اوداهم ښکاره ده چی هرمسلمان سړی اوښځه پردی قادر نه دی چی داټول علمونه پوره حاصل سی په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه په ذکرسوی حدیث کی چی یی علم په هر مسلمان فرض فرمایلی دی ددی څخه مراد دعلم دین صرف هغه حصه ده دکمی څخه بغیر چی نه فرض اداکیدی سی نه دحرامو شیانو څخه خلاصیدی سی کوم چی دایمان او اسلام دپاره ضروری دی دباقی علمونو تفصیلات دقرآن اوحدیث ټول معلومات او مسئلی بیا ددوی څخه راایستل سوی حکمونه اوشریعتونه اوددوی پوره تفصیل دانه دهر مسلمان په قدرت کی دی نه پرهر یوه فرض عین دی البته دټول عالم اسلام په ذمه فرض کفایی دی په هربنار کی یوعالم چی په دی ټولو علمونو اوشریعتونو ماهر موجود وی نودباقی مسلمانانو غاړه ددی فرضو څخه خلاصیږی اوپه کوم بنار یاکلی کی چی یو عالم هم نه وی نودبنار اوکلی په خلګو فرض دی چی په خپلو کی یوتن عالم جوړکړی یاد دباندی څخه یوعالم را وغواړی اودځان سره یی هستوګن کړی چی دضرورت په وخت کی دباریکو مسئلو پوښتنه ورڅخه کوی اوفتوی ورڅخه اخلی اوخانونه باندی پوهوی او عمل باندی کوی په دی وجه په علم دین کی دفرض عین اوفرض کفایی تفصیل دادی چی.

فرض عین: په هرمسلمان سړی اوښځی باندی فرض دی چی داسلام دصحیح عقیدو علم حاصل کړی اودپاکی اوپلیتی احکام ازده کړی لمونځ روژه اوټول عبادتونه چی شریعت فرض او واجب ګڼلی دی ددی علم حاصل کړی دکوم سړی سره چی په قدر دنصاب ما ل موجود وی پرده فرض دی چی دزکوة مسئلی اواحکام معلوم کړی دکوم سړی چی پرحج باندی قدرت وی پرده باندی فرض عین دی چی دحج احکام اومسئلی معلومی کړی کوم سړی چی اخستل خرڅول کوی یاتجارت صنعت یامزدوری کوی پرده فرض عین دی چی دبیعی اجاری وغیره مسئلی اواحکام زده کړی کله چی نکاح کوی نودنکاح احکام او مسئلی اودطلاق احکام اومسئلی معلومی کړی غرض کوم کار چی شریعت دهریو انسان پرذمه فرض واجب کړی دی ددی داحکامو اومسئلو علم حاصلول هم په هرمسلمان سړی او ښځی فرض دی.

(علم تصوف هم په فرض عین کې داخل دی)

ظاهری احکام لمونځ روژه خوټول پیژنی چی فرض عین دی اوددی علم حاصلول هم فرض عین دی حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله په تفسیر مظهری کی ددی ایت لاندی لیکی چی دباطنی عملونو اوباطنی محرماتو علم چی په عرف کی ورته علم تصوف ویل کیږی چونکه داباطنی عملونه هم په هر سړی فرض عین دی نو ددی علم هم په هر سړی فرض عین دی.

نن چی کوم ته علم تصوف ویل کیږی هغه هم دډیرو عملونو معلوماتو اوکشفونو اوارادو مجموعه جوړه سویده دلته دفرض عین څخه مراد ددی صرف هغه حصه ده په کومه کی چی دباطنی علمونو فرضو اوواجباتو بیان دی مثلاً صحیح عقیدی چی تعلق یی دباطن سره دی یاصبر شکر توکل قناعت وغیره په یوه خاصه درجه کی فرض دی یاغرور تکبر حسد بغض بخل حرص ددنیا وغیره کوم چی دقرآن اوسنت په وجه سره حرام دی ددی حقیقت او ددی حاصلول او دحرامو شیانو څخه دخلاصیدو اصل بنیاد صرف دومره دی کوم چی فرض عین دی.

فرض کفایي: دټول قرآن کریم معنی اومسئلی زده کول ټول احادیث زده کول اوپه دوی کی دمعتبر اوغیر معتبر پوهه پیداکول دقرآن اوسنت څخه چی کومی مسئلی اوحکمونه راوزی ددی ټول علم حاصلول په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی کی داصحابوتابعینو اومجتهدینو امامانو اقوال اواثار پیژندل دادومره لوی کاردی چی که تول عمر اوتول وخت په دی کی خرڅ کړی هم یی پوره حاصلول اسانه نه دی په دی وجه شریعت داعلم فرض کفایی مقرر کړی دی چی په قدر دضرورت څه خلګ داتول حاصل کړی نودنورو مسلمانانو غاړه خلاصیږی.

دعلم دین نصاب: قرآن حکیم دلته دعلم دین حقیقت او ددی نصاب هم په یولفظ کی وښووی چی، لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّيْنِ داموقع په ښکاره ددی وه چی دلته یی، يَتَعَلَّمُوْنَ الدِّيْنَ ویلی وای یعنی چی علم دین حاصل کړی مګر قرآن دلته د: تَعَلُّمْ لفظ پریښووی د: تَفَقُّهْ لفظ یی اختیار وفرمایی اودی طرف ته یی اشاره وکړه چی دعلم دین محض ویل کافی نه دی دغه خو ډیر کافران یهودیان نصرانیان هم ویلی سی اوشیطان ته دتولو څخه زیات حاصل دی بلکه دعلم دین څخه مراد ددین پوهه پیدا کول دی دادلفظ د تَفَقُّهْ ترجمه ده اودا دفقه څخه مشتق دی دفقه معنی پوهه ده دلته داخبره دنظر قابله ده چی قرآن کریم دلته دمجرد په صیغه لِيَفْقَهُوا الدِّيْنَ (یعنی چی دوی په دین پوه سی) سره ونه فرمایل بلکه: لِيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ یی وفرمایل کوم چی دباب دتفعل څخه دی ددی په معنی کی محنت اومشقت شامل دی مراد دادی چی ددین په پوهه پیدا کولو کی پوره محنت او مشقت وکی اومهارت په کښی حاصل کړی دا هم ښکاره ده چی ددین پوهه صرف په دومره خبره نه سی پیداکیدی چی دپاک پلیت یالمونځ روژی زکوٰة حج مسئلی معلومی کړی بلکه ددین پوهه داده چی دی پوه سی چی دده دهری خبری کار حرکت اوسکون به په اخرت کی دده څخه حساب اخستل کیږی ده ته په دی دنیاکی څنګه اوسیدل په کار دی په اصل کی ددی فکر نوم ددین پوهه ده په دی وجه امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله دفقه تعریف داکړی دی چی انسان هغه تول کارونه وپیژنی دکومو کول چی دده دپاره ضروری دی اوهغه کارونه هم وپیژنی دکوموڅخه چی بچ کیدل دده دپاره ضروری دی نن صبا چی کوم دعلم فقه جزئی مسئلوته علم ویل کیږی داوروسته اصطلاح ده په قرآن اوسنت کی دفقه حقیقت هغه دی کوم چی امام اعظم رحمه الله بیان فرمایلی دی چی کوم سړی ددین تول کتابونه ووایی مګر داپوهه پیدانه کړی دی دقرآن اوسنت په اصطلاح کی عالم نه دی ددی تحقیق څخه معلومه سوه چی دعلم دین حاصلولومطلب دقرآن په اصطلاح کی ددین پوهه پیداکول دی هغه چی دکومو ذریعو څخه حاصلیږی دغه ذریعی برابره خبره ده که کتابونه وی اوکه داستاذانوصحبت تول ددی نصاب اجزاء دی

(دعلم دین حاصلولو څخه وروسته دعالم فرائض)

دلته قرآن کریم دا هم په یوه جمله کی پوره بیان فرمایلی ده چی، لِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ یعنی چی دوی خپل قوم دالله ﷻ دنافرمانی څخه وبیروی دلته هم دی خبری ته کتل په کار دی چی په دی جمله کی یی دعالم فرض انذار (بیرول) دقوم ښوولی دی دانذار لفظی ترجمه بیرول دی مګر داددی پوره ترجمه نه ده حقیقت دادی چی بیرول پرڅو قسمه وی یوبیرول ددښمن غل ډاکو یادیو درنده زهرناك ځناور څخه وی یوبیرول هغه وی چی کوم پلار دخپل شفقت په وجه سره اولاد دتکلیف ورکوونکو شیانو لکه اور یا زهرناك حیوان یا دضرر ناك خوراك څخه بیروی چی ددی مقصد شفقت اومحبت وی اوددی لپاره هم یو بل ډول دی انذار ددی قسم بیرولونوم دی په دی وجه پیغمبرانو اورسولانوته دنذیر لقب ورکول سوی دی اودعالم دافرض دانذار په حقیقت کی دنبوت دوراثت یوجزء دی کوم چی دحدیث په نص سره عالم ته حاصلیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

مگر دلته دفکر قابله خبره داده چی دانبیاء علیهم السلام دوه لقبونه دی بشیر اونذیر دنذیر معنی خواوس تاسی معلومه کړه دبشیر معنی ده زیری اوخوشخبری ورکوونکی دانبیاء علیهم السلام یوکار داهم دی چی نیك عمل کوونکو ته زیری واوری دلته هم که څه هم چی په ښکاره ذکر دانذار سوی دی مگر په نورو روایتونو سره معلومیږی چی دعالم فرض داهم دی چی نیك کار کوونکوته زیری هم واوری لیکن دلته یی صرف دانذار په لفظ بس والی وکی او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دانسان په ذمه دوه کارونه دی یو دا چی کوم عمل دده دپاره په دنیا او آخرت کی فائده مند وی هغه اختیار کړی دوهم دا چی کوم عمل ده ته ضرر رسوی دهغه څخه ځان وساتی دعالمانو اوهوښیارانو په اتفاق ددی دواړو کارونو څخه یوبل کار دټولو څخه مخکی اواول دی دا دفقهاؤ په اصطلاح کی په: جَلبِ منفعت (دنفع حاصلول) او، دفع مضرت (دضرر څخه ځان ساتل) په دوو لفظونو سره تعبیر سوی دی دفع مضرت: یی د: جلب منفعت څخه مخ ته مقرر کړی دی ددی څخه علاوه په: دفع مضرت: کی په یوحیثیت سره د ، جلب منفعت : مقصد هم پوره کیدی سی ځکه چی کوم کار دانسان دپاره فائده مند اوضروری دی دهغه پریښوول لوی ضرر دی ، نوکوم سړی چی دمضرو کارونو څخه ځان ساتی هغه به دضروری کارونو دپریښوولو څخه هم ځان ساتی دلته داهم معلومه یسوه چی نن صبا کوم وعظ اوتبلیغ دیرکم اثر کوی ددی لویه وجه داده چی په دی کی دانذار ادبونه اوطریقی نه وی دکوم دبیان طرز اولب اولهجی څخه چی شفقت اورحمت اوخیر خواهی ظاهریږی دمخاطب یقین وی چی دده دکلام مقصد زما رسوا کول اوبدنامول نه دی اونه دخپل زړه غبار ایستل دی بلکه دی چی کوم شی زما دپاره مفید اوضروری ګڼی هغه دمحبت په وجه سره ماته ښیی که نن زمونږ دتبلیغ اوکوم خلګ چی دشرع څخه خلاف کارونه کوی هغوی ته ددعوت طرز داسی سی نوددی یوه نتیجه خوقطعًا لازمی ده چی داوریدونکی به زمونږ په خبره ضد پیدانه سی هغه به دجواب جوړولو دفکر په ځای دخپلو عملونو دجائزه اخستو اوپرخپل انجام دسوچ کولو طرف ته متوجه سی اوکه داسلسله باقی پاته سوه نویووخت به یی قبوله هم کړی اودوهمه نتیجه یی دالازمی ده چی کم از کم دیو بل څخه نفرت اوجنګ جګړی خوبه پیدانه سی په کومه کی چی نن صبا زمونږ ټول قوم اخته دی .

په اخر کی : لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ وفرمایل اودی طرف ته یی هم اشاره وکړه چی دعالم کار صرف دومره نه دی چی دعذاب څخه بیرول وکړی بلکه په دی نظر ساتل هم دی چی دده دتبلیغ اوددعوت اثر څومره اوځه وسو؟ که یووار اثر ونه کړی نوبار بار دی کوی چی نتیجه یی: يَحْذَرُوْنَ ښکاره سی یعنی دقوم دګناه څخه خلاصیدل . والله سبحانه وتعالی اعلم

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا

ای ایماندارو! جنګ کوی دخپلو نژدی کافرانو سره اوپکاردی چی دوی ته معلومه سی

فِيْكُمْ غِلْظَةً ؕ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ

په تاسی کی سختی اوپوه سی چی الله ﷻ دبیره کوونکو سره دی اوکله چی نازل سی

سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

یو سورة نوخینی په دوی کی وایی دکم یوه یی په تاسی کی زیات کی په دی سورة ایمان پس کوم خلک

اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

چې ایمان لري دهغوی زیات کی داسورة ایمان او دوی خوشحالیږی ، او دکومو په زړه کی چې

مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۲۵﴾

مرض دی ، نو د دوی دپاره یی زیاته کړه ګندګی پرګندګی اودوی تر مرګه کافران پاته سول ،

اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ

آیا نه ګوری چې دوی ازمایل کیږی په هر کال کی یو واړ یا دوه واړه بیاهم توبه نه کاږی او

وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى

نه دوی نصیحت اخلی ، او کله چې نازل سی یو سورة نوګوری خینی په دوی کی

بَعْضٍ ۭ هَلْ يَرٰىكُمْ مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ۭ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۲۷﴾

نورو ته چې آیا ګوری تاسی ته یو مسلمان ؟ بیا روان سی ګرځولی دی الله ﷻ د دوی زړونه په دی وجه چې داخلک دی چې پوهه نه لری .

لنډتفسیر: ای ایمانداروا دهغو کفارو سره جنګ کوی کوم چې ستاسی خوا او شاته اوسی اوچې دوی په تاسی کی سختی پیداکی (یعنی دجهاد په وخت کی هم مضبوط اوسیدل په کاردی اوهسی هم په غیر زمانه دصلح کی دوی ته سست کیدل نه دی په کار) او یقین ساتی چې الله ﷻ (مدد یی) دمتقیانو خلګو سره دی (نو د دوی څخه بیره مه کوی) اوکله چې یوسورة (نوی) نازلیږی نوځینی منافقان (غریبانو مسلمانانو ته په طور دمسخرو) وایی چې (ووایاست) په دی سورة په تاسی کی چا په ایمان کی ترقی وکړه (او مخ ته الله ﷻ ارشاد فرمایی چې تاسی جواب غواړی) نو (واوری) کوم خلګ چې ایمان داردی په دی سورة ددوی (خو) ایمان ترقی ورکړه اودوی (ددی ترقی په پیدا کیدو سره) خوشحالیږی (مګر چونکی داکار دزړه دی اوتاسی ته نصیب نه دی په دی وجه ددی پیدا کیدل درته هم نه دی نصیب اومسخری کوی) اودکومو خلګوپه زړونوکی چې (دنفاق) ازار دی دی سورة په دوی کی ددوی د (اولنی) ګندګی سره نوره (نوی) ګندګی زیاته کړه (ځکه چې اول دقرآن دیوی حصی انکار وو اوس ددی نوی حصی انکار باندی زیات سو) اودوی په حالت دکفر کی مړه سول (یعنی کوم چې په دوی کی مړه سوی دی هغه کافر مړه دی اوکوم چې په دی اصرار باندی پاته دی دوی به هم کافر مری خلاصه دجواب دا سوه چې په قرآن کی بیشکه چې ایمان ته دترقی ورکولو خاصیت سته لیکن چې په محل کی خو هم قابلیت وی اوکه دمخکی څخه په کښی محکم خباثت وی نونور هم دغه محکم کیږی (دباران څخه په باغ کی ګلونه شنه

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی اوپه بنره ناکه مخکه کی مارکوندی) اوایادوی نه وینی چی داخلګ په هرکال کی یووار یادوه واره په څه ناڅه افت کی مبتلی (مګر) بیاهم (دخپلو بدو حرکتونوڅخه) نه واپس کیږی اونه دوی په څه پوهیږی (چی اننده ورڅخه دلیری کیدو امید وسی یعنی په دی حادثو سره دوی لره عبرت اخستل اوخپله اصلاح کول پکاروو داخو ددوی دمسخرو بیان سو کمی چی به یی په خپلو مجلسونوکی کولی مخ ته ددوی دنفرت بیان دی کوم چی به دنبی کریم ﷺ په مجلس کی د دوی څخه صادرنیدی چنانچی ارشاددی) اوکله چی یو (نوی) سورة نازلیږی سی نویوبل ته ګوری (اوپه اشاری خبری سره کوی) چی تاسی یوڅوک (مسلمان) وینی خونه (چی په پورته کیدو کی مو ووینی اودنبی کریم ﷺ مخ کړی درته) بیا (په اشارو اشاروکی خبری کوی ددغه ځای څخه پورته سی) روان سی (داخلګ دمسجد نبوی څخه ګرځی چی) الله ﷻ د دوی زړونه (دایمان څخه) ګرځولی دی په دی وجه چی دوی محض بی پوهی خلګ دی (چی دخپلی نفع څخه تښتی)

معلومات اومسئلې: په تیرو ایتونوکی دجهاد ترغیب وو په لوړذکرسوی ، يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوْا : کی دا تفصیل نبوول سوی دی چی کفار خوپه ټوله دنیا کی خپاره دی ددوی سره په جهاد اوقتال کی ترتیب څنګه په کار دی په دی آیت کی ارشاد دادی چی په کفارو کی کوم خلګ تاسی ته نژدی وی اول دی جهاد ددوی سره وکړل سی نژدی والی دمقام په اعتبار سره هم کیدی سی چی کوم کفارتاسی ته داوسیدو دڅای په اعتبار سره نژدی اوسی هغه دی په جهاد کی مخکی سی اودقرابت اونسب اوتعلقاتو په اعتبار سره هم چی کوم نژدی وی هغه دی دنورو څخه مخکی سی ځکه چی اسلامی جهاد په حقیقت کی د دوی دخیر خواهی په تقاضا سره دی او په خیرخواهی اوهمدردی کی قریب اوتعلقاتو والا مخکی دی لکه چی نبی کریم ﷺ ته حکم ورکول سوی دی .

وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً: دغلظت معنی سختی اوقوت دی مراد دا دی چی دکفارو سره په سلوک کی داسی رایه اختیار کړی چې دوی په هیڅ حیثیت سره په تاسی کی کمزوری محسوسه نه کړی .

فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا: ددی آیت څخه معلومه سوه چی دقرآن دایتونو تلاوت په دوی کی غور او فکر کول اوددی په مقتضی سره په عمل کولوپه ایمان کی ترقی اوزیاتی پیداکیږی دازیاتی دایمان دنور اودایمان دخوږوالی وی چی ددی اثر داوی چی انسان ته دالله ﷻ او درسول حکم منل آسان په نظر ورځی په عبادت کی خوند محسوسوی دګناهونو څخه یی طبعی کرکه پیدا کیږی اوګران ورته ښکاری .

حضرت علی ﷺ فرمایی چی ایمان کله زړه ته راسی نو یو سپین نورانی ټکی وی بیا څومره چی ایمان ترقی کوی دغه سپینوالی زیاتیږی تردی چی ټول زړه نورانی سی دغه ډول کفر اونفاق په اول کی پرزړه

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی یوتور تکی وی بیاچی دی څومره څومره ګناهونه کوی اوکفر یی سختیږی نو دا تکی زیاتیږی تردی چی ټول زړه تور سی (مظهری)

په دی وجه صحابه کرامو ﷺ به یوبل ته ویل چی څه ساعت یوځای کښینی ددین اواخرت خبری کوی چی زمونږ ایمان زیات سی.

يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْمَرَّتَيْنِ : په دی کی منافقان په دی خبر سوی دی چی دوی دخپل نفاق وعده شکنی وغیره ګناهونو په وجه سره هرکال په مختلف قسم مصیبتونو کی کله یووار کله دوه واری اخته کیږی کله د دوی دوستان دمکی کافران مغلوب کیږی کله ددوی دنفاق خبری ښکاره کیږی په دی سره په پریشانی کی اخته وی دلته دیودوه شمیر خاص مراد نه دی بلکه دانبوول دی ، چی دا سلسله روانه وی ایا په دی شیانو لیدو سره هم دوی عبرت نه اخلی ؟

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ

راغلی دی تاسی ته رسول ترتاسی ګران دی په ده چی تاسی ته تکلیف رسیږی حریص دی ستاسی پرګټه باندی

بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ

په ایماندارو ډیر مشفق مهربانه دی، بیاهم که دوی مخ واړوی نوته ووایه چی کافی دی ماته الله

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾

دهیچا بندګی نسته دهغه څخه ماسوا پر هغه می توکل وکی اوهغه مالك دی دعرش عظیم.

لنډتفسیر: (ای خلګو) تاسی ته یوداسی پیغمبر راغلی دی چی ستاسی دجنس څخه (بشر) دی (چی تاسی ته ورڅخه نفع حاصلول اسان وی) کوم ته چې ستاسی دتکلیف خبره ډیره ګرانه وی (غواړی چی تاسی ته ضرررونه رسیږی)کوم چی ستاسی دنفع ډیر خواهشمند دی (داحالت خویی دټولو سره دی بیاخاصکر) دایمانداروسره (خو) لوی مشفق (او) مهربانه دی (دداسی رسول څخه فائده نه اخستل لویه محرومی ده) بیاکه چیری (په دی سربیره هم ستا درسول منلو اوستا دتابعداری څخه) مخ اړوی نو ته ووایه (زما څه نقصان دی) زمادپاره (خو) الله ﷻ (حافظ ناصر) کافی دی دهغه څخه ماسوا بل دمعبود کیدو لائق نسته (پس معبودوالی په هغه پوری خاص دی نوخامخا به ټول کمالونه دعلم او قدرت په ده کی بی مثله وی بیازما دچا دمخالف څخه څه بیره ده) ماپرهغه باور کړیدی اوهغه دلوی عرش مالك دی (نونور شیان خوبه خامخا دهغه ملکیت وی پس پرهغه دبروسی کولو څخه وروسته ماته هیڅ بیره نسته البته تاسی خپل فکر کوی دحق څخه چی انکار کوی چیری به څئ)

معلومات اومسئلي: دا دسورة توبه اخری ایتونه دی په کوموکی چی یی دنبی کریم ﷺ په ټول مخلوق دخدای باندی اوبیاخاص پرمسلمانانو باندی بی حده مهربانی اوشفقت او همدردوالی بیان سوی دی اوپه اخری آیت کی یی دوی ته داهدایت فرمایلی دی چی ستا دټولو کوششونو باوجود که بیاهم څه خلګ ایمان رانه وړی نوته صبر کوه اوپه الله ﷻ توکل کوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دسورة توبه په اخرکی دامضمون ځکه راوړل مناسب سو چی په دی ټول سورة کی دکفارو څخه دبراء ت اوقطع تعلق جنګ اوجهاد ذکر وو کوم چی دالله ﷻ طرف ته دبلنی اخری صورت دی چی کله په زبانی دعوت او تبلیغ سره داصلاح امید پاته نه سی لیکن اصل کار دانبیاء علیهم السلام دا دی چی دشفقت او رحمت اوهمدردی اودخیرخواهی په جذبی سره دخدای مخلوق دخدای طرف ته راوبلی اوکه ددوی دطرف څخه مخ اړول یاځه تکلیف پیښ سی نوالله ﷻ ته دی وسپاری اوپه هغه دی توکل کوی ځکه چی هغه رب دعرش عظیم دی دلته دعرش عظیم په رب ویلوسره دانبوول مقصود دی چی هغه پرټولو کائناتو دعالم باندی محیط دی اخری دوه ایتونه دحضرت ابی بن کعب ﷺ دوینا مطابق دقرآن اخری آیتونه دی ددی څخه وروسته یوایت هم نه دی نازل سوی او دنبی کریم ﷺ وفات سوی دی دا قول دحضرت ابن عباس ﷺ دی (قرطبی)

ددی دواړو ایتونولوی فضیلتونه په حدیث کی ذکرسوی دی حضرت ابودرداء ﷺ فرمایی چی کوم سړی سهار مابنام دا ایتونه اووه۷ واری ووایی نوالله ﷻ دده ټول کارونه اسانوی (قرطبی) والله سبحانه وتعالی اعلم

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنِيْ لِتَكْمِيْلِهِ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى وَالْطُفْ بِنَا فِي تَيْسِيْرِ كُلِّ عَسِيْرٍ فَإِنَّ تَيْسِيْرَ كُلِّ عَسِيْرٍ عَلَيْكَ يَسِيْرٌ .

ای ربه ! زمونږ قبول کړی دا خدمت زمونږ څخه بیشکه ته اوریدونکی اوپوه یی ای الله ﷻ توفیق را کړی مونږ ته دمکمل کولو ددی داسی چی ستا خوښ وی ، او ته باندی راضی سی او مهربانی وکړی په مونږ په اسانولو دهر یو ګران کار کی ځکه چی اسانول دهر یوګران کار تاته اسان دی امین یارب العٰلمین .

سورة توبه ختم سو

سُوْرَةُ يُوْنُس عليه السلام

سُوْرَةُ يُوْنُسَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَتِسْعُ آيَاتٍ وَعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة یونس په مکه کی نازل سو او په دی کی یوسل اونهه ۱۰۹ آیتونه او یوولس ۱۱ رکوعګانی دی .

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی اندازی مهربانه نهایت رحم والا دی .

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝١ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ

دا آیتونه دی دکتاب محکم ، ایا خلګ تعجب کوی چی وحی

اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ

ولیږلی مونږ په یو سړی د دوی څخه داچی بیره واوروی خلګو ته اوخو شخبری واوروی

Maktaba Tul Ishaat.com

اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ قَالَ الْكٰفِرُوْنَ

ایماندارو ته چې دوی ته مرتبه رښتنی ده دخپل رب په نزد وایی منکران خلک

اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ۝۲ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

چې داخو جادوګران دی ښکاره ، په تحقیق سره ستاسی رب الله ﷻ دی چې پیدا یی کړل آسمانونه او

وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ

مځکی په شپږو ورځو کی بیا قائم سو پر عرش باندی تدبیر کوی دکار .

الْاَمْرَ ؕ مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ

هیڅ څوك سفارش نه سی کولی مګر دده داجازی څخه وروسته ، دغه الله دی رب ستاسی ،

فَاعْبُدُوْهُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝۳ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ

نو دهغه بندګی کوی ، ایا تاسی فکر نه کوی؟ دهغه طرف ته بیرته تلل دی ستاسی ټولو وعده دالله ﷻ

حَقًّا ؕ اِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

رښتنی ده هغه پیدا کوی اول وار بیایی دوباره کوی چې بدله ورکړی هغو ته چې ایمان یی راوړی وو

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ

اوکړی یی وه نیك کارونه په انصاف سره ، اوکوم چې کافران سول دوی لره څښل دی

حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۝۴

جوشیدلی اوبه او عذاب دی دردناك په دی وجه چې دوی کفر کوی

لغت تفسیر: الٓرٰ (ددی مطلب خو الله ﷻ ته معلوم دی) دا (کوم چې مخ ته راځی) دحکمت څخه ډك کتاب (یعنی قرآن) ایتونه دی (کوم چې دحقوالی په وجه قابل دمنلو اوخان پوهولو دی اوچونکی په چاچې ددی نزول سوی دی دده دنبوت څخه کفارو انکار کوی په دی وجه جواب فرمایی چې) ایادی (دمکی) خلګو نه ددی څخه تعجب وسو چې مونږ په دوی کی پریږو سړی (چې ددوی په شان بشر دی) وحی ولیږله (چې خلاصه یی داده) چې (په عام طور سره) ټول خلګ (دالله ﷻ دحکمونو څخه په خلاف کولو باندی) وبیروی

اوکوم چی ایمان راوړی دوی ته داخوشخبری واوری چی ددوی دخپل رب سره (په رسیدو) به دوی ته پوره مرتبه ورکول سی (یعنی که داسی مضمون پریو بشر دوحی په ذریعه نازل سی نودتعجب څه وجه نسته مگر) کافران (دومره په تعجب کی سول چی ستا په نسبت) وایی چی (نعوذ بالله) داسړی بیشکه ښکاره جادوگردی (نبی نه دی څکه چی نبوت دبشر دپاره نه سی کیدی) بیشکه ستاسو رب (حقیقی) الله دی چاچی آسمانونه اومځکی په شپږو ورځو (مقدار) کی پیدا کړل (نوداعلی درجی قادردی) بیا پرعرش (چی مشابه دی دتخت دسلطنت سره داسی) قائم سو (چی څنگه دهغه دشان سره لائق وی چی دعرش څخه آسمان اومځکی ته حکمونه جاری کړی لکه چی مخ ته ارشاد دی چی) هغه دهرکار (مناسب) تدبیرکوی (پس حکیم هم دی دهغه په مخکی) څوك سفارش کوونکی (سفارش) نه سی (کولی) بغیر دهغه داجازی څخه (نوعظیم هم سو پس) داسی الله ستاسی رب (حقیقی) دی پس تاسی دهغه عبادت کوی (اوشرك مه کوی) ایا تاسی (ددی دلیلونو اوریدو څخه وروسته) بیاهم نه پوهیږی تاسی تولوته دالله ﷻ خواته تلل دی الله ﷻ (ددی) رښتنی وعده کړې ده ، بیشکه هغه اول وار هم پیدا کوی بیا به هغه دوباره هم (په قیامت کی) پیدا کوی ددی دپاره چی داسی خلگوته کوموچی ایمان راوړی اودوی نیك کارونه وکړی په انصاف سره (پوره پوره) جزاورکړی (اوپه دی کی ذره کمی ونه کړی بلکه ډیرځه زیات ورکړی) او کومو خلگوچی کفروکی ددوی دپاره (په اخرت کی) به جوشیدلی اوبه دچښلودپاره ورکول کیږی اودردناك عذاب به وی د دوی دکفر په وجه سره .

معلومات اومسئلي: سورة یونس دمکی سورتونو څخه دی څینو حضراتو ددی صرف دری ایتونوته مدنی ویلی دی کم چی دمدینی دهجرت څخه وروسته نازل سوی دی په دی سورة کی هم دقرآن اواسلام بنیادی مقصدونه توحید رسالت اخرت وغیره دکائناتو دعالم اوپه دی کی دکیدونکو تغیراتو اومشاهداتو څخه دلیل نیول سوی دی اوخبره یی ذهن ته راوستلی ده ددی سره یی دځه عبرتناکو تاریخی واقعاتو اوقصو په ذریعه هغه خلگ بیرولی دی کوم چی دالله ﷻ دی ښکاره نخښوته نه گوری او ددی په مینځ مینځ کی دشرك باطلوالی اوددی متعلق دځینو شبهو جواب ارشادسوی دی داخلاصه ده دسورة د مضامینو دسورة په دی مضامینو دفکر کولو څخه په اسانی سره داخبره هم معلومیدی سی چی دتیرسورة یعنی توبه او ددی سورة په مینځ کی څه ترون دی په سورة توبه کی ددی مقصدونو دپاره دمنکرینو اوکفارو سره دجهاد اودکفر اوشرك طاقت دمادی اسبابو په ذریعه دماتولو بیان دی اوداسورة چونکی دجهاد داحکامودنازلیدو څخه مخکی په مکه کی نازل سو په دی کی یی دا ذکر سوی مقصدونه دمکی دور دقانون مطابق صرف ددلیلونو په ذریعه ثابت کړی دی .

الٓرٰ دی ته حروف مقطعات وایی کوم چی دقرآن مجید دډیرو سورتونو په اول کی راغلی دی الٓمٓ حٰمٓ عٓسٓقٓ وغیره ددی دمعانیو په تحقیق کی دتفسیر لیکونکو بحثونه اوږده دی داصحابو تابعینو اوجمهورو عالمانو تحقیق ددی قسم تولو مقطعه حرفونو متعلق دادی چی داخاص (رمزونه) (اشاری) دی ددی معنی غالباً چی رسول الله ﷺ ته نبوول سوی وی مگردوی عام امت صرف دهغو علمونو اومعلوماتو څخه خبر کی کوم چی د دوی ذهن برداشت کولی سوای او دکومو په نه معلومیدو سره چی دامت په کارونو کی څه

Maktaba Tul Ishaat.com

حرج واقع کیدی دمقطعه حرفونو رموز داسی نه دی چی دامت څه کار باندی موقوف وی یاپه دی دند پوهیدو په وجه امت ته څه حرج وی په دی وجه نبی کریم ﷺ هم ددی معانیوی دامت دپاره غیر ضروری وګڼلی اوبیان یی نه کړی په دی وجه مونږته هم ددی په تلاش کی نه دی راتلل په کار څکه چی داخبره یقینی ده چی که ددی دمعانیو په پوهیدو کی زمونږ څه مصلحت وای نو رحمت عالم ﷺ به ددی په بیانولو کې کوتاهي نه وای فرمایلی.

په ، تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ : کی په لفظ د ، تِلْكَ سره اشاره ددی سورة دآیتونو طرف ته ده دکومو ذکر چی مخ ته راځی اودکتاب څخه مراد قرآن دی ددی صفت یی دلته د: حَكِيْم په لفظ سره کړی دی چی معنی یی دلته حکمت والا کتاب دی.

په دوهم آیت کی دمشرکانو دشبهی اواعتراض جواب دی دشبهی حاصل دادی چی دی خلګو په خپل جهالت سره داګڼلی وه چی دالله ﷻ دطرف څخه کوم رسول یاپیغمبر راځی هغه بشر یعنی انسان نه دی په کار بلکه یوه ملائکه په کار ده ، قرآن کریم ددی عبث خیال جواب په څو ځایونو کی په مختلفو عنواناتو سره ورکړی دی په یوایت کی ارشاد فرمایی ، قُلْ لَوْ كَانَ فِي الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا : یعنی که په مځکه کی اوسیدونکی ملائکی وای نو مونږ به د دوی دپاره رسول هم یو ملائکه جوړوله ددی خلاصه دا ده چی درسالت مقصد بغیر ددی څخه نه سی پوره کیدی چی کومو خلګو ته څوك رسول لیږل کیږی ددغه خلګو او ددغه رسول په مینځ کی مناسبت وی دملائکو مناسبت دملائکو سره او د انسانانو دا دانسانانو سره وی کله چی مقصد انسانانو ته رسول لیږل دی نو یو بشر رسول جوړول په کار دی.

په دی آیت کی یی په یو بل انداز سره دا مضمون داسی بیان فرمایلی دی چی ددی خلګو په دی خبره باندی تعجب کول چی بشر ولی رسول جوړسو اوده ته دنافرمانو خلګو دالله ﷻ دعذاب څخه دبیرولو اوفرمانبردارو ته ددوی دثواب دخوشخبری اوریدلو کارولی وسپارل سو؟ داتعجب په خپله دتعجب قابل دی څکه چی دبشر جنس ته بشر رسول لیږل عین مقتضا دعقل ده.

په دی آیت کی ایمانداروته خوشخبری په دی الفاظو کی ورکول سوه: اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ په دی کی دلفظ د: قَدَمَ اصلی معنی خوقدم یعنی پښی دی چونکه دانسان دکوشش اوعمل اوددی په سبب دترقی ذریعه قدمونه وی په دی وجه مجازاً لوړی مرتبی ته قدم ویل کیږی اودلفظ د: قدم اضافت یی: صدق ته وکی اودایی وښوولو چی لوړه مرتبه کومه چی دوی ته ورکول کیدونکی ده هغه حقه اویقینی هم ده اوقائمه باقی پاته کیدونکی لا زواله هم ده ددنیا دمرتبو اووعدو په شان نه ده چی دیو عمل په نتیجه کی اول خو ددی حاصلول یقینی نه وی اوکه حاصله هم سی خوباقی پاته کیدل یی یقینی کیدی نه سی بلکه فانی اوزائله کیدل یی یقینی وی کله خوپه ژوند کی زائله سی اودمرګ په وخت کی خوددنیا دهری مرتبی اوعهدی اودولت اونعمت څخه انسان خالی لاسونه کیږی غرض دا چی دلفظ دصدق په مطلب کی ددی یقینی کیدل هم شامل دی اوکامل مکمل او لا زواله کیدل هم په دی وجه ددی جملی معنی داسوه چی ایماندارو ته داخوشخبری واوروه چی د دوی دپاره د دوی دربّ سره لویه درجه ده کومه چی به یقینی

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکول کیږی اولا زواله دولت به وی.
څینی تفسیر لکونکی حضرات فرمایی چی دلته د: صدق په لفظ راوړلوکی دی طرف ته هم اشاره ده چی دجنت لوړی درجی صرف دصدق او رښتونوالی اواخلاص په ذریعه حاصلیدی سی هسی په زبانی کوشش اوصرف په ژبه سره دایمان کلمه لوستل کافی نه دی ترڅوچی ژبه اوزړه دواړه په صداقت سره ایمان اختیارنه کړی چی لازمی نتیجه یی دنیکو عملونو پابندی اودبدو عملونو څخه پرهیز دی.
په دریم ایت کی یی توحید دداسی ناقابلِ انکار حقیقت په ذریعه سره ثابت کړی دی چی داسمان اومځکی په پیدا کولوکی اوبیا دټول عالم دکارونوپه تدبیر کولوکی اوچلولوکی چی کله دالله ﷻ سره څوك شریك اوحصه دار نسته نو په عبادت اوفرمانبرداری کی یی دویم څوك څنګه شریك کیدی یی؟ بلکه دبل چاپه دی کی شریکول لویه بی انصافی او عظیم ظلم دی.
په دی آیت کی یی دافرمایلی دی چی الله ﷻ آسمان اومځکه په شپږو ورځو کی پیداکړی دی لیکن زمونږه په معلوماتوکی ورځ هغه وخت ته ویل کیږی کوم چی دلمر دختو څخه تر پریوتو پوری وی او دا بنکاره خبره ده چی داسمان مځکی اوستورو دپیدا کیدو څخه مخکی خودلمر وجود نسته نودختلو اوپریوتلو حساب یی څنګه وسی؟ په دی وجه مراد دلته هغه مقدار دوخت دی کوم چی دلمر دختو اوپریوتو په مینځ کی په دی جهان کی کیدونکی وو.
دشپږو ورځوپه لړوخت کی دومره لوی جهان کوم چی پراسمانونو مځکو اوستورو اوټول کائنات دعالم باندی مشتمل دی جوړول اوتیارول دهغه پاك ذات مقام دی کوم چی قادر مطلق دی اودهغه دپیداکولو دپاره نه دمخکی څخه داوم (کچه مال) موجودوالی ضروری دی اونه دجوړولو دپاره دځه عملی اوخادمانو ضرورت سته بلکه دهغه دکامل قدرت دا مقام دی چی کله هغه دځه شی پیدا کول وغواړی نوبغیر دځه سامان اوبغیر دامداد څخه یی په یوساعت کی پیداکړی دا دشپږو ورځو مهلت هم دخاص حکمت او مصلحت په بنا باندی اختیار کړل سوی دی کنه نو دهغه په قدرت کی داهم وه چی ټول اسمانونه اومځکه او ددی داټول کائنات یی په یو ساعت کی پیدا کړی وای.
ددی څخه وروسته فرمایی ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ یعنی بیاقائم سوپرعرش باندی دومره خبره خودقرآن اوحدیث څخه ثابته ده چی عرش درحمٰن یوداسی مخلوق دی چی پرټولو آسمانونو اومځکو اوکائناتو دعالم باندی احاطه کوونکی دی ټول جهان په ده کی دننه ځای سوی دی ددی څخه زیات ددی حقیقت معلومول دانسان دوس خبره نه ده کوم انسان چی دخپل سائنس دانتهایی ترقی په زمانه کی هم لاندی ستوروته درسیدو په تیاری کی دی اولاتر اوسه (دسپوږمی څخه علاوه نورو ته) یی رسیدل نه دی نصیب سوی اودوی ددی اقرارکوی چی دالوړستوری زمونږ څخه دومره لیری دی چی درسیدو دالاتو په ذریعه هم ددی معلومات اندازی اوتخمین څخه زیات هیڅ حقیقت نه لری اودیر ستوری داسی هم دی چی شغلی یی لاتراوسه مځکی ته نه دی رسیدلی حال دادی چی دنور دشغلی رفتار په یوه منټ کی په لکونو میله ښوول کیږی کله چی سیارو اوستورو ته دانسان درسیدو داحال دی نوآسمان چی ددی ټولوستورو اوسیاروڅخه لوړ دی دامسکین انسان دهغه حال څه معلومولی سی؟ اوبیاچی تراوو آسمانونو هم لوړ

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپر ټول حاوی اواحاطه کوونکی عرش رحمٰن دی ته به انسان څه ورسیږی اوڅه به یی معلوم کړی؟ په ذکرسوی آیت کی دومره معلومه سوه چی الله ﷻ په شپږو ورځوکی آسمان اومځکه او ټول کائنات جوړکړل او ددی څخه وروسته یی په عرش رحمٰن باندی قیام وفرمایی

دا خبره یقینی اوښکاره ده چی الله ﷻ دجسم او جسمانیت او ددی دټولو صفتونو او خاصیتونو څخه بالا اوبرتر دی نه دده وجود دڅه خاص جهت اوطرف سره تعلق لری نه دده قیام په څه مکان کی داسی دی لکه څنګه چی ددنیا دشیانو قیام په خپل خپل ځای کی وی بیاپرعرش قیام فرمایل څه رنګه اوپه څه اندازسره دی ؟ دا دهغومتشابهاتو څخه دی کومو ته چی دانسان عقل اوپوهه نه رسیږی په دی وجه دقرآن کریم ارشاد په دی باره کی دا دی چی : وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ : یعنی په دی ماسوا دالله ﷻ څخه بل څوك نه پوهیږی اومضبوط اوصحیح علم والاپه دی دایمان راوړلو اقرار کوی مګرددی دحقیقت پیژندوپه فکرکی نه راځی په دی وجه ددی قسم په ټولو معاملو کی په کوموکی چی دالله ﷻ دپاره اندامونه لاس مخ وغیره الفاظ په قرآن کی وارد سوی وی دامت دجمهورو عالمانو عقیده داده چی په دی خبره ایمان راوړل سی چی داکلمی پرخپل ځای حقی دی اوددی څخه چی دالله ﷻ څه مراد وی هغه صحیح دی اوددی دانداز ی او حقیقت په فکرکی په دی وجه پریږوتل نه دی په کار چی دا دانسانی عقل څخه بالا تر دی .

نه هر جائی مرکب توان تاختن که جاها سپر باید انداختن

هرځای ته آس زغلول نه دی په کار چی بیا هر ځای وسله غورځول وی .

اوکومومتاخرینو علماوو چی ددی شیانو کومی معانیوی بیان کړی دی ددوی په نزد هم دغه محض دیواحتمال په درجه کی دی چی شایددامعنی به وی دی معانیوته یقینی دوی هم نه وایی اویوازی احتمالات ښکاره خبره ده چی دحقیقت اظهار نه سی کولی په دی وجه صفا اوساده مسلك دسلف صالحینو اوصحابوو اوتابعینو دی کومو چی ددی شیانو حقیقت علم الهی ته په سپارلو قناعت کړی دی ددی څخه وروسته فرمایی: يُدَبِّرُ الْأَمْرَ یعنی پرعرش قائم سودټولوعالمانو انتظام په خپله په خپل دست قدرت سره پوره کوی .

مَامِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ : یعنی چانبی اورسول ته هم دده په دربار کی دسفارش کولو په خپله څه مجال نسته ترڅو چی الله ﷻ دوی ته دسفارش کولو اجازه ورنه کړی دوی هم دچا سفارش نه سی کولی په ځلورم آیت کی داخرت دعقیدی بیان دی ، إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا یعنی دهغه طرف ته ستاسی دټولو بیرته واپس کیدل دی ، وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا دا وعده ده دالله ﷻ حقه او صحیح .

إِنَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ : یعنی هغه اول پیدا کوی ټول مخلوق او هغه به دوی په قیامت کی دوباره ژوندی کړی په دی جمله کی یی وښوولە چی داهیڅ دتعجب خبره نه ده چی داټول کائنات دفنا کیدو څخه وروسته به بیاځنګه ژوندی سی ځکه چی دکوم پاك ذات په قبضه کی داوی چې اول یوشی بغیر دڅه مادی څخه اوبغیر دڅه مخکی شکل اوصورت څخه پیدا کړی نودهغه دپاره څه مشکله ده چی پیدا سوی مخلوق دفنا کیدو څخه وروسته بیا دوباره پیدا کړی .

Maktaba Tul Ishaat.com

هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِیَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا وَّ قَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ

هغه (ذات) دی چاچی جوړکی لمر برینبید ونکی اوسپوږمی رڼا اومقرر یی کړی دوی ته منزلونه چی وپیژنی شمیر

السِّنِیْنَ وَالْحِسَابَ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ یُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ

دکلونو او حساب نه دی پیدا کړی الله ﷻ دا ټول مګر په تدبیر سره ښکاره کوی نخښی

لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ ۝ اِنَّ فِی اخْتِلَافِ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ

دهغو خلګو دپاره چی کوم پوهیږی ، البته په بدلولو دشپی او د ورځی کی اوڅه چی پیدا کړی دی الله ﷻ

فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّتَّقُوْنَ ۝

په آسمانونو اومځکه کی نخښی دی دهغو خلګو دپاره کوم چی ویریږی.

لغتفسیر: دغه الله داسی دی چاچی لمر برینبودنکی جوړکی او سپوږمی (یی هم) نورانی جوړه کړه اوددوی (دتللو) دپاره یی منزلونه مقرر کړل (چی روزانه یو یو منزل قطع کوی) ددی دپاره چی (ددی اجرامو په ذریعه) تاسی دکلونو شمیر اوحساب معلوموی الله ﷻ داشیان بی فائدی نه دی پیدا کړی هغه دادلیلونه دهغو خلګو دپاره صفا صفا بیانوی کوم چی پوهه لری بیشکه دشپی اوورځی په یوبل پسی په راتلوکی اودخلګو دپاره (دتوحید) دلیلونه دی کوم چی (دخدای څخه) ویره کوی.

معلومات اومسئلي: په دی درو وارو ایتونوکی دکائناتو دعالم ډیری نخښی ذکردی کومی چی دالله ﷻ په قدرت کامله او حکمت بالغه باندی شاهد دی اوددی دلیلونه دی چی رب العزت په دی باندی په پوره شان سره قادردی چی ددی عالم دفنا کولو اوذره ذره کولو څخه وروسته بیاهم داذری جمع کړی اودنوی سره داټول ژوندی کړی اودحساب کتاب څخه وروسته دجزاء اوسزاء قانون نافذ کړی او دا چی دا دعقل اوحکمت تقاضا ده دغه ډول دادری ایتونه دهغه اجمالی تفصیل دی کوم چی په تیر دریم آیت کی دآسمان او مځکی په شپږو ورځوکی پیدائش اوبیاپه عرش دقائمیدو څخه وروسته د یُدَبِّرُ الْاَمْرَ په الفاظو بیان کړی وو چی ده عالم صرف پیدا کی اوبیایی دغه ډول پاته کړی نه دی بلکه هر وخت په هر آن کی دهرشی نظام اوانتظام هم دده په لاس کی دی.

ددی نظام اوانتظام یوجزء دا دی: هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِیَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا د: ضِیَآء او: نور دواړو معنی برق او روښنایی ده په دی وجه ډیرو امامانو دلغت دی دواړو لفظونو ته مرادف ویلی دی علامه زمخشری اوطیبی وغیره فرمایی چی که څه هم درڼا معنی په دی دواړو لفظونوکی مشترکه ده مګر لفظ دنور عام دی هری قوی کمزوری نری اوتیزی رڼا ته نور ویل کیږی او: ضوء ضیاء: قوی اوتیزی رڼا ته وایی انسان ته ددواړه قسمه رڼا ګانو ضرورت وی دعام کاروبار دپاره دورځی تیزه رڼا په کار وی او دمعمولی کارونو دپاره دشپی نری رڼا خوښوی که دورځی هم دشپی په شان نری رڼا دسپوږمی په شان وی نوپه کارو بار کی به خلل راځی اوکه دشپی هم لمر برینبیدی نوپه خوب اودشپی په مناسبو

Maktaba Tul Ishaat.com

کارونوکی به خلل راسی په دی وجه قدرت ددواړه قسمه رڼاګانو انتظام داسی وفرمایی چی دلمر رڼاته یی د: ضوء ضیاء: درجه ورکړه اودکار اوبارپه وخت کی یی ددی ظهور وفرمایی اودسپوږمی رڼا یی نری اوپیکه جوړه کړه اوشپه یی ددی وخت دظهور محل جوړه کړه.

قرآن کریم دلمر اوسپوږمی په رڼاګانو کی فرق په ډیرو ځایونوکی په مختلفو عنوانونو سره بیان کړی دی په سورة نوح کی دی ، وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا : په سورة فرقان کی فرمایی ، وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا دسراج معنی څراغ «دیوه» ده اوچونکی دځراغ رڼا ذاتی وی اودبل شی څخه حاصله سوی نه وی په دی وجه ځینوحضراتو داویلی دی چی ضیاء دیوشی ذاتی رڼاته وایی اونور هغه رڼا ته وایی چی دبل شی څخه حاصله سوی وی مګر داخبره په ښکاره دیونانی فلسفی په اثرکی ویل سوی دی کنه نو په لغت کی ددی هیڅ اصل نسته اوقرآن کریم هم ددی څه قطعی فیصله نه ده کړی.

زجاج رحمه‌الله لفظ دضیاء دضوء جمع مقرره کړیده ددی په وجه سره شاید دی طرف ته اشاره وی چی دڼا اووه مشهور رنګونه اوقسمونه کوم چی په دنیا کی پیدا کیږی لمر ددی ټولو قسمونو جامع دی کوم چی دباران څخه وروسته په قوس قزح «دبوډی تا ل سره اوزرغونه» کی لیدل کیږی «منار»

دلمر سپوږمی په نظام کی دقدرت دنخښو یوه بله مظاهره داده چی: وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ دقَدرَ لفظ دتَقْدیر څخه جوړدی دتقدیر معنی ده یوشی دزمانی یا مکان یاصفاتو په اعتبار سره په یومخصوص مقدار اوپیمانه سره ایښوول دشپی او ورځی وختونه په یوه خاصه پیمانه دایښوولو دپاره قرآن کریم فرمایی ، وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ : دځای فاصلی اومسافت په یوه خاصه پیمانه دایښوولو دپاره بل ځای دملك دشام اوسبا دمینځ دکلو متعلق فرمایی ، وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ اودعامو مقدارونو متعلق فرمایی: وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا .....

لفظ د : مَنَازِل دمنزل جمع ده چی اصل معنی یی ځای دنزول دی الله ﷻ دلمر اوسپوږمی دواړو درفتار دپاره خاص حدونه مقرر کړی دی چی په دی کی هر یوه ته منزل ویل کیږی سپوږمی چونکی خپله دوره په هره میاشت کی پوره کوی په دی وجه ددی منزلونه ډیریایوکوم دیرش دی مګرچونکی په هره میاشت کی سپوږمی کم ازکم یوه ورځ پټوی په دی وجه په عام طور سره دسپوږمی منزلونو ته اته ویشت ۲۸ ویل کیږی او دلمر دوره په کا ل کی پوره کیږی دده منزلونه دری سوه شپیته یاپنځه شپیته وی پخوا دعربو په جاهلیت کی هم اواوس ددی حساب اوریاضی په نزدهم ددی منزلونو خاص خاص نومونه دهغو ستورو په مناسبت سره ایښوول سوی دی کوم چی ددی منزلونو په خوا او شا کی پیدا کیدی سی قرآن کریم ددی اصطلاحی نومونو څخه بالاتر دی دده مراد هغه فاصلی دی کوم چی لمر اوسپوږمی په خاصو خاصو ورځو کی قطع کوی.

په ذکرسوی آیت کی، قَدَّرَهُ مَنَازِلَ په ضمیردمفرداستعمال سوی دی حال دادی چی منزلونه دلمر اوسپوږمی دواړو دی په دی وجه ځینی تفسیرلیکونکی حضرات فرمایی چی که څه هم ذکردمفرددی مګرمراد ور څخه دهرواحدپه اعتبارسره دواړه دی چی ددی مثالونه په قرآن اوعربی محاورو کی ډیر پیدا کیدی سی اوځینی حضرات فرمایی چی که څه هم منزلونه الله ﷻ دلمر سپوږمی دواړو دپاره قائم فرمایلی دی مګر

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته بیان صرف دسپوږمی دمنزلونو مقصود دی په دی وجه د: قَدَّرَهُ ضمیر دسپوږمی طرف ته راجع دی وجه دتخصیص داده چی دلمر منزلونه درصد دالاتو یاحساب څخه بغیر نه سی معلومیدی دده ختل او پریوتل په یو هیئت سره دکال په ټولو ورځوکی وی اوپه لیدو سره هیڅاته پته نه لګیږی چی نن لمر په کوم منزل کی دی په خلاف دسپوږمی څخه چی ددی حالات هره ورځ مختلف وی دمیاشتی په اخر کی بالکل په نظر نه راځی ددغه شان بدلیدو په وجه په لیدو سره بی علمه خلګ هم دتاریخونو پته لګولی سی مثلاً نن دمارچ اتم تاریخ دی هیڅوک هم چی لمرته وګوری نودانه سی معلومولی چی اتم تاریخ دی اوکه یو ویشتم په خلاف دسپوږمی څخه چی دی ته په کتلو سره هم دتاریخ پته لګیدی سی.

په ذکرسوی آیت کی چونکه دانبوول مقصوددی چی دالله ﷻ ددی عظیم الشانه نخښوسره دانسان دافائده هم ترڅ سوي ده چی ددی په ذریعه دی دکال او میاشتی او ددی دتاریخونو حساب معلوم کړی او داحساب هم که څه هم دلمر اوسپوږمی دواړو څخه معلومیدی سی اوپه دنیا کی دپخوا څخه دواړه قسمه کلونه اومیاشتی شمسی اوقمری معلومی دی اوقرآن کریم هم دسورة اسرآء په آیت ۱۲ کی فرمایی:

وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِتَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ: په دی کی دایة اللیل څخه مراد سپوږمی اودایة النهار څخه مراد لمر دی او د دواړو دذکر کولو څخه وروسته فرمایی چی په دی سره تاسی دکلونو شمیر اودمیاشتو دتاریخونو حساب معلومولی سی اوپه سورة رحمٰن کی فرمایی: اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ چی په دی کی ښوول سویده چی دلمر او سپوږمی د دواړو په ذریعه تاریخ میاشت او دکال حساب معلومولی سی.

لیکن دسپوږمی په ذریعه میاشت اوتاریخ په لیدو اوتجربی سره معلوم دی په خلاف دلمر څخه چی ددی حساب بغیر دریاضی دانانو څخه بل څوک نه سی معلومولی په دی وجه په دی آیت کی دلمر اوسپوږمی دواړو دذکر کولو څخه وروسته کله چی ددوی دمنزلونو ذکر وفرمایی نو په ضمیر دمفرد: قَدَّرَهُ سره یی ارشاد وفرمایی اومنزلونه یی صرف دسپوږمی بیان کړل.

او چونکه احکام په اسلام کی په هرځای او په هره موقع کی داسی ایښوول سوی دی چی ادا کول یی دهرسړی دپاره اسان وی برابره خبره ده که تعلیم یافته سړی وی اوکه بی تعلیمه دښار اوسیدونکی وی اوکه دکلی په دی وجه عام طور په اسلامی احکاموکی د قمری سنه میاشتو اوتاریخونو اعتبار سوی دی په: لمونځ روژه حج زکوٰة عده وغیره په اسلامی فرضو اواحکامو کی قمری حساب ایښوول سوی دی ددی دامعنٰی نه ده چی شمسی حساب ساتل یا استعمالول ناجائز دی بلکه ددی اختیار دی چی یو سړی په لمونځ روژه حج زکوٰة عده وغیره معاملو کی خوقمری حساب دشریعت مطابق استعمالوی مګر په خپل کاروبار تجارت وغیره کی شمسی حساب استعمالوی شرط دادی چی په مجموعی طور سره په مسلمانانوکی قمری حساب جاری وی چی درمضان حج وغیره وختونه معلومیږی هسی نه چی دجنوری فروری وغیره څخه ماسواورته نوری میاشتی دسره نه وی معلومی فقهاووقمری حساب ساتل پرمسلمانانو فرض کفایی مقرر کړی دی.

او په دی کی هم څه شك نسته چی په طریقو دپیغمبرانو اوپه طریقو دنبی کریم ﷺ او خلفاء راشدینوکی

Maktaba Tul Ishaat.com

قمری حساب استعمال سوی دی نوددی تابعداری کول موجب دبرکت او ثواب ده غرض داچی په ذکرسوی آیت کی دالله ﷻ دقدرت اوکامل حکمت بیان دی چی ده درنا دوی عظیم الشانی خزانی دحال مناسب پیداکړی اوبیا دهری یوی درفتار دپاره یی داسی پیمانی مقررې کړی چی دکال میاشتی تاریخ او ختونو دیو یو منټ حساب ورځخه معلومیدی سی نه کله ددوی په رفتار کی فرق راځی نه کله مخ ته وروسته کیږی نه په دی خدای جوړکړی مشینانوکی کله دمرمت وفقه وی اونه ورته دګریسنګ ضرورت راځی اونه کله سولیږی اونه ماتیږی په کوم شان سره چی یی دازل ځخه چلیدل شروع سوی دی ، هم هغه شان چلیږی . ددی ځخه وروسته دایت په اخر کی دزیاتی خبرداری دپاره فرمایی ، مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ : یعنی داټول شیان الله ﷻ بی فائدی نه دی پیداکړی بلکه په دی کی لوی لوی حکمتونه دی اوداانسان دپاره په کښی بی شمیره فائدی دی هغه دا دلیلونه دهغو خلګو دپاره صفا صفا بیانوی کوم چی عقل اوپوهه لری .

دغه دوول په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی چی دشپی او ورځی په یو بل پسی په راتلو کی اوځه چی الله ﷻ په آسمانونو اومځکه کی پیدا کړی دی ، په دی ټولو کی دهغو خلګو دپاره (دتوحید او آخرت) دلیلونه دی کوم چی دالله ﷻ ځخه بیریږی . دتوحید دلیلونه خو دقدرت او صنعت یووالی اوبغیر دچا دامداد ځخه ددی ټولو شیانو پیدا کول اوپه داسی نظام سره یی چلول دی چی نه کله بدلیږی او نه ماتیږی .

او داخرت دلیلونه په دی وجه دی چی کوم حکیم ذات چی دا ټوله شیان دانسانانو دفائدی دپاره جوړکړل اودیو محکم نظام یی پایبنده کړل دهغه ځخه دامکنه نه ده چی هغه دکائناتو دامخدوم یعنی انسان بی فائدی محض دخوړلو چښلو دپاره پیداکړی وی اودده پرذمه یی څه فرض نه وی اینبی اوکله چی دالازمه سوه چی دکائناتو پردی مخدوم هم څه پایبندی راتلل ضروری دی نوداهم لازمه سوه چی ددی پایبنده پوره کوونکو اونه پوره کوونکودی هم یووخت حساب وی چی کوونکوته ښه بدله ورکول سی اونه کوونکو ته سزاورکول سی اوداهم ښکاره خبره ده چی په دی دنیا کی خو دجزا اوسزا دا دستور نسته دلته خودیر کله مجرم دمتقی اوپرهیزګار ځخه هم زیات ښه ژوند تیروی په دی وجه ضروری ده چی دحساب اوجزا اوسزاځه ورځ مقرر وی ددغه نوم قیامت او آخرت دی .

إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوا

البته کوم خلګ چی امید نه لری زمونږ دلیدو اوخوشحاله سول ددنیا په ژوند اوپه دی مطمئن سول

بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ ۝٧ أُولٰٓئِكَ مَأْوٰىهُمُ النَّارُ

اوکوم خلګ چی زمونږ دنخښو ځخه ناخبره دی ، دداسی خلګو ځای دی اور

بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۝٨ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

بدله دهغه چی دوی ځه کول ، البته کوم خلګ چی ایمان راوړی اونیک کارونه وکړی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَهْدِيهِمْ رَبُّهُمْ بِإِيمَانِهِمْ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ فِي

هدایت به وکړي دوی ته رب د دوی په ایمان سره چې بهیږي به لاندې ترڅنګه نهرونه

جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٩﴾ دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ

په باغونو دارام کې ، د دوی دعا دلته دا ده چې پاک ذات دی ستا ای الله ﷻ او ملاقات د دوی په دی کې

فِيهَا سَلَامٌ ۚ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠﴾

سلام دی او خاتمه د دوی دعا په دی ده چې تولې ثنا الله ﷻ ته ده چې پروردګار دی د ټول جهان

لنډتفسیر: دکومو خلګو چې زمونږ خواته دراتلو امید نسته او دوی د دنیا په ژوند راضی سوی دی (د اخرت طلب هیڅکله نه کوی) او په دی پوری یې زړه لګولی دی (دراتلونکی هیڅ خبر نسته) او کوم خلګ چې زمونږ دایتونو څخه (کوم چې په رسالت دلالت کوی) بالکل غافله دی د داسی خلګو ځای د دوی د (دی) عملونو په وجه سره دوزخ دی (او) یقیناً کم خلګ چې ایمان راوړی او دوی نیک کار وکی د دوی رب به دوی په وجه د دوی د مومن کیدو د دوی مقصد (یعنی جنت) ته ورسوی د دوی (ترڅایونو) لاندی به نهرونه جاری وی دارام په باغونوکی (اوڅه وخت چې دوی جنت ته ورسیږی او ناڅاپه د جنت عجائبات وویني نو دغه وخت به) د دوی دخلو څخه داخبره ووزی چې سبحان الله او (بیا کله چې یو بل ووینی نو) د دوی یوبل ته سلام به داوی چې السلام علیکم او (کله چې په اطمینان سره هلته کښینی او خپل تیر مصیبتونه او تکلیفونه او د دغه وخت داغیر فانی خوشحالی وویني نو) د دوی (د دغه وخت په خبروکی به) اخری خبره داوی الحمد لله رب العٰلمین (لکه چې په نورو ایتونو کی دی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ)

معلومات اومسئلې: په تیرو ایتونوکی دالله ﷻ د کامل قدرت او حکمت خاص خاص مظهرونه د آسمان اومځکی لمر اوسپوږمی وغیره پیدا کولو ذکر یی وکی د توحید عقیده اواخرت یی په یوبلیغ انداز کی ثابت کړی وو په دی ذکر سوو ایتونوکی په اولنیو درو ایتونوکی دانبوول سویده چې د کائناتو د عالم د داسی ښکاره ښکاره نخښو اوشهادتونو باوجود دانسانانو دوی طبقی سوی یوه هغه کموچی د قدرت د دی نخښو طرف ته یوه ذره فکرونه کی نه یی خپل پیدا کوونکی مالک وپیژندی اونه یی پردی فکر وکی چې مونږ د دنیا د عامو حیوانانو په شان حیوانان نه یو رب العزت مونږ ته ادراک شعور عقل او هوش د ټولو حیوانانو څخه زیات راکړی دی او ټول مخلوقات یی زمونږ خادمان جوړکړی دی نو زمونږ پرذمه به یی هم څه کار مقررکړی وی او دهغه به زمونږ څخه حساب اوجزا مقرر وی کمی ته چې د قرآن په اصطلاح کی قیامت اوحشر نشر وایی بلکه دوی خپل ژوند د عامو حیوانانو په شان جوړکړی دی په اولنیو دوارو ایتونو کی یی د دغو خلګو خاص نښانی ښوولی دی د دوی د اخرت سزایی ذکر کړي ده فرمایی چې ، کوم خلګ چې زمونږ سره په یوځای کیدو یقین نه کوی د دوی حالت دا دی چې د آخرت دائمی ژوند او د هغه راحت او تکلیف یی هیرکړی دی صرف د دنیا په ژوند راضی سوی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم دا چی ، په دی دنیا کی داسی په اطمینان سره ناست دی چی گویاددی ځای څخه ددوی هیڅکله تلل نسته همیشه همیشه به دلته اوسی دوی کله هم دافکر نه کوی چی ددی دنیا څخه هرسړی ته رخصت کیدل خویوه داسی منل سوی مسئله ده چی څوك په کی گرسره شك نه سی کولی اوکله چی ددی ځای څخه تلل یقینی دی نوچیری چی تلل دی دهغه ځای دپاره څه تیاری کول په کار دی .

دریم داچی : داخلگ زمونږ دایتونو اونخښو څخه پرله پسی په غفلت کی پراته دی که دوی په آسمان اومځکه اوددوی په مینځ کی په دی عامو مخلوقاتوکی اوپه خپله په خپل نفس کی یوه ذره هم فکرکولی نوپه حقیقت باندی به ډیرپه اسانه پوه سوی وای اودوی به ددی ناپوهی دغفلت څخه وتلی وای .

داسی خلگ دکومو چی دا نخښی نبوول سوی دی د دوی سزا په آخرت کی دا ده چی د دوی ځای دجهنم اور دی او دا سزا په خپله د دوی دخپل عمل نتیجه ده .

افسوس دی چی قرآن کریم کومی نخښی دکفارو اومنکرانونبوولی دی نن زمونږ دمسلمانانو حال د دوی څخه څه بدل نه دی زمونږ ژوند او زمونږ دشپی او ورځی فکرونو اومشغلو ته چی وکتل سی هیڅوك دا نه سی ګڼلی چی زمونږ سره ددی دنیا څخه ماسوا بل هم څه فکر سته اوددی باوجود مونږ خپل ځانونه پاخه اورښتونی مسلمانان ګڼو اوحقیقت دادی چی رښتنی اوپاخه مسلمانان لکه چی زمونږ مشران وه چی په مخونو لیدوبه یی خدای را یادیدی اوداسی به محسوسیده چی دی دیو ذات بیره اودځه حساب فکر په زړه کی لری او دنبی کریم ﷺ به هم سره ددی چی دګناهونو څخه معصوم وو دا حال وو په شمائل ترمذی کی دی چی نبی کریم ﷺ به اکثره غمګین اوفکر مند لیدل کیدی .

په دریم آیت کی دهغو خوش نصیبه انسانانو ذکردی کومو چی دالله ﷻ دقدرت په ایتونو کی فکر وکی اووی پیژندل ایمان یی باندی راوړی اودایمان په مقتضی یی عمل وکی او دنیکو عملونو پابند سول .

قرآن کریم ددی حضراتودپاره په دنیا اوپه اخرت کی چی کومه ښه صله اوجزا مقرر فرمایلی ده ددی ذکر یی داسی فرمایلی دی ، إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُمْ بِإِيمَانِهِمْ : یعنی ددوی رب به دوی ته دایمان په وجه منزل مقصود یعنی جنت وښیی چی په دی کی به دارام اوراحت په باغونو کی نهرونه بهیږی .

په دی کی لفظ دهدایت راغلی دی چی ددی مشهوره معنی لار نبوول اوښودنه کول دی اوکله منزل مقصودته درسولو په معنی کی هم استعمالیږی په دی ځای کی دامعنی مراد ده اودمنزل مقصودځخه مرادجنت دی چی وضاحت یی په وروسته الفاظو کی سوی دی لکه چی داولی طبقی سزا ددوی دخپلو عملونو نتیجه وه دغه ډول ددی دوهمی مومنی طبقی دجزاپه باره کی فرمایی چی دانبه جزا دوی ته ددوی دایمان په وجه سره ورکول کیږی اوچونکی لوړ دایمان سره دنیك عمل ذکر راغلی دی په دی وجه دلته به دایمان څخه مرادهغه ایمان وی دکوم سره چی نیك عمل هم وی دایمان اونیك عمل بدله دبی مثله راحتونو ازنعمتونو مقام جنت دی .

په څلورم آیت کی جنت ته درسیدو څخه وروسته دجنتیانو څومخصوص حالات نبوول سوی دی اول دا چی: دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ په دی کی لفظ د: دعوی په خپله مشهوره معنی کی نه دی کومه چی یو مدعی دخپل مقابل په مخالفت کی کوی بلکه لفظ ددعوی دلته ددعاپه معنی کی دی معنی داده چی دجنتیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

دعاجنت ته درسیدو څخه وروسته به داوی چی دوی به ، سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وایی یعنی دالله ﷻ تسبیح به کوی .
دلته دا سوال پیداکیږی چی دعاء خوپه عام عرف کی دځه شی ددرخواست اودځه مقصد غوښتلو ته
رایی په سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ کی نه څه درخواست سته نه طلب دی ته دعا په څه حیثیت سره وایی ؟
جواب دا دی چی ددی کلمی څخه دانبوول مقصوددی چی جنتیانو ته به په جنت کی هر راحت هرمطلب
په من مانی اندازسره خود بخوده حاصل وی دځه شی دغوښتلو او درخواست کولو به دسره ضرورت نه
وی په دی وجه ددرخواست اوطلب اومعلومی دعاپه څای به د دوی په ژبو صرف دالله تسبیح وی او هغه
هم ددنیا په شان دځه فرض عبادت ادا کولو دپاره نه بلکی دوی به دتسبیح په دی کلمی سره
خوندمحسوسوی اوپه خپله خوښی به سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وایی ددی څخه علاوه په یوحدیث قدسی کی دی
چی الله ﷻ فرمایی کوم بنده چی زماپه حمد اوثنا کی هروخت مشغول وی تردی چی ده ته دخپل مطلب ددعا
غوښتلوهم فرصت نه وی نوزه به ده ته دټولوغوښتونکو څخه زیات شیان ورکړم یعنی بغیردغوښتلو څخه
به زه دده ټول کارونه پوره کړم په دی حیثیت سره هم لفظ د سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ته دعا ویل کیږی .
ددی معنی په اعتبار سره دصحیح بخاری اومسلم په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ ته به کله څه تکلیف
ورپیښ سو نو دا دعابه یی وویله .

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ : اوامام
طبری فرمایی چی سلف صالحینو به دی ته دعاء دکرب ویله او دمصیبت اوپریشانی په وخت کی به یی
دا کلمات ویل او دعابه یی غوښتله (تفسیر قرطبی)
او امام ابن جریر ابن منذر وغیره یودا روایت هم نقل کړی دی چی دجنتیانو کله یوشی ته خواهش وسی
نودوی به سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ووایی ددی داوریدو سره به ملائکی د دوی دمطلب شی حاضر کړی گویا کلمه د ،
سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ به دجنتیانو یوه خاصه اصطلاح وی چی ددی په ذریعه به دوی دخپل خواهش اظهار کوی
اوملائکی به هروار هغه پوره کوی (روح المعانی وقرطبی) په دی لحاظ سره هم کلمی د سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ته
دعا ویل کیږی .

دجنتیانودوهم حال یی داوښووی چی: تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلٰمٌ تحیه په عرف کی هغه کلمی ته ویل کیږی دکمی په
ذریعه چی دیو راتلونکی یالیدونکی سړی استقبال کیږی لکه سلام یا خوش امدید یا اهلاً وسهلاً
وغیره دی آیت وښوول چی دالله ﷻ دطرف څخه یا دملایکو دطرف څخه به دجنتیانو استقبال په لفظ
دسلام سره وی یعنی داخوشخبری چی تاسی دهر تکلیف اوناخوښه شی څخه سلامت اوسی داسلام په
خپله دالله ﷻ دطرف څخه هم کیدی سی لکه چی په سورة یٰس کی دی: سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيمٍ اودملائکو
دطرف څخه هم کیدی سی لکه بل څای ارشاد دی ، وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۝ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ یعنی
ملائکی به جنتیانو ته دهری دروازی څخه سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ویونکی داخلیږی اوپه دی دواړو خبروکی څه
تضاد نسته چی کله به ورته سیده په سیده دالله ﷻ دطرف څخه سلام رسیږی اوکله دملائکو دطرف څخه
اودسلام لفظ که څه هم په دنیا کی دعا ده لیکن جنت ته په رسیدو به هرمطلب حاصل سی په دی وجه
هلته دالفظ ددعا پرځای به دخوشخبری کلمه وی (روح)

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم حال دجنتیانو یی داوښووی چی وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ یعنی دجنتیانو اخری دعابه الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ وی .

مطلب دادی چی جنتیانو ته به دجنت درسیدو څخه وروسته دالله ﷻ په معرفت کی ترقی نصیب سی لکه چی حضرت شهاب الدین سهروردی رحمه الله په خپله یوه رساله کی فرمایی چی جنت ته په رسیدو به عامو جنتیانو ته دعلم اومعرفت هغه مقام حاصل سی کوم چی په دنیا کی دعالمانو دی اوعالمانو ته به هغه مقام حاصل سی کوم چی دلته دانبیاوودی اوانبیاووته به هغه مقام حاصل سی کوم چی په دنیاکی دسید الانبیاء علیه السلام دی اونبی کریم ﷺ ته به هلته دقرب خداوندی انتهایی مقام حاصل وی اوممکنه ده چی ددی مقام نوم: مقام محمود وی دکوم دپاره چی داذان په دعا کی دوی ددعا کولو تلقین فرمایلی دی.

لنډه دا ده چی دجنتیانو ابتدایی دعا: سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ اواخری دعاء: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ به وی په دی کی دالله ﷻ دوه قسمه صفتونو طرف ته اشاره ده یودجلال صفتونه په کومو کی چی دالله ﷻ دهرعیب اوهری بدی څخه دپاکوالی ذکر دی دوهم صفتونه داکرام چی په دی کی دالله ﷻ دبزرګی برتری اواعلی کمال ذکردی دقرآن کریم په آیت: تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ کی ددی دواړو قسمونو طرف ته اشاره سوې ده په فکر کولو سره معلومیږی چی: سُبْحَانیت دالله ﷻ دصفتونو دجلال څخه دی اومستحق دحمدوثناء کیدل دصفتونو داکرام څخه دی اودطبعی ترتیب مطابق صفتونه دجلال دصفتونو داکرام څخه مخکی دی په دی وجه جنتیان به په اول کی صفتونه دجلال په لفظ د: سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ بیان کړی اوپه اخری کی به صفتونه داکرام په لفظ د: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ ذکر کړی دا د دوی دشپې او ورځې مشغله ده.

او ددی ډیری سره حالاتوطبعی ترتیب دادی چی جنتیان کله چی: سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ووایی نوپه جواب کی به دوی ته دالله ﷻ دطرف څخه سلام ورسیږی ددی په نتیجه کی به دوی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ ووایی (روح المعانی) احکام اومسئلی: قرطبی په احکام القرآن کی فرمایی چی په خوړلو چښلو اوټولو کارونو دجنتیانو ددی عمل مطابق سنت دادی چی په بسم الله سره شروع سی اوپه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره ختم سی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دالله ﷻ په نزد بنه داده چی بنده کله څه شی خوری چښی نوچی په بسم الله سره شروع وکړی او چی فارغه سی نو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ووایی.

مستحب دی چی دعا کوونکی په اخر کی دا ووایی، وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ اوقرطبی فرمایی چی بنه داده چی ددی سره دسورة صٰفّٰت اخری ایتونه هم ووایی یعنی: سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ .

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ

او که ژر ورسوی الله ﷻ خلګو ته بدی لکه چی دوی ژر غواړی خیر نو ختم به کړل سی

اَجَلُهُمْ ؕ فَنَذَرُ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ۝١١

د دوی عمر، نو مونږ پاته کوو هغه چی امیدنه لری زمونږ دملاقات د دوی په شرارت کی سرګردانه،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖۤ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآىِٕمًا ۚ

او کله چی ورسیږی انسان ته تکلیف بلی مونږ په بغل یا په ناسته یا په ولاړه ښیا چی

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَاۤ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ؕ

مونږ کله لیږی کی دده څخه هغه تکلیف نو داسی ولاړ سی چی لکه گویاده نه ووبللی مونږ دځه تکلیف په رسیدو ،

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ

دارنگه ښائسته سوی دی بی باکو خلگو ته چی دوی څه کوی او البته مونږ هلاك کړی دی خلگ

مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا ۙ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا ؕ

ستاسی څخه مخکی کله چی ظالمان سول حال دادی چی راوړی وی دوی ته رسولانو ددوی ښکاره نخښی او دوی هیڅکله نه وه ایمان راوړونکی ،

كَذٰلِكَ نَجْزِى الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ

هم دغسی سزا ورکوو مونږ قوم گناهگار ته بیا تاسی مونږ نائبان کړاست

خَلٰٓئِفَ فِى الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَاِذَا

په مخکه کی د دوی څخه وروسته چی وگورو چی تاسی څه عملونه کوی او کله چی

تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ائْتِ

ویل کیږی په دوی آیتونه زمونږ واضح وایی هغه خلگ دکومو چی امید نسته زمونږ سره دملاقات راوړه

بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَاۤ اَوْ بَدِّلْهُ ؕ قُلْ مَا يَكُوْنُ لِىْۤ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ

یو قرآن ددی څخه ماسوا یادی بدل کړه ، ته ووایه چی زما کار نه دی چی دابدل کړم

تِلْقَآئِ نَفْسِىْ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰۤى اِلَىَّ ۚ اِنِّىْۤ اَخَافُ اِنْ

د خپل طرف څخه زه تابعداری کوم دهغه چی کوم حکم راسی ماته زه ببریږم که ،

عَصَيْتُ رَبِّىْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۵﴾ قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ

نافرمانی وکړم دخپل رب دعذاب دورځی لوبی څخه ، ته ووایه که الله غوښتلی نومابه نه وای ویلی

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْكُمْ وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ

دا تاسی ته اونه به یی خبر کړی وای تاسی په دی څکه چی زه پاته سوی یم په تاسی کی یو عمر ددی څخه مخکی

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ

ایا ییا تاسی نه پوهیږی ، نو دهغه څخه زیات ظالم څوك دی چی جوړ وی په الله پوری دروغ یا ،

كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۷﴾

درواغجن کوی دهغه ایتونه ، بیشکه فلاح نه کی پیدا گنهگاران .

لنډتفسیر: اوکه چیری الله ﷻ ژر پرخلګو (ددوی دژر غوښتلو موافق) په تیزی سره نقصان واقع کولی لکه څنګه چی دوی دفائدی دپاره ژرغوښتنه کوی (اوددی موافق هغه فائده ژر واقع کوی دغه ډول که نقصان یی هم واقع کولی) نوددوی وعده (دعذاب) به ژر پوره کیده (لیکن زمونږ حکمت چی بیان یی اوس راځی چونکی ددی مقتضی نه دی) پس (په دی وجه) مونږ هغه خلګ دکومو چی زمونږ سره دلیدو امید نسته ددوی په حال (بی دعذاب څخه یوځو ورځی) پاته کوو چی دوی په خپله سرکښی کی سرګردانه ګرځی (او دعذاب مستحق سی اوهغه حکمت دادی) اوکله چی انسان ته (یعنی په دوی کی څینو ته) څه تکلیف رسیږی نومونږ بولی په پروتی هم په ناستی هم په ولاړی هم (اودغه وخت څه بت وغیره نه وی ورپه یاد: ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّآ اِيَّاهُ) بیاچی کله (ددی دعاء اوزاری څخه وروسته) مونږ دده هغه تکلیف لیرې کو نوبیا پرخپل حالت راسی (اوزمونږ څخه داسی بی تعلقه سی) چی ګویا کم تکلیف چی ده ته رسیدلی وو دهغه دلیری کیدو دپاره ده کله مونږ نه وو بللی (اوبیا هغه دشرك خبری شروع کړی: نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوْٓ اِلَيْهِ مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنْدَادًا) دی دحد څخه تیریدونکو ته خپل (بد) عملونه داسی ښائسته معلومیږی (لکه چی مونږ یی اوس بیان کړی دی) اومونږ ستاسی څخه مخکی ډیری ډلی (په قسم قسم عذابونو سره) هلاکی کړی دی کله چی دوی ظلم (یعنی کفر اوشرك) وکی حال دادی چی دوی ته ددوی پیغمبرانو هم دلیلونه راوړی وه اودوی (په وجه دعنادسره) داسی کله وه چی ایمان یی راوړی وای مونږ مجرمانو خلګوته هم دغسی سزا ورکوو (لکه چی اوس مونږ بیان کړه) بیا ددوی څخه وروسته مونږ په دنیا کی پرځای ددغو تاسی اباد کړاست ددی دپاره چی (په ښکاره طورسره هم) مونږ وویني چی تاسی څنګه کارکوی (چی ایاهم دغه شرك اوکفر کوی یا ایمان راوړی) اوکله چی ددوی په مخکی زمونږ ایتونه ویل کیږی چی بالکل صفا صفا دی نوداخلګ دکومو چی زمونږ خواته دراتلو امید نسته (تاته) داسی وایی چی (یاخو) ددی څخه ماسوا څه (پوره) بل قرآن راوړه (چی په هغه کی زمونږ دمسلك خلاف مضامین نه وی) یا (کم ازکم) په دی (قرآن) کی څه ترمیم وکړه (چی زمونږ دمسلك خلاف مضامین ورڅخه حذف کړی اوددی بیان څخه داهم معلومه سوه چی دغو خلګو قرآن کلام محمدی ګنی الله ﷻ په دی بنا باندی جواب ورکوی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی) ته ورته داسی ووایه چی (علاوه ددی څخه چی ددا سی مضامینو حذف کول څنګه دی په خپله) زما څخه داسی نه سی کیدی چی زه دخپل طرف څخه په دی کی ترمیم وکړم (اوکله چی دغینو حذف کول هم ممکن نه دی نودتولو حذف کول خوپه درجه اولی ناممکن دی څکه چی دازما کلام دسره دی نه بلکه د الله ﷻ کلام دی کوم چی دوحی په ذریعه راغلی دی کله چی خبره داده نو) بس زه خوددی تابعداری کوم چی ماته دوحی په ذریعه زارسیدلی دی (اوبالفرض خدای مه کړه) که زه (دوحی تابعداری ونه کړم بلکه) دخپل رب نافرمانی وکړم نوزه دیوی ډیری لویی ورځی دعذاب څخه بیریږم (کومه چی دګناهګارو دپاره مخصوصه ده او په وجه دګناه ستاسی په نصیب کی پس زه خوددغه عذاب یاددی دسبب یعنی ګناه جرأت نه سم کولی اوکه دوی داوحی نه ګنی اوستا کلام یی ګنی نو) ته ورته داسی ووایه چی (داخو بیکاره ده چی داکلام خو معجزدی یوبشر پردی نه سی قادریدی برابره خبره ده که زه یم اوکه تاسی پس) که خدای ﷻ ته منظوره وای (چی زه دامعجز کتاب تاسی ته وانه وروم اوالله ﷻ زماپه ذریعه تاسی ته ددی اطلاع درنه کړی) نو (پرمابه یی دانه وای نازل کړی پس) نه به ماتاسی ته دا (کلام) ارولی وای اونه به الله ﷻ تاسی ته ددی اطلاع درکړی وای (نو کله چی یی زه تاسی ته اوروم اوزماپه ذریعه تاسی ته اطلاع درکول کیږی نو ددی څخه معلومه سوه چی الله ﷻ ته ددی معجز کلام اورول اواطلاع کول منظور سول اواورول او اطلاع کول بغیر دوحی څخه په وجه ددی دمعجز کیدو ممکنه نه ده ددی څخه معلومه سوه چی دانازل سوی وحی اوکلام الهی دی) څکه چی (اخر) ددی (کلام ظاهرولو) څخه مخکی هم یوه لویه حصه دعمر زه په تاسی کی اوسیدلی یم (بیاکه دازما کلام وای نویا خوبه تردومره وخته پوری یوه جمله هم ددی طرز نه وای وتلی اویاناڅاپه دومره لویه خبره جوړول داخو بالکل دعقل څخه خلاف ده) بیا ایا تاسی دومره عقل نه لری (پس کله چی ددی کلام الهی اوحقوالی ثابت سو اوبیا هم زماڅخه دترمیم درخواست کوی اودانه منی نوپوه سی چی) ددغه سړی څخه زیات ظالم څوك دی کوم چی په الله ﷻ دروغ جوړکړی (لکه چی زمادپاره چی خونبوی) یادهغه ایتونه درواغجن کوی (لکه چی دځان دپاره مو خونښ کړی دی) یقیناً داسی مجرمانو لره به هیڅکله فلاح نه وی (بلکی همیشه به په عذاب وی)

معلومات اومسئلي: دذکرسووآیتونوڅخه داولنی آیت تعلق دهغوخلګوسره دی کوم چی داخرت څخه منکر دی په دی وجه کله چی دوی داخرت دعذاب څخه بیرول کیږی نو دوی په طور دمسخرو وایی چی که ته رښتینی یی نوداعذاب اوس راوغواړه یاداچی بیا داعذاب ژرولی نه راځی لکه نضر بن حارث چی ویلی وه: یا الله که داخبره رښتنی وی نو پرمونږ دآسمان څخه کانی راواوروه یایو بل سخت عذاب راولیږه.

په اولنی آیت کی یی ددی داجواب ورکړی دی چی الله ﷻ خو په هرڅه قادر دی دکوم عذاب چی وعده سوې ده دافوراً هم نازلولی سی مګر هغه په خپل حکمت بالغه اولطف اوکرم سره داسی نه کوی داکم عقلان چی دخپل ځان دپاره ښیراوی کوی اومصیبت طلب کوی که الله ﷻ د دوی ښراوی هم دغسی ژرقبلولی لکه څنګه چی ددوی ښه دعا اکثره قبلوی نو دا ټول به هلاك سوی وای.

ددی څخه معلومه سوه چی دخیر ددعا اوښی دعا متعلق خودالله ﷻ دا عادت دی چی اکثره یی ژر قبلوی اوکله کله دڅه حکمت اومصلحت په وجه یی نه قبلیدل ددی منافی نه دی مګر کوم انسان چی کله دخپلی

Maktaba Tul Ishaat.com

ناپوهی څخه اوکله دځه غصی اوغم څخه دخپل ځان یا دخپل اهل اوعیال دپاره ښراوی وکړی یاداخرت څخه دانکار په بنا باندی عذاب لوبه وګنی اودځان دپاره یی وغواړی نودا فوراً نه قبلوی بلکه مهلت ورکوی چی منکرانوته دغور اوفکر کولو اودخپل انکار څخه دبیرته واپس کیدو موقع ورکول سی اوکه په څه وخت کی یی دغم او دغصی یازړه تنګیدو په وجه بده دعا کړی وی نوچی ددی مهلت ورکول سی چی خپل ښه بد وویني اوپر انجام نظر وکړی نوبیرته واپس سی ورڅخه.

امام ابن جریر طبری په روایت دقتاده ﷺ اوبخاری اومسلم په روایت دمجاهد ﷺ نقل کړی دی چی دلته دښراوو څخه مراد دا دی چی ځینی وخت یوانسان دغصی په حالت کی دخپل اولاد یامال او دولت دتباه کیدو دعا وکړی یاپه دی شیانو باندی دلعنت الفاظ ووایی نوالله ﷻ په خپل لطف اوکرم سره ددامی دعاپه قبلولوکی تلواری نه فرمایی.

امام قرطبی دلته یوروایت نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی مادالله ﷻ څخه دعا کړي ده چی هغه دیودوست اوعزیز ښراوی دده ددوست اوعزیز متعلق نه قبلوی.

اوشهر بن حوشب رحمه‌الله فرمایی چی ماپه ځینو کتابونو کی ویلی دی چی کومی ملائکی دانسانانو په حاجتونو پوره کولو باندی مقرری دی الله ﷻ پخپل فضل اوکرم سره دوی ته داهدایت کړی دی چی زمابنده کومه خبره په غم اوغصه کی وکړی نودغه مه لیکی (قرطبی)

ددی باوجود ځینی وخت دقبولیت ساعت راسی چی په دی کی دانسان دژبی څخه کومه خبره ووزی هغه فوراً قبوله سی په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی چی خپل اولاد او مال ته کله ښراوی مه کوی هسی نه چی دغه وخت ددعا دقبولیت وی اودا ښراوی فوراً قبولی سی (اوتاسی بیا وروسته ستومانه یاست) په صحیح مسلم کی داحدیث دحضرت جابر ﷺ په روایت سره دغزوه بواط تروا قعی لاندی نقل سوی دی.

ددی ټولو روایتونوحاصل دای چی دذکرسوی آیت اصل خطاب که څه هم منکرانو داخرت اوددوی دعذاب دفوری مطالبی سره دی لیکن ددی په عموم کی هغه مسلمانان هم داخل دی کوم چی دځه غم اوغصی په وجه سره دخپل ځان یاخپل مال اواولاددپاره ښراوی کوی دالله ﷻ عادت دده دفضل اوکرم په وجه سره د دواړو سره دا دی چی داسی ښراوی فوراً نه نافذ کوی چی انسان ته دسوچ اوغور فکر کولو موقع ورکول سی.

په دوهم آیت کی دتوحید اواخرت منکران یی په یوبل بلیغ انداز سره قائله کړی دی هغه داچی خلګ دراحت اواطمینان په عامو حالاتوکی دخدای اواخرت خلاف دلیل بازی کوی اوغیر دخدای ﷻ سره شریکوی او دحاجتونو پوره کیدو امیدونه ورڅخه ساتی لیکن کله چی لوی مصیبت باندی راسی نودغه وخت داخلګ په خپله هم دخپلو ټولو هغو ځایونو څخه مایوسه سی چی امیدونه یی ساتل اویو الله ته راوګرځی اوپه پروتی ناستی ولاړی غرض داچی په هرحال کی دهغه په رابللو مجبوره سی مګر سره ددی داحسان فراموشی یی داحال دی چی کله الله ﷻ د دوی مصیبت لیری کړی نودخدای ﷻ څخه داسی ازاد اوبی فکره سی چی ګویا کله یی دی رابللی هم نه وو او دده څخه یی څه حاجت غوښتلی هم نه وو ددی څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ سره په حاجت روایی کی بل څوك شریك کوونکی په خپله هم دخپلی

Maktaba Tul Ishaat.com

عقیدی باطلوالی وینی مگر بیا هم دعناد اوضد پر وجه سره په دغه باطله عقیده کلك ولاړ وی.
په دریم آیت کی ددی دوهم آیت دمضمون زیات وضاحت اوتاکید داسی سوی دی چی څوك دی دالله ﷻ مهلت ورکول داسی نه ګڼی چی په دنیا کی عذاب نه سی راتلی دتیرو قومونو په تاریخ او د دوی دسر کښی اونافرمانی په سزا کی مختلف قسم عذابونه په دی دنیا کی راغلی دی په دی امت کی که څه هم الله ﷻ دسید الانبیاء ﷺ دعزت په وجه سره داوعده فرمایلی ده چی عام عذاب به نه راځی اودالله ﷻ دی لطف اوکرم داخلګ داسی بی باکه کړی دی چی په لوی زړه ورتیا سره دالله ﷻ عذاب ته ددعوت ورکولو اومطالبی کولو دپاره یی تیاریږی لیکن یادساتل په کاردی چی دالله ﷻ دعذاب څخه بی فکری د دوی دپاره په هیڅ حال کی روانه ده ځکه چی په پوره امت اوپوره دنیا دعام عذاب نه لیږلو وعده ضرور ده مګر پرخاص خاص افرادو اوقومونو دعذاب راتللو اوس هم ممکن دی.

په څلورم آیت کی فرمایی ، ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ : یعنی بیا دتیرو قومونو دهلاکولو څخه وروسته مونږ تاسی ددوی قائمقام جوړکړاست اودمخکی خلافت موتاسی ته حواله کی مګر داسی مه ګڼی چی دا دمخکی خلافت ستاسی دعیش اوارام دپاره تاسی ته سپارل سوی دی بلکه ددی اعزاز اواکرام اصل مقصد دادی چی ستاسی امتحان واخستل سی چی تاسی څنګه عمل کوی دتیرو امتونو دتاریخ څخه متاثره کیږی دخپلو حالاتو اصلاح کوی اوکه دحکومت اودولت په نشه کی بد مسته کیږی ددی څخه معلومه سوه چی ددنیا حکومت اواقتدار څه دفخر اوناز شی نه دی بلکه یولوی بار دی چی دیری ذمه واری یی دی.

په پنځم شپږم اووم اواتم څلورو واړو ایتونوکی داخ[illegible]حه ـ منکرانو دیوغلط خیال اوبی ځایه فرمائش تردید دی دی خلګو ته نه دخدای ﷻ معرفت حاصل وو اونه دوحی اورسالت دسلسلی څخه خبروه پیغمبران یی هم دعامو خلګو په شان ګڼل قرآن کریم کوم چی دنبی کریم ﷺ په ذریعه دنیاته ورسیدی ددی متعلق هم ددوی دا خیال وو چی داپه خپله ددوی کلام او ددوی تصنیف دی ددی خیال پر بنایی دنبی کریم ﷺ څخه دامطالبه وکړه چی داقرآن خوزمونږ دعقیدو اونظر یو خلاف دی دکومو بتانو چی زمونږ پلار اونیکه همیشه تعظیم کړی دی اودوی یی حاجت روا منلی دی قرآن دی تولو ته باطل اوعبث وایی دیر شیان اومعاملی چی مونږ یی برابر استعمالوو قرآن هغه تولی حراموی اوبیا قرآن مونږ ته دانبیی چی دمرګ څخه وروسته دوباره ژوندی کیدل اوحساب کتاب ورکول به وی داتول شیان زمونږ په خیال کی نه راځی مونږ ددی منلوته تیارنه یو په دی وجه ته یاداسی وکړه چی ددی قرآن پرځای بل قرآن جوړ کړه چی په هغه کی داشیان نه وی یاکم از کم په دی کی ترمیم وکړه اوداشیان ورڅخه وباسه.

قرآن کریم اول د دوی غلطه عقیده رد کړه اونبی کریم ﷺ ته یی داهدایت وفرمایی چی ته دوی ته ووایه چی دانه زما کلام دی اونه دخپل طرف څخه دابدلولی سم زه خوصرف دوحی الهی تابعداری کوم که زه یوه ذره هم په دی کی په خپل اختیار سره څه تبدیلی وکړم نوسخته ګناه به وکړم اوپرنافرمانی کوونکو باندی چی کوم عذاب مقرر دی دهغه څخه بیریږم په دی وجه داسی نه سم کولی.

بیا فرمایی زه چی څه کوم دالله ﷻ دحکم تابع یی کوم که دالله ﷻ رضا دا وای چی تاسی ته داکلام وانه

وررول سی نونه به ماتاسی ته اورولی وای اونه به الله ﷻ تاسی ددی څخه خبر کړی وای اوکله چی الله ﷻ ته دامنظوره ده چی تاسی ته داکلام واورول سی نودچا څه مجال دی چی په دی کی څه کمی یازیاتی وسی ددي څخه وروسته یی دایه واضح دلیل سره وښوولو چی دادالله ﷻ کلام اودالله ﷻ دطرفه دی . فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ : یعنی تاسی لږ داهم سوچ وکی چی دقرآن دنزول څخه مخکی ماستاسی په مخکی دعمرځلویښت کاله اوږده موده تیره کړي ده په دی موده کی تاسی کله هم زما څخه شعر اوشاعری یاڅه مقاله نه ده اوریدله که مادخپل طرف څخه داسی کلام ویلی سوی نوڅه ناڅه به می په دی ځلویښت کاله موده کی هم ویلی وای ددی څخه علاوه په دی ځلویښت کاله اوږد ژوندکی تاسی زما دچال چلن صدق اوایمان داری تجربه کړي ده چی په ټول عمرکی می هیڅکله دروغ نه دی ویلی نونن ځلویښت کاله وروسته ددروغوویلوڅه وجه کیدی سی؟ ددی څخه خو په لازمی طور سره ثابته سوه چی نبی کریم ﷺ صادق اوامین دی په قرآن کریم کی چی څه دی دغه دالله ﷻ کلام دی اودهغه دطرف څخه راغلی دی

مهمه فائده : دقرآن کریم دی دلیل صرف دقرآن پرحقوالی باندی مکمل ثبوت پیش نه کی بلکی په عامو معاملوکی یی دکره اوکوته (ښه اوبد) اوحق اوباطل پیژندلو یو اصول یی هم وښووی چی کله یوسړی ته وعده یامنصب سپارل وی نودده دقابلیت اوصلاحیت دکتلو بهترین اصول دادی چی دده تیر ژوندته وکتل سی که په دی کی صدق اوامانت داری موجوده وی نوائنده ورڅخه هم ددی امید کیدی سی اوکه دده په تیر ژوند کی ددیانت امانت اوصدق شاهدی موجوده نه وی نودائنده دپاره محض دده په وینا اودعوه سره په ده اعتماد کول څه هوښیارتیا نه ده نن دوعدو په تقسیم اودذمه واریو په سپارلو کی چی څومره غلطی اوددی په وجه کوم لوی لوی فسادونه پیداکیږی ددی ټولو اصلی وجه دفطرت ددی اصولو پریښوول اوپه رسمی شیانو پسی کیدل دی .

په اتم آیت کی ددی مضمون زیات تاکید راغلی دی چی په دی کی په غلطی سره دیو کلام الله ﷻ په نسبت کولو سره دسخت عذاب ذکر دی .

وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ

او عبادت کوی دالله ﷻ څخه ماسوا دهغه شی چی نه نقصان رسولی سی دوی ته او نه نفع او وایی

هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ

داخوزمونږ سفارشیان دی دالله ﷻ سره ته ووایه ایا تاسو الله ته ښیاست کم چی هغه ته معلوم نه دی په آسمانونو

وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾ وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا

کی اونه په مخکه کی هغه پاک دی اولوی دی ددی څخه کوم چی تاسی ورسره شریکوی اوخلق چی دی نو یوامت

أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ

دی وروسته جلا جلا سول اوکه نه وای یوه خبره مخکی سوی ستادرب نوفیصله به سوی وای په دوی کی

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾ وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۖ

په کومه خبره کی چی اختلاف کوی ، او وایی ولی نه نازلیږی په ده یوه نښانه دده درب څخه؟

فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانتَظِرُوا ۖ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

نو ته ووایه چی په غیبو الله ﷻ پوه دی ، نو انتظار کوی ، زه هم ستاسی سره انتظار کوم

لنډتفسیر: اوداخلګ (توحید د) الله پاته کوی دداسی شیانو عبادت کوی کوم چی (دعبادت نه کولو په صورت کی) نه دوی ته ضرر رسولی سی اونه (دعبادت کولو په صورت کی) دوی ته نفع رسولی سی او (دخپل طرف څخه بی دلیله یوه نفع جوړوی) وایی چی دا (معبودان) دالله سره زمونږ سفارشیان دی (په دی وجه مونږ ددوی عبادت کوو) ته ووایه چی ایاتاسی الله ﷻ ته داسی شی ښیاست کوم چی خدای ﷻ ته معلوم نه دی نه په آسمانونوکی نه په مځکه کی (یعنی کوم شی چی دالله ﷻ په علم کی نه وی دهغه واقع کیدل او وجود محال دی ، نو تاسی په یومحال شی پسی لګیدلی یاست) الله ﷻ پاک اولوی دی ددی خلګو دشرک څخه او (اول) ټول انسانان پریوه طریقه وه (یعنی ټول موحدین وه ځکه چی حضرت ادم ﷺ (توحید دعقیدی سره راغلی وو ددې اولاد هم تریوی زمانی پوری پردی عقیده اوطریقه وو) بیا (په خپلو کړیدوسره) دوی (یعنی ځینو) اختلاف پیداکی (یعنی دتوحیدځخه وګرځیدل اومشرکان سول اودامشرکان خلق داسی دعذاب مستحق دی چی) که یوه خبره نه وای کومه چی ستادربّ دطرف څخه اول مقررسوی ده (چی پوره عذاب به دوی ته اوس نه بلکه په اخرت کی ورکول کیږی) نوپه کوم شی کی چی داخلق اختلاف کوی ددوی قطعی فیصله به (په دنیاکی) سوی وای اوداخلق (په وجه دعناد دسوونو معجزو ښکاره کیدو باوجود اوخاص کرد دقران دمعجزو لیدو اوددی دمثال څخه دعاجزکیدو باوجود) داسی وایی چی پرده (یعنی محمد ﷺ زمونږ دفرمائشی محجزوځخه) یوه معجزه ولی نه نازلیږی؟ ته ووایه چی (دمعجزی اصل مقصد درسول رښتونوالی اوحقوالی ثابتول وی او دغه خوپه ډیرو معجزوسره سوی دی اوس دفرمائشی معجزو ضرورت خودسره سته نه البته! امکان سته چی ظاهری سی اویاظاهری نه سی ددی تعلق دعلم غیب سره دی او) دغیبو علم صرف خدای لره دی (ماته نسته) په دی وجه تاسی هم منتظر اوسی زه هم ستاسی سره انتظار کوم (چی ستاسو هریو فرمائش پوره کیږی اوکه نه اودفرمائشی معجزودنه ظاهرولو حکمت په قران کریم کی څوځایه ښودل سوی دی چی ددی دظهر څخه وروسته دالله ﷻ عادت دا دی چی که بیاهم ایمان رانه وړی نوټول قوم هلاکیږی سی الله ﷻ ته ددی امت دپاره داسی عام عذاب منظورنه دی بلکه د دوی ترقیامته پوری دباقی ساتلو تقدیر مقررسوی دی)

معلومات اومسائل: کافر اومسلم دوه جداجدا قومونه دی نسلی اووطنی قومیت عبث دی.

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَّاحِدَةً : یعنی دآدم ﷺ ټول اولاد په شروع کی یوامت یوقوم اوموحدین وه دشرک اوکفر نوم نه وو بیاپه توحید کی اختلاف پیداسو مختلف قومونه مختلفی دلی جوړی سوی.

دازمانه دیوامت اودټولو دمسلمان کیدوځومره وه اوترکومه پوری وه؟ دحدیث دروایتونو څخه معلومیږی چی دحضرت نوح ﷺ ترزمانی پوری داصورت وو دحضرت نوح ﷺ په زمانه کی شرک اوکفر

Maktaba Tul Ishaat.com

بنکاره سوچی حضرت نوح ﷺ یی مقابله وکړه (مظهری)

دا هم ظاهره ده چی دحضرت ادم ﷺ څخه ترحضرت نوح ﷺ پوری یوه اوږده زمانه ده په دنیاکی دانسانانو نسلونه اوابادی پوره خپره سوی وه په دی تولو انسانانو کی درنګ شکل اوطرز معاشرت اختلاف راتلل یوطبعی امردی اوپه مختلفو ملکونوکی دخپریدو څخه وروسته دوطن اختلاف هم یقینی دی اوممکنه ده چی په خبرو اترو اوژبوکی هم اختلاف راغلی وی لیکن قرآن کریم دانسبی قبائلی درنګ اووطن اختلاف کوم چی فطری کارونه دی دامت په یووالی کی خلل راوستونکی نه دی مقرر کړی اوددی اختلافونو په وجه سره یی دادم ﷺ اولاد مختلف قومونه اومختلف امتونه نه بلکه یو اُمّت مقرر کی. خوکله چی دایمان خلاف کفر اوشرک خپورسو نوکافر اومشرک یی جدا قوم اوجدا ملت مقرر کی. فَاخْتَلَفُوا یی ارشادوفرمایل دقرآن کریم ایت ، هُوَ الَّذِی خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَمِنْكُمْ مُؤْمِنٌ دا مضمون نور هم زیات واضح کی چی دالله ﷻ مخلوق دحضرت ادم ﷺ داولادپه مختلفو قومونوکی دتقسیم شی صرف دایمان اواسلام څخه مخ اړول دی په نسبی او وطنی قرابتو سره قومونه نه جدا جدا کیږی دژبی اووطن یارنګ اونسل پربنا باندی دانسانانو دمختلفو ډلو مقررولو جهالت دانوی حماقت اوبی وقوفی ده کمی چی نوی رنا پیدا کړی ده اودنن وخت دیر تعلیم افته په دی نیشنلزم پسی لګیدلی دی کوم چی په زرګونو فتنی اوفسادونه په خپله لمَن کی لری أَعَاذَ اللهُ الْمُسْلِمِينَ مِنْهُ (الله ﷻ دی مونږ مسلمانان ددی څخه په امان کړی آمین)

وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ

اوکله چی مونږ وځکوو خلقوته خوند دخپل رحمت وروسته دیو تکلیف څخه چی دوی ته رسیدلی وو ،

إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِىٓ ءَايَاتِنَا ۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ

نودغه وخت جوړ وی حیلی زمونږ په قدرتونوکی ، ووایه چی الله دتولوڅخه ژرکولی سی حیلی بیشکه

رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۖ

زمونږ فرشتی لیکی حیله بازی ستاسی ، هغه تاسی ګرځوی په وچه او درياب کی

حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ ۖ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا۟ بِهَا

تردی چی کله تاسو کښینی په کښتیو کی او چلوی هغه خلګ په ښه هوا کی او خوشحاله سی په دی

جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَآءَهُمُ ٱلْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ

باندی راسی په کښتیو هوا تنده او راسی په دوی باندی څپی دهرطرف څخه ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اُحِيْطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا

اوپوهه سی دوی چی دوی گیر سول نو بلی الله ﷻ چی خالصه کوی هغه لره بندگی ـ که تاخلاص کړو مونږ

مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۲۲﴾ فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ اِذَا هُمْ يَبْغُوْنَ

ددی څخه نو بیشکه مونږ به سو شکر ګذار، بیا کله چی خلاص کړی دوی الله نو دغه وخت شرارت شروع کړی ،

فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ۙ مَّتَاعَ

په مخکه کی په ناحقه ، واوری خلقو ستاسی شرارت دی په تاسی باندی نفع واخلی ،

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۳﴾

ددنیا ژوند ، بیا مونږ ته دی ستاسی واپس کیدل بیا به مونږ وښیو تاسی ته چی څه تاسی کول

اِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ

ددنیا ژوند مثال داسی دی لکه چی مونږ نازلی کړو اوبه د آسمان څخه ، نو راوزی په دی سره

نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ۗ حَتّٰٓى اِذَآ اَخَذَتِ

شینګیاه دمخکی څخه کومه چی خوری انسانان او څاروی تردی چی کله ونیسی ،

الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ ۙ

مخکه رونق خپل او ښائسته سی او خیال وکړی دمخکی خلق چی دا زمونږ په لاس راغله

اَتٰىهَآ اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ

ناڅاپه ورسیږی دی ته زمونږ حکم دشپی یا دورځی بیاوګرځوو دا پری سوی چی ګویا پرون هم دلته نه وه

بِالْاَمْسِ ۗ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾

آبادی دارنګ مونږ واضح بیانوو ښانی دهغو خلقو په وراندی کوم چی فکر کوی.

حل لغات: عَاصِفٌ: تیزه سخته هوا حَصِيْدًا: پری سوی فصل كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ: داد: غَنِيَ بِالْمَكَانِ څخه مشتق دی چی معنی یی ده په یوځای کی قیام کول.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکله چی مونږ خلګو ته وروسته ددی څخه چی په دوی یو مصیبت پریوتلی وی دغه نعمت خوند وڅکو نوفوراً زمونږ دایتونوپه باره کی شرارت شروع کړی (یعنی منع ورڅخه کوی اوتوقی مسخری ورپوری کوی اوپه اعتراض اوعناد سره دنورو معجزو فرمائشونه کوی اودتیر مصیبت څخه عبرت نه اخلی پس معلومه سوه چی ددوی داعتراض اصل سبب دالله ﷻ دنازلو کړو معجزو اوایتونو څخه منع کول ددنیا په نعمتونو کی دمستیدو څخه پیدا سوي ده مخ ته دعذاب زورنه ده چی) ته ووایه چی الله ﷻ به ددی شرارت سزا ډیره ژر درکړی په یقین سره زمونږ ملائکی ستاسی ټول شرارتونه لیکی (پس یوازی دانه چی په علم الهی کی محفوظ دی په لیکلو سره هم محفوظ دی) هغه (الله) داسی دی چی تاسی په وچه اودریاب کی گرځوی (یعنی په کومو الاتو اواسبابو سره چی تاسی گرځی دغه ټول الله ﷻ پیداکړی دی اودرکړی یی دی) تردی چی (ځینی وخت) کله تاسی په کښتی کی سپاره یاست اودغه کښتی خلګ په موافق هواسره روان کړی وی اوددی څخه خلګ په (رفتار ددی) خوشحاله وی (په دی حالت کی ناڅاپه) پردوی یوه څپه د (مخالفی) هواراسی اودهرطرف څخه پردوی څپی راپورته سوی وی اودوی داسی ګڼی چی (په بد حال کی) ګیر سوو (دغه وخت) ټول په خالصه عقیده سره الله ته په راباللوسی (چی ای الله) که ته مونږ ددی (مصیبت) څخه خلاص کړی نومونږ به خامخا حق پیژندونکی (یعنی موحدین) جوړسو (یعنی دغه وخت دتوحید پرعقیده باندی قائم سی) بیاچی کله الله ﷻ دوی (ددې هلاکت څخه) خلاص کړی نوفوراً دوی په مځکه (یعنی دمځکی په مختلفو حصو) کی په ناحقه سرکښی کوونکی سی (یعنی په شرك اوګناه کی اخته سی) ای خلګو! (واوری) داستاسی سرکښی ستاسی دپاره وبال کیدونکی ده (پس) په دنیو ژوند کی (لږ ددی څخه) فائده واخلی بیا ستاسی زمونږخواته راتلل دی بیابه مونږستاسوټول کړی تاسی ته وښیو (اوسزابه یی درکړو) بس ددنیا دژوند حالات خوداسی دی لکه چی مونږ دآسمان څخه اوبه واورولی بیاپه دی (اوبو) سره دمځکی شینګیاه کومه چی بنیادم اوخاروی خوری ښه ګڼه راوخیژی تردی چی کله دغه مزکه خپل پوره رونق ونیسی اوښه ښائسته سی (یعنی په شینګیاه سره ښائسته ښکاره سی) اوددی (مځکی) مالکان وګڼی چی اوس مونږ پر (فصلونود) دی بالکل قابض سو نو (په داسی حالت کی) دورځی یادشپی پردی زمونږ دطرف څخه څه حادثه راسی (لکه ږلی یایوبل افت) پس مونږ داداسی صفا کی چی ګویا پرون (دلته) دغه موجودنه وه (نو ددی نباتاتو په مثل ددنیا ژوند دی) مونږ دغه شان ایتونه صفاصفا بیانوو ددا سی خلګو (دپوهه کولو) دپاره کوم چی سوچ کوی.

معلومات اومسئلي: قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا دعربی لغت په اعتبار سره لفظ د: مکر پټ تدبیرته ویل کیږی چی ښه هم کیدی سی اوبد هم دپښتو اواُردو ژبی دمحاوری څخه مه دوکه کیږی چی لفظ دمکر په پښتو اواُردو کی ددوکی اوفریب دپاره استعمالیږی چی ددی څخه الله ﷻ بری دی.

اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰى اَنْفُسِكُمْ: یعنی ستاسودظلم وبال پرتاسی پریوزی ددی څخه معلومه سوه چی دظلم وبال یقینی دی اوداخرت څخه مخکی په دنیاکی هم ددی سزا پیداکیدی سی.

په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دصله رحمی اودخلګوسره داحسان کولوبدله هم ژرورکوی (چی داخرت څخه مخکی په دنیاکی هم ددی برکتونه لیدل کیږی) اودظلم اودوصله رحمی قطع

Maktaba Tul Ishaat.com

کولو بدله هم ژر ورکوی (چی په دنیاکی یی هم سزا پیدا کیدی سی) رواه ترمذی وابن ماجه بسند حسن. او په یوحدیث کی په روایت دحضرت عائشی ﷺ ذکردی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دری گناهونه داسی دی چی ددوی وبال پرخپل کوونکی پریوزی: ظلم بد عهدی او دوکه اوفریب (روایت یی کړی دی ابو الشیخ اوابن مردویه په تفسیرکی) (ازمظهری)

وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ۭ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

اواللہ ﷻ بلنه ورکوی دکور دسلامتیا طرف ته او ښیی چاته چی وغواړی لاره سیده ،

لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ ۭ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ۭ

چاچی وکړه نیکی د دوی دپاره ده نیکی او زیاتی او وبه نه خیژی د دوی په مخونوباندی تورو الی اونه رسوایی

اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ

دغه دی دجنت خاوندان اوپه هغه کی به اوسیږی همیشه ، اوکوموچی وکړی بدی بدله به

جَزَاۗءُ سَيِّئَةٍۢ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۭ مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ

پیداکړی بدی په مثل دهغه اوپټ به کړی دوی رسوایی هیڅوك نسته دوی ته دالله څخه ساتونکی

عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ مُظْلِمًا ۭ

گویا چی پټ کړه مخونه د دوی دتیاری دشپی په تکړو سره ،

اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ

دغه دی دوزخیان دوی به په هغه کی همیشه وی اوپه کومه ورځ چی جمع کړو

نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَاۗؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ

مونږ دوی تولې بیابه ووایو شرك کوونکو ته ودریږی په خپل ځای تاسی اوستاسی شریکان بیابه اختلاف وغورځوو مونږ په مینځ ددوی کی ،

وَقَالَ شُرَكَاۗؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ۝ فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًۢا

او وبه وایی د دوی شریکان تاسی خو زمونږ عبادت نه دی کړی ، نو کافی دی الله ﷻ شاهد

Maktaba Tul Ishaat.com

بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿۲۹﴾ هُنَالِكَ تَبْلُوْا

زمونږ اوستاسی په مینځ کی مونږ خو ستاسی دعبادت څخه ګرسره خبرهم نه وو ، هلته به پیدا کی .

كُلُّ نَفْسٍ مَّا أَسْلَفَتْ وَرُدُّوْا إِلَى اللّٰهِ مَوْلٰهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ

هر یو څه چی ده وړاندکړی وه او واپس به سی دالله ﷻ طرف ته کوم چی رښتینی مالك دی ددوی او ورك به سی

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۳۰﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ

ددوی څخه څه چی دوی دروغ جوړ کړی وه ، ته پوښتنه وکړه چی څوك رزق درکوی تاسوته داسمان څخه ؟ اودمځکی څخه

أَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ

یا څوك مالك دی دغوږونو اودسترګو ؟ اوڅوك راباسی ژوندی د مړی څخه او راباسی

الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْأَمْرَ ؕ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ فَقُلْ

مړی دژوندی څخه ؟ اوڅوك تدبیر کوی دکارونو ؟ نو دوی به ووایی چی الله ﷻ نو ته ووایه

أَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۱﴾ فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا

چی بیابیرېږی نه ؟ نو دا الله دی رب ستاسی په حقه سره بیاڅه پاته سودحق څخه وروسته مګر

الضَّلٰلُ ۚ فَأَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿۳۲﴾

ګمراهی ، نو تاسی کوم طرف ته بیرته ګرځی .

لنډتفسیر: اوالله ﷻ کور دبقاته تاسی بلی اوچاته چی غواړی پرسیده لار دتلو توفیق ورکوی (چی په دی سره داخرت دکورطرف ته رسیدل کیدی سی مخ ته دجزا اوسزا بیان دی چی) کومو خلګو نیکی کړې ده (یعنی ایمان یی راوړی دی) ددوی دپاره ښه والی (یعنی جنت) دی اوپردی باندی زیات (دخدای دیدار) هم اوددوی پرمخونو به نه خړوالی (دغم) وغوږول سی اونه ذلت داخلګ په جنت کی اوسیدونکی دی دوی به په هغه کی همیشه اوسی اوکومو خلګوچی بدکاروکی (یعنی کفر اوشرك یی وکی) دوی ته به دبدی سزا ددی برابر ورکول سی (دبدی څخه به زیاته نه وی) اوپردوی به ذلت خپور سی دوی به دالله ﷻ (دعذاب) څخه هیڅوك خلاص نه کړی سی (ددوی دمخونو خړوالی به په داسی حالت کی وی چی) گویا ددوی پرمخونو باندی دتوری شپی تکړی غوږول سوی دی داخلګ په دوزخ کی اوسیدونکی دی دوی به په دی کی همیشه وی اوهغه ورځ هم دذکر قابله ده په کومه ورځ چی مونږ داتوله (خلګ په میدان

دقیامت کی، جمع کړو بیا (په دی تولوکی، مشرکانوته به ووایو چی تاسی اوستاسی (تاکل سوی، شریکان (کوم چی تاسی په عبادت کی دخدای سره شریك مقررول، پرخپل ځای ودریږی (چی تاسی ته ستاسی دعقیدی حقیقت درمعلوم سی، بیابه مونږ ددوی (عابدینو اومعبودانو، په مینځ کی اختلاف واچوو اوددوی هغه شریکان به (دوی ته، ووایی چی تاسی زمونږ عبادت نه دی کړی (ځکه چی په عبادت دمعبودراضی کول مقصودوی، نو زمونږ ستاسی په مینځ کی خدای کافی شاهد دی چی مونږ ستاسی دعبادت ځخه هیڅ خبر نه وو (اوراضی کیدل خو لاپریږدی البته دشیطانانو نبودنه وه اوهغه راضی وو پس په دی اعتبار سره تاسی دهغو عبادت کوی، په دی مقام به هرسړی په خپل عمل پوه سی (چی ایاپه واقع کی داعمل نفع مند وو اوکه نفع مند نه وو؟ چنانچی دی مشرکانوته به هم داحقیقت نبکاره سی چی دکومو عبادت چی مونږ دشفاعت په امید کوی هغوی زمونږ خلاف شاهدی ورکوی دنفع به څه امید وسی، اوداخلق به دالله (دعذاب، طرف ته کوم چی ددوی حقیقی مالك دی پیرته واپس سی اوڅه معبودان چی دوی ځان لره جوړول تول به ددوی ځخه غائب (اوورك، سی (هیڅوك به یی په کار ورنه سی، ته (دی مشرکانوته، ووایه چی (وښیاست، هغه څوك دی کوم چی تاسی ته دآسمان اومځکی ځخه رزق رسوی (یعنی دآسمان ځخه باران اوروی اودمځکی ځخه فصلونه پیداکوی چی په دی سره ستاسی رزق تیاریږی، یا (داوښیاست، چی هغه څوك دی کوم چی (ستاسی، پرغوږونو اوسترګو پوره اختیار لری (چی پیداهم هغه کړل حفاظت یی هم هغه کوی اوکه وغواړی نوبی کاره کولی یی هم سی، اوهغه څوك دی کوم چی دساه (شی، دبی ساه (شی، ځخه راباسی اوبی ساه (شی، دساه د (شی، ځخه راباسی (لکه نطفه اوهګی چی دساه دشی ځخه راوزی اودساه شی ورځخه پیدا کیږی، اوهغه څوك دی کوم چی دتولو کارونو تدبیر کوی (ددوی ځخه پوښتنه وکړی، نوخامخا به دوی (په جواب کی، داووایی چی (ددی تولوکارونو کوونکی، الله (دی، نودوی ته ووایه چی بیا (دشرك ځخه، پرهیزولی نه کوی نو (دکوم چی داصفتونه اوکارونه ذکرسول، دا دی الله کوم چی ستاسی حقیقی رب دی (اوچی کله حق کارثابت سو، بیا دحق (کار، ځخه وروسته نورڅه پاته سوه بغیر دګمراهی ځخه (یعنی کوم چی دحق کار ځخه خلاف وی هغه ګمراهی ده او دتوحید حق والی ثابت سو نو یقیناً چی شرك ګمراهی ده، بیا (حق پریږدی، کومی خوا (دباطل طرف ته، بیرته ګرځی.

معلومات اومسئلي: په تیر آیت کی یی ددنیا دژوند او ددی دناپایداری مثا ل دهغه فصل سره ورکړی وو کوم چی په اسمانی اوبو سیراب سی تر اوتازه سی اودهر قسم میوی ګلونه ونیسی اودفصل خاوند یی په لیدو خوشحالیږی چی اوس به زما تول ضرورتونه په دی سره پوره سی مګر دده دنافرمانیو په وجه سره دشپی یا دورځی باندی زمونږ دعذاب یوه حادثه راسی چی دغه تول داسی صفا کړی چی ګویا دلته څه شی ګرسره موجود نه وو داخو ددنیا دژوند حال وو ددی ځخه وروسته په ذکرسوی آیت کی ددی په مقابله کی داخرت دکور حال بیان سوی دی.

ارشاد فرمایی: وَاللّٰهُ یَدْعُوْٓا اِلٰی دَارِ السَّلٰمِ یعنی الله ﷻ انسان ددار سلام طرف ته رابولی یعنی ددی کورطرف ته چی په هغه کی هرقسم سلامتی سلامتی وی نه په دی کی څه تکلیف وی نه رنځ اوغم نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دناجوړی بیره نه دفنا کیدو حالت اونه دبدلیدو فکر وی.

ددار السلام څخه مراد جنت دی ته ددار السلام ویلو یوه وجه خودا ده چی په دی کی هرقسم سلامتی اوامن اوسکون به هرسړی ته حاصل وی دوهمه وجه په څینو روایتونو کی داده چی دجنت نوم دار السلام په دی وجه هم ایښوول سوی دی چی په دی کی اوسیدونکوته به همیشه دالله ﷻ دطرف څخه اودارنګه دملائکودطرف څخه سلام رسیږی بلکه لفظ دسلام به دجنتیانواصطلاح وی چی ددی په ذریعه به دوی دخپلو خواهشاتو اظهار کوی اوملائکی به یی ورته تیاروی لکه چی ددی څخه په مخکی آیت کی تیر سوی دی حضرت یحیٰی بن معاذ ﷺ ددی آیت په تفسیر کی په طور دنصیحت عوامو ته خطاب وکی اووی فرمایل چی ای دادم ﷺ زویه! ته الله ﷻ ددارالسلام طرف ته بللی یی ته به دی دعوت طرف ته کله اوکوم وخت قدم پورته کوی نبه پوه سه چی ددی دعوت قبلولو دپاره که تاسی په دنیاکی کوشش شروع کړی نودغه به کامیاب وی اوته به دار السلام ته ورسیږی اوکه تاددنیا داعمر هسی ضائع کی اوقبرته درسیدو څخه وروسته داغواړی چی ددی دعوت طرف ته به ولاړسم نوهلته به ستا لار بنده سی اوته به هلته یوقدم هم مخکی ولاړ نه سی ځکه چی هغه دار العمل نه دی.

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی دار السلام دجنت په اوو نومونو کی یو نوم دی (قرطبی)

ددی څخه معلومه سوه چی په دنیا کی دیوکور نوم دار السلام ایښوول مناسب نه دی لکه چی جنت یا فردوس وغیره نومونه ایښوول هم صحیح نه دی.

ددی څخه وروسته په ذکرسوی آیت کی ارشاد فرمایی: وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ یعنی رسوی الله تعالی څوك چی وغواړی سیده لاری ته.

مطلب دا دی چی دالله ﷻ دطرف څخه ددار السلام دعوت خودټولو انسانانو دپاره عام دی اوددی معنی په اعتبار سره دټولو دپاره هدایت هم عام دی لیکن دهدایت خاص قسم چی سیده لاری ته یی راولی اودتلو توفیق ورکړی دادخاصو خاصو خلګو نصیب کیږی (یا الله ﷻ زمونږ یی نصیب کړی) آمین

په ذکرسوو دوو ایتونو کی ددنیا دکور اوداخرت دکور مقابله اوددنیا دخلګو اوداخرت دخلګو دحالاتو ذکروو مخ ته اوس په څلورو ایتونو کی ددواړو فریقو دجزا اوسزا بیان دی اول یی دجنتیانو ذکر داسی وفرمایی: چی کومو خلګو نیکی اختیار کړه یعنی دټولو څخه په لویه نیکی ایمان اوبیا په نیك عمل باندی قائم پاته سول نودوی ته به ددوی دعمل بنکلی اوښه بدله ورکول سی اوصرف بدله نه بلکه دبدلی څخه څه زیات به هم ورکول سی.

ددی آیت تفسیرکوم چی نبی کریم ﷺ په خپله فرمایلی دی دا دی چی دلته د، بنی بدلی څخه مرادجنت دی اود: زِيَادَةٌ څخه مراددحق سبحانه تعالی زیارت دی کوم چی به جنتیانو ته حاصل سی (تفسیر قرطبی په روایت دانس ﷺ)

دجنت ددومره حقیقت څخه خو هرمسلمان خبردی چی هغه دداسی راحتونو اونعمتونو مرکزدی کوم چی انسان داوخت په تصور کی هم نه سی راوړی اودالله ﷻ زیارت پردی ټولو نعمتونو باندی لوړ دی.

په صحیح مسلم کی په روایت دصهیب ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله جنتیان جنت ته

Maktaba Tul Ishaat.com

داخل سی نو الله ﷻ به دوی ته خطاب وفرمایی چی ایا ستاسی څه بل شی ته ضرورت سته؟ که وی نو وایاست چی مونږ یی پوره کړو جنتیان به جواب ورکړی چی تازمونږ مخونه سپین کړل مونږدی جنت ته داخل کړو اودجهنم څخه دی نجات راکی ددی څخه زیات به بل څه شی مونږ غواړو دغه وخت به پرده دمینځ څخه لوړه سی اوټول جنتیان به دالله ﷻ زیارت وکړی ، نومعلومه به سی چی دجنت دټولو نعمتونو څخه زیات دا نعمت وو چی دی طرف ته ګرسره ددوی خیال نه وو تللی کوم چی رب العٰلمین محض په خپل کرم سره بی غوښتلو ورکی په قول دمولانای روم رحمه الله علیه .

ما نبودیم وتقاضا مانبود لطف تو ناگفته ما می شنود

مونږ نه وو اوزمونږ تقاضاهم نه وه ستامهربانیو زمونږ ناویلی خواهشونه اوریدل .

اوبیایی دجنتیانو دا حال بیان کی چی نه به ددوی پرمخونو هیڅ خړوالی یادتکلیف اوغم اثر خپورسی اونه به باندی دذلت اثروی کوم چی په دنیاکی هر سړی ته کله ناکله پیښیږی اوپه اخرت کی دوږخیانو ته ورپیښیږی .

ددی په مقابله کی یی ددوږخیانو داحال بیان کی چی کومو خلګو بدعمل وکی دوی ته به دبدی بدله برابر برابر ورکول سی ، په دی کی به څه زیاتی نه وی د دوی پرمخونو به ذلت خپور وی څوک به د دوی دالله ﷻ دعذاب څخه بچ کوونکی نه وی ، د دوی په مخونو به دتوروالی داحال وی چی ګویا دتوری شپی پردی راخپری سوی وی .

ددی څخه وروسته په دوو ایتونوکی یوه مکالمه ذکرده کومه چی به ددوږخیانو او ددوی دګمراه کوونکو بتانو یاشیطانانو په مینځ کی په محشرکی وی ارشاد فرمایی چی په دغه ورځ به مونږ ټوله جمع کړو بیا به مشرکانو ته ووایو چی تاسی اوستاسی خوښ کړی معبودان پرخپل ځای ودریږی چی تاسی ته دخپلی عقیدی حقیقت معلوم سی ددی څخه وروسته به ددی خلګو اوددوی دمعبودانو په مینځ کی چی په دنیا کی کوم دیووالی تعلق وو هغه به پری سی نتیجه به یی داسی چی د دوی بتان به په خپله ووایی چی تاسی زمونږ عبادت نه دی کړی اوخدای به شاهد کړی اووبه وایی چی مونږ ستاسی دمشرکانه عبادت څخه هیڅ خبرنه وو څکه چی نه په مونږکی حس اوحرکت سته اونه په دی مسئلو دپوهیدو عقل اوشعور .

په شپږم آیت کی یی ددواړو فریقو جنتیانو اودوږخیانو یو شریك حال بیان کړی دی چی په دی مقام یعنی محشرکی به هرسړی دخپل عمل بدله ووینی چی نفع مند وه اوکه نقصانی اوټول به خپل حق معبود ته بیرته راسی اوټولی لاری چاری کومی چی په دنیا کی انسان لټولی ختمی به سی اومشرکانو چی کوم بتان خپل مددګاران اوسفارشیان ګڼل هغه به ټول غائب سی .

په اووم او اتم آیت کی قرآن حکیم په خپلی حکیمانه او مربیانه طریقی باندی دمشرکانو دسترګو خلاصولو دپاره د دوی څخه څه سوالونه قائم کړی دی ، نبی کریم ﷺ ته یی خطاب کړی دی فرمایی چی دی خلګو ته ووایه چی دآسمان اومځکی څخه تاسی ته رزق څوك درکوی؟ یادغوږونو اوسترګو مالك څوك دی ؟ چی کله غواړی اوریدل اولیدل په کی پیداکوی اوچی کله غواړی نولیری کوی یی ورځخه اوځوك دی چی دمړو شیانو څخه ژوندی پیداکوی لکه دخاورو څخه ګیاه اودرختی یادنطفی څخه انسان اوحیوانان یا دمرغی دهګی څخه چرګوړی اودژوندی څخه مړی پیدا کوی لکه دانسان اوحیوان مړه نطفه اوځوك دی چی دټولو کائناتو دکارونو تدبیر کوی ؟

بیا فرمایی چی کله ته ددغو خلګو څخه داپوښتنه وکړی نوټول به په جمع دا ووایی چی ددی شیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

پیدا کوونکی یوالله دی؟ نوته دوی ته ووایه چی بیاتاسی ولی دخدای څخه نه بیریږی؟ کله چی ددی ټولو شیانو پیدا کوونکی اوباقی ساتونکی اوددی ټولو په کارکی دلګولو انتظام کوونکی صرف یوالله دی نوبیا دعبادت اواطاعت حقدار دده څخه ماسوا بل څوك ولی جوړوی؟

په اخری آیت کی فرمایی ، فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلٰلُ : یعنی دادی هغه ذات دچا دکمال صفتونو ذکرچی اوس اوس تیرسوی دی بیا دحق څخه وروسته دګمراهی څخه ماسوا نورڅه دی؟ یعنی کله چی دالله ﷻ برحق معبودوالی ثابت سو نوبیا داحق پریښوول اوبل طرف ته مخ ګرځول څومره دبی عقلی خبره ده ددی آیت په مسئلو اوفائدوکی داخبره دیاد ساتلو ده چی په آیت کی د: مَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ څخه داثابته سوه چی دحق اوګمراهی په مینځ کی هیڅ واسطه نسته کوم چی حق نه وی هغه په ګمراهی کی داخل وی داسی یوکارنه سی کیدی کوم چی نه حق وی اونه ګمراهی وی اوداهم نه سی کیدی چی دوه مخالف شیان حق وی په ټولو اصولو دعقیدو کی داقاعده دجمهور امت په نزد منل سوي ده البته په جزئی مسئلو او فقهی جزئیاتو کی دعلماوو اختلاف سته دځینو حضراتو په نزد په اجتهادی مسئلو کی مخالف جانب ته ضلال اوګمراهی نه سی ویل کیدی.

كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾ قُلْ

دغه ډول صحیح راغله خبره ستا درب په دی نافرمانیو باندی چی دوی ایمان نه راوړی پوښتنه وکړه چی

هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ۭ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ

آیا څوك سته ستاسی په شریکانوکی کوم چی اول پیدا کړی خلګ بیابه یی دوباره ژوندی کړی ته ووایه چی الله اول پیدا کوی ،

ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ۭ

بیابه دوی دوباره پیدا کړی پس کوم طرف ته چپه روان یاست؟ پوښتنه وکړه ایاڅوك سته ستاسی په شریکانو کی کوم چی لار ښیی صحیح؟

قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ۭ اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ

ته ووایه الله لار ښیی صحیح نو اوس چی څوك لار ښیی صحیح دهغه خبره منل پکار دی یادهغه چی په

اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۡ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا ظَنًّا ۭ اِنَّ الظَّنَّ لَا

خپله لارنه کی پیدا امګرچی څوك بل ورته لاروښیی نو څه سوی دی تاسی لره څنګه انصاف کوی؟ اودوی چلیږی اکثره پر اتکل باندی پس اتکل ،

يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـــًٔا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾

کار نه کوی په حقه خبره کی هیڅ هم الله ته ښه معلوم دی څه چی دوی کوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لغوتفسیر: حل لغت: لَایَهِدِّی: دالفظ په اصل کی: لَایَهْتَدِیْ وو اعلال په کښی وسو نو: لَایَهِدِّی ورځخه جوړسو معنٰی د: لَایَهْتَدِیْ معلومه ده هغه سړی چی هدایت نه کی پیدا .

(مخ ته تسلی ده نبی کریم ﷺ ته چی ددی خلګو په باطل پرستی به غمجن کیدی ارشاد ورته دی چی لکه څنګه چی داخلګ ایمان نه راوړی، دغه شان ستا درب دا ازلی خبره ده چی دوی ایمان نه راوړی دتولو سرکښانو خلګو په حق کی ثابته سویده (پس ته ولی غمجن یی او) ته (دوی ته) داسی (هم) ووایه چی ایا ستاسی په دی (خوښ کړو) شریکانوکی (په عام طورسره که ذوی العقول وی لکه شیطانان یاغیر ذوی العقول لکه بتان) څوک داسی سته چی په اول وار هم (مخلوق) پیدا کړی بیا (په قیامت کی) یی دوباره هم پیدا کړی (که دغه خلګ په دی وجه چی په دی کی ددوی دشریکانو سپکوالی دی په جواب کی څه نه وایی نو) ته ووایه چی الله یی په اول وار هم پیدا کوی بیابه یی هغه دوباره هم پیدا کړی پس (ددی تحقیق څخه وروسته هم) بیاتاسی کومی خواته (دحق څخه) لیری کیږی (او) دوی ته داسی هم ووایه چی ایاستاسی په (تجویز سوو ذوی العقولو) شریکانوکی (لکه شیطانان) څوک داسی سته چی دحق کار دلاری ښوونه کوی؟ ته ووایه چی خاص الله ﷻ دحق کار (هم) ښیی (چنانچی ده عقل ورکی انبیاء علیهم السلام یی راولیږل په خلاف دشیطانانو څخه چی اول خودوی پردی کارونو قادرنه دی اومحض تعلیم چی قدرت یی دوی ته ورکول سوی دی داخو وښیاست چی) ایاکوم سړی چی دحق کار لارښیی هغه زیات دتابعداری لائق دی یاهغه سړی چی بغیر دښودنی څخه ورته لارنه معلومیږی (اوددی څخه ماسوا بیاپردغه ښودنه باندی هم نه څی لکه شیطان بیاچی کله دوی دتابعداری لائق نه دی نودعبادت کله لائق کیدی سی؟) نو(ای مشرکانو!) تاسی ته څه وسوه داتاسی څه جوړوی (چی توحید پریږدی اوشرک اختیاروی) او (تماشه خوداده چی په خپل دی تجویز اوعقیده باندی داخلګ څه دلیل نه لری بلکه) په دوی کی اکثره خلګ صرف پربی بنیاده خیالونو باندی روان دی (او) یقیناً بی اصله خیالات په حق کار (ثابتولو) کی هیڅ هم فائده نه کوی (خیر) دوی چی داخه کوی الله ﷻ دهرڅه څخه خبردی (پروخت به سزا ورکړی)

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ

او نه دی دا قرآن چی داجوړ کړل سی ماسوا دالله څخه اولیکن تصدیق کوی دمخکی کلام

وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۷﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ

اوبیانوی هغه کوم چی پرتاسی لیکل سوی دی چی هیڅ شك په کی نسته درب العٰلمین دطرف څخه ایاخلق وایی ،

افْتَرٰىهُ ۭ قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ

چی دا جوړسوی دی ته ووایه تاسی راوړی یوسورة داسی اوړا وبلی څوك چی رابللی سی ،

دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۸﴾ بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا

دالله څخه ماسوا که تاسی رښتنی یاست خبره دا ده چی درواغجن کوی دکوم په پوهیدو چی دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا یَاْتِهِمْ تَاْوِیْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

واك نه كړي پيدا اولا تراوسه راغلى نه دى ددى حقيقت ، دغه ډول دروا غجن كړي دى د دوى څخه مخكښو ،

فَانْظُرْ كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۳۹﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ یُّؤْمِنُ بِهٖ

نو وګوره چې څنګه سو انجام دګناهګارانو اوځينى په دوى كى به يقين وكړى ،

وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا یُؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِیْنَ ﴿۴۰﴾

په قرآن اوځينى به يقين ونه كړى اوستا رب ښه پيژنى شرارت كوونكى .

لنډتفسير: اوداقرآن دځانه جوړسوى نه دى چې دغير الله څخه صادر سوى وى بلكه داخو دهغو كتابونو تصديق كوونكى دى كرم چې دده څخه مخكى (نازل) سوى دى اود (الله) دضرورى حكمونو تفصيل بيانوونكى دى (او) په دى كى څه خبره دشك (اوشبهى) نسته (اودغه) درب العٰلمين دطرف څخه (نازل سوى) دى ايا (سره ددى چې دى دځانه جوړسوى نه دى) داخلګ داسى وايى چې (نعوذ بالله) تادا دځانه جوړكړى دى ته (دوى ته) ووايه چې (ښه ده) نوبيا تاسى (هم خوعرب ياست اوداعلى درجى فصيحان اوبليغان هم ياست) ددى په مثل يوسورة (جوړكړئ) راوړى او (يوازى نه) كوم كوم غيرالله چې رابللى سى هغوى (دمدد دپاره) راوبولى كه تاسى رښتينى ياست (چې نعوذ بالله ما جوړكړى دى نوتاسى خويى هم جوړكړى مګر مشكله خوداده چې په داقسم دليلونو سره فائده خوهغه چاته رسيږى كوم چې پوهيدل هم غواړى پس دوى خوهيڅكله پوهيدل نه دى غوښتى) بلكه داسى شى يى دروغجن كى دكوم (چې صحيح اوغلطوالى) ددوى دعلم په احاطه كى رانغى (اوپه دى يى دځان پوهولو اراده ونه كړه نوددى خلقو څخه دپوهيدو څه اميد كيدى سى) او(د دوى ددى بى فكرى اوبى پرواهى وجه دا ده چې) لا تراوسه دوى ته ددى (قران دروغجن كولو) اخرى نتيجه نه ده رسيدلى (يعنى عذاب نه دى راغلى كنه نوټوله نشه به يى الوتى واى اوسترګى به يى رغږيدلى واى اوحق اوباطل به ورته ښكاره سوى واى ليكن بياهم اخر دغه نتيجه مخ ته راتلونكى ده كه څه هم دغه وخت به ايمان نفع نه وركوى چنانچې) كوم (كافران) خلق د دوى څخه مخكى تيرسوى دى دغه ډول (لكه چې بى تحقيقه دوى دروغجن كول كوى) هغوى هم (حق) دروغجن كړى وو پس وګورى چې ددغو ظالمانو انجام څنګه (ناكاره) سو(دغه حال به د دوى سى) او (مونږ چې د دوى كوم بد انجام ښيو نو ددى څخه ټول مرادنه دى ځكه چې) په دوى كى ځينى داسى دى كوم چې په دى (قران) باندى ايمان به راوړى اوځينى داسى دى چې په دى به ايمان رانه وړى او ستاسو رب (دا) فساد كوونكى ښه پيژنى (كوم چې ايمان رانه وړى دوى ته به پرمقرر وخت سزا وركړى)

معلومات اومسئلې: وَلَمَّا یَاْتِهِمْ تَاْوِیْلُهٗ : دتاويل څخه مراد دلته انجام او آخر دى مطلب دا دى چې دى خلقو په خپل غفلت او بى فكرى سره په قرآن كى غورونه كى او ددى دروغجن كولو بد انجام يى ونه پيژندى په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی وجه په دروغجن کولو کی مبتلی دی مگر دمرګ څخه وروسته به ټول حقیقتونه ښکاره سی او دحیلو عملونو بدانجام به دهمیشه دپاره دغاړی هار جوړ سی

وَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ لِي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ أَنْتُمْ بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ

ارکه تا دروغجن کوی نوته ووایه چی زمادپاره زماکاراوستاسی دپاره ستاسی کارستاسی په ذمه نه دی زماکار

وَأَنَا بَرِيءٌ مِمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾ وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ أَفَأَنْتَ

اوزما په ذمه نه دی کوم چی تاسی کوی ، اوځینی په دوی کی غوږ ایږدی ستا طرف ته ایا ته یی اورولی سی

تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوا لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْظُرُ إِلَيْكَ

کنړ ته که څه هم دوی نه پوهیږی؟ اوځینی په دوی کی کوری تاته

أَفَأَنْتَ تَهْدِي الْعُمْيَ وَلَوْ كَانُوا لَا يُبْصِرُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ

آیا ته لار ښوولی سی رونده ته که څه هم دوی نه وینی الله ﷻ ظلم نه کوی .

النَّاسَ شَيْئًا وَلَٰكِنَّ النَّاسَ أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٤﴾

په خلګو هیڅ هم لیکن خلګ په خپلو ځانونو په خپله ظلم کوی

لنډتفسیر: اوکه چیری (ددی دلیلونو څخه وروسته هم) تا دروغجن کوی نو (بس اخری خبره) داووایه چی (نه صاحبه) زما عمل به ماته راکول کیږی اوستاسی عمل به تاسی ته درکول کیږی تاسی زمادعمل جواب ورکوونکی نه یاست اوره ستاسی دعمل جواب ورکوونکی نه یم (په کرمه طریقه چی غواړی اوسی تاسی ته به معلومه سی) او (ته ددوی څخه دایمان امیدمه کوه ځکه چی) په دوی کی (که څه هم) ځینی داسی (هم) دی کوم چی (په ښکاره یی) ستاطرف ته غوږ اینبی ناست وی (لیکن په زړه کی یی اراده دایمان اوحق طلب کولو نسته پس په دی اعتبار سره ددوی اوریدل اونه اوریدل برابردی پس ددوی حالت دکنوپه شان سونو) بیا ایاته کنړ ته اورولی (اوددوی څخه دمنلو انتظار کولی) سی (که څه هم) دوی پوه هم نه وی (البته) که پوهه یی وی نوسره دکونوالی به یی هم څه کار کیدی سوای) او (دغه ډول) په دوی کی ځینی داسی دی چی (په ښکاره) تا (سره دمعجزو اوکمالونو) وینی (لیکن دحق دطلب نه کولو په وجه د دوی حالت په مثل درندو سوی دی نو) بیا ایاته رونده ته لار ښوول غواړی که څه هم ددوی لیدل نه وی (البته) که لیدل یعنی بصیرت یی وای نوپه رونده والی کی به یی هم څه کارسوی وای اوحی (ددوی عقلونه داسی تباه سوی دی نو) دایقینی خبره ده چی الله ﷻ پرخلګو ظلم نه کوی (چی دوی به (هدایت قابلیت ورنه کړی اوبیایی مؤاخذه کوی) لیکن خلګ په خپله خپل ځانونه تباه کوی (چی ورکول سوی قابلیت ضائع کوی اوکار نه ورځخه اخلی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ ۭ قَدْ

اوپه کومه ورځ چې دوی جمع کړي ګویا دوی نه وه پاته سوی مګر یو ساعت دورځې یو بل به وپیژني بیشکه په

خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَاۗءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ۝ وَاِمَّا

تاوان کې پریوتل کومو چې درواغجن کړل یوځای کیدل دالله ﷻ او را نه غلل پرسیده لاره باندې اوکه موږ

نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

تاته وښیو څه شی دهغو وعدو څخه چې مونږ کړي دي د دوی سره یاوفات کړو تا نو مونږته دي ددوی واپس کیږ

ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰي مَا يَفْعَلُوْنَ ۝ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ ۚ فَاِذَا

بیا الله ﷻ شاهد دی په هغو کارونو کوم چې دوی کول ، او دهرې فرقې یو رسول دی بیاچې کله

جَاۗءَ رَسُوْلُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝ وَ

ورسیدی دوی ته رسول د دوی فیصله وسوه په دوی کې په انصاف سره اوپه دوی به ظلم نه وی ، او

يَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ

وایی کله به وی دا وعده که تاسی رښتنی یاست؟ ته ووایه زه مالک

لِنَفْسِيْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَا شَاۗءَ اللّٰهُ ۭ لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۭ اِذَا جَاۗءَ

یم دخان دپاره دضرر اونه دنفعې مګر کوم چې وغواړي الله دهرې فرقې یوه وعده ده کله چې راسی

اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۝ قُلْ

د دوی وعده بیا به نه وروسته سی یوساعت اونه به مخکې سی ته ووایه

اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ بَيَاتًا اَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ

ایا وینی تاسی که راسی تاسی ته عذاب دهغه دشپې او یا دورځې نو څه به وکړي ددې څخه مخکې

الْمُجْرِمُوْنَ ۝ اَثُمَّ اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنْتُمْ بِهٖ ۭ آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ

ګناهګاران ، ایابیاکله چې عذاب واقع سی بیابه یقین وکړی په دی اوس قائل سواست اوتاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ ثُمَّ قِيْلَ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ ۚ

ددی تقاضا کوله ، بیابه ووایی گناهگارانو ته وځکی عذاب دهمیشوالی

هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ؕ

هغه بدله ورکول کیږی څه چی تاسی کسب کوی ، اوستاځخه پوښتنه کوی ایا رښتیا ده

قُلْ اِيْ وَرَبِّيْٓ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؕ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَلَوْ اَنَّ

دا خبره؟ ته ووایه البته قسم دی زما په رب دا رښتیاده اوتاسی نه سی ستړی کولی او که وی ،

لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْاَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا

هر یو گناهگار سړی سره څومره چی دی په مځکه کی او خامخا یی فدیه ورکړی په خپله بدله کی اوپته پته

النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ

پښیمانی وکړی کله چی وویني عذاب او په دوی کی به فیصله وسی په انصاف اوپه دوی به

لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۵۴﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِنَّ

ظلم ونه سی ، واوری خاص الله لره دی څه چی دی په آسمانونو اومځکه کی واوری ،

وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۶﴾

وعده دالله رښتنی ده او بیا هم ډیر خلګ نه هغه ژوندی کول کوی اومړه کول او دهغه طرف ته به بیرته ورسی

لنډتفسیر: او دوی ته هغه ورځ وریاده کړی په کومه کی چی الله ﷻ دوی په داسی شان سره راجمع کړی چی (دوی به وګڼی چی) ګویا دوی (په دنیا یابرزخ کی) دتولی ورځی یوه ګنټه یانیمه به پاته سوی وی (چونکی دغه ورځ به اوږده هم وی اوسخته به هم وی په دی وجه به ددنیا اوبرزخ موده اوتکلیف ټول هیرکړی داسی به ګڼی چی دغه زمانه ډیره ژر تیره سوه) اوپه خپل مینځ کی به یو بل پیژنی (هم لیکن دیو بل مدد به نه سی کولی په دی به یی غم اوصدمه نوره زیاته سی ځکه چی داشنا خلګو څخه دنفع امید وی) واقعی (دغه وخت) په تاوان کی پریوتل هغه خلګ کومو چی دالله خواته تلل درواغجن کړل اودوی (په دنیاکی هم) هدایت پیدا کوونکی نه وه (په دی وجه نن په خساره کی پریوتل پس ددوی دعذاب اصلی وخت خودا ورځ ده دوی ته یی وریاده کړه) او (په دنیا کی پردوی باندی عذاب واقع کیدل یانه واقع کیدل نو ددی په نسبت داخبره ده چی) دکوم (عذاب) ددوی سره وعده کول کیږی په دی کی لږ څه (عذاب)

Maktaba Tul Ishaat.com

که مونږ تاته وښیو (یعنی ستاپه ژوند کی پردوی ددی نزول وسی) یا (ددی دنازلیدو څخه مخکی مونږ تا وفات کړو (بیا برابره خبره ده که وروسته نازل سی یانه سی) نو (دواړه احتماله سته یوطرف ضروری نه دی لیکن په هرحال اوپه هراحتمال باندی) زمونږخواته خوددوی راتلل خامخادی بیا (تولوته معلومه ده چی) الله ﷻ د دوی په تولو کارونو باندی خبر دی (په دی به سزا ورکړی غرض داچی په دنیا کی سزاوی اوکه نه وی مگر په اصلی موقع به خامخا وی) او (داسزا کومه چی ددوی دپاره تاکل سوې ده . نو دحجت پوره کیدو اوعذر لیری کیدو څخه وروسته سوې ده او د دوی څه تخصیص نسته بلکه دهمیشه څخه زمونږ داعادت پاته سوی دی چی کوم امتونه مونږ مکلف جوړکړی دی په دوی کی) دهریو امت دپاره یوحکم رسوونکی (سوی) دی پس کله چی ددوی دغه رسول (دوی ته) راسی (اواحکام ورته ورسوی ددی څخه وروسته) ددوی فیصله په انصاف سره کول کیږی (هغه فیصله داده چی نه منونکی به همیشه په عذاب کی اخته سی) اوپردوی (یوه ذره) ظلم نه کول کیږی (څکه چی دحجت تمامیدو څخه وروسته سزا ورکول دانصاف څخه خلاف نه ده) اوداخلګ (دعذاب وعدی اوری په قصد ددرواغجن کولو داسی وایی چی (ای نبی اوای مسلمانانو!) داوعده (دعذاب) به کله (واقع) کیږی که تاسی رښتنی یاست؟ (نوواقع کوی یی ولی نه) ته (دتولو دطرف څخه جواب ورکړه) وفرمایه چی زه (په خپله) دخپل خاص ذات دپاره هم دځه نفعی (حاصلولو) اودځه ضرر (دفع کولو) اختیار دسره نه لرم مگر څومره (اختیار) چی خدای ته منظوروی (دومره اختیار راته البته حاصل دی پس کله چی خاص دخپلی نفعی اونقصان مالک نه یم نودنورو دنفع اونقصان به څنګه مالك سم؟ پس عذاب واقع کول زما په اختیارکی نه دی پاته سوه داچی کله به واقع کیږی پس خبره داده چی) دهریو امت د (عذاب د) پاره (دالله په نزد) یومقرر وخت دی (برابره خبره ده که په دنیا کی وی یاپه اخرت کی پس) کله چی ددوی هغه مقرر وخت راسی (نودغه وخت) به یوساعت نه وروسته کیدی سی اونه به مخ ته کیدی سی (بلکی فوراً عذاب واقع کیږی دغه ډول ستاسی دعذاب هم وخت مقرر دی پرهغه وخت به واقع سی اودوی چی کوم فرمائش کوی چی څه کیدل وی نوژر دی وسی لکه چی په آیت: مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ او: رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا کی ددوی ددی تلواری ذکردی نو) ته (ددی متعلق دوی ته) وفرمایه چی داخو وښیاست چی که پرتاسی دخدای عذاب دشپی راسی یادورځی (راسی) نو (داخووښیاست چی په عذاب کی کوم شی داسی) دی چی مجرمان خلک یی ژر غواړی؟ (یعنی عذاب خوسخت اودپناه غوښتو شی دی نه داچی دژر غوښتو اوچونکی داتلواری دوی څکه کوی چی دروغ یی ګڼی په دی وجه فرمایی چی) ایا (اوس خویی درواغجن کوی کوم چی دتصدیق اونفع وخت دی) بیاچی کله دغه (اصلی عذاب چی وعده یی سویده) راسی (دغه وخت) دوی به یی تصدیق وکړی (کوم وخت چی تصدیق بیانفع نه ورکوی اودغه وخت به ورته وویل سی چی) ها! اوس یی منی حال دادی چی (اول خو) تاسی (په قصد ددرواغجن کولو سره) ددی ژر غوښتنه کوله بیابه ظالمانو (یعنی مشرکانو) ته وویل سی چی دهمیشه عذاب وځکی تاسی ته ستاسی دعمل بدله درکول سویده اودوی (دډیر تعجب اوانکار څخه) ستا څخه پوښتنه کوی چی ایا عذاب واقعی شی دی؟ ته وفرمایه چی هو! قسم دی زماپه رب چی دغه واقعی شی دی اوتاسی په هیڅ شان سره خدای نه سی عاجزه کولی (چی

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه عذاب درکوی اوتاسی ورځخه خلاص سی) او (داعذاب به داسی سخت وی چی) که دهریو مشرك سړی سره دومره (مال) وی چی ټوله مځکه ورځخه (که سی بیاددی دخپل ځان خلاصولو دپاره ورکول وغواړی (که څه هم چی نه به خزانه وی اونه به اخستل کیږی لیکن سختی به دومره وی چی که مال یی وای نوپه ټول مال ورکولو باندی به راضی سی) اوکله چی عذاب ووینی نو (دزیاتی رسوایی دبیری ځخه) به پته پښیمانی (په زړه کی) کوی (یعنی دپښیمانی ظاهری قولی اوفعلی نخښی به نه ښکاره کوی چی لیدونکی ورپوری زیات ونه خاندی لیکن په اخرکی به یی داضبط اوبرداشت هم ونه سی) اوددوی فیصله به په انصاف سره وسی اوپر دوی به (ذره) ظلم ونه سی یاد ساتی چی څومره شیان په آسمانونو کی اوپه مځکه کی دی ټول دالله ﷻ ملیکت دی (چی څنګه غواړی تصرف په کی کوی او په دی کی دا مجرمان هم داخل دی ددوی فیصله به هم په ذکرسوی طریقه کول کیږی) یادساتی چی دالله ﷻ وعده ربښتنی ده (نو قیامت به خامخا راسی) لیکن (دیر خلګ یقین نه کوی هغه روح ورکوی اوهغه روح باسی (پس دوباره پیدا کول هغه ته څه ګران دی؟) اوتاسی ټول به دهغه مخ ته راوستل سی (اوحساب اوکتاب اوبیابه پردی باندی ثواب اوعذاب وی)

معلومات اومسئلي: يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ یعنی کله چی په قیامت کی مړی دقبرونو ځخه را پورته سی نویوبل به پیژنی لکه چی دډیره موده په مینځ کی نه وی تیره سوی.

امام بغوی ددی په تفسیرکی فرمایی چی داپیژندل به په شروع کی وی پس چی دقیامت هیبتناك واقعات مخ ته راسی نودا پیژندل به منقطع سی اوپه ځینو روایتونو کی دی چی پیژندل به بیاهم وی خودهیبت دوجی به خبری نه سی کولی (مظهری)

آلْآنَ وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ : یعنی ایاتاسی ایمان پرداسی وخت راوړی کله چی پرتاسی عذاب واقع سی؟ برابره خبره ده که دمرګ په وخت کی وی یاددی ځخه مخکی مګر دا وخت به ستاسی دایمان په جواب کی وویل سی: آلْآنَ ایا اوس ایمان راوړی کله چی دایمان وخت تیرسو لکه دغرقیدو په وخت کی چی فرعون وویل: آمَنْتُ أَنَّهٗ لَا إِلٰهَ إِلَّا الَّذِيْ آمَنَتْ بِهٖ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ په جواب کی ورته وویل سوه ، آلْآنَ او دده دا ایمان قبول نه سو ځکه چی په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی الله ﷻ دبنده توبه قبلوی تر هغه چی دی دمرګ په غرغره کی ګرفتار سی یعنی دمرګ دغرغری په وخت کی ایمان اوتوبه دالله ﷻ په نزد معتبر نه دی دغه ډول په دنیا کی دعذاب واقع کیدو ځخه مخکی مخکی توبه قبلیدی سی کله چی عذاب راسی بیاتوبه نه قبلیږی دسورة په اخر کی چی دحضرت یونس ﷺ دقوم کومه واقعه راځی چی د دوی توبه قبوله سوه هغه ددی ضابطی ماتحت دی چی دوی عذاب دلیری ځخه راتلونکی ولیدی نودزړه په صدق سره یی زاری اوفریاد وکی اوتوبه یی وکښله په دی وجه عذاب ورځخه لیری سو که عذاب پردوی راغلی وای نو بیابه یی توبه نه وای قبوله سوی.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ

ای خلګو! تاسی ته راغی نصیحت ستاسی

رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾

درب دطرف څخه اوشفاء دزړونو دمرض اوهدایت او رحمت دمسلمانانو دپاره ،

قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا

ووایه دالله په فضل سره اودهغه په مهربانی سره ، نو په دی باندی خوشحالی په کارده دوی لره دانبه دهغو

يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ

شیانو څخه کوم چی جمع کوی ، ووایه ایا وینی کوم چی الله ﷻ ستاسی دپاره رزق نازل کړی دی بیا تاسی مقرر کوی

حَرَامًا وَّحَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَمَا

په دی کی څه حرام اوڅه حلال ، ووایه ایا الله حکم کړی دی تاسی ته یاپه الله باندی دروغ جوړوی؟ اوڅه ،

ظَنُّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ

خیال دی د دروغ جوړونکو په الله ﷻ باندی دقیامت دورځی ،

اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَمَا

الله ﷻ خو فضل کوی په خلکو اولیکن ډیر خلک خو یی نه منی اونه یی

تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا تَعْمَلُوْنَ مِنْ

ته په څه حال کی اونه وایی ددی څخه څه قرآن اونه کوی تاسی خلک څه

عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ

کار چی مونږ نه یو حاضر ستاسی سره کله چی تاسی مصروف یاست په دی کی اونه سی پټیدی ،

رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَلَاۤ اَصْغَرَ

ستا درب څخه یوه ذره په ځمکه کی او نه په آسمان کی اونه کوچنی

مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۶۱﴾

ددی څخه اونه لوی چی نه وی په ښکاره کتاب کی

لغوتفسیر: ای خلګو تاسی ته ستاسی درب دطرف څخه یوداسی شی راغی کوم چی (دبدو کارونوڅخه دمنع کولو دپاره) نصیحت دی او (چی په دی عمل وکړی دبدو کارونو څخه منع سی نو) په زړونوکی چی کوم (دبدو کارونو څخه) مرض دی دهغه دپاره شفاء ده او (دنیکو کارونو کولو دپاره) لار ښوونکی دی او (که په دی عمل وسی اونیك کارونه اختیارسی نو) رحمت (اوذریعه دثواب) دی (اوداټول برکتونه) دایماندار دپاره (دی څکه چی عمل هغوی کوی پس دقرآن دابرکتونه واوروه) ته (دوی ته) ووایه چی (کله قرآن داسی سی دی نو) خلګوته دخدای په دی انعام اورحمت باندی خوشحالیدل په کار دی (او دا لوی نعمت ګڼل په کار دی) هغه ددی (دنیا) څخه په ډیرو درجو ښه دی کوم چی دوی جمع کوی (څکه چی ددنیا نفع لږ اوفانی ده اودقرآن نفع ډیره اوباقی ده) ته (دوی ته) ووایه چی دا خو وښیاست چی الله ﷻ ستاسی (دنفع) دپاره چی کوم رزق رالیږلی وو بیا تاسی (دخپل ځان څخه) ددی څه حصه حرامه اوڅه حلاله مقرره کړه (حال دا دی چی ددی دحرامولی څه دلیل نسته نو) ته (ددوی څخه) پوښتنه وکړه چی ایاتاسی ته خدای حکم کړی دی اوکه (محض) پرالله (دخپل طرف څخه) دروغ جوړوی اوکوم خلګ چی په الله دروغ جوړوی ددوی دقیامت په نسبت څه ګمان دی (کوم چی بالکل نه بیریږی ایادوی ګڼی چی قیامت به نه راځی یاکه راسی زمونږ څخه به پوښتنه نه وی) واقعی پرخلګو باندی دالله ﷻ لوی فضل دی (چی فوراً سزانه ورکوی بلکه دتوبی دپاره یی مهلت ورکړی دی) لیکن اکثره خلګ بی قدره دی (کنه نوتوبه به یی کښله) اوته (برابره خبره ده که) په هر حال کی یی او (منجمله ددی ټولو حالاتو څخه) که ته چیری قرآن ووایی او (دغه شان نورخلګ هم څومره چی وی) تاسی چی کوم کارهم کوی مونږ دټولوڅخه خبر یوکله چی تاسی ددی کار کول شروع کوی اوستا درب (دعلم) څخه هیڅ شی دذری برابر هم غائب نه دی نه په مزکه کی اونه په آسمان کی (بلکه ټول دهغه په علم کی حاضر دی) اونه څه شی ددی (ذکرسوی مقدار) څخه کوچنی اونه څه شی (ددی څخه) لوی مګر داټول (په وجه داحاطی دعلم د الهی) په ښکاره کتاب (یعنی لوح محفوظ) کی (لیکلی) دی.

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونو کی دکفارو اومشرکانو دبد حالی اوپه اخرت کی پردوی دقسم قسم عذابونو بیان وو.

دذکرسوو ایتونو څخه په مخکی دوو ایتونوکی یی دوی ته ددی بدحالی اوګمراهی څخه دوتلو طریقه اوداخرت دعذاب څخه دنجات ذریعه وښوولە اوهغه دالله ﷻ کتاب قرآن او دهغه رسول محمد مصطفی ﷺ دی او دانسان اوانسانیت دپاره دا دواړه داسی عظیم نعمتونه دی چی دآسمان اومځکی دټولو نعمتونو څخه اعلی اوافضل دی دقرآن داحکامو اودرسول دسنتو تابعداری انسان په صحیح معنی کی انسان جوړوی اوکله چی انسان په صحیح معنی کی انسان کامل جوړ سی نوټول جهان برابر سی اودا دنیا هم جنت جوړ سی.

په اولنی آیت کی دقرآن کریم دځلورو خاصیتونو ذکر دی.

اوّل: مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ: دموعظه اووعظ اصلی معنی دداسی شیانو بیانول دی دکومو په اوریدو چی دانسان زړه نرم سی اودالله ﷻ طرف ته راوګرځی او ددنیا دغفلت پرده څیری سی داخرت فکر مخ ته

Maktaba Tul Ishaat.com

راسی قرآن کریم داول څخه تراخره پوری ددی ښه وعظ نهایت بلیغ مبلغ دی په دی کی هرڅای دوعدی دجنت سره دعذاب بیره ذکرده دثواب سره عذاب ددنیا اواخرت دکامیابی سره ناکامی اوګمراهی وغیره ګډوډ ذکردی چی ددی په اوریدو سره کانی زړه هم نرمیږی اوبیا پردی سربیره دقرآن دبیان اعجاز چی په زړونو بدلولو کی بی مثله دی.

دموعظه سره د: مِنْ رَبِّكُمْ قید دقرآن دوعظ حیثیت نورهم لوړکی ددی څخه معلومه سوه چی داوعظ دځان په شان دیو عاجز انسان دطرف څخه نه دی دکوم په لاس کی چی دچانفع نقصان یاعذاب اوثواب هیڅ نه وی بلکه درب کریم دطرف څخه دی چی دهغه په وینا کی دغلطی امکان نسته اوچی دهغه په وعده اووعید کی دڅه عاجزوالی یاکمزوری یا عذر څه خطره نسته.

دقرآن کریم دوهم صفت: شِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ارشاد فرمایی دشفاء معنی ناجوړی لیری کیدل دی اوصدور دصدر جمع ده چی معنی یې سینه ده مراد ددی څخه زړه دی.

معنی داده چی قرآن کریم دزړونو دناجوړ یو کامیاب علاج اودصحت اوشفا دپاره اکسیر نسخه ده حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی دقرآن ددی صفت څخه معلومه سوه چی خاص دزړونو دناجوړی دپاره شفاء دی دجسمانی ناجوړیو علاج نه دی (روح المعانی)

مګر نور حضرات فرمایی چی په حقیقت کی قرآن دهری ناجوړی شفاء ده برابره خبره ده که دزړه اوروحانی وی یابدنی اوجسمانی لیکن دروحانی ناجوړیو تباهی دانسان دپاره دجسمانی ناجوړیو څخه زیاته سخته ده اوددی علاج هم دهرسړی دوس شی نه دی په دی وجه دلته ذکر صرف دزړه اوروحانی ناجوړی سوی دی ددی څخه دانه لازمیږی چی دی دجسمانی ناجوړیو دپاره شفاء نه دی.

دحدیثو روایتونه اودامت دعالمانو بی شمیره تجربی پردی شاهد دی چی قرآن کریم لکه څنګه چی دزړه دناجوړیو دپاره اکسیر اعظم دی دغه شان دی دجسمانی ناجوړیو هم بهترین علاج دی.

دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه څخه روایت دی چی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی یو سړی حاضر سو او عرض یی وکی چی زماپه سینه کی تکلیف دی دوی وفرمایل چی قرآن ووایه ځکه چی دالله ﷻ ارشاد دی شِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ یعنی قرآن شفاء ده دهغو تولو ناجوړیو کومی چی په سینه کی دی (روح المعانی دابن مردویه څخه)

دغه ډول دحضرت واثله بن اسقع رضی الله عنه څخه روایت دی چی یو سړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو اوبیان یی وکی چی زما په حلق کی تکلیف دی دوی هغه ته هم دغه وفرمایل چی قرآن ووایه.

دامت عالمانو څه دروایتونو اواثارو څخه اوڅه دخپلو تجربو څخه دقرآن دایتونو خاصیتونه اوفائدی په مستقلو کتابونوکی جمع کړی دی دامام غزالی رحمه الله کتاب، خواص قرانی په دی باره کی مشهور اومعروف دی ددی خلاصه حضرت حکیم الامت مولانا تهانوی د، اعمال قرانی په نوم سره فرمایلی دی اومشاهدی اوتجربی دومره چی انکار نه سی ورڅخه کیدی چی دقرآن کریم مختلف ایتونه دمختلفو جسمانی مرضونو دپاره کامله شفاء ثابت سوی دی البته داخبره ضرور ده چی دقرآن دنزول اصلی مقصد دزړه اوروح ناجوړی لیری کول دی اوپه ضمنی طور سره دجسمانی ناجوړیو هم ښه علاج دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه دهغو خلګو بی وقوفی هم ښکاره سوه کوم چی قرآن کریم صرف دجسمانی ناجوړیو علاج اویا ددنیوی حاجتونو دپاره وایی اونه دروحانی مرضونو طرف ته خیال کوی اونه دقرآن په هدایتونو دعمل کولو طرف ته توجه کوی دداسی خلګو دپاره علامه اقبال رحمه الله فرمایی.

ترا حاصل زیٰسین اش جز این نیست که از هم خواندنش آسان بمیری

یعنی تادقرآن دسورة یٰسین څخه صرف دومره فائده حاصله کړه چی ددی په ویلو سره دریاندی مرګ اسان سی حال دا دی چی که ددی سورة پرمعانیو اوحقیقتونو اومعلوماتو دی فکر کولی نوددی څخه زیاتی فائدی اوبرکتونه به دی حاصل کړی وای.

ځینی تحقیق کوونکی تفسیر لیکونکی فرمایی چی دقرآن داولنی صفت یعنی موعظه تعلق دانسان دظاهری عملونو سره دی کومو ته چی شریعت وایی قرآن کریم ددی عملونو داصلاح بهترینه ذریعه ده اود شِفَآءٌ لِّمَا فِی الصُّدُوْرِ تعلق دانسان دباطنی عملونو سره دی کومو ته چی طریقت اوتصوف وایی.

په دی آیت کی دریم صفت دقرآن : هُدًی او څلورم : رَحْمَة بیان سوی دی د : هُدًی معنی هدایت یعنی لارښوول دی قرآن کریم انسان ته دیقین او حقی لاری طرف ته بلنه ورکوی او انسان ته ښودنه کوی چی په اطرافو دعالم اوپه خپله ددوی په نفسونوکی چی الله ﷻ کومی خپلی عظیم الشانه نخښی اینښوولی دی په دی کی غور اوفکر وکړی چی تاسی ددی ټولو شیانو خالق وپیژنی.

په دوهم آیت کی فرمایی ، قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ : یعنی خلګو لره په کار دی چی دالله ﷻ فضل اورحمت اصل دخوشحالی شی وګڼی اوصرف په دی شی باندی خوشحاله سی ددنیا دځو ورځو مال متاع اوراحت اوعزت په حقیقت کی دخوشحالی شی نه دی ځکه چی اول خوهرځومره زیات که چاته حاصل سی خونیمګړی وی مکمل نه وی دوهم هروخت ددی دزوال خطره وی په دی وجه دایت په اخرکی فرمایی ، هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ یعنی دالله ﷻ فضل اورحمت ددی ټول مال دولت او عزت او سلطنت څخه ښه دی کوم چی انسان دخپل ټول ژوند سرمایه ګڼی اوجمع کوی یی.

په دی آیت کی یی دوه شیان دخوشحالی اوراحت سامان مقرر کړي دی یوفضل اودوهم رحمت ددی دواړو څخه مراد دلته څه شی دی؟ په دی باره کی یوحدیث دحضرت انس ﷺ په روایت سره دانقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دالله ﷻ دفضل څخه مراد قرآن دی اودرحمت څخه مراد دا دی چی تاسی ته دقرآن ویلو اوپه دی دعمل کولو توفیق درکړی (روح المعانی ازابن مردویه)

دا مضمون دحضرت براء بن عازب ﷺ اوابوسعید خدری ﷺ څخه هم نقل دی او دیر تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چی دفضل څخه مراد قرآن اودرحمت څخه مراد اسلام دی اومطلب ددی هم دغه دی کوم چی دتیر حدیث څخه معلوم سوچی درحمت څخه مراد دا دی چی الله ﷻ مونږ ته قران ونبووی اوپه دی یی دعمل کولو توفیق راکړی څکه چی اسلام هم دی شی ته ویل کیږی.

اودحضرت عبدالله بن عباس ﷺ په یوروایت کی دی چی دفضل څخه مراد قرآن اودرحمت څخه مراد نبی کریم ﷺ دی دقران کریم ددی ایت وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ څخه ددی مضمون تائید کیږی او ددی مطلب هم داول تفسیر څخه څه مختلف نه دی څکه چی عمل په قران یا اسلام دنبی کریم ﷺ دپیروی مختلفی سرخیانی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی ایت کی دمشهور قرآئت مطابق فَلْيَفْرَحُوا په صیغه دغائب سره راغلی دی حال دادی چی ددی اصل مخاطب ددغی وخت موجود اوحاضر خلق دی نوپه دی وجه په کاروه چی صیغه دمخاطب استعمال سوی وای لکه چی په ځینوقرائتونوکی راغلی هم ده مگرپه مشهورقرآئت کی دصیغی دغائب په استعمالولو کی حکمت دادی چی دنبی کریم ﷺ یا اسلام عام رحمت صرف ددغه وخت دحاضرو اوموجودو دپاره مخصوص نه وو بلکه ترقیامته پوری پیداکیدونکو نسلونو لره هم شامل دی (روح المعانی)

فائده: دلته داخبره دفکر قابله ده چی دقرآن کریم دیوبل آیت دالفاظو څخه معلومیږی چی دراحت اوخوشحالی په دی دنیا کی گرسره خای نسته ارشاد دی، لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ یعنی دخوشحالی څخه مه مستیږه ځکه چی الله ﷻ داسی خوشحالی کوونکی نه خوښوی اوپه ذکرسوی آیت کی یی په صیغه دامر سره دخوشحالیدو حکم کړی دی ددی ظاهری تکراو خویوجواب دا دی چی کوم خای یی دخوشحاله کیدوڅخه منع فرمایلی ده هلته دخوشحالی تعلق ددنیا دمال اومتاع سره دی اوکوم خای چی یی دخوشحاله کیدوحکم کړی دی هلته دخوشحالی تعلق دالله ﷻ دفضل اورحمت سره دی دوهم فرق دا هم دی چی دمنع په خای کی مطلق خوشحالی مراد نه ده بلکه په خوشحالی کی بدمسته کیدل مراد دی او داجازی په خای کی مطلق خوشحالی مراد ده.

په دریم آیت کی هغو خلگو ته خبر ورکول سوی دی کوم چی دحلالو اودحرامو په معامله کی خپلی ذاتی رایی ته دخل ورکوی اودقرآن اوسنت دسند څخه بغیرکوم شی چی غواړی حلال مقرروی اوکوم شی چی غواړی حرام مقرروی په دی باندی یی دقیامت دسخت عذاب وعده ذکرکړی ده ددی څخه معلومه سوه چی دیوشی یادیوکاردحلال او یا حرام کیدو اصل مدار پرانسانی رایه باندی نه دی بلکه دغه خاص دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ حق دی د دوی داحکامو څخه بغیر یوشی ته نه حلال ویل جائز دی اونه حرام ویل.

په څلورم آیت کی دالله ﷻ دعلم محیط اوددی دوسعت ذکریی نبی کریم ﷺ ته په مخاطب کولوکړی دی چی ته په څه کار اوڅه حال کی همیشه یی یاقرآن وایه ددغه هیڅ حصه زمونږ څخه پټه نه ده دغه ډول ټول مخلوق چی څه عمل کوی نو زمونږ دنظر په مخکی وی او په آسمان اومځکه کی یوه ذره هم زمونږ څخه پټه نه ده بلکه هرشی په، کتاب مبین یعنی لوح محفوظ کی لیکل سوی دی.

په ښکاره دلته دعلم الهی دفراخی اوګیرونکی په بیان کی حکمت دا دی چی ددی په ذریعه نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول سی چی که څه هم مخالفین او دښمنان ستا دیر دی مگر دالله ﷻ حفاظت ستاسره دی تاته هیڅ ضرر نه سی رسیدی.

أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

خبردار کوم خلگ چی دالله ﷻ دوستان دی نه پیږه سته پردوی اونه به دوی غمجن وی،

الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ

کوم خلگ چی ایمان راوړی او وبیریږی، د دوی دپاره خوشخبری ده په ژوند ددنیا کی او په آخرت کی،

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۴﴾

نه بدلیږی دالله ﷻ خبری دا ده لویه کامیابی

لنډتفسیر: (دا خو دعلم الهی بیان وسو مخ ته دمخلصانو اوتابعدارانو دمحفوظ والی بیان دی چی) یادساتی دالله ﷻ په دوستانو نه څه اندیښنه (ناکه واقعه راتلونکی) ده اونه به دوی (دځه مطلب په فوت کیدو باندی) غمجن کیږی (یعنی الله ﷻ دوی دبیریدونکو اوغمناکو حادثو څخه ساتی او) دغه (دالله دوستان) هغه دی کوم چی ایمان راوړی او (دګناهونو څخه) پرهیز کوی (یعنی په ایمان اوتقوی سره دالله ﷻ نزدیکت نصیب کیږی او دبیری اوغم څخه د دوی دمحفوظ کیدو وجه دا ده چی) د دوی دپاره ددنیا په ژوند کی او په اخرت کی هم (دالله ﷻ دطرف څخه دبیری اوغم څخه دخلاصیدو) خوشخبری ده (او) دالله ﷻ په خبروکی (یعنی وعدوکی) څه فرق نه سی راتلی (پس کله چی په زیری کی ددوی سره وعده وسوه اووعده همیشه صحیح وی په دی وجه دبیری اوغم نستوالی صحیح دی اولازم دی) دا (زیری چی کوم ذکرسو) لویه کامیابی ده.

معلومات اومسئلې: په ذکرسوو ایتونوکی دالله ددوستانودخاصوفضیلتونواوددوی تعریف اوپیژندل بیا په دنیا اواخرت کی ددوی دپاره دزیری ذکردی ارشاد فرمایی چی دخدای پردوستانو به نه دناخوښه شی دپښیدو خطره وی اونه دځه مقصددفوت کیدو غم وی اودخدای دوستان هغه دی کوم چی ایمان راوړی اوکوموچی تقوی او پرهیزګاری اختیار کړه ددوی دپاره په دنیا کی هم خوشخبری ده اوپه اخرت کی هم.

په دی کی څو خبری دفکر قابلی دی اول داچی په اولیاء الله یعنی دخدای په دوستانو دبیری اوغم نه راتلو څه معنی ده ؟ دوهمه داچی داولیاء الله تعریف څه دی؟ (یعنی اولیاء الله کومو ته وایی) او د دوی نښانی څه دی؟ دریم دا چی په دنیا او په آخرت کی دوی ته دزیری ورکولو څخه څه مراد دی ؟

اوله خبره چی دخدای دوستانوته به بیره اوغم نه وی ددی څخه دا مراد کیدی سی چی په اخرت کی دحساب اوکتاب څخه وروسته کله چی دوی جنت ته داخل سی نودبیری اوغم څخه به دوی دهمیشه دپاره نجات پیداکی نه به دځه تکلیف اوپریشانی بیره پاته سی او نه به ورسره دځه خوښ اوغوښتونکی شی دفوت کیدو غم وی بلکی دجنت نعمتونه به دائمی اولا زواله وی ددی معنی په اعتبار سره خودایت په مضمون کی څه اشکال نسته لیکن داسوال خامخا پیدا کیږی چی په دی کی خوداولیاء الله څه خصوصیت پاته نه سو بلکه ټول جنتیان کومو ته چی دجهنم څخه نجات ورکول سی هغوی به په دی حال کی وی البته داویل کیږی چی کوم خلګ اخر جنت ته ورسیږی هغوی ټولو ته به اولیاء الله وایی په دنیا کی ددوی عملونه که هرڅومره چی مختلف سوی وی مګر جنت ته ددا خلیدو څخه وروسته به ټول داولیاء الله په فهرست کی شمیرل کیږی.

لیکن دیر تفسیر لیکونکی فرمایی چی په اولیاء الله دبیری اوغم نه کیدل ددنیا اواخرت دواړو دپاره عام دی او داولیاء الله خصوصیت دادی چی په دنیا کی به هم دوی دبیری او غم څخه محفوظ وی اوپه اخرت کی هم پردوی دبیری اوغم نه کیدل خوټولو ته معلوم دی اوپه دی کی ټول جنتیان داخل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

مگر په دی باندی دحالاتو اوواقعاتو په اعتبار سره دا اشکال دی چی په دنیا کی خودا خبره دمشاهدی څخه خلاف ده څکه چی اولیاء الله ﷺ ولاځه کوی انبیاء علیهم السلام هم په دی دنیا کی دبیری اوغم څخه محفوظ نه دی بلکه د دوی بیره خودنورو څخه زیاته وی لکه چی دقرآن کریم ارشاد دی: إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ یعنی دالله ﷻ څخه په پوره شان سره علماء بیربری اوپه بل ځای کی داولیاء الله داحال بیان فرمایی: وَالَّذِينَ هُمْ مِنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ ! إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ یعنی داخلګ دالله دعذاب څخه همیشه په بیره کی وی څکه چی د دوی درب عذاب داسی شی نه دی چی څوك ورڅخه بی فکره سی اوواقعات هم داسی دی لکه چی دترمذي په شمائل کی په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ به په اکثرو حالاتو کی فکر مند او غمګین لیدل کیدی او دوی په خپله فرمایی چی زه په تاسی تولوکی دخدای ﷻ څخه زیات بیریږم.

په صحابه کراموکی ترټولو دافضل حضرت صدیق ﷺ اوفاروق اعظم ﷺ اوټولو صحابه کرامو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله اواولیاء الله رحمهم الله ژړا فریاد او داخرت دبیری واقعات بی شمیره دی.

په دی وجه په روح المعانی کی علامه الوسی رحمه الله داسی فرمایی چی داولیاء الله حضراتو په دنیاکی دبیری اوغم څخه محفوظ کیدل په دی نبارسره دی چی دکومو شیانوپه بیره او غم کی چی په عام طور سره ددنیا خلګ مبتلاوی چی په دنیوی مقصدونو ارام اوراحت عزت اودولت کی په لږ څه کمی راتلو باندی مړه کیږی اودلږ لږ تکلیف اوپریشانی څخه په بیره سره ددوی څخه دبچ کیدو په تدبیرونوکی شپه اوورځ ورك وی داولیاء الله مقام ددی ټولو څخه ډیرلوړ اوپورته دی ددوی په نظرکی نه ددنیا فانی عزت اودولت راحت اوارام څه حیثیت لری چی په طلب کی یی سرګردان سی اونه ددی ځای محنت اومشقت اوغم څه دالتفات قابل وی چی په دفع کولوکی یی پریشانه سی بلکه د دوی حال دا وی چی.

نه شادی داد سامانی نه غم اورد نقصانی به بیش همّت ماهر چه آمد بود مهمانی

نه خو شحالی څه اسباب راته پیداکوی او نه غم نقصان را ته راوړی زما دهمت په مخکی هرڅه چی وی خوحیثیت یی دمیلمه وی.

دالله ﷻ لویی او محبت خوف او بیره په دی حضراتو داسی راخپره سوی وی چی ددی په مقابله کی ددنیا رنج او راحت سود او زیان دوا ښه هومره حیثیت هم نه لری په قول دخینو.

دوهمه خبره داولیاء الله دتعریف اوددوی دنخښو متعلق ده اولیاء دولی جمع ده لفظ دولی په عربی ژبه کی دنژدی په معنی کی هم راځی اوددوست اومحبوب په معنی کی هم دالله ﷻ دقرب اومحبت یوه درجه خوداده چی ددی څخه ددنیا یو انسان اوحیوان بلکه هیڅ شی هم مستثنی نه دی که داقرب نه وای نوپه ټول عالم کی بد بوشی هم په وجودکی نه وای راغلی دټول عالم دوجود اصلی علت دغه خالصه رابطه ده کومه چی ده ته دحق جلّ شانه دطرف څخه حاصله ده که څه هم ددی رابطی حقیقت نه څوك پیژنی اونه یی پیژندی سی مګر ذیوی بی کیفه رابطی کیدل یقینی دی مګر په لفظ داولیاء الله کی دادرجه دولایت مراد نه ده بلکی دولایت محبت اونژدیکت یوه بله درجه هم ده کومه چی دالله ﷻ دخاصو بندګانو سره خاصه ده دی نژدیکت ته محبت وایی کومو خلګوته چی دا خاص نژدیکت حاصل وی هغوی ته اولیاء الله وایی

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه چی په یوحدیث قدسی کی دی دالله ﷻ ارشاد دی زما بنده دنفلی عبادتونو په ذریعه زما نژدیکت حاصلوی تردی چی زه هم دده سره محبت شروع کوم اوکله چی زه دده سره محبت کوم نو بیازه دده غوږونه سم څه چی اوری نوزماپه ذریعه یی اوری زه دده سترګی سم څه چی دی وینی نوزما په ذریعه یی وینی زه دده پښی اولاس سم دی چی څه کارکوی نوپه مایی کوی مطلب ددی دا دی چی دده هیڅ حرکت اوسکون اوهیڅ کار زما درضا څخه خلاف نه وی.

او ددی خاص ولایت بی شمیره اوبی انتها درجی دی ددی اعلی درجه دانبیاء علیهم السلام حصه ده څکه چی هرنبی په لازمی طور سره ولی الله وی اوپه دوی کی دټولو څخه لوړ مقام دسید الانبیاء ﷺ دی اوادنی درجه ددی ولایت هغه ده کومی ته چی دصوفیاءِ کرامو په اصطلاح کی درجه دفنا وایی ددی حاصل دادی چی دسړی زړه دالله ﷻ په یادو کی داسی مستغرق وی چی په دنیا کی دهیڅ شی محبت پرده غالب رانه سی دی چی دچا سره محبت کوی نودالله ﷻ دپاره یی کوی دچا څخه چی نفرت کوی نودالله ﷻ دپاره یی کوی دده مینه اوبغض اومحبت اودښمنی دخپل ځان دپاره نه وی ددی لازمی نتیجه داوی چی دده ټکاره اوباطن دالله ﷻ په رضا حاصلولوکی مشغول وی اودی دهرداسی شی څخه پرهیزکوی کوم چی دالله ﷻ په نزد ناخوښه وی ددی حالت نخښه ده ډیر ذکر او همیشه طاعت یعنی الله ﷻ ډیر یادول او همیشه په هر حال کی دهغه حکم منل دا دوه صفتونه چی په کوم سړی کی موجودوی هغه ته ولی الله ویل کیږی په چاکی چی په دی دواړو صفتونوکی یوهم نه وی هغه په دی فهرست کی داخل نه دی بیاپه چاکی چی دا دواړه موجودوی دده ددرجو داعلی اوادنی څه حد نسته ددی درجو په اعتبار سره داولیاء الله درجی یو تربله ښه اوکمی او زیاتی وی.

په یوحدیث کی په روایت دحضرت ابوهریره ﷺ ذکر دی چی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی په دی آیت کی داولیاء الله څخه کوم خلګ مراد دی؟ دوی وفرمایل چی هغه خلګ کوم چی خالص دالله ﷻ دپاره په خپل مینځ کی محبت ساتی څه دنیاوی غرض یی په مینځ کی نه وی (مظهری ازابن مردویه) اوښکاره خبره ده چی داحالت دهغو خلګو کیدی سی دکومو ذکرچی لوړ سوی دی.

دلته یوسوال بل هم پیدا کیږی چی ددی درجی دولایت حاصلولو طریقه څه ده؟

حضرت قاضی ثناء الله پاتی پتی رحمه الله په تفسیرِ مظهری کی فرمایی چی دامت افرادو ته دا درجه دولایت دنبی کریم ﷺ دصحبت دفیض څخه حاصلیدی سی ددی څخه دالله ﷻ سره دتعلق هغه رنګ کوم چی نبی کریم ﷺ ته حاصل وو دخپلی حوصلی مطابق ددی څه حصه دامت اولیاوو ته ورکول کیږی بیا دصحبت دافیض په یوه واسطه یاپه څو واسطو سره حاصلیږی څومره چی واسطی زیاتیږی دومره په دی کی فرق راځی داواسطه صرف هغه خلګ جوړیدی سی کوم چی دنبی کریم ﷺ په رنګ کی سوی وی د دوی دسنتو پیرو وی ددا سی خلګو سره ډیره ناسته پاسته اوددی سره سره ددوی دارشاداتو پیروی او اطاعت اودالله ﷻ دذکر کثرت په دی شرط سره چی داکثرت دذکر په مسنون طریقه سره وی څکه چی په کثرت دذکرسره دزړه اثینه روښانه کیږی نودی دولایت دنور څخه دعکس اخستو قابل کیږی په حدیث کی دی چی دهرشی دپاره دصیقل اوصفایی څه طریقه وی دزړه صیقل په ذکرالله سره کیږی دابیهقی په

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت دابن عمر ﷺ نقل کړی دی (مظهری)

اوحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی یوسړی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی تاسی دهغه سړی په باره کی څه فرمایاست چی دیو بزرګ سره محبت کوی مګر دعمل په اعتبار سره دهغه درجی ته نه رسیږی ؟ دوی وفرمایل: اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ یعنی هرسړی به دهغه چاسره وی دچاسره چی دده محبت دی ددی څخه معلومه سوه چی داولیاء الله سره محبت اوصحبت دانسان دپاره دولایت دحاصلیدو ذریعه ده اوبیهقی په شعب الایمان کی دحضرت رزین ﷺ په روایت سره نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ حضرت رزین ﷺ ته وفرمایل چی زه تاته ددین داسی اصول وښیم په کومو سره چی ته ددنیا او اخرت فلاح اوکامیابی حاصلولی سی؟ هغه دادی چی دذکرکوونکو مجلس اوصحبت لازم ونیسه اوکله چی یوازی کیږی نوخومره زیاته چی دی په وسه کیدی سی دالله په ذکرسره خپلی ژبی ته حرکت ورکوه دچاسره چی محبت کوی دالله دپاره یی کوه دچا څخه چی نفرت کوی دالله ﷻ دپاره یی کوه (مظهری)

مګر داصحبت اومجلس دهغو خلګو مفیدوی چی په خپله ولی الله تابعداری کوونکی دسنتو وی اوکوم چی دنبی کریم ﷺ دسنتو تابع نه وی هغه په خپله دولایت ددرجی څخه محروم وی برابره خبره که کشف اوکرامات دده څخه هرخومره که صادریږی اوکوم سړی چی په ذکرسوو صفتونو سره ولی وی که څه هم دده څخه څه کشف اوکرامات ظاهرسوی نه وی دغه دالله ﷻ ولی دی (مظهری)

داولیاء الله پیژندګلوی اونخبنه یی په تفسیر مظهری کی دیوحدیث قدسی په حواله سره داسی نقل کړی ده الله ﷻ فرمایی چی زمادوستان زماپه بندګانوکی هغه خلق دی چی زما دیادو سره یاد راځی اودکومو په یادو سره چی زه یادیږم اوپه ابن ماجه کی په روایت دحضرت اسماء رضی الله عنها بنت یزید ذکر دی چی نبی کریم ﷺ داولیاء الله دانخبنه بنوولی ده: اَلَّذِیْنَ اِذَا رُءُوْا ذُکِرَ اللّٰهُ یعنی دکومو په لیدو چی خدای یادیږی لنډه داده چی دکومو خلګوپه مجلس کی په کښینستلو انسان ته دالله ﷻ ذکر توفیق او ددنیاوی فکرونو کمی محسوسیږی دانخبنه ده ددې دولی الله کیدو.

په تفسیر مظهری کی فرمایی چی عوامو چی کومی داولیاء الله نخبنی کشف اوکرامات یادغیبو شیانو معلومول ګنلی دی داغلطی اودوکه ده په زرګونو اولیاء الله دی دکومو څخه چی داسی څه شی ثابت نه دی او د دی خلاف ددی خلګو څخه کشف او د غیبو خبرونه نقل دی دکومو چی ایمان هم درست نه دی.

دایت په اخرکی چی کوم دافرمایی چی داولیاوو دپاره په دنیا کی هم خوشخبری ده اوپه اخرت کی هم داخرت خوشخبری خودا ده چی دمرګ په وخت کی کله چی دده روح دالله تعالی طرف ته وړل کیږی نودغه وخت به ده ته دجنت خوشخبری ورکول کیږی بیابه دقیامت په ورځ دقبر څخه دپورته کیدو په وخت کی دجنت خوشخبری ورکول سی لکه چی طبرانی په روایت دابن عمر ﷺ نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی د ، لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ پرخاوندانو به نه دمرګ په وخت کی بیره وی نه په قبرکی نه دقبر څخه دپورته کیدو په وخت کی ګویا زماسترګی ددغه وخت حال وینی کله چی داخلګ دخپلو قبرونو څخه خاوری څنډونکی اودا ویونکی پورته کیږی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ یعنی شکر دی دالله ﷻ چاچی زمونږ غم لیری کی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوددنیا دزیری متعلق نبی کریم ﷺ فرمایی چی هغه ربښتنی خوبونه کوم چی انسان په خپله وینی یادده دپاره یی بل ووینی چی دده دپاره په کښی خوشخبری وی رواه البخاری عن ابی هریرة رضی الله عنه

او ددنیا بله خوشخبری داده چی عام مسلمانان بغیر دځه غرض ځخه دده سره محبت کوی اوښه یی گڼی ددی متعلق نبی کریم ﷺ فرمایی: تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤمِنِ یعنی دعامو مسلمانانو ښه گڼل اوصفتونه یی کول دمومن دپاره نغده خوشخبری ده (مسلم وبغوی)

وَ لَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ؕ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶۵﴾ اَلَاۤ اِنَّ لِلّٰهِ

اوغم مه کوه ددوی په خبروسره په اصل کی قول زورالله لره دی هغه دی اوریدونکی پوهیدونکی خبردارالله دی

مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَنْ فِی الْاَرْضِ ؕ وَ مَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

څه چی په آسمانونوکی دی اوځه چی دی په مځکه کی او دا چی کوم تابعدای کوی دالله ﷻ ځخه ماسوا

اللّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۶۶﴾

بلونکی دشریکانو نو دا هیڅ نه دی مگر ورپسی سوی دی پخپلو خیالاتو او هیڅ نه دی مگر اټکلونه چلوی

لنډتفسیر: تادی د دوی خبری په غم کی وانه چوی (یعنی ددوی په کفریاتو باندی مه غمجن کیږه ځکه چی دذکرسوی علم اوحفاظت ځخه علاوه) ټوله غلبه (اوقدرت هم) الله لره (ثابت) دی (هغه به دوعدی مطابق ستا حفاظت کوی) هغه (ددوی خبری) اوری (اود دوی حالت) پیژنی (هغه به ستا بدله ددوی ځخه په خپله واخلی) یادساتی چی څومره چی په آسمانونوکی دی اوځومره چی په مزکه کی دی (یعنی ملایکی اوپیریان اوانسانان) دا ټول دالله (مملوك) دی (دده حفاظت یابدله اخستل هیڅوك نه سی منع کولی پس په هره وجه سره تسلی ساتل په کار دی) او (که دچاځه شك وی چی شریکان به مزاحمت وکړی سی نوحقیقت یی واوره چی) کوم خلگ چی الله پریږدی اودنورو شریکانو عبادت کوی (خدای خبر) دځه شی تابعداری کوی (یعنی ددوی ددی عقیدی څه دلیل دی حقیقت خو دادی چی هیڅ دلیل یی نسته) محض دبی سنده خیالونو تابعداری کوی اومحض خیالی خبری کوی (پس په واقع کی په دی کی صفتونه دالوهیت په مثل دعلم اوقدرت وغیره نسته پس په دوی کی دمزاحمت کولو داحتمال کله گنجائش سته)

هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَ النَّهَارَ

هغه دی چاچی جوړه کړه ستاسی دپاره شپه چی ارام حاصل کړی په دی کی او ورځ

مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۷﴾ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ

لیدونکی یی درکړه ، بیشکه په دی کی نخښی دی دهغو خلگو دپاره کوم چی اوری ، وایی نیولی دی الله

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِیُّ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ اِنْ

زوی هغه پاك دی هغه بی حاجته دی ، دهغه دی څه چی دی په آسمانونو کی او څه چی دی په مځکه کی نسته

عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾

ستاسی سره څه سند په دی ولی دروغ وایاست په الله باندی دکومی خبری چی تاسی ته پته نسته ،

قُلْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَفْتَرُوْنَ عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا یُفْلِحُوْنَ ﴿۶۹﴾

ووایه کوم خلک چی جوړ وی په الله باندی دروغ فلاح نه سی پیدا کولی ،

مَتَاعٌ فِی الدُّنْیَا ثُمَّ اِلَیْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِیْقُهُمُ الْعَذَابَ

لږ څه نفع اخستل دی په دنیا کی بیا زمونږ طرف ته د دوی واپس کیدل دی بیا به وځکو دوی ته عذاب ،

الشَّدِیْدَ بِمَا كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ ﴿۷۰﴾

سخت په بدله د دوی دکفر کی .

لنډتفسیر: هغه (الله) داسی دی چاچی ستاسی دپاره شپه جوړه کړه چی تاسی په دی کی ارام وکړی اوورځ یی هم په دی طور سره جوړه کړه چی (په وجه دروښانه کیدو) دلیدلو کتلو ذریعه ده په دی (جوړولو) کی دلیلونه (دتوحید) دی دهغو خلکو دپاره کوم چی (په تدبر سره دامضامین) اوری (مشرکان په دی دلیلونوکی فکرنه کوی اودشرك خبری کوی چنانچی) دوی وایی (نعوذ بالله) الله ﷻ اولاد لری پاك دی الله (څومره سخته خبره یی وکړه) هغه خود هیڅا محتاج نه دی (اوټول دده محتاج دی) دهغه ملکیت دی څه چی په آسمانونوکی دی اوڅه چی په مځکه کی دی (پس ټول مملوك سول اوهغه مالك سو پس ثابته سوه چی په کمالاتوکی څوك دهغه شریك اوهم جنس نسته نوکه اولاد ته دالله هم جنس وویل سی نوداخو باطل دی اوکه غیر هم جنس ورته وویل سی نوناجنسه اولاد عیب دی اودعیبونو څخه الله ﷻ پاك دی لکه چی په: سُبْحٰنَهٗ کی دی طرف ته اشاره هم ده نوداولاد کیدل ورلره مطلق باطل سوه مونږ چی داولاد دنسټوالی دعوه کړی وه نوپر دی مونږ دلیل قائم کړی دی اوس پاته سوه ستاسی دعوی نو) ستاسی سره (بغیر دعبث دعوی څخه) پردی (دعوی) څه دلیل (هم) نسته (نو) ایاپه الله ﷻ داسی خبره ورپوری کوی دکمی چی تاسی (په څه دلیل سره) علم نه لری ته (ددوی ددرواغجن ثابتولو څخه وروسته ددی دروغو دسزا اورولودپاره) ووایه چی کوم خلک پرالله ﷻ دروغ جوړوی (لکه مشرکان) هغه به (هیڅکله) کامیاب نه سی (اوکه دچاشك وی چی مونږ خوداسی خلک په دنیاکی ښه کامیاب اوپه ارام اوراحت کی وینو نوجواب دادی چی) داپه دنیا کی (څوورځی) لږ څه خوشحالی ده (کومه چی ډیره ژرختمیږی) بیا (چی مړه

Maktaba Tul Ishaat.com

سی) زمونږ طرف ته د دوی راتلل دی بیا (په اخرت کی) به مونږ دوی ته ددوی دکفر په بدله کی (خوند د)
سختی سزا وخکوو .

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَّقَامِيْ وَتَذْكِيْرِيْ بِاٰيٰتِ

اووایره دوی ته حال دنوح کله چی وویل ده خپل قوم ته ای زماقومه، که گران وی پرتاسی باندی زما دریدل
اونصیحت کول دالله په ایتونو سره ،

اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ

نومایه الله توکل کړی دی اوتاسی تول یوخای سی مقرر کړی خپل کار او جمع کړی خپل شریکان بیادی نه وی تاسی لره

اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۷۱﴾ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ

په خپل کار کی شبه بیا وکړی زماسره او ماته مهلت مه را کوی ، بیا که مخ واړوی

فَمَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ وَاُمِرْتُ اَنْ

نومانه ده غوښتلی ستاسی څخه مزدوری ، زمامزدوری ده په الله باندی اوماته حکم دی چی

اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَنَجَّيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي

سم دفرمانبردار وخځه ، بیایی دی درواغجن کی نو مونږ وساتی دی اوخوک چی دده سره وه

الْفُلْكِ وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰۗىِٕفَ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ

په کښتی کی او دوی مو قایم کی په ځای او دوب مو کړل هغه چی درواغجن کول یی ایتونه زمونږ

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۷۳﴾

نو وګوره څنګه سو انجام دهغو کوم چی بیرول سوی وه

لنډتفسیر: اوته دوی ته دنوح ﷺ قصه واوروه (کومه چی هغه وخت واقع سوی وه) کله چی دوی خپل قوم ته وفرمایل چی ای زما قومه! که پرتاسی زما اوسیدل (یعنی په حالت دوعظ کی پاته کیدل) اودخدای دحکمونو نصیحت کول گران (اوناخوښه) معلومیږی نو (کیږی دی زه هیڅ پرواه نه کوم څکه چی) زماپه خدای بروسه ده پس تاسی (ماته دضرر رسولو متعلق) خپل تدبیرونه (کوم چی کولی سی) سره دخپلو شریکانو (یعنی بتانو) پاخه وکړی (یعنی تاسی اوستاسی معبودان تول یوخای سی ماته په ضرر رسولوکی خپل ارمان وباسی بیاستاسی دغه تدبیر) ستاسی دخفګان (اوزړه تنګی) باعث نه دی جوړیدل په کار (یعنی اکثره په پټ تدبیرسره طبیعت تنګیږی پس دپټ تدبیرضرورت نسته څه چی تدبیر کوی په

Maktaba Tul Ishaat.com

داګه یی وکړی مه زما لحاظ کوی اومه زمادتلو او وتلو بیره کوی خکه چی ددومره خلګو څخه دیونس
وتل هم ګرانه ده بیادپټ والی څه ضرورت دی) بیا زماسره (چی څه کوی) وکړی اوماته (یوه ذره) مهلت مه
راکوی (مطلب دادی چی زه ستاسی ددی خبرو څخه نه بیریږم اونه دتبلیغ څخه منع کیدی سم تردی خاتی
پوری خویی خپل نه بیریدل وفرمایل اوس مخ نه دطمعی نه ساتلومتعلق فرمایی یعنی) بیاهم که تاسی
مخ اړوی نو (په دی پوه سی چی) زه ستاسی څخه (پردی تبلیغ) څه معاوضه خونه غواړم (اوزه ستاسی
څخه به یی ولی غواړم خکه چی) زمامعاوضه خوصرف (دالله ﷻ دکرم دوعدی مطابق) دالله پرذمه ده
(غرض دادی چی نه ستاسی څخه بیریږم اونه څه خواهش لرم) او (چونکی) ماته حکم سوی دی چی زه په
فرمانبرداروکی سم (په دی وجه په تبلیغ کی دحکم منلو خیال ساتم که تاسی نه منی نوزما څه نقصان دی
پس (سره ددی بلیغ وعظ څخه هم) دغو خلګو دی درواغجن کوی پس (پردوی دطوفان عذاب مسلط سو
او) مونږ (ددی عذاب څخه) دی اوخوک چی دده سره په کښتی کی وه دوی لره مو نجات ورکی او دوی مو
(پرمزکه) اباد کړل او (باقی کوم خلګ چی پاته سوی وه) کوموچی زمونږ ایتونه درواغجن کړی وه دوی
مو (په دی طوفان کی) غرق کړل پس لیدل په کار دی چی څنګه (بد) انجام سو دهغو خلګو کوم چی (دالله
دعذاب څخه) بیرول سوی وه (یعنی په بی خبری کی هلاك نه سول اول ورته ویل سول اوپوه سول چی
ویی نه منله نوسزا ورکول سوه)

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا
بیاولیږل مونږدنوح څخه وروسته څومره پیغمبران ددوی قومونوته بیایی راوړل دوی ته ښکاره دلیلونه نو دوی
لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ؕ كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِ الْمُعْتَدِيْنَ ۝
څخه داسی ونه سوه چی ایمان یی راوړی وای په هغه خبره چی درواغجنه یی کړه مخکی دغه ډول مونږ مهر لګوو
په زړونو دحد څخه دتجاوز کوونکو.

لنډتفسیر: بیادنوح ﷺ څخه وروسته مونږ نور رسولان ددوی دقومونو طرف ته ولیږل پس هغوی دوی ته
معجزی راوړی (مګر) بیا (هم ددوی دضد او عناد داحاجل وو چی) کوم شی دوی په اول (وار) کی (یووار)
دروغ کی داسی ونه سوه چی بیایی هغه منلی وای (اولکه څنګه چی داخلګ په زړه سخت وه) الله ﷻ دغه
شان دکافرانو پرزړونو باندی بند لګوی.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى وَهٰرُوْنَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ
بیا ولیږل مونږ د دوی څخه وروسته موسی ﷺ اوهارون ﷺ فرعون او دده سردارانو ته
بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ۝ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ
دخپلو نخښو سره بیایی تکبر وکی او وه دغه خلګ گناهګاران ، بیاکله چی ورسیده دوی ته حقه خبره

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۷۶﴾ قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ

زمونږ دطرف څخه وی ویل داخو جادو دی ښکاره ، وویل موسیٰ ایاتاسی وایاست ،

لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ؕ اَسِحْرٌ هٰذَا ؕ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوْٓا

حقی خبری ته کله چی تاسی ته راغله ایا داجادو دی؟ او نجات نه کی پیدا جادو کوونکی وی ویل ،

اَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِى

ایانه راغلی یی چی مونږ واړه وی دهغه لاری څخه په کومه چی مونږ خپل پلار نیکه پیدا کړی دی اوسی ستاسی ددواړو سرداری ،

الْاَرْضِ ؕ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِىْ

په دی ملک کی ، اومونږ نه یو ستاسی منونکی ، او وویل فرعون را ولی ماته ،

بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا

کوم چی جادوگران دی پوه ، بیا چی کله راغلل جادوگران وویل دوی ته موسیٰ علیه السلام وغورخوی !

مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿۸۰﴾ فَلَمَّآ اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ ۙ

کوم چی تاسی غورخوی ، بیاچی کله دوی وغورخول وویل موسیٰ تاسی چی څه راوړه ،

السِّحْرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۱﴾

نو دا جادودی اوس الله دا ورانوی ، بیشکه الله نه جوړ وی کار دشریرانو ،

وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع

اوالله رښتنی کوی حقه خبره په خپل حکم سره که څه هم بده یی کنی گناهگاران .

لنډه تفسیر: بیاددی (ذکرسوو) پیغمبرانو څخه وروسته مونږ موسیٰ اوهارون (علیهما السلام) فرعون اوده سردارانو ته دخپلو معجزو (همسا اوسپین لاس) سره ولیږل پس دوی (په دعوی سره ددوی دتصدیق کولوڅخه) تکبروکی (اودحق دطلب دپاره یی غورهم ونه کړی) اودغه خلګ دجرمونو عادت وه (په دی وجه یی اطاعت ونه کی) بیاچی کله (ددعوی څخه وروسته) دوی ته زمونږ دطرف څخه (دموسیٰ علیه السلام پر

Maktaba Tul Ishaat.com

نبوت باندی، صحیح دلیل ورسیدی (مراد ددی څخه معجزه ده) نودغو خلګو وویل چی یقیناً دانسکاره جادودی موسیٰ ﷺ وفرمایل ایا تاسی ددی صحیح دلیل په نسبت کله چی دغه تاسی ته ورسیدی داسی خبره وایاست (چی داجادودی) ایا داجادودی حال دادی چی جادوګر (کله چی دعوی دنبوت وکړی نوبه ظاهرولو دمعجزه کی) نه سی کامیابیدی (اوزه کامیاب سوم چی اول می دعوی وکړه بیامی معجزی ښکاره کړی) دغه خلګو (ددی تقریر هیڅ جواب ورنه کول سو هم دغسی په جهالت سره) وی ویل چی ایاتاسی مونږته ددی دپاره راغلی یاست چی دهغه طریقی څخه مونږ واړوی پرکومه چی مونږ خپل مشران لیدلی دی او (ددی دپاره راغلی یاست چی) تاسی دواړوته په دنیا کی ریاست (اوسرداری) درکول سی او (تاسی ښه پوه سی چی) مونږ به تاسی دواړه ونه منو اوفرعون (خپلو سردارانو ته) ووایل چی ماته ټوله ماهر جادوګران (کوم چی زماپه حکومت) کی دی حاضرکړی (چنانچی جمع سوه) پس کله چی دوی راغلل (اودحضرت موسیٰ ﷺ سره یی مقابله سوه نو) موسیٰ ﷺ دوی ته وفرمایل چی وغورزوی کوم څه چی تاسی (په میدان کی) غورزوی پس کله چی دوی (خپل دجادو سامان) وغورزوی نوموسیٰ ﷺ وفرمایل چی څه تاسی (جوړکړی) راوړی دی داجادو دی (نه هغه کوم ته چی فرعونیان جادووایی) یقینی خبره ده چی الله ﷻ به دا(جادو) اوس تباه اوبربادکړی (ځکه چې) الله ﷻ ددی فساد کوونکو کار نه جوړوی (کوم چی دمعجزی سره په مقابله کی راسی) اوالله ﷻ (څه رنګه چی دباطلو خلګو باطل په مقابله دحقو معجزوکی باطل کوی دغه رنګه) صحیح دلیل (یعنی معجزی) دخپلو وعدو موافق (چی ثابتول دنبوت دانبیاوو علیهم السلام دی) ثابتوی که څه هم مجرمان (اوکافران) یی بدګنی.

فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ

بیا هیڅا ایمان رانه وړی په موسیٰ ﷺ مګر څو هلکانو دده دقوم سره دبیری د فرعون څخه او دده دسردارانو

اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ

څخه چی کله دوی ته تکلیف ونه رسوی اوفرعون لویی کوله په ملک کی او ده

الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۸۳﴾ وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ

لاسونه خلاص کړل ، او وی ویل موسیٰ ﷺ ای زما قومه ! که تاسی ایمان راوړی وی په الله باندی

فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

نو په هغه توکل کوی که تاسی فرمانبردار یاست ، نو هغوی ووویل مونږ په الله توکل وکی ،

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾

ای ربه زمونږ مه ازمایه په مونږ باندی زور ددی ظالم قوم اونجات راکی مونږته په رحمت خپل سره ددی کافرانو خلګو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: پس (کله چی دلکړی معجزه ښکاره سوه نو) په موسی علیه السلام باندی (په شروع شروع کی) ددوی
دقوم څخه صرف لږ قدرخلګو ایمان راوړی هغه هم دفرعون څخه اود خپل حاکمانو څخه په بیره چی
همسی نه (په ښکاره کیدو) دوی ته تکلیف (ونه) رسوی او په واقع کی (د دوی بیره بی ځایه نه وه ځکه چی)
فرعون په دی ملك کی زور (حکومت) درلودی اوداخبره هم وه چی دی دحد (انصاف) څخه ووتی (ظلم یی
کوی بیاچی کوم سړی دحکومت سره ظلم کوی دهغه) څخه خوخامخا بیره کیږی اوموسی (علیه السلام چی کله
ددوی بیره ولیده نودوی ته یی) وفرمایل چی ای زماقومه! که تاسی (په ربښتیا سره) په الله ایمان لری نو
(سوچ اوفکرمه کوی بلکی) پرهغه توکل کوی که چیری تاسی (دهغه) اطاعت کوونکی یاست دوی (په
جواب کی وویل چی مونږ پر) الله توکل کړی دی (ددی څخه وروسته یی دالله ﷻ څخه سوال وکی چی) ای
زمونږ پروردګاره مونږ دظالمانو خلګو دظلم څخه وساتی اومونږ دخپل رحمت په صدقه کی ددی
کافرانو څخه خلاص کړی.

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً

اوحکم ولیږی مونږ موسی ته اوده ورورته چی مقرر کړی دخپل قوم دپاره په مصر کی کورونه اوجوړ کړی خپل کورونه مخ په

وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَ

قبله ، اوقائم کړی لمونځ اوخوشخبری ورکړه مومنانوته ، او وویل موسی ای زمونږ ربه تا ورکړی دی فرعون ته ،

مَلَاَهٗ زِيْنَةً وَّاَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ

او دده سردارانوته ښائسته او مال ددنیا په ژوند کی ای زمونږ ربه ددی دپاره چی گمراه کړی

سَبِيْلِكَ ۚ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

ستا دلاری څخه ، ای زمونږ ربه اختم کړی د دوی مالونه اوسخت کړی د دوی زړونه چی

فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۸۸﴾ قَالَ قَدْ اُجِيْبَتْ

ایمان رانه وړی ترڅوپوری چی ووینی عذاب دردناك ، وی فرمایل قبوله سوه ،

دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيْمَا وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾

دعا ستاسی نو تاسی دواړه ثابت اوسی اومه خی پر لاره دهغو چی ناپوه دی ،

وَجٰوَزْنَا بِبَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُوْدُهٗ

اوپوری ایستل مونږ بنی اسرآئیل ددریاب څخه بیا ورپسی سو په دوی فرعون اودده لښکری

Maktaba Tul Ishaat.com

بَغْيًا وَّعَدْوًا ۭ حَتّٰٓى اِذَآ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ

په شرارت او زیاتی سره ، تردی چی کله دوبیدی نو وی ویل یقین وکی ما چی نسته بل معبود

اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَاۗءِيْلَ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝۹۰

مگر په کوم چی ایمان راوړی دی بنی اسرآئیلو او زه یم دفرمانبردارو څخه

آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝۹۱

اوس دا وایی اوتاخونافرمانی کوله ددی څخه مخکی او وی ته په گمراهانو کی

لنډتفسیر اومونږ (ددی دعا دقبلولو اسباب تیارکړه چی) موسیٰ ﷺ او ده ورور هارون ﷺ ته وحی ولیږله چی تاسی دواړه دخپلو دی خلګو دپاره (په زړه طریقه) په مصرکی کورونه بر قرار وساتی (یعنی دوی ددبیری څخه کورونه مه پریږدی مونږ ددوی حفاظت کوونکی یو) او (دلمونځ په وختونوکی) تاسی ټول په خپلو دغه کورونوکی دلمانځه کولو ځای مقرر کړی (جماتونوته حاضری دبیری په وجه معاف دی) او (داضروری ده چی) دلمانځه پابیندی کوی (چی دلمانځه په برکت سره الله ژر ددی مصیبت څخه خلاصی درکړی) او (ای موسیٰ) ته مسلمانانو ته خوشخبری ورکړه (چی اوس به ژر دا مصیبت ختم سی) اوموسیٰ (ﷺ په دعاکی) عرض وکی چی ای زمونږ ربه! (مونږ ته داخبره معلومه سوې ده چی) تافرعون ته او ده سردارانو ته ښائست اوقسم قسم مال ددنیا په ژوندکی ای زمونږ ربه په دی وجه ورکړی دی چی دوی ستا دلاری څخه (خلګ) گمراه کړی (پس کله چی هدایت ددوی په تقدیرکی نسته اوکوم حکمت چی وو هغه حاصل سو نواوس ددوی مالونه اونفسونه ولی باقی پاته سی پس) ای زمونږ ربه ددوی مالونه نیست اونابود کړی او (ددوی دنفسونو دهلاکت اسباب تیار کړی داسی چی) ددوی زړونه (زیات) سخت کړی (چی په دی سره دهلاکت مستحق سی) پس چی دوی ایمان رانه وړی (بلکه ورځ په ورځ د دوی کفر زیاتیږی) تردی چی (د) دردناك عذاب (مستحق سی هغه) ووینی (نو دغه وخت ایمان نفع نه ورکوی موسیٰ ﷺ دا دعا کوله اوهارون ﷺ به امین وایه داسی په درمنثور کی دی) الله ﷻ وفرمایل چی ستاسی ددواړو دعاقبوله سوه (څکه چی امین ویل هم په دعا کی شریکیدل دی یعنی اوس مونږ ددوی دمالونو اونفسونو هلاکوونکی یو) پس تاسی (په خپل منصبی کار یعنی تبلیغ باندی) ثابت قدم اوسی (که څه هم هدایت ددوی په تقدیرکی نه وی مګرپه تبلیغ کی ستاسی خوفائده سته) اوددی خلګو پرلاړه مه څی کوموته چی (زمونږ دوعدی دربښتنی کیدو یاپردی چی په صبرکی حکمت دی یادتبلیغ ضروری کیدو) علم نسته (یعنی زمونږ وعده ربښتنی وګنی اوپه خپل منصبی کارکی اخته اوسی) او (کله چی مونږ دفرعون هلاکول وغوښتل نوموسیٰ ﷺ ته موحکم وکی چی بنی اسرآئیل دمصر څخه وباسه نوده ټول دځان سره روان کړل اوپه لاره کی دریایی شور راغی اودموسیٰ ﷺ په دعا سره په دی کی لاهو سوه او

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږبنی اسرآئیل د (دی) دریاب څخه پوری ایستل بیاپه دوی پسی وروسته فرعون سره دخپله لښکره
دظلم اوزیاتی په اراده سره (په دریاب کی) روان سو (چی ددریاب څخه پوری وزی او د دوی سره جنګ
وکړی لیکن دوی د دریاب څخه پوری نه وتل) تردی چی کله په ډوبیدو سول (اودعذاب ملائکی یی په
نظر ورغلی) نو (بدحواسه سوه) وی ویل چی زه ایمان راوړم چی بغیر دهغه څخه په کوم چی بنی اسرائیلو
ایمان راوړی دی بل معبود نسته اوزه په مسلمانانو کی داخلیږم (پس ما ددی غرقیدو اوداخرت دعذاب
څخه وساتی) او (داخرت دلیدو څخه) مخکی خودسرکښی کوله اوپه فساد کوونکو کی داخل وو اوس
نجات غواړی؟

معلومات اومسئلې: په ذکرسوو ایتونو کی دحضرت موسیٰ اوهارون علیهما السلام اودبنی اسرائیلو اودفرعون
دقوم څه حالات او ددوی متعلق څه احکام ذکردی په اولنی آیت کی دیوی خاصی واقعی متعلق حکم دی
هغه داچی بنی اسرآئیل کوم چی دحضرت موسیٰ علیه السلام په دین باندی عمل کوونکی وه دی ټولو به دعام
عادت په مطابق لمونځونه صرف په خپلو عبادت خانو کی ادا کول اودتیرو امتونو دپاره حکم هم داوو
چی ددوی لمونځونه به په کورونوکی نه اداکیدل داخاص اسانی امت محمدی ته ورکول سویده چی په
هرځای کی کوم ځای چی غواړی لمونځ ادا کوی.

دصحیح مسلم په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ په خپلو شپږو خاصیتونوکی یو خاصیت دا هم بیان کړی دی
چی زمادپاره ټوله مځکه جمات جوړسوی دی چی لمونځ هرځای اداکیږی دابله خبره ده چی فرض
لمونځونه په جمات کی دجماعت سره اداکول سنت مؤکده مقرر سوی دی اونفلی لمونځونه په کورونو
کی اداکول ښه دی دنبی کریم ﷺ عمل په دی باندی وو چی په جمات کی به یی صرف فرض لمونځ اداکوی
سنت اونفل به یی په کور کی اداکول بنی اسرائیل دخپل مذهب مطابق په دی پابنده وه چی لمونځ دی
صرف په خپلو عبادتخانوکی اداکوی فرعون چی به کوم دوی ته قسم قسم تکلیفونه ورکول اوظلم به یی
باندی کوی هغه چی داولیدل نو ددوی ټولی عبادت خانی یی ونړولی چی دوی دخپل مذهب مطابق
لمونځ ونکړی سی په دی باندی الله ﷻ دبنی اسرائیلو دواړوپیغمبرانوحضرت موسیٰ اوهارون علیهما السلام ته
هغه حکم وکی کوم چی په دی ایت کی ذکر دی چی دبنی اسرائیلو دپاره په مصرکی نوی کورونه جوړ کړی
اوددی کورونو مخونه دی قبلی ته وی چی دوی په دغو خپلو داوسیدو په کورونو کی لمونځونه کوی.

ددی څخه معلومه سوه چی په تیرو امتونو کی که څه هم عام حکم داوو چی لمونځ دی صرف په
عبادتخانو کی وی لیکن ددی خاص حادثی په وجه سره دبنی اسرائیلو دپاره ددی عارضی اجازه ورکول
سوه چی په کورونوکی دی لمونځ کوی اودخپلو کورونو مخونه دی دقبلی طرف ته برابر کړی اوداهم ویل
کیږی چی ددی ضرورت په وخت کی هم دوی ته په مخصوصو کورونو کی دلمانځه کولو اجازه ورکول
سوی وه دکومو مخونه چی یی دقبلی طرف ته برابر کړی وه په عامو کورونو اوعامو ځایونوکی دلمانځه
اجازه دغه وخت هم نه وه لکه څنګه چی امت محمدی ته په ښار بیابان اوهرځای کی دلمانځه ادا کولو
اسانی حاصله ده (روح)

دلته داسوال هم دفکر قابل دی چی په دی آیت کی بنی اسرائیلو ته چی دکومی قبلی طرف ته دمخ کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

حکم ورکول سوی دی ددی څخه مراد کومه قبله ده؟ کعبه که بیت المقدس؟ حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی ددی څخه مراد کعبه ده اوکعبه دحضرت موسی ﷺ او دده دملګرو قبله وه (قرطبی وروح) بلکه څینی علماء فرمایی چی دتیرو ټولو پیغمبرانو قبله په اصل کی کعبه وه.

اوپه کوم حدیث کی چی دا ارشاد دی چی یهود په خپلو لمونځونوکی دصخرهٔ بیت المقدس طرف ته مخ کوی داپرهغه زمانه محمول کیږی کله چی حضرت موسی ﷺ مصر پریښووی اودبیت المقدس طرف ته روان سو دا ددی منافی نه ده چی دمصر دقیام په زمانه کی ددوی قبله دی بیت الله وی.

ددی آیت څخه داهم ثابته سوه چی دلمانځه دپاره قبلی ته مخ کول دتیرو پیغمبرانو په زمانه کی هم شرط وو دغه رنګه پاکی اوپټول دعورت دټولو تیرو پیغمبرانوپه شریعتونو کی دلمانځه دپاره شرط کیدل په معتبرو روایتونو سره ثابت دی.

دکورونو دمخ پرقبله جوړولو مقصد هم داوو چی په دی کی لمونځونه اداسی په دی وجه ددی څخه وروسته یی د: أَقِيمُوا الصَّلٰوةَ حکم وکی اودا هدایت یی کړی چی که فرعون په عبادت خانو دلمانځه کولو څخه منع کول کوی نوپه دی سره لمونځ نه سی ساقط کیدی په خپلو کورونوکی یی ادا کوی.

په اخری آیت کی حضرت موسی ﷺ مخاطب کوی فرمایی چی مومنانو ته خوشخبری واوروه چی د دوی مقصود به پوره سی په دښمن به دوی ته غلبه نصیب سی او په آخرت کی به ورته جنت ورکول سی (روح) دایت په شروع کی یی حضرت موسی اوهارون علیهما السلام ته په صیغه دتثنیی خطاب وکی څکه چی دکورونو قبلی ته مخ کول اوپه دی کی دلمانځه کولو اجازه د دوی کاروو دهغه څخه وروسته په صیغه دجمع سره یی بنی اسرائیل په کی شامل کړه اودلمانځه حکم یی وکی څکه چی په دی حکم کی پیغمبر اوامت ټول داخل دی په اخر کی یی دخوشخبری ورکولو حکم خاص حضرت موسی ﷺ ته ورکی څکه چی اصل صاحب دشریعت نبی دی وو دجنت دزیری ورکولو حق صرف دده وو.

په دوهم آیت کی دفرعون دقوم داصلاح څخه دمایوسه کیدو اودحضرت موسی ﷺ دښراوو ذکردی چی په شروع کی یی دوی دالله ﷻ په دربار کی داعرض کړی دی چی تا دفرعون قوم ته ددنیا دښائسته ساز اوسامان اومال اودولت ډیر ورکړی دی دمصر څخه واخله دحبشی ترمخکی پوری دسرو سپینو اوزیر جدو زمردو یاقوتو وغیره جواهراتو کانونه دی ورکړی دی (قرطبی) ددی اثر دادی چی دوی خلګ ستا دلاری څخه ګمراه کوی څکه چی عام خلګ ددوی ظاهری ساز اوسامان اوعیش اوراحت وینی اوپه دی شك کی پریوزی چی که دوی پرګمراهی باندی وای نودالله ﷻ دانعمتونه به ولی ورلره ورکول کیدلی څکه چی دعاموخلګونظرونه دی حقیقت ته نه رسیږی چی ددنیا زیاتوالی بغیر دنیك عمل څخه دانسان پرحقانیت باندی دکیدو نښانه نه ده حضرت موسی ﷺ چی دفرعونیانو داصلاح څخه مایوسه سو نو د دوی دمال دولت څخه یی دنورو دګمراهی خطره محسوسه کړه اوښرا یی وکړه. رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰى أَمْوَالِهِمْ یعنی ای زما پروردګاره! ددوی دمالونو صورت بدل کړی مسخ اوبی کاره یی کړی.

دحضرت قتاده بیان دی چی ددی دعا اثر داسی وسو چی دفرعونیانو ټول زر اوجواهرات اونقد سکی او دباغونو کښتو ټول پیداوار دډبرو په شکل کی بدل سوه دحضرت عمر بن عبدالعزیز په زمانه کی یو

Maktaba Tul Ishaat.com

نیلی پیدا سوی وه چی په هغه کی د فرعون دزمانی شیان وه په دی کی هګی اوبادام هم ولیدل سوه چی بالکل کانی وه.

دتفسیر امامان فرمایی چی الله ﷻ د دوی تولی میوی سبزیانی اوغلی کانی کړی اودا ورکړه دهغو نهو ۹ معجزو څخه وه چی ذکریی په قرآن کریم کی راغلی دی: وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيَاتٍ بَيِّنَاتٍ الخ

دوهمه ښرا حضرت موسیٰ ﷺ د دوی دپاره دا وکړه ، وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ یعنی ای پروردګاره! ددوی زړونه داسی سخت کړی چی په دوی کی دایمان اوځه خیر صلاحیت پاته نه سی چی دوی ددردناك عذاب راتلو څخه مخکی ایمان رانه وړلی سی.

دا ښرا په ښکاره دیو رسول اوپیغمبر دژبی څخه ډیره لیری معلومیږی ځکه چی دپیغمبر دژوند وظیفه داوی چی خلګو ته دایمان اونیك عمل طرف ته بلنه ورکوی او ددی دپاره تدبیرونه کوی.

مګر دلته واقعه دا ده چی حضرت موسیٰ ﷺ دتولو تدبیرونو کولو څخه وروسته ددوی داصلاح څخه مایوسه سوی وو اواوس یی غوښتل چی دوی دخپلو عملونو سزا وویني په دی کی دااحتمال وو چی هسی نه داخلګ عذاب راتلونکی وویني اودایمان اقرار ونه کړی اوپه دی سره عذاب بیرته واپس سی په دی وجه دکفر څخه بغض اونفرت ددی دعا سبب جوړسو لکه چی فرعون دغرقیدو په وخت کی دایمان اقرارکوونکی سو نوجبرائیل امین دده ځله بنده کړه چی هسی نه دالله ﷻ رحمت متوجه سی او دی دعذاب څخه خلاص سی او دا هم کیدی سی چی دا ښرا په حقیقت کی ښرانه وی بلکه داسی وی لکه پر شیطان لعنت چی دی خوپه نص دقرآن په خپله ملعون دی بیاپر ده لعنت کولو منشاء ددی څخه ماسوا نه ده چی پرچا الله ﷻ لعنت مسلط کړی دی مونږ هم په هغه لعنت کوو په دی صورت کی به ددی مطلب دا وی چی د دوی دزړونو سخت والی اوناقابل ایمان اونا قابل اصلاح کیدل دالله ﷻ دطرف څخه مقرر سوی وه حضرت موسیٰ ﷺ په صورت دښراوو دهغه اظهار وکی.

په دریم آیت کی دحضرت موسیٰ ﷺ ددی دعا دقبولیت بیان دی مګر په عنوان کی یی حضرت هارون ﷺ هم شریك کړی دی داخطاب فرمایی: قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا یعنی ستاسی ددواړو دعا قبوله سوه وجه داوه چی کله حضرت موسیٰ ﷺ دادعا کوله نو حضرت هارون ﷺ به امین وایه ددی څخه معلومه سوه چی دچا په دعا باندی امین ویل هم په دعا کی داخل دی اوچونکی ددعا سنت طریقه په قرآن کریم کی په کرار اواز سره کول ښوول سوی دی نو ددی څخه دامین هم په پته دویلو ترجیح معلومیږی.

په دی آیت کی ددعادقبلیدو خبرداری دواړو پیغمبرانو ته ورکول سوی دی مګر لږ څه امتحان یی د دوی هم واخستی چی دقبلیدو دعا اثر څلویښت کاله وروسته دبغوی په قول ښکاره سو په دی وجه په دی آیت کی ددعا دقبلیدو دذکر سره دی دواړو حضراتو ته داهدایت هم ورکول سو چی: فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ : یعنی په خپل منصبی کار دعوت او تبلیغ کی لګیا اوسی ددعا دقبلیدو اثر که وروسته ښکاره کیږی ، نو دجاهلانو په شان تلواری مه کوی.

په څلورم آیت کی دحضرت موسیٰ ﷺ مشهوره معجزه په دریاب پوری وتل اودفرعون دغرقیدو دواقعی ذکرکولو څخه وروسته فرمایی: حَتّٰى إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمُسْلِمِينَ: یعنی کله چی دی په غرقیدو کی گیرسو نو وی ویل چی زه ایمان راوړم په دی خبره چی په کوم خدای بنی اسرائیلو ایمان راوړی دی دهغه څخه ماسوا بل معبود نسته او زه دحکم منونکو څخه یم. آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ: یعنی آیا اوس ته مسلمانیږی کله چی دایمان او اسلام وخت تیرسو.

ددی څخه ثابته سوه چی عین دمرګ په وخت کی ایمان راوړل شرعًا معتبر نه دی ددی زیات وضاحت دهغه حدیث څخه کیږی په کوم کی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی الله ﷻ دبنده توبه ترهغه پوری قبلوی ترڅوپوری چی یی دمرګ دغرغری وخت نه وی راغلی (ترمذی)

دمرګ دغرغری دوخت څخه مرادهغه وخت دی کوم وخت چی لادروح ایستو ملائکی مخامخ سوی نه وی دغه وخت بیاددنیا ژوند ختم سی داخرت احکام شروع سی په دی وجه ددی وخت هیڅ عمل قابل قبول نه وی نه ایمان اونه کفردغه وخت چی څوك ایمان راوړی هغه ته مومن نه سی ویل کیدی اوددې سره په کفن دفن کی دمسلمانانو په شان معامله هم نه سی کیدی لکه چی دفرعون ددی واقعی څخه ثابته ده چی په اجماع سره دفرعون مرګ پرکفرباندی واقع سوی دی دقرآن دنصوصو څخه هم دابنکاره ده اوچاچی دفرعون دی ایمان ته معتبر ویلی دی یادی ددی څه تاویل کیږی یادی غلط مقرریږی او غلط دی ورته ویل کیږی (روح)

خدای مه کړه که دغه ډول دروح ختلو په حالت کی دچا دخُلی څخه دکفر کلمه ووزی نوده ته به کافرهم نه سی ویل کیدی بلکی دده دجنازی لمونځ به کوی دمسلمانانو په شان به یی دفن کوی اوددې دکفر دکلمی به تاویل کیږی لکه چی دځینو اولیاء الله دحالاتو څخه معلومیږی چی کومه کلمه ددوی دژبو څخه وتلی وه خلګوبه دغه دکفرکلمه ګڼله اوپریشانه کیدل به وروسته چی به پر هوښ راغی اوخپل مطلب به یی وښووی نودټولو اطمینان به وسو چی هغه عینی دایمان کلمه وه.

لنډه دا ده چی څه وخت روح ووزی اودنزع وخت وی دغه وخت ددنیا په ژوند کی شمار نه دی دغه وخت هیڅ عمل هم شرعًا معتبر نه دی ددی څخه مخکی هرعمل معتبر دی مګر چی څوك یی وینی هغوی ته په دی کی ډیر احتیاط لازم دی څکه چی ددی په صحیح اندازه کولوکی غلطی کیدی سی چی دادروح دنزع او دمرګ دغرغری وخت دی اوکه لا ددی څخه مخکی دی.

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً ۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ

نو ننساتو مونږ ستابدن چی سی ته دخپلو وروستنیو دپاره نخښه اوبی شکه ډیر خلق

عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مُبَوَّأَ

زمونږ قدرتونو ته توجه نه ورکوی ، اوخای ورکی مونږ بنی اسرآئیلو ته ښه خای

صِدْقٍ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ ۖ فَمَا اخْتَلَفُوا حَتَّىٰ جَاءَهُمُ

اوخوراك مو ورکی دوی ته دپاکوشیانو څخه ، نو په دوی کی اختلاف را نه غی ، ترهغه پوری چی راغی دوی ته

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعِلْمُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا

خبر ، بیشکه ستارب به په دوی کی فیصله وکړی دقیامت په ورځ په کومه خبره کی ،

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ فَسْـَٔلِ

چی په دوی کی اختلاف راتلی ، نو که ته یی په شك کی ددی شی څخه چی نازل کی مونږ تاته نو پوښتنه وکړه ،

الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ مِنْ

دهغو څخه چی وایی کتاب ستا څخه مخکی ، بیشکه راغله تاته حقه خبره ستا

رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ

درب څخه نو ته هیڅکله مه کیږه په شك کوونکو کی ، اومه کیږه په هغوکی ،

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوْنَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ

کومو چی دروغجنی کړی دالله ﷻ خبری بیا به ته سی د تاوان کوونکو څخه ، په کومو چی ثابته سوه ستا

عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ اٰيَةٍ

درب خبره دوی به ایمان رانه وړی که څه هم ورسیږی دوی ته ټولی نخښی ،

حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۹۷﴾ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ

ترڅو چی و نه وینی عذاب دردناك ، نو ولی نه سو یو کلی چی ایمان یی راوړی ،

فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ۭ لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ

نو په کار ورتلی دوی ته ایمان ددوی مګر دیونس ﷺ قوم کله چی دوی ایمان راوړی نولوړکی مونږ د دوی څخه

عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۹۸﴾

عذاب ذلت ددنیا په ژوند کی اوفائده ورسوله مونږ دوی ته تربو وخته پوری

لنډتفسیر: پس (پرځای دمطلوبه نجات) نن به مونږ ستا لاش (مړبدن) ته (په اوبو کی ډوبیدو څخه) نجات ورکړو چی ته دهغو دپاره دعبرت سبب یی کوم چی ترتا وروسته (موجود) دی (چی ستا بدحالی اوتباهی

Maktaba Tul Ishaat.com

ووینی اوداللہ ﷻ دحکمونو دمخالفت څخه ځان وساتی، اوحقیقت دادی چی (بیاهم) ډیر خلګ زمونږ د (داسی داسی) عبرتونو څخه غافله دی (اوداحکامو دمخالفت څخه نه بیریږی) اومونږ (دفرعون دغرقیدو څخه وروسته) بنی اسرائیلوته ډیر ښه ځای داوسیدو ډپاره ورکی (چی دغه وخت خودمصر مالکان سول او ددوی اولنی نسل ته موپه بیت المقدس اودشام دملك پرعمالقه وو باندی فتح ورکړه) اومونږ دوی لره پاك شیان دخوراك ډپاره ورکړل (په مصر کی هم باغونه اوچینی وی اودشام په باره کی برکنا فیها راغلی دی) پس (په کار ده چی زمونږ په حکمونو منلوکی زیات سرګرم سوی وای لیکن دوی چپه په دین کی اختلاف شروع کی اوغضب داچی) دوی (دجهل په وجه سره) اختلاف ونه کی تردی چی دوی ته (داحکامو) علم ورسیدی (او بیایی اختلاف وکی مخ ته پردی اختلاف باندی دسزا بیره ده چی) یقینی خبره ده چی ستارب ددوی (اختلاف کوونکو) په مینځ کی دقیامت په ورځ په دی کارونو کی (عملی) فیصله به وکړی په کوموکی چی دوی اختلاف کوی بیا (ددین محمدی دحقیقت ثابتولو ډپاره مونږ یوداسی کافی طریقه ښیو چی دغیرصاحب وحی دپاره به هیڅ ډول کافی نه وی هغه داسی ده چی ته صاحب وحی یی مګرکه تاته هم که ددی خطاب په طور دیوقضیی شرطیی سره وسی نوممکنه ده داسی چی) که چیری (بالفرض) ستاپه دی (کتاب) کی څه شك (اوشبهه) وی کوم چی مونږ تاته لیږلی دی نو (ددی شك لیری کولو یوه اسانه طریقه داهم ده چی) ته دهغوخلګوڅخه پوښتنه وکړه کوم چی ستاڅخه دمخکی کتابونوویونکی دی (مراد تورات اوانجیل دی هغوی به دپیش ګویو په طور باندی په ویلو سره ددی قرآن تصدیق وکی) بیشکه تاته ستادرب دطرف څخه رښتنی کتاب راغلی دی ته هیڅکله په شك کوونکوکی مه کیږه اونه (دشك کوونکو څخه زیات) په هغو خلګوکی کیږه کومو چی داللہ ﷻ ایتونه درواغجن کړل هسی نه چی ته (نعوذ باللہ) تباه نه سی یقیناً دکومو خلګو په حق کی چی ستادرب (دا ازلی) خبره (چی دوی به ایمان) رانه وړی ثابته سویده دوی به (هیڅکله) ایمان رانه وړی که څه هم ته ټول دلیلونه (دثبوت دحق) ور ورسوی ترڅو پوری چی دردناك عذاب ونه وینی (مګر ددغه وخت ایمان نفع نه ورکوی) چنانچی (پرکومو کلیو چی عذاب راغلی دی په دوی کی) یوکلی هم ایمان رانه وړی چی ایمان راوړل دوی لره نفع مندسوه (ځکه چی ددوی دایمان سره مشیت متعلق سوی نه وو) البته! مګر دیونس ﷺ قوم (چی ددوی دایمان سره مشیت متعلق سوی وو په دی وجه چی دوی دوعده سوی عذاب اولنی نخښی ولیدی ایمان یی راوړی او) کله چی دوی ایمان راوړی نومونږ درسوایی دعذاب څخه ددنیاپه ژوندکی دوی خلاص کړل اودوی لره موتریوخاص وخت (یعنی دمرګ تروخته) پوری (په خیراوخوبی سره) عیش ورکی (پس دنورو کلیو ایمان نه راوړل اودیونس ﷺ دقوم ایمان راوړل دواړه په مشیت سره وسو)

معلومات اومسئلې: په اولنی ایت کی فرعون ته خطاب کوی فرمایی چی دغرقیدو څخه وروسته مونږ ستا بدن داوبو څخه رازایستی چی ستا بدن دوروسته خلقو ډپاره دخدای دقدرت ننبانه اوعبرت جوړ سی. ددی واقعه داسی ده چی د دریاب پوری وتوڅخه وروسته کله چی حضرت موسی ﷺ بنی اسرائیلوته دفرعون دهلاکیدو خبرورکی نودغه خلق دفرعون څخه دومره مرعوب او مغلوب وه چی ددی څخه یی انکاروکی اوویی ویل چی فرعون نه دی هلاك سوی اللہ ﷻ دوی ته دښودلو اودنوروخلقو دعبرت ډپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

د دریاب دیوی څپی په ذریعه دفرعون مړلاش ددریاب پرغاړه وغورزوی چی ټولو ولیدی اوده په هلاکیدو یی یقین راغی او ده دا لاش دټولو دپاره دعبرت نمونه جوړه سوه بیامعلومه نه ده چی ددی لاش سره څه وسوه په کوم ځای کی چی دفرعون لاش پیدا سوی وو ترننه پوری دغه ځای په جبلِ فرعون نوم سره مشهور دی.

څه زمانه سوی ده چی په اخبارونوکی داخبر چاپ سوی وو چی دفرعون لاش صحیح سالم پیدا سوی دی اوعامو خلګو ولیدی اوترننه پوری دقاهری په عجائب سرای کی محفوظ دی مګر داپه یقین سره نه سی ویل کیدی چی داهغه فرعون دی دکوم مقابله چی دحضرت موسیٰ علیه السلام سره سوی وه یابل فرعون دی ځکه چی لفظ دفرعون دیوخاص سړی نوم نه دی پس په دغه زمانه کی به دمصر هریو بادشاه ته دفرعون لقب ورکول سی.

مګر څه عجیبه نه ده چی قدرت څنګه غرق سوی لاش دعبرت دپاره پرغاړه غورزولی وو دغه شان یی دائنده نسلونو دعبرت دپاره دورستیدو اوسخا کیدو څخه هم محفوظ کړی وای اوتر اوسه پوری موجود وای.

دایت په اخرکی ارشاد فرمایی چی دیر خلق زمونږ دایتونو اوننبانو څخه غافله دی په دی کی غور اوفکرنه کوی اوعبرت نه حاصلوی کنه نو ددنیا په ذرّه ذرّه کی داسی ننبانی موجودی دی دکوموپه لیدو چی الله ﷻ او ده کامل قدرت پیژندل کیږی.

په دوهم ایت کی دفرعون دبد انجام په مقابله کی دهغه قوم مستقبل ښودلی دی کوم چی فرعون سپك ورك او ذلیل ګڼلی وو فرمایی چی مونږ بنی اسرائیلوته ښه ځای ورکی دمصر ټول ملك هم دوی ته ورکول سو او دأردن اوفلسطین پاکه مزکه هم دوی ته ورکول سوه کومه چی الله ﷻ دخپل خلیل حضرت ابراهیم علیه السلام او ده داولاد دپاره میراث جوړکړی وو اودښه ځای څخه یی په قران کی د: مُبَوَّأَ صِدْقٍ په لفظ سره تعبیر کړی دی دصدق معنٰی دلته دصالح اومناسب ده مطلب دا دی چی داسی ځای مونږ دوی ته ورکی کوم چی ددوی دپاره په هراعتبار سره لائق اومناسب وو بیا فرمایی چی مونږدوی ته دحلالو او پاکو شیانو څخهرزق ورکی چی ددنیا ټول خوندونه اوراحتونه مونږ دوی ته ورکړل.

دایت په اخرکی بیا ددوی دکړیدو اوغلطو کارونو ذکردی چی په دوی کی دیرو خلګو داقتدار پیداکیدو څخه وروسته دالله ﷻ دنعمتونو قدرونه کی اودهغه دفرمانبرداری څخه واپس سول په تورات کی چی کومی ننبانی دنبی کریم ﷺ دی خلګو وویلی ددی تقاضا داوه چی ددوی دتشریف راوړلو وروسته دټولو څخه اول دي خلګو ایمان راوړی وای مګر داعجیبه اتفاق وسو چی دنبی کریم ﷺ دتشریف راوړلوڅخه مخکی خودی ټولو خلګو په نبی اخر زمان وسیله کوله اودعاګانی به یی کولی مګر کله چی نبی اخرزمان دخپل پوره شهادتونو سره اودتورات دښوول سوو ننبانوسره تشریف راوړی نودی خلګو په خپل مینځ کی اختلاف شروع کی څینی خلګو ایمان راوړی اوځینو انکار وکی په دی آیت کی دنبی کریم ﷺ تشریف راوړل یی په لفظ د جَآءَ هُمُ الْعِلْمُ سره تعبیرکړي دی دلته دعلم څخه مرادیقین هم کیدی سی نومعنٰی به یی داسی چی کله په مشاهده سره دیقین اسباب جمع سوه نودی خلقواختلاف وکی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوځینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی دلته دعلم ځخه مراد معلوم دی یعنی کله چی دغه هستی مخ ته راغله کومه چی دتورات دپیشګویو په ذریعه سره مخکی معلومه سوی وه نواوس یی اختلاف وکی. دایت په اخرکی فرمایی چی الله ﷻ دقیامت په ورځ به ددوی داختلاف فیصله وکړی حق اوباطل به واضح سی اهل حق به جنت ته اواهل باطل به دوزخ ته ولیږل سی.

په دریم آیت کی په ښکاره خطاب نبی کریم ﷺ ته دی مګر دانښکاره ده چی دوی ته په وحی کی دشك راتلواحتمال نسته په دی وجه ددی خطاب په ذریعه مقصود امت ته اورل دی په خپله دی مقصودنه دی او دا هم کیدی سی چی داخطاب عامو انسانانو ته وی چی ای انسانانو! که ستاپه دی وحی الهی کی څه شك وی کومه چی په واسطه دمحمد مصطفی ﷺ ستاطرف ته رالیږل سویده نوته دهغو خلګو ځخه پوښتنه وکړه کومو چی ترتا مخکی دالله ﷻ کتاب تورات اوانجیل ووایه هغوی به تاته ووایی چی تیرو تولو پیغمبرانو او ددوی کتابونو دمحمد ﷺ خوشخبری ورکړي ده چی په دی سره به ستاوسوسی لیری سی.

په تفسیرمظهری کی دی چی ددی آیت ځخه معلومه سوه چی کوم سړی ته ددین په معامله کی څه شبهه ور پیښه سی نوپرده لازمه ده چی دعلماءِ حق ځخه پوښتنه وکړی خپل شکونه لیری کړی اوپرورش یی نه کوی.

په څلورم پنځم اوشپږم ایتونو کی ددی مضمون تائید اوتاکید اوغفلت کوونکو ته خبرداری دی.

په اووم آیت کی غفلت کوونکو منکرانو ته په دی خبرداری ورکول سوی دی چی دژوند فرصت غنیمت وګڼی اوس هم په کار دی چی دانکار اوسرکښی ځخه بیرته راواپس سی کنه نویو داسی وخت راتلونکی دی چی که بیاتوبه کاږی نوتوبه به یی نه قبلیږی که ایمان راوړی نوایمان به مقبول نه وی اودغه به هغه وخت وی کله چی دمرګ په وخت کی داخرت عذاب مخامخ سی په دی سلسله کی دحضرت یونس ﷺ دقوم یوه واقعه یی ذکر کړي ده چی په دی کی ډیر عبرتونه اونصیحتونه دی.

په دی آیت کی ارشاد دی چی داسی ولی ونه سوه چی منکرو قومونو په داسی وخت کی ایمان راوړی چی ددوی ایمان دوی لره نفع ورکولی یعنی دمرګ په وخت کی یادعذاب واقع کیدو اوپه عذاب کی داخته کیدو ځخه وروسته یادقیامت دقائمیدو په وخت کی کله چی دتوبی دروازه بنده سی دچا توبه اوایمان به مقبول نه وی ددی ځخه مخکی مخکی باید دخپلی سرکښی ځخه واپس کیدلی اوایمان یی راوړی وای بغیر دحضرت یونس ﷺ دقوم ځخه چی هغوی دداسی وخت راتلو ځخه مخکی کله چی دخدای ﷻ عذاب راتلونکی ولیدی نوفوراً یی توبه وکښله اوایمان یی راوړی ددی په وجه مونږ دوی ځخه رسوا کوونکی عذاب بیرته واستوی.

ددی تفسیر خلاصه داده چی ددنیا دعذاب مخ ته په راتلو سره هم دتوبی دروازه نه بندیږی بلکه توبه قبلیږی البته داخرت عذاب مخ ته په راتلو سره توبه نه قبلیږی اود اخرت عذاب مخ ته راتلل یادقیامت په ورځ وی یادمرګ په وخت کی برابره خبره ده که دغه طبعی مرګ وی یاپه څه دنیوی عذاب کی په اخته کیدو سره وی لکه چی فرعون ته ورپیښ سو.

په دی وجه دحضرت یونس ﷺ دقوم توبه قبلیدل دالله ﷻ دعام قانون ځخه خلاف نه دی بلکه تردی لاندی دی ځکه چی دوی که څه هم عذاب راتلونکی ولیدی اوتوبه یی وکښله مګر په عذاب کی داخته

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدو او مرګ څخه مخکی یی وکړه په خلاف دفرعون اونورو خلګو څخه کوموچی په عذاب کی داخته کیدو څخه وروسته اودمرګ دغرغری په وخت کی توبه وکاړله اودایمان اقرار یی وکی څکه د دوی ایمان معتبر نه سو او توبه یی قبوله نه سوه .

دحضرت یونس ﷺ دقوم دواقعی یو مثال په خپله په قرآن کریم کی دبنی اسرائیلو هغه واقعه ده په کومه کی چی کوه طور ددوی پرسرونو زوړند سو دوی یی وبیرول اودتوبی حکم یی ورکی دوی توبه وکاړله نوهغه توبه یی قبوله سوه چی ذکر یی په سورة بقره کی راغلی دی .

وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ : مونږ ستاسی په سرونو کوه طور زوړندکی حکم مو درکی چی کوم احکام تاسی ته درکول سوی دی دغه مضبوط ونیسی .

وجه داوه چی دوی دعذاب واقع کیدو اوپه مرګ کی داخته کیدو څخه مخکی محض دعذاب بیره ولیده اوتوبه یی کاړلی وه دغه شان دحضرت یونس ﷺ قوم عذاب راتلونکی ولیدی په اخلاص اوزاری سره یی توبه وکاړله چی تفصیل یی مخ ته راځی نوددی توبی قبلیدل دذکرسوی قاعدی څخه خلاف نه دی (قرطبی)

دلته ددی زمانی دځینو خلګو څخه سخته غلطی سوي ده چی دحضرت یونس ﷺ طرف ته یی درسالت دفرائضوپه ادا کولوکی دکوتاهی نسبت کړی دی اودقوم څخه دعذاب واپس کیدو سبب یی دپیغمبر کوتاهی ګڼلی ده اودا کوتاهی یی سبب دعتاب جوړکی چی ذکر یی په سورة انبیا اوسورة صٰفّٰت کی راغلی دی د دوی الفاظ دا دی . دقرآن په اشاراتو اودیونس ﷺ دصحیفی په تفصیلاتو دفکر کولو څخه دومره صفا معلومیږی چی دحضرت یونس ﷺ څخه درسالت په فرضو اداکولو کی څه کوتاهی سوی وی انعوذ بالله من هذا القول! اوغالباً دوی بی صبری وکړه دوخت څخه مخکی یی خپل ځای پریښی وو په دی وجه چی کله دعذاب نخښی یی ولیدی نواشوریانو توبه اواستغفار وکی نوالله ﷻ دوی معاف کړل په قرآن کریم کی چی دخدایی دستور کوم اصول اوکلیات بیان سوی دی په دی کی یوه مستقله دفعه دا هم ده چی الله ﷻ یو قوم ته ترهغه وخته پوری عذاب نه ورکوی ترڅو چی پر دوی خپل حجّت پوره نه کړی نو کله چی نبی په ادا کولو درسالت کی کوتاهی وکړه اوالله ﷻ دمقرر کړی وخت څخه مخکی دخپل ځای څخه ولاړی نوالله ﷻ انصاف دی قوم ته عذاب ورکول خوښ نه کړل (۱) (تفهیم القرآن دمولانا مودودی ص ۳۱۳ ج ۲ طبع سنه ۱۹۶۴)

---

(۱) دتفهیم القرآن په وروسته چاپونوکی ددی عبارت څخه درجوع داعلان څخه بغیردلته په عبارت کی معمولی تبدیلی سوي ده یعنی (درسالت دفرضو په ادائیګی کی کوتاهی) الفاظ په نوی عبارت کی موجود نه دی لیکن داخبره اوس هم په عبارت کی باقی ده چی (کله چی نبی ددی قوم دمهلت تر اخری لمحی پوری له جاری ونه ساتله اوالله ﷻ دمقرره وخت څخه مخکی یی دخپله ځایه هجرت وکی نوالله ﷻ انصاف ددوی قوم ته عذاب ورکول ونه غوښتل څکه چی په دی باندی داتمام حجت قانونی شرطونه نه وه پوره سوی) په دی وجه دتفهیم القرآن په عبارت کی دبدلوسره سره دمعارف القرآن تبصره پرخپل حال برقراره ده .

دلته دټولوڅخه اول دکتلو خبره داده چی دانبیاء علیهم السلام دګناهونو څخه معصوم والی یوه منل سوی عقیده ده چی په دی دټول امت اجماع ده ددی په تفصیلاتوکی څه جزوی اختلافات هم دی چی دا

Maktaba Tul Ishaat.com

پاکوالی دهرقسم صغیره اوکبیره گناهونو څخه دی اوکه صرف دکبیره وو څخه دی اوداچی داپاکوالی مخکی دنبوت دزمانی لره هم شامل دی اوکه نه دی؟ لیکن په دی کی خو دهیڅ فرقی اوهیڅ سړی اختلاف نسته چی انبیاء علیهم السلام ټول په جمع درسالت دفرضو په اداکولوکی هیڅکله کوتاهی نه سی کولی ځکه چی دانبیاوو علیهم السلام دپاره ددی څخه بله لویه گناه نه سی کیدی چی دکوم منصب دپاره الله ﷻ د دوی انتخاب فرمایلی دی په خپله په دی کی کوتاهی وکړی داخوپه منصبی فرضوکی بنکاره خیانت دی کوم چی دعامو شریفو انسانانو څخه هم لیری خبره ده ددی کوتاهی څخه هم که پیغمبر پاک نه سی نوبیا دنورو گناهونو څخه پاکوالی بی فائدی دی.

دقرآن اوسنت دمنل سوو اصولو اوداجماعي عقیدی دپاکوالی دانبیاوو علیهم السلام دظاهر څخه خلاف کوم چیری په قرآن اوحدیث کی هم څه خبره په نظر راتلی نودمنل سوو اصولو په وجه سره ضروری وه چی ددی تفسیر اومعنی داسی وجه تلاش کولی چی په دی سره هغه دقرآن اوحدیث دهغه اصولو سره چی ثبوت یی قطعی وی تکراو نه راتلی اونه ورڅخه مختلف کیدی.

مگر دلته خوعجیبه خبره داده چی مصنف موصوف چی کومه خبره دقرانی اشاراتو اود حضرت یونس علیه السلام دصحیفی دتفصیلاتوپه حواله سره پیش کړي ده دغه په صحیفه دیونس کی که وی نو وی به خوددی په اهل اسلام کی هیڅ اعتبار نسته اوقرانی اشاره خویوه هم نسته بلکی داسی سویده چی یوڅو مقدمی یی راجمع کړی دی په زور یی دا نتیجه ورڅخه راایستلی ده اول خویی دافرض کړي ده چی دحضرت یونس علیه السلام دقوم څخه دعذاب بیرته تلل دخدایی دستور خلاف واقع سو کوم چی ددی آیت دسیاق اوسباق څخه هم بالکل خلاف ده اودمحققینو امامانو دتفسیر دوضاحتونو څخه هم خلاف ده ددی سره یی دافرض کړه چی خدایی قانون په دی موقع ځکه مات سو چی په خپله دپیغمبر څخه درسالت په فرضو اداکولو کی کوتاهی سوی وی ددی سره یی داهم فرض کړه چی دپیغمبر دپاره دالله ﷻ دطرف څخه څه خاص وخت دوتلو مقرر سوی وو ده ددغه مقرر وخت څخه مخکی ددعوت فرض پریښووی او وتښتیدی که لږ هم دفکر اوانصاف څخه کار واخستل سی نوثابته به سی چی دقرآن اوحدیث یوه اشاره ددی فرضی مقدمو طرف ته ته پیدا کیږی.

په خپله چی دقرآن دایت پرسباق باندی فکر وسی نودایت الفاظ دا دی ، فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ : ددی صفا مطلب دا دی چی ددنیا دعاموکلو دخلگو متعلق په طور داظهار دافسوس دا ارشاد دی چی دوی داسی ولی نه سوه چی ترهغه وخته پوری یی ایمان راوړی وای ترکومه پوری چی ایمان مقبول اونافع وی یعنی په عذاب یامرګ کی داخته کیدو څخه مخکی مخکی یی که ایمان راوړی وای نوددوی ایمان به قبول سوی وای مگر دیونس علیه السلام قوم ددی څخه مستثنی دی چی دوی دعذاب نخښی ولیدی نوپه عذاب کی داخته کیدو څخه مخکی یی ایمان راوړی نو ددوی ایمان اوتوبه قبوله سوه.

دایت دا واضح مطلب په خپله ښیی چی دلته څه خدایی قانون نه دی مات سوی بلکه عین دخدایی دستور مطابق د دوی ایمان اوتوبه قبوله سوي ده.

اکثرو تفسیرلیکونکوبحرمحیط قرطبی زمخشری مظهری روح المعانی وغیره دایت دامطلب لیکلی دی

چی په دی کی دحضرت یونس ﷺ دقوم توبه قبلیدل دعام الهی قانون لاندی دی قرطبی الفاظ دا دی

وَقَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ غَشِيَهُمُ الْعَذَابُ كَمَا يَغْشَى الثَّوْبُ الْقَبْرَ فَلَمَّا صَحَّتْ تَوْبَتُهُمْ رَفَعَ اللهُ عَنْهُمُ الْعَذَابَ وَقَالَ الطَّبَرِيُّ خُصَّ قَوْمُ يُونُسَ ﷺ مِنْ بَيْنِ سَائِرِ الْأُمَمِ بِأَنْ تِيبَ عَلَيْهِمْ بَعْدَ مُعَايَنَةِ الْعَذَابِ وَذُكِرَ ذَلِكَ عَنْ جَمَاعَةٍ مِنَ الْمُفَسِّرِينَ وَقَالَ الزَّجَّاجُ إِنَّهُمْ لَمْ يَقَعْ بِهِمُ الْعَذَابُ وَإِنَّمَا رَأَوْا الْعَلَامَةَ الَّتِي تَدُلُّ عَلَى الْعَذَابِ وَلَوْ رَأَوْا عَيْنَ الْعَذَابِ لَمَا نَفَعَهُمْ إِيمَانُهُمْ قُلْتُ: قَوْلُ الزَّجَّاجِ حَسَنٌ فَإِنَّ الْمُعَايَنَةَ الَّتِي لَا تَنْفَعُ التَّوْبَةَ مَعَهَا هِيَ التَّلَبُّسُ بِالْعَذَابِ كَقِصَّةِ فِرْعَوْنَ وَلِهَذَا جَاءَ بِقِصَّةِ قَوْمِ يُونُسَ عَلَى أَثَرِ قِصَّةِ فِرْعَوْنَ وَيَعْضُدُ هَذَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: (إِنَّ اللهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ) وَالْغَرْغَرَةُ الْحَشْرَجَةُ وَذَلِكَ هُوَ حَالُ التَّلَبُّسِ بِالْمَوْتِ وَقَدْ رُوِيَ مَعْنَى مَا قُلْنَاهُ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ (إِلَى) وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ تَوْبَتَهُمْ قَبْلَ رُؤْيَةِ الْعَذَابِ (إِلَى) وَعَلَى هَذَا فَلَا إِشْكَالَ وَلَا تَعَارُضَ وَلَا خُصُوصَ .....

ژباړه: ابن جریر ﷺ وایی چی عذاب دوی داسی پټ کړی وه لکه چی پرقبر څادر وغوړوی ، بیا چونکی د دوی توبه صحیح سوه (چی دعذاب واقع کیدو څخه مخکی وه) نو د دوی څخه عذاب لوړ سو طبری فرمایی چی یونس قوم ته ددنیا دتولو قومونو څخه داخصوصیت ورکول سوی دی چی دعذاب لیدو څخه وروسته ددوی توبه قبوله سوه زجاج فرمایی چی پردی خلګو لاتراوسه عذاب نه وو راغلی بلکه علامی دعذاب یی لیدلی وی اوکه عذاب راغلی وای نو د دوی توبه به نه وای قبوله سوی قرطبی فرمایی چی دزجاج قول ښه اوغوره دی ځکه چی دکوم عذاب لیدو څخه وروسته توبه نه قبلیږی دغه هلته ده چی په عذاب کی اخته سی لکه په واقعه دفرعون کی چی پیښه سوه اوپه دی وجه په دی سورة کی دیونس دقوم واقعه دفرعون دقوم دواقعی څخه وروسته متصل ذکرسوي ده چی فرق واضح سی چی دفرعون ایمان په عذاب کی داخته کیدوڅخه وروسته وو په خلاف دقوم دیونس څخه چی دوی دعذاب واقع کیدو څخه مخکی ایمان راوړی ددی خبری تائید دنبی کریم ﷺ ددی ارشاد څخه هم کیږی چی: الله ﷻ دبنده توبه ترهغه وخته پوری قبلوی ترڅو چی دی دغرغری حالت نه ونه رسیږی اوغرغره دمرګ بی هوښی ته وایی اوداخبره دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ دروایت څخه معلومیږی په کومه کی چی یی ښوولی ده چی دیونس قوم دعذاب واقع کیدو څخه مخکی توبه کښلی وه قرطبی فرمایی چی په دی تقریر اوتفسیر باندی نه څه اشکال سته نه تعارض اونه دیونس دقوم څه تخصیص .

او طبری وغیره مفسرینو هم کومو چی داواقعه دحضرت یونس ﷺ دقوم خصوصیت ښوولی دی په دی کی هم چادانه دی ویلی چی ددی خصوصیت سبب دحضرت یونس ﷺ کوتاهی وی بلکه ددی قوم په ربښتنی زړه سره توبه کول اوپه علم الهی کی مخلص والی وغیره وجوهات یی لیکلی دی .

اوکله چی دامعلومه سوه چی دحضرت یونس ﷺ دقوم عذاب بیرته واپس کیدل دعام قانون دقدرت څخه خلاف نه وو بلکه عین مطابق وو نوددی خبری بنیاد دسره ختم سو .

دغه شان دیوی قرانی اشاری څخه هم داثابته نه ده چی دعذاب دوعدو اورولو څخه وروسته حضرت یونس ﷺ بغیر دخدای داذن څخه دخپل قوم څخه جلاسو بلکه دراتلونکی بیان څخه اودتفسیری روایتونو څخه داسی معلومیږی لکه چی دتیرو ټولو امتونو سره معامله کیدل راروان وو چی کله به ددوی پرامت دعذاب راتلو فیصله وسوه نوالله ﷻ به خپلو رسولانو او د دوی ملګروته ددغه ځای څخه دوتلوحکم ورکی لکه دحضرت لوط ﷺ واقعه په وضاحت سره په قرآن کریم کی ذکرده دغه شان دلته هم کله چی دالله ﷻ داحکم دحضرت یونس ﷺ په ذریعه دی خلګوته ورسول سو چی دری ورځی وروسته به

Maktaba Tul Ishaat.com

عذاب راځی نو دحضرت یونس ﷺ ددی ځای څخه وتل ښکاره دا ده چی په امر خداوندی سوی دی
البته دحضرت یونس ﷺ څخه چی کوم دپیغمبرانه شان په اعتبار سره یوه خطا وسوه او په دی باندی
دسورة انبیاء اوسورة صفّت په ایتونوکی دعتاب الفاظ راغلل او ددی په نتیجه کی دماهی په نس کی
دپاته کیدو واقعه پیښه سوه هغه دانه چی دوی درسالت په فرضو اداکولو کی کوتاهی کړی وه بلکه
واقعه دغه وه کومه چی لوړه دمستندو تفسیرونو په حواله سره لیکل سوي ده چی کله حضرت یونس ﷺ
خپل قوم ته دالله ﷻ دحکم مطابق دری ورځی وروسته دعذاب راتلو وعده ورکړه اوبیایی دالله ﷻ په اذن
خپل ځای پریښووی دباندی ولاړی اووروسته داثابته سوه چی عذاب رانغی نواوس دحضرت یونس ﷺ
سره دافکرسو چی که زه خپل قوم ته اوس بیرته ولاړسم نودرواغجن به مقرر سم او ددی قوم دادستور وو
چی دچا درواغجن والی به ثابت سو نوهغه به یی قتلوی نو اوس خپل قوم ته په بیرته تلوکی یی دځان
بیره وه داوخت بغیر ددی څخه بله لار نه وه چی اوس ددی وطن څخه هجرت وکړی لیکن دانبیاء علیهم السلام
سنت دا دی چی ترځو پوری دالله ﷻ دطرف څخه دهجرت اجازه رانه سی محض په خپله رایه سره هجرت
نه کوی نود حضرت یونس ﷺ خطا دا وه چی دالله ﷻ د اجازی راتلو څخه مخکی یی دهجرت قصد وکی
اوپه کښتی کی سپور سو کوم چی داپه خپل ذات کی خوځه گناه نه وه مگر دانبیاوو علیهم السلام دستنو څخه
مختلفه خبره وه که دقرآن دایتونو پرالفاظو فکر وسی نودحضرت یونس ﷺ خطا درسالت دفرضو په ادا
کولوکی څه کوتاهی نه وه بلکه دقوم دظلم او زیاتی څخه دځان بچ کولو دپاره بغیر دخدای داذن څخه
دهجرت کولو څخه ماسوا نور هیڅ نه ثابتیږی دسورة صفّت آیت ددی مضمون دپاره تقریبًا واضح دی
چی په دی کی فرمایی ، اِذْ اَبَقَ اِلَی الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ : په دی کی په قصد دهجرت سره په کښتی کی سپریدل
یی په لفظ د: اَبَقَ سره په طور دعتاب تعبیر فرمایلی دی چی ددی معنی ده دیو غلام دخپل مالك داجازی
څخه بغیر تبنتیدل او دسورة انبیاء په آیت کی دی ، وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ : چی په دی
کی یی دطبعی بیری پربنا باندی دقوم څخه ځان بچ کول اوهجرت کول په طور دعتاب سره په دی سخت
عنوان سره بیان کړی دی او داتول درسالت دفرضو دمکمل اداکولو څخه وروسته هغه وخت مخ ته راغلل
کله چی خپل قوم ته دبیرته تلو څخه ورسره دخپل ځان بیره سوه په تفسیر روح المعانی کی یی دا
مضمون په دی لاندی الفاظو سره لیکلی دی : اَیْ غَضْبَانَ عَلٰی قَوْمِهٖ لِشِدَّةِ شَكِيْمَتِهِمْ وَتَمَادِیْ اِصْرَارِهِمْ مَعَ طُوْلِ دَعْوَتِهٖ
اِيَّاهُمْ وَكَانَ دِهَانُهٗ هٰذَا هِجْرَةً عَنْهُمْ لٰكِنَّهٗ لَمْ يُؤْمَرْ بِهٖ : یعنی یونس ﷺ دخپل قوم څخه ناراضه سو ځکه روان سو
چی دقوم سخت مخالفت اوپرخپل کفر داصرار باوجود دډیره زمانه یی درسالت ددعوت رسولو مشاهده
کړی وه اوددا دا سفر دهجرت په طور وو مگر لا تراوسه ده ته دهجرت اجازه نه وه ورکول سوی
په دی کی یی واضحه کړیده چی درسالت په دعوت کی څه کوتاهی دعتاب سبب نه بلکه داجازی څخه
مخکی هجرت کول دعتاب سبب جوړ سو کوم چی فی نفسه څه گناه نه وه مگر دانبیاوو دستنو څخه
دخلاف کولو په وجه سره پرده عتاب راغلی دی ددی زمانی داذکرسوی صاحب چی څینو عالمانو په دی
غلطی باندی خبرکی نودسورة صفّت په تفسیر کی دوی دخپلی خبری دحمایت اوتائید دپاره دډیرو
تفسیر لیکونکو اقوال هم نقل کړی دی چی په دی کی دوهب بن منبه وغیره دځینو اسرائیلی روایتونو

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه ماسوا دیوه څخه هم دده داخبره صحیح نه ثابتیږی چی دحضرت یونس ﷺ څخه معاذ الله درسالت په فرضو ادا کولو کی کوتاهی سوی وی.

اوداخبره دعالمانو څخه پټه نه ده چی تفسیر لیکونکی حضرات په خپلو تفسیرونوکی اسرائیلی روایتونه هم نقل کوی دکومو په باره کی چی ددی ټولو پردی باندی اتفاق دی چی داروایتونه مستند اومعتبر نه دی دهیڅ شرعی حکم پردی باندی بنیاد نه سی اینبول کیدی اسرائیلی روایتونه برابره خبره ده که داسلامی تفسیرلیکونکوپه کتابونو کی وی یاپه صحیفه دیونس کی صرف ددی په وجه پرحضرت یونس ﷺ باندی داعظیم بهتان لګول کیږی چی ددوی څخه درسالت په فرضو ادا کولوکی کوتاهی سوی وی بل یو اسلامی تفسیر لیکونکی دانه دی قبول کړی (الله ﷻ په دی ښه پوه دی مونږ سوال ورڅخه کوو چی دخطاګانو اوښوییدلو څخه مونږ وساتی) آمین

(دحضرت یونس ﷺ مفصله واقعه)

دحضرت یونس ﷺ واقعه چی ددی څه حصه خو په خپله په قرآن کی ذکرده اوڅه دحدیثو دروایتونو اوتاریخ څخه ثابته ده هغه دا ده چی دحضرت یونس ﷺ قوم په عراق کی دموصل په مشهور مقام نینوا کلی کی وو د دوی شمیر په قرآنکریم کی دیولك څخه زیات ښوول سوی دی دوی دهدایت دپاره الله ﷻ حضرت یونس ﷺ ولیږی دوی دایمان راوړلوڅخه انکاروکی الله ﷻ حضرت یونس ﷺ ته حکم وکی چی دا خلګ خبر کړه چی په دوو درو ورځوکی پرتاسی دالله ﷻ عذاب راتلونکی دی حضرت یونس ﷺ په قوم کی ددی اعلان وکی دحضرت یونس ﷺ قوم مشوره وکړه نوټولوپه دی اتفاق وکی چی مونږ هیڅکله دی په دروغو ویلو نه دی لیدلی په دی وجه دده خبره دنظر انداز کولونه ده په مشوره کی دامقرره سوه چی ګورو به چی کومه شپه حضرت یونس ﷺ په مونږکی موجودوی نودغه ورځ به هیڅ نه وی اوکه دی کومه شپه نه وی ، یو خوا ته ولاړ سی نو پوه سی چی سهار به پرمونږ عذاب راځی حضرت یونس ﷺ دشپی ددی کلی څخه ووتی چی سهار سو نودالله ﷻ دعذاب یوتور دود دوریځی په شکل کی د دوی په سرونوسربیره را پورته سو او دآسمان څخه د دوی سرونوته رانژدی کیدی دوی پوه سول چی اوس به مونږ ټول هلاکیږو چی دایی ولیدل نودحضرت یونس ﷺ تلاش یی شروع کی چی دهغه په لاسو ایمان راوړی اودتیر انکار څخه توبه وکاږی مګر حضرت یونس ﷺ یی نه کی پیدا نوپه خپله په اخلاص سره په توبه او استغفارکی شروع سول دکلی څخه یومیدان ته راووتل بښځی بچیان اوځاروی ټول یی په دغه میدان کی جمع کړل دټاټونو کپړی یی واغوستلی په عاجزی اوزاری سره په دی میدان کی په توبو او دعذاب څخه په پناه غوښتلو کی داسی مشغول سول چی ټول میدان دچیغو اوژړاوو څخه ډك سو الله ﷻ د دوی توبه قبوله کړه اوعذاب یی ددوی څخه بیرته واپس کی لکه چی په دی آیت کی یی ذکرسوی دی په روایتونوکی دی چی دا دمحرم لسمه ورځ وه

بل خوا حضرت یونس ﷺ دکلی څخه دباندی په دی انتظار کی وو چی اوس به پردی قوم عذاب نازل سی ددوی دتوبی اواستغفار څخه نه وو خبرکله چی عذاب واپس سو نودده سره فکرسو چی اوس به ماته درواغجن ووایی څکه چی ما اعلان کړی وو چی په درو ورځوکی دننه دننه به عذاب راسی په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

قوم کی داقانون وو چی کوم سړی به درواغجن معلوم سو او ده به پرخپله خبره څه شاهدی پیش نه کړه نودی به یی قتلوی دحضرت یونس ﷺ سره فکر سو چی مابه درواغجن وګڼی قتل به می کړی.
انبیاء علیهم السلام دهری ګناه اونافرمانی څخه معصوم وی مګر دانسانی فطرت اوطبیعت څخه جلا نه وی دغه وخت په طبعی طور سره حضرت یونس ﷺ ته خفګان ورغی چی ما دالله ﷻ په حکم اعلان کړی وو او زه به اوس ددغه اعلان په وجه درواغجن مقرر سم که خپل ځای ته بیرته څم نوپرکوم مخ به څم او دقوم دقانون مطابق به قتل سم په دی غم او پریشانی کی یی دښار څخه دوتلو اراده وکړه اوروان سو تردی چی دبحر روم غاړی ته ورسیدی هلته یی یوه کښتی ولیده چی خلګ په کښی سپریده حضرت یونس ﷺ دغو خلګو وپیژندی اوبغیر دکرایی څخه یی سپور کی کښتی روانه سوه کله چی د دریاب مینځ ته ورسیدله نوناڅاپه ودریده نه مخکی تلی سوه اونه وروسته کښتی والاوو اواز وکی چی زمونږ په دی کښتی کی دالله دطرف څخه داقدرت دی چی کله په دی کی څوک ظالم ګناهګار یاتښتیدونکی غلام سپور سی نوداکښتی خود بخوده ودریږی ددی سړی ښکاره کیدل په کار دی چی دیو سړی په وجه پرټولو باندی مصیبت نه راځی.
حضرت یونس ﷺ وویل چی هغه تښتیدلی غلام ګناهګار زه یم څکه چی دخپل ښار څخه پټیدل په کښتی کی سپریدل دیوی طبعی بیری په وجه سره وو دالله ﷻ په اذن نه وو دابغیر داجازته راتلل دحضرت یونس ﷺ پیغمبرانه شان یوه ګناه مقرره کړه چی دپیغمبر هیڅ نقل اوحرکت بی داذن څخه نه وو په کار په دی وجه یی وفرمایل چی مادریاب ته واچوی نوتاسی ټول به دعذاب څخه خلاص سی دکښتی خلګ دی ته تیارنه سول بلکه دوی هسکه واچوله چی دچاپه نوم هسکه راوخیژی هغه به دریاب ته واچول سی اتفاقًا په هسکه کی دحضرت یونس ﷺ نوم راووتی داخلګ په دی خبره په تعجب کی سول نو څو واری یی هسکه وکړه اوپه قدرتی طور سره به دحضرت یونس ﷺ نوم راووتی په قرآن کریم کی ددی هسکی اوپه دی کی دحضرت یونس ﷺ دنوم راوتلو ذکر موجود دی، فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ دحضرت یونس ﷺ سره دحق تعالی دامعامله دده دمخصوص پیغمبرانه مقام په وجه سره وه چی که څه هم دالله ﷻ څه ګناه یادحکم خلاف ورزی دوی نه وه کړی چی ګناه اونا فرمانی ورته وویل سی اودیو پیغمبر څخه ددی امکان نسته څکه چی دوی معصوم وی لیکن دپیغمبر ددالوړ مقام سره مناسب نه وه چی محض په طبعی بیره سره دیوځای څخه بغیر داذن دخدای څخه ووزی په دی خلاف دشان کار باندی په طور دعتاب ورسره دا معامله وسوه.
دی طرف ته په هسکه کی دنوم راوتلو اودریاب ته دغورځولو معامله اواسباب تیاریدل بل طرف ته یوډیر لوی ماهی دخدای په حکم کښتی ته نژدی وازه خُله ولاړ وو چی دی به دریاب ته راځی اودغه ماهی به په خپله خیټه کی ځای ورکوی کوم ته چی الله ﷻ دمخکی څخه حکم ورکړی وو چی دحضرت یونس ﷺ جسم کم چی ستا په نس کی دننه ایښوول کیږی داستا خوراک نه دی بلکی مونږ ستا نس دده داوسیدو ځای جوړکړی دی حضرت یونس ﷺ چی دریاب ته ولاړی نوفورًا دغه ماهی په خُله کی واخستی حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی حضرت یونس ﷺ ددغه ماهی په نس کی څلویښت

Maktaba Tul Ishaat.com

ورځی وو ، ده به دی دمخکی بیخ ته بوتلی اوپه لیری لیری خایونو به یی ګرځوی ځینی حضراتو اووه ۷ ورځی اوځینو پنځه ۵ ورځی اوځینو دیوی ورځی څو ګنتی دماهی په نس کی دپاته کیدوموده ښوولی ده (مظهری) حقیقت دحال الله ﷻ ته معلوم دی په دی حالت کی به حضرت یونس ﷺ دادعاکوله : لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ : الله ﷻ دا دعا قبوله کړه او بالکل صحیح سالم یی حضرت یونس ﷺ ددریاب په غاړه وغورځوی .

د ماهی دنس دګرمی ځخه دده په بدن یو ورینښته هم نه وو پاته سوی ، الله ﷻ ده ته په هغه خوا کی دکدو یوه درخته راوټو کوله چی ددی دپاڼو سایه هم دحضرت یونس ﷺ دپاره یو راحت جوړ سو او یوی ځنګلی بزی ته الله ﷻ اشاره وفرمایله چی هغه به سهار مانښام دده خواته راتله او ده ته به ودریده ده به شیدی ورځخه چښلی .

دغه ډول حضرت یونس ﷺ ته په دی خطا باندی خبرداری هم وسو ، او وروسته دده قوم ته هم پوره حال معلوم سو په دی قصه کی چی څومره اجزاء په قرآن کی ذکردی یادحدیثو په مستندو روایتونو سره ثابت دی هغه خو یقینی دی باقی اجزاء دتاریخی روایتونو دی چی پردی دځه شرعی مسئلی بنیاد نه سی ایښوول کیدی

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ

اوکه ستا رب غوښتلی نوبیشکه ایمان به راوړی وای څومره خلګ چی په مخکه کی دی تولو په جمع ایاته

تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ

به زوروکی په خلګو چی سی دوی مومنان اودچاځخه داسی نه سی کیدی

تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۰﴾

چی ایمان راوړی مګر دالله ﷻ په حکم سره او هغه غورځوی ګندګی په هغو باندی کوم چی سوچ نه کوی .

لنډتفسیر: او (ددی قومونو اوکلو دخلګو څه تخصیص دی) که ستارب غوښتلی نود ټولی دنیاخلګوبه په جمع ایمان راوړی وای (مګردځینو حکمتونوپه وجه سره دانه غواړی په دی وجه ټول ایمان نه راوړی) نو (کله چی خبره داسی ده نو) ایاته په خلګو زور کولی سی ، چی په کښی هغوی هم ایمان راوړی حال دا دی چی دچا ایمان راوړل بغیر دخدای دحکم (یعنی مشیت) ځخه ممکن نه دی اوالله ﷻ په بی عقله خلګو (دکفر) ګندګی واقع کوی .

قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَ

ته ووایه ګورې چی څه په آسمانونوکی دی اوپه مخکه کی اوهیڅ په کارنه ورځی نخښی

النُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ

اوبیرول هغه قوم چی نه یی منی نو اوس هیڅ نسته چی دهغه انتظار وکی مګر دورځو دهغو خلګو په شان کوم چی

Maktaba Tul Ishaat.com

خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ فَانْتَظِرُوْۤا اِنِّیْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾ ثُمَّ

تیرسوی دی ددوی څخه مخکی ته ووایه چی اوس انتظار کوی زه هم ستاسی سره انتظار کوم بیامونږ

نُنَجِّیْ رُسُلَنَا وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَیْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۰۳﴾

محفوظ کوو خپل رسولان اوهغه چی ایمان راوړی دغه ډول زمونږ ذمه ده چی خلاص کړو ایمانداران

لنډتفسیر: ته ووایه چی تاسی فکر وکړی (اووګورئ) چی څه شیان دی په آسمانونو کی اوپه مځکه کی (په آسمانونو کی ستوری وغیره اوپه مځکه کی بی انتها مخلوق په نظر راځی یعنی په دی کی په فکر کولو سره به دتوحید عقلی دلیل حاصلیږی دابیان سو د دوی دمکلف کیدو) اوکوم خلګ (چی دعناد څخه) ایمان نه راوړی هغوی ته دلیلونه او بیرول هیڅ فائده نه رسوی (دابیان سو ددوی دعناد) پس (ددوی دعناد ددی حالت څخه داسی معلومیږی چی) دغه خلګ (ددوی دحال دلالت دادی چی) صرف دهغو خلګو د واقعاتو په شان انتظار کوی کوم چی د دوی څخه مخکی تیرسوی دی (یعنی سره ددلیلونو اوعذاب څخه دبیرولو چی کوم ایمان نه راوړی نو د دوی حالت دهغه سړی مشابه دی کوم چی ددی عذاب منتظروی چی پرمخکی قومونو راغلی وو پس) ته وفرمایه چی ښه ده نو تاسی (ددی) په انتظارکی اوسی زه هم ستاسی سره (ددی) په انتظارکوونکو کی یم (دکومو تیرو قومونوچی لوړ ذکرشو ددی مونږ خو پردوی عذاب واقع کوی) بیامونږ (ددی عذاب څخه) خپل پیغمبران اوایماندار محفوظ کړل (څه رنګه چی مونږ هغو مومنانوته نجات ورکړی وو) مونږهم دارنګه تولو ایمانداروته نجات ورکوو دا (دوعدی مطابق) زمونږ ذمه ده (نو دغه رنګه که په دی کفارو څه افت راسی نو مسلمانان به ددی څخه محفوظ وی برابره خبره که په دنیا کی وی اوکه په اخرت کی وی)

قُلْ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِیْ شَكٍّ مِّنْ دِیْنِیْ فَلَاۤ اَعْبُدُ الَّذِیْنَ

ووایه ای خلګو! که تاسی په شك کی یاست زما ددین څخه ، نو زه عبادت نه کوم دهاچی

تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِیْ یَتَوَفّٰىكُمْ ۖ

تاسی عبادت کوی دالله ﷻ څخه ماسوا اولیکن زه عبادت کوم دهغه الله چی وفات کوی تاسی ،

وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ

او ماته حکم دی چی سم په ایمانداروکی او داچی برابره کړه مخ خپل

لِلدِّیْنِ حَنِیْفًا ۚ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَلَا تَدْعُ مِنْ

په دین باندی یوطرف ، اومه کیږه د شرك کوونکو څخه ، او مه بله

دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ

الله ﷻ څخه ماسوا هغه چې نه درته نفع رسولی سی اونه ضرر بیا که ته داسی وکړی نوسی به دغه وخت

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَإِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ إِلَّا هُوَ ۚ وَإِنْ

ظالمانو څخه ، او که ورسوی تاته الله څه تکلیف نوهیڅوك نسته دهغه لیری کوونکی دهغه څخه ماسوا اوکه

يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ۚ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۷﴾

رسول وغواړی تاته دخیر نو څوك نسته دفضل ردکوونکی دهغه رسوی خپل فضل چاته چې وغواړی دخپلو بندګانو څخه اوهغه دی بخښنې والامهربانه .

لنډتفسیر: ته (دوی ته) ووایه چې ای خلګو! که تاسی زما ددین دطرف څخه په شك (او تردد) کې یاست نو (زه تاسی ته ددی حقیقت بنیم هغه داچې) زه دهغو معبودانوعبادت نه کوم دکوموچې تاسی دخدای څخه ماسوا عبادت کوی لیکن ها! دهغه معبود عبادت کوم چې ستاسی روح قبض کوی اوماته (دالله دطرف څخه) داحکم سوی دی چې زه (په داسی معبود باندی) دایمان راوړونکوڅخه یم او (ماته) دا (حکم سوی دی) چې خپل ځان ددی دین (خالص توحیدچې ذکریی وسو) طرف ته داسی متوجه کړه چې دنورو ټولو طریقوڅخه یوطرف ته سی اودمشرکانو څخه نه سی او (داحکم راته سوی دی چې) دخدای (دتوحید) څخه ماسوا ددا سی شی عبادت مه کوه کوم چې تاته نه (په حالت دعبادت کولوکی) څه نفع رسولی سی اونه (دعبادت دنه کولوپه حالت کی) څه ضرر رسولی سی بیاکه چیری (بالفرض) داسی دی وکړل (یعنی دغیر الله عبادت دی وکی) نوپه دی حالت کی به د (الله د) حق دضائع کوونکو څخه سی او (ماته داسی ویل سوی دی چې) که چیری تاته الله ﷻ څه تکلیف رسوی نوبغیر دالله ﷻ څخه بل څوك دهغه لیری کوونکی نسته اوکه هغه تاته څه راحت رسول وغواړی نودهغه دفضل څوك لیری کوونکی نسته (بلکې) هغه خپل فضل دخپلو بندګانو څخه چې پرچا وغواړی کوی اوهغه لوی مغفرت والا لوی رحمت والادی (او دفضل ټول افراد په مغفرت اورحمت کی داخل دی اوهغه په لوی مغفرت اورحمت سره موصوف دی پس خامخا دفضل خاوند هم دی)

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَإِنَّمَا يَهْتَدِيْ

ووایه ای خلګو! رسیدلی دی حق تاسی ته ستاسی درب څخه اوس چې څوك په لاره کیږی نو پس دی لار پیدا کی

لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَآ أَنَا عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۸﴾ وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى

دخپلی ګټی دپاره اوخوك چې ګمراه سو نو بې لاری کیدل یې خپل نقصان دی او زه په تاسی څه اختیار مند نه یم اوته چلیږه پرهغه چې کوم حکم رسیږی .

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾

تاته اوصبر کوه ترهغه چی فیصله وکړی الله اوهغه دی دټولو څخه ښه فیصله کوونکی.

لنډتفسیر: ته دا هم ووایه چی ای خلګو! تاسی ته حق (دین) ستاسی درب دطرف څخه (په دلیل سره) را رسیدلی دی نو (ددی حق دین درسیدو څخه وروسته) چی کوم سړی په سیده لاره راسی نوهغه به دخپل ځان (دنفعی) دپاره پرسیده لاره راسی اوکوم سړی چی (اوس هم) بی لاری پاته سی نوده بی لاری کیدل (یعنی ددی وبال به هم) په ده پریوزی اوزه پرتاسی (څه دذمه واری په طور مسلط سوی نه یم چی ګوندی ستاسی دبی لاری کیدو پوښتنه به زما څخه کیږی نوزماڅه نقصان دی) اوته دهغی تابعداری کوه کوم څه چی تاته په وحی سره رالیږل کیږی (په دی کی دټولو عملونو سره تبلیغ هم راغی اوددوی په کفر او ازارسولو) صبرکوه تردی چی الله ﷻ ددوی فیصله وکړی (برابره خبره ده که په دنیا کی په هلاکت سره وی اوکه په اخرت کی په عذاب سره مطلب دادی چی ته په خپل ذاتی او منصبی کارکی اخته اوسه د دوی فکرمه کوه) اوهغه ترټولو فیصله کوونکو ښه (فیصله کوونکی) دی.

﴿ سُوْرَةُ هُوْدٍ عليه السلام ﴾

سُوْرَةٌ هُوْدٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَثَلٰثٌ وَعِشْرُوْنَ آيَةً وَعَشَرُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة هود په مکه کی نازل سو اوپه دی کی یوسل اودرویشت (۱۲۳) آیتونه اولس (۱۰) رکوعګانی دی

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی اندازی مهربانه نهایت رحم والا دی.

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ﴿۱﴾

دا کتاب دی چی محکمی سوی دی ددی خبری بیایی تفصیل سوی دی دطرفه دیو حکمت والا خبردار څخه چی

اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنَّنِيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ ﴿۲﴾ وَّاَنِ

عبادت مه کوی مګر دالله زه تاسی ته دهغه دطرف څخه بیره اوخوشخبری اوروم اوداچی

اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا

بخښنه غواړی دخپل رب څخه بیا رجوع کوی هغه ته چی فائده ورسوی تاسی ته غوره فائده

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ۭ وَاِنْ

تر یوی نیټی مقرری پوری او ورکړی هر زیات عمل کوونکی ته زیات فضل دخپل طرف څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

تَوَلَّوْا فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ ﴿٣﴾ إِلَى اللَّهِ

اوکه تاسی بیرته جلا سی نو زه بیریږم پرتاسی دعذاب دورځی لویی ځخه دالله طرف ته

مَرْجِعُكُمْ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ يَثْنُونَ

ستاسی دتولو واپس کیدل دی ، اوهغه په هرڅه باندی قادر دی ، خبردار دوی غبرګوی خپلی

صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا۟ مِنْهُ ۚ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ ۙ

سینی چی پټ سی دهغه ځخه خبردار کوم وخت چی دوی اغوندی خپلی کپړی

يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٥﴾

پوهیږی په هغه چی دوی یی پټوی اوپه هغه چی دوی یی بنکاره کوی هغه پوهیدونکی دی دزړونو په خبره .

لنډتفسیر: (د) الر (معنی خوالله ﷻ ته معلومه ده) دا (قرآن) یوداسی کتاب دی چی دده ایتونه (په دلیلونو سره) محکم سوی دی بیا (ددی سره) صفا صفا (هم) بیان سوی دی (اودا کتاب داسی دی چی) دیوحکیم باخبر (یعنی الله ﷻ) دطرف ځخه (راغلی دی چی لوی مقصد یی) دا (دی) چی دالله ﷻ ځخه ماسوا دبل چاعبادت مه کوی زه تاسی ته دالله ﷻ دطرف ځخه (په ایمان نه راوړلو دعذاب ځخه) بیرونکی او (په ایمان راوړلو دثواب) خوشخبری درکوونکی یم او (ددی کتاب دمقصدونو ځخه) دا (هم ده) چی تاسی خلګ دخپلی ګناه (شرك اوکفر وغیره) دخپل رب ځخه معافی وغواړی (یعنی ایمان راوړی او) بیا (دایمان راوړلو ځخه وروسته) دهغه طرف ته (په عبادت سره) متوجه سی (یعنی نیك عمل وکړی پس دایمان اونیك عمل په برکت سره) هغه به تاسی ته دمقرر وخت (یعنی تر مرګه) پوری (په دنیاکی) ښه عیش درکړی او (په اخرت کی به) هم زیات عمل کوونکی ته به زیات ثواب ورکړی (داویل هم په شان دخوشخبری ورکوونکی دی) اوکه چیری (دایمان راوړلو ځخه) تاسی خلګ اِعراض کوی نوماته (په دی صورت کی) ستاسی دپاره دیوی لویی ورځی دعذاب بیره ده (داویل په شان دبیروونکی دی اوعذاب لیری مه ګڼئ ځکه چی) ستاسی (تولو) دالله خواته تلل دی اوهغه په هرشی باندی پوره قدرت لری (بیا دعذاب دلیری ګڼلو وجه نسته البته که هلته ستاسی حاضری نه وای یانعوذ بالله دهغه قدرت نه وای نوعذاب به نه واقع کیدی پس په داسی حالت کی دایمان اوتوحید ځخه اعراض کول نه دی په کار مخ ته دالله ﷻ دعلم ثابتول دی او داسی علم اوقدرت دواړه دلیلونه دتوحید دی) یادساتی دغه خلګ غبرګوی سینی خپلی (اوسربیره کپړی باندی اچوی) چی خپلی خبری دخدای ځخه پټی کړی (یعنی داسلام اومسلمانانو خلاف چی دوی کومی خبری کوی نوپه دی هیئت سره یی کوی چی ځوك ورځخه خبرنه سی اودچاچی عقیده وی چی خدای خامخا خبریږی اوستا صاحب وحی کیدل په دلیلونو سره ثابت دی پس

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی به دپتوالی داسی تدبیرونه کله نه کوی څکه چی داسی تدبیر کول ګویا په دلالت دحال سره دپتیدو کوشش کول دی پس) یادساتی چی دغه خلګ کوم وخت چی (سره دسینو غبرګولو) پرخان کپړی (سربیره) را اچوی هغه ته دغه وخت ټول هرڅه معلوم وی کومی چی پتی پتی خبری کوی اوکومی چی دوی ښکاره خبری کوی (څکه چی) په یقین سره هغه (خو) دزړونو دننه خبری پیژنی (نوپه ژبه ویل سوی به څنګه نه پیژنی)

معلومات اومسئلي: سورة هود دهغو سورتونوڅخه دی په کوموکی چی په تیرو قومونو دعذاب نازلیدو قهر الهی اومختلف قسم عذابونو اوبیا دقیامت دهیبتناکو واقعاتو او دجزا اوسزا ذکر په خاص انداز کی راغلی دی.

داوجه ده چی کله دنبی کریم ﷺ په ږیره مبارکه کی څه وریښته سپین سول نو حضرت صدیق اکبر ؓ په طور داظهار دغم عرض وکی چی یارسول الله! ته بوډا سوی نو دوی وفرمایل چی هو! زه سورة هود بوډا کړم اوپه څینو روایتونوکی دسورة هود سره دسورة واقعه مرسلات اوعم یتساءلون اوسورة تکویر هم ذکر دی (روایت یی کړی دی حاکم او ترمذی)

مطلب داوو چی ددی واقعاتودبیری اوهیبت په وجه سره دزوړوالی نخښی ښکاره سوی ددی اولنی آیت یی د، الرڅخه شروع کړی دی دادهغوحرفونوڅخه دی دکومومرادچی دالله ﷻ اودهغه درسول په مینځ کی رازدی نور خلګ یی په دی نه دی خبر کړی اودوی یی په دی کی دفکر کولو څخه هم منع کړي دی.

ددی څخه وروسته دقرآن مجید متعلق فرمایی چی دایوداسی کتاب دی چی ددی ایتونه محکم جوړ سوی دی لفظ دمحکم داحکام څخه جوړدی چی ددی معنی داده یوکلام داسی درست کول چی په هغه کی دڅه لفظی اومعنوی غلطی یا دفساد احتما ل پاته نه سی پردی بنا باندی دایتونو دمحکم جوړولو مطلب به داوی چی الله ﷻ ددی آیتونه داسی جوړ کړی دی چی په دی کی دڅه لفظی غلطی یامعنوی فساد اوخلل یا دباطلوالی څه امکان اواحتمال نسته (قرطبی)

اوحضرت عبدالله ابن عباس ؓ فرمایی چی ، محکم ، دلته د، منسوخ په مقابله کی دی اومراد دا دی چی ددی کتاب یعنی قرآن ایتونه الله ﷻ په مجموعی حیثیت سره محکم غیر منسوخ جوړکړی دی یعنی لکه څنګه چی تیر کتابونه تورات انجیل وغیره دقرآن دنزول څخه وروسته منسوخ سول ددی کتاب دنازلیدو څخه وروسته چونکی دنبوت او وحی سلسله ختمه سوه په دی وجه داکتاب به ترقیامته پوری نه منسوخ کیږی (قرطبی) اودقرآن دځینی ایتونو په خپله دقرآن په ذریعه منسوخ کیدل ددی منافی نه دی په دی آیت کی یی دقرآن دوهم شان دانبوولی دی: ثُمَّ فُصِّلَتْ یعنی بیا ددی ایتونو تفصیل وسو دتفصیل اصل معنی داده چی ددوو شیانوپه مینځ کی فرق اوجلاوالی وسی په دی وجه په عامو کتابونوکی مختلف مضامین دفصل په عنوان سره بیانیږی دلته دایتونو دتفصیل څخه دامرادهم کیدی سی چی عقیدی عبادتونه معاملی معاشرت اواخلاق اونور مضامین ایتونو جلا جلا واضح بیان کړی دی.

او دامعنی هم کیدی سی چی قرآن مجید خودالله ﷻ دطرف څخه په یووخت پوره په لوح محفوظ کی لیکل سوی وو مګر بیا دمختلفو قومونو اوملکونو دحالاتو اوضرورتونو ترمخه په ډیرو قسطونوکی لږ

Maktaba Tul Ishaat.com

لږ نازل سو ددی دپاره چی یادول یی هم اسانه وی اوپه لږ لږ باندی عمل کول هم اسان وی.
ددی څخه وروسته فرمایی: مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ: یعنی داټول ایتونه دیوی داسی هستی دطرف څخه راغلی دی کوم چی حکیم هم دی اوباخبره هم یعنی دکوم په هر یوکارکی چی دومره حکمتونه دی چی انسان یی احاطه نه سی کولی اوهغه دکائناتو دعالم دذری ذری موجوده اوراتلونکو څخه پوره په پوره خبردی ددوی دټولو اینده اوموجوده حالات پیژنی پردی ټولونظرکوی اواحکام نازل فرمایی دانسانانوپه شان نه دی چی که هرڅومره عقلمند هوښیار تجربه کار وی مګر دده عقل اوپوهه په یوه محدوده دائره کی دننه وی او دده تجربه صرف دخپلی خوا اوشا ترشیانو پوری وی کومه چی دیر واره په راتلونکی زمانه اوراتلونکی حالاتو کی ناکامه اوغلطه ثابتیږی.
په دوهم آیت کی د ذکرسووآیتونوبیان دټولو څخه دیو مهم اومخکی شی څخه شروع کوی یعنی دالله ﷻ دتوحید څخه ارشادفرمایی اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ یعنی په دی ایتونو کی چی کوم مضمونونه بیان سوی دی په دی کی دټولو څخه مهم او مخکی دا دی چی دیو الله څخه ماسوا دچاعبادت اوپرستش ونه سی.
ددی څخه وروسته ارشاد فرمایی، اِنَّنِيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ: یعنی په دی ایتونوکی یی نبی کریم ﷺ ته دا حکم ورکړی دی چی دی دټولی دنیا خلګوته ووایی چی زه دالله دطرف څخه تاسی ته بیره اوخوشخبری درکوونکی یم مراد دادی چی نافرمانی اودخپلو ناجائزو خواهشونو پوره کوونکی دالله ﷻ دعذاب څخه وبیروم اونیکو اوفرمانبردارو خلګو ته داخرت دنعمتونو او ددواړو جهانو دراحتونو خوشخبری ورکوم.
د: نَذِيْرٌ ترجمه دبیرونکی کول کیږی لیکن دالفظ د: بیروونکی دښمن یادرنده یابل نقصان رسونکو دپاره نه سی ویل کیدی بلکه: نَذِيْرٌهغه سړی ته ویل کیږی کوم چی دشفقت او محبت په بنا باندی ددی شیانوڅخه بیرول اوخلاصول کوی کوم چی دده دپاره په دنیا یا اخرت یادواړو کی ضرر رسوونکی وی.
په دریم آیت کی دقرآن دایتونو دهدایتونو څخه دیودوهم هدایت بیان داسی فرمایی، وَاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ: یعنی په دی محکمو ایتونوکی الله ﷻ خپلو بندګانو ته داهم هدایت فرمایلی دی چی دی دی دخپل رب څخه مغفرت اومعافی وغواړی اوتوبه دی کاږی دمغفرت تعلق دتیرو ګناهونو سره دی او دتوبی تعلق په اینده کی ورته دنږدی نه ورتلو دوعدی سره دی اوپه حقیقت کی صحیح توبه داده چی پرتیرو ګناهونو پښیمانه سی دالله ﷻ څخه دهغه معافی وغواړی اواینده ددی دنه کولو پوخ قصد او اراده وکړی په دی وجه ځینی بزرګانو فرمایلی دی چی اینده دګناه څخه دبچ کیدو دپوخ قصد او اهتمام څخه بغیر محض په ژبه سره استغفار کول د: كَذَّابِيْن یعنی درواغجنو خلګو توبه ده (قرطبی) او ددی استغفار متعلق هم ځینی حضراتو فرمایلی دی چی.

معصیّت را خنده می آید زاستغفارِ ما
یاداچی داسی توبه په خپله دتوبی قابله نه ده

ددی څخه وروسته په صحیح طور سره توبه اواستغفار کوونکو ته یی ددنیا اوداخرت دفلاح اوعیش اوراحت خوشخبری داسی ورکړیده: يُّمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى یعنی کومو خلګوچی په صحیح طور دخپلو تیرو ګناهونو څخه استغفار وکی اواینده یی ددی څخه دخلاصیدو پوخ قصد اوپوره اهتمام وکی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو صرف دا نه چی د دوی خطاګانی به وبخښل سی بلکه دوی ته به ښه ژوند ورکول سی اونښکاره دا ده چی داژوند عام دی ددنیا ژوند اوداخرت دائمی ژوند دواړو لره شامل دی لکه چی په یوبل آیت کی دداسی خلګو په باره کی ارشاد دی ، لَنُحْيِيَنَّهُ حَيٰوةً طَيِّبَةً یعنی مونږ به خامخا دوی ته پاکیزه ژوند ورکړو ددی آیت متعلق هم دجمهورو مفسرینو تحقیق دادی چی ددنیا اواخرت دواړه ژونده په دی کی شامل دی په سورة نوح کی ددی وضاحت هم داسی راغلی دی چی داستغفار کوونکو متعلق داسی فرمایی: يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا ۝ وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا : یعنی که تاسی په صحیح طور سره دالله ﷻ څخه مغفرت وغوښتی نو الله ﷻ به په تاسی درحمت باران نازل کړی اوتاسی به په مال او اولاد سره بامراده کړی اوتاسی ته به باغونه اونهرونه درکړی ښکاره ده چی درحمت دباران او اولاد تعلق ددی دنیا دژوند سره دی.

په دی وجه په ذکرسوی آیت کی دمتاع حسن تفسیر هم اکثرو مفسرینو داسی کړی دی چی داستغفار اوتوبی په نتیجه کی به الله ﷻ تاسی ته درزق فراخی اودعیش اسانی درکړی او دافتونو اوعذابونو څخه به ستاسی حفاظت وکړی اوچونکی ددنیا دژوند یوه ورځ ختمیدل لازمی دی اوددی عیش اوراحت دقدرت دقانون ترمخه دائمی نه سی کیدی په دی وجه اِلٰی اَجَلٍ مُّسَمًّی یی وفرمایل اونبوونه یی وکړه چی ددنیا پاك ژوند اوعیش اوددی سهولتونه تریو خاص میعاد یعنی ترمرګه پوری به حاصل وی اخر کار مرګ به ددی ټولو شیانو خاتمه وکړی.

مګر ددی مرګ څخه وروسته به د دوهم عالم ژوند شروع سی اوپه دی کی به هم دتوبه او استغفار کوونکو دپاره دائمی راحتونه وی.

اوحضرت سهل بن عبدالله فرمایی چی د: مَتَاعٍ حَسَنَ څخه مراد دادی چی دانسان توجه دمخلوق څخه وګرځی دخالق طرف ته سی اوځینی بزرګان فرمایی چی: مَتَاعٍ حَسَنْ دادی چی انسان په موجوده باندی قناعت وکړی او دورك په غم کی نه لویږی یعنی دنیا چی څومره حاصله وی په دی مطمئن سی اوکومه چی حاصله نه وی دهغه غم نه کوی.

دوهمه خوشخبری توبه اواستغفار کوونکو ته داسی ورکول سوي ده چی ، وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ : په دی کی د اول فضل څخه مراد دانسان نیك عمل دی اوددوهم فضل څخه فضل دخدای یعنی جنت دی مطلب دا دی چی هرنیك عمل کوونکی ته به الله ﷻ خپل فضل یعنی جنت ورکړی.

په اوله جمله کی یی په دنیا اوپه اخرت کی دواړو کی د، مَتَاعٍ حَسَنْ یعنی ښه ژوند وعده فرمایلی ده اوپه دوهمه جمله کی یی دجنت دلازواله نعمتونو دایت په اخرکی ارشاد فرمایی ، وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ: یعنی که ددی نصیحت اوخیرخواهی څخه مو مخ واړوی اودتیروګناهونو څخه استغفار او ائنده ژوندی څخه دخان ساتلو اهتمام ونه کی نودا قوی بیره ده چی تاسی به دیوی لویی ورځی په عذاب کی ګرفتارسی دلویی ورځی څخه مراددقیامت ورځ ده ځکه چی دغه دخپلی فراخی په اعتبارسره هم د زړوکالوورځ وی اوپه دی کی دواقع کیدونکو واقعاتو په اعتبارسره به هم دغه ډټولو څخه لویه ورځ وی.

په پنځم آیت کی ددی مضمون زیات تاکید فرمایل سوی دی چی په دنیا کی تاسی چی هرڅه کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

او هر څوک چې د ده نه وروسته ژوندی پاتې کیږي نو هغه به د هغه ټولو ګناهونو بدلې ورکوي چې هغه یې کړي وي او د هغه ټولو ګناهونو بدلې ورکوي چې د هغه نه وروسته خلک یې کوي او هغه به د دوی د ګناهونو له امله هیڅ شی کم نه کړي.

۱۰۱ هغه څوک چې د دنیا ژوند او د هغې ښکلا غواړي نو مونږ به هغوی ته د دوی ټول عمل په دنیا کې ورکړو او په دنیا کې به د دوی څه حق تلفي نه کیږي.

۱۰۲ دا هغه خلک دي چې د دوی لپاره په آخرت کې د اور نه پرته بل هیڅ شی نشته او هغه څه چې دوی یې په دنیا کې کړي وي هغه ټول ضایع شوي او هغه څه چې دوی یې کول هغه ټول باطل دي.

۱۰۳ نو ایا هغه څوک چې د خپل رب له طرف څخه یې یو ښکاره دلیل وي او د هغه سره یې یو شاهد هم وي چې له هغه څخه یې وي او د هغه نه مخکې د موسی کتاب هم وي چې پیشوا او رحمت وي (نو ایا هغه د دنیا د ژوند غوښتونکو سره برابر کیدی شي) دا خلک په دې قرآن ایمان راوړي او د کافرانو له ډلو څخه هر څوک چې د دې قرآن منکر وي نو د هغه ځای به اور وي نو ته د دې قرآن په راتلو کې هیڅ شک مه کوه بیشکه دا قرآن ستا د رب له طرف څخه حق دی خو ډیر خلک ایمان نه راوړي.

۱۰۴ او هغه څوک چې د الله پر ذمه دروغ تړي یا د الله آیتونه دروغ ګڼي نو له هغه څخه څوک ظالم دی بیشکه ظالمان به هیڅکله بریالي نه شي.

۱۰۵ او دا خلک د الله نه پرته هغه څوک عبادت کوي چې نه دوی ته ګټه رسولی شي او نه تاوان ورکولی شي او دوی وایي چې دا خلک زمونږ سپارښتونکي دي د الله په نزد نو ته ورته ووایه چې ایا تاسو الله ته د هغه څه خبر ورکوئ چې هغه نه په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې پوهیږي هغه پاک دی او د هغه څخه لوړ دی هغه څه چې دوی یې شریکان ګرځوي.

۱۰۶ او خلک یو امت وو نو الله پیغمبران راولیږل چې زیږدونکي او ویرونکي وو او د دوی سره یې کتابونه هم ولیږل چې حق وو تر څو چې د هغه څه په منځ کې چې خلک یې سره اختلاف کاوه هغه فیصله وکړي او د کتاب په باره کې اختلاف هغه خلکو وکړ چې دوی ته کتاب ورکړل شوی وو وروسته له هغه چې دوی ته ښکاره دلیلونه راغلل د یوازې د دوی په منځ کې د بغاوت له امله نو الله د خپل حکم په ذریعه هغه خلک چې ایمان یې راوړی وو د هغه حق ته لار وښوده چې په کې خلک اختلاف کاوه او الله چې څوک غواړي سمې لارې ته یې لار ښیي.

۱۰۷ ایا تاسو ګومان کوئ چې تاسو به جنت ته ځئ حال دا چې تاسو ته لا د هغه خلکو حالت نه دی راغلی چې د تاسو نه مخکې تیر شوي دي هغوی ته سختي او تکلیف ورسید او هغوی داسې وهڅول شول چې پیغمبر او هغه خلک چې د هغه سره ایمان راوړی وو ویل چې د الله مدد کله به راځي خبردار شئ بیشکه د الله مدد نږدې دی.

۱۰۸ تاسو له ته پوښتنه کوي چې څه شی خیرات کړو نو ته ورته ووایه چې هر هغه مال چې تاسو خیرات کوئ نو هغه د مور پلار او خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او مسافرانو لپاره دی او هر هغه نیکي چې تاسو کوئ بیشکه الله په هغې پوهیږي.

۱۰۹ تاسو ته جنګ فرض کړل شوی دی حال دا چې دا ستاسو لپاره خوښ نه دی او ممکن دا چې تاسو یو شی خوښ نه کړئ حال دا چې هغه ستاسو لپاره ښه وي او ممکن دا چې تاسو یو شی خوښ کړئ حال دا چې هغه ستاسو لپاره بد وي او الله پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ.

یوولسمه پاره ختمه شوه

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدي لغوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۲۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې ..... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۱۲)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي رود حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ خای ..... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
الٓرٰ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ الخ ، ۲ تر ۸	۴
ټول مخلوق ته درزق رسولو دقدرت عجیبه اونا اشنا نظام	۷
وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ ، الخ ۹ تر ۱۴	۹
مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ، الخ ۱۵ تر ۱۷	۱۵
وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ، الخ ۱۸ تر ۲۴	۱۹
وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ ، الخ ۲۵ تر ۳۵	۲۱
وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ لَنْ يُؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ ، الخ ۳۶ تر ۴۰	۲۹
نوح ﷺ ته دکښتی جوړولو تعلیم	۳۱
دټولو ضروری صنعتونو ابتداء دوحی په ذریعه سوي ده	۳۲
وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِاسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا ، الخ ۴۱ تر ۴۴	۳۴
په کښتیو او نورو سپرلیو دسپریدو اداب	۳۵
دهری سپرلی تلل او دریدل صرف دالله په قدرت سره دی	۳۵
وَنَادَى نُوحٌ رَبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي ، الخ ۴۵ تر ۴۹	۳۸
دکافر اوظالم دپاره دعا جائزه نه ده	۴۰
په مومن اوکافر کی دوروولی تعلق نه سی کیدی دوطن یانسب پربنیاد دقومیت جوړولد اسلام داصولو څخه بغاوت دی	۴۱
وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ ، الخ ۵۰ تر ۲۸	۴۳
په وعظ نصیحت او دعوت ددین باندی اجرت اخستل	۵۰
وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى ، الخ ۲۹ تر ۷۳	۵۳
دمیلمه کولو او میلمستیا یوځو اصول	۵۷
فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ ، الخ ۷۴ تر ۸۲	۵۸
وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ، الخ ۸۴ تر ۹۵	۶۴
وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا ، الخ ۹۶ تر ۱۱۱	۷۲
فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ ، الخ ۱۱۲ تر ۱۱۳	۷۵
داستقامت مطلب او اهمی فائدی اومسئلی	۷۶
وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا ، الخ ۱۱۴ تر ۱۲۳	۷۹
په قرآنی اسلوب کی دنبی کریم ﷺ دشان دلوی والی طرف ته اشاره	۸۲
﴿ سُوْرَةُ يُوْسُفَ ﴾	۸۷
الٓرٰ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ ، الخ ۱ تر ۲	۸۷
دخوب حقیقت او درجه او ددی قسمونه	۹۰

Maktaba Tul Ishaat.com

په خوب کی د نبوت د جزء والی معنی او تشریح	۹۱
د قادیانی دجال دیوی غلطی تردید	۹۲
کله د کافر یا فاسق سړی خوب هم ربښتیا کیدی سی	۹۲
خوب هر سړی ته بیانول نه دی په کار	۹۳
لَقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيَاتٌ لِلسَّائِلِينَ ، الخ ۷ تر ۲۰	۹۵
وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ ، الخ ۲۱ تر ۲۳	۱۰۹
د ګناه څخه د خلاصیدو قوی ذریعه په خپله د الله ﷻ څخه پناه غوښتل دی	۱۱۲
وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا ، الخ ۲۴	۱۱۳
وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ ، الخ ۲۵ تر ۲۹	۱۱۷
وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ ، الخ ۳۰ تر ۳۵	۱۲۳
وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ ، الخ ۳۶ تر ۴۲	۱۲۷
وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَى ، الخ ۴۳ تر ۵۰	۱۳۴
قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُنَّ ، الخ ۵۱ تر ۵۲	۱۳۹

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

.....

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ

او نسته یو گرځیدونکی په مځکه باندی مګر په الله ﷻ دی دده رزق اوپیژنی

مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ؕ كُلٌّ فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝٦ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ

کوم ځای چی دی پاته کیږی اوکوم ځای چی دی سپارل کیږی هرڅه موجوددی په ښکاره کتاب کی اوهغه (ذات) دی چاچی جوړکی ،

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ

آسمان او مځکه په شپږو ورځوکی او وو دده تخت پراوبو باندی چی

لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَلَئِنْ قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْۢ

ازمائش وکړو ستاسی چی څوك په تاسی کی ښه عمل کوی ، او که ته ووایی چی تاسی به پورته سی

بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧

وروسته دمرګ څخه نوخامخا به ووایی کافران داهیڅ نه دی مګرجادودی ښکاره ،

وَلَئِنْ اَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِلٰٓى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ لَّيَقُوْلُنَّ مَا

اوکه مونږ وروسته کړو د دوی څخه عذاب تریوی مودی معلومی پوری نووبه ووایی څه

يَحْبِسُهٗ ؕ اَلَا يَوْمَ يَاْتِيْهِمْ لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِمْ

شی منع کی عذاب؟ خبردار په کومه ورځ چی راسی په دوی بیرته به نه سی د دوی څخه اوګیر به کړی

مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٨

دوی هغه شی په کوم پوری چی دوی مسخری کولی

لنډتفسیر: اوځوك (رزق خورونکی) جاندار پرمخ دمځکی تلونکی داسی نسته چی دده رزق دالله ﷻ په ذمه نه وی (اودرزق درسولو دپاره دعلم ضرورت وی پس) هغه دهر یوه عُمر داوسیدو ځای اودځو ورځو داوسیدو ځای پیژنی (اوهریو هلته رسوی اوکه څه هم چی ټول شیان په علم الهی کی دی مګرددی سره) ټول شیان په ښکاره کتاب (یعنی لوح محفوظ) کی (هم لیکلی اودرج سوی) دی (غرض دا دی چی هرقسم

Maktaba Tul Ishaat.com

واقعات محفوظ دی مخ ته دپیدائش سره ددی دځینو حکمتونو بیان دی چی په دی سره په قیامت کی ددوباره ژوندی کیدو هم تائید کیږی ځکه چی ابتدایی پیدائش دلیل دی پردی چی دی به دوباره هم پیداکیږی) اوهغه (الله) داسی دی چی ټول آسمانونه اومځکه یی په شپږو ورځو (مقدار) کی پیداکړه دغه وخت دده عرش پراوبو باندی وو (چی دادواړه شیان دمخکی ځخه پیداسوی وه اوداپیدا کول ځکه دی) چی ستاسی ازمائش وکړی چی (وګوری) په تاسی کی څه عمل کوونکی ګوم یودی (مطلب دا دی چی آسمانونه اومځکه یی پیداکړل ستاسی حاجتونه اونفعی یی په دی کی پیدا کړی چی تاسی داوویني اوپه توحید باندی دلیل په ونیسی اوددی ځخه نفع واخلی دمنعم شکر اوخدمت چی عبارت دی دنیک عمل ځخه پرځای راوړی پس ځینو داسی وکړل اوځینو ونه کړل) اوکه ته (خلګوته) وایی چی یقیناً تاسی خلګ به دمرګ ځخه وروسته (دقیامت په ورځ دوباره) ژوندی سی نو (په دوی کی) چی کوم خلګ کافران دی هغوی (دقرآن په نسبت) وایی چی داخوخالص صفا جادودی (جادو ځکه ورته وایی چی هغه خوباطل وی مګر اثرکوی دغه دول به یی قرآن نعوذ بالله باطل ګنی مګرددی دمضامینو اثرکول یی هم لیدل پردی مجموعه باندی یی داحکم وکی نعوذبالله منه مقصود ددی ځخه داخرت انکار وو مخ ته د دوی دمنشاء دانکار جواب ارشاد فرمایی) اوکه ترلږ ورځوپوری (مراد ورځخه ددنیا ژوند دی) مونږ د دوی ځخه عذاب (وعده سوی) پورته ساتو (چی په دی کی حکمتونه دی) نو (په طور دانکار اومسخرو) وایی چی (کله مونږ ستاپه نزد دعذاب مستحق یونو) داعذاب څه شی منع کوی (یعنی که عذاب یوشی وای نوتر اوسه به سوی وای کله چی ونه سو نومعلومه سوه چی هیڅ هم نسته الله ﷻ جواب ورکوی چی) یادساتی په کومه ورځ چی (په مقرره وخت) دغه (عذاب) په دوی راسی نودچاپه واپس کولوبه بیاواپس نه سی اوپه کوم (عذاب) پوری چی دوی مسخری کوی هغه به دوی راګیر کړی (مطلب دا دی چی سره ددی چی دوی یی مستحق دی خودا تاخیر ځکه دی چی دځینو حکمتونو په وجه دهغه وخت مقرر دی بیابه په دغه ورځ ټول کسر وایستل سی)

معلومات اومسئلي: په تیر آیت کی دحق ﷻ دعلم محیط ذکروو چی دده ﷻ ځخه دکائناتو یوه ذره اودزړونو پټ راز هم پناه نه دی په ذکرسوو ایتونو کی په اول آیت کی ددی په مناسبت سره پرانسان دیوعظیم الشان احسان ذکرسوی دی هغه داچی دده درزق کفالت پخپله الله ﷻ پرخپله ذمه اخستی دی اونه صرف دانسان بلکه په مځکه دتلونکی دهریوجاندار هغه چی کوم ځای وسی یاځی دده رزق ده ته رسیږی نودکفارو دا ارادی چی خپل یوکار دالله ﷻ ځخه پټ کړی دجهالت اودبی وقوفی ځخه ماسوا هیڅ نه دی بیا ددی په عموم کی دځنګل ټول درندګان مرغان اودمځکی چینجی منجی وغیره او د دریاب اومځکی ټول حیوانان دا خل دی ددی عموم دتاکید دپاره یی لفظ د: مِنْ زیات کی وَمَامِنْ دَآبَّةٍ یی فرمایلی دی دَآبَّه : هرهغه حیوان ته وایی کوم چی پرمځکه ځی مارغان حیوان هم په دی کی داخل دی ځکه چی د دوی زالی ځینی ځای په مځکه وی او ددریاب دحیوانانو هم تعلق دمځکی سره ځه پټ نه دی ددی ټولو جاندارو درزق ذمه واری الله ﷻ په خپله ذمه واخسته اوپه داسی الفاظو سره یی ددی بیان کړی دی لکه یو فرض شی چی دچا پرذمه وی ارشاد فرمایی عَلَی اللهِ رِزْقُهَا یعنی دالله ﷻ په ذمه دی د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی رزق دابنکاره خبره ده چی ددی ذمه واری په الله ﷻ باندی غورځولو والا یو بل طاقت نسته بغیر ددی څخه چی هغه په خپل فضل سره داوعده فرمایلی ده مګر وعده دیو رښتنی اوکریم ذات ده چی دخلاف ورزی هیڅ امکان نسته په کی دهم دغه یقین دښکاره.کولو دپاره دلته لفظ د: عَلَی راوړل سوی دی کوم چی دفرائضو دبیان دپاره استعمالیدی سی حال دا دی چی الله ﷻ نه دځه حکم پاییند دی نه دده په ذمه یو شی فرض یا واجب دی.

رِزْق: په لغت کی هغه شی ته ویل کیږی په کوم سره چی جاندار خپل خوراك حاصلوی او د کوم په ذریعه چی دده روح ته بقا اوپه جسم کی غټوالی اولوی والی راځی.

درزق دپاره داضروری نه ده چی دچارزق وی اوهغه ددغه رزق مالك هم وی ځکه چی ټولو حیوانانو ته رزق ورکول کیږی لیکن دوی ددغه مالکان نه وی اونه دمالکوالی صلاحیت په کښی وی دغه شان وارث بچی دخپل رزق مالکان نه وی مګر رزق دوی ته ورکول کیږی.

درزق ددی عام معنی په اعتبار سره علماء فرمایی چی رزق حلا ل هم کیدی سی او حرام هم ځکه چی کوم سړی دبل چا مال په ناجائز طور سره وخوری نودا مال خوددی سړی غذا یعنی خوراك خوجوړسی مګر په حرام طور سره که چیری ده دخپل حرص په وجه ناجائزی طریقی نه وای استعمال کړی نو کوم رزق چی دده دپاره مقرر وو هغه به په جائز طور ده ته ورکول سوی وای.

درزق پرخدایی ذمه واری باندی یوسوال اوجواب: دلته یوسوال داپیدا کیږی چی کله دهر جاندار درزق ذمه واری الله ﷻ په خپله ذمه اخستی ده نوبیا داسی واقعات ولی پیښیږی چی ډیر حیوانان انسانان دخوراك نه پیدا کیدوپه سبب دلوږی تندی څخه مری ددی علماء ډیر جوابونه لیکی.

یو جواب دا هم کیدی سی چی درزق ذمه واری ترهغه وخته پوری ده ترڅو چی دده مقرر اجل یعنی عمر پوره نه سی کله چی دا عمر پوره سی نو په هر حال دده مرګ وی او ددی دنیا څخه یی تلل وی چی ددی عام سبب مرضونه وی کله سوزیدل کله غرقیدل اوکله زخم وغیره یی هم سبب کیدی سی دغه شان یوسبب داهم کیدی سی چی دده رزق بندسی اوپه دی سره یی مرګ واقع سی.

امام قرطبی ددی آیت لاندی دابو موسیٰ اوابو مالك وغیره داشعرینو قبیلی دیوی واقعی ذکرکړی دی چی دی خلګو هجرت وکی اومدینی منوری ته ورسیدل نوځه دخوراك چنباك اسباب چی د دوی سره وو هغه ختم سو دوی خپل یوسړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی ددی غرض دپاره ولیږی چی د دوی دخوراك وغیره یو انتظام وکړی داسړی چی کله دنبی کریم ﷺ دروازی ته ورسیدی نو ددننه څخه اواز راغی چی نبی کریم ﷺ دا ایت ووایه: وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِی الْأَرْضِ إِلَّا عَلَی اللهِ رِزْقُهَا دی سړی چی دا ایت واوریدی نو خیال یی راغی چی کله الله ﷻ دټولو جانداړو رزق پخپله ذمه کړی دی نوبیا خومونږ اشعریان هم دالله ﷻ په نږد دنورو جانداړو څخه څه کم نه یو هغه به خامخا مونږ ته هم رزق راکړی داخیال یی وکی اودهغه ځای څخه جلاسو نبی کریم ﷺ ته یی خپل هیڅ حال ونه ښووی بیرته چی ولاړی نوخپلو ملګرو ته یی وویل چی خوشحالیږئ ستاسی دپاره دالله ﷻ مدد راروان دی دده اشعری ملګرو ددی څخه دامطلب واخستی چی ده نبی کریم ﷺ ته دخپل حاجت ذکرکړی دی اوهغوی دانتظام کولو وعده فرمایلی ده هغوی داوګڼله او

Maktaba Tul Ishaat.com

مطمئن سول دوی لاناست وه چی په دی کی دوو سړیو یولوی لوښی دغوښو اوډوډیو څخه ډك راوړی اواشعریانو ته یی ورکی دوی ښه په ماړه نس وخوړه بیاهم څه ورڅخه پاته سوه نودی خلکو دامناسبه وګڼله چی باقی خوراك نبی کریم ﷺ ته ولیږی چی دی یی په خپل ضرورت کی راولی خپلو دوو سړیو ته یی دغه خوراك ورکی اونبی کریم ﷺ ته یی ولیږی.

ددی څخه وروسته دغه ټول حضرات دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول اوعرض یی وکی چی یارسول الله! ستاسی رالیږل سوی خوراك ډیر زیات ډیر نفیس اوخوند ناك وو دوی وفرمایل چی ما خوهیڅ خوراك نه وو درلیږلی.

بیا دوی پوره واقعه ذکرکړه چی مونږ خپل فلانی سړی تاسی ته درلیږلی وو هغه داجواب راوړی وو چی مونږ داسی باندی پوه سو چی داخوراك تاسی رالیږلی دی چی دایی واوریدل نونبی کریم ﷺ وفرمایل چی دامانه دی بلکه هغه پاك ذات درلیږلی دی چاچی دهر جاندار رزق په خپله ذمه اخستی دی.

په ځینو روایتونو کی دی چی یو وخت حضرت موسی ﷺ داور په تلاش کی کوه طورته ورسیدی اوهلته یی داور په ځای دالله ﷻ تجلیات ولیدل او نبوت اورسالت ورکول سو او فرعون اودده قوم ته دهدایت دپاره مصرته دتلو حکم ورکول سو نو خیاجل یی راغی چی ماخپله بی بی په څنګل کی یوازی پریښی ده دهغه به څوك کفالت کوی ددی خیال داصلاح دپاره الله ﷻ حضرت موسی ﷺ ته حکم ولیږی چی ستا په مخکی چی کومه ډبره پرته ده داپه لکړه ووهه دوی چی هغه ډبره په لکړه ووهله نوهغه ماته سوه اوددننه څخه یی بله ډبره راووتله حکم ورته وسو چی داهم ووهه چی هغه یی ووهله نودا ماته سوه اوددننه څخه یی یوحیوان راووتی چی په خله کی یی شنه پانه وه.

دالله ﷻ دکامل قدرت یقین خو حضرت موسی ﷺ ته دمخکی څخه هم وو، مګردلیدو اثر خو څه بل ډول وی چی دایی ولیدل نوحضرت موسی ﷺ دهغه ځای څخه سیده مصرته روان سو بی بی محترمی ته ددی خبری دښوولو دپاره هم نه ولاړی چی ماته مصر ته دتلو حکم سوی دی هلته ولاړم.

(ټول مخلوق ته درزق رسولو دقدرت عجیبه اونا اشنا نظام)

په دی آیت کی الله ﷻ صرف په دی بسوالی نه دی کړی چی دهرجاندار رزق یی پرخپله ذمه اخستی دی بلکه دانسان دزیات اطمینان دپاره فرمایی: وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا په دی آیت کی د: مُسْتَقَر: اود: مُسْتَوْدَع: مختلف تفسیرونه نقل دی مګر دلغت په اعتبار سره هغه ډیر نژدی دی کوم چی کشاف اختیار کړی دی چی مستقر هغه ځای ته ویل کیږی کوم ځای چی یوسړی په مستقل طور باندی داوسیدو ځای یا وطن جوړکړی اومستودع هغه ځای ته کوم ځای چی په عارضی طور سره دځه ضرورت دپاره پاته سی.

مطلب داسو چی دالله ﷻ ذمه واری ددنیا دخلکو اوحکومتونو په ذمه واری نه دی قیاس کول په کار په دنیا کی که یوسړی یایوه اداره ستادرزق ذمه واری واخلی نودومره کار به په هرحال ته کوی چی که خپل مقرر ځای پریږدی بل ځای ته څی نودغه سړی یا اداری ته به اطلاع ورکوی چی زه به دفلانی تاریخ څخه ترفلانی تاریخ پوری په فلانی ښار یاکلی کی یم زما رزق دی ماته هلته را ورسول سی لیکن دالله ﷻ په ذمه واری کی په تادومره بوج هم نه راځی ځکه چی هغه ستا دهریوه نقل اوحرکت څخه خبردار دی ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

دمستقل اوسیدو ځای ورته هم معلوم دی اودعارضی اوسیدو ځای ورته هم معلوم دی بغیر دځه درخواست اوخبر ورکولو ځخه ستا راشن هلته منتقل کیږی.

دالله ﷻ دمحیط علم اوقدرت مطلقه په مخکی صرف دهغه اراده فرمایل دټولو کارونو دپوره کولو دپاره کافی وه په یو کتاب یارجستر کی یی لیکلو ته هیڅ ضرورت نه وو مگر مسکین انسان چی د کوم نظام سره عادت دی پردی نظام یی دقیاس کولو په وجه دهیریدو خیال راتلی سوای په دی وجه دده دزیات اطمینان دپاره یی وفرمایل: كُلٌّ فِيْ كِتَابٍ مُّبِيْنٍ یعنی داټول هرڅه په واضح کتاب کی لیکل سوی دی ددی واضح کتاب ځخه مراد لوح محفوظ دی چی دټولو کائناتو درزق عُمر عمل وغیره پوره تفصیلات په کی لیکل سوی دی چی دموقعی اوضرورت موافق متعلقه ملائکو ته حواله کیږی.

په صحیح مسلم کی په روایت دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دټول مخلوقات تقدیرونه دمخکی اوآسمان دپیدا کیدو ځخه هم پنځوس زره کاله مخکی لیکلی وه.

اوپه بخاری اومسلم کی دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ په یواوږد حدیث کی فرمایی چی دهغه خلاصه دا ده چی انسان دخپل پیدائش ځخه مخکی دمختلفو دورونو ځخه تیریږی کله چی دده اندامونه پوره سی نوالله ﷻ یوی ملائکی ته حکم کوی کومه چی دده متعلق ځلور شیان لیکی اول دده عمل چی دی به یو عمل کوی دوهم دده دعمر کلونه میاشتی تروڅو منتونو اوساګانو پوری لیکی دریم داچی دی به کوم ځای مری او کوم ځای دفن کیږی ځلورم دده رزق به ځومره وی اوپه کومو کومو طریقو سره به ده ته رسیږی (اوپه لوح محفوظ کی دآسمان اومخکی دپیدا کیدو ځخه مخکی هم لیکل ددی سره منافی نه دی)

په دوهم آیت کی دالله ﷻ دمحیط علم اوقاهره قدرت یوه بله ښکاره ذکرکوی چی هغه ټول آسمانونه او مخکی په شپږو ورځو کی پیدا کړل اوددی شیانو دپیدا کیدو ځخه مخکی عرش رحمٰن پراوبو باندی وو. ددی ځخه معلومه سوه چی دآسمانونو اومخکی دپیدا کیدو ځخه مخکی اوبه پیدا سوی دی اوپه شپږو ورځو کی دآسمان اومخکی دپیدا کولو تفصیل دسورة حٰمٓ سجده په ایت ۱۰ ۱۱ کی داسی راغلی دی چی په دوو ورځو کی مځکه جوړه سوه په دوو ورځو کی دمخکی غرونه دریابونه درختی اودجاندارو دخوارك اوبقاء اسباب جوړسوه اوپه دوو ورځو کی اووه آسمانونه جوړسوه.

په تفسیر مظهری کی دی چی دآسمان ځخه مراد هغه ټول پورتنی شیان دی کوم چی پورته طرف ته دی اودمخکی ځخه مراد هغه ټول لاندینی شیان دی کوم چی لاندی طرف ته دی او دورځی ځخه مراد هغه مقدار دوخت دی کوم چی دآسمان اومخکی دپیدا کیدو ځخه وروسته دلمر دختو اوپریوتو سره وی که ځه هم دآسمان اومخکی دپیدا کیدو په وخت کی نه لمروو اونه دده ختل اوپریوتل.

دالله ﷻ په کامل قدرت کی داهم وه چی داټول شیان په یوساعت کی پیدا کړی مگر هغه په خپل حکمت سره ددی عالم نظام تدریجی یعنی درجه په درجه جوړ کړی دی کوم چی دانسان دمزاج سره مناسب دی. دایت په اخر کی یی دآسمان اومخکی دپیدا کولو مقصد دانبوولی دی: لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا یعنی داټول شیان ددی دپاره پیدا سوه چی مونږ ستاسی امتحان واخلو چی څوك په تاسی کی ښه عمل کوونکی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه معلومه سوه چی دآسمان اومځکی پیدا کول په خپله یومقصد نه وو بلکه دایی دعمل کوونکی انسان دپاره جوړکړی دی چی دی ددی شیانو څخه دخپل ژوند دپاره فائده هم واخلی اوپه دی کی فکر وکړی اوخپل مالك اورب هم وپیژنی.

حاصل داسو چی دآسمان اومځکی دپیدائش څخه اصل مقصود انسان دی بلکه په انسانانوکی هم ایمانداران دی اوپه دوی کی هم هغه انسان کوم چی دټولو څخه ښه عمل کوونکی دی اودانبکاره ده چی په ټولو انسانانو کی دټولو څخه ښه عمل کوونکی زمونږ نبی کریم ﷺ دی په دی وجه داوینا صحیح سوه چی دټولو کائناتو دپیدا کولو اصل مقصد دنبی کریم ﷺ وجود مبارك دی (مظهری)

دلته دا خبره دفکر قابله ده چی الله ﷻ دلته ، اَحْسَنُ عَمَلاً فرمایلی دی یعنی کوم ښه عمل کوونکی دی دایی نه دی فرمایلی چی کوم زیات عمل کوونکی ذی ددی څخه معلومه سوه چی دنیکو عملونو لمونځ روژی تلاوت اوذکر عملی ډیروالی اوډیر مقدار څخه زیات دالله ﷻ نظر په ، حُسْنِ عمل باندی دی داحُسن عمل یی په یوحدیث کی په احسان سره تعبیر کړی دی چی ددی خلاصه داده چی عمل خالص دالله ﷻ درضا دپاره وی بل یو دنیوی غرض په دی کی نه وی او ددغه عمل طریقه هم هغه اختیار سی کومه چی دالله ﷺ په نزدښه وی کومه چی نبی کریم ﷺ په خپل عمل سره ښوولی ده اودامت دپاره یی دسنتو تابعداری لازمه کړي ده لنده داده چی لږ عمل کوم چی په اخلاص سره دسنتو مطابق وی هغه دهغه زیات عمل څخه ښه دی په کوم کی چی داشیان نه وی اوکم وی.

په اووم آیت کی دقیامت او اخرت څخه دمنکرو حال بیان سوی دی چی کومه خبره ددی خلګو په پوهه کی رانه سی جادو ورته ووایی اوشاته یی وغورځوی.

په اتم آیت کی دهغه خلقو دشبهی جواب دی کومو ته چی په پیغمبرانو دعذاب وعدی ورکولی اودوی به اعتبار نه باندی کوی اوویل به یی چی که ته رښتنی یی نودکوم عذاب وعده چی کوی هغه ولی نه راځی

وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ﴿۹﴾

اوکه چیری وچښو مونږ انسان ته دخپل طرف څخه رحمت بیایی واخلو دده څخه نودی نا امیده ناشکره سی ،

وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ اِنَّهٗ لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ﴿۱۰﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ

اوکه مونږ وچښو ده ته ارام وروسته دتکلیف څخه کوم چی ده ته رسیدلی وو نو وایی لیرې سوی زمونږ څخه بدی (یعنی بدی ورځی) دی خوشحالی کوونکی فخرکوونکی دی ، مګرکوم خلګ ،

صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾

چی صبرکوونکی دی اوکوی نیك عملونه د دوی دپاره بخښنه ده اوثواب لوی دی ،

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَضَآئِقٌ بِهٖ صَدْرُكَ اَنْ

نو شاید چی ته پریښوونکی یی دځینو دهغه څخه چی وحی یی کیږی تاته اوتنګیږی به په دی سره ستازړه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَقُولُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ ۚ إِنَّمَا أَنْتَ نَذِيرٌ

په دی خبره چی دوی وایی ولی نه نازلیږی په ده خزانه یاولی نه راځی دده سره ملائکه نوبیشکه ته بیرونکی یی

وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا

اوالله دی دهرشی ذمه وار یا داسی وایی چی جوړکړی دی تاقرآن ووایه تاسی هم راوړی

بِعَشْرِ سُوَرٍ مِثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ

یو لس سورتونه داسی جوړکړی او را وبولی څوک چی رابللی سی دالله څخه ماسوا

اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا

که تاسی رښتنی یاست ، بیا که پوره نه کړی ستاسی وینا نوپوه سی چی قرآن خو

أُنْزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿١٤﴾

نازل سوی دی دالله ﷻ په وحی سره او دا چی څوک حاکم نسته دهغه څخه ماسوا بیا اوس تاسی ایا حکم منی؟

لنډتفسیر: اوکه مونږ انسان ته دخپلی مهربانی خوند وخکوو دده څخه یی واخلو نودی ناامیده اوناشکره سی اوکه ده ته دځه تکلیف څخه وروسته کوم چی پرده واقع سوی وی دځه نعمت مزه وخکوو نو (داسی خوشحالیږی چی) وایی چی زما تول درد اوتکلیف رخصت سو (اوس به هیڅکله رانه سی پس) دی خوشحالی کوی فخر کوی مګر کوم خلګ چی مستقل مزاج دی اونیك کارونه کوی (مراد ددی څخه مومنان دی چی په دوی کی کوم اوزیات داخویونه وی پس) دوی داسی نه کیږی (بلکه دنعمت دلیږی کیدو په وخت کی صبر کوی اودنعمت په وخت کی شکر اوحکم پرځای راوړی پس) ددا سی خلګو دپاره لوی مغفرت اولوی اجردی (لنډه داده چی بغیر دمومنانو څخه اکثره خلګ داسی وی چی په لږه وخت کی زړه ور کیږی اوپه لږه وخت کی ناامیده کیږی په دی وجه داخلګ دعذاب دوروسته کیدو په سبب بی بیری اومنکره سول داخلګ چی کوم انکار اومسخری کوی) نو شاید چی ته (تنګ سی) ددی احکامو څخه کوم چی تاته دوحی په ذریعه لیږل کیږی دځینو (یعنی دتبلیغ) پریښوول غواړی (یعنی ایاداسی ممکنه ده چی ته تبلیغ پریږدی پس ښکاره ده چی داسی اراده خوستا څخه نه سی کیدی بیا دتنګیدو څه فائده ده) اوستا زړه په دی خبره باندی تنګیږی چی دوی وایی چی (که چیری دی نبی وی نو) پر ده یوه خزانه ولی نازله نه سوه یادده سره یوه ملائکه (چی زمونږ سره یی هم خبری اتری کولی) ولی رانغله (یعنی داسی معجزی ولی ورنه کول سی په داسی خبرو ته مه تنګیږه ځکه چی) ته خو (په اعتباردی کفاروسره) صرف بیرونکی یی (یعنی پیغمبر یی د کوم دپاره چی په اصل کی دهیڅ معجزی ضرورت نسته) اوپوره

Maktaba Tul Ishaat.com

اختیار لرونکی په هرشی باندی (خو) صرف الله دی (ته نه یې) کله چی خبره داسی ده نوددی معجزو نکاره کول ستا په اختیارکی نه دی بیا ددی فکر کول اوپه دی فکر سره تنګیدل ولی دی اوچونکی دپیغمبر دپاره دمطلق معجزی ضرورت دی اوستا لویه معجزه قرآن دی نوددہ دنه منلو یو وجه ده، آیا (دده په نسبت) داسی وایی چی (نعوذ بالله) تادا (دخپل طرف څخه) په خپله جوړکړی دی ته په جواب کی ووایه چی (که چیری دازما جوړ سوی وی) نو (نسه ده) تاسی هم ددی په شان لس سورتونه (کوم چی ستاسی) جوړسوی (وی) راوړی او (دخپل مدد دپاره) کوم کوم غیر الله چی رابللی سی راوبولی که تاسی رښتنی یاست بیا داکفار که ستاسی خلګو (یعنی دپیغمبر ﷺ اومومنانو دا) خبره (چی ددی مثل جوړکړی راوړی) نه سی نوتاسی (دوی ته ووایاست چی اوس خو) یقین وکړی چی داقرآن دالله په علم (او قدرت) سره نازل سوی دی (په دی کی نه دبل چا دعلم دخل سته اونه دقدرت) اودا (هم یقین وکړی) چی دالله څخه ماسوا بل معبود نسته (ځکه چی معبود دخدایی په صفتونو کی کامل وی بیاکه بل څوك هم وی نو دهغه قدرت به هم پوره وی اوپه دغه قدرت سره به هغه ستاسی دخلګومددکولی چی تاسی به دده مثل راوړی وای ځکه چی ددین دتحقیق موقع ددی مقتضی وه پس ددی دمثل جوړولو څخه د دوی په عاجزه کیدو سره رسالت او توحید دواړه ثابت سول کله چی دواړه ثابت سول) نو اوس هم مسلمانیږی (اوکه نه)

معلومات اومسئلي: په ذکرسوو ایتونوکی دنبی کریم ﷺ درسالت تصدیق اوپه دی کی دشبهو را ایستونکو جواب ذکردی اوددی په شروع یعنی په اولو درو ایتونوکی دانسان دیو طبعی قبیح عادت ذکر اومسلمانانو ته ددی څخه دخلاصیدو هدایت دی.

په اولنیو دوو ایتونوکی په فطری طورسره دانسان غیرمستقل مزاجی تلوارپسندی کیدل اوپه موجوده حالت خوښیدل ماضی اومستقبل دهیرولو بیان فرمایلی دی ارشاد دی چی که مونږ انسان ته یونعمت وځکوو اوبیایی دده څخه بیرته اخلو نودی بی همته نا امیده او ناشکره جوړیږی اوکه ده ته دځه تکلیف څخه وروسته کوم چی ده ته رسیدلی وی دیو نعمت خوند وځکوو نووایی چی زما ټول درد اوتکلیف رخصت سو اودی خوشحالی کوونکی اوفخر کوونکی سی.

مطلب دا دی چی انسان فطرتًا تلوار کوونکی اودموجوده حالت هرځه ګنونکی عادت دی په مخکی اووروسته حالاتو اوواقعاتو دغور اوفکرکولو اوددی دیادساتلو مینه لرونکی نه دی په دی وجه چی دنعمت څخه وروسته تکلیف راسی نودرحمت څخه ناامیده اونا شکری کوونکی سی داخیال نه کوی چی کوم حق ذات اول نعمت راکړی وو هغه یی بیاهم راکولی سی دغه شان که ده ته دتکلیف اومصیبت څخه وروسته یوراحت اونعمت ورکول سی نوپرځای ددی چی پرتیرو حالاتو فکر وکړی دالله ﷻ طرف ته رجوع وکړی اوشکر یی ادا کړی نودی نور زیات خوشحالی کوونکی اوفخر کوونکی سی اوتیر حالات هیر کړی داسی ګڼی چی دانعمت خوزما حق دی ماته یی راکول په کار دی اوزه به همیشه داسی یم غافله داخیال نه کوی چی لکه څنګه چی اولنی حالت باقی پاته نه سو داهم کیدی سی چی ددی نعمت اوراحت داحالت هم باقی پاته نه سی.

چنان نماند چنین نیز هم نخواهد ماند

Maktaba Tul Ishaat.com

دانسان په موجوده پرستی او دتیر اوراتلونکی وختونو دهیرولو دا حال دی چی دیو صاحب اقتدار پرخاوره اووینه باندی بل سړی دخپل اقتدار بنیاد برابروی اوهیڅکله هم لاندی نه ګوری چی دده څخه مخکی هم یوداقتدار خاوند داسی پردی ځای اوسیدلی دی چی دهغه دانجام څخه بی خبره داقتدار دنشی خوند اخلی.

ددی موجوده پرستی اودحال دمستی داصلاح دپاره دالله ﷻ کتابونه اورسولان راځی کوم چی انسان ته تیر عبرتناك واقعات ورياد وی او دراتلونکی وخت فکر وروړاندی کوی او دا سبق ورازده کوی چی دکائناتو په بدلیدونکو حالاتوکی فکر وکړه ، چی د دوی پرشاکړم یو طاقت کار کوی په قول دحضرت شیخ الهند رحمه الله.

دزمانی انقلابونه دالله ﷻ واعظان دی عبرت ورڅخه واخله اوګوره دهریو انقلاب څخه اواز راځی چی پوه سه پوه سه عبرت واخله.

کامل مومن بلکه کامل انسان هغه دی کوم چی دهریو تغیر اوانقلاب اوپه هریو رنځ او راحت کی دقدرت دپتو لاسونو دطاقت نندارہ کوی په تلونکی راتلونکی فانی راحت او رنج اوصرف ددی په مادی اسبابو پوری زړه نه تړی.

دعقلمند کار دا دی چی داسبابو څخه زیات پرمسبب الاسباب باندی نظر وکړی اودهغه سره خپل تعلق مضبوط وتړی.

په دریم آیت کی ددا سی کاملو انسانانو دعام انسانانو دفطرت څخه جلا اوممتاز کولو دپاره فرمایی ، إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ : یعنی ددی عامی انسانی کمزوری څخه هغه خلګ مستثنی دی په کوموکی چی دوه صفتونه پیداکیږی یو صبر دوهم نیك عمل.

دصبر لفظ په عربی ژبه کی داردو محاوری څخه په ډیره عامه معنی کی استعمالیږی او اصل معنی دلفظ دصبر ترل اومنع کول دی دقرآن اوسنت په اصطلاح کی نفس دده دناجائزو خواهشاتو څخه دمنع کولو نوم صبر دی په دی وجه دصبر په معنی کی دتولو ګناهونو اوخلاف شرع کارونو څخه پرهیز راغی اوپه نیك عمل کی تول فرائض واجبات اوسنت اومستحب راغلل معنی داسوه چی ددی عامی انسانی کمزوری څخه هغه خلګ خلاص وی کوم چی په الله ﷻ ایمان او دقیامت دحساب دبیری څخه دهر داسی شی څخه پرهیز کوی کوم چی دالله ﷻ او دهغه رسول ﷺ خوشحاله وی.

ددی آیت په اخر کی دهغه کاملو انسانانو بدله اوجزایی هم دابنوولی ده چی ، أُولَٰئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ : یعنی ددا سی خلګو دپاره دالله ﷻ وعده ده چی د دوی خطاګانی به وبخښل سی او د دوی دنیك عمل به ډیره لویه بدله دوی ته ورکول سی.

دلته دا خبره هم دفکر قابله ده چی ددنیا دنعمت اوتکلیف دواړو دپاره په قرآن کریم کی: أَذَقْنَا: یعنی دڅکلو لفظ استعمال سوی دی اواشاره یی دی طرف ته هم کړیده چی اصل نعمت اوتکلیف داخرت دی په دنیا کی نه راحت مکمل دی نه تکلیف بلکه دڅکنی او نمونی په درجه کی دی ددی دپاره چی انسان ته داخرت دنعمتونو اوتکلیفونو یوه اندازه وسی په دی وجه هم ددنیا نه راحت یوزیات دخوشحالیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

شی دی اونه یی مصیبت یو زیات دغم کولو دی که فکر وکړی نو دنن صبا په اصطلاح کی داتوله دنیا داخرت شوروم دی چی په دی کی دراحت اوتکلیف صرف نمونی ایښوول سوی دی.

څلورم آیت په یوه خاصه واقعه کی نازل سوی دی واقعه داوه چی دمکی مشرکانو دنبی کریم ﷺ په مخکی مختلف قسم فرمائشونه پیش کړل یو دا چی په دی قرآن کی زمونږ بتانوته بد ویل سوی په دی وجه مونږ په ده ایمان نه سو راوړی نویاخو ته بل قرآن راوړه یاپه دی کی بدلون اوترمیم وکړه ، اِئْتِ بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَآ اَوْبَدِّلْهُ (بغوی مظهری)

دوهم داچی مونږبه ستاپه رسالت هلته یقین وکو چی یا خوددنیا دبادشاهانو په شان پر تا یوه خزانه نازله سی چی ددی څخه تولو ته بخښش وکړی یایو ملائکه دآسمان څخه راسی اوهغه ستاسره ګرځی او دا تصدیق کوی چی بیشکه دا دالله ﷻ رسول دی.

نبی کریم ﷺ د دوی په دی خطا اوعبثو فرمائشونو سره زړه تنګی سو څکه چی درحمة للعٰلمین څخه داهم ممکنه نه وه چی دوی د دوی پرحال پریږدی د دوی دایمان راوړلو فکر دزړه څخه وباسی اونه داممکنه وه چی د دوی داعبث فرمائشونه پوره کړی څکه چی اول خودافرمائشونه صرف پربی عقلی باندی مبنی دی چی بتانو اوبت پرستی اونورو ناکاره شیانوته بدونه ویل سی نوهدایت به څنګه وسی اودنبوت سره دخزانی یو تعلق دی دی خلګو نبوت پربادشاهی باندی قیاس کی دغه ډول دالله ﷻ دا دستور نه دی چی داسی حالت پیداکړی چی خلګ پرایمان راوړو په مادی طور سره مجبوره سی کنه نوتول جهان دهغه په قبضه دقدرت کی دی دچا څه مجال وو چی دالله ﷻ درضا خلاف یی یو عمل یا عقیده ساتلی وای مګر ده په خپل حکمت بالغه سره دادنیا دار الامتحان جوړکړی دی دلته دځه نیکی په کولو یادبدی څخه په منع کولو دمادی اسبابو په ذریعه څوك نه سی مجبوره کیدی البته داسمانی کتابونو اورسولانو په ذریعه دنیك اوبد ښه اوناکاره فرق اوددی نتیجی ښوول کیږی په نیکی دعمل کولو اودبدی څخه دځان ساتلو طرف ته ښودنه کول کیږی که درسول سره په معجزانه طورباندی یوه ملائکه ددی خبری دتصدیق دپاره ماموره وای اوچانه منلی نودغه وخت به دوی په نقد عذاب کی اخته کیدی نودا به پرایمان دمجبوره کولو یوصورت وای نه به په کښی ایمان بالغیب پاته کیدی کوم چی دایمان اصل روح دی اونه به دانسان خپل یو اختیار وای کوم چی ددی عمل روح دی او علاوه ددی څخه چی د دوی فرمائشونه خطا اوعبث وه نبی کریم ﷺ ته دافرمائشونه کول په خپله ددی دلیل وو چی داخلګ درسول اونبی حقیقت نه پیژنی په رسول اوخدای کی یوفرق نه کوی رسول دخدای په شان قادر مطلق ګڼی په دی وجه ورته ددا سی کارونو فرمائشونه کوی کوم چی دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك نه سی کولی.

غرض داچی نبی کریم ﷺ د دوی په داسی فرمائشونو سره سخت دلګیر اوزړه تنګی سو نو د دوی دتسلی او د دوی دخیالاتو داصلاح دپاره داایت نازل سو په کوم کی چی اول نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی اوفرمایی چی ایاته د دوی په خبرو سره مجبوره کیږی اودالله ﷻ دلیږل سوی قرآن یو حصه پریږدی په کومه چی داخلګ ناخوښه دی مثلاً په کومه کی چی دبتانو دمجبوری بیکسی اوپه یو شی دنه قادریدو بیان دی اوایاته د دوی په داسی فرمائشونو سره زړه تنګی کیږی دلته دلفظ د لَعَلَّكَ څخه ددی مضمون

Maktaba Tul Ishaat.com

دتعبیر کولو دا مطلب نه دی چی فی الواقع د دوی په باره کی داسی گمان کیدی سو بلکه مقصود د دوی ددی شیانو څخه دبری کیدو بیانول دی چی ته نه دقرآن یو حصه د دوی په رعایت سره پرینبوولی سی اونه ستا د دوی په فرمائشونو سره زړه تنگیدل په کار دی څکه چی ته دالله ﷻ دطرف څخه بیروونکی راغلی یی اودتولو کارونو پوره کول خودالله ﷻ په قدرت کی دی دبیرونکی تخصیص یی دمخاطب دخصوصیت په وجه وکی څکه چی داکافران خود بیرولو مستحق دی که نونبی کریم ﷺ لکه څنگه چی نذیر یعنی بیرونکی دی دغه ډول بشیر یعنی نیکو خلگوته زیری ورکوونکی هم دی ددی څخه علاوه نذیر هغه بیرونکی ته په حقیقت کی ویل کیږی کوم چی دشفقت اومحبت پربناء باندی دخرابو اومضرو شیانو څخه یی بیروی په دی وجه دنذیر په معنی کی بشیر هم په یوحیثیت سره شامل دی.

په ذکرسوو ایتونوکی دکفارو دطرف څخه دخاص قسم معجزو مطالبه وه په راتلونکو ایتونوکی یی دوی په دی خبره باندی خبردارکړی دی چی دنبی کریم ﷺ معجزه دقرآن یوه داسی معجزه تاسی ته راغلی ده چی ددده دمعجزه کیدو څخه تاسی هم انکار نه سی کولی نوکه دادمعجزو مطالبه په نیك نیتی سره درسول دربښتینی حقوالی دمعلومولو دپاره وی نوداخو پوره سوه اوکه محض دعناد دپاره وی نوکه ستاسی مطلوبه معجزی هم بیکاره سی نودعنادیانو څخه څه توقع ده چی د دوی په لیدو به دوی اسلام قبول کړی په هر حال دقرآن واضحه معجزه کیدل ناقابل انکار دی.

پردی باندی دمشرکانو اوکفارودطرف څخه چی کومی غلطی شبهی پیداسوی ددی رد په راتلونکو دوو ایتونو کی داسی سوی دی چی داخلگ داسی وایی چی قرآن په خپله دنبی کریم ﷺ جوړ سوی دی دالله ﷻ کلام نه دی. ددی په جواب کی فرمایی چی که ستاسی داسی خیال وی چی محمد ﷺ داسی قرآن په خپله جوړولی سی نوتاسی هم دده په شان صرف لس سورتونه جوړکړی وښیاست اوداهم ضروری نه ده چی دالس سورتونه یوسړی جوړکړی بلکه ددنیا اوجهان خلگ دی یوځای سی اوجوړدی کړی اوکله چی دوی ددغو لسو سورتونو دجوړولو څخه هم عاجزه سی نو ته وفرمایه چی اوس حقیقت واضح سوځکه چی که داقرآن دیوانسان کلام وای نو نورو انسانانوبه هم ددی په شان جوړکړی وای اودتولو عاجزه کیدل ددی قوی دلیل دی چی دا قرآن دالله ﷻ په علم سره نازل سوی دی چی په دی کی دادنی غوندی کمی او زیاتی گنجائش هم نسته او دانسانی طاقت څخه بهر دی.

قرآن کریم دلتـه لس ۱۰ سورتونه په مقابله کی دجوړولو اوراوړلو ارشاد فرمایلی دی اوپه بل یوآیت کی یی داهم ذکر کړی دی چی یوسورة ددی په شان جوړ کړی را وړی.

وجه دا ده چی اول یی دلسوسورتونو جوړولو حکم ورکی کله چی هغوی ددی څخه عاجزه سول نوبیایی د دوی عاجزه کیدل دزیات واضح کولو دپاره دسورة بقره په آیت کی وفرمایل چی که تاسی قرآن دیر انسان کلام گنی نوتاسی هم زیات نه صرف یوسورة ددی په شان جوړکړی راوړی لیکن د دوی سره ددومره اسانی هیڅ هم ونه سوه نودقرآن کریم معجزه کیدل اوبیشکه دالله کلام کیدل ثابت سوه په دی وجه په اخر کی فرمایی: فَهَلْ اَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ یعنی ایا تاسی اوس هم مسلمانان اوحکم منونکی جوړیږی اوکه هم دغسی په غفلت کی کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ

څوك چې غواړي ددنيا ژوند اوددې ښائست وربه کړو مونږ دوی ته د دوی عملونه ،

فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي

په دنياکې او دوی ته به په دې کې هيڅ نقصان نه وی ، دغه دی دکومو دپاره چې هيڅ نسته په ،

الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾

آخرت کې داور څخه ماسوا اوبرباد سول څه چې دوی کړی وه دلته اوخراب سول څه چې يې کتلی وه ،

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِنْ

ايا هغه سړی چې وی په صفا لاره دخپل رب او دده سره سره دی يو شاهد دالله دطرف څخه

قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۭ

او ددی څخه مخکې شاهد وو دموسیٰ ﷺ کتاب لار ښوونکی او رحمت (دنورو سره برابر دی؟) داخلک منی قرآن

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ

اوڅوك چې منکره سوه ددې څخه په ټولو فريقو کې نو دوزخ دی ځای ددې نو ته مه کيږه په شک کې ،

مِّنْهُ ۣ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۷﴾

ددې څخه ، بيشکه دا حق دی ستا درب دطرف څخه او بيا ډير خلک يقين نه کوی

لنډتفسير: کوم سړی چې (دخپلو نيکو عملونو څخه) محض ددنيا دژوند (نفع) اوددې ښائست غواړی (لکه شهرت نيك نامي جاه جلال اوداخرت ثواب حاصلول دده نيت نه وی) نومونږ به دې خلګو ته د دوی عملونه (يعنی جزاء) دوی لره په دنيا کې په پوره توګه ورکوو اود دوی دپاره به په دنيا کې هيڅ کمی نه وی (يعنی په دنيا کې د دوی دعملونو بدله دوی ته نيکنامی اوصحت فراغت خوشحالی او ډير مال او اولاد عنايت کيږی کله چې د دوی دعمل اثر پربی عملی باندی غالب وی اوکه بی عملی غالبه وی نوبيا دا اثر نه مرتب کيږی داخو په دنيا کې سوه پاته سو په اخرت کې نو پس) داداسی خلګ دی چې د دوی دپاره په اخرت کې بغير ددوزخ څخه نوربو (ثواب وغيره) نسته اودوی چې څه کړی وه هغه په اخرت کې ټول (په ټول) ناکاره (ثابت) سول او (په واقع کې خو) چې څه کوی هغه (اوس هم) بی اثره دی (په وجه دفساد دنيت مګر دښکاره صورت په اعتبار سره ثابت ګڼل کيږی په اخرت کې به دائبوت هم زائل سی)

Maktaba Tul Ishaat.com

ایا دقرآن څخه منکر ددا سی سړی برابری کولی سی کوم چی په قرآن قائم وی کوم چی دده درب دطرف څخه راغلی دی اوددی (قرآن) سره یوشاهد خوپه دی کی موجود دی (یعنی ددی معجزوالی کوم چی عقلی دلیل دی) او (یو) ددی څخه مخکی (یعنی) دموسیٰ ﷺ کتاب (یعنی تورات ددی سره دشاهدی دپاره موجود) دی کوم چی (داحکامو ښوولو په اعتبار) امام دی او (پراحکامو چی کومه ثمره اوثواب ورکول کیږی ددی په اعتبار سره دغه کتاب سبب د) رحمت دی (اودا دلیل نقلی دی غرض داچی دقرآن دصدق اوصحت دپاره عقلی اونقلی دواړه دلیلونه موجوددی پس ددی دلیلونو په سبب سره) داسی خلګ (دکومو ذکر چی وسو چی دغه صاحب بیّنه دی) په دی قرآن ایمان لری او (دکافرانو داحال دی چی) کوم سړی دنورو فریقو څخه ددی قرآن څخه انکار وکی نودوړخ دده دوعدی ځای دی (پس دقرآن څخه منکر دقرآن دتصدیق کوونکی سره کله برابریدی سی) پس (ای مخاطبه) ته دقرآن دطرف څخه په شك کی مه لویږه بیشکه بی شبهی دغه ربښتینی کتاب دی ستاسی درب دطرف څخه (راغلی دی) لیکن (سره ددی دلیلونو څخه غضب دا دی چی) ډیر خلګ ایمان نه راوړی.

معلومات اومسئلي: داسلام مخالفینوته چی به کله دعذاب وعدی اورول کیدی نو دوی به خپل خیراتونه اوصدقی اودخلګو خدمتونه اودعامی فائدی کارونه په سند کی پیش کول چی مونږ داسی نیك کارونه کوو نوځنګه به مونږ ته عذاب راکول سی ؟ اونن هم ډیر ناپوهه مسلمانان په دی شبهه کی گرفتار لیدل کیږی چی کوم کافران ظاهری اخلاق اوعملونه برابر ساتی دخدای دمخلوق خدمت اوخیراتونه صدقی کوی سړکونه پلونه شفاخانی داوبو تالابونه جوړوی اوچلوی هغوی ترمسلمانانو ښه ګنی دذکر سوو ایتونو څخه په اولنی آیت کی یی ددی جواب ورکړی دی.

دجواب خلاصه داده چی دهریوه عمل دمقبول کیدو اوداخرت دنجات کیدو اولنی شرط دا دی چی هغه عمل دالله ﷻ دپاره سوی وی اودالله ﷻ دپاره هغه کول معتبردی کوم چی دده درسول په ښوول سوی طریقه باندی سوی وی کوم سړی چی په الله ﷻ اودهغه په رسول باندی ایمان نه لری دده ټول عملونه اوخلاق یوه بی روحه ډانچه ده چی شکل او صورت خویی ښه دی مګر دروح دنستوالی په وجه په اخرت کی دده هیڅ وزن اواثر نسته البته په دنیا کی چونکی دده څخه خلګو ته فائده رسیږی اودښکاره صورت په اعتبارسره دغه نیك عمل دی په دی وجه الله ﷻ دخپل کمال عدل اوانصاف په بنا باندی دغه عمل بالکل ضائع نه دی مقرر کړی بلکه ددی دکوونکی دنظرپه وړاندی چی کوم مقصد وو چی په دنیا کی دده عزت وی خلګ دی سخی اولوی سړی وګنی ددنیا دولت تندرستی اوراحت یی نصیب سی الله ﷻ ده ته دا ټول هرڅه په دنیا کی ورکوی داخرت تصور اودهغه ځای نجات دده په نظرکی دسره نه وو اونه دده بی روحه عمل دهغه ځای دنعمتونو قیمت جوړیدی سی په دی وجه به دده دعملونو هلته هیڅ عوض نه ورکول کیږی اودکفر اونافرمانی په وجه به په جهنم کی وی داخلاصه ده داولنی آیت دمضمون اوس یی الفاظو ته وګورئ.

ارشاددی چی کوم سړی صرف ددنیا ژوند اوددی ښائست غواړی نو مونږ دده دعملونو بدله په دنیا کی پوره ورکوو دده دپاره به په دنیا کی هیڅ کمی نه وی داداسی خلګ دی چی ددی دپاره په اخرت کی بغیر

Maktaba Tul Ishaat.com

ددوږخ څخه نور هیڅ نسته.

دلته داخبره هم دفکر قابله ده چی دقرآن په دی ځای کی د: مَنْ اَرَادَ لفظ پرینسووی اود: مَنْ کَانَ یُرِیْدُ لفظ یی اختیار کی کوم چی پردوام اوهمیشوالی دلالت کوی چی ترجمه یی (اراده وکړه) سوي ده ددی څخه معلومه سوه چی داحال صرف دداسی خلګو دی کوم چی په خپلو عملونو اونیکیو باندی صرف ددنیا فائده غواړی اخرت ته یی هیڅکله هم فکرنه څی او کوم سړی چی داخرت دفکر اودهغه ځای دنجات دپاره عمل کوی اوبیا ددی سره یی ددنیا هم یو اراده وی نوهغه په دی کی داخل نه دی.

دتفسیر دامامانو په دی کی اختلاف دی چی دا ایت دکفارو په حق کی راغلی دی اوکه دمسلمانانو یادمسلمانانو اوکافرانو دواړو متعلق دی؟

دایت په اخری جمله کی چی کوم الفاظ راغلی دی چی په اخرت کی به د دوی دپاره بغیر ددوږخ څخه هیڅ نه وی ددی څخه په ښکاره داسی معلومیږی چی داخاص دکفارو متعلق دی ځکه چی مسلمان که هرڅومره ګناهګاروی دګناهونو دسزا لمرولو څخه وروسته به اخر جنت ته څی په دی وجه صحت وغیره تفسیر لیکونکی دادکفارو متعلق ګڼی.

اوځینی حضرات فرمایی چی ددی څخه مراد هغه مسلمان دی کوم چی په خپل نیک عمل سره صرف ددنیا ګټه راحت دولت اوعزت غواړی اونیک عمل په دی نیت سره کوی چی په دنیاکی ورته عزت او راحت ورکول سی او د ذکر سوی جملی دا مطلب دی چی تر څو پوری دخپلو بدوعملونو سزاتیره نه کړي ترهغه وخته پوری به دوی ته بغیر د دوږخ څخه نور هیڅ نه ورکول کیږی.

او زیاته راجحه اوواضحه خبره داده چی داایت دهغو خلګو متعلق دی کوم چی نیک عَملونه صرف ددنیا دفائدودولت عزت صحت وغیره په نیت سره کوی برابره خبره ده که داسی کوونکی کافران وی کوم چی دسره اخرت نه منی یامسلمانان وی کوم چی په ژبه سره اخرت منی مګرپه عمل کی ددی فکرنه کوی بلکه ټول فکر یی ددنیا دفائدو سره تړلی وی په تفسیر لیکونکو حضراتوکی مجاهد میمون بن مهران اومعاویه ﷺ هم دا اختیار کړي ده.

دنبی کریم ﷺ دمشهور حدیث: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَاتِ: څخه هم ددی معنی تائید کیږی چی کوم سړی په خپل عمل کی دڅه شی نیت کوی هغه ته به هغه ورکول کیږی څوک چی ددنیا نیت کوی هغه ته به دنیا ورکول کیږی څوک چی داخرت نیت کوی اخرت به ورکول کیږی څوک چی ددواړو نیت کوی هغه ته دواړه ورکول کیږی دټولو عملونو مدار پرنیت باندی کیدل یوداسی اصول دی کوم چی په هرملّت اومذهب کی منل سوی دی (قرطبی)

په دی وجه په یوحدیث کی دی چی دقیامت په ورځ به هغه خلګ راوستل سی کومو چی په دنیا کی عبادت په دی وجه کوی چی دخلګو په نظرکی د دوی عزت وی دوی ته به وویل سی چی تاسی لمونځ کړی دی صدقه اوخیرات موکړی دی جهاد موکړی دی دقرآن تلاوت موکړی دی مګر داهرڅه تاسی په دی نیت سره کړی دی چی تاسی ته لمونځ ګذار سخی غازی اوقاری وویل سی نوکوم څه چی تاسی غوښتل هغه تاسی ته درکول سوی دی په دنیا کی دغه خطابونه تاسی ته درکول سو اوس دلته ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددغه عملونو هیڅ بدله نسته اودتولو ځخه اول به جهنم ته دغه خلګ واچول سی.

حضرت ابوهریره ﷺ ددی حدیث دنقل کولو ځخه وروسته وژړل اووی فرمایل چی دقرآن کریم دایت مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا ددی حدیث ځخه تصدیق کیږی.

په صحیح مسلم کی په روایت دحضرت انس ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ پرچا ظلم نه کوی مومن چی کوم نیك کارکوی ده ته په دنیا کی هم یوه بدله ورکول کیږی اوپه اخرت کی ثواب ورکول کیږی اوکافر (چونکی داخرت فکر نه لری په دی وجه دده حساب په دنیاکی ده ته ورکول کیږی) دده دنیکو عملونو په بدله کی په دنیا کی دولت عزت صحت راحت ده ته ورکول سی تردی چی کله دی اخرت ته ورسیږی نو دده سره هیڅ نه وی چی بدله یی هلته پیداکی.

په تفسیرمظهری کی دی چی مومن که څه هم ددنیادفلاح هم خواهشمندوی مګرداخرت اراده باندی غالبه وی په دی وجه ده ته په دنیاکی په قدر دضرورت ورکول کیږی اولویه بدله به په اخرت کی پیدا کی حضرت فاروق اعظم ﷺ یووار دنبی کریم ﷺ کورته حاضر سو نوپه تول کورکی یی دشمیر دیوځو شیانو ځخه ماسوا نور هیڅ ونه لیدل نونبی کریم ﷺ ته یی عرض وکی چی دعا وفرمایی چی الله ﷻ ستاسی امت ته هم ددنیا فراخی ورکړی ځکه چی مونږ فارس او روم وینو چی دوی په دنیاکی ډیرپه فراخی اووسعت سره دی حال دا دی چی دوی دخدای ﷻ عبادت نه کوی نبی کریم ﷺ تکیه ته ارخ لګولی وو دحضرت عمر ﷺ دا الفاظ چی یی واوریدل نوسیده کښینستی اووی فرمایل ای عمره ﷺ ته تراوسه په دی خیال کی یی داخوهغه خلګ دی دکومو دنیکو بدله چی دوی ته په دنیاکی ورکول سوي ده (مظهری)

په جامع ترمذی اومسند احمد کی په روایت دانس ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی د کوم سړی نیت په خپلو عملونوکی داخرت طلب وی الله ﷻ په دنیا کی دده زړه غنی کوی او دده ضرورتونه پوره کوی اودنیا ده ته په ذلت سره راځی اود کوم سړی نیت چی ددنیا طلب وی نوالله ﷻ ده ته محتاجی راوړاندی کړی چی دده حاجتونه هیڅکله نه پوره کیږی ځکه چی ددنیا هوس دی په ارام کښی نستوته نه پریږدی دیو حاجت پوره کیدو ځخه مخکی ورته بل حاجت راوړاندی سوی وی اوبی شمیره فکرونه ورسره سی او ورکول کیږی صرف هغه کوم چی الله ﷻ دده دپاره لیکلی وی.

په ذکرسوی آیت کی چی کوم دارشاد سوی دی چی ددنیا اراده کوونکو ته د دوی دعمل بدله په دنیا کی پوره ورکول کیږی پردی داشبهه کیدی سی چی ډیر داسی خلګ هم دی چی سره ددنیا داراده کولو اوکوشش کولو په دنیاکی هم د دوی مطلب نه پوره کیږی او ځینی وخت خو ورته هیڅ هم نه ورکول کیږی ددی جواب دا دی چی دقرآن کریم په آیت کی دلته اجمال دی ددی پوره تفصیل دسورة اسراء په دی آیت کی دی په کوم کی چی فرمایی: مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ: یعنی کوم سړی چی ددنیا اراده کوی مونږ ده ته په دنیا کی نقد ورکوو مګر دا ورکول په دوو شرطونو سره مشروط دی اول داچی ځومره ورکول غواړی هم هغومره ورکوی ددغوښتلو اوطلب برابر ورکول ضروری نه دی دوهم داچی صرف هغه سړی ته یی ورکوی کوم ته چی ورکول په تقاضا دحکمت سره مناسب ګڼی هریوه ته ورکول ضروری نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دوهم آیت کی دنبی کریم ﷺ اودمخلصو مومنانوحال یی دهغوخلګوپه مقابله کی پیش کړی دی دکومو چی دعلم اومقصود انتها صرف دنیاوه ددی دپاره چی دنیا یی وویني چی دا دواړه ډلی نه سی برابریدی بیایی د دوی دا حال بیان کی دنبی کریم ﷺ نبوت او رسالت دټول عالم دپاره ترقیامته پوری عام کیدل او کوم سړی چی په دوی ایمان نه راوړی برابره خبره ده چی هرڅه عمل وکړی ددې ګمراهی اودوږخی کیدل یی بیان کړی دی.

په اوله جمله کی فرمایی چی ایا دقرآن څخه منکر ددا سی سړی سره برابری کیدی سی کوم چی پرقرآن قائم وی کوم چی دده درب دطرف څخه راغلی دی اوددی سره یوشاهد خوپه دی کی موجود دی او ددی څخه مخکی دحضرت موسیٰ علیه السلام کتاب شاهد دی کوم چی قابل داقتداء اودخلګو دپاره یی رحمت جوړکړی رالیږلی دی.

په دی آیت کی د: تتمہ: څخه مراد قرآن دی اود ، شاهد: په معنی کی دتفسیر دامامانو مختلف اقوال دی په بیان القرآن کی حضرت تهانوی رحمہ اللہ دااختیار کړی دی چی دشاهد څخه مراد دقرآن هغه اعجازدی کوم چی په خپله په قرآن کی موجوددی نومعنی داسوه چی هغه خلګ کوم چی پرقرآن قائم دی اود دوی سره دقرآن دحقانیت یوشاهد خوپه خپله په قرآن کی موجوددی یعنی ددی اعجاز اودوهم شاهد ددی څخه مخکی په صورت دتورات راغلی دی کوم چی حضرت موسیٰ علیه السلام دخلګو دپاره داقتداء قابل اوداللہ ﷻ درحمت په حیثیت سره راوړی وو څکه چی په تورات کی دقرآن کریم حقوالی په واضح طور سره بیان سوی دی.

په دوهمه جمله کی یی په نبی کریم ﷺ باندی ایمان ترقیامته پوری مداردنجات مقررول داسی بیان فرمایلی دی چی ددنیا په ټولو مذهبونو اوملتونو کی چی کوم سړی هم د دوی څخه انکار وکی دده ځای جهنم دی په صحیح مسلم کی دحضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی قسم دی په هغه ذات دچاپه قبضه کی چی زما روح دی چی کوم یهودی یانصرانی زما دعوت واوری اوددی باوجود زماپه راوړل سوو تعلیماتو ایمان رانه وړی نودی به دجهنمیانو څخه وی.

په دی سره دهغو خلګو دغلط فهمی لیری کیدل په کاردی کوم چی ددیرو یهودو نصاراوو یادنورو مذهبونو دخلګو دځینو ظاهری عملونو په وجه دوی ته په حقه وایی اوپه نبی کریم ﷺ اوقرآن باندی دایمان څخه بغیر صرف ښکاره عملونه دنجات دپاره کافی ګڼی دا دقرآن کریم ددی ذکرسوی آیت اودحدیث ددی صحیح روایت سره ښکاره ټکراوو دی اللہ ﷻ دی مونږ ورڅخه په امان کړی. امین

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۚ أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ

او دهغه څخه لوی ظالم څوك دی کوم چی تړی په الله باندی دروغ ، دغه خلګ به مخامخ سی ،

عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ الْأَشْهَادُ هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ

دخپل رب سره اووبه وایی شاهدی ورکوونکی چی دا دی کومو چی درواغ ویلی وه په خپل رب ،

Maktaba Tul Ishaat.com

أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٨﴾ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ

خبردار لعنت دالله دی په نا انصافو خلکو باندی ، کوم چې منع کوی دالله ﷻ د لارې څخه

اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿١٩﴾ أُولَٰئِكَ لَمْ

او لټوی په دې کې کږوالی او دوی دې د آخرت څخه منکر ، دغه خلک نه دی

يَكُونُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ

ستړی کولونکی په مټه سره په مځکه کې اونسته د دوی د پاره د الله څخه ماسوا څوک

مِنْ أَوْلِيَاءَ يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ

حمایتی دوچنده دې د دوی د پاره عذاب نه وه دوی طاقت لرونکی ډاوریدو

وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ

اونه یې طاقت وو د لیدلو ، دغه دې چې په تاوان کې یې واچول خپل خانونه او ورک شول

عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢١﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ

د دوی څخه کوم چې یې درواغ تړلی وو ، په دې کې شک نشته چې دا خلک به آخرت کې هم دوی

الْأَخْسَرُونَ ﴿٢٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا

ډیر لوی څخه زیانمن به کې ، البته کوم خلک چې ایمان راوړی او نیک عمل کوی

إِلَىٰ رَبِّهِمْ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٣﴾ مَثَلُ

او عاجزه کوی ، خپل رب ته دوی به په دې کې همیشه اوسیږی مثال دی

الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

دواړو ډلو لکه یو روند او کوڼ او لیدونکی او اوریدونکی ایا برابر دی دوی دواړو حال بیا ایا نه سې فکر نه کوی

لغت تفسیر: اولاد اسې ستړی څخه به زیات ظالم څوک دی کوم چې په الله دروغ اترې (چې دهغه توحید (هغه
درسول درسالت اودهغه دکلام والی څخه انکار کوی) دا سې خلک (دقیامت په ورځ) به خپل رب ته
مخامخ (ددروغو غټجنو په خیښت سره) پیش کیږی اود (اعمالونو) شاهدی ملاتړ نکی به (علی الاعلان) دا سې

رابی چی داخلګ دی ګومو چی دخپل رب په نسبت دروغ خبری ترلی وی ټول واوری چی په داسی
ظالمانو دخدای (زیات) لعنت دی ګومو چی (دخپل کفر اوظلم سره) نورنه یی هم دخدای دلاری (یعنی
دین) څخه منع ګول اوپه دی لاره ده دین) کی به یی کوږوالی (اوشبهات) را ایستل تلاش (اوفکر) ګول (چی
نور ګمراه ګیری) اوداخرت څخه هم منکر وه (دا دملایکو داعلان مضمون وو مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چی
دی خلګو پر (ټوله) څخه باندی (هم) خدای نه سوای عاجزه کولی (چی یوڅای پخه سوی وای اودخدای
ﷻ په لاسو نه وای ورغلی) اونه دخدای څخه ماسوا د دوی ځوان مددګارسو (چی ورڅخه دګرفتاری
څخه یی خلاص ګری وای) داسی خلګوله به (نورورد څخه) دوچنده سزا وی (ویره په خپله دکافر کیدو
اویره دنورو دکافر ګولو دګوښش ګولو) دی خلګو (په وجه دنصرت ګولو دالله احکام نه اوریدل اونه یی
په وجه دعناد حقی لاری تله) ګتل دا هغه خلګ دی چی خپل ځانونه یی بربادکړل او ګوم معبودان چی
دوی جوړ ګړی وه (من) د دوی څخه ټول غائب (اوورک) سوه (هیڅ یی هم په کار ورنخلل پس لازمی خبره ده
چی په اخرت کی به دتولو څخه زیات په تاوان کی داخلګ وی (داځو به انجام وی دکافرانو مخ ته
دمسلمانانو انجام ذکردی چی) بیشکه ګوم خلګ چی ایمان راوړی اونیک کارونه ګوی او (په زړه سره)
دخپل رب طرف ته عاجزی ګوی (یعنی په زړه کی انقیاد اوخشوع پیدا ګړی) داسی خلګ جنتیان دی (او)
دوی به په دی کی همیشه اوسی (دا د دواړو دانجام دفرق بیان سو مخ ته یی دحال دفرق مثال دی چی
پرډی باندی دانجام فرق هرتب ګیږی ، نو ارشاددی چی) ددواړو فریقو (چی ذکریی وسو یعنی مومن
اوکافر) حالت داسی دی لکه یوسړی چی (رڼه هم وی اوکوڼ هم وی (چی نه عبارت اوری اونه اشاره
وینی نوعالباً ددده دپوهولو هیڅ صورت نسته) اویوسړی دی چی وینی هم اواوری هم (ډډه پوهول دپیر
اسان دی) ایا دادواړه سړی په حالت کی برابردی (هیڅکله نه دحالت ذکافر اودمسلمان دی چی هغه
دهدایت څخه پیر لیږی دی اودی په هدایت سره موصوف دی) ایاتاسی (په دی فکر) نه پوهیږئ (په دی
دواړو کی دافرق بدیهی دی دشبهی ګنجائش نسته په کی)

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَنْ لَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي

اودمورنیږلیږلی وو دنوح (علیه السلام) (ډډه دګوم طرف ته چی زه تاسی ته دبیری خبره اوروم بنه کاره (چی عبادت نه کوی دالله څخه

أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾ فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا

ماسوا ازعبیر یږم په تاسی دعذاب دډډر دردناکی څخه پیاوډیل سړو (دا ډول سړو دا ګوم چی کافران وه (ډډه دګوم مشرانو څخه وه) وویل

بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ

یو سړی په څیر زمونږ اونه وینو ګوم چی تابع سوی دی مګر کوم چی په سطحی نظر کی لازمی ګوم دی

الرَّأْيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾

بی سوچه ، اودمورنیږنه وینو تاسی لره پرډډ خپل خان بالادی یوه فضیلت بلکه زمونږ خو خیال دی چی تاسی ډډول دروغ ژن

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰنِيْ

یاست ، وویل ای قوم! آیا وینی تاسی که زه یم په صفلاره دخپل رب او هغه لیږلی وی په ماباندی ،

رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا

رحمت دخپل طرف څخه نو ستاسی دستر گو څخه پټ سوی وی نو ایا مونږ تاسی مجبوره کولی سو په دی اوتاسی ،

كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَيٰقَوْمِ لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى

ورڅخه بی زاره یاست ، اوای زما قوم! نه غواړم زه ستاسی څخه په دی یو مال زما مزدوری نه ده مګر په ،

اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْۤ

الله ده او نه یم زه شړونکی دایمانداړو دوی ملاویدونکی دی دخپل رب سره لیکن زه

اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ

وینم چی تاسی خلګ جاهلان یاست ، او ای قومه ! څوك به خلاص کړی ما دالله څخه که ،

طَرَدْتُّهُمْ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَلَاۤ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ

دوی وشړم آیاتاسی فکرنه کوی ، او زه نه وایم تاسی ته چی زما سره خزانی دی ،

اللّٰهِ وَلَاۤ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَاۤ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَاۤ اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

دالله ﷻ اونه زه خبر لرم دغیبو اونه وایم چی زه ملائکه یم اونه به ووایم چی کوم خلګ ،

تَزْدَرِيْۤ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْۤ

ستاسی په نظر کی سپك دی وربه نه کړی دوی ته الله خیر الله نبه پیژنی څه چی د دوی

اَنْفُسِهِمْ ۖ اِنِّيْۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا

په زړونو کی دی که دا ووایم نوزه به بی انصافه یم ، ویی ویل ای نوح ! تازمونږ سره جګړه وکړه ،

فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۲﴾

اوډیره جګړه دی وکړه اوس راوړه څه چی ته وعده کوی زمونږ سره که ته یی رښتنی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا

وی ویل چی رابه ولی دغه الله ﷻ که وغواړی او تاسی یی نه سی سترې کولی په تښتیدو سره ،

يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ

او کارګر به نه سی تاسی ته زما نصیحت که زه وغواړم چی تاسی ته نصیحت وکړم که الله ﷻ غوښتلی وی

اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ رَبُّكُمْ ۫ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۴﴾ ؕ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ

چی تاسی ګمراه کړی هغه دی ستاسی رب او هغه ته به واپس کیږی ، ایا وایی چی جوړ کړی

قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع

یی دی دا قرآن ووایه که ما جوړ کړی وی نو په ماده زما ګناه اوزما په ذمه نه ده کومه ګناه چی تاسی کوی .

لنډتفسیر: اومونږ نوح ﷺ دده قوم ته رسول جوړ کی (دا پیغام مو ورکړی) ولیږی چی تاسی دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا عبادت مه کوی (او کوم بتان چی تاسی مقرر کړی دی وَدَ اوسُواع اویغوث اویعوق اونسر پریږدی چنانچی حضرت نوح ﷺ ولاړی او دوی ته یی وفرمایل چې) زه تاسی (دغیرالله دعبادت په صورت کی) صفا صفا بیروم (اوددی بیرولو تفصیل دا دی چې) زه ستاسی په حق کی دیوی لویی تکلیف ورکوونکی ورځی دعذا بیره درکوم ، نو دده په قوم کی چی کوم کافران سرداران وه هغو (په جواب کی) وویل: (ته چی کومه دنبوت دعوی کوی لکه د: نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ څخه چی معلومیږی نوزمونږ په زړه داخبره نه لګیږی څکه چې) مونږ خوتادخپل ځان پشان سړی وینو (اودانسان نبی کیدل دیره لیری خبره ده) اوکه (ته پردی باندی دلیل نیسی چی ځینو خلګو ستاتابعداری کړې ده نوداخبره ددلیل دپاره قابله نه ده ځکه چې) مونږ وینو چی ستا تابعداری هغو خلګو کړې ده کوم چی په مونږکی بالکل رذیلان دی (دکومو عقل چی اکثره بی کاره وی بیا) هغه (تابعداری) هم محض په سرسری رایی سره (سوې ده یعنی اول خود دوی عقل برابر نه دی دفکرکولو څخه وروسته هم غلطی کوی دوهم بیافکر یی هم ونه کی په دی وجه ددا سی خلګو ته نبی ګټل داڅه حجت نه دی بلکه ددی څخه پرعکس سره داکار خوزمونږ دتابعداری کولو څخه منع کوونکی دی ځکه چی شریفان درزیلانو په ملګرتیا باندی شرمیږی دارنګه اکثر ددا سی بی حوصلی خلګو غرضونه هم ما ل حاصلول یا لوړیدل وی پس داخلګ هم په زړه سره ایمان نه راوړی) آو (که چیری داوویل سی چی سره درذیلوالی ددی خلګو دڅه خاص خبری په اعتبار سره پرمونږ باندی فضیلت دی چی په دی وجه سره د دوی رایه په دی باره کی برابره ده پس) مونږ په تاسی خلګوکی (یعنی په تا اوپه مسلمانانوکی) یو خبره دخپل ځان څخه زیاته نه کړه پیدا (په دی وجه ستاسی دمسلمانانو رایه صحیح نه ګڼو) بلکه مونږ خوتاسی (بالکل) درواغجن ګڼو نوح ﷺ وفرمایل چی ای زماقومه! (تاسی چی کومه دا خبره کوی چی ستا نبوت زمونږ په زړه نه لګیږی نو) ښه ده دا خو وښیاست چی که زه دخپل رب دطرف

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه پر دلیل (قایم) یم (چې په دې سره زمانبوت ثابتیږي) اوهغه ماته دخپل طرف څخه رحمت (یعنې نبوت) راکړې وې بیا په دغه (نبوت باحجت) تاسې نه پوهیږئ نو (زه څه وکړم مجبوره یم) آیامونږ دا (دعوه یادلیل) ستاسې پرسر درتپلی سو اوچې تاسې نفرت ورڅخه کوئ (مطلب دا دی چې ستاسې داوینا چې زمونږ پرزړه نه لګیږي دامحض په دې وجه سره ده چې تاسې داسې ګڼئ چې بشر رسول کیدی نه سي نوددې خبرې ستاسې سره هیڅ دلیل نسته اوزما سره ددې دواقعي کیدو اوصحیح کیدو دلیل موجود دی یعنې معجزه وغیره نه داچې دیوچا تابعداري په دې سره ددې جواب هم وسوچې د دوی تابعداري حجت نه دی لیکن دیو دلیل فائده موقوفه ده پرفکرکولو اوهغه تاسې نه کوئ اودازما درس څخه وتلی ده) او (دومره خبره یې نوره زیاته وفرمایله چې) ای زما قومه (دا سوچ خوکې چې که زه دنبوت غلطه دعوئ کوم نواخر په دې کې خوبه زما یو مطلب وو مثلاً داسې به وه چې ددې په ذریعه زه ښه ډیر مال وګټم نودا خو تاسې ته معلومه ده چې) زه ستاسې څخه په دې (تبلیغ) هیڅ مال نه غواړم زما معاوضه خوصرف دالله په ذمه ده (دهغه څخه یې په اخرت کې غواړم دغه شان نور غرضونه هم که لګږ وکړې نونه به یې ګړې پیدا بیاچې ګله یوغرض نسته نوده روغو ویلو څخه زمافائده یوه ده لنده داده چې ددعوئ درواغجن والی دپاره داسې یوه خبره مقتضي نسته اوددعوئ پر رښتنوالي باندې دلیل قائم دی بیاپه نبوت کې یو شبهه کیدی سي) او (تاسې چې درڅیلانو تابعداري دخپلې تابعداري دپاره منع ګورئ وایاست اوپه دا ګله یاپه اشاره سره داغواړې چې زه دوی دخپلې خوا څخه لیرې کړم پس زه خودایماندار او لیرې ګوونکي نه یم (ځکه چې) داخلک خپل رب ته (په عزت اومقبولیت سره) تلونکي دی (نوڅوک دشاهي دربارمقربان ایستلي سي اوپه دې سره ددې خبرې جواب هم وسو چې داخلک په زړه سره ایمان نه راوړی) لیکن په واقع کې زه تاسې خلک وینم چې (خامخا) جهالت کوئ (اوپې تحقیقه خبرې کوئ) او (بالفرض والتقدیر) که زه دوی وباسم هم نو (داخو ووایاست چې) مابه دخدای د ګرفت څخه څوک خلاص کړی (ایاپه تاسې ګې دومره همت سته چې داسې عبث مشورې راکوئ) آیا تاسې په دومره خبره هم نه پوهیږئ او (په دې تقریرګې د دوی دتولو شپږو جواب وسو لیکن مخ ته بیاددې تولو جوابونو تتمه ده یعنې ګله چې زمانبوت په دلیل سره ثابت دی نو اول خو ددلیل په مخکې لیرې والی یوشي نه دی بیاداچې دغه لیرې خبره هم نه ده البته دیو عجیبه اونا اشناکار دعوئ ګه می ګولی نوانګار اولیرې والی به دومره بداولیږي نه وای ګه څه هم ددلیل څخه وروسته دغه هم داورید و نه دی البته ګه دلیل هم دلیرې والي وي نوبیا واجب دي لیکن زه خودیو داسې عجیبه ګار دعوئ نه کوم چنانچې زه تاسې ته دا نه وایم چې زما سره دالله ﷻ خزانې دي اونه زه (داوایم چې زه) تولې دغیبو خبرې پیژنم اونه داوایم چې زه ملائکه یم او (داخویې دخپل نبوت متعلق ارشاد وفرمایې مخ ته دخپلو تابعینو متعلق ارشاد فرمایي یعنې) کوم خلک چې ستاسې په نظرونو کې سپک دي زه د دوی په نسبت (ستاسې په شان دانه سم ویلی چې (دې خلکو په زړه سره ایمان نه دي راوړی په دې وجه به) الله ﷻ هیڅګله دوی ته ثواب ورنه کړي د دوی زړه ګې چې څه وي هغه الله ﷻ نه پیژني (نومهګنه ده چې د دوی په زړه ګې اخلاص دی نوبیا زه داسې خبره څنګه ووایم) زه خو (ګه داسې خبره وکړم نو) په دې صورت ګې به ظلم وکړم (ځکه چې

بې دلیله دعوی کول گناه ده کله چې نوح ﷺ دخپلو خبرو پوره پوره جواب درکې چې جواب بې بیا د
دوی په وسه ونه سو نوعاجزه سول، هغو خلکو وویل چې ای نوح ﷺ تازمونږ سره بحث وکې بیا دې بحث
اوږدهم کې پس (اوس بحث پریږده او) د کوم شې څخه چې ته مونږ ویرې (چې عذاب به راسي) هغه
زمونږ مخ ته راوله دوی وفرمایل چې (دوی راوستونکی نه کله یم ماته خودرسولو اوداوږدلو حکم ورو
پس ماهغه پرځای کې) دغه خوبه الله ﷻ په دې شرط چې هغه ته منظره دوی ستاسي مخ ته راولی او
(دغه وخت به بیا) تاسي هغه عاجزه نګړي سي (چې هغه عذاب واقع کول دغواړي اوتاسي بې واقع
کولوته پرې نه ږدی) او (کوم چې زماکار وو رسول اواوږدل په دې کې ماستاسي پوره پوره خیر خواهي
اودلسوزي وکړه لیکن زماخیره دخیرخواهي ستاسي په کارنه سي درتلې که څه هم زه ستاسي هرڅومره
خیرخواهي کول غواړم کله چې الله ﷻ نه ستاسي ګمراه کول منظوروي (چې دهغه وجه ستاسي عناد
اوتکبردي مطلب دا دی چې کله تاسي دخپلې بد قسمتي څخه دخپل ځان دپاره نفع حاصلول اودنقصان
څخه خلاصیدل نه غواړی نوزما په غوښتلو سره څه کیدی سي) هغه ستاسي مالک دی (اوتاسي مملوک
یاست نوپه تاسي دهغه قول حقونه واجب دي اوتاسي هغه دعناد په وجه ضائع کوی مجرمان جوړیږی) او
دهغه طرف ته ستاسي تلل دي (هغه به ستاسي دوی قول عناد اوکفر کسر وباسي) ایادا خلق وایی چې
محمد ﷺ دقرآن په خپله جوړکړی دی ته (په جواب کې) ووایه چې که (بالفرض) ماجوړکړی وای نوزما دا
جرم به په ما (واقع) وی (اوتاسي زمادجرم څخه بری الذمه یاست) او (که تاسي دادعوی جوړه کړی وی
یعنی پرماموبهتان لګولی وی نوستاسي داجرم به پرتاسو وی او) زه ستاسي دوی جرم څخه بری الذمه یم

معلومات اومسئلې: حضرت نوح ﷺ چې کله خپل قوم ته دایمان دعوت ورکې نوقوم دده په نبوت
اورسالت یوڅو شبهات اواعتراضات پیش کول حضرت نوح ﷺ دالله ﷻ په اذن دوی ته جوابونه ورکول
چې دوی په ضمن کې دیری اصولی اوفروعی مسئلې ددیانت اومعاشرت هم راغلی په ذکرسوو اینتونو
کې دامکالمه بیان سوې ده:

په دریم آیت کې دمشرکانو خبری دی چې څوشبهې اواعتراضونه به کې سوی دی دوی آیت دحل
غوښتونکو الفاظو تشریح دا ده:

لفظ د: مَلَأ: په عام طور سره دجماعت دپاره ویل کیږی دځینو امامانو دلغت وینا ده چې دقوم
دسردارانو اوډډه وارو جماعت ته: مَلَأ وایی د: بشر ترجمه انسان یابنیادم دی اَرَاذِلُ د: اَرْذَلُ جمع ده
سپک اوذلیل ته ویل کیږی دچاچې په قوم کې یو حیثیت اوعزت نه وی بَادِیَ الرَّأْیِ: ابتدایی اوسرسری
رایه والا: دوی خلکو اولنی اعتراض په حضرت نوح ﷺ باندی دده پررسالت اونبوت داوو چې: مَا نَرٰكَ
اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا یعنی ته خوزمونږ پشان انسان اوبنیادم بې زمونږ په شان خوری چښی گرځی بنده کیږی
وښیږی بیا مونږ ستا دافوق العادت فرق څنګه ومنو چې ته دخدای رسول اوپیغمبر یې؟

دوی خلکو خیال داوو چې دانسانانو طرف ته کوم سړی دالله ﷻ دطرف څخه رسول لیږل کیږی هغه د
جنس دبشرڅخه نه دی په کارده بلکه یوملائکه دی وی چې قول انسانان بې چارواوناچارمنلو ته مجبوره وی
دوی جواب په څلورم آیت کې داوو کول سو: یَا قَوْمِ اَرَاَیْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَیِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّیْ وَاٰتٰىنِیْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّیَتْ عَلَیْكُمْ

اَنُلزِمُكُمُوهَا وَاَنتُمْ لَهَا كَارِهُونَ .

په دی کی وښوول سوه چی درسول بشر یا بنیادم والی دنبوت اورسالت منافی نه دی بلکه که فکر وسی نوداضروری ده چی دبنیادمو رسول بنیادم په کاردی چی بنیادمو ته ورځخه دین زده کول آسان وی دبنیادم اوملائکی په مزاج کی دمځکی اوآسمان فرق دی که ملائکه رسول رالیږل کیدی نوبنیادموته به ورځخه دین زده کول سخت گران وای ځکه چی ملائکه نه وږی کیږی نه تږی کیږی نه خوب ورته راځی نه ستړی کیږی نه انسانی ضرورتونه اوحاجتونه مخ ته ورته راځی هغه به دبنیادمو په دی کمزوریو څه پوه سی او بغیر ددی دپوهیدو ځخه به بنیادم په عمل کی د دوی تابعداری ځنگه وکولی سی دا مضمون دقرآن کریم په نورو ایتونوکی په وضاحت اواشارو سره څوځایه راغلی دی دلته یی ددی ذکرکولو پرځای داوښوله چی که دعقل ځخه کار واخلی نودرسول اوپیغمبر دپاره داضروری نه ده چی دی دی بنیادم نه وی البته داضروری ده چی دالله ﷻ دطرف ځخه یو واضح دلیل دده سره وی چی ددغه په لیدو خلگوته دامنل آسان سی چی داد خدای ﷻ دطرف ځخه رالیږل سوی رسول دی دغه حجت اودلیل دعامو خلگو دپاره د پیغمبرانو معجزی وی په دی وجه حضرت نوح ﷺ وفرمایل چی مادخپل ځان سره دالله ﷻ دطرف ځخه حجت اورحمت راوړی دی که تاسی دی ته کتلی اوفکر موباندی کولی نو انکار به مونه کولی مگر ستاسی انکار اوعنادستاسی سترگی ددی ځخه رندی کړی دی اوتاسی انکار وکی اوپر خپل ضد باندی ټینگ سواست .

مگر دخدای ﷻ دا رحمت کوم چی دپیغمبر په ذریعه راځی داسی شی نه دی چی په زور سره دخلگو پرسرونو وروتپل سی ترڅو چی دوی په خپله ددی طرف ته رغبت ونه کړی په دی کی اشاره داپیدا کیږی چی دایمان دولت کوم چی ماراوړی دی که زما وس چلیدی نوستاسی دانکار اوضد باوجود به ماتاسی ته درکړی وای مگر دا دقدرت دقانون ځخه خلاف ده دانعمت څوك په زور دچا پرسرنه سی ورتپلی ددی ځخه داهم ثابته سوه چی په زور دیوچا مومن یامسلمان جوړول په یودور دنبوت کی نه دی جائز سوی دتوری په زور داسلام دخپرولو سپین دروغ جوړوونکی په خپله هم ددی حقیقت ځخه بی خبره نه دی مگر یوه خبره ده چی دناپوهانو په زړونو کی دتردد پیدا کولو دپاره چلول کیږی .

په دی ضمن کی ددی وجه هم معلومه سوه چی ملائکه رسول ولی نه دی جوړسوی وجه داده چی ملائکه کومه چی دعادت ځخه لوړقوت اوطاقت اوپه خپل وجودکی په هرحیثیت سره دانسان ځخه ممتازه ده ددی په لیدو ایمان راوړل خوبه یوجبری کار جوړیدی دچابه څه مجال وای چی دملائکی په مخکی به یی داسی ناامری کولی کومه چی دانبیاوو ﷺ په مخکی کول کیږی اوشرعًا دغه ایمان مقبول نه دی کوم چی دیوقاهره قدرت په وجه دمجبوری ځخه اختیار کړل سی بلکه مطلوب ایمان بالغیب دی چی دالله ﷻ دقاهره قوت دپوره مشاهدی کولو ځخه بغیر ایمان اختیار کړل سی .

د دوی دوهم اعتراض دا وو چی ، وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ : یعنی مونږ وینو چی په تاایمان راوړونکی ټول په سرسری نظر کی سپك ذلیل اوکمینه خلگ دی یوشریف لوی سړی په کښی نسته ددی اعتراض دوه اړخونه دی یوداچی ستاسی خبره که حقه اوصحیح وای نودقوم لویو خلگو به داقبوله کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وای ددی کوچنیو اورذیلو خلکو قبلول ددی نښانه ده چی ستا دعوت دقبلولو قابل نه دی.
دوهم ارخ یی دا دی چی زمونږ دپاره ستا دایمان ددعوت په قبلولوکی خنډ دا دی چی که مونږ ایمان راوړو نوپه حیثیت دمسلمان به مونږ هم د دوی سره برابرسو دلمونځونو په صفونوکی اوپه نورو مجلسونوکی به مونږ ته د دوی سره یوشان کښینستل وی اودا زمونږ په وسه نه سی کیدی.
دحقیقت څخه لیری دی بی عقلو غریبان فقیران دکوموسره چی مال ډیرنه وو اودنیاوی جاه او جلال نه وو هغوی یی ارذال ګڼلی وه حال دا دی چی دایه خپله یو جاهلانه خیال دی عزت ذلت عقل اوپوهه دمال اودولت تابع نه دی بلکه تجربه شاهده ده چی دجاه او مال یوه نشه وی کومه چی انسان ډیرو معقولو اوصحیح خبرو دپوهیدو څخه اوقبلولو څخه منع کوی دکمزوری غریب سړی په مخکی دابندیزونه نه وی دی په حقه اوصحیح خبره قبلولوکی ورانډی کیږی داوجه ده چی دپخوانی زمانی څخه دالله ﷻ دا عادت راغلی دی چی په پیغمبرانو اول ایمان راوړونکی غریبان اوفقیران وی اوپه تیرو اسمانی کتابونو کی ددی وضاحتونه هم موجوددی په دی وجه سره کله چی هرقل دروم بادشاه ته دنبی کریم ﷺ خط مبارک دایمان ددعوت دپاره ورسیدی اوده سره فکر سو چی دمعاملی تحقیق وکړی نوچونکی ده په تورات اوانجیل کی دپیغمبرانو حالات ویلی وه په دی وجه دغه وخت کوم خلګ چی دعربو څخه شام ته راغلی وه هغوی یی جمع کړل اوددی نښانو اوعلامو متعلق یی څو پوښتنی ورڅخه وکړلی.
په دی پوښتونوکی یوه پوښتنه دا هم وه چی دده تابعداری کوونکی دقوم کمزوری او غریبان خلګ دی یاهغه کوموته چی دقوم لوی خلګ ویل کیږی؟ دی خلګو ورته وویل چی کمزوری اوغریب خلګ دی: په دی باندی هرقل اقرار وکی چی دانخبنه خودرښتنی نبی ده ځکه چی دپیغمبرانو اول اول تابعداری کوونکی داکمزوری اوغریبان خلګ وی.
لنډه داده چی غریبان اوفقیران رذیل ګڼل د دوی جهالت وو په حقیقت کی رذیلان خوهغه دی کوم چی خپل پیدا کوونکی اوپالونکی مالك ونه پیژنی اودهغه دحکمونو څخه مخ واړوی په دی وجه دسفیان ثوری رحمۃ اللہ علیہ څخه چاپوښتنه وکړه چی کمینه اورذیل څوك دی؟ نووی فرمایل چی هغه خلګ کوم چی دبادشاهانو اوافسرانو خوشامندی کوی اوابن الاعرابی فرمایی چی کمینه هغه سړی دی کوم چی خپل دین خرڅوی اودنیا ګټی چا پوښتنه ورڅخه وکړه چی دټولو څخه زیات کمینه کوم یو دی؟ نووی فرمایل هغه سړی کوم چی خپل دین بربادکړی اودبل چادنیا برابره کړی امام مالك رحمۃ اللہ علیہ فرمایی چی کمینه هغه سړی دی کوم چی صحابه کرام ته بدی ردی وایی ځکه چی دپوره امت دټولو څخه لوی محسنان دی دکومو په ذریعه چی دایمان دولت اوشریعت دوی ته رسیدلی دی.
په هر حال د دوی ددی جاهلانه خیال رد په دریم آیت کی اول خوداسی سوی دی چی دپیغمبر نظر دچا پرمال نه وی هغه دچا څخه دخپل خدمت اوهمدردی معاوضه نه اخلی دهغه معاوضه خوصرف دالله په ذمه وی په دی وجه دهغه په نظرکی غریب اوامیر برابروی تاسی ددی څخه مه بیریږی چی مونږ مالداران چی مسلمانان سو نو زمونږ څخه به دمال مطالبه کول کیږی.
دوهمه یی داوښوولی چی تاسی چی کوم دایمان قبلولو دپاره داشرط وړاندی کوی چی مونږ غریبان

Maktaba Tul Ishaat.com

خلک دخپلې خوا څخه لیرې کړو نو یوه سبې چې دا زه نه سم کولې څکه دا خلک که څه هم غرسیانان دي
مګر درب العزت په دربار کې د دوي شرافت او عزت دي داسې خلک ایستل څه دعقل کار نه دي.
او د: ﴿ولا اقول لهم﴾ دا معنې هم کیدې سې چې که بالفرض زه دوي وباسم نو د قیامت په ورځ کله چې دا خلک
د خپل رب مخ ته ولاړ سي او فریاد وکړي نو زما سره به څه جواب وي د څلورم آیت دا مضمون دي چې که زه
دوي وباسم نو ما به د خدای د عذاب څخه څوک خلاص کړي په اخر کې فرمایي چې دا ټول ستاسې جهالت
دي چې تاسې بنیادم والې د نبوت سره منافي ګڼئ یا د غرسیانو خلکو دا ایستلو فرمائشونه کوي.
په پنځم آیت کې د حضرت نوح علیه السلام هغه تقریر نقل سوی دي کوم چې دوي د خپل قوم د ټولو اعتراضونو
اوریدلو څخه وروسته دوي ته د څه اصولي هدایت ورکولو د پاره ارشاد وفرمایي چې په دې کې پر
نبوت والې د چې د نبوت او رسالت د پاره د غه شیان ضروري نه دي کوم چې تاسې ګڼلي دي.
مثلاً اول فرمایي: ﴿ولا اقول لکم عندي خزائن الله﴾ یعنې زه تاسې ته دا نه وایم چې د الله ﷻ خزانې زما په لاسونو
کې دي په دې کې د دغو خلکو د هغه خیال رد دي چې کله د الله ﷻ د طرف څخه رسول راځي نو هغه په
لاسونو کې خزانې په کار دي چې خلکو ته ورکړي ورځخه کوي حضرت نوح علیه السلام وسوله چې د پیغمبرانو
د ایثار لو دا مقصد نه وي چې دوي دي خلک د دنیا په مال او دولت کې وښلوي په دې وجه د دوي
د خزانو سره څه کار دي.
او دا هم کیدې سې چې په دې کې د دغو خلکو د هغه خیال رد دي کوم چې څینې خلک ګڼي چې الله ﷻ
انبیاوو ته بلکه اولیاوو ته هم مکمل اختیارات ورکړي دي د الله ﷻ د قدرت خزانې د دوي په لاسونو کې
ږي چاته چې غواړي ورکوي چاته چې غواړي نې ورکوي نو د حضرت نوح علیه السلام دې ارشاد څخه واضحه
سوه چې الله ﷻ د خپل قدرت د خزانو مکمل اختیار پیغمبر ته هم نه دي سپارلې د اولیاوو خو ګړسره
ذکر نسته البته الله ﷻ د دوي دعاګانې اوخواهشونه په خپل قدرت سره پوره کوي.
دوهم فرمایي: ﴿ولا اعلم الغیب﴾ دې جاهلانو دا هم خیال وو چې کوم سړي د خدای ﷻ رسول وي هغه عالم
الغیب هم په کار دي دې جملې واضحه کړه چې نبوت او رسالت د علم غیب مقتضي نه دي او څنګه کیدې
سي څکه چې علم غیب د الله ﷻ خاص صفت دي چې په دې کې څوک نبي یا ملائکه شریکیدې نه سي
البته الله ﷻ د خپلو پیغمبرانو څخه چې چاته وغواړي خومره چې وغواړي د غیبو په رازونو خبرې
مګر په دې وجه دوي ته عالم الغیب نه سي ویل کیدې څکه چې د دوي په اختیار کې نه وي چې کوم غیب
غواړي معلوم یې کړي.
دریمه خبره یې دا وفرمایله: ﴿ولا اقول لکم انی ملک﴾ یعنې زه تاسې ته دا هم نه وایم چې زه ملائکه یم په دې
کې د دې خیال رد دے چې رسول خوک ملائکه په کار دي. څلورمه خبره یې دا ارشاد وفرمایله چې تاسې
په خپلو نظرونو کې کوم غریبو بې سرمایې خلکو ته چې سبک او ذلیل ګورې نو زه دا نه سم ویلی چې الله
ﷻ به دوي ته څه خیر او ګټه ورنه کړي څکه چې د خیر او ګټې تعلق د مال او دولت سره نه دي بلکه د انسان
د زړه سره دي او د زړونو حال الله ﷻ ته معلوم دي چې د چا زړه د خیر او اصلاح قابل دي او د چا نه دي
بیا فرمایي چې که زه هم ستاسې په شان دوي ته سبک او ذلیل وایم نو زه به هم ظالم سم

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاُوْحِیَ اِلٰی نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ یُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا

او حکم وسو نوح علیه السلام ته چې اوس به ایمان راوړی ستا په قوم کې مګر کومو چې ایمان راوړی دی نو مه

تَبْتَىِٕسْ بِمَا كَانُوْا یَفْعَلُوْنَ ۚ۳۶ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْیُنِنَا وَوَحْیِنَا وَلَا

غمجن کیږې د دوی په کارونو کوم چې کوی او جوړه کړه کښتی زمونږ په مخکې اوزمونږ په حکم سره او

تُخَاطِبْنِیْ فِی الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ۳۷ وَیَصْنَعُ الْفُلْكَ ۫ وَكُلَّمَا

خبره مه کوه زما سره د ظالمانو په حق کې دوی به بیشکه غرقیږی او ده کښتی جوړوله او کله چې به

مَرَّ عَلَیْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ؕ قَالَ اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ

تیریدل پرده سرداران دقوم دده خندل به یې په ده پوری وی ویل که تاسی خندا کوی په مونږ پوری نو مونږ

مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُوْنَ ۳۸ ؕ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ یَّاْتِیْهِ عَذَابٌ یُّخْزِیْهِ وَ

خاندو په تاسی پوری لکه چې تاسی خاندی ، نوژر به پوه سی چې پرچاراځی عذاب چې رسوایی کړی او

یَحِلُّ عَلَیْهِ عَذَابٌ مُّقِیْمٌ ۳۹ حَتّٰۤی اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ

راغورزیږی پرده عذاب همیشه تردی چې کله راځی حکم زمونږ او جوش وکی تنور وویل مونږ چې سپاره

فِیْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَیْنِ اثْنَیْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَیْهِ الْقَوْلُ

کړه په کښتی کې دهر قسم جوړې څخه دوه او دخپل کور خلک مګر پرچاچې مخکې سوی دی حکم

وَمَنْ اٰمَنَ ؕ وَمَاۤ اٰمَنَ مَعَهٗۤ اِلَّا قَلِیْلٌ ۴۰

او ټول ایمانداران او ایمان نه وو راوړی دده سره مګر لږو .

لنډتفسیر: او (کله چې په نصیحت کولو یوه اوږده زمانه تیره سوه اوهیڅ اثرونه سو نو) نوح علیه السلام ته مونږ وحي ولیږله چې ماسوا دهغو څخه کومو چې (تردی وخته پوری) ایمان راوړی دی بل څوک (نوی) سړی به ستا په قوم کې ایمان رانه وړی پس څه چې داخلګ (کفر اومسخری اوازار رسول) کوی پردی څه غم مه کوه (ځکه چې کوم کار دتوقع څخه خلاف وسی په هغه باندی سړی غمجن کیږی اود دوی څخه چې (مخالفت څخه ماسوا بله توقع نسته نوبیاغم ولی وسی) او (چونکی زمونږ اراده اوس د دوی دغرقولو ده اوددی دپاره طوفان راتلونکی دی پس) ته (ددی طوفان څخه دخلاصیدو دپاره) زمونږ په نګرانی کې اوزمونږ په حکم سره کښتی تیاره کړه (چې ددی په ذریعه دطوفان څخه ته اومومنان محفوظ سی) او

(داواوره چی) زماسره دکافرانو (دنجات) په باره کی څه خبری مه کوه (څکه چی) دوی به ټول غرقیږی (د دوی دپاره په قطعی طورسره داتاکل سوی دی نود دوی سفارش به بی کاره وی غرض داچی نوح علیه السلام اسباب دکښتی جمع کړه، اوپه کښتی تیارولو شروع سو (برابره خبره ده که په خپله یادنورو کاریګرانو په ذریعه) او (دتیاری په وخت کی) کله چی به دده دقوم دسردارانو ډله پرده راغله نو (دې چی به یی پرکښتی جوړولو لیدی اودابه یی اوریدل چی طوفان راتلونکی دی) په ده پوری به یی خندا کوله (چی وګوری داوبو نوم اونخښه نسته اودی مفت په مصیبت کی اخته دی) ده به ویل که تاسی په مونږ پوری خاندی نومونږ به په تاسی پوری خاندو لکه چی تاسی په مونږ پوری خندا ګانی کولی (چی عذاب دومره نژدی سوی دی اوتاسی ورپوری خاندی مونږ په دی پوری خاندو) پس اوس به تاسی ته معلومه سی چی هغه کوم سړی دی چی پرهغه (په دنیا کی) داسی عذاب راځی کوم چی دی رسوا کوی او (دمرګ څخه وروسته) پرده دائمی عذاب نازلیږی (غرض داچی داسی خبری اومعاملی کیدی) تردی چی کله زمونږ حکم (دعذاب نژدی راورسیدی) اودمخکی څخه اوبه خوتکیدل شروع سو (اودانښه وه دطوفان شروع کیدو اودلوړ څخه اوبه اوریدل شروع سوه دغه وخت) مونږ (نوح علیه السلام ته) وفرمایل چی دهرقسم (حیوانانو) څخه (کوم چی دانسان دپاره په کارراځی او په اوبو کی ژوندی نه سی پاته کیدی) یویو نر اویویو ماده یعنی دوه دوه په دی (کښتی) کی سپاره کړه اوخپل کور والاهم (سپاره کړه) بغیر دهغو څخه پرکومو چی (دغرقیدو) حکم نافذ سوی دی (یعنی په دوی کی چی کوم کافران وی دکومو په باره کی چی : اَنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ) ویل سوی دی (دوی مه سپروه اودکور والاوو څخه علاوه) نور ایماندارهم (سپاره کړه) اوبغیر دلږوخلکو څخه دده سره نور هیچا ایمان نه وو راوړی (بس هم ددغو دسپرولو حکم وسو)

معلومات اومسئلي: حضرت نوح علیه السلام ته الله ﷻ تقریباً زر کاله اوږدعمر ورکی ددی سره یی دالله ﷻ دطرف څخه ددعوت ورکولو اودقوم داصلاح کولو فکر اودپیغمبرانه جد او جهد هم دادرجه ورکړه چی په دی اوږده موده دعمرکی یی همیشه خپل قوم ته ددین حق اودتوحید دکلمی طرف ته دعوت ورکوی دقوم دطرف څخه ورته سخت سخت تکلیفونه ورسیدل قوم په دبرو وویشتی تردی چی بی هوښه به سو بیا چی پرهوښ راغی نودعابه یی کوله چی یا الله! زما قوم معاف کړی دوي ناپوهه جاهلان دی نه پوهیږی دقوم دیو نسل څخه بل اودبل څخه دریم ته په دی امید یی دعوت ورکوی چی شاید دوی حق قبول کړی.

کله چی په دی کار باندی صدی تیری سوی نو درب العزت په مخکی یی دخپل حالت زار شکایت وکی کوم چی په سورة نوح کی ذکر دی ، رَبِّ اِنِّی دَعَوْتُ قَوْمِی لَیْلًا وَّنَهَارًا ! فَلَمْ یَزِدْهُمْ دُعَآءِی اِلَّا فِرَارًا : او ددومره لوی اوږد مصیبت څخه وروسته ددی مردِ خدا په ژبه باندی دادعا راغله: رَبِّ انْصُرْنِیْ بِمَا کَذَّبُوْنِ یعنی ای زما پروردګاره د دوی ددرواغجن کولو په مقابله کی ته زما مدد وکړه.

دحضرت نوح علیه السلام دقوم زور اوظلم چی زیات سو نوالله ﷻ حضرت نوح علیه السلام ته په دی آیتونو سره خطاب وفرمایی کوم چی دا لوړ ذکر سوه (بغوی مظهری)

په دی کی اول خو حضرت نوح علیه السلام ته داوښوول سوه چی ستا په قوم کی دکومو چی ایمان راوړل مقرر دو هغوی راوړی اوس به څوک بل سړی ایمان قبول نه کړی د دوی په زړونو باندی د دوی دعناد اوسرکښی

په وجه سره مهر لګیدلی دی په دی وجه اوس ته ددی قوم غم مه خوره او د دوی په ایمان نه قبلولو مه پریشانه کیږه.

دوهمه خبره یی داوښوولـه چی اوس مونږ په دی قوم داوبو دطوفان عذاب رالیږونکی یو نوددی دپاره ته یوه کښتی تیاره کړه چی ته په کښتی داهل اوعیال اوځومره چی مسلمانان دی سره دخپلو ضرورتونوځای سی چی دطوفان په وخت کی دانډول په دی کی سپاره سی اونجات پیداکی حضرت نوح ﷺ دحکم مطابق کښتی جوړه کړه بیاچی کله دطوفان اولنی نخښی ښکاره سوی اودمخکی څخه اوبه په جوشیدو سوی نوحضرت نوح ﷺ ته حکم وسو چی په خپله سره دخپل اهل اوعیال اوهغو خلګوچی کومو په تاایمان راوړی دی په دی کښتی کی سپاره سی اودانسانانو ضرورتونه چی دکومو حیواناتو سره متعلق دی لکه غوا غویی بزه آس خر وغیره د دوی هم یوه یوه جوړه په کښتی کی سپاره کړی حضرت نوح ﷺ دحکم مطابق ټول سپاره کړل.

په اخرکی فرمایی چی په حضرت نوح ﷺ ایمان راوړونکی اوپه کښتی کی دسپرومسلمانانوشمیر ډیرکم وو دا دذکرسوو آیتونو دمضمون خلاصه وو اوس دهر یو آیت دمطلب وضاحت او تشریح سره دمتعلقه مضامینو او مسئلی وګورې.

په اولنی آیت کی ارشاد فرمایی چی په حضرت نوح ﷺ باندی داوحی ولیږل سوه چی دده په قوم کی کوم ایمان راوړونکی وه هغوی ایمان راوړی اینده به نور ایمان رانه وړی نوپه دی وجه داخلګ چی کومه معامله ستاسره کوی په دی سره ته غمجن اوپریشانه کیږه مه ځکه چی غم اوپریشانی هلته وی کله چی دچاسره داصلاح اوفلاح امید ترڅ سوی وی مایوسی هم یوقسم ته راحت وی ته د دوی څخه مایوسه سه او کوم تکلیف اوصدمه چی حضرت نوح ﷺ ته د دوی دازارونو څخه رسیدی دهغه دانتظام طرف ته یی په بل آیت کی اشاره وکړه چی دوی به داوبو په طوفان کی غرق سی په دی حالاتو کی دحضرت نوح ﷺ په ژبه دخپل قوم دپاره هغه ښرا راغلی وه چی ذکر یی په سورة نوح کی سوی دی.

رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا.

یعنی: ای زما پروردګاره! اوس ددی کافرانو څخه څوک پرمخکه اوسیدونکی پاته نه کړی څکه چی که دوی پاته سول نود دوی راتلونکی نسل به هم دغسی سرکښه فاجر او کافران وی دادعا قبوله سوه او دحضرت نوح ﷺ ټول قوم په طوفان کی غرق سو.

(نوح ﷺ ته دکښتي جوړولو تعلیم)

حضرت نوح ﷺ ته چی کله دکښتی جوړولو حکم ورکول سو دغه وخت ده نه کښتی پیژنده اونه ددی جوړول ورته معلوم وو په دی وجه په دوهم آیت کی دده دکښتی جوړولودحقیقت ظاهرولودپاره فرمایی وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا یعنی ته کښتی جوړوه زمونږ په نګرانی کی او زمونږ دوحی مطابق.

داحادیثو په روایتونوکی دی چی جبرائیل امین دوحی الهی په ذریعه حضرت نوح ﷺ ته دکښتی جوړولو ټول ضروریات اوددی طریقه وښوولـه دوی دسال دلرګی څخه داکښتی تیاره کړه.

په څینو تاریخی روایتونوکی ددی پیمائش داسی ښوول سوی دی چی دادری سوه ۳۰۰ ګزه اوږده

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځوس ۵۰ ګزه پلنه اودیرش ۳۰ ګزه جګه دری چنه جهاز رو اوروښاندانونه به یې دموجوده رواجی طریقې مطابق رسته اوچپه طرف ته خلاصیدل دغه شان دادجهاز سازی صنعت دوحی خداوندی په ذریعه دتولو څخه اول دحضرت نوح علیه السلام په لاسونو شروع سر بیا ترقی په کښې کیدی.

(دتولو ضروری صنعتونو ابتداء دوحي په ذریعه سوې ده)

دحافظ شمس الدین ذهبی په الطب النبوی کی دځینو بزرګانو څخه نقل دی چې دانسان دپاره دځومره صنعتونو چې ضرورت دی ددی تولو ابتداء دوحی الٰهی په ذریعه دیو پیغمبر په واسطه په عمل کی راغلی دی بیادضرورت مطابق په دی کی اضافی اواسانی په مختلفوزمانوکی سوی دی دتولوڅخه اولنی پیغمبر حضرت آدم علیه السلام ته چې کومه وحی راغلی ده ددی دیره حصه دځځکی دابادکاری او ضروری صنعتونومتعلق ده دیارورونکوپهیږه په ذریعه دتللونکی ګاډی ایجاد هم ددی سلسلی دایجاداتو څخه دی سرسید صاحب یانی دجامعهٔ علی ګړه ښه فرمایلی دی چې زمانی قسم قسم ګاډی ایجاد ګړی لیکن دهرقسم ګاډیو دکار مدار پردرّی اوپهیې باندی دی دوی دغوایانو اوخرو دګاډیو څخه واخله تردریلونو اوبیمه قسم موټرکارونو پورې په تولوکی مشترکی دی په دی وجه دتولو څخه غټ موجد دګاډیو هغه سړی دی چاچې پهیې ایجاد کړه چې دتولی دنیا دتولی مشینری روح پهیې ده اومعلومه سوه چې دا ایجاد دالولنی پیغمبر حضرت آدم علیه السلام په لاسونو په ذریعه دوحی الٰهی سوی دی.

ددی څخه داهم معلومه سوه چې دضروری شیانو صنعت کاری دومره اهمیت لری چې په وحی سره پیغمبرانو ته نیوول سوی دی.

حضرت نوح علیه السلام ته دسفینه سازی دهدایت ورکولو سره یې داهم وفرمایل چې ستا پرقوم به طوفان راځی دوی به غرقیږی دغه وخت به ته دخپل شفقت پربنا د دوی په بارهٔ کی یو سفارش ته کوی.

په دریم آیت کی دسفینه سازی په زمانه کی دحضرت نوح علیه السلام دقوم دغفلت اودبد انجام څخه دبی فکری حال ذکرکړی دی چې حضرت نوح علیه السلام دخدای په حکم په کښتی جوړولو کی مشغول وو دده قوم سردارانوچې په ګله دی لیدی اوپه ښتنه یې دی درڅخه ګوله چې څه ګوی؟ نوفرمایل یې چې طوفان راتللونکی دی، په دی وجه کښتی تیارروم دده قوم یې په ده پورې مسخری اوټوقی ګولی چې دلته خودچینارو دپارهٔ اوبه قحطی دی اوداډزرګ پردی وچه باندی دکښتی چلولوپه فکرکی دی حضرت نوح علیه السلام د دوی په جوابونو کی وفرمایل چې: نن تاسی پرمونږ پورې مسخری کوی خوپیاد ساتی چې یوه ورځ داسی راتللونکی ده چې په هغه کی به مونږ په تاسی پورې مسخری وکړو مراد دا دی چې داسی حالات رارروان دی کوم چې به په خپله په تاسی پورې دمسخرو ګولو موجب وی څنګه چې په حقیقت کی توقی اومسخری دانبیاوو علیهم السلام دمشرانو څخه خلاف دی دغه دهیڅ دپارهٔ جائز نه دی بلکه حرامی دی دقرآن کریم الرشادعالی: لَا یَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤی اَنْ یَّكُوْنُوْا خَیْرًا مِّنْهُمْ یعنی څوک دی په چاپورې مسخری نه کوی کیدی سی چې هغه ددی مسخری کوونکی څخه ښه وی په دی وجه دالله دمسخرو څخه مراد ده دوی دمسخرو عملی جوابونه دی چې ګله تاسی په عذاب کی ګرفتارسی نومونږ به تاسی ته وښیو چې دا دی ستاسی دمسخرو انجام لګه چې ددی څخه وروسته یې څلورم آیت کی فرمایلی چې: هیر زړه به تاسی ته

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومہ سی چی پرچا دا سی عذاب زا تلونکی دی کوم چی به دی رسوا کړی اوپه چا دا ئمی عذاب راځی
دا ولی عذاب څخه د دنیا او د عذاب مقیم څخه د اخرت دا ئمی عذاب مراد دی.
په پنځم آیت کی د طوفان ابتداء اوولی سره د متعلقه هدایتونو او واقعاتو سلسله شروع سوی ده په دی
کی ارشاد فرمایی حَتّٰی اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ : یعنی کله چی زمونږ حکم راغی او تنور څخه اوبه
خوښیدل شروع سول.
لفظ د تنور په خومعانیو کی استعمالیږی د مخکی سطحی ته هم تنور وایی د دوزخ پخولو تنور ته هم
تنور وایی د مخکی د لوړی حصی د پاره هم لفظ د تنور استعمالیږی په دی وجه د تفسیر په امامانو کی
خبری وایی چی دلته د تنور څخه مراد د مخکی سطح ده چی د دی څخه اوبه راوخوښیدی خبری فرمایی
چی د حضرت آدم علیه السلام تنور په عین ورزده نومی خای د شام په ملک کی وو هغه مراد دی چی د دی څخه
اوبه راوخوښیدی خبری فرمایی چی د حضرت نوح علیه السلام چیل تنور په کوفه کی وو هغه مراد دی اکثرو
تفسیر لیکونکو حضرت حسن مجاهد شعبی حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه وغیره دا اختیار کړی ده.
او شعبی خوپه قسم سره دیلی دی چی د تنور د کوفی د بنار په یو کونج کی وو او دا چی حضرت نوح علیه السلام
چیله کښتی د کوفی په جمات کی دننه جوړه کړی وه د دی جمات په دروازه د تنور وو حضرت ابن عباس
رضی الله عنه فرمایی چی الله علیه السلام حضرت نوح علیه السلام ته فرمایلی وه چی ته د اکوړه چی که ستا د کور د تنور څخه اوبه
خوښیدل شروع سوی نو پوه سه چی طوفان راغی (قرطبی او مظهری)
مفسر قرطبی رحمه الله فرمایی چی که څه هم د تنور په معنی کی د تفسیر لیکونکو خبری مختلفی په نظر
راځی مګر حقیقت دا دی چی دا څه اختلاف نه دی کله چی د طوفان اوبه خوښیدل شروع سوه نو د دوی
پخولو د تنور څخه هم اوبه راوتلی د مخکی د سطح څخه هم او د شام د ملک د عین الوردة د تنور څخه هم
راوخوښیدی لکه چی قرآن کریم په خپله وضاحت فرمایی، فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا
یعنی مونږ د آسمان دروازی د شپیتو زیاتو باران د پاره خلاصی کړی او د مخکی څخه چینی راوخوښیدی
شعبی په خپل بیان کی دا هم فرمایی چی د کوفی چی د اجمات د مسجد حرام مسجد نبوی او د مسجد
اقصی څخه ورروسته خلور م جمات دی کوم چی یوازی د شان لری.
په آیت کی مونږ ته دا بیان فرمایی چی کله طوفان شروع سو نو حضرت نوح علیه السلام ته حکم ونسو
اِحْمِلْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ : یعنی سپاره کړه په دی کښتی کی د هری جوړی والا حیوانانو څخه یوه جوړه
د دی څخه معلومه سوه چی د حضرت نوح علیه السلام په کښتی کی د ټولی د نیا حیوانان نه وه جمع سوی بلکه
صرف هغه حیوان کم چی د نر او مادی د جوړی څخه پیدا کیږی اوپه اوبو کی ژوندی نه سی پاته کیدی په
دی وجه ټول د دریاب حیوانان ورڅخه ونوتل او دوه چی په حیوانانو کی بغیر د نر او مادی څخه پیدا
کیدونکی خشرات الارض ورڅخه ونوتل صرف پاتی نور حیوان عوا غوښی کامیښه بزه وغیره پاته سوال
په دی سره د څه شبهه لیری سوه کومه چی په سرسری نظر سره پیدا کیدی سی چی په کښتی کی د دومره
فراخی څنګه راغله چی د ټولی د نیا حیوانان په کښتی خای سوال
او بیا حضرت نوح علیه السلام ته ارشاد فرمایی چی ته خپل اهل او عیال بغیر د هغو څخه کوم چی پر کفر باندی دی

په کښتی کی سپاره کړه او هغه ټول خلګ هم کومو چی په تا باندی ایمان راوړی دی مګر دایمان راوړونکو شمیر ډیرکم دی.

دکښتی والاوو صحیح شمیرپه قرآن اوحدیثونوکی نه دی متعین سوی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه نقل دی چی ټول اتیا کسان وه په دوی کی دحضرت نوح ﷺ دری زامن سام حام یافث او د دوی دری بیبیانی وی څلورم زوی یی دکفارو سره پاته سو اوپه طوفان کی غرق سو.

وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا

اووی ویل سپاره سی په دی کی دالله په نوم سره دی ددی تلل اودریدل،

اِنَّ رَبِّیْ لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۴۱﴾ وَهِیَ تَجْرِیْ بِهِمْ فِیْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ

بیشکه زمارب دی بخښنی والامهربانه ، او هغه دوی ورڅ په څپوکی لکه غر،

وَنَادٰی نُوْحُ ابْنَهٗ وَكَانَ فِیْ مَعْزِلٍ یّٰبُنَیَّ ارْكَبْ مَّعَنَا

او اواز وکی نوح ﷺ خپل زوی ته اوهغه وو په غاړه ای زویه! سپور سه زمونږ سره

وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ سَاٰوِیْۤ اِلٰی جَبَلٍ یَّعْصِمُنِیْ

اومه کیږه د کافرانو سره ، وی ویل وبه خیژم یو غره ته چی خلاص به کړی ما،

مِنَ الْمَآءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْیَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ

داوبو څخه ، وی ویل نسته څوک خلاصوونکی نن دالله دحکم څخه مګر پرچاچی هغه رحم وکړی

وَحَالَ بَیْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِیْنَ ﴿۴۳﴾ وَقِیْلَ یٰۤاَرْضُ

اوحائله سوه د دواړو په مینځ کی څپه بیا سو د ډوبیدونکو څخه ، او حکم راغی ای مځکی

ابْلَعِیْ مَآءَكِ وَیٰسَمَآءُ اَقْلِعِیْ وَغِیْضَ الْمَآءُ وَقُضِیَ الْاَمْرُ

درکش کړه خپلی اوبه او ای آسمانه بند سه او وچی سوی اوبه اوپوره سو کار،

وَاسْتَوَتْ عَلَی الْجُوْدِیِّ وَقِیْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۴۴﴾

او ودریده کښتی په جودی غر باندی او حکم وسو چی لیری دی وی قوم ظالمان (درحمت څخه)

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه تفسیر: اونوح (ﷺ) ټول حیوانان سپاره کړل اوخپلو تابعدارانوته یې) وفرمایل چې (راسې) په دې کښتی کې سپاره سې (اودغرقیدو څخه یو بیره مه کوی څکه چې) ددی تلل اودریدل (ټول) دالله په نوم سره دی (اوهغه ددی حفاظت ګوونکی دی بیابیره دی ولی وکړل سی اوکه څه هم دبندګانو ګناهونه مقتضی دغرقیدو دی مګر) په یقین سره زما رب غفوردی رحیم دی (هغه په خپل رحمت سره ګناه بخښی اوحفاظت هم کوی غرض دا دی چې ټول په کښتی کې سپاره سول اوپه دې مینځ کې اوبه زیاتی سوی) اوردغه کښتی دوی واخستل دغره په شان په څپوکی روانه سوه اونوح (ﷺ) خپل (یوسکه یامیرنی) زوی ته (چې نوم یې کنعان وو اوسره دپوهولو هغه ایمان نه ووراوړی اودی دایمان نه راوړو په وجه په کښتی کې نه وو سپورکړل سوی اوداوخت کښتی غاړې ته نژدی وه او دی پرغاړه موجودوو په طور داخری دعوت یې ورته) اوازوکی اوهغه (دکښتی څخه) په جلا ځای ووڅ چې ای زماخوږه زویه! (په کښتی کې دسپریدو شرط چې ایمان دی پوره کړه ژر) زمونږ سره سپور سه (اوپه عقیده کې) دکافرانو سره مه کیږه (یعنی کفر پریږده چې دغرقیدو څخه محفوظ سی) هغه وویل چې زه به اوس غرته وخیژم چې مابه داوبو (غرقیدو) څخه خلاص کړی (څکه چې دغه وخت دطوفان شروع وه دغرونو سرونوته اوبه نه وی رسیدلی) نوح (ﷺ) وفرمایل چې نن دالله دقهرڅخه څوک خلاصوونکی نسته (نه غر اونه بل شی) لیکن پرچاچې هغه رحم وکړی (نوهغه په خپله خلاص کړی غرض داچې کنعان داوخت هم ایمان رانه وړی اواوبه په زور اوشورسره دی طرف ته زیاتی سوی) اوددواړو (پلار اوزوی) په مینځ کې څپه حائله سوه هغه (هم په مثل دنورو کافرانو) غرق سو او (کله چې کافران ټول غرق سول نو) حکم وسو چې ای مځکی خپلی اوبه (کمی چې ستا پرسطح موجودی دی) تیری کړه اوای اسمانه! (داوریدو څخه) بندسه (چنانچې دواړه کارونه وسول) اواوبه ختمی سوی قصه ختمه سوه اوکښتی په جودی (غره) باندی راغله ودریده او وویل سوه چې کافران خلق درحمت څخه لیری دی.

معلومات او مسئلې

(په کښتیو او نورو سپرلیو دسپریدو اداب)

دذکر سوو ایتونو څخه په اولنی ایت کې دکښتی دسپریدو تعلیم دی چې: بِسْمِ اللهِ مَجْرِیهَا وَمُرْسٰهَا وایه اوسپرېږه د: مَجْرِی معنٰی ده روانیدل اوتلل اود: مُرْسٰی معنٰی دریدل دی معنٰی داده چې دذی کښتی اوسپرلی تللهم دالله (ﷻ) په قدرت اودهغه په نوم سره دی او دریدل یې هم دهغه دقدرت تابع دی.

(دهری سپرلي تلل او دریدل صرف دالله په قدرت سره دی)

انسان که لږ هم دغور څخه کار واخلی نوده ته به معلومه سی چې کښتی وی اوکه پروچه تلونکی سپرلی نه ددی پیداکول اوجوړول دده په قدرت کې دی نه یې چلول اودرول دده په وس کې دی انسان دخپل سطحی اوسرسری نظر په بنا سره داګڼی چې ماداجوړ کړی اوچلولی دی حالانکه حقیقت دا دی چې نه ده دغه اوسپنه لرګی پیتل المونیم وغیره پیدا کړی دی کوم چې ددی ټولو سپرلیو خام مواد دی اونه دده وس رسیږی چې یوه توله اوسپنه یایو فټ لرګی پیداکړی بیاددی خامو شیانو مَتِیْرِیَلْ (مادی) څخه دقسم قسم ګل پرزو جوړولو عقل او پوهه چا ورکړه؟ ایا داعقل اوپوهه انسان په خپله پیداکړه؟ که په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله پیدا کول دانسان په وس کی وای نوپه دنیا کی به یوبی وقوفه او کم عقل نه وای پاته هرسړی به افلاطون اوارسطو جوړیدی د کوم ځای څخه لرگی د کوم ځای څخه اوسپنه د کوم ځای څخه آلات او اوزار استعمال سول دسپرلی ډانچه هم جوړه سوه اوس په منونو اوتنونو درونو بار پورته کولو په مخکی ددننه کولو یاپه هواکی دالوتلو دپاره چی دکوم طاقت (یعنی پاور) ضرورت دی هغه براهره خبره ده کی دپټرولو څخه حاصل سی یادهوا او اوبو دتکر څخه په برقی صورت کی حاصل سی پرهرحال دسوچ خبره داده چی په دی ټولوکی انسان کوم یوشی پیدا کړی دی پټرول ده پیدا کړی دی اوکه هوا اواوبه د جوړکړل په دی کی داکسیجن هائیډروجن طاقتونه ده پیدا کړل ؟

که انسان لږ هم دعقل څخه کار واخلی نوده ته به دسائنس دترقی په دی دور کی اوعجیبه عجیبه کارونو کولوکی هم خپله عاجزی اوبی وسی په نظر ورسی اوددی اقرار دکولو څخه بغیر به پاته نه سی چی دهری سپرلی تلل اودریدل ټول دخالق کائنات حق تعالی په قبضه کی دی .

غافله انسان خپل ظاهری جوړول ماتول اوتصرفات کول چی دوهم نوم یی دسائنس ایجادات دی په دی باندی دفخر اوغرور په نشه کی داسی مستیږی چی اصل حقیقت یی دسترگو څخه پناه سی الله ﷻ دخپلو پیغمبرانو په ذریعه دغفلت داپرده څیروی اود: بِسْمِ اللهِ مَجْرِيهَا وَمُرْسٰهَا اصل حقیقت راوړاندی کوی په لیدو کی خودا یودوه لفظی فقره ده مگر چی فکر باندی وسی نودایوه کیلی ده دیوی داسی دروازی په کمی سره چی انسان په دی مادی دنیاکی داوسیدو سره سره دروحانی دنیا اوسیدونکی جوړیږی اود کائناتو په ذره ذره کی دحق تعالی دجمال لیدونکی جوړ سی .

په دی سره دمومن په دنیا اودکافرپه دنیاکی فرق واضح کیږی پرسپرلی دواړه سپریږی لیکن دمومن قدم چی کله سپرلی ته خیژی نودی په دی باندی صرف دمخکی مسافت نه قطع کوی بلکه دعالم بالا سره یی هم اشنا کوی .

په دوهم اودریم آیت کی یی دانبوولە چی کله دحضرت نوح ﷺ ټول اهل وعیال په کښتی کی سپاره سول مگر یوهلك چی نوم یی کنعان ښوولی کیږی دسپریدو څخه پاته سو نو دپدرانه شفقت په وجه حضرت نوح ﷺ ده ته اواز وکی چی زمونږ سره کښتی ته راسه دکافرانوسره مه کیږه غرق به سی دی هلك دکافرانودښمنانوسره تعلق ساتی اوپه حقیقت کی کافر وو مگر غالبًا چی حضرت نوح ﷺ ته دده دکافر کیدو په یقینی طور سره علم نه وو اوکه علم ورته وو نودکفرڅخه دتوبه کولو اوایمان راوړلو ددعوت په طوریی ده ته په کښتی کی دسپریدو اودکافرانو دملگرتیا پریښوولو نصیحت وفرمایی مگردی بدبخت دغه وخت هم طوفان سرسری وگنی اووی ویل چی ته فکرمه کوه زه به غره ته وخیژم دطوفان څخه به خلاص سم حضرت نوح ﷺ بیا پوه کی چی ظالم په څه خیال کی دی نن یوه جگه ابادی یاغر دالله ﷻ دعذاب څخه خلاصوونکی نسته اودخلاصیدوهیڅ صورت بغیرددی څخه نسته چی الله ﷻ په هغه رحم وکی دپلار زوی داخبری ترلیری پوری روانی وی چی یوه څپه ددی طوفان راغله اوزوی یی لاهوکی په تاریخی روایتونوکی دی چی دحضرت نوح ﷺ دطوفان اوبه دلوی څخه دلوی غر ترسر پنځلس گزه اودځینو روایتونو په لحاظ سره څلویښت گزه لوړی وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په څلورم آیت کی دطوفان ختمیدو اوحالاتو برابریدو بیان داسی سوی دی چی الله ﷻ مخکی ته خطاب وکی اوحکم یی ورکی: يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ ای مخکی! ته خپلی اوبه تیری کړه مراد داوو چی څومره اوبه دمخکی څخه راخوتکیدلی وی ددی دپاره یی داحکم ورکی چی دغه بیا خپل خان ته کښته کړه آسمان ته حکم وسو چی اوس اوبه اورول بند کړه دغه شان دمخکی راوتلی اوبه بیامخکی ته دننه ولاړی اودآسمان څخه نوری اوبه اوریدل بندی سوی دآسمان څخه چی څومره اوبه اوریدلی وی هغه ته الله ﷻ ددریابونو اونهرونو شکل ورکی چی په دی سره انسان فائده واخلی (قرطبی ومظهری)

په دی آیت کی الله ﷻ آسمان اومخکی ته خطاب کړی دی اوحکمونه یی ورکړی دی حال دا دی چی په بنکاره خودادځه شعور شیان نه دی په دی وجه خینو حضراتو داپرمجاز او استعاره باندی حمل کړیده مګر واقعه داده چی زمونږ په نظرکی اوزمونږ په اعتبار سره چی ددنیا څومره شیان بی شعوره بی حسه بی جانه دی په حقیقت کی داټول دروح او شعور خاوندان دی البته د دوی شعور اود دوی ادراك ددی درجی نه دی دکمی درجی چی انسان وغیره ته حاصل دی په دی وجه دوی بی شعوره مقرر سول اودشرعی احکامو مکلف جوړل نه سول دقرآن مجید ډیر ایتونه پردی شاهد دی لکه: وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ یعنی یوشی داسی نسته کوم چی دالله ﷻ حمد اوتسبیح نه وایی اودانبکاره ده چی دالله ﷻ حمد اوثنا دده پرپیژندو موقوفه ده اوپیژندل پرعقل اوشعور باندی ددی څخه معلومه سوه چی په هرشی کی عقل اوشعور دخپلی خپلی حوصلی مطابق موجود دی په دغه عقل اوشعور سره دی خپل خالق پیژنی اوپه کوم کار باندی چی دی دده پیدا کوونکی لګولی دی دغه کارهرشی ښه پیژنی اودهغه په اداکولوکی ښه په مضبوطی سره لګیدلی دی دقرآن دایت: اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى هم دامطلب دی په دی وجه په دی آیت کی که مخکی اوآسمان ته خطاب په حقیقی معنی کی خطاب کول مقرر سی نو هیڅ باك نسته ځکه چی په قول دمولانای روم رحمه الله.

خاك وباد وآب وآتش زنده اند با من وتو مرده با حق زنده اند

خاوری باد اوبه اواورهڅه چی دی ما اوتاته مړه دی خودحق سبحانه وتعالی په نزد مړه نه دی بلکه ژوندی دی

دځلورم آیت په اخرکی فرمایی چی مخکی او آسمان حکم ومنی نودطوفان قصه ختمه سوه اودحضرت نوح ﷺ کښتی پرجودی غره باندی ودریده اوظالمانو ته (دهمیشه دپاره درحمت څخه لیری) وویل سوه.

جودی غرنن هم په دی نوم سره قائم دی ددی محل وقوع دحضرت نوح ﷺ داصلی وطن عراق دموصول په شمال کی دجزیره ابن عمر په خوا کی دآرمینیه پرسرحد باندی دی دا یوه غریزه سلسله ده چی دیوی حصی نوم یی جودی دی ده یوی حصی ته اَرَارَاط ویل کیږی په موجوده تورات کی یی دکښتی ددریدو مقام دارارَاط غر ښوولی دی په دی دواړو روایتونوکی څه داسی خاص تضاد نسته مګر په مشهورو پخوانیو تاریخونوکی هم دا دی چی دحضرت نوح ﷺ کښتی پرجودی غره دریدلی وه.

په پخوانیو تاریخونو کی داذکر هم دی چی دعراق په ډیرو ځایونوکی ددی کښتی ټکړی تراوسه پوری موجودی دی چی دتبرك په طور یی استعمالول اوایښوول کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په تفسیر طبری اوبغوی کی دی چی حضرت نوح ﷺ درجب په لسمه په کښتی کی سپورسوی وو ترشپږو میاشتو پوری داکښتی په طوفان کی روانه وه کله چی دبیت الله شریفی مقام ته ورسیده نواووه واړه یی طواف وکی الله ﷻ خپل کور لوړ کړی وو اود غرقیدو څخه یی محفوظ کړی وو بیا دمحرم په لسمه دعاشوری په ورځ طوفان ختم سو اوکښتی پرجودی غره باندی ودریده حضرت نوح ﷺ په دغه ورځ دشکرانی په طور روژه ونیوله اوپه کښتی کی چی څومره سړی د دوی سره وه ټولو ته یی دروژی حکم وکی په څینو روایتونوکی دی چی په کښتی کی سپرو ټولو حیواناتوهم روژه ونیوله (مظهری وقرطبی) دعاشوری دروژی یعنی دمحرم دلسم تاریخ اهمیت دپخوانو پیغمبرانو په ټولو شریعتونو کی راروان دی داسلام په ابتداء کی درمضان دروژو فرض کیدو څخه مخکی دعاشوری روژه فرض وه درمضان دروژو فرض کیدو څخه وروسته فرض نه ده مګر سنت اولوی ثواب یی دهمیشه دپاره دی.

وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ وَاِنَّ وَعْدَكَ

او وبولی نوح ﷺ خپل رب وی ویل ای ربه زما زوی دی زما داهل څخه او بیشکه ستا وعده،

الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِیْنَ ﴿۴۵﴾ قَالَ یٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَیْسَ مِنْ اَهْلِكَ

رښتنی ده او ته دټولو څخه لوی حاکم یی وی فرمایل ای نوح ﷺ دغه نه دی ستا داهل څخه دده

اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ

کار دی خراب نو ته سوال مه کوه زما څخه دکوم چی تاته معلوم نه وی،

اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُ بِكَ

زه نصیحت کوم تاته چی نه سی ته په جاهلانوکی، وی ویل ای ربه زه پناه غواړم ستا

اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَیْسَ لِیْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِیْ وَتَرْحَمْنِیْۤ اَكُنْ مِّنَ

دی څخه چی سوال وکړم ستا څخه کوم چی معلوم نه وی ماته، اوکه ته ونه بخښی ما او رحم ونه کړی نو زه به سم

الْخٰسِرِیْنَ ﴿۴۷﴾ قِیْلَ یٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَیْكَ وَعَلٰۤى اُمَمٍ

دنقصان کوونکو څخه، حکم وسو ای نوح ﷺ کښته سه په سلامتیا سره زمونږ دطرف څخه اودبرکتونو سره پرتا

مِّمَّنْ مَّعَكَ ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ یَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۴۸﴾ تِلْكَ

باندی اوپه هغو فریقو چی ستاسره دی او نورې فریقی دی چی مونږ به فائده ورکړو دوی ته بیا به ورسیږی دوی ته

Maktaba Tul Ishaat.com

زمونږ دطرف څخه عذاب درد ناك ، دا خبری تولی

مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ۚ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ

دغیبو دخبرونو څخه دی ، چی مونږ یی لیږو ستا طرف ته نه ته ددی څخه خبر وی او نه ستا قوم ،

مِنْ قَبْلِ هٰذَا ۛ فَاصْبِرْ ۛ اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۹﴾

ددی څخه مخکی ، نو ته صبر کوه بیشکه انجام (ښه) دی دپیریدونکو .

لنډتفسیر: او (کله) چی نوح (علیه السلام) کنعان ته دایمان راوړلو دپاره وفرمایل اوده ونه منله نوددې دغرقیدو څخه مخکی ده په دی امید چی شاید الله ﷻ په خپل قدرت سره دده په زړه کی ایمان واچوی اوایمان راوړی) خپل رب وبلی او (عرض یی وکی چی ای زماربه! زما دازوی زما دکور والاوو څخه دی اوستا (دا) وعده بالکل ربښتنی ده (چی ستا په کور والاوو کی کومو چی ایمان راوړی دی هغه به خلاص کړم) او (که څه هم دی فی الحا ل ایمان والا اومستحق دنجات نه دی لیکن) ته احکم الحاکمین (اولوی قدرت والا) یی (که ته وغواړی نودی مومن جوړولی سی چی دی هم ددی حقی وعدی محل جوړسی خلاصه دعرض کولو دعاوه دده دمومن کیدو دپاره) الله ﷻ ارشاد وفرمایی چی ای نوح ! داسړی (زماپه علم ازلی کی) ستاپه (دی) کوروالا وو کی نه دی (کوم چی ایمان راوړی نجات پیدا کی یعنی دده په قسمت کی ایمان نسته لکه چی) دی (ترخاتمی پوری) تباه کار (یعنی کافر پاته کیدونکی) دی پس ماته ددا سی شی درخواست مه کوه د کوم چی تاته خبر نسته (یعنی ددا سی احتمالی کار دعامه کوه) زه تاته نصیحت کوم چی ته په ناپوهانو کی داخل نه سی نوح (علیه السلام) عرض وکی چی زه ستا پناه غواړم ددی څخه چی (ائنده) تاته ددا سی کار درخواست وکړم د کوم چی ماته خبرنه وی او (تیر راته معاف کړی ځکه چی) که ته زما مغفرت ونه فرمایی اوپه مارحم ونه فرمایی نوزه خوبه بالکل تباه سم (کله چی په جودی غره کښتی ودریده اوپه څو ورځوکی اوبه) بالکل لاندی ولاړی دغه وخت نوح (علیه السلام) ته وویل سوه (یعنی الله ﷻ په خپله یادملائکی په ذریعه سره ارشاد وفرمایی) چی ای نوح! (اوس دجودی څخه مځکی ته) کښته سی زمونږ دطرف څخه په سلامونو اوبرکتونو سره کوم چی پرتاسی به نازل سی اوپه هغو جماعتونو کوم چی ستاسره دی (څکه چی دده سره ملګری ټول مسلمانان وه اوددې علت په وجه سره ترقیامته پوری پرټولو مسلمانانو هم دسلامونو اوبرکتونو نازلیدل معلوم سو) او (چونکی داکلام په وروسته راتلونکو مسلمانانو باندی هم دبرکتونو په نازلیدو دلالت کوی اوپه وروستوکی به ځینی کافران هم وی په دی وجه د دوی حال هم بیانوی چی) دیر داسی ټولګی به هم وی چی مونږ به دوی ته (په دنیا کی) څو ورځی عیش ورکړو بیابه (په اخرت کی) پردوی باندی زمونږ دطرف څخه سخته سزاواقع سی داقصه (ستاپه اعتبارسره) منجمله دغیبو دخبرونو څخه ده کومه چی مونږ دوحی په ذریعه سره تاته رسوو دا (قصه) ددی (زمونږ دښوولو) څخه مخکی نه تاپیژنده اونه ستاقوم (پیژنده په دی اعتبار سره غیب وو اوبغیر دوحی څخه نور ټول اسباب دعلم یقیناً چی نیست وه پس ثابته سوه چی تاته دوحی په ذریعه سره معلومه

Maktaba Tul Ishaat.com

سوي ده اودانبوت دی لیکن داخلګ وروسته دثبوت څخه هم ستا مخالفت کوی، پس صبر کوه (لکه چی په دی قصه کی دحضرت نوح ﷺ صبر تاته معلوم سوی دی، یقیناً دانجام نیك والی خاص دمتقیانو دپاره دی (لکه چی دحضرت نوح ﷺ په قصه کی معلومه سوه چی دکفارو انجام بد اودمسلمانانو انجام ښه سو دغه شان ددی کفارو یو څو ورځی زور اوشور دی پیاپه اخر کی به غلبه دحق وی،

معلومات اومسئلي: دسورة هود په دی ذکرسوو پنځو ایتونو کی دحضرت نوح ﷺ دطوفان باقی قصه اوددی متعلق هدایتونه ذکر دی.

دحضرت نوح ﷺ زوی کنعان کله چی دوالد بزرګوار دنصیحت اودعوت باوجود په کښتی کی سپورنه سو ن چی دی یی دطوفان په څپوکی ګیر ولیدی نوشفقت دپلارروالی بیا بله لار اختیار کړه چی دالله رب العزت په دربار کی یی عرض وکی چی تازما سره وعده فرمایلی ده چی زما دکور خلګ به دطوفان څخه خلاصوی اوبیشکه ستا وعده حقه او صحیح ده مګر حال دا دی چی زما زوی چی زما دکور په خلګو کی داخل دی دی دطوفان نذر کیږی اوته خو احکم الحاکمین یی هرشی ستا په قدرت کی دی اوس هم دی دطوفان څخه خلاصولی سی.

په دوهم آیت کی دالله ﷻ دطرف څخه ددی په جواب کی حضرت نوح ﷺ خبردار کی چی داهلك ستا په اهل اوعیال کی داخل نه دی پاته سوی څکه چی دده عمل ښه نه دی بلکه تباه کاردی په دی وجه تاته نه دی په کار چی ددی حقیقت دحال څخه ناخبره سی زما څخه سوال وکړی مونږ تاته نصیحت کوو چی په ناپوهو کی مه دا خلیږه.

دحق تعالی ددی ارشادڅخه دوی خبری معلومی سوی اول دا چی حضرت نوح ﷺ ته ددی زوی دکفر پوره حال معلوم نه وو دده دنفاق په وجه سره هغه دی مسلمان ګڼی په دی وجه یی دی دخپل خاندان یو فرد وګڼی اودطوفان څخه دخلاصیدو دعایی وکړه کنه نوکه ده ته دحال حقیقت معلوم وای نو داسی دعا به یی نه کولی څکه چی ده ته په واضح طور سره اول داهدایت ورکول سوی وو چی کله طوفان راسی نوته بیا په دی سرکښانوکی دچا متعلق دڅه سفارش خبری مه کوه لکه چی په اولنی آیت کی تیر سوی دی: وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ ددی صفا اوواضح حکم څخه وروسته ناممکنه وه چی دخدای پیغمبر ددی دخلاف ورزی جرات وکړی بغیر ددی احتمال څخه کوم چی لوړ په لنډ تفسیر کی اخستل سوي دی چی ددی دعا مطلب ددی زوی دمومن کیدو دعاوه دانه ده چی دی په موجوده حالت کی دطوفان څخه خلاص کړی لیکن دحضرت نوح ﷺ دده دکفر څخه لا علمی اوپردغه بنا دنجات دعا هم الله ﷻ صحیح عذر مقررنه کی اوپه دی وجه یی خبرکی چی بغیر دعلم څخه داسی دعادی ولی وکړه اودا دپیغمبرانه شان یوداسی خطا ده کوم چی به حضرت نوح ﷺ هم هغه وخت په خپل عذرکی پیش کوی کله چی په محشر کی دخدای ټول مخلوق ده ته دشفاعت کولو درخواست وکی نودی به وفرمایی چی زما څخه داسی خطا سوي ده په دی وجه زه دشفاعت زړه ورتیا نه سم کولی.

(دکافر اوظالم دپاره دعا جائزه نه ده)

ددی څخه یوه مسئله داهم معلومه سوه چی ددعا کولو دپاره داضروری ده چی دعا کوونکی اول

Maktaba Tul Ishaat.com

دامعلومه کړی چی د کوم کار دپاره دعا کوی هغه حلال او جائز دی اوکه نه دی په شکمن حالت کی ددعا کولو څخه منع سوي ده په تفسیر روح المعانی کی په حواله دقاضی بیضاوی نقل کړی دی چی کله ددی آیت څخه دشکمن حال دپاره ددعا کولو ممانعت معلوم سو نودکومی معاملی ناجائز والی اوحرام والی چی معلوم وی دهغه دپاره ددعا ناجائز والی خوپه درجه اولی معلوم سو.

ددی څخه معلومه سوه چی نن صبا په مشائخو کی چی کوم داعام رواج دی چی کوم سړی ډیو دعا دپاره راسی نودهغه دپاره لاس لوړ کړی اودعا کوی حال دا دی چی اکثرو ته په دوی کی داهم معلومه وی چی دکومی خبری دپاره دی دعا غواړی په هغه کی دی په خپله په ناحقه دی یاظالم دی یادداسی مقصد دپاره دعا غواړی کوم چی دده دپاره حلال نه دی یوداسی ملازمت اومنصب دی په کوم کی چی به دی په حراموکی اخته سی یابه دچاحق ووهی اوپه خپل مقصد کی به کامیاب سی.

داسی دعاګانی خودحالت معلومیدو په صورت کی حرامی اوناجائزی دی اوکه حالت شکمن هم وی نودحال حقیقت اودمعاملی دجائزوالی علم حاصلولو څخه بغیر ددعا دپاره اقدام کول هم مناسب نه دی

(په مومن اوکافر کي دوروولي تعلق نه سي کيدی دوطن يانسب پربنياد دقوميت جوړول داسلام داصولو څخه بغاوت دی)

دوهمه مسئله ددی څخه دامعلومه سوه چی دمومن اوکافر په مینځ کی که دخپلولی تعلق وی مګرپه دینی اواجتماعی معاملاتو کی ددی تعلق یو اثر نه وی یوسړی څومره لوي نسبی وی اوڅومره دنوی بزرګ اولاد وی تردی چی دسید الانبیاء ﷺ په اولاد کی ددا خلیدو شرف لری که دی مومن نه وی نوپه دینی معاملو کی دده دلوی نسب اونبوی خپلولی هم یو لحاظ نه سی کیدی په ټولو دینی معاملاتو کی خومدار دکار پرایمان اوصلاح اوتقوی باندی دی کوم چی صالح اومتقی وی هغه خپل دی کوم چی داسی نه وی هغه په دی دی.

هزار خویش که بیګانه از خدا باشد فدائی یك تن بیګانه کآشنا باشد

په زرګونو خپلوان چی دخدای څخه پردی وی دیوپردی څخه قربان سه چی دخدای سره خپل وی که په دینی معاملاتو کی هم ددی رشته دارو رعایت وای نودبدر او اُحد په میدانونو کی به د ورور توره پر ورور باندی نه چلیده دبدر احد اواحزاب جنګونه خوټول دیوخاندان دافرادو په مینځ کی سوی وه ددی څخه واضحه سوه چی اسلامی قومیت او وروولی په نسبی تعلقاتو یاوطنی اولسانی وحدتونو باندی نه ده بلکه په ایمان اوعمل باندی ده ایماندار برابره خبره د کوم ملك اوسیدونکی د کوم خاندان افراد اوکومه ژبه ویونکی چی وی ټول یوقوم اویوه وروولی ده د: اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ هم دامطلب دی او کوم چی دایمان اوعمل صالح څخه محرومه وی هغه داسلامی وروولی افراد نه دی قرآن کریم دحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ په ژبه داحقیقت ډیر په واضحو الفاظو کی بیان کړی دی: اِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ یعنی مونږ ستاسی څخه هم بیزاره یو اوستاسی دمعبودانو څخه هم.

په دی مسئله کی احقر ددینی معاملاتو قید په دی وجه لګولی دی چی په دنیوی معاملاتو کی دنبه روزګار نبو اخلاقو اواحسان اوکرم سلوك کول جلاشی دی هغه دغیر صالح سره هم جائز بلکه نبه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوثواب دی دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ معاملی اودغیر مسلمو سره داحسان اوښه سلوك بی شمیره واقعات په دی شاهد دی.

نن چی کوم وطنی یالسانی یالونی بنیادونو باندی قومونه جوړیږی سی مثلاً عرب برادری یو قوم اوهندی سندهی بل قوم مقرریږی سی دادقرآن اوسنت خلاف اودنبی کریم ﷺ داصولو څخه بغاوت دی.

په دریم آیت کی دحضرت نوح ﷺ دطرفه چی کوم معذرت پیش سوی دی دهغه ذکردی چی خلاصه یی دالله ﷻ طرف ته رجوع اوالتجاء اودغلطو کاروڅخه دبچ کیدو دپاره دالله ﷻ دپناه اخستو دعا اوبیا پرتیره خطا دمعافی اومغفرت اورحمت درخواست د ددی څخه معلومه سوه چی دانسان څخه که یو خطاء وسی نوائنده دهغه څخه دخلاصیدو دپاره دی یوازی په خپل قصد اواراده باندی بروسه نه کوی بلکه دالله ﷻ څخه دی پناه او دادعا وغواړی چی یا الله خاص ته مادخطاګانو اوګناهونو څخه خلاصولی سی په څلورم آیت کی دطوفان خاتمه داسی بیان سوي ده چی کله طوفان ختم سو اودحضرت نوح ﷺ کښتی پرجودی غره ودریده اودمځکی اوبه مځکی کش کړی اودآسمان باقیمانده اوبه دنهرونو اودریابونو په شکل کی محفوظ سوی ددی په نتیجه کی مځکه دانسان داوسیدو دپاره قابله سوه نوحضرت نوح ﷺ ته وویل سوه چی اوس ته دغرڅخه مځکی ته کښته سه اوڅه فکرمه کوه څکه چی ستاسره به زمونږ دطرف څخه سلامتی اوبرکتونه وی یعنی دافتونو اومصیبتونو څخه سلامتی اوپه مال اواولاد کی به فراخی او برکت وی.

ددی ارشاد مطابق دطوفان څخه وروسته په دنیا کی ټوله انسانی ابادی دحضرت نوح ﷺ اولاد دی قرآن کریم بل ځای فرمایی چی: وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ یعنی ددی واقعی څخه وروسته په دنیا کی باقی پاته کیدونکی ټول قومونه دحضرت نوح ﷺ داولاد څخه دی په دی وجه حضرت نوح ﷺ ته تاریخ دانان دادم ثانی نوم ورکوی.

بیا دادسلامت اوبرکت وعده کومه چی دحضرت نوح ﷺ سره سوي ده صرف ددې ترذاته پوری محدوده نه ده بلکه فرمایی: وَعَلَىٰ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ یعنی کوم امتونه اوجماعتونه چی ستاسره په کښتی کی سپاره دی پردوی به هم دالله ﷻ دطرف څخه سلامتی اوبرکت نازل وی دحضرت نوح ﷺ سره په کښتی کی سپرېدونکوته په آیت کی: أُمَمٌ ویل سوی کوم چی دَ: أُمَّةٌ جمع ده مطلب یی دا دی چی داپه کښتی کی سپرېدونکی په مختلفو قومونو اوامتونو باندی مشتمل وه حال دا دی چی اول معلومه سوي ده چی په کښتی کی سپرېدونکی زیات تره دحضرت نوح ﷺ دخاندان خلګ وه اودشمیر یوڅو تنه نور مومنان هم وو نودی خلګو ته مختلف امتونه اوقومونه په دی لحاظ سره ویل سوی دی چی د دوی په راتلونکو نسلونو کی به مختلف قومونه اوامتونه وی ددی څخه معلومه سوه چی په: أُمَمٌ مِّمَّن مَّعَكَ کی هغه ټول دانسان نسلونه داخل دی کوم چی ترقیامته پوری پیدا کیږی.

په دی وجه ددی ضرورت پیښ سو چی دسلامت اوبرکت په مضمون کی تفصیل وسی څکه چی ترقیامته پوری په راتلونکی انسانی نسل کی خوبه مومنان هم وی اوکافران هم دمومن دپاره خوسلامت اوبرکت دخپلی عامی معنی په اعتبار سره درست دی چی په دنیاکی به هم دوی ته سلامت اوبرکت نصیب وی اوپه اخرت کی هم لیکن په دی نسل کی چی کوم کفاروی دوی خوبه دجهنم په دائمی عذاب کی اخته وی

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوی دسلامت او برکت محل مقررول به یو دول صحیح وی؟ په دی وجه دایت په اخر کی یی وفرمایل وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِنَّا عَذَابٌ اَلِيمٌ : یعنی ددنیا سلامتیا اوبرکت خو دالله ﷻ بی دریغه سترخوان دی چی دوست اودښمن تول یی خوری چښی په دی کی به هغه خلګ هم شامل وی کوم چی دحضرت نوح ﷺ په اولاد کی کفر اختیار کړی لیکن داخرت نجات اوفلاح دابه صرف دمومنانو دپاره خاص وی کافر ته به دده دنیك عمل بدله په دنیا کی ورکول سی حساب به یی باقی سی په اخرت کی به دده دپاره بغیر دعذاب څخه نور هیڅ نه وی.

دطوفان نوح داتفصیلی خبرونه نبی کریم ﷺ په ذریعه دوحی معلوم کړل اوخپل قوم ته یی واوریدل نوداواقعه په خپله دنبی کریم ﷺ په حقه دنبی کیدو یوشهادت جوړسو په دی دپوهولو دپاره په پنځم آیت کی ارشاد فرمایی چی حضرت نوح ﷺ او دده دطوفان واقعات دادغیبو خبرونه دی چی دانه تا دمخکی څخه پیژندل اونه ستاقوم عرب ددی څخه خبروه تادوی ته وښوول نو ددی لار بغیر ددی څخه بله څه کیدی سی چی الله ﷻ په ذریعه دوحی تاته ښوولی دی ځکه چی که ستا قوم تعلیم یافته اوددنیا دتاریخ څخه خبر لرونکی وای نوداخیال به هم کیدی سوای چی تابه د دوی څخه اوریدلی وی نودا واقعات به دی بیان کړی وی لیکن کله چی تول قوم هم ددی واقعاتو څخه ناخبره وو اونبی کریم ﷺ دتعلیم حاصلولو دپاره بل ملك ته تشریف هم نه دی وړی نوددی خبر لار صرف وحی مقرر سوی کومه چی دبرحق نبی کیدو واضحه دلیل دی.

دایت په اخر کی نبی کریم ﷺ ته دتسلی دپاره فرمایی چی ستا په نبوت اورسالت باندی دلمر څخه دزیاتو روښانه دلیلونو باوجود هم که ځینی بدبخته یی نه منی اوستاسره جګړه کوی نوتاته دځان څخه دمخکی پیغمبر حضرت نوح ﷺ حالاتو ته کتل په کاردی چی هغوی پوره زرکاله اوږد عمر په تکلیفونوکی تیرکی نوځنګه چی هغوی صبر وکی ته هم دغسی دصبر څخه کار واخله ځکه چی دامقرره ده چی اخر کامیابی متقیانو خلګو ته ورکول کیږی.

وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا

اوعادیانو ته ولیږی مونږ ورور د دوی هود ﷺ وی ویل ای قومه ا بندګی کوی دالله څوك ستاسی حاکم نسته ماسوا دهغه څخه تاسی ،

مُفْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ يٰقَوْمِ لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْ

تول دروغ وایاست ، ای قومه ا زه ستاسی څخه نه غواړم په دی مزدوری زما مزدوری په هغه ده چاچی زه

فَطَرَنِيْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْۤا

پیدا کړی یم بیاتاسی نه پوهیږی؟ او ای قومه ا بخښنه دګناه غواړی درب خپل څخه بیارجوع

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى

کوی هغه ته راوبه لیږی پرتاسی دآسمان څخه پرله پسی او زیات به درکړی تاسی ته زور ،

قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَّمَا

پر زور باندی اومه ورځی بیرته گناهگاران ، وی ویل ای هوده تامونږ ته یو دلیل نه دی راوړی

نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۳﴾

اومونږ نه یو پریښوونکی دخپلو خدایانو ستاپه وینا سره اومونږ نه یو تالره منونکی ،

اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ۭ قَالَ اِنِّىْٓ اُشْهِدُ

مونږ خو دا وایو چی تاته ضرر رسولی دی ځینو خدایانو زمونږ ناکاره ، وی ویل زه شاهد کوم

اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا اَنِّىْ بَرِيْۗءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ

الله او تاسی شاهد اوسی چی زه بیزاره یم دهغو څخه کوم چی تاسی شریکوی ، دهغه څخه ماسوا نو بدی کوی

جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾ اِنِّىْ تَوَكَّلْتُ عَلَي اللّٰهِ رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ۭ

تاسی تول زماپه حق کی بیاماته مهلت مه راکوی ، ما بروسه وکړه په الله باندی کوم چی رب دی زما ،

مَا مِنْ دَاۗبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا ۭ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰي صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۶﴾

اوستاسی هیڅوک نسته په مخکه گرځیدونکی مگر دالله په لاس کی دی دهغه تندی ، بیشکه زمارب دی پرلاره برابره ،

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ۭ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ

بیاکه تاسی مخ واړوی ، نو ورسوی ماتاسی ته کوم چی زماپه لاس راغلی وو تاسی ته اوقائمقام به کړی زمارب

قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْـــًٔا ۭ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ

څوك نور خلک او نه سی خرابولی تاسی دالله هیڅ ، بیشکه زمارب دی پرهرشی

حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ وَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

باندی نگهبان ، اوکله چی ورسیدی زمونږ حکم خلاص کی مونږ هود اوکومو خلکو چی ایمان راوړی وو دده سره

بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُوْا

په خپل رحمت سره اوبچ کړل مونږ هغوی دعذاب سخت څخه ، او دا وه عادیان چې منکره سول

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۵۹﴾

دخپل رب دخبرو څخه او وی نه منل دهغه رسولان او وی منل حکم دهغوچې کوم سرکښه وه مخالف ،

وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ عَادًا

او وروسته راغی په دوی پسی په دی دنیا کی لعنت او دقیامت په ورځ هم خبردار عادیان

كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ﴿۶۰﴾ وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ

منکره سول دخپل رب څخه ، خبردار لعنت دی عادیانولره کوم چې قوم وو دهود ، او دثمودیانو طرف ته ولیږی

صٰلِحًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ هُوَ اَنْشَاَكُمْ

مونږ د دوی ورور صالح ، وی ویل ای قومه ! بندګی کوی دالله هیڅوک حاکم نسته ستاسی دهغه څخه ماسوا هغه

جوړکړاست تاسی

مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ

دمځکی څخه اووی اوسولاست تاسی په دی کی ، نو بخښنه غواړی دګناه دده څخه بیا رجوع کوی ده ته

اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ﴿۶۱﴾ قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ

بیشکه زما رب نژدی دی قبلوونکی ، وی ویل ای صالحه ! ستا څخه خو زمونږ امید وو ددی څخه مخکی

هٰذَآ اَتَنْهٰىنَآ اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ؕ وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ

ایا ته مونږ منع کوی چې عبادت وکړو دکومو چې عبادت کوی زمونږ پلار اونیکه اوزمونږ خو شك دی په دی کی

دکوم طرف ته چې ته مونږ بلی ،

اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ﴿۶۲﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ

داسی چې زړه یی نه منی ، وی ویل ای قومه ! ایا وینی تاسی که ماته پوهه راکول سوی وی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

رَبِّیۡ وَ اٰتٰنِیۡ مِنۡهُ رَحۡمَةً فَمَنۡ یَّنۡصُرُنِیۡ مِنَ اللّٰهِ اِنۡ عَصَیۡتُهٗ ؕ

دخپل رب دطرف څخه او هغه راکړی وای رحمت دخپل طرف څخه بیا څوك به خلاص کړی ما دهغه څخه که زه
یی نافرمانی وکړم ،

فَمَا تَزِیۡدُوۡنَنِیۡ غَیۡرَ تَخۡسِیۡرٍ ﴿۶۳﴾ وَ یٰقَوۡمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَـكُمۡ اٰیَةً

نو تاسی هیڅ نه زیاتوی زما بغیر دنقصان څخه ، او ای قومه ! دا اوښه ده دالله ستاسی دپاره نخښه ،

فَذَرُوۡهَا تَاۡكُلۡ فِیۡۤ اَرۡضِ اللّٰهِ وَ لَا تَمَسُّوۡهَا بِسُوۡٓءٍ فَیَاۡخُذَكُمۡ

نو پریږدی دا چی خوری کرخی په مخکه دالله کی اولاس مه ورورې په بدی سره بیابه ونیسی تاسی

عَذَابٌ قَرِیۡبٌ ﴿۶۴﴾ فَعَقَرُوۡهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوۡا فِیۡ دَارِكُمۡ ثَلٰثَةَ

عذاب دیر ژر ، بیایی ددی پښی پریکړی نو وی ویل فائده واخلی په خپلو کورونو کی دری

اَیَّامٍ ؕ ذٰلِكَ وَعۡدٌ غَیۡرُ مَكۡذُوۡبٍ ﴿۶۵﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا نَجَّیۡنَا صٰلِحًا

ورځی دا وعده ده چی دروغ به نه سی ، بیا کله چی راغی حکم زمونږ خلاص کی مونږ صالح ،

وَّالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ بِرَحۡمَةٍ مِّنَّا وَ مِنۡ خِزۡیِ یَوۡمِئِذٍ ؕ اِنَّ

اوکومو چی ایمان راوړی ددی سره په خپل رحمت او ددغه ورځی درسوایی څخه بیشکه

رَبَّكَ هُوَ الۡقَوِیُّ الۡعَزِیۡزُ ﴿۶۶﴾ وَ اَخَذَ الَّذِیۡنَ ظَلَمُوا الصَّیۡحَةُ فَاَصۡبَحُوۡا

ستارب هغه دی زور والا زبردست او ونیول هغه ظالمان هیبتناك اواز بیا سهار سو

فِیۡ دِیَارِهِمۡ جٰثِمِیۡنَ ﴿۶۷﴾ كَاَنۡ لَّمۡ یَغۡنَوۡا فِیۡهَا ؕ اَلَاۤ اِنَّ ثَمُوۡدَ

په خپلو کورونو کی نسکورپراته ، لکه چی نه وی اوسیدلی دلته خبردار ثمودیان ،

كَفَرُوۡا رَبَّهُمۡ ؕ اَلَا بُعۡدًا لِّثَمُوۡدَ ﴿۶۸﴾ ع

منکره سول دخپل رب څخه خبردار لعنت دی په ثمودیانو باندی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لغات تفسیر: اومونږ (قوم د) عادیانو طرف ته د دوی (برادری یاوطن) ورور (حضرت) هود (ﷺ پیغمبر جوړکی) ویی لیږی دوی (خپل قوم ته) وفرمایل ای زما قومه! تاسی (صرف) دالله ﷻ عبادت کوی دهغه څخه ماسوا څوك ستاسی (د) معبود (کیدو قابل) نسته تاسی (ددی بت پرستی په عقیده کی) محض دروغ جوړونکی یاست (څکه چی ددی باطلوالی په دلیل سره ثابت دی) ای زماقومه! (زمانبوت چی کوم په دلائلو ثابت دی ددی زیات تائید ددی څخه هم کیږی چی) زه ستاسی څخه (پرتبلیغ) څه معاوضه نه غواړم زما معاوضه خوصرف دهغه (الله) په ذمه ده چاچی زه (دمحض عدم والی څخه) پیداکړم بیا ایاتاسی (په دی) نه پوهیږی (چی دلیل دنبوت موجوددی اوددی څخه خلاف څه وجه دشبهی نسته بیا په نبوت کی دشك څه وجه ده؟) اوای زماقومه! تاسی دخپلی ګناه (کفر اوشرك) دخپل رب څخه معافی وغواړی (یعنی ایمان راوړی او) بیا (دایمان سره) دهغه طرف ته (په عبادت سره) متوجه اوسی (یعنی نیك عمل کوی پس دایمان اونیك عمل په برکت سره) هغه به پرتاسی ښه باران واوروی (په در منشورکی دی چی پرقوم دری کاله پرله پسی قحط راغلی وو اوهسی خوهم باران په کاردی) او (دایمان اوعمل په برکت سره) تاسی ته به قوت درکړی ستاسی په (موجوده) قوت کی به ترقی وکړی (پس ایمان راوړی) اوپه مجرمانو کیدو سره (دایمان څخه) منعه مه کوی دی خلګو جواب ورکی چی ای هوده! تازمونږ په مخکی (الله ﷻ دطرف څخه دخپل رسول کیدو) یو دلیل خو پیش نه کی (دا خبره د دوی دعناد څخه وو) او مونږ ستا (صرف) په ویناسره خودخپلو معبودانو (دعبادت) پریښوونکی ګرسره نه یو اومونږپه هیڅ شان سره په تایقین کوونکی نه یو (او) زمونږ وینا خو دا ده چی زمونږ په معبودانو کی یو چا ته په یو خرابی (لکه لیونتوب وغیره) کی اخته کړی یی (چونکی تاد دوی په شان کی ګستاخی کړیده نودوی لیونی کړی څکه خوداسی دلیونیو خبری کوی چی خدای یودی اوزه نبی یم) هود ﷺ وفرمایل چی (کومه تاسی دا خبره کوی چی یوبت ته لیونی کړی یی نو) زه (په ډاګه) الله ﷻ شاهد کوم اوتاسی هم (واوری او) شاهد سی چی زه دهغه شیانو څخه (بالکل) بیزاره یم کوم چی تاسی (په عبادت کی) دخدای څخه ماسوا شریك ګڼی پس (زما دښمنی خوداول څخه ښکاره ده اواوس په دی اعلان دبیزاری سره نوره هم مضبوطه سوه نوکه په دی بتانوکی څه قوت وی نو) تاسی (اودغه) ټول یوځای سی زماسره (هرقسم) چی هرڅه تدبیرونه کوی وکړی (او) بیا ماته یوه ذره مهلت مه راکوی (اوهیڅ کسر پاته نه کړی نوبیا هم تاسی زماسره هیڅ نه سی کولی اوکله چی تاسی اودغه ستاسی معبودان په جمع هم څه نه سی کولی نویوازی به دوی څه خاوری وکړی سی اوزه دادعوی څکه چی په ډاډه زړه سره کوم چی بتان خومحض عاجزه دی د دوی څخه خوځکه نه بیریږم پاته سواست تاسی پس تاسی ته خوڅه قدرت اوطاقت حاصل دی لیکن زه ستاسی څخه څکه نه بیریږم چی) ماپه الله ﷻ باندی توکل کړی دی کوم چی زماهم مالك دی اوستاسی هم مالك دی څومره چی پرمخ دمخکی ګرځیدونکی دی دټولو تندی هغه نیولی دی (یعنی ټول دهغه په قبضه کی دی بغیر دهغه دحکم څخه څوك غوږ نه سی رپولی په دی وجه زه ستاسی څخه نه بیریږم) او (ددی تقریر څخه یوه نوی معجزه هم ښکاره سوه چی یوسړی په یوازی دداسی لویو زور اورو خلګو سره داسی دخلاف خبری وکړی اوهغوی هیڅ ونکړی پس دغو چی کوم ویل: مَاجِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ ددی څخه ددی هم یوجواب وسو چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دتیری معجزی څخه قطع نظر وسی نودا دوهمه معجزه ده نوپرنبوت باندی دلیل قائم سو اوپه دی کی چی کومه منشاء دشك وه: اِعْتَرٰكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ددی هم جواب وسو پس نبوت ثابت سو اوددی څخه دتوحید واجب والی هم ثابت سو د کوم طرف ته چې زه دعوٰی کوم اوستاسی وینا: مَانَحْنُ بِتَارِكِیْٓ اٰلِهَتِنَا باطله سوه او سیده لار (داده او) یقیناً زما رب په سیده لار (چلیدو سره ملاویدونکی) دی (پس تاسی هم داسیده لار اختیار کړی چې مقبول اومقرب جوړسی) بیاکه (ددی بلیغ بیان څخه وروسته هم) تاسی (دحقی لاری څخه) واپس راځی نوزه خو (به معذور وګڼل سم څکه چی) د کوم پیغام ورکولو سره راالیږل سوی یم هغه ماتاسی ته ورسوی (لیکن ستاسی کوم بختی به راسی چی الله ﷻ به تاسی هلاك کړی) اوستاسی په ځای به زما رب نور خلګ پردی مخکه ابادکړی (پس تاسی په دی کفر اومخ اړولوکی خپل نقصان کوی) اودهغه به ستاسی هیڅ نقصان ونه سی (اوکه په دی هلاکت کی تاسی ته داشك وی چی خدای ته څه خبردی چی څوك څه عمل کوی نوښه پوه سی چی) یقیناً زمارب دهرشی ساتنه کوی (هغه دهرڅه څخه خبروی غرض داچی ددی تولوحجتونو څخه وروسته هم که دی خلګو ونه منله) او (اسباب دعذاب شروع سو پس) کله چی زمونږ حکم (دعذاب دپاره) راورسیدی (اودهوا دطوفان عذاب نازل سو نو) مونږ هود ﷺ ته (اوکوم چې دده ملګری ایماندارو دوی موږه خپلی مهربانی سی (ددی عذاب څخه خلاص کړل) اودوی مونږ دیودیر لوی سخت عذاب څخه خلاص کړل (مخ ته اوس نورو ته دعبرت دپاره فرمایی) او دا (دکومو چې ذکر وسو) دعادیانو قوم وو کوموچی دخپل رب دایتونو څخه (یعنی دلیلونو اوحکمونو څخه) انکار وکی اودهغه درسولانو خبره یی ونه منله اوتول ددی خلګوپه خبره پسی روان سول کوم چې ظالمان (او) ضدیان وه او (ددی کارونو نتیجه داسوه چې) په دی دنیا کی هم لعنت د دوی سره سره سو اودقیامت په ورځ هم (د دوی سره سره به وی چنانچی په دنیا کی ددی اثر دطوفان په عذاب سره هلاکیدل وو اوپه اخرت کی به دائمی عذاب وی) ښه واوری قوم دعادیانو دخپل رب سره کفر وکی ښه واوری (ددی کفر سزا داسوه چې) په دی دنیا کی هم لعنت د دوی سره سره سو اودقیامت په ورځ هم (د دوی سره سره به وی چنانچی په دنیاکی ددی اثر دطوفان په عذاب سره هلاکیدل وو اوپه اخرت کی به دائمی عذاب وی) ښه واوری قوم دعادیانو دخپل رب سره کفر وکی ښه واوری (ددی کفر سزا داسوه چې) درحمت څخه لیری سول (په دواړو جهانوکی) عادیان کوم چی دهود ﷺ قوم وو اومونږ (قوم د) ثمودیانو ته د دوی ورور صالح ﷺ پیغمبر جوړکړی ولیږی دوی (خپل قوم ته) وویل ای زما قومه! (صرف) دالله ﷻ عبادت کوی دهغه څخه ماسوا څوك ستاسی (د) معبود (کیدوقابل) نسته (دهغه پرتاسی داانعام دی چی) هغه تاسی دمخکی (دمادی) څخه پیداکړاست اوتاسی یی په دی (مخکه) کی ابادکړاست (یعنی دپیدا کولو اوباقی پاته کولودواړو نعمتونه یی درکړل چی په دی کی تول نعمتونه راغلل کله چی هغه داسی منعم دی) نوتاسی دخپلی ګناه (شرك اوکفر وغیره) دهغه څخه معافی وغواړی (یعنی ایمان راوړی او) بیا (دایمان راوړو څخه وروسته) دهغه طرف ته (په عبادت سره) متوجه سی (یعنی نیك عمل کوی) بیشکه زما رب هغه سړی ته نژدی دی (کوم چی دهغه طرف ته متوجه سی اوددغه سړی عرض) قبلوونکی دی (کوم چی دده څخه دګناه معافی غواړی) دغو خلګو ووایل ای صالحه! ته خوددی څخه مخکی په مونږکی

Maktaba Tul Ishaat.com

هوښیار (معلوم) وی (یعنی زمونږ ستا څخه امیدوو چی دخپل لیاقت اولویی په وجه سره به دقوم فخر اوزمونږ دپاره سرمایه اوسرپرست جوړسی افسوس داوخت چی ته کومی خبری کوی په دی سره خو زمونږ ټول امیدونه په خاوروکی لویدونکی په نظر راځی) ایاته مونږ دهغو شیانو دعبادت څخه منع کوی دکومو عبادت چی زمونږ مشرانو تراوسه پوری کړی دی (یعنی ته ددی څخه منع کول مه کوه) اودکوم دین طرف ته چی ته مونږ رابولی (یعنی توحید ته) واقعی مونږ خو ددی په باره کی په ډیر (لوی) شك کی یو چی دی خومونږ په تردد کی اچولی یو (چی دتوحید مسئله خوګرسره زمونږ په خیال کی نه راځی) دوی ورته (په جواب کی) وفرمایل ای زماقومه! (تاسی چی کومه داخبره کوی چی دتوحید دعوت اودبت پرستی څخه منع مه کوه نو) ایا داخو وښیاست چی که زه دخپل رب دطرف څخه پردلیل (قایم) یم (چی ددی څخه توحید ثابت دی) اوهغه ماته دخپل طرف څخه رحمت (یعنی نبوت) راکړی وی (په کوم سره چی ددی توحید په دعوت باندی زه مامور یم) پس (په دی حالت کی) که زه دخدای خبره ونه منم (اودتوحید دعوت پریږدم لکه چی تاسی وایاست) نو (داوښیاست چی بیابه ما دخدای دعذاب) څخه څوك خلاص کړی تاسی خو (داسی بده مشوره راکوی چی) سراسر زمانقصان کوی (یعنی که خدای مه کړه قبوله یی کړم نوبغیر دنقصان څخه به نور څه په لاس راسی اوچونکی دوی دمعجزی هم درسالت دثبوت دپاره درخواست کړی وو په دی وجه دوی وفرمایل) اوای زماقومه! تاسی چی کومه معجزه غواړی پس) دااوښه ده دالله ﷻ کومه چی ستاسی دپاره دلیل (جوړسوی اوښکاره سوی) دی (اوپه دی وجه یی ورته دالله ﷻ اوښه وویل چی دالله ﷻ دلیل دی) نو (علاوه ددی څخه چی داپه وجه دمعجزه کیدو زماپه رسالت دلیل دی په خپله ددی هم څه حقونه دی چی په دغوجمله وو کی دا دی چی) داپریږدی چی دالله ﷻ په مخکه کی (ګیاه وانښه) خوری ګرځی (دغه رنګه دخپل وار په ورځ اوبه چښی لکه چی په بل آیت کی دی) اودی لره په بدی (اوپه تکلیف ورکولو) سره لاس مه وروړی هسی نه چی تاسی فوراً عذاب ونیسی (یعنی وخت په کښی اونه لګیږی) پس دوی (سره ددی تمامیدو دحجت څخه) دا (اوښه) مړه کړه نوصالح ﷺ وفرمایل (خیر) تاسی په خپلو کورونوکی دری ورځی نوری تیری کړی (دری ورځی وروسته عذاب راځی او) داداسی وعده ده چی په دی کی یوه ذره دروغ نسته (ځکه چی دالله ﷻ دطرف څخه ده) پس (ددرو ورځو تیریدو څخه) کله چی زمونږ حکم (دعذاب) راغی نومونږ صالح ﷺ اوکوم چی دده ملګری مومنان وه دوی مو په خپلی مهربانی سره (ددی عذاب څخه) خلاص کړل او (دوی مودځنګه شی څخه خلاص کړل) ددی ورځی دلویی رسوایی څخه خلاص کړل (ځکه چی دالله ﷻ په قهر کی داخته کیدو څخه به بله کومه لویه رسوایی وی) بیشکه ستا رب قوت والا غلبی والا دی (چاته چی غواړی عذاب ورکوی چاته چی غواړی خلاصوی یی) اودا ظالمان یوی چیغی ونیول (چی دغه دجبرائیل ﷺ چیغه وه) چی په دی سره دوی په خپلو کورونو کی نسکور پراته پاته سول (او د دوی داحالت سو) لکه چی په (دی کورونوکی دوی کله اوسیدلی نه وه ښه واوری داقوم د) ثمودیانو دخپل رب سره کفر وکی ښه واوری (د دوی دکفر سزا داسوه چی) درحمت څخه ثمویان لیری سول.

معلومات اومسئلي: دسورة هودپه دی ذکرسوو اولنیویولسو ایتونوکی دالله ﷻ دغوره سوی پیغمبر

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت هود ﷺ ذکردی دکوم په نوم سره چی داسورة موسوم دی په دی سورة کی دحضرت نوح ﷺ څخه واخله ترحضرت موسیٰ ﷺ پوری دقرآن کریم په خاص طرز کی داوو ۷ پیغمبرانو اود دوی دامتونو واقعات ذکر دی.

چی په دی کی دعبرت اونصیحت داسی ننبانی موجودی دی چی په کوم زړه کی یوه ذره هم عقل شعور اوژوند باقی وی هغه بغیر دمتاثره کیدو نه سی پاته کیدی دعبرت څخه علاوه دایمان اوتیك عمل دیر اصول اوفروع اودانسان دپاره ښه هدایتونه په کښی موجود دی.

قصی اوواقعات خوپه دی کی داوو ۷ پیغمبرانولیکلی دی مگر داسورة نوم دحضرت هود ﷺ په نوم سره منسوب سوی دی ددی څخه معلومیږی چی په دی کی دحضرت هود ﷺ قصی ته خاص اهمیت حاصل دی الله ﷻ حضرت هود ﷺ دعادیانو قوم ته لیږلی وو داقوم دخپل شکل اوصورت قوت او شجاعت په اعتبار سره په ټوله دنیا کی ممتاز ګڼل کیدی حضرت هود ﷺ هم ددی قوم یوفرد وو په لفظ د: أَخَاهُمْ هُوْدًا کی دی طرف ته اشاره فرمایل سوي ده مگر دی دومره قوی اوبهادر قوم افسوس چی خپل عقل اوفکر ورك کړی وو او دخپلو لاسونو تراش سوو دډبرو بتانو ته به یی خپل معبودان ویل.

حضرت هود ﷺ چی کوم دعوت ددین خپل قوم ته وړاندی کړی ددی دری اصولی خبری په اولنیو دریو ایتونوکی ذکردی اول دتوحید دعوت اوداچی دالله ﷻ څخه ماسوا څوك لائق دعبادت ګڼل دروغ اودځانه جوړول دی دوهم داچی ماکوم دعوت دتوحید راوړی دی اوددی دپاره می خپل ژوند وقف کړی دی تاسی داسوچ وکړی اوځان پوه کړی چی مادا محنت اومشقت ولی اختیار کړی دی؟ نه زه ستاسی څخه ددی خدمت یومعاوضه غواړم اونه ماته ستاسی دطرف څخه یو مادی فائده رسیږی که چیری ما دا دالله ﷻ فرمان اوحق نه ګڼلی نواخر ضرورت څه وو چی تاسی ته په دعوت درکولو اوستاسی په اصلاح کولو کی دومره محنت برداشت کوم؟

(په وعظ نصیحت او دعوت ددین باندی اجرت اخستل)

قرآن کریم داخبره تقریبًا چی دټولو انبیاوو په ژبه باندی نقل کړیده چی مونږ ستاسی څخه په خپل دعوت اومحنت څه معاوضه نه غواړو ددی څخه معلومیږی چی په دعوت اوتبلیغ که معاوضه واخستل سی نودعوت بی اثره کیږی چی په دی باندی تجربه شاهده ده چی پروعظ اونصیحت داجرت اخستونکو خبره په اوریدونکو اثر نه کوی. دریمه خبره یی دافرمایلی ده چی په خپل تیر ژوندکی کوم کفر اوګناه تاسی کړي ده دالله ﷻ څخه دهغه مغفرت غواړی اوپه راتلونکی ژوندکی ددی ټولو ګناهونو څخه توبه یعنی ددی پخه اراده او وعده وکړی چی اوس به نه نژدی کیږی ورته که تاسی داداستغفار او توبی عمل وکی نوددی په نتیجه کی به داخرت همیشه کامیابی خوبه درکول سی په دنیا کی به هم ددی لویی فائدی وویني یوه داچی په توبه اواستغفار سره به ستاسی قحط سالی لیری سی پروخت به ښه باران وسی چی ستاسی په رزق کی به فراخی باندی راسی دوهم داچی ستاسی قوت اوطاقت به زیات سی.

دلته دطاقت اوقوت لفظ عام دی چی بدنی صحت اوقوت هم په کښی داخل دی اوهغه طاقت هم کوم چی دمال اواولاد په ډیروالی سره انسان ته حاصلیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه معلومه سوه چی دګناهونو څخه دتوبی اواستغفار خاصه داده چی په دنیا کی هم په رزق کی فراخی اوپه مال اواولاد کی برکت وی.

دحضرت هود ﷺ قوم دده ددعوت دغه جواب په خپل جاهلانه عادت سره ورکی چی تا مونږ ته دسره یوه معجزه ښوولی نه ده صرف زبانی خبره ده په دی وجه مونږ ستا په وینا باندی خپل معبودان نه سو پریښوولی اوپه تا ایمان نه راوړو بلکه زمونږ خیال خودا دی چی زمونږ معبودانو بتانوته دبدو ردو ویلو په وجه سره ته په یو دماغی خرابی کی اخته سوی یی په دی وجه داسی خبری کوی.

ددی په جواب کی حضرت هود ﷺ دپیغمبرانه زړه ورتیا سره وفرمایل چی که تاسی زما خبره نه منی نوراوری چی زه الله ﷻ شاهدکوم اوتاسی هم شاهد سی چی زه دالله ﷻ څخه ماسوا ستاسی دټولو معبودانو څخه بیزاره یم اوس تاسی اوستاسی بتان ټول یوځای سی زما خلاف چی یو تدبیر کولی سی ویی کړی اوکه زما څه خرابولی سی نوخراب یی کړی او مالره یوه ذره مهلت هم مه راکوی.

او وی فرمایل چی داسی لویه خبره زه څکه کوم چی ماپر الله ﷻ باندی توکل اوبروسه کړي ده کوم چی زماهم رب دی اوستاسی هم څومره چی دمخکی پرمخ ګرځیدونکی دی دټولو تندی هغه نیولی دی دچاڅه مجال نسته چی دهغه داذن اورضا څخه بغیر چاته یوه ذره نقصان یا تکلیف ورسوی یقیناً زما رب پر سیده لاره باندی دی یعنی څوك چی پر سیده لار چلیږی ربّ هغه ته حاصلیږی دهغه مدد کوی.

دټول قوم په مقابله کی په داسی لوړ آواز دعوی کول اودوی ته غیرتّ ورکول اوبیا په ټول بهادر قوم کی دچا مجال نه کیدل چی دده په مقابله کی یو حرکت وکړی دا ټول یوه مستقله معجزه وه دحضرت هود ﷺ چی په دی سره د دوی ددی خبری هم جواب وسو چی تا مونږ ته یو معجزه نه ده ښوولی او ددی هم جواب وسو چی زمونږ بتانوته په دماغی خرابی کی اخته کړی یی څکه چی که په بتانو کی داطاقت وای نودغه وخت به یی دی ژوندی هم نه وای پری اینبی.

ددی څخه وروسته فرمایی چی که تاسی دغه ټول دحق څخه پرارخ ګرځی نوپوه سی چی کوم پیغام ماستاسی په مخکی راوړی دی نواوس ددی نتیجه ددی څخه ماسوا څه ده چی پرتاسی دخدای قهر اوغضب راسی اوتاسی ټول نیست اونابود سی اوزما رب ستاسی پر ځای یو بل قوم پردی مخکه اباد کړی اوپه دی معامله کی چی تاسی مځه کوی نوخپل نقصان کوی دالله ﷻ هیڅ نقصان نه سی کولی یقیناً زمارب دهرشی ساتنه کوی هغه ستاسی دهرکار اوخیال څخه باخبره دی.

دی خلګو په دی خبرو کی په یوه هم غوږ ونه ګروی اوپرخپله سرکښی قائم پاته سول نود خدای ﷻ عذاب پردوی دهوا دطوفان په صورت کی نازل سوچی د دوی کورونه اودرختی یی دبیخو څخه رایستلی انسانان اوحیوانان به په هوا کی الوتل آسمانی فضاء ته به پورته تلل اوبیابه نسکور رالویدل په آسمان کی دانسانانو چیغی او کوکاری اوریدل کیدی تردی چی دابی مثاله قوت شکل اوصورت لرونکی قوم ټول هلاك اوبرباد سو.

کله چی پردی قوم دالله ﷻ دعذاب حکم نازل سو نودالله ﷻ دسنتو مطابق یی خپل پیغمبر اوده ملګری ددی سخت عذاب څخه خلاص کړل چی دعذاب راتلو څخه مخکی یی ددئ ځای څخه دوتلو حکم ورکی

Maktaba Tul Ishaat.com

دقوم عاد دواقعی اوعذاب کولو څخه وروسته نورو خلګو ته دعبرت حاصلولو دتلقین کولو دپاره ارشاد فرمایی چی دا دی هغه قوم دعاد چاچی دخپل رب نخښی درواغجنی کړی اودخپلو رسولانو نافرمانی یی وکړه اوددا سی خلګو په وینا یی عمل وکی کوم چی ظالمان اوضدیان وه ددی نتیجه داسوه چی په دنیا کی هم لعنت یعنی درحمت څخه لیری والی د دوی سره ملګری سو اوپه قیامت کی به هم دغه ډول ورسره ملګری وی.

ددی واقعی څخه معلومه سوه چی پرقوم دعاد باندی دهوا طوفان مسلط سوی وو مګر په سورة مومنون کی داذکردی چی دوی دیو سخت اواز په ذریعه هلاك سول کیدی سی چی دحضرت هود ﷺ پرقوم باندی دواړه قسمه عذابونه نازل سوی وی.

دقوم عاد اوحضرت هود ﷺ واقعه ختمه سوه.

ددی څخه وروسته په اته ایتونوکی دحضرت صالح ﷺ قصه ذکرده کوم چی دقوم عاد ددوهم ښاخ یعنی قوم ثمودطرف ته لیږل سوی وو دوی هم خپل قوم ته دتولوڅخه مخکی دتوحید دعوت ورکی قوم دعادت مطابق دی درواغجن کی اودا ضدیی ونیوی چی مونږ به ستا دنبوت حقوالی هلته ومنو چی کله ته زمونږپه مخکی ددی غر دتړی څخه یوه اوښه داسی راوباسی.

حضرت صالح ﷺ دوی وبیرول چی ستاسی غوښتلی معجزه که الله ﷻ ښکاره کړه اوبیا هم تاسی په ایمان راوړوکی کوتاهی وکړه نودالله ﷻ دعادت مطابق به پرتاسی عذاب راسی اوتول به هلاك اوبربادسی مګر دوی دخپل ضدڅخه واپس نه سول الله ﷻ د دوی غوښتلی معجزه په خپل کامل قدرت سره ښکاره کړه دغر تړه وچاوده د دوی په غوښتلو صفتونو سره اوښه تر راووتله الله ﷻ حکم وکی چی دی اوښی ته دی څوك تکلیف نه رسوی کنه نوپر تاسی به عذاب راسی مګر دوی پردی قائم پاته نه سول اواوښه یی هلاکه کړه اخر الله ﷻ دوی ونیول حضرت صالح ﷺ اودده مومنان ملګری دعذاب څخه خلاص سول باقی ټول قوم دیوسخت هیبت ناك اواز په ذریعه سره هلاك سول.

په دی واقعه کی دحضرت صالح ﷺ قوم ده ته وویل، قَدْ كُنْتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَذَا یعنی ستا دنبوت ددعوی اودبت پرستی څخه دمنع کولو څخه مخکی مونږ په تاپوری لوی لوی امیدونه ترلی وه چی ته به زمونږ دقوم دپاره لوی مصلح اوراهنما ثابت سی ددی وجه دا ده چی الله ﷻ دخپلوپیغمبرانو پرورش دکوچنیوالی څخه په دیروپاکو اخلاقو اوعادتونو کی کوی چی ددی په لیدو هرسړی دده سره محبت کوی اولوی یی ګڼی لکه چی دحضرت خاتم الانبیاء ﷺ هم دنبوت داعلان څخه مخکی په ټول عرب کی دامین خطاب ورکول سوی وو اودرښتنی اوصالح عقیده به باندی لرل کیده دنبوت په دعوی اودبت پرستی څخه په منع کولو ټول ورڅخه مخالف سول.

تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ یعنی کله چی دی خلګو دخدای دحکم څخه خلاف ورزی وکړه او دغه دمعجزی اوښه یی مړه کړه نولکه چی مخکی دوی خبرسوی وه چی که داسی وکړی نودالله ﷻ عذاب په تاسی راسی اوس هغه عذاب داسی راغی چی دوی ته ددرو ورځو مهلت ورکول سو او ورته وویل سوه چی په څلورمه ورځ به تاسی ټول هلاك سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په تفسیر قرطبی کی دی چی دادری ورځی جمعرات جمعه اوهفته وی داتوار په ورځ پر دوی عذاب نازل سو. وَأَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ یعنی داظالمان یوسخت اواز ونیول دا سخت اواز دحضرت جبرئیل علیه السلام وو چی په دی کی دټولی دنیا دآسمانی بجلیو دکړپونو څخه زیات هیبت ناك اواز وو کوم چی دانسان زړه اودماغو نه سوی برداشت کولی دهیبت څخه دټولو زړونه وچاودل اوټول پوره په پوره هلاك سول ددی آیت څخه معلومه سوه چی دحضرت صالح علیه السلام قوم په سخت اواز سره هلاك سوی دی لیکن په سورة اعراف کی ددی متعلق راغلی دی چی: فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ یعنی ونیول دوی زلزلی ددی څخه معلومیږی چی پردوی دزلزلی عذاب راغلی وو قرطبی فرمایی چی په دی کی هیڅ تضاد نسته کیدی سی چی اول باندی زلزله راغلی وی بیاپه سخت اواز سره ټول هلاك سوی وی . والله تعالی اعلم

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرٰهِيمَ بِالْبُشْرٰى قَالُوا سَلٰمًا ۖ قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ

اوخامخارا غلی دی زمونږاستاذی ابراهیم ته په خوشخبری سره وی ویل سلام هغه وویل سلام دی بیایی وخت تیر نه کی چی رایی وړی یوسخوندرګی ،

حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَأَىٰٓ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ

کباب سوی ، بیاچی کله یی ولیدل چی د دوی لاسونه نه ورځی خوراك ته نووبیریدی ورڅخه او په زړه کی

مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلٰى قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾ وَامْرَأَتُهُ

د دوی څخه وبیریدی ، هغوی وویل مه ببیریږه مونږ رالیږل سوی یو قوم دلوط علیه السلام طرف ته ، او دده ښځه

قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنٰهَا بِإِسْحٰقَ ۙ وَمِنْ وَّرَآءِ إِسْحٰقَ يَعْقُوبَ ﴿٧١﴾

ولاړه وه نودی وخندل بیاموږ ورته خوشخبری ورکړه دی ته داسحٰق په پیدا کیدو اوداسحٰق څخه وروسته دیعقوب

قَالَتْ يٰوَيْلَتٰى ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ هٰذَا

وی ویل ای خرابی ده آیازه به بچی وزیږوم او زه بوډی یم او دا خاوند زما دی بوډا دا خو یوه ،

لَشَيْءٌ عَجِيبٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوٓا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَ

عجیبه خبره ده ، هغوی وویل آیا ته تعجب کوی دحکم دالله څخه دالله رحمت دی ،

بَرَكٰتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ ۚ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾

اوبرکتونه پرتاسی ای دکور خلګو! په تحقیق الله دی صفت کړل سوی لویو والا .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: اوزمونږ لیږل سوی ملائکی (په شکل دبنیادم) ابراهیم ﷺ ته (دده دبچی اسحاق ﷺ) خوشخبری راوړه راغلی (که څه هم لوی مقصد د دوی دراتلو په قوم دلوط عذاب واقع کول وو لقوله تعالی فَمَا خَطْبُكُمْ) او (دراتلوپه وخت کی) دوی سلام وکی ابراهیم ﷺ هم سلام وکی (اووی نه پیژندلی چی داملائکی دی معمولی میلمانه یی وگڼل) بیایی وخت تیرنه کی چی یوکباب سوی (چاغ لقوله تعالی سَمِينٍ) سخوندرگی یی راوړی (اودوی ته یی مخکی کښی ښووی داخو ملائکی وی نوخوراک به یی څنګه کوی) پس کله چی ابراهیم ﷺ ولیدل چی د دوی لاسونه دی خوراک ته نه مخکی کیدل نود دوی څخه وبیریدی اوپه زړه کی یی د دوی څخه بیره پیداسوه (چی هسی نه دامیلمانه څوك دښمنان نه وی چی په خرابه اراده راغلی وی اوزه په کورکی یوازی یم نور څوك خپلوان دوستان نسته تردی چی په بی تکلفی سره یی دوی ته په ژبه هم ښکاره کړه: لِقَوْلِهٖ تَعَالٰی قَالَ اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ) دغو ملائکو وویل بیره مه کوه (مونږ انسانان نه یوملائکی یو تالره موزیری راوړی دی چی ستابه یوزوی پیداسی اسحاق ﷺ او دده څخه وروسته به یو بچی پیدا سی یعقوب ﷺ او زیری یی ورته څکه وویل چی اول خواولاد دخوشحالی شی دی بیا ابراهیم ﷺ بوډاسوی وو بی بی یی هم ډیره بوډی وه داولاد امید یی نه وو پاته سوی دوی په نور دنبوت سره فکر وکی اووی پیژندل چی واقعی ملائکی دی لیکن دنبوت په پوهه سره ورته داهم معلومه سوه چی ددی څخه ماسوا دبل لوی کار دپاره هم راغلی دی په دی وجه ددی دمعلومولودپاره یی پوښتنه وکړه: فَمَا خَطْبُكُمْ یعنی دکم کار دپاره راغلی یاست؟ دغه وخت دوی وویل چی) مونږ دلوط (ﷺ) دقوم طرف ته رالیږل سوی یو (چی دوی دکفرپه سزاکی هلاك کړو د دوی په مینځ کی داخبری کیدی) اود ابراهیم ﷺ بی بی (حضرت سارا یوځای) ولاړه وه (اوریدل یی) نو (داولاد خبر چی یی واوریدی دکوم چی ددی وروسته ددی څخه چی اسمٰعیل ﷺ دهاجری دنس څخه پیداسو ارزویی هم وه نوپه خوشحالی سره یی) وخندل (اوپه خبروکولوسره راغله اوپه تعجب سره یی په لاس تندی ووهی: لِقَوْلِهٖ تَعَالٰی: فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِیْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا) نو مونږ (یعنی زمونږ ملائکو) دوی ته (بیابیا) خوشخبری ورکړه داسحاق ﷺ (دپیدا کیدو) اوداسحاق ﷺ څخه وروسته دیعقوب ﷺ (کوم چی داسحاق زوی به وی چی ددی څخه معلومه سوه چی بچی به دی وسی اوژوندی به پاته سی تردی پوری چی هغه به هم داولاد خاوند سی دغه وخت وی ویل چی های خاوری اوس به زه بچی راوړم په دی بوډی والی کی اودا زما خاوند (ناست) دی بالکل بوډا واقعی داهم عجیبه خبره ده ملائکو وویل چی ایا (دنبوت په خاندان کی اوسی اوهمیشه معجزی اوعجیبه معاملی وینی) تاسی دخدای په کارونو کی تعجب کوی (اوخاص کر) ددی خاندان پرخلګو خوداالله ﷻ (خاص) رحمت او دهغه (په اقسامو اقسامو) برکتونه (نازل سوی) دی بیشکه دغه (الله ﷻ) دتعریف لائق (او) دلوی شان والا دی (هغه دلویو څخه لوی کار کولی سی ، پس په ځای دتعجب دهغه په تعریف اوشکر کی مشغول سی)

معلومات اومسئلي: په دی پنځو ایتونوکی دحضرت خلیل الله ابراهیم ﷺ یوه واقعه ذکرده چی الله ﷻ دوی ته یوځوملائکی داولاد دزیری ورکولو دپاره راولیږلی څکه چی دحضرت ابراهیم ﷺ دبی بی محترمی حضرت ساره ﷺ څخه هیڅ اولاد نه وو اوددی داولاد ارزو وه مګر دواړه بوډاګان وه په ښکاره

Maktaba Tul Ishaat.com

یی یو امید نه وو الله ﷻ دملائکو په ذریعه خوشخبری ولیږله اوهغه هم په دی شان سره چی نارینه اولاد به وی اونوم یی ورته هم اسحاق ټاکلی وفرمایی اوبیایی داهم وښوولـه چی هغه به ژوندی وی اودهغه به هم اولاد وسی اودهغه دزوی نوم به یعقوب وی او دواړه به دالله ﷻ رسولان اوپیغمبران وی داملائکی چونکی په انسانی شکل کی راغلی وی په دی وجه حضرت ابراهیم ﷺ دوی عام میلمانه وګڼل اومیلمستوب یی ورته شروع کی کباب سوی غوښه یی ورته راوړه اوپه مخکی یی ورته کښی ښوولـه مګر هغوی خوپه حقیقت کی ملائکی وی دخوړلو او چښلو څخه پاکی وی نوسره ددی چی خوراك مخ ته ورته پروت وو خولاس یی نه ور وړاندی کوی حضرت ابراهیم ﷺ چی داحال ولیدی نوبیره یی پیداسوه چی داخومیلمانه نه معلومیږی ممکنه ده چی دځه فساد په نیت سره راغلی وی ملائکو دده دابیره معلومه کړه نوخبره یی ښکاره کړه اووی ویل چی مونږ دالله ﷻ ملائکی یو ته بیریږه مه مونږ تاته داولاد دزیری دکولو څخه علاوه دیوبل کار دپاره هم رالیږل سوی یو چی دحضرت لوط ﷺ پرقوم باندی عذاب نازل کړو دحضرت ابراهیم ﷺ بی بی محترمه حضرت ساره دپردی څخه بلی خواته داخبری اوریدی کله چی ورته معلومه سوه چی دا انسانان نه دی ملائکی دی نودپردی ضرورت پاته نه سو په بوډاوالی کی چی یی داولاد زیری واوریدی نووی خندل اووی ویل چی ایازه به په دی زوړوالی کی اولاد راوړم اودا زما خاوند خوهم بوډادی ملائکو جواب ورکی چی ایاتاسی دالله ﷻ په حکم کی تعجب کوی چی دهغه په قدرت کی هرڅه دی اوبیاخاص کرتاسو دنبوت په خندان کی اوسی داهرڅه تاسی وینی ګوری هم چی پردی خاندان دالله ﷻ غیر معمولی رحمت او برکت نازلیږی چی اکثر دظاهری اسبابو دسلسلی څخه بالاتروی بیا دتعجب څه خبره ده.

دا ددی واقعی خلاصه ده اوس دوړاندی ذکر سوو ایتونو پوره تفصیل وګوری.

په اولنی ایت کی یی ښودلی ده چی داملائکی حضرت ابراهیم ﷺ ته دځه خوشخبری ورکولو دپاره راغلی وی ددی خوشخبری ذکر وړاندی په دریم ایت کی دی: فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی دادری ملائکی حضرت جبرائیل ﷺ حضرت میکائیل ﷺ اوحضرت اسرافیل ﷺ وی (قرطبی) دوی په انسانی شکل کی راغلی او حضرت ابراهیم ﷺ ته یی سلام وکی حضرت ابراهیم ﷺ دسلام جواب ورکی او دوی یی بنیادم وګڼل او میلمیستوب یی ورلره شروع کی.

حضرت ابراهیم ﷺ هغه اولنی انسان دی کوم چی په دنیاکی دملمیستوب رسم جاری کی (قرطبی) د دوی عادت داوو چی هیڅکله به یی یوازی خوراك نه خوړی بلکه دهر خوراك په وخت کی به یی تلاش کوی چی یومیلمه راسی اودی ورسره خوراك وکړی.

قرطبی دځینو اسرائیلی روایتونو څخه نقل کړی دی چی یوه ورځ دخوراك په وخت کی حضرت ابراهیم ﷺ دمیلمه تلاش کوی نویو نابلده سړی ورپیداسو کله چی دوی خوراك ته کښینستل نوحضرت ابراهیم ﷺ وفرمایل چی: بسم الله ووایه هغه وویل چی زه نه پیژنم چی الله څوك دی؟ جواب: ابراهیم ﷺ دی ددسترخوان څخه پورته کړی کله چی دی دباندی ولاړی نو جبرائیل امین راغی اوویی ویل چی الله ﷻ فرمایی چی ماخوددده دکفر باوجود ټول عمرده ته رزق ورکړی اوتاپه یوه ګوله ورکولوکی هم بخل وکړی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی دایی واوریدل نوحضرت ابراهیم ﷺ په ده پسی منده کړه اودی یی واپس راوستی هغه وویل چی ترڅو پوری ته ددی وجه ونه ښیی چی اول دی ولی زه ایستلی وم اوس می بیا ولی راولی ؟ زه به ترهغه وخته پوری ستا سره ولاړنه سم.

حضرت ابراهیم ﷺ واقعه ورته وښوده نوداواقعه دهغه دمسلمانیدو سبب جوړه سوه هغه وویل دغه ربّ چاچی داحکم رالیږلی دی لوی کریم دی زه په ده ایمان راوړم بیا دحضرت ابراهیم ﷺ سره ولاړی اومومن سو باقاعده یی بسم الله وویله اوخوراك یی وخوړی.

حضرت ابراهیم ﷺ دخپلی میلمه دوستی دعادت مطابق په شکل دانسان راتلونکی ملائکی انسانان اومیلمانه وګڼل میلمستوب یی ورته شروع کی اوفوراً یی یوکباب سوی سخوندرګی مخ ته راوړی اوکښی یی ښووی.

په دوهم آیت کی یی داوښوولە چی راتلونکی ملائکی که څه هم په انسانی شکل کی راغلی وی اوداهم ممکنه وه چی دغه وخت دوی ته انسانی خواص دخوړلو چښلو هم ورکول سوی وای مګر حکمت هم په دی کی وو چی دوی خوراك ونه کړی چی د دوی دملائکو کیدو راز ښکاره سی په دی وجه په انسانی شکل کی هم د دوی ملکی خواص باقی وساتل سول نوځکه دوی خوراك ته لاسونه مخکی نه کړل.

په ځینو روایتونوکی دی چی د دوی په لاسونوکی څه غشی وه دهغو څوکی پردی کباب سوی غوښه ولګیدی د دوی په دی کار سره حضرت ابراهیم ﷺ ته دخپل عرف مطابق دا خطره پیداسوه چی شاید دادښمنان وی ځکه چی د دوی په عرف کی دیومیلمه دخوراك څخه انکار کول دشر اوفساد نخښه وه (قرطبی) ملائکو خبره ښکاره کړه چی مونږ ملائکی یو په دی وجه خوراك نه کوو ته څه بیره مه کوه.

احکام اومسئلي: په ذکرسوو ایتونوکی دمعاشرت متعلق دیر احکام اوهدایات راغلی دی کوم چی امام قرطبی په خپل تفسیرکی په تفصیل سره لیکلی دی.

سنت سلام: قَالُوا سَلٰمًا قَالَ سَلٰمٌ : ددی څخه معلومه سوه چی دمسلمانانو دپاره سنت دی چی کله دیوبل سره وینی نوسلام دی کوی راتلونکی میلمه ته په دی کی وړاندی کیدل په کار دی اونورو ته جواب ورکول په کاردی.

دارسم خوپه هرقوم اوملت کی سته چی دملاقات په وخت کی ذیوبل دخوشحالولو دپاره څه کلمی وایی مګر داسلام تعلیم په دی معامله کی بی مثله اوغوره دی ځکه چی دسلام مسنون لفظ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دالله ﷻ په نوم باندی دمشتمل کیدو په وجه سره دالله ﷻ ذکر هم دی او دمخاطب دپاره دالله ﷻ څخه دسلامتیا دعا هم ده او دخپل طرف څخه دهغه دځان او مال او عزت دپاره دسلامتیا ضمانت هم.

په قرآن کریم کی دلته دملائکودطرف څخه ،سَلٰمًا اودحضرت ابراهیم ﷺ دطرف څخه په جواب کی ، سَلٰمٌ ذکرسوی دی په ښکاره دلته دپوره الفاظودسلام ذکرکولوضرورت نه دی ګڼل سوی لکه په عرف اومحاوره کی چی ویل کیږی چی فلانی فلانی ته سلام وکی مراد داوی چی پوره کلمه ذ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ یی وویل دغه شان دلته دلفظ دسلام څخه پوره مسنون کلمه مراددە کومه چی نبی کریم ﷺ په خپل قول اوعمل سره خلګوته ښوولی ده یعنی داسلام په ابتداء کی: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اودسلام په جواب کی: وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

(دمیلمه کولو او میلمستیا یوځو اصول)

فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ : یعنی حضرت ابراهیم ﷺ وخت تیر نه کی مگر دومره قدر چی یوکباب سوی سخوندرگی یی راوړی.

ددی ځخه ځو خبری معلومی سوی اول داچی دمهمان نوازی دادابو ځخه دا ده چی دمیلمه دراتلوسره یودخوراك چنباك شی موجودوی اوژر تیاریدی سی هغه دی مخ ته کښیږدی بیاکه دطاقت خاوند وی نودزیاتی میلمستیا انتظام دی بیا ورته وکړی (قرطبی)

دوهمه خبره دامعلومه سوه چی دمیلمه دپاره دی دزیاتوتکلفاتوپه فکرکی نه اخته کیږی په اسانی سره چی کوم شی پیداکیدی سی هغه دی دمیلمه په خدمت کی پیش کړی حضرت ابراهیم ﷺ به غوا اوغوایان ساتل په دی وجه یی سخوندرگی ذبح کی فوراً یی دهغه غوښه کباب کړله اوپه مخکی یی ورته کښی ښوولە (قرطبی)

دریمه داچی دراتلونکو میلمستیا کول داسلام دادابو اوښو خویونو ځخه دی دانبیاوو اوصالحانو عادت دی په دی کی دعالمانو اختلاف دی چی میلمستیا کول واجب دی اوکه نه دی؟ جمهور عالمان په دی باندی دی چی واجب نه دی سنت اوښه دی ځینی فرمایی چی دکلی په خلګو واجب دی چی کوم میلمه د دوی په کلی کی پاته سی دهغه میلمستیا وکړی ځکه چی هلته دخوراك یو بل انتظام نه سی کیدی اوپه بنارکی په هوټل وغیره کی ددی انتظام کیدی سی په دی وجه دښار پرخلګو واجب نه ده (قرطبی په خپل تفسیر کی دامختلف اقوال نقل کړی دی)

فَلَمَّا رَاٰۤ اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ : یعنی کله چی حضرت ابراهیم ﷺ ولیدل چی د دوی لاسونه خوراك ته نه رسیږی، نو وبیریدی.

ددی ځخه معلومه سوه چی دمیلمه دادابو ځخه یوه دا ده چی یو شی ورته مخکی کښی ښوول سی، نو چی میلمه یی قبول کړی (که خوراك یی زړه نه غواړی یایی دځان دپاره مضر ګڼی نو معمولی یو څه شرکت دی دزړه ساتلو دپاره وکړی)

ددی جملی ځخه بله خبره دامعلومه سوه چی کور به ته په کار دی چی په میلمه نظر ساتی چی څه خوری اوکه نه لکه چی حضرت ابراهیم ﷺ وکړل چی دملائکو په خوراك نه کولو باندی پوه سو.

مګر داسی دی په نظر کی ساتی چی سیده سیده دی ورته نه ګوری په سرسری نظر سره دی ورته ګوری ځکه چی دمیلمه ګولوته کتل دمیلمستیا دادابو ځخه خلاف اودمیلمه دپاره شرمندګی وی لکه دهشام بن عبدالملك پردسترخوان چی یوه ورځ یو اعرابی ته دا واقعه پیښه سوه چی داعرابی په ګوله کی وریښته وو امیر المومنین هشام ولیدل نو ورته ویی ویل اعرابی فوراً ولاړسو اووی ویل چی مونږ دداسی سړی خوراك نه خورو چی زمونږ ګولی شمیری اوګوری ورته.

امام طبری دلته نقل کړی دی چی اول کله چی ملائکو دخوراك ځخه انکار وکی نودایی وویل چی مونږ مفت خوراك نه خورو که ته یی قیمت اخلی نومونږ به یی وخورو حضرت ابراهیم ﷺ په جواب کی وفرمایل چی هاء ددی خوراك یوقیمت دی هغه ادا کړی هغه قیمت دا دی چی په شروع کی دالله ﷻ نوم

Maktaba Tul Ishaat.com

واخلی اوپه اخرکی دهغه حمد وکړی جبرئیل علیه السلام امین چی داواوریدل نوخپلو ملګروته یی وویل چی الله ﷻ چی دی خلیل جوړ کړی دی ددی مستحق دی ددی واقعی څخه معلومه سوه چی دخوراك په شروع کی: بِسْمِ اللهِ او په اخرکی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ویل سنت دی.

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا فِيْ قَوْمِ

بیا چی کله ولاړه دابراهیم علیه السلام څخه ببیرته اوراغله ده ته خوشخبری جګړه یی شروع کړه زمونږ سره په باره دقوم

لُوْطٍ ﴿۷۴﴾ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾ يٰۤاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ

دلوط کی ، خامخا ابراهیم بردباره نرم دله دی رجوع کوونکی ، ای ابراهیمه ! پریږده داخیال

عَنْ هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۚ وَاِنَّهُمْ اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ

دغه خو راغی حکم ستادرب او په دوی راتلونکی دی عذاب چی

غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿۷۶﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ

واپس کیدی نسی ، اوکله چی ورسیدل زمونږ لیږل سوی لوط ته غمګین سو ددی په راتلو اوزړه یی تنګ سو ،

بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيْبٌ ﴿۷۷﴾ وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ

اووی ویل نن ورځ ډیره سخته ده ، او راغی ده ته قوم دده بی اختیاره ،

اِلَيْهِ ؕ وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ قَالَ يٰقَوْمِ هٰٓؤُلَآءِ

په منډو او دمخکی څخه کوی دوی ناکاره کار او وی ویل ای زماقومه ! دا

بَنَاتِيْ هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ فِيْ ضَيْفِيْ ؕ

زمالونی حاضری دی داپاکی دی تاسی ته نو وبیریږی دالله څخه اومه رسوا کوی مازما په میلمنو کی ،

اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ﴿۷۸﴾ قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ

ایاپه تاسی کی یوسړی هم نسته نیك چلن ، وی ویل چی ته خو پوه یی چی نسته زمونږ ستا ،

بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ۚ وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيْدُ ﴿۷۹﴾ قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ

دلونوسره څه غرض اوتاته معلومه ده چی مونږ څه غواړو ، وی ویل چی کاشکی زماستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

قُوَّةً اَوْ اٰوِیْ اِلٰی رُكْنٍ شَدِیْدٍ ﴿۸۰﴾ قَالُوْا یٰلُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ

په مقابله کی قوت وی اویامی یو مضبوطه پناه وای ، میلمنو وویل ای لوطه ! مونږ د الیږل سوی یو ستادرب

لَنْ یَّصِلُوْۤا اِلَیْكَ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّیْلِ وَلَا یَلْتَفِتْ

دطرف څخه هیڅکله نه سی رسیدی دوی تاته نو وباسه خپل اهلونه په یوه حصه دشپی کی اوترشادی نه کوری

مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ ؕ اِنَّهٗ مُصِیْبُهَا مَاۤ اَصَابَهُمْ ؕ اِنَّ مَوْعِدَهُمُ

ستاسی څخه څوك مګر ښځه ستا چی دی ته به رسیږی هغه چی دوی ته رسیږی د دوی دوعدی وخت

الصُّبْحُ ؕ اَلَیْسَ الصُّبْحُ بِقَرِیْبٍ ﴿۸۱﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِیَهَا

سهار دی ایا سهار نژدی نه دی ، بیاچی کله ورسیدی حکم زمونږ کړی مونږ دغه کلی لوړ

سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَیْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّیْلٍ ۙ مَّنْضُوْدٍ ﴿۸۲﴾ مُّسَوَّمَةً

یی لاندی (سرچپه) او واورول مونږ پر دوی کانی د قرت کانو پره دار ، نخښه سوی

عِنْدَ رَبِّكَ ؕ وَمَا هِیَ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ بِبَعِیْدٍ ﴿۸۳﴾

ستا درب څخه اونه دی دغه کلی ددی ظالمانو څخه څه لیری

لنډتفسیر: بیاچی کله دابراهیم ﷺ څخه دغه بیره لیری سوه (کله چی ورته ملائکو: لَا تَخَفْ: وویل اود دوی ملائکی کیدل معلوم سو) اودوی ته دخوشحالی خبر ورکول سو (چی اولاد به پیداسی) نو (ددی خواځخه بی فکره سو اوبل طرف ته متوجه سوچی دحضرت لوط قوم به هلاکیږی او) زمونږ سره قوم دلوط ﷺ په باره کی (سفارش چی په اعتبار دمبالغی اواصرار په صورت کی) جګړه (وه) کول شروع کړه (چی ددی تفصیل په بل آیت کی دی چی هلته خولوط ﷺ هم موجوددی په دی وجه عذاب دی ونه لیږل سی چی دوی ته به تکلیف ورسیږی مطلب یی داوو چی په دی بهانه سره قوم خلاص سی لکه چی د فِیْ قَوْمِ لُوْطٍ څخه په ښکاره معلومیږی اوشاید چی دحضرت ابراهیم ﷺ امید وو چی دوی به مومنان سی) واقعی ابراهیم ﷺ ډیر نرم طبع رحم کوونکی اورجوع کوونکی وو (په دی وجه په سفارش کی یی مبالغه وکړه ارشاد ورته وسوچی) ای ابراهیم (که څه هم بهانه حضرت لوط ﷺ دی مګر اصلی مطلب معلوم سو چی دقوم سفارش دی پس) داخبره پریږده (دوی ایمان راوړونکی نه دی په دی وجه) ستادرب حکم (ددی متعلق) راغلی دی او (په دی سبب سره) پردوی خامخا داسی عذاب راتلونکی دی چی په هیڅ شان سره دواپس کیدونه دی (په دی وجه په دی باره کی څه ویل اواوریدل بی کاره دی پاته سوه داخبره چی هلته

Maktaba Tul Ishaat.com

لوط ﷺ دی نو پس هغه اوتول ایماندار به ددغه ځای څخه لیری سی دهغه څخه وروسته به عذاب راځی چی دوی ته یوتکلیف ونه رسیږی چنانچی خبره په دی ختمه سوه، او (دحضرت ابراهیم ﷺ څخه چی فارغی سوی) کله چی زمونږ هغه ملائکی دلوط ﷺ خواته راغلی نولوط ﷺ د دوی (دراتلو) په وجه سره (څکه) غمجن سو (چی دوی دډیرو ښائسته ځوانانو په شکل کی راغلی وی اولوط ﷺ دوی انسانان وګڼل اودخپل قوم نامعقوله حرکت ته یی خیال سو) او (په دی وجه سره) دهغوی (دراتلو) په سبب ډیرزړه تنګ سو (اودزړه ډیرتنګیدو په وجه یی) وویل چی نن ورځ ډیره سخته ده (چی د دوی داسی صورتونه اوډقوم داحرکتونه اوزه تن تنهاګورم چی څه کیږی؟) او دده قوم (چی ددی څخه خبر سونو) ده ته (یعنی لوط ﷺ ته) په منډه ورغلل اودمخکی څخه یی نامعقوله حرکتونه کول (په دی خیال سره اوس هم راغلل) لوط (ﷺ ډیر وبیریدی سو په خوشامندی سره یی) وویل ای زماقومه! دازما چی (مړندی) لونې (کمی چی ستاسی په کورونوکی دی) موجودی دی دغه ستاسی (دنفس خوشحالولو) دپاره (ښې) خاصی دی پس (پرهلکانو دنظر کولو په باره کی) دالله ﷻ څخه وبیریږی اوزما دمیلمنو په باره کی مامه رسواکوی (یعنی دی میلمنوته څه ویل زما شرمنده اورسوا کول دی که د دوی څه لحاظ نه کوی چی مسافردی نوزما خیال وکی چی په تاسی کی وسم افسوس اوتعجب دی) ایاپه تاسی کی څوک هم (دعقل خاوند او) ښه سړی نسته (چی په دی خبره باندی پوه سی اونورهم پوه کړی) هغو خلګو وویل چی تاته معلومه ده چی زمونږ ستا دی (مړندو) لونوته هیڅ ضرورت نسته (څکه چی ښځوته زمونږ دسره خواهش نسته) اوتاته معلومه ده (دلته دراتلوځخه) چی کوم زمونږمطلب دی لوط (ﷺ ډیرعاجزاوتنګ سو) وی فرمایل چی څه ښه به وای که که زما پرتاسی یو زور چلیدی (چی په خپله می ستاسی شر دفع کولی سوی) یادیوی مضبوطی پایی پناه می وای (مراد دا دی چی زما یوخاندان اوقبیله وای چی زما مدد یی کولی چی دلوط ﷺ دومره پریشانی یی ولیده نو) ملائکو وویل چی ای لوطه! (مونږ انسان نه یوچی ته دومره بیریږی) مونږ خوستا درب رالیږل سوی (ملائکی) یو (نودوی په مونږ څه کولی سی اوته دځان دپاره هم بیره مه کوه) تاته (هم) هیڅکله دوی نه سی رارسیدی (چی تاته یو تکلیف ورسول سی اومونږ پردوی دعذاب نازلولو دپاره راغلی یو) پس ته دشپی په یو حصه کی خپل کور والا روان کړه (ددی ځای څخه دباندی) ووزی اوپه تاسی کی دی څوک شاته نه ګوری (یعنی ټول ژر ژرځی) البته مګر ستا ښځه (په وجه دنه مسلمانیدو به ولاړه نه سی) پردی هم هغه افت راتلونکی دی کوم چی به پر نورو خلګو راځی (اومونږ درته دشپی دوتلو څکه وایو) چی د دوی د (عذاب د) وعدی وخت دسهار وخت دی (لوط ﷺ ډیر تنګ سوی وو وی فرمایل چی څه کیږی اوس دی وسی (لکه په درمنثور کی دی) ملائکو وویل) ایا دسهاروخت نژدی نه دی؟ (غرض داچی لوط ﷺ دشپی شپی ووتی اولیری ولاړی اوسهارسو دعذاب اسباب شروع سوه) پس کله چی زمونږ حکم (دعذاب دپاره) راورسیدی نومونږ دغه مځکه (چپه کړه ددی) لوړه تخته مولاندی کړه (اولاندی تخته مولوړه کړه) اوپردی مځکه مونږ دقرت کانو ډبرو (مراد یی دخاوری هغه ډبری دی چی پخی سی اودکانوپه شان سی) اورول شروع کړل چی پرلپسی را اوریدی چی پردی باندی ستا درب دطرف څخه (یعنی په عالم غیب کی) خاص نخښی هم وی (چی په دی سره دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

ډبری دنورو ډبرو څخه په فرق کی وی) او (دمکی خلګوته په کار دی چی ددی قصی څخه عبرت واخلی څکه چی) داکلی (دقوم دلوط) ددی ظالمانو څخه څه لری نه دی (همیشه شام ته په تلو راتلوکی د دوی ډبربادی نخښی وینی پس دوی ته دالله ﷻ اودرسول دمخالفت څخه بیره په کارده)

معلومات اومسئلي: په سورة هود کی داکثرو تیرو پیغمبرانو اود دوی دامتونو حالات اودانبیاء علیهم السلام دمخالفت په وجه دمختلف قسم اسمانی عذابونو بیان راغلی دی په ذکرسوایتونوکی دحضرت لوط ﷺ او ددده دقوم حال اوپرقوم دلوط ﷺ دسخت عذاب بیان دی.

دحضرت لوط ﷺ قوم دکافر کیدو څخه علاوه په یوه داسی خبیثه بدکاری اوبی حیایی کی اخته وو چی په دنیاکی د دوی څخه مخکی ګرسره ددی نوم نه وو دکوم څخه چی دځنګل حیوان هم نفرت کوی چی سړی دسړی سره مخ تور کړی چی ددی عذاب او وبال دعامی بدکاری څخه په ډیرو درجوزیات دی په دی وجه په دی قوم داسی سخت عذاب راغلی کوم چی په عامو بی حیایو اوبدکاریو کوونکو باندی هیڅکله نه دی راغلی.

دحضرت لوط ﷺ واقعه کومه چی په دی ایتونوکی ذکر ده داسی ده چی الله ﷻ خپلی څو ملائکی چی په دوی کی جبرائیل امین هم شامل وو پردی قوم دعذاب نازلولو دپاره را ولیږلی کومی چی اول دحضرت ابراهیم ﷺ خواته فلسطین ته ورسیدی چی واقعه یی په تیرو ایتونوکی بیان سوې ده ددی څخه وروسته حضرت لوط ﷺ ته راغلی چی مقام یی ددغه ځای څخه دلس دولس میله په فاصله باندی وو الله ﷻ چی کوم قوم په عذاب باندی نیسی نوپر دوی هم د دوی دعمل مناسب عذاب مسلط فرمایی پردی موقع هم الله ﷻ دا ملائکی دښائسته هلکانوپه شکل کی راولیږلی کله چی دوی دحضرت لوط ﷺ کورته راورسیدی اودوی یی دانسان په شکل ولیدی نو دوی هم میلمانه وګڼل اوسخت پریشانه سو چی که دمیلمنو میلمستوب نه کوی نو داخو دپیغمبرانه شان څخه خلاف ده اوکه میلمانه کوی یی نودخپل قوم خباثت ورته معلوم دی ددی بیره ده چی دوی به پرکور راوخیژی اودی میلمنو ته به تکلیف ورسوی اودی به یی مدافعت ونه کړی سی اوپه زړه کی یی وویل چی نن ډیره سخته دمصیبت ورځ ده.

الله ﷻ دا عالم عجیبه دعبرت ځای جوړکړی دی چی په دی کی دهغه دکامل قدرت اوبالغ حکمت بی شمیره نخښی ښکاره دی دآزر بت پرست په کورکی یی خپل خلیل حضرت ابراهیم ﷺ پیدا کی دحضرت لوط ﷺ په شان دمقبول اوغوره سوی پیغمبر په کورکی دده بی بی دکافرانو سره ملاووه اودحضرت لوط ﷺ مخالفت یی کوی کله چی دامحترم میلمانه دښائسته هلکانو په شکل کی دحضرت لوط ﷺ په کورکی پاته سول نوددده ښځی د دوی دقوم بدمعاشان خلګ خبر کړل چی نن زمونږ په کور داسی میلمانه راغلی دی (قرطبی ومظهری)

دحضرت لوط ﷺ تیره بیره راوړاندی سوه دکومی بیان چی په دوهم آیت کی دی: وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ اِلَيْهِ یعنی راغی ده ته ددده قوم په منډه اودوی دمخکی څخه نامعقوله حرکتونه کول.

په دی کی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی دوی دخپل خبیث عمل په شومتیا سره دومره بی حیاسوی وه چی په ډاګه دحضرت لوط ﷺ پرکور ور وختل.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت لوط ﷺ چی کله ولیدل چی د دوی دفعه کول گران دی نودوی یی دشر څخه دمنع کولو دپاره وفرمایل چی تاسی ددی شر اوفساد څخه منع سی نوزه به خپلی لونی ستاسی سردارانوته په نکاح درکړم په دغه زمانه کی دمسلمانی ښځی نکاح دکافر سره جائز وه اودنبی کریم ﷺ داولی زمانی پوری داحکم جاری وو په دی وجه نبی کریم ﷺ دخپلو دوو لونو نکاح دعتبه بن ابی لهب او ابو العاص بن ربیع سره کړی وه حاجل دا وو چی دادواړه کافران وه وروسته بیا هغه ایتونه نازل سول په کومو کی چی دمسلمانانو ښځو نکاح دکافرانو سړو سره حرام سول (قرطبی)

اوځینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی دلته دخپلو لونو څخه مراد دخپل ټول قوم انجونی دی ځکه چی هریو پیغمبر دخپل قوم دپاره په مثل دپلار وی اوټول امت دهغه روحانی اولادوی لکه چی دایت کریمه اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗ اُمَّهٰتُهُمْ : سره دحضرت عبد الله بن مسعود ﷺ په قرائت کی د وَهُوَ اَبٌ لَّهُمْ الفاظ هم راغلی دی چی په دی کی نبی کریم ﷺ دخپل ټول امت پلار سوی دی ددی تفسیر مطابق دحضرت لوط ﷺ ددی خبری مطلب به داسی چی تاسو دخپل خبیث عادت څخه راوګرځوی په شرافت باندی دخپل قوم دجینکیو سره نکاح وکړی دوی ښځی جوړی کړی.

بیا حضرت لوط ﷺ دوی دخدای دعذاب څخه دبیرولو دپاره وفرمایل: فَاتَّقُوا اللّٰهَ او بیایی په عاجزی درخواست وکی: وَلَا تُخْزُوْنِ فِیْ ضَیْفِیْ یعنی ما زما دمیلمنو متعلق مه رسوا کوی اوویی فرمایل: اَلَیْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِیْدٌ یعنی ایاپه تاسوکی یوځوك داسی نښه او شریف سړی هم نسته چی زما فریاد واوری ؟

مګر هلته دشرافت اوانسانیت هیڅ اثرهم په چاکی باقی نه وو ټولو په جواب کی وویل: لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِیْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِیْدُ یعنی ته پوهیږی چی زمونږ ستا جینکیو ته هیڅ ضرورت نسته مونږ چی څه غواړو هغه تاته معلوم دی.

دغه وخت چی دهر طرف څخه عاجزه سو نو دحضرت لوط ﷺ په ژبه داکلمه: لَوْ اَنَّ لِیْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِیْ اِلٰی رُكْنٍ شَدِیْدٍ راغله یعنی کاشکی په ماکی دومره قوت وای چی دټول قوم می په خپله مقابله کولی سوی یا یو داسی ډله او جماعت می وای چی ددی ظالمانو دلاسه یی زه خلاصولی سوای.

ملائکو چی دحضرت لوط ﷺ داپریشانی ولیده نوخبره یی ښکاره کړه اوویی ویل چی بیره مه کوه ستاډله اوجماعت ډیر قوی اومضبوط دی مونږ دالله ﷻ ملائکی یو د دوی په واك کی دراتلو نه یو په دوی دعذاب واقع کولو دپاره راغلی یو.

دصحیح بخاری په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ ددی متعلق فرمایلی دی چی الله ﷻ دی په لوط ﷺ رحم وکړی هغه دیوی مضبوطی ډلی په پناه اخستو مجبوره سو اوپه ترمذی کی ددی سره داجمله هم ده چی دحضرت لوط ﷺ څخه وروسته الله ﷻ یو نبی داسی نه دی رالیږلی چی دهغه خاندان اوقبیله دهغه حمایت کوونکی نه وی (قرطبی)

په خپله دنبی کریم ﷺ متعلق دقریشو کافرانو په زړګونو قسمه تدبیرونه وکړل لیکن د دوی ﷺ ټول خاندان د دوی ﷺ حمایت وکی اګرچی په مذهب کی دغوټولو د دوی ﷺ سره موافقت نه کوی په دی وجه ټول بنی هاشم د دوی سره په هغه مقاطعه کی شریك سول په کومه کی چی دقریشو کافرانو پردوی

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی اوبه اودانه بند کړی وه .

دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه نقل دی چی په دی واقعه کی کله چی دلوط ﷺ قوم دده پرکور راوختی نوحضرت لوط ﷺ دخپل کوردوازه بنده کړی وه اوداخبری اتری ددی شریرقوم سره دپردی هاخواته کیدی ملائکی هم په کورکی دننه وی دی خلقو پر دیوال دراختلو اوددروازی ماتولو اراده وکړه نودغه وخت دحضرت لوط ﷺ په ژبه دا کلمی راغلی ملائکو چی کله دحضرت لوط ﷺ داپریشانی ولیده نو حقیقت یی ښکاره کی اووییی فرمایل چی ته دروازه خلاصه کړه اوس مونږ هغوی ته دعذاب خوند څکوو دروازه یی خلاصه کړه نوجبرائیل امین دخپل وزر اشاره د دوی سترګو طرف ته وکړه چی په دی سره دوی ټول ړانده سول او وتښتیدل .

دغه وخت ملائکو دالله ﷻ په حکم حضرت لوط ﷺ ته وویل: فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ : یعنی ته دشپی په اخری حصه کی خپل اهل اوعیال واخله اوددی ځای څخه ووزه اودایی ورته وویل چی په تاسوکی دی څوك شاته نه ګوری بغیرستادبی بی څخه څکه چی په هغی هم دغه عذاب راتلونکی دی کوم چی په قوم راځی ددی دامعنی هم کیدی سی چی ښځه دځان سره مه بیایه اوداهم کیدی سی چی دښځوالی په حیثیت سره داستا په اهل کی داخله ده ځی به درسره مګر دابه په دی حکم عمل ونه کړی کوم چی ته خپل اهل اوعیال ته ورکوی چی شاته به نه ګوری په ځینو روایتونوکی دی چی هم داسی وسوه چی دانښځه ورسره ولاړه مګرکله چی یی پرقوم دعذاب راتلو درزهاری واوریدی نوشاته یی وکتل اودقوم په تباه کیدو یی افسوس ظاهر کړی دغه وخت یوکانی راغی چی ددی یی هم خاتمه وکړه (قرطبی ومظهری)

ملائکو داهم ورته وویل چی : اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ : یعنی په دوی به عذاب په سهارکی راځی حضرت لوط ﷺ وفرمایل چی زه غواړم چی عذاب نور هم ژر راسی ، نو په دی باندی ملائکو وویل ، اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ : یعنی سهار خو څه لیری نه دی بلکه نژدی دی .

بیا ددی عذاب واقعه قران کریم داسی بیان کړه چی کله زمونږ عذاب راغی نومونږ ددی کلیو لوړه حصه لاندی کړه اوپردوی موداسی ډبری واورولی پرکومو چی دهریوه دنوم نخښه لګیدلی وه .

په روایتونوکی دی چی داځلور لوی ښارونه وه په کوموکی چی داخلق اوسیدل داکلی قرآن کریم په بل ځای کی د: مُؤْتَفِكَاتٍ په نوم سره یادکړی دی کله چی دالله ﷻ حکم وسو نوجبرائیل امین خپل وزر ددی کلیو دمخکی لاندی ته ورسوی ټول یی داسی پورته کړل چی هرشی پرخپل ځای وو داوبو دلوښی څخه اوبه هم توی نه سوی داسمان دطرف څخه دسپو اوحیواناو اوانسانانو اوازونه راتلل داکلی داسمان طرف ته دسیده پورته کولو څخه یی نسکور راوویشتل کوم چی د دوی ددغه خبیث عمل سره مناسب وو دایت په اخرکی دقوم دلوط ﷺ دعذاب ذکر کولوڅخه وروسته ددنیا ددی موجوده قومونو دخبرولو دپاره فرمایی: وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ یعنی دډبرو اورولو عذاب نن هم دظالمانو څخه څه لیری نه دی کوم خلق چی ددغه قوم په شان ظلم اوبی حیائی کوی هغوی دی خپل ځان ددی عذاب څخه لیری نه ګڼی نن هم داعذاب راتلی سی نبی کریم ﷺ فرمایل دی چی زمابه امت کی به هم ځینی خلق دغه عمل وکړی کوم چی دحضرت لوط ﷺ قوم کوی کله چی داسی وسی نوانتظار کوی چی پردوی به هم دغه عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

راخی کم چی پرقوم دلوط ﷺ باندی راغلی وو

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ وَلَا تَنْقُصُوا

او دمدین طرف ته ولیږی مونږ د دوی ورور شعیب ﷺ ویی ویل ای زما قومه! بندګی کوی دالله نسته تاسو ته معبود دهغه څخه ماسوا اومه کموی،

الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّيْۤ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ وَّاِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

ناپ او تول زه وینم تاسی اسوده حال اوبیریږم پرتاسی باندی

عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ ﴿۸۴﴾ وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ

دعذاب دیوی ګیرونکی ورځی ، او ای قومه پوره کوی ناپ او تول په انصاف سره

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۸۵﴾

اومه کموی خلقوته د دوی شیان اومه خپروی په مخکه کی فساد ،

بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَاۤ اَنَا عَلَيْكُمْ

کوم چی باقی پاته سی دالله ورکړه هغه غوره دی تاسولره که تاسی ایماندار یاست اوزه نه یم پرتاسی باندی،

بِحَفِيْظٍ ﴿۸۶﴾ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ

نګهبان ، وی ویل ای شعیبه ستا لمونځ کول تاته دانبیی چی مونږ پریږدو د کوموچی عبادت کوی

اٰبَآؤُنَاۤ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِىْۤ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ؕ اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ

زمونږ پلار نیکه یا پریږدو کول څه چی مونږ کوو په خپلو مالونوکی ته یی ډیر باوقار ،

الرَّشِيْدُ ﴿۸۷﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّىْ

نیک چلن ، وی ویل ای قومه! وګوری که ماته پوهه راغلی وی دخپل رب دطرف څخه ،

وَرَزَقَنِىْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ وَمَاۤ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَاۤ

اوهغه رزق راکړی وی ماته غوره رزق اوزه دانه غواړم چی وروسته وکړم هغه کار کوم چی

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنْهٰكُمْ عَنْهُ ؕ إِنْ أُرِيْدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ؕ وَمَا تَوْفِيْقِيْ

تاسی ورخخه منع کوم زه غواړم اصلاح کول ترخوپوری چی زماپه وسه وی اومطلب پوره کیدل دی

إِلَّا بِاللّٰهِ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ ﴿۸۸﴾ وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ

دالله په مدد سره په ده باند مابروسه کړی ده او ده ته زماواپسی ده ، او ای زماقومه مه کتی زما دضد په

شِقَاقِيْ أَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ أَوْ قَوْمَ هُوْدٍ

وجه دا چی پریږوزی په تاسی لکه چی څه پریږوتلی وو په قوم دنوح ﷺ باند یاپه قوم دهود ﷺ باندی

أَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ﴿۸۹﴾ وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ

یاپه قوم دصالح ﷺ باندی اوقوم دلوط ﷺ ستاسی څخه څه لیری نه دی ، اوبخښنه غواړی دګناه دخپل رب

ثُمَّ تُوْبُوْا إِلَيْهِ ؕ إِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ ﴿۹۰﴾ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ

څخه اورجوع کوی دهغه طرف ته خامخا زما رب دی مهربانه محبت والا ، وی ویل ای شعیبه ! مونږنه پوهیږو

كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ وَإِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ

په ډیرو خبرو کومی چی ته وایی اومونږ خو وینو چی ته په مونږکی کمزوری یی اوکه نه وی ستابهایی بندخلګ ،

لَرَجَمْنٰكَ ۖ وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ﴿۹۱﴾ قَالَ يٰقَوْمِ أَرَهْطِيْ أَعَزُّ عَلَيْكُمْ

نو ته به مونږ په ډبرو ویشتلی وای اوزمونږ په نظر کی ستا هیڅ عزت نشته ، وی ویل ای قومه ! ایازما دبهایی

بندی عزت پرتاسی زیات دی ،

مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ إِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۹۲﴾

دالله څخه اوهغه تاسی غورځولی دی شاګانوته (هیر کړی دی) بیشکه زمادرب په واک کی دی څه چی تاسی کوی ،

وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ إِنِّيْ عَامِلٌ ؕ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ

او ای زماقومه ! کارکوی په خپل خای باندی زه هم کار کوم ، مخ ته به پوه سی چی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

يَّأْتِيهِ عَذَابٌ يُّخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ۭ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّىْ مَعَكُمْ

په چا راځی عذاب رسوا کوونکی اوچی څوك دی دروغجن اوانتظار کوی زه هم ستاسی سره

رَقِيْبٌ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ

انتظارکوم ،اوکله چی راغی زمونږ حکم خلاص کی مونږ شعیب اوکومو چی ایمان راوړی وو دده سره په خپلی مهربانی سره

مِّنَّا وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ

او ونیول دغه ظالمان چیغی بیا سهار سو په خپلو کورونو کی،

جٰثِمِيْنَ ﴿۹۴﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۭ اَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ﴿۹۵﴾

نسکور پراته ، گویا هیڅکله دلته اوسیدلی نه وه خبردار لیری والی دی درحمت څخه مدین والاوو لره لکه چی لیری والی وو ثمودیانو لره .

لنډتفسیر: اومونږ دمدین والاوو طرف ته د دوی ورور شعیب (ﷺ) پیغمبر جوړکړی) ولیږی دوی (مدین والاووته) وفرمایل چی ای زماقومه تاسی (صرف) دالله ﷻ عبادت کوی دهغه څخه ماسوا ستاسی (د) معبود (جوړیدو بل قابل) نسته (داحکم خوددین او عقیدو مطابق د دوی دحال مناسب وو) او (دوهم حکم دمعاملو متعلق یی د دوی مناسب دا وفرمایی چی) تاسی په ناپ تول کی کمی مه کوی (څکه چی) زه تاسی دفراغت په حالت کی وینم (بیاتاسی ته په ناپ تول کی دکمی کولو څه ضرورت دی اوپه حقیقت کی خوددی هیچاته هم ضرورت نه وی) او (علاوه ددی چی په ناپ تول کی کمی نه کول دالله ﷻ دنعمتونو تقاضاده په خپله بیره هم ددی مقتضی ده څکه چی په دی کی) زماپر تاسی بیره ده دداسی ورځی دعذاب چی په اقسامو عذابونه به په کښی جمع وی او (هرځومره چی دکمی نه کولو سره پوره کول لازمی دی مګر دتاکید دپاره ددی منع څخه وروسته ددی خبری وضاحت فرمایی چی) ای زماقومه! تاسی ناپ تول پوره پوره ورکوی اودخلګو په دی شیانو کی نقصان مه کوی (لکه چی ستاسی عادت دی) او (په شرك اودخلګو په حقونوکی په کمی کولو سره) په مځکه کی فساد کوونکی دحد (دتوحید اوعدل) څخه مه وزی (دخلګو دحقونو اداکولو څخه وروسته) دالله ﷻ دطرف څخه رزول سوی چی څه (حلال مال) باقی پاته سی هغه ستاسی دپاره (ددی حرامی ګټی څخه) په دیرودرجوښه دی (څکه چی په حراموکی که څه هم دیر وی برکت نه وی اوانجام یی جهنم دی اوپه حلال کی که څه هم لږ وی برکت وی اوانجام یی رضا دحق ده) که تاسی یقین کوی (نوومنی) او (که یقین نه کوی نوتاسی پوه سی) زه ستاسی پهره دار خونه یم (چی ستاسی څخه په زور داکارونه خلاص کړم چی څه کوی هغه به پیدا کی) دغوخلګو (داتول وعظ اونصیحت واوریدی) وی ویل ای شعیبه! ایاستا دا (ددوکی او خیال) پاکوالی تاته (ددا سی داسی خبرو) ښودنه کوی چی (ته مونږ ته وایی چی) مونږ (عبادت د) هغو شیانو پریږدو دکومو عبادت

Maktaba Tul Ishaat.com

چې زمونږ مشرانو کړې دي اودا خبره پريږدو چې مونږ په خپل مال کې څه غواړو تصرف کوو واقعي ته لوی عقل مند په دين چليدونکی يی (يعنی دکومو خبرو څخه چې مونږ منع کوی په دواړوکی هيڅ بدوالی نسته ځکه چې ديوی خبری دليل خونقلی دی چې زمونږ مشرانو بت پرستی کړي ده اودبلی دليل عقلی دی چې زمونږ خپل مال دی په دی کې زمونږ هرقسم اختيار دی نوزمونږ منع کول نه دی په کار اوحليم رشيد يی ورته په مسخره سره وويل لکه چې دبی دينو په ديندارو پوری دمسخرو کولو عادت وی اود دوی دنقلی اوعقلی دواړو دليلونو فساد خوښکاره دی) شعيب ﷺ وفرمايل ای زما قومه! (تاسی چې کوم زماځخه غواړی چې زه دی دتوحيد اوعدل نصيحت نه کوم نو) ښه ده دا خوښياست چې که زه دخپل رب دطرف څخه پر دليل (قائم) يم (چې توحيد اوعدل ورڅخه ثابت دی اوهغه ماته دخپل طرف څخه يوعمده دولت (يعنی نبوت) راکړی وی (چې په دی سره پرما ددی احکاموتبليغ واجب وی يعنی دتوحيد اوعدل حقوالی ورڅخه هم ثابت وی اود دوی تبليغ هم واجب وی) نوبيا تبليغ څنګه نه کوم اوزه (لکه څنګه چې ددی خبرو تاسی ته تعليم کوم په خپله هم په دی عمل کوم) دانه غواړم چې ستاسی برخلاف هغه کارونه وکړم دکومو څخه چې تاسی منع کوم (دبرخلاف څخه خاص دامراد دی چې تاسی ته يوه لار ښيم اوزه پربله لارځم مطلب دا دی چې زما نصيحت محض دخير خواهی اوزړه سوانديی نه دی چې ددی قرينه داده چې زه هغه خبری تاسی ته ښيم کمی چې دخپل نفس دپاره هم خوښوم غرض داچې) زه خواصلاح غواړم ترڅو پوری چې زماپه وسه کيدی سی اوماته چې څه (دعمل اواصلاح) توفيق کيږی صرف دالله ﷻ په مدد سره دی (کنه نوڅه زه اوڅه زما اراده) پرهغه زما بروسه ده اودهغه طرف ته (په ټولو کارونو کی) رجوع کوم (لنډه داچې دتوحيد اوعدل پروجوب باندی دليلونه هم قائم دی اودخدای په حکم ددی تبليغ اونصيحت کوونکی داسی زړه سوانديی اومصلح دی بيايی هم نه منی بلکه چپه زماځخه اميد ساتی چې زه داوينا پريږدم چونکه په دی تقريرکی يی دزړه سوانديی اواصلاح خپل طرف ته نسبت کړی دی په دی وجه يی: مَاتَوْفِيقِیْ : وفرمايل تردی ځای پوری خود دوی دوينا جواب وسو مخ ته ترهيب اوترغيب فرمايی) او ای زما قومه! زماسره ضد (اودښمنی) دی ستاسی دپاره ددی باعث نه سی چې پرتاسی هم داسی مصيبتونه راپريوزی لکه پرقوم دنوح ﷺ ياقوم دهود ﷺ ياقوم دصالح ﷺ چې راغلی وو او (که چيری ددی قومونو قصه زړه سوی وی اوپه دی وجه تاسی نه ورڅخه متاثره کيږی نو) قوم دلوط ﷺ (خواوس) ستاسی څخه (په ډيره) ليری (زمانه کی) نه دی تيرسوی (يعنی ددغو قومونو په نسبت خود دوی زمانه نژدی ده داځو دترهيب مضمون سو مخ ته ترغيب دی) او تاسی دخپل رب ځخه دخپلی ګناه (يعنی شرك اوظلم) معافی غواړی (يعنی ايمان راوړی ځکه چې په ايمان سره ټول ګناهونه معاف کيږی که څه هم حقونه خو اداکول وی) بيا (په اطاعت اوعبادت سره) دهغه طرف ته متوجه سی بيشکه زمارب ډير مهربانه لوی محبت کوونکی دی (هغه ګناه معاف کوی اوطاعت قبلوی) دغو خلګو (چې دالا جوابه زړه راکشوونکی تقرير واوريدی اودځه معقول جواب څخه عاجزه سول نو په جهالت سره يی) ووويل چې ای شعيبه! ډيری خبری چې ته کوی زمونږ په فکرکی نه راځی (داخبره خويی يا په دی وجه ويلی ده چې ستا خبرو ته توجه نه ورکوو يايی په سپك والی سره ووويل چې نعوذ بالله داهسی عبثيات

Maktaba Tul Ishaat.com

دی دپوهیدو قابل نه دی لکه چی دبی دینو څخه دغه شان دا ټولی خبری واقع کیږی) اومونږ تاپه خپل (مینځ) کی کمزوری وینو اوکه چیری ستا دخاندان (چی زمونږ سره په مذهب کی شریك دی زمونږ سره) لحاظ نه وای نومونږ به ته (یوځای) په ډبرو ویشتلی وای اوزمونږ په نظرکی ستا هیڅ قدر نسته (لیکن دچالحاظ چی وی دهغه په سبب دهغو دقریبانو هم لحاظ ساتل کیږی مطلب د دوی داوو چی ته مونږته دامضامین مه اوروه کنه نوستا دځان خطره ده اول یی په مسخرو سره منع کړی وو: أَصَلَوٰتُكَ تَأْمُرُكَ اوس اخطار ورلره ورکوی بیروی یی اومنع کوی یی) شعیب (علیه السلام په جواب کی) وویل ای زما قومه (افسوس اوتعجب دی چی زما کم نسبت چی دالله ﷻ سره دی چی زه دهغه نبی یم نودغه نسبت زما دهلاکولو څخه مانع نه سو اوکوم نسبت چی زمادخاندان سره دی چی د دوی قریب یم هغه ددی څخه مانع سونوپه دی سره خودا لازمه سوه چی تاسی دخاندان لحاظ دالله ﷻ څخه زیات کوی نو) ایا زما خاندان ستاسی په نزد (نعوذ بالله) دالله ﷻ څخه هم زیات معتبردی (چی دخاندان لحاظ خوکوی) اوهغه (یعنی الله ﷻ) تاسی شاته غورځولی دی (یعنی دده لحاظ نه کوی نوددی سزا به ډیره ژر وځکی ځکه چی) یقیناً زمارب ستاسی ټول عملونه (په خپل علم کی) راګیرکړی دی اوزما قومه! (که ستاسی په عذاب یقین نه راځی نواخری خبره داده چی تاسی پوه سی ښه ده) تاسی په خپل حالت عملونه کوی زه هم (په خپل طور) عمل کوم (پس) اوس به ژر تاسی ته معلومه سی چی هغه څوك دی چی پرچاداسی عذاب راتلونکی دی چی هغه به رسواکړی اوهغه څوك دی کوم چی درواغجن وو (یعنی تاسی ما دنبوت په دعوی کی درواغجن ګڼی اوسپك می ګڼی نواوس به معلومه سی چی ددروغو مجرم اودذلت دسزا مستحق څوك وو تاسی یازه) اوتاسی هم انتظارکوی زه هم ستاسی سره انتظارکوونکی یم (چی وګورو چی زما دوینا مطابق عذاب واقع کیږی اوکه ستاسی دګمان مطابق نه واقع کیږی غرض داچی یوه زمانه وروسته دعذاب اسباب شروع سوه) اوکله چی زمونږ حکم (دعذاب دپاره) راغی (نو) مونږ (ددی عذاب څخه) شعیب (علیه السلام) اوکوم چی دده ملګری مومنان وه دوی په خپله (خاص) مهربانی سره خلاص کړل اودغه ظالمان یوسخت اواز (چی دجبرئیل علیه السلام نعره وه) ونیول پس دوی په خپلوکورونوکی دننه نسکور پراته پاته سول (اومړه سول) لکه چی هیڅکله هم په دی کورونوکی اوسیدلی نه وه ښه واوری (اوعبرت واخلی) مدین والا درحمت څخه لیری سوه لکه چی ثمودیان درحمت څخه لیری سوی وه.

معلومات اومسئلي: په دی ذکرسوو ایتونوکی دحضرت شعیب علیه السلام اودده دقوم واقعه ذکرده ده قوم به دکفر اوشرك څخه علاوه په ناپ اوتول کی کمی هم کوی حضرت شعیب علیه السلام دوی ته دایمان دعوت ورکی اوپه ناپ اوتول کی یی دکمی کولوڅخه منع کړل اوددی په خلاف کولویی دالله ﷻ دعذاب څخه وبیرول مګر دوی پرخپل انکار او سرکښی قائم پاته سول نوټول قوم دیوسخت عذاب په ذریعه هلاك کړل سو چی تفصیل یی داسی دی.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا: یعنی مونږ دمدین طرف ته د دوی ورورشعیب علیه السلام ولیږی مدین په اصل کی دیوښار نوم وو کوم چی مدین بن ابراهیم ابادکړی وو ددی محل وقوع دشام موجوده مقام (معان) ښودل کیږی ددی ښار اوسیدونکوته هم پرځای داهلِ مدینو مدین ویل کیږی حضرت شعیب علیه السلام دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

یوجلیل القدر پیغمبردی کوم چی ددی مدین دقوم څخه دی په دی وجه یی ده ته دمدین ورور وفرمایل او ددی نعمت طرف ته یی اشاره وفرمایله چی ددی قوم رسول الله ﷺ ددی قوم څخه جوړ کی چی د دوی سره عادت وی او هدایتونه یی په اسانی سره قبول کړی.

قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ : په دی کی حضرت شعیب ﷺ اول خوخپل قوم ته دتوحید دعوت ورکی څکه چی داخلق مشرکان وه ددرختو عبادت به یی کوی چې دایې په قرآن کی په لفظ د: ایکه سره تعبیر کړی دی اوپه دی نسبت سره یی مدین والاووته د: أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ لقب هم په قران کی ورکړی دی ددی کفر اوشرك سره په دوی کی یوبل عیب اوگناه ډیره سخته داوه چی دترازو اودلین دین په وخت کی به یی په ناپ اوتول کی کمی کوله او دخلقو حق به یی خوړی حضرت شعیب ﷺ دوی ددی څخه منع کړل.

فائده: دلته داخبره په خاص طورسره دغورقابله ده چی کفر اوشرك دټولو گناهونو ریښه ده کوم قوم چی په دی کی مبتلاوی دوی ته اول دایمان دعوت ورکول کیږی دایمان څخه مخکی په نورومعاملو اوعملونو توجه نه سی ورکول کیدی په دنیاکی د دوی نجات یا عذاب هم ددی ایمان اوکفرپه سبب وی ددټولو تیرو پیغمبرانو اود دوی دقومونو چی څومره واقعات په قرآن کی ذکردی ددی طرز عمل شاهدی ادا کوی صرف دوه قومونه داسی دی پرکومو چی په عذاب نازلیدوکی دکفر سره د دوی خبیث عملونه هم داخل دی یودحضرت لوط ﷺ قوم چی ذکریی ددی څخه مخکی تیرسوی دی چی په دوی کوم عذاب دکلیو دسرچپه کولو واقع سو ددی سبب د دوی خبیث عمل ښوول سوی دی دوهم قوم دحضرت شعیب ﷺ دی چی د دوی دعذاب سبب دکفر اوشرك څخه علاوه په ناپ اوتول کی کمی کول هم مقرر سوی دی ددی څخه معلومه سوه چی دادواړه کارونه دالله ﷻ په نزد دټولو گناهونو څخه زیات مبغوض اوسخت دی په ښکاره وجه داده چی دادواړه کارونه داسی دی چی ټول نسل انسانی ته ددی څخه سخت نقصان رسیږی اوپه ټول عالم کی ددی څخه یوعظیم فساد خپریږی.

حضرت شعیب ﷺ خپل قوم په ناپ او تول کی دکمی کولو دخبیث عمل څخه دمنع کولو دپاره په پیغمبرانه شفقت سره اول خودا وفرمایل: إِنِّي أَرَاكُمْ بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُحِيطٍ : یعنی زه تاسی داوخت په خوشحالی کی وینم څه لوړه تنده اومالی تنگی نسته چی دهغه په وجه سره په دی بلاء کی اخته یاست ددی څخه علاوه دالله ﷻ دنعمت شکر ددی مقتضی دی چی تاسی دهغه پرمخلوق ظلم نه کوی اوبیایی داهم ورته وښوله چی که تاسی زماخبره وانه وریده اوددی خبیث عمل څخه منع نه سواست نوزما بیره ده چی دخدای ﷻ عذاب به تاسی گیرکړی ددی عذاب څخه داخرت عذاب هم مراد کیدی سی اوددنیا هم بیا ددنیا عذاب هم په مختلفو قسمونو راتلی سی ادنی عذاب یی دا دی چی ستاسی داخوشحالی به ختمه سی اوتاسی به په قحط اوگرانی غوندې شیانوکی اخته سی لکه چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی ، کله چی یوقوم په ناپ اوتول کی په کمی کولو شروع سی نوالله ﷻ دوی په قحط او دشیانو دگرانی په عذاب کی اخته کړی.

او که څه هم په ناپ اوتول کی دکمی کولو څخه په منع کولو سره پوره ناپ اوتول کول په خپله ضروری

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدی سی لیکن دزیات تاکید دپاره حضرت شعیب علیه السلام فرمایی ، وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ : یعنی ای زماقومه! تاسی ناپ اوتول په انصاف سره پوره کوی او دخلکو شیان مه کموی او په مخکه کی فساد مه خپروی بیا دوی په شفقت سره پوهوی .

بَقِيَّةُ اللَّهِ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ : یعنی دخلکو دحقونو دناپ اوتول دپوره ورکولو څخه وروسته چی څه باقی پاته سی ستاسی دپاره نه دابنه ده که تاسی زماخبره ومنی اوکه زماخبره ونه منی نویادساتی چی زه ددی ذمه وارنه یم چی پرتاسی څه عذاب راسی .

دحضرت شعیب علیه السلام په باره کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دی خطیب الانبیاء دی دوی په خپل حُسنِ بیان سره دخپل قوم دپوهولو اوپه هدایت دراوستلو په پوره کوشش کی انتها وکړه مگر ددی هرڅه اوریدو څخه وروسته قوم هم هغه جواب ورکی کوم چی یی جاهل قومونه خپلو اصلاح کوونکو ته ورکوی په دوی پوری یی مسخری وکړی اوخندا گانی یی وکړی او وی ویل .

أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ : یعنی ایاستا لمونځ کول تاته دابنیی چی مونږ هغه معبودان پریږدو دکومو عبادت چی زمونږ پلرونو نیکه گانو کړی دی اوداچی مونږ په خپلو ملکیتی مالونوکی خپل اختیار وچلوی چی څنگه زمونږ زړه غواړی معامله کوو بلکه په خپلو معاملوکی هم ساتنه پوښتنه کوو چی ایا داحلاله ده اوکه حرامه ؟

دحضرت شعیب علیه السلام لمونځ په ټول قوم کی معلوم وو چی دیرزیات نفلونه اوعبادت به یی کوی په دی وجه د دوی ارشادات به یی په طور دمسخرو دده لمونځ ته منسوب کول چی ستا لمونځ تاته (معاذ الله) داسی غلطی خبری ښیی د دوی ددی خبری څخه معلومه سوه چی دی خلگوبه داسی گڼله چی ددین اوشریعت کار صرف ترعبادتونو پوری محدود دی په معاملاتوکی یی څه دخل نسته هر سړی چی په خپل مال کی څنگه غواړی تصرف دی کوی پرده باندی یو پابندی لگول ددین کارنه دی لکه چی په دی زمانه کی هم دیر ناپوهه خلگ داسی خیال لری .

قوم دخالصی همدردی زړه سوانده اونصیحت جواب دومره تریخ ورکی مگر حضرت شعیب علیه السلام پیغمبری شان لری ددی هرڅه داوریدو څخه وروسته هم په دغه همدردی سره یی مخاطب کړل دزیات پوهولو دپاره یی ورته وویل ، يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا : یعنی ای زما قومه! ماته وښیاست چی که زه دخپل رب دطرف څخه دخپلی خبری په حقوالی باندی دلیل اوکافی شهادت لرم اوالله ﷻ ښه رزق هم ماته راکړی وی چی ښکاره رزق پوه اوعقل اوپه دی سربیره دوحی او نبوت پیش بها انعام یی هم راکړی وی نوبیا ستاسی رایه دا ده چی ددی ټولو شیانو باوجود زه هم ستاسی په شان گمراهی اوظلم اختیار کړم او حقه خبره تاسی ته نه رسوم ، ددی څخه وروسته یی وفرمایل:

وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ : یعنی په دی هم پوه سی چی زه دکوم شی څخه تاسی منع کوم په خپله هم دی ته نژدی نه ورځم که ما تاسی منع کولی اوپه خپله می کولی نو بیابه تاسی ویل .

ددی څخه معلومه سوه چی دداعی او واعظ اوتبلیغ کوونکی عمل لره دده په وعظ او نصیحت کی لوی دخل وی په کوم شی چی وعظ کوونکی په خپله عمل نه کوی دهغه خبره په نورو اثر نه کوی بیافرمایی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ : یعنی زما قصد ددی تول جد او جهد اوتاسی ته دبار بار وینا څخه بغیر ددی څخه نور هیڅ نسته چی دخپل طاقت مطابق داصلاح کوشش وکړم اوبیا فرمایی چی داکوشش هم په حقیقت کی زما د خپل اختیار څخه نه دی بلکه: وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ : یعنی دا زه چی څه کوم دغه تول دالله ﷻ په راکول سوی توفیق سره یی کوم کنه نو زماپه وس کی هیڅ هم نه وه پرهغه زما بروسه ده او دهغه طرف ته په هرکارکی زه رجوع کوم .

ددی پند اونصیحت څخه وروسته بیا دوی دالله ﷻ دعذاب څخه بیروی: وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِنْكُمْ بِبَعِيدٍ : یعنی تاسی سوچ وکی اوپوه سی هسی نه چی زماسره مخالفت اودښمنی پرتاسی یو داسی عذاب راولی لکه چی ستاسی څخه مخکی په قوم دنوح یاپه قوم دهود یاپه قوم دصالح ﷺ راغلی دی اودحضرت لوط ﷺ قوم اودهغوی عبرتناك عذاب خو ستاسی څخه ځه لیری هم نه دی یعنی په مقامی اعتبار سره هم دقوم لوط ﷺ سرچپه سوی کلی مدین ته نژدی دی او دزمانی په اعتبار سره هم تاسی ته په ډیره نژدی زمانه کی په دوی عذاب راغلی دی ددی څخه عبرت حاصل کړی او دخپل ضد څخه بیرته را واپس سی .

دده قوم چی داواوریدل نو نورهم راوپاریدی اووی ویل چی که ستا دخاندان حمایت تاته حاصل نه وای نومونږ به ته په ډبرو ویشتلی وای حضرت شعیب ﷺ په دی هم دوی ته نصیحت وفرمایی چی تاسی زما دخاندان څخه بیره کوی مګر دخدای ﷻ هیڅ بیره درسره نسته دچاپه قبضه کی چی هرڅه دی اخر کله چی قوم یوه خبره ونه منله نوحضرت شعیب ﷺ وفرمایل چی نه ده تاسی اوس دعذاب انتظار کوی ددی څخه وروسته الله ﷻ حضرت شعیب ﷺ اوپه ده ایمان راوړونکی ددستور مطابق ددغه کلی څخه وایستل او باقی تول دجبرائیل ﷺ په یوسخت اواز سره یَکْدَم هلاك سول .

احکام اومسئلي: دناپ اوتول دکمي مسئله: په ذکر سوو اینونوکی دحضرت شعیب ﷺ په قوم دعذاب راتلو یوسبب د دوی په ناپ تول کی کمی کول وو کوم ته چی تطفیف ویل کیږی اوقرآن کریم په: وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ کی د دوی دسخت عذاب بیان فرمایلی دی اود امت په اجماع سره داسی کول سخت حرام دی دحضرت فاروق اعظم ﷺ دیوارشاد لاندی حضرت امام مالك رحمه الله په موطاء کی فرمایی چی دناپ اوتول دکمی څخه اصل مراد دا دی چی دچا کوم حق دچا پرذمه وی هغه پوره ادانه کړی بلکه په دی کی کمی وکړی برابره خبره ده که دغه دناپ کولو یاتللو شی وی یابل څه که یوملازم دخپلو منصبی فرضو په اداکولو کی کوتاهی کوی دیودفتر ملازم یا یومزدور دخپل کار په مقرر وخت کی کمی کوی یاپه مقرر کارکی کوتاهی کوی هغه هم په دی فهرست کی داخل دی یو سړی دلمانځه اداب اوسنت پوره نه پرځای کوی هغه هم ددی تطفیف مجرم دی نعوذ بالله منه .

مسئله : په تفسیر قرطبی کی دی چی دحضرت شعیب ﷺ دقوم یوعادت داوو چی دملك درانجو سکو درهمونو اودینارونو څخه به یی غاړی پری کولی سره اوسپین به یی بچت کول اوداپری سوی سکی به یی په پوره قیمت سره بدلولی حضرت شعیب ﷺ دوی ددی څخه منع کړل .

په حدیث کی نبی کریم ﷺ هم داسلامی حکومت دسکو پریکول حرام ګرځولی دی اود ایت ، تِسْعَةُ رَهْطٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ : په تفسیر کی دتفسیر امام حضرت زید بن اسلم دافرمایلی دی چی دی خلکو به درهمونه اودیناروونه پریکول اوخپلی فائدی به یی حاصلولی کوم چی قرآن عظیم فساد گرځولی دی دحضرت عمر بن عبد العزیز ﷺ دخلافت په زمانه کی یوسړی په دی جرم کی ونیول سو چی ده درهمونه پریکول نوخلیفه ددرُو سزا ورلره ورکړه اوسر یی وروخریی په بنار کی یی وگرځوی (تفسیر قرطبی)

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَاتَّبَعُوا

اوخامخا لیږلی دی مونږ موسی ﷺ دخپلو نخښو او واضح دلیل سره فرعون ته او ددده سردارانو ته بیا هغوی .

أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۚ وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ

ولاړل په حکم دفرعون او نه ده خبره دفرعون دځه کار مخکی به وی دقوم خپل څخه په ورځ

الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ لَعْنَةً

دقیامت بیابه ورسوی دوی اورته اودیرناکاره خای دی چی ورورسیږی اوورپسی سوباندی په دی جهان کی لعنت

وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ ۖ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْقُرَىٰ

او په ورځ دقیامت هم ناکاره انعام دی چی دوی ته ورکول سی دا لږ څه حالات دی دکلیو

نَقُصُّهُ عَلَيْكَ مِنْهَا قَائِمٌ وَحَصِيدٌ ﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن ظَلَمُوا

چی مونږ او روو تاته ځینی د دوی څخه تر اوسه قائم دی او دځینو ریښی پریکړل سوی دی اومونږ په دوی ظلم نه دی کړی ، لیکن ظلم وکی ،

أَنفُسَهُمْ فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ الَّتِي يَدْعُونَ مِن دُونِ

دوی په ځانونو بیا یو په کار ورنه غلل د دوی معبودان کوم چی به یی را بلل دالله ﷻ څخه ماسوا

اللَّهِ مِن شَيْءٍ لَّمَّا جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿١٠١﴾

په یوشی کی کله چی راغی حکم درب ستا اوزیات یی نه کړه دوی ماسوا دهلاکت څخه

لنډتفسیر: اومونږموسی ﷺ ته (هم) خپلی معجزی اوروښانه دلیل ورکی فرعون اوددده سردارانوته مولیږی پس (نه فرعون ومنی اونه ددده سردارانو ومنی بلکه فرعون هم پر خپل کفر پاته سو او) دغه خلک (هم) دفرعون په رایی روان سول اودفرعون رایه یوه صحیح نه وه دغه (فرعون) به دقیامت په ورځ دخپل قوم څخه مخکی مخکی وی بیابه دوی (توله) دوږخ ته ورکښته کړی اوهغه (دوږخ) ډیر بدځای دی دورکښته کیدو کوم ته چی به داخلک ورکښته سی اوپه دی دنیا کی هم لعنت د دوی سره ملګری سو اودقیامت په ورځ به هم (د دوی سره وی چنانچی دلته په قهر سره غرق سو اوهلته به یی دوږخ نصیب سی) ناکاره انعام دی کوم چی دوی ته ورکول سو دا (څه چی لوړ په قصوکی ذکر سول) دهغو (تباه سوو)

Maktaba Tul Ishaat.com

کلیو ځینی حالات وه کوم چی مونږ تاته بیا نوو (پس) ځینی کلی خو په دغوکی (تراوسه) قائم دی (مثلاً مصرچی دفرعونیانو دهلاکیدو ځخه وروسته هم اباد پاته سو) اوځینی بالکل ختم سوی دی او (مونږ چی دی ذکرسوو کلیو والاو لره سزا ورکړه پس) مونږ پردوی ظلم نه دی کړی (چی بی قصوره مو سزا ورلره ورکړه چی صورةً ظلم دی) لیکن دوی په خپله پرخپلو ځانونو باندی ظلم وکی (چی داسی حرکتونه یی وکړل چی دسزا لائق سول) پس د دوی هغو معبودانو کوم چی دوی دخدای ځخه ماسوازابولیدوی ته هیڅ فائده ونه رسول سوه کله چی ستا درب حکم (دعذاب دپاره) راغی (چی دوی یی دعذاب ځخه خلاص کړی وی) او (فائده خو لاپریږده) چپه یی دوی ته نقصان ورسوی (یعنی سبب دنقصان سو چی د دوی دعبادت په وجه یی سزا وخوړه)

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۭ اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ

او داسی دی نیول ستادرب کله چی نیسی کلی او دوی ظلم کوونکی وی بیشکه دهغه نیول دردناك دی

شَدِيْدٌ ۝۱۰۲ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ۭ ذٰلِكَ

سخت په دی خبره کی نخښه ده هغه چا لره چی وبیریږی داخرت دعذاب ځخه ، دغه

يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ۝۱۰۳ وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ

یوه ورځ ده چی جمع به سی په کی خلق ټول اودغه ورځ ده دټولوپیش کیدو اومونږچی ددی وروسته کوو نودیوی

مَّعْدُوْدٍ ۝۱۰۴ يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ

وعدی دپاره چی مقرره ده کومه ورځ چی دغه راسی خبری به نه سی کولی یو جانداړ مګر دهغه په حکم سره ، نو په دوی کی ځینی بد بخت دی ځینی نیك بخت ،

۝۱۰۵ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ۝۱۰۶ خٰلِدِيْنَ

نو کوم خلګ چی بدبخت دی دغه خو په اورکی دی دوی لره هلته چیغی او هر هاری دی همیشه به وی

فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَاۗءَ رَبُّكَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ

په دی کی ترڅو چی وی آسمان اومځکه مګر هغه چی وغواړی ستارب بیشکه ستارب

فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ۝۱۰۷ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

کوی څه چی وغواړی اوکوم خلګ چی نیك بخت دی نو په جنت کی دی همیشه به وی په دی کی ،

مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَاۗءَ رَبُّكَ عَطَاۗءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ۝۱۰۸ فَلَا

ترڅو چی وی آسمان او مځکه مګر هغه چی وغواړی ستارب بخښش دی بی انتهاء نو ته مه

Maktaba Tul Ishaat.com

تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ؕ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ

کیږه په شك کی دهغوشیانو څخه دکوموچی عبادت کوی داخلق دوی عبادت نه کوی مګرداسی لکه چی عبادت کوی

قَبْلُ ؕ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ﴿۱۰۹﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

د دوی پلار نیکه ددی څخه مخکی اومونږ ورکوونکی یودوی ته د دوی حصه یعنی دعذاب څخه بی نقصانه او خامخا مونږ ورکړی وو موسی ﷺ ته کتاب ،

فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ

بیاپه دی کی اختلاف وسواوکه نه وای یولفظ چی مخکی فرمایلی دی ستارب نوفیصله به سوی وای په دوی کی

لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۱۰﴾ وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱۱﴾

اودوی په دی کی په شك کی دی چی مطمئن کیږی نه او څومره خلګ چی دی کله چی وخت راغی پوره به ورکړی رب ستا دوی ته د دوی دعملونو بدله هغه دهرڅه څخه خبر دی څه چی دوی کوی.

لنډتفسیر: اوستادرب نیول داسی (سخت) دی کله چی هغه دیوکلی خلګ نیسی کله چی هغوی ظلم (اوکفر) کوی بیشکه دهغه نیول ډیر زیات درد ناك (او) سخت دی (چی په دی سره سخت تکلیف رسیږی اوهیڅوك نه سی ورڅخه خلاصیدی) په دی واقعاتو کی دهغه سړی دپاره لوی عبرت دی کوم چی داخرت دعذاب څخه بیریږی (وجه دعبرت ښکاره ده چی کله یی ددنیا عذاب داسی سخت دی اوحال دا دی چی دادار الجزاء نه ده نوداخرت داچی دار الجزاء ده څومره سخت به وی) هغه (یعنی داخرت ورځ) به داسی ورځ وی چی په دی کی به ټول خلګ جمع سی اوهغه دټولو دحاضری ورځ ده او (هغه ورځ که څه هم تر اوسه نه ده راغلی لیکن ددی څخه دی څوك ددی په راتلوکی شك نه کوی راځی به خامخا) مونږ دوی صرف دلږوخت دپاره (دځینو مصلحتونو په بناسره) ملتوی کړی دی (بیا) یو وخت چی دغه ورځ راسی (دهیبت څخه به یی دخلګو داحال وی چی) هیڅوك به بغیر دخدای داجازی څخه خبره قدر (لاهم) نه سی کولی (البته کله چی دحساب اوکتاب دپاره حاضری وی اوپرعملونو جواب ورڅخه طلب سی دغه وخت به خامخا دخلی څخه خبره وزی برابره خبره ده که دغه خبره مقبوله وی یامقبوله نه وی پس په دی حالت کی به ټول اهل موقف شریك وی) بیا (مخکی) به په دوی کی (دافرق وی چی) ځینی به بدبخت (یعنی کافران) وی اوځینی به نیك بخت (یعنی مومنان) وی پس کوم خلګ چی بدبختان دی هغه به په دوزخ کی په داسی حال کی وی چی په هغه کی به د دوی چیغی اوکوکاری وی (او) همیشه همیشه به په دی کی وی ترڅوچی آسمان اومځکه قائم دی (دامحاوره دهمیشوالی دپاره ده) اوهیڅ لار به یی دوتلو نه وی البته که خدای پاك ته (وتل) منظور وی نوبله خبره ده (ځکه چی) ستارب چی څه غواړی هغه په پوره توګه سره کولی سی (مګر سره دقدرت څخه دایقینی ده چی الله ﷻ به داخبره ونه غواړی په دی وجه وتل به یی نصیب نه سی) اوپاته سول هغه خلګ کوم چی نیك بخت دی پس هغوی به په جنت کی وی (او) دوی به په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی کی (دداخلیدو څخه وروسته) همیشه همیشه اوسی ترڅو چې آسمان اومځکه قائم وی (که څه هم دتللو څخه مخکی یی څه سزا تیره کړی وی) البته که چیری خدای ته (را کښل) منظور وی نوبله خبره ده (مګر دایقینی ده چی خدای ﷻ به داخبره هیڅکله هم نه وغواړی پس وتل به یی هیڅکله هم نه وی بلکه) دغه به نه قطع کیدونکی بخښش وی (اوکله چی دکفر وبال دلوړو ایتونو څخه معلوم سو) پس (ای مخاطبه) دکوم شی چی دوی عبادت کوی ددی په باره کی ذره شبهه مه کوه (بلکه یقین ساته چی د دوی داعمل دسزا واجبونکی دی په دی وجه چی باطل دی اودباطلوالی دلیل یی دا دی چی) داخلګ هم دغه ډول (بی دلیله بلکه ددلیل څخه خلاف دغیر الله) عبادت کوی څنګه چی د دوی څخه مخکی د دوی پلار نیکه عبادت کوی (ددلیل څخه خلاف کار باطل اودسزا واجبونکی وی) اومونږ یقیناً به (په قیامت کی) د دوی حصه (دعذاب) دوی ته پوره پوره بی کموالی اوسستوالی ورکړو اومونږ موسیٰ (علیه السلام) ته کتاب (یعنی تورات) ورکړی وو پس په دی کی (هم په مثل دقرآن) اختلاف وسو (چی چا ومنی اوچاونه منی داڅه ستادپاره نوی خبره نه ده سوی پس ته غمجن کیږه مه) او دامنکران داسی دعذاب مستحق دی چی) که یوه خبره نه وای کومه چی ستادرب دطرف څخه اول مقرر سوې ده (چی پوره عذاب به دوی ته په اخرت کی ورکوم) نو (په کوم شی کی چی دوی اختلاف کوی) دهغه (قطعی) فیصله به (په دنیا کی) سوی وای (یعنی دغه وعده سوی عذاب به واقع سوی وای) اوداخلګ (سره دقائمیدو ددلیلونو تراوسه پوری) ددی (فیصلی یعنی وعده سوی عذاب) دطرف څخه داسی په شك کی (پریوتلی) دی چی دی شك دوی په تردد کی اچولی دی (چی دعذاب یی ګرسره یقین نه راځی دشك مطلب دا دی) او (دچاپه شك یاانکارسره داعذاب واپس کیدی نه سی بلکه) په یقین سره داتول داسی دی چی ستارب به دوی لره د دوی دعملونو (دسزا) پوره پوره حصه ورکړی په یقین سره هغه د دوی دټولو عملونو پوره خبر لری (کله چی د دوی دسزا دمعاملی ستاسره یو کارنسته نوته اومسلمانان په خپل کارکی اخته سی هغه کار دا دی کوم چی په دی راتلونکو ایتونو کی ذکردی)

فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾

نو ته داسی برابرسه لکه چی تاته حکم وسو اوچاچی توبه کښلی ده ستاسره اودحد څخه مه زیاتیږی بیشکه هغه وینی څه چی تاسی کوی ،

وَلَا تَرْكَنُوٓا إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ

او مه کښته کیږی دهغو طرف ته چی ظالمان دی بیابه تاسی ته ورسیږی اور او هیڅوك نسته ستاسی ،

مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾

دالله ﷻ څخه ماسوا مدد ګار بیابه هیڅکله مدد پیدانه کی .

لنډتفسیر: لکه څنګه چی تاته حکم سوی دی (پرلاره ددین) برابر اوسه اوهغه خلګ هم (دی برابر اوسی) کومو چی دکفرڅخه توبه کښلی ده ستاسره دی اوددائری (ددین) څخه یوه ذره مه وزه یقیناً هغه ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

دتولو عملونه ښه وینی او (ای مسلمانانو! دی) ظالمانو طرف ته (یاځوك چی د دوی په مثل وی د دوی طرف ته دزړه په دوستی سره یادعملونو اوحالاتو په مشابهت اوشراکت سره) مه کښته کیږی هسی نه تاسی ته به ددوزخ او ورسیږی او (دغه وخت به) دخدای څخه ماسوا ستاسی ملګرتیا کوونکی نه وی بیابه ستاسی مدد دهیڅ طرف څخه هم نه وی (ځکه چی ملګرتیا خودمدد کولو څخه اسانه ده کله چی ملګرتیا کوونکی هم نه وی نومدد کوونکی به څوك وی؟)

معلومات اومسئلي: په سورة هود کی دتیرو پیغمبرانو اود دوی دقومونو واقعات دحضرت نوح ﷺ څخه شروع سوی دی ترحضرت موسیٰ ﷺ پوری په خاص ترتیب او تفصیل سره ذکرسوی دی چی په دی کی په سوونووعظونه فیصلی اوحکمونه اوهدایتونه دی ددی واقعاتوپه ختمیدوباندی یی نبی کریم ﷺ مخاطب کړی دی او امت محمدی ته یی د دوی څخه دعبرت او نصیحت اخستو دعوت ورکړی دی فرمایی.

ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْقُرَىٰ نَقُصُّهُ عَلَيْكَ مِنْهَا قَائِمٌ وَحَصِيدٌ : یعنی دا دی دتیرو ښارونو اوکلیو واقعات کوم چی مونږ تاته واورول دغه کلی په کومو چی دالله ﷻ عذاب راغی په دوی کی دځینو خوتراوسه ابادی یاکنډوالی موجودی دی اوځینی کلی داسی سوی دی لکه دفصل پری کولو څخه وروسته چی مځکه هواره سی اودتیر فصل په کښی ګرسره نخښه پاته نه سی.

ددی څخه وروسته فرمایی چی مونږ پردوی یوظلم ونه کی بلکه په خپله دوی پرځانونو ظلم وکی چی خپل پیداکوونکی اوپالونکی یی پریښوول اوبتان اونور شیان یی خپل خدایان جوړکړل چی انجام یی دا سو چی کله دخدای ﷻ عذاب راغی نو دی دځانه جوړ کړی خدایانو د دوی هیڅ مدد ونه کی اوالله ﷻ چی کله کلی په عذاب کی نیسی نو دهغه نیول دغسی سخت او دردناك وی.

ددی څخه وروسته د دوی داخرت په فکرکی دمشغولولودپاره فرمایی چې په دی واقعاتو کی دهغو خلګو دپاره لوی عبرت اونخښی دی کوم چی داخرت دعذاب څخه بیریږی په کومه ورځ چی ټول اولادادم ﷺ یوځای په جمع موجودوی ددغه ورځی حال به داوی چی دهیڅا مجال به نه وی چی بغیر داجازی دخدای څخه یوحرف قدر هم په ژبه ووایی.

ددی څخه وروسته نبی کریم ﷺ ته دوباره خطاب کوی فرمایی: فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ : یعنی ته ددین پرلاره داسی مضبوط برابر اوسه لکه څنګه چی تاته حکم سوی دی اوهغه خلګ دی هم برابر اوسی کومو چی دکفر څخه توبه کښلی ده اوستا سره سوی دی اودالله ﷻ دمقرر کړو حدونو څخه مه وزی ځکه چی هغه ستاسی ټول عملونه وینی.

(داستقامت مطلب او اهمي فائدی اومسئلي)

(داستقامت معنیٰ سیده دریدل دی چی یوطرف ته په هغه کی ذره غوندی کوږوالی هم نه وی ښکاره خبره ده چی داکار اسان نه دی داوسپنی اودبری وغیره عمود ماهر انجنیئر داسی درولی سی چی هرطرف یی پر زاویه قائمه برابروی یوطرف ته یی ادنیٰ غوندی میلان نه وی لیکن دیوحرکت کوونکی شی هروخت په هر حال کی په دی حالت پاته کیدل څومره مشکل دی دخوندانو دعقل او پوهی څخه داخبره پته نه ده نبی کریم ﷺ اوټولو مسلمانانو ته په دی آیت کی په خپل هر کار کی، په هر حال کی، په استقامت داوسیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

حکم فرمایل سوی دی د: استقامت لفظ خوکوچنی دی مگر ددی مطلب یودیر لوی عظیم الشان فراخوالی لری ﴿که چی معنی ددی داده چی انسان په خپلو عقیدو عبادتونو معاملو اخلاقو معاشرت دمعاش کسب اوددی دګتی اوخرڅ په ټولو بابونوکی دالله ﷻ دقائمو کړو حدونو دننه دهغه په ښوول سوی لاره سیده روان وی په دی کی دهرباب په هرعمل اوهرحال کی هر یوطرف ته کوږوالی یاکمی زیاتی چی وسی نواستقامت پرڅای نه پاته کیږی.

په دنیاکی څومره ګمراهی اوعملی خرابی چی راڅی دغه ټولی ددی استقامت څخه دلیری کیدو نتیجه وی په عقیدوکی چی استقامت پاته نه سی نودبدعتونو څخه شروع سی تر کفر اوشرک پوری نوبت رسیږی دالله ﷻ دیووالی اودهغه دذات اوصفاتو چی کوم درمیانه اوصحیح اصول نبی کریم ﷺ بیان کړی دی په دی کی کمی او زیاتی کوونکی که څه هم په نیك نیت په دی کی اخته وی ګمراه ورته ویل کیږی دانبیاوو علیهم السلام دلویی اومحبت چی کوم حدونه مقرر سوی دی په دی کی دکمی کوونکو ګمراه اوګستاخ کیدل خوهرڅوك پیژنی خوپه دی کی زیادت اوغلو کول اورسول دخدایی صفتونو اواختیاراتو مالك جوړول هم دغه ډول ګمراهی ده یهود اونصارا په دی ګمراهی کی ورك سوی وه دعبادتونو اوالله ﷻ ته دنژدی کیدو دپاره چی کومی طریقی قرآن عظیم اونبی کریم ﷺ ښوولی دی په دی کی لږڅه کمی اوکوتاهی لکه څنګه چی انسان داستقامت څخه غورزوی دغه شان په دی کی دخپل طرف څخه یو زیاتی هم استقامت بربادوی انسان په بدعتونوکی اخته کوی دی په ډیره نیك نیتی سره داګنی چی زه خپل رب راضی کوم او هغه عین دناراضګی سبب وی په دی وجه نبی کریم ﷺ امت دبدعتونو اوپه دین کی دنوو کارونو پیداکولو څخه په سختی سره منع کړی دی اودی ته یی سخته ګمراهی ویلی ده په دی وجه پرانسان لازم دی چی کله دی یوکار دعبادت اودالله ﷻ اودرسول ﷺ درضاحاصلولو دپاره کوی نو اول دی دهغه تحقیق کوی چی دا کار دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه په دی طریقه اوشکل سره ثابت دی اوکه نه ؟ که ثابت نه وی نوپه دغه کی دی خپل وخت اوطاقت نه ضائع کوی ز

دغه شان دمعاملو اواخلاقو اومعاشرت په ټولو بابونو کی دقرآن کریم په ښوول سوو اصولو باندی نبی کریم ﷺ دخپل عملی تعلیم په ذریعه یوه معتدله اوصحیح لار قائمه کړې ده چی په دی کی دوستی دښمنی نرمی ګرمی غصه اوبردباری کنجوسی او سخاوت کسب معاش ددنیا ترك کول پرالله ﷻ توکل اوتر ممکن حده پوری تدبیرکول دضروری اسبابو راجمع کول اوپرمسبب الاسباب باندی نظر ساتل په دی ټولو شیانو کی یوه داسی درمیانه برابر لار مسلمانانوته ورکړیده چی ددی مثل په عالم کی نه پیدا کیږی ددی په اختیارولو سره انسان کامل انسان جوړیږی په دی کی داستقامت څخه په یوه ذره لیری کیدو سره په معاشره کی خرابی پیدا کیږی.

لنډه داده چی استقامت یوداسی جامع لفظ دی چی ددین ټول اجزاء اوارکان او په دی صحیح عمل ددی تفسیر دی سفیان بن عبدالله ثقفی رضی الله عنه نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی ماته داسلام په معامله کی یو داسی جامع خبره وښیه چی ستاڅخه وروسته دچا څخه دپوښتنی کولو ضرورت ماته پاته نه سی دوی ورته وفرمایل: قُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ : یعنی په الله ایمان راوړه اوبیا په دی برابراوسه (رواه مسلم قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوعثمان بن حاضرازدی فرمایی چی زه یووارد ترجمان القرآن حضرت عبدالله بن عباس ﷺ خواته حاضر سوم اوعرض می وکی چی ماته یو وصیت وفرمایی دوی وفرمایل: عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ وَالْاِسْتِقَامَةِ اِتْبَعْ وَلَا تَبْتَدِعْ (دارمی په خپل مسند کی ذکرکړی دی) (قرطبی) یعنی ته تقوی اودخدای بیره لازمه نیسه اواستقامت هم ددی طریقه داده چی ددین په معامله کی دشریعت تابعداری کوه دخپل طرف څخه یو بدعت مه ایجاد کوه په دی دنیا کی دټولو څخه زیات گران کار استقامت دی په دی وجه محققین صوفیاء کرام فرمایی چی داستقامت مقام دکرامت څخه لوړ دی یعنی کوم سړی چی ددین په کارونو کښ استقامت اختیار کړی وی که څه هم په ټول عمرکی دده څخه یو کرامت صادر نه سی دغه داعلی درجی ولی دی.

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی په ټول قرآن کی په نبی کریم ﷺ ددی آیت څخه زیات سخت اوگران یوایت نه دی نازل سوی اوفرمایی چی کله صحابه کرامو یووار دنبی کریم ﷺ په ږیره مبارکه کی یو سپین وریښته ولیدی نوپه افسوس سره یی عرض وکی چی اوس بوډا والی په تیزی سره تاسی ته راروان دی نووی فرمایل چی زه سورة هود بوډا کړم په سورة هود کی چی په تیرو قومونو دکوم سختو عذابونو ذکردی دغه هم ددی سبب کیدی سی مگر ابن عباس ﷺ فرمایی چی سبب یی دا آیت دی.

په تفسیر قرطبی کی دابوعلی سری څخه نقل دی چی دوی په خوب کی دنبی کریم ﷺ زیارت وکی نوعرض یی ورته وکی چی ایا تاسی داسی فرمایلی دی چی زه سورة هود بوډا کړم؟ دوی وفرمایل چی هوا نوده بیا پوښتنه ورڅخه وکړه چی په دی سورة کی کوم دانبیاء علیهم السلام واقعات اود دوی پرقومونو دعذاب ذکردی دی تاسی بوډا کړاست؟ نو حضور ﷺ وفرمایل چی نه! بلکه دالله ﷻ دی ارشاد: فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ.

دانبکاره خبره ده چی نبی کریم ﷺ خودانسان کامل مثالی صورت جوړسوی دی اودنیا ته یی تشریف راوړی وو اوپه فطری طور سره استقامت د دوی عادت وو مگر بیاهم دومره بار یی یاخو په دی وجه محسوس کی چی په آیت کی مطلق داستقامت حکم نه دی بلکه حکم دا دی چی دالله ﷻ دحکم مطابق استقامت په کاردی پرانبیاوو علیهم السلام چی څومره بیره اوخوف دالله ﷻ غالب وی هغه هرچاته معلوم دی ددی بیری دا اثروو چی سره دکامل استقامته ورسره دافکر وو چی الله ﷻ څنگه استقامت غواړی هغه به پوره وی او که نه؟

اوداهم کیدی سی چی دوی ته دخپل استقامت خوزیات فکرنه وو څکه چی هغه خو الحمد لله حاصل وو مگر په دی آیت کی پوره امت ته هم داحکم ورکول سوی دی دامت یی پراستقامت باندی قائم پاته کیدل گران ولیدل نودافکر اوغم ورسره سو.

داستقامت دحکم څخه وروسته فرمایی: وَلَا تَطْغَوْا دالفظ د: طغیان: مصدر څخه جوړدی ددی معنی دحد څخه وتل دی کوم چی ضددی داستقامت په آیت کی داستقامت حکم په مثبت اندازکی په فرمایلو کفایت نه دی کړی بلکه ددی دمنفی ارخ ممانعت یی هم په وضاحت سره ذکرکی چی په عقیدو عبادتونو معاملو اخلاقو وغیره کی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دمقرر کړو حدونو څخه دباندی مه وزی چی دادهر فساد اودینی دنیوی خرابیو لاره ده.

په دوهم آیت کی یی دانسان دخرابی اوبربادی څخه خلاصولو دپاره یوه بله مهمه هدایت نامه ورکړی ده

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ : یعنی دظالمانو طرف ته ادنی میلان هم مه ساتی هسی نه چی د دوی سره تاسی هم دجهنم اورته ورسیږی ، لَا تَرْكَنُوا د رکون مصدر څخه جوړدی چی معنی یی سپك میلان او کښته کیدل دی اوپه دی اعتماد او راضی کیدل دی په دی وجه دایت معنی داسوه چی په ظلم او زورکی په خپله په اخته کیدوکی خوددین اودنیاتباهی هرچاته معلومه ده مګرظالمانو ته ادنی غوندی کښته کیدل اومیلان اود دوی څخه راضی کیدل پردوی اعتماد کول هم انسان ددغه بربادی غاړی ته رسولی سی .

ددی کښته کیدو اومیلان څخه څه مراددی ؟ ددی متعلق داصحابو اوتابعینو یوځواقوال نقل دی چی په دوی کی یو اختلاف اوتکراو نسته ټول په خپله پرخپل ځای صحیح دی .

حضرت قتاده رحمه الله فرمایی چی مراد دا دی چی دظالمانو سره دوستی مه کوی اود دوی خبره مه منی ابن جریج رحمه الله فرمایی چی دظالمانو طرف ته هیڅ قسم میلان هم مه ساتی ابو العالیه رحمه الله فرمایی چی د دوی کارونه اوعملونه مه خوښوی (قرطبی)

سدی رحمه الله فرمایی چی دظالمانو په صحبت کی مه کښینی قاضی بیضاوی رحمه الله فرمایی چی په شکل صورت اوفیشن اوداوسیدو په طریقو کی د دوی تابعداری کول داټول په دی ممانعت کی داخل دی .

قاضی بیضاوی رحمه الله فرمایی چی دظلم اوزیاتی دممانعت اوحراموالی دپاره په دی آیت کی هغه انتهایی سختی ده کومه چی دزیاتو څخه زیاته په تصور کی راوستل کیږی ځکه چی دظالمانو سره ددوستی اوژور تعلق څخه نه بلکه د دوی طرف ته دادنی درجی میلان او کښته کیدل اود دوی سره یی کښینستل هم په دی کی منع کړی دی .

امام اوزاعی رحمه الله فرمایی چی دالله ﷻ په نزد یو سړی دهغه عالم څخه زیات مبغوض نسته کوم چی دخپلو دنیوی فائدو په خاطر دیو ظالم سره دلیدو دپاره ولاړسی (مظهری)

په تفسیر قرطبی کی دی چی ددی آیت څخه معلومه سوه چی دکافرانو ګناه کوونکو او بدعتیانو دمجلس څخه ځان ساتل اوپرهیز کول واجب دی بغیر ددی څخه چی په یو مجبوری باندی د دوی سره لیدل پیښ سی اوحقیقت دا دی چی دانسان په اصلاح اوفساد کی دټولو څخه لوی دخل دماحول وی په دی وجه حضرت حسن بصری رحمه الله ددی دواړو ایتونو ددوو لفظونو متعلق فرمایی چی الله ﷻ پوره دین په دوه حرفونو د : لَا کی جمع کړی دی یوپه اولنی آیت کی : لَا تَطْغَوْا اوبل په دوهم آیت کی : لَا تَرْكَنُوا په اول لفظ کی دشرعی حدونو څخه دوتلو څخه اوپه دوهم لفظ کی دبدانو خلګو دمجلس څخه ممانعت دی اودا دټول دین خلاصه ده .

وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ

اوقائم کړه لمونځ په دواړوطرفونو دورځی کی ، اوپه څه حصو ،

الَّيْلِ ۚ إِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِينَ ﴿۱۱۴﴾

دشپی کی بیشکه نیکی لیری کوی بدیانی دا یادګیرنه ده یاد لرونکو لره ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۱۵﴾ فَلَوْلَا كَانَ

وصبر کوه خامخا الله ﷻ نه ضائع کوی ثواب دنیکی کوونکو ، نو ولی نه سو په هغو

مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ

دلوکی کومی چی ترتاسی مخکی وی داسی خلګ چی اثر دخیر په کښی پاته کیدی چی منع کولی یی خلګ دفساد څخه ،

فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا

په مخکه کی مګر لږ چی کوم مونږ خلاص کړی د دوی څخه او ولاړه دغه خلګ کوم چی ظالمان وه

مَا أُتْرِفُوا فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿۱۱۶﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ

په هغه لاره چی عیشونه یی په کښی کول اووه ګناهګار ، اوستارب هیڅکله داسی نه دی چی هلاک کړی کلیو

بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿۱۱۷﴾ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ

په زور اوخلګ هلته نیکان وی ، اوکه غوښتلی ستارب نوګرځولی به یی خلګ ،

أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿۱۱۸﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ

په یوه لاره اوهمیشه وی دوی په اختلاف کی ، مګرپه کوموچی رحم وکی ستارب

وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ

او ددی دپاره یی دوی پیدا کړی دی اوپوره سوه خبره ستادرب چی خامخا به ډک کړم دوزخ ،

الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿۱۱۹﴾ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ

پیریانو اوانسانانو ټولو څخه په جمع ، اوټول شیان بیا نوو مونږ تاته دحالاتو ،

الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ ۚ وَجَاءَكَ فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ

درسولانو څخه چی په دی سره تسلی ورکړو ستا زړه ته اوراغله تاته په دی صورت کی حق خبره اونصیحت

وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۲۰﴾ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ اعْمَلُوا

اویادانښت دایماندارو دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰى مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عٰمِلُونَ ﴿۱۲۱﴾ وَانْتَظِرُوا إِنَّا مُنْتَظِرُونَ ﴿۱۲۲﴾ وَلِلّٰهِ

په خپل ځای باندی مونږ هم کارکوو ، اوانتظار کوی مونږ هم انتظار کوو اودالله

غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الْأَمْرُ كُلُّهُ فَاعْبُدْهُ

سره دی پټی خبری دآسمانونو او دمځکی اوده ته ده واپسی دټولو کارونو نو دهغه بندګی کوی ،

وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۱۲۳﴾

اوپه هغه توکل کوی اونه دی رب ستا ناخبره کوم کار چی تاسی کوی .

لنډتفسیر: او (ای محمد ﷺ) ته دلمانځه پابندی ساته دورځی په دواړو سرونو باندی (یعنی په اول اواخرکی) اودشپی په څه حصوکی بیشکه نیك کار (دعملنامی څخه) خرابوی بدکارونه داخبره (چی په نیکو سره ګناه معاف کیږی) یو (جامع) نصیحت دی دنصیحت منونکو دپاره (څکه چی هره نیکی په دی قاعده کلیه کی داخله ده پس په دی سره هری نیکی ته رغبت په کاردی) او (ددی منکرانو دطرف څخه چی کومی معاملی مخ ته راځی په دی باندی) صبرکوه چی الله ﷻ دنیکانو اجر نه ضائع کوی (صبر هم داعلی درجی نیکی ده ددی به پوره اجر ورکول کیږی اولوړ چی کوم دتیرو قومونودهلاکت واقعات ذکر سول) نو (وجه ددی داسوه چی) کوم امتونه ستاسی څخه مخکی تیر سوی دی په دوی کی داسی پوه خلګ نه وه کوموچی (نور) په ملك کی دفساد (یعنی کفر اوشرك) غوړولو څخه منع کولی بغیر دځوکسانو څخه چی کوم په دوی کی مونږ (دعذاب څخه) خلاص کړی وه (چی دوی خوخامخا لګه څنګه چی په خپله دکفر اوشرك څخه توبه ګارسوی وه نوریی هم منع کول اوددی دوو عملونوپه برکت سره دوی دعذاب څخه خلاص سوی وه باقی نور خلګ کوم چی په خپله په کفرکی اخته وه دوی نورهم منع نه کړل) اوکوم خلګ چی نافرمانه وه دوی چی په کوم نازاونعمت کی وه په دی پسی سول اودجرمونو عادت سول (چی بیرته ورڅخه راواپس نه سول لنډه داچی نافرمانی خوپه دوی کی په عام طور سره وه اومنع کوونکی په کښی هیڅوك نه وه په دی وجه ټول په یوډول عذاب کی ګرفتار سول کنه نو دکفر عذاب عام وو اودفساد داخاص اوس په وجه دنه منع کولو غیر مفسدان هم په مفسدانو کی شریك وګرځول سول په دی وجه چی کوم عذاب پرمجموعه کفر اوفساد نازل سو هغه هم عام سو) او (ددی څخه ثابته سوه چی) ستارب داسی نه دی چی کلی دکفر په سبب هلاك کړی اود دوی اوسیدونکی (په خپله اودنورو) په اصلاح کی لګیدلی وی (بلکه کله چی پرځای داصلاح فساد کوی اوفساد کوونکی نه منع کوی دغه وخت دخاص عذاب مستحق سی) اوکه چیری الله ﷻ ته منظوره وای نوټول خلګ به یی په یوه طریقه جوړکړی وای (یعنی ټول به یی مومنان کړی وای لیکن په ځینو حکمتونو سره داسی منظوره نه سوه په دی وجه ددین خلاف په مختلفو طریقو باندی سو) او (اینده هم) همیشه اختلاف به کوی مګر پرکومو چی ستا درب رحمت وی (هغوی به ددین خلاف طریقی اختیارنه کړی) او (په دی اختلاف غم یاافسوس

Maktaba Tul Ishaat.com

یاتعجب مه کوه څکه چی، الله ﷻ داخلګ په دی واسطه پیداکړی دی (چی په دوی کی اختلاف وی) او (داختلاف دپاره دپیداکولو وجه داده چی) ستادرب داخبره پوره سی چی زه به جهنم دپیریانو اوانسانانو دواړو څخه ډک کړمه (اوپه خپله ددی حکمت دا دی په رحم سووکی درحمت دصفت ظهوروی په غضب سووکی دغضب ظهوروی بیاددی ظهور حکمت یاددی حکمت حکمت الله تعالی ته معلوم دی غرض داچی ددی ظهور په حکمت سره جهنم ته تلل دځینو ضرور اوجهنم ته دتلو دپاره دکفارو وجود تکوینًا ضروری اودکفارو دوجود دپاره اختلاف لازم داوجه ده دټولو دنه مسلمانیدو) دپیغمبرانو دقصو څخه مونږ داټولی (ذکر سوی) قصی تاته بیانوو دکومو په ذریعه چی مونږ ستازړه قوی کوو (یوه فائده دقصو بیانولو خوداسوه چی حاصل یی تاته تسلی درکول دی) اوپه دی قصوکی تاته یوداسی مضمون راغلی دی چی په خپله هم حق (اوقطعی) دی اودمسلمانانو دپاره (دبدو کارونو څخه دمنع کولو دپاره) نصیحت دی او (دنیکو کارونو کوونکو دپار) یادګیرنه ده (دا دوهمه فائده دبیانولو دقصو سوه یوه فائده دنبی ﷺ دپاره بله دامت دپاره) اوکوم خلګ چی (سره ددی قاطعه دلیلونو هم) ایمان نه راوړی دوی ته ووایه چی زه ستاسی سره نه منبلم) تاسی په خپل حالت عمل کوی مونږ هم (په خپل طور سره) عمل کوو او (ددی عملونو دنتیجی) تاسی (هم) انتظار کوی مونږ هم انتظار کوو (پس ډیر ژربه باطل ښکاره سی) اوپه آسمانونو اوپه مځکه کی چی څومره دغیبو خبری دی ددی علم الله تعالی ته دی (نودبندګانو عملونه فوغیب هم نه دی ددی علم خوپه درجه اولی سره الله ﷻ ته سته) اوټول کارونه به دالله ﷻ طرف ته بیرته راپس کیږی (یعنی علم اواختیار دواړه دالله ﷻ دی بیاهغه ته څه مشکله ده چی دعملونو جزا اوسزا درکړی اوکله چی هغه داسی علم او اختیارلری) نو (ای محمد ﷺ) ته دهغه عبادت کوه (چی په دی کی تبلیغ هم داخل دی) او په هغه بروسه ساته (که چیری په تبلیغ کی دځه تکلیف احتمال وی داپه مینځ کی به طوردجملی معترضی دوی ته خطاب وسومخ ته بیاهغه مضمون دی یعنی) اوستارب ددی خبروڅخه بی خبره نه دی کوم چی تاسی خلق کوی (لکه چی لوړپه علم غیب سره دعملونو علم په درجه اولی ثابت سو)

معلومات اومسئلي

(په قرآني اسلوب کي دنبي کريم ﷺ دشان دلوی والي طرف ته اشاره)

په سورة هود کی دتیرو پیغمبرانو اود دوی دقومونو عبرتناك حالات اوواقعات ذکر کولو څخه وروسته نبی کریم ﷺ اوامت محمدی ته یوځو هدایات ورکول سوی دی چی ددی سلسله دتیر آیت: فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ څخه شروع سوي ده په دی هدایتونو کی دقرآن کریم داحسن بیان څومره زړه راکشونکی اوادب وونکی دی چی دکوم کار حکم یی په دی اندازکی ورکی چی داکوه په دی کی یی مخاطب خونبی کریم ﷺ گرځولی دی اوامت محمدی یی تبعًا په دی کی شامل کړی دی: فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ اوپه دی ذکر سوی آیت: أَقِمِ الصَّلٰوةَ اوددی څخه وروسته: وَاصْبِرْ اودکوم کار څخه چی یی منع کړیده اود څان ساتلو هدایت یی کړی دی نوپه دی کی یی سیده په سیده امت ته خطاب کړی دی لکه په تیرو ایتونوکی: لَتَفْعَلُوْا: او: لَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا .

چی فکر وسی نوپه ټول قرآن کی په عام طور سره داطرز استعمال سوی دی چی دأمر مخاطب نبی کریم

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ جوړسوی دی اودنهی اومنع مخاطب امت چی په دی کی دنبی کریم ﷺ په خپله دهغه څخه دپرهیزکولو طرف ته اشاره ده د دوی فطرت سلیمه اوطبیعت الله تعالی داسی جوړکړی وو چی یو بدخواهش یی نه وو اوبدشی ته یی ګرسره میلان په کښی نه وو تردی چی داسی شیان کوم چی په ابتداء داسلام کی جائز اوحلال وه مګر اخر حرامیدل یی دالله ﷻ په علم کی مقرر سوی وه نبی کریم ﷺ دهغه دحلالیدو په زمانه کی هم هیڅکله هغو ته نه دی نژدی سوی لکه شراب سود اوخمار وغیره.

په دی آیت کی یی نبی کریم ﷺ مخاطب کړی دی اودوی اود دوی ټول امت ته یی دلمانځه دقائمولو حکم ورکړی دی دتفسیر دعالمانو داصحابو اوتابعینو پردی اتفاق دی چی دلمانځه څخه مراد دلته فرض لمونځونه دی (بحر محیط قرطبی) اودلمانځه دقائمولو څخه مراد ددی پوره پابندی اوهمیشوالی دی اوځینی حضرات فرمایی چی لمونځ دټولو ادابو سره اداکول مراددی ځینی فرمایی چی لمونځ په خپل ښه وخت کی اداکول مراددی دادری قولونه دایت: اَقِمِ الصَّلٰوةَ په تفسیر کی نقل دی اوپه حقیقت کی داځه اختلاف نه دی داټول شیان دَ اقَامَتِ صلوة په معنی کی شامل دی.

داقامت صلوة دحکم کولو څخه وروسته دلمانځه دوختونو اجمالی بیان دا دی چې دورځو په دواړو سرونو یعنی په شروع اواخر کی اودشپی په څه حصو کی لمونځ قائم ساتی ځکه چی: زُلَفًا دَزُلْفَةٌ جمع ده چی معنی یی یوه حصه اوټکړه ده دورځی ددواړو سرونو دلمونځونو متعلق خوپردی دټولو اتفاق دی چی داول سر دلمانځه څخه مراد دسهار لمونځ دی داخری سر لمونځ ځینو مغرب (مابنام) مقرر کړی دی چی دورځې اخرې لمونځ دغه دی دمابنام وخت دورځی جزء نه دی بلکه دورځی تیریدو څخه وروسته راځی او: زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ یعنی دشپی دحصو دلمانځه څخه مراد دجمهورو مفسرینو حسن بصری مجاهد محمد بن کعب قتاده اوضحاك وغیره ټولو دمابنام اوماخستن لمونځ مقرر کړی دی اودیوحدیث څخه ددی تائید کیږی په کوم کی چی ارشاد فرمایی چی: زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ مابنام اوماخستن دی (ابن کثیر)

کله چی د: طَرَفَيِ النَّهَارِ څخه مراد دسهار اومازیګر لمونځ سو اود: زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ څخه مراد دمابنام اوماخستن نو په دی آیت کی دځلورو لمونځونو دوختونوبیان راغی صرف دماپښین دلمانځه دوخت بیان پاته سو کوم چی په بل آیت: اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ کی راغلی دی.

په دی آیت کی په ذکرسوو وختونو کی د: اقامت صلوة: دحکم څخه وروسته یی د دوی یو عظیمه فائده داهم بنوولی ده چی: اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ یعنی نیك کارونه ختموی بدکارونه مفسرین حضرات فرمایی چی دنیك کار څخه مراد ټول نیك کارونه دی چی لمونځ روژه زکوة صدقات نیك خوی نیکه معامله وغیره ټول په کی داخل دی مګر لمونځ ته په دی ټولوکی اولیت حاصل دی دغه شان د: سیئاتو: لفظ ټولو بدو کارونوته شامل دی برابره خبره ده که کبیره ګناه وی اوکه صغیره لیکن دقرآن کریم یوبل آیت دا رنګه دنبی کریم ﷺ ډیرو ارشاداتو دادصغیره ګناهونو سره خاص کړی دی معنی داده چی نیك کارونه په کوموکی چی لمونځ دټولو څخه غوره دی دصغیره ګناهونو کفاره کیږی او داګناهونه ختموی په قرآن کریم کی دی: اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ: یعنی که تاسی دلویو ګناهونو څخه ځان وساتی نومونږ به ستاسی واړه ګناهونه په خپله کفاره کړو.

Maktaba Tul Ishaat.com

دصحیح مسلم په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی پنځه لمونځونه اود یوی جمعی څخه تربلی جمعی پوری اودیو رمضان څخه تربل رمضان پوری دهغو تولو ګناهونو کفاره کیږی کوم چی د دوی په مینځ کی صادر سوی وی کله چی دی سړی دلویو ګناهونو څخه ځان ساتلی وی مطلب دا دی چی لویه ګناه خوبغیر دتوبی څخه نه معاف کیږی مګر کوچنی ګناه په نورو نیکو کارونو لمونځ روژه صدقه وغیره کولو سره خود بخوده معاف کیږی مګر په تفسیر بحر محیط کی داصولو دتحقیق کوونکو عالمانو دا قول نقل سوی دی چی صغیره ګناه هم په نیك کار کولو سره هلته معاف کیږی کله چی انسان ددی پرکولو باندی پښیمانه سی اودائنده دپاره دنه کولو اراده وکړی پرهغه اصرار نه کوی دحدیثو په روایتونوکی چی څومره واقعات دکفاره کیدو نقل دی په دی تولو کی داوضاحت هم دی چی ددی کوونکی کله په خپل کار پښیمانه سی اودائنده دپاره توبه وکاږی په دی باندی نبی کریم ﷺ ده ته دګناه معاف کیدو خوشخبری اورولی ده . والله تعالی اعلم

دحدیث په مشهورو اومعلومو روایتونو کی یی لوی ګناهونه دی شیانو ته ویلی دی. (۱) دالله ﷻ په ذات یاصفاتوکی څوك شریك یابرابر ګرځول (۲) قصداً یوفرض لمونځ پریښوول (۳) څوك په ناحقه قتل کول (۴) حرام کاری (۵) غلا کول (۶) شراب چښل (۷) دمور اوپلار نافرمانی (۸) په دروغو قسم (۹) په دروغو شاهدی (۱۰) جادو کول (۱۱) سود خوړل (۱۲) دیتیم مال په ناجائزه اخستل (۱۳) دجهاد میدان څخه تښتیدل (۱۴) په پاکدامنو ښځو تهمت لګول (۱۵) دچامال په ناجائز طور باندی غصب کول (۱۶) وعده ماتول (۱۷) په امانت کی خیانت کول (۱۸) چاته ښکنځل کول (۱۹) یوسړی په ناحقه مجرم ګرځول وغیره دکبیره اوصغیره یعنی لویو اووړو ګناهونو تفصیل په مستقلو رسالو کی عالمانو لیکلی دی زماپه رساله: ګناه بی لذت کی هم ذکردی هلته یی کتلی سی .

په هرحال دذکر سوی آیت څخه داثابته سوه چی په نیك کار کولو سره هم ګناه معاف کیږی په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی چی دبدکار کولو څخه وروسته نیك کار وکړه نو دغه بدی به ختمه کړی اوفرمایی چی دخلګو سره په ښه خوی معامله کوه (ابن کثیر بحواله مسند احمد)

حضرت ابوذر غفاری ﷺ وایی چی مانبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی ماته یو وصیت وفرمایی دوی وفرمایل چی که ستاڅخه یوه ګناه وسی نو ددی څخه وروسته یو نیك کار وکړه چی دغه ګناه ختمه کړی په حقیقت کی یی په دی حدیثونو کی دګناه څخه دتوبی کولو سنت اوښه طریقه ښوولی ده لکه چی په مسند احمد کی په روایت دصدیق اکبر ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی که دیومسلمان څخه یوه ګناه وسی نوده لره په کار دی چی اودس وکړی دوه رکعاته نفل لمونځ وکړی نودده ګناه به معاف سی (داتول روایتونه دابن کثیر دی) دی لمانځه ته دتوبی لمونځ ویل کیږی .

ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ : یعنی دایو نصیحت دی دنصیحت منونکو دپاره په دی کی د: ذٰلِكَ: اشاره قرآن کریم ته هم کیدی سی اودامراونهی دحکمونوطرف ته هم ددی ذکرددی څخه مخکی راغلی دی مراددادی چی دا قرآن یاداذکرسوی احکام دهغوخلګودپاره هدایت اونصیحت دی کوم چی نصیحت اوریدونکی اومنونکی دی په دی کی اشاره داده چی عنادی ضدی سړی چی پرهیڅ شی فکرنه کوی هغه دهر هدایت څخه محروم دی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ : یعنی ته پرصبر ثابت قدم اوسه څکه چی الله ﷻ دنیك عمل کوونکو اجرنه ضائع کوی .

دصبر لفظی معنی ترل دی په دی وجه دخپل نفس منع کولو ته هم صبر ویل کیږی چی په مطلب کی یی داهم داخله ده چی په نیکو کارونو کولو خپل نفس ثابت قدم لره اوداهم چی په بدو کارونوکی داخته کیدو څخه یی منع کړه دلته نبی کریم ﷺ ته دصبر دحکم ورکولو څخه دامراد هم کیدی سنی چی کوم احکام په ذکرسوی آیت کی تاته درکول سوی دی مثلاً استقامت اقامت صلوة وغیره په دی باندی ته په مضبوطی سره قائم اوسه اوداهم کیدی سی چی دمخالفینو پرمخالفت دصبر تلقین مقصود وی اوددی څخه وروسته چی کوم دا ارشاد فرمایی چی الله ﷻ دنیکانو اجر نه ضائع کوی په دی کی په نښکاره د ، محسنینوځخه مرادهغه خلق دی کوم چی دذکرسوو ایتونو داحکاموامر نهی پابندوی یعنی په دین کی داستقامت مقام دوی ته حاصل وی دشرعی حدونوپوره رعایت کوی دظالمانوسره دوستی اوبی ضرورته تعلق نه ساتی دلمونځ دادابو سره په ښه وخت کی دادا کولو پابندوی ددین پرټولو احکاموثابت قدم وی. اوخلاصه ددی ټولو هغه ده کوم چی د ، احسان په تعریف کی پخپله نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دالله ﷻ فرمانبرداری اوعبادت داسی کوه چی گویاته الله ﷻ وینی یاکم از کم دا چی الله ﷻ تاوینی کله چی انسان ته دحق تعالی دذات اوصفاتو دیقین ددرجه حاصله سی نوددۀ ټولی خبری اوکارونه خود بخوده برابرسی په تیرو سوو عالمانو کی دری کلمی داسی مشهوری وی چی یوبل ته به یی لیکلی دغه دیادولو قابلی دی اوله داچی کوم سړی داخرت دپاره په کارکی مشغول سی الله ﷻ دده ددنیا کارونه خود بخوده برابر کړی اوذمه واری یی پرخپله ذمه واخلی دوهمه داچی کوم سړی خپل باطنی حالت برابر کړی دخپل زړه مخ دټولو څخه واړوی دالله ﷻ طرف ته یی وگرځوی نوالله ﷻ دده ظاهری حالت خود بخوده درست کړی دریمه داچی کوم سړی دالله ﷻ سره خپله معامله برابره کړی نوالله ﷻ دده اودخلگو په مینځ کی معاملات خود بخوده برابر کړی اصل عبارت ددی دری واړو کلمو دا دی ، وَكَانَ أَهْلُ الْخَيْرِ يَكْتُبُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ بِثَلَاثِ كَلِمَاتٍ: ۱ مَنْ عَمِلَ لِآخِرَتِهِ كَفَاهُ اللهُ أَمْرَ دُنْيَاهُ ۲وَمَنْ أَصْلَحَ سَرِيرَتَهُ أَصْلَحَ اللهُ عَلَانِيَتَهُ ۳ وَمَنْ أَصْلَحَ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ أَصْلَحَ اللهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاسِ (روح البیان ج ۲ ص ۱۳۱)

په دریم اوځلورم ایتونو کی په تیرو قومونو دالله ﷻ دعذاب دنازلیدو وجه اوخلگو ته ددی څخه دخلاصیدو هدایت داسی ورکول سوی دی چی فرمایی .

په تیرو قومونو کی افسوس دی چی داسی ونه سوه چی په دوی کی څه پوه اونیك خلگ وای کومو چی خپل قوم دفساد کولو څخه منع کولی بغیر دلږو خلگو څخه کومو چی دپیغمبرانو تابعداری وکړه اودغه دعذاب څخه محفوظ پاته سول اوباقی ټول قوم ددنیا په خوندوکی ومښتل اومجرمان جوړسول .

په دی آیت کی یی نیکو اوپوهه خلگو ته : أُولُو بَقِيَّةٍ : ویلی دی دبقیه لفظ باقیمانده شی ته ویل کیږی او دانسان عادت دا دی چی کوم شی دټولو څخه زیات خوږ او محبوب وی ، دهغه په هرحال کی دخپل ځان دپاره دمحفوظ اوباقی پاته کیدو اهتمام کوی ، په ضرورت پیښیدو نور ټول شیان قربانوی مگر هغه نه ورکوی په دی وجه عقل اوپوهی ته ، بقیه ویل کیږی چی دا ټولو څخه زیات خوږ دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په ځلورم آیت کی فرمایی چی ستا رب ښارونه اوکلی په ظلم سره نه هلاکوی کله چی دهغو اوسیدونکی نیکو کار یعنی مسلمانان وی ددی مطلب دا دی چی دخدای ﷻ څخه دظلم اوزور دصادریدو هیڅ امکان نسته کوم چی هلاکیږی نوهغه ددی مستحق وی او ځینی حضرات فرمایی چی په دی آیت کی دظلم څخه مراد شرك دی اود: مُصْلِحُوْنَ څخه مراد هغه خلګ دی کوم چی سره دشرك اودکفر څخه معاملی اواخلاق ښه لری اوچاته نقصان اوضرر نه رسوی دروغ نه وایی دوکه نه کوی اومطلب دایت دا دی چی ددنیا عذاب پریوقوم باندی محض د دوی دمشرك اوکافر کیدو په وجه نه راځی ترڅو چی دوی په اخلاقو اوعملونوکی هم داسی کارونه شروع نه کړی دکوموڅخه چی په مخکه کی فساد غورول کیږی پرتیرو ځومره قومونو باندی چی عذاب راغلی دی د دوی خاص خاص بد عملونه ددی سبب جوړسوی دی دحضرت نوح ﷺ قوم حضرت نوح ﷺ ته قسم قسم تکلیفونه ورسول دحضرت شعیب ﷺ قوم په ناپ او تول کی کمی کول اوفساد یی غورځوی دحضرت لوط ﷺ قوم په بدترین قسم بدکاری کی اخته وو دحضرت موسیٰ او حضرت عیسیٰ قومونو په خپلو پیغمبرانو باندی ظلمونه وکړل قرآن کریم په دنیا کی د دوی دعذاب سبب د دوی عملونه اوکارونه ښوولی دی دلوی کفر اوشرك په وجه سره په دنیا کی عذاب نه راځی ددی سزا خو دجهنم دائمی عذاب دی په دی وجه ځینی عالمان فرمایی چی حکومت اوبادشاهی دکفر اوشرك سره خوچلیدی سی مګر دظلم او زور سره نه سی چلیدی.

بد اونیك اختلاف: په پنځم آیت کی چی کوم دا ارشاد فرمایی چی که الله ﷻ غوښتلی نوټول انسانان به یی یوامت اوملت جوړکړی وای مطلب دا دی چی که الله ﷻ غوښتلی نوټول انسانان به یی په زور سره داسلام پرقبولومجبوره کړی وای ټول به مسلمانان وای په دوی کی به هیڅ اختلاف نه وای مګر په تقاضا دحکمت سره په دی دنیا کی الله ﷻ څوك په یوعمل باندی نه مجبوره کوی بلکه ده انسان ته یوقسم اختیار ورکړی دی دهغه ترمخه چی دی ښه یابد هرڅنګه عمل غواړی کولی سی اودانسانانو طبیعتونه مختلف دی په دی وجه لاری مختلفی وی ددی نتیجه داده چی ځینی خلګ همیشه دحق دین څخه په اختلاف کی وی بغیر دهغو خلګو څخه پرکومو چی الله ﷻ رحمت فرمایلی دی یعنی دپیغمبرانو تابعداری کوونکی.

ددی څخه معلومه سوه چی داختلاف څخه مراد دلته دحقد دین اوانبیاوو ﷺ دتعلیم څخه مخالفت دی اجتهادی اختلاف کوم چی ددین دامامانو اوداسلام دفقهاوو په مینځ کی لازم دی اودصحابه وو دزمانی څخه راروان دی هغه په دی کی داخل نه دی نه دغه دالله ﷻ درحمت څخه خلاف دی بلکه مقتضی درحمت اوحکمت دی کومو حضراتو چی دمجتهدینو امامانو اختلاف ددی آیت په روسره درحمت څخه خلاف غلط ګرځولی دی دا په خپله دایت دسیاق څخه هم خلاف دی اودصحابه وو ﷺ اودتابعینو ﷺ دعمل څخه هم والله سبحانه تعالی اعلم.

سورة هود ختم سو بحمدالله تعالي

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سُوْرَةُ يُوْسُفَ﴾

سُوْرَةُ يُوْسُفَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّإِحْدَى عَشْرَةَ آيَةً وَّاثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة یوسف په مکه کی نازل سو اوپه دی کی یوسل یوولس (۱۱۱) آیتونه او دولس (۱۲) رکوعګانی دی

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی اندازی مهربانه نهایت رحم والا دی.

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝١ إِنَّآ أَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ

دا آیتونه دی — دواضح کتاب — مونږ دا نازل کړی دی قرآن په عربی ژبه چی تاسی ،

تَعْقِلُوْنَ ۝٢ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ

پوه سی ، — مونږ بیانوو — تاته — یوښکلی بیان — په دی وجه چی ولیږی مونږ تاته

إِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝٣

دا قرآن — اوته وی ددی څخه — مخکی — خامخا دناخبرو څخه ،

إِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِأَبِيْهِ يٰٓأَبَتِ إِنِّيْ رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَّ

یو وخت چی وویل یوسف ﷺ خپل پلار ته ای پلاره — ماولیدل — په خوب کی یوولس ستوری ،

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِيْ سٰجِدِيْنَ ۝٤ قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ

او لمر — اوسپوږمی ولیدل ما — خان ته سجده کوونکی ، وی ویل ای زویه — مه بیانوه

رُءْيَاكَ عَلٰٓى إِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْإِنْسَانِ

خوب خپل — خپلو وروڼو ته — بیابه هغوی جوړکی ستا دپاره یو فریب خامخا شیطان دانسان ښکاره

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝٥ وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيْلِ

دښمن دی ، — او دغه ډول — به غوره کړی تا ستارب — اووبه ښیی تاته تاویل

الْأَحَادِيْثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ أَتَمَّهَا

دخبرو — اوپوره به کړی خپل نعمت په تاباندی — او دیعقوب په کور والاوو لکه چی پوره کړی یی دی ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰٓى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝۶

په دوو پلرونو نیکه ددی څخه مخکی په ابراهیم او اسحق علیهما السلام باندی خامخا ستا رب خبردار دی حکمت والا

لنډتفسیر: الٓرٰ (ددی په معنی الله ﷻ پوه دی) دا ایتونه دی دیوواضح کتاب (چی الفاظ اومعنی دلالت کوونکی یی ډیری صفادی) مونږ دانازل کړی دی قرآن په عربی ژبه چی تاسی (په دی وجه چی اهل زبان یاست دنورو څخه مخکی) باندی پوه سی (بیاستاسی په واسطه باندی نور خلک پوه سی) مونږ چی داقرآن تاته رالیږلی دی ددی په ذریعه مونږ تاته یوه لویه عمده قصه بیانوو اوددی څخه مخکی ته (ددی قصی څخه) بالکل ناخبره وی (ځکه چی نه تاځه کتاب لوستی وو نه دی دیواستاد څخه څه ازده کړی وه اوقصه هم داسی مشهوره نه وه چی عوامو ته معلومه وه دقصی شروع) هغه وخت یادولوقابل ده کله چی یوسف علیه السلام خپل پلار (یعقوب علیه السلام) ته وویل چی پلاره ما (په خوب کی) یوولس ستوری اولمر اوسپوږمی لیدلی دی دوی می خپل ځان ته سجده کوونکی لیدلی دی دوی (په جواب کی) وفرمایل چی زویه خپل داخوب دخپلو وړونو په مخکی مه بیانوه (ځکه چی دوی په دی وجه چی دنبوت په خاندان کی دی ددی خوب په تعبیر پوه دی چی یوولس ستوری یولس وړونه اولمر پلار اوسپوږمی مورده اودسجده کولوڅخه مراد ددی تولو ستا دحکم لاندی فرمانبرداره کیدل دی) نودوی به ستا (دازار رسولو) دپاره یو خاص تدبیر وکی (یعنی په وړونوکی اکثره ځکه چی لس وړونه یی دپلار دطرفه وه د دوی څخه بیره وه صرف یو وړور یی حقیقی بنیامین وو دکوم څخه چی څه خلاف بیره خونه وه مګر دا احتمال وو چی دده دخلی څخه به خبره ووزی) بیشکه شیطان دانسان ښکاره دښمن دی (په دی وجه دوړونو په زړه کی به وسوسی واچوی) او (لکه څنګه چی به الله ﷻ تاته داعزت درکړی چی تول وړونه به ستا تابعدار اوفرمانبرداروی) دغه ډول به ستا رب تا (دنوز عزت دنبوت دپاره هم) منتخب کړی اوتاته به دخوبونو دتعبیر علم درکړی او (نور نعمتونه به درکړی هم) پرتا اوپراولاد دیعقوب به خپل انعام کامل کړی لکه چی ددی څخه مخکی ستا پرنیکه ابراهیم او اسحق (علیهما السلام) یی خپل انعام کامل کړی دی واقعی ستا رب لوی علم والا لوی حکمت والا دی.

معلومات اومسئلې: دسورة یوسف دځلورو ایتونو څخه ماسوا تول سورة مکی دی په دی سورة کی دحضرت یوسف علیه السلام قصه په تسلسل اوترتیب سره بیان سوي ده اوداقصه صرف په دی سورة کی راغلی ده په تول قرآن کی دوباره ددی هیڅ ځای ذکرنشته دا خصوصیت صرف دحضرت یوسف علیه السلام دقصی دی کنه نودتولو انبیاوو علیهم السلام قصی او واقعات په تول قرآن کی ترخاص حکمت لاندی جزونه راوړل سوی دی اوبار بار راوړل سوي دی.

حقیقت دا دی چی ددنیا په تاریخ اوپه تیرو تجربو کی دانسان دراتلونکی ژوند دپاره لوی سبق وی چی ددی دقدرتی تاثیر رنګ دانسان پرزړه اودماغو دعامو تعلیماتو څخه ډیر زیات ژور اوبی محنته وی په دی وجه قرآن کریم کوم چی دتولو قومونو دعالم دپاره داخری هدایت نامی په حیثیت سره رالیږل سوی دی په دی کی ددنیادتولوقومونو دتاریخ هغه حصه را اخستی سوی ده کومه چی دانسان دحال او انجام

Maktaba Tul Ishaat.com

داصلاح دپاره کیمیایی نسخه ده مگر قرآن کریم دتاریخ عالم داحصه هم په خپل مخصوص اوبی مثاله اندازکی داسی را اخستی ده چی ددی لوستونکی داسی نه سی محسوسولی چی داځه دتاریخ کتاب دی بلکه پرهرمقام باند چی دکومی قصی یو تکړه دعبرت اونصحیت دپاره ضروری ګڼل سوی ده صرف هغومره حصه هلته بیان سوي ده اوبیاپه بله موقع چی ددغی حصی ضرورت ګڼل سوی دی نوبیادوباره سوي ده په دی وجه ددی قصو په بیان کی دواقعو دترتیب لحاظ نه دی ساتل سوی ځینی ځای دقصی اولنی حصه وروسته اواخری حصه اول ذکرسوي ده په دی خاص قرآنی طریقه کی دامستقل هدایت دی چی ددنیا دتاریخ او دتیرو واقعاتو ویل اویادول په خپله یومقصدنه دی بلکه دپوه انسان مقصد دهری قصی او خبر ځخه یو عبرت اونصیحت حاصلول په کار دی.

په دی وجه ځینی اهل تحقیق فرمایی چی دانسان دکلام چی کوم دوه قسمونه خبر اوانشاء مشهوردی ددی دواړو قسمونو ځخه مقصود اصلی انشاء ده خبر په حیثیت دخبر هیڅ ځای مقصود نه وی بلکه دپوه انسان مقصد دهرخبر اوواقعی اوریدو اولیدو ځخه صرف دخپل حال اوعمل اصلاح په کار وی.

دحضرت یوسف ﷺ قصه په ترتیب سره په بیانولو کی یوحکمت داهم کیدی سی چی تاریخ نګاری هم یومستقل فن دی په دی کی ددی فن والاوو دپاره خاص هدایات دی چی په بیان کی نه دومره لندوالی په کار دی چی په خبره باندی څوك پوه نه سی اونه یی دومره اوږدول په کاردی چی ویل اویادول یی مشکل سی لکه چی ددی قصی دقرانی بیان ځخه واضحه کیږی.

دوهمه وجه داهم کیدی سی چی په ځینو روایتونو کی دی چی یهودو دازمائش دپاره نبی کریم ﷺ ته ویلی وه چی که ته رښتنی نبی یی نومونږ ته وښیه چی دیعقوب ﷺ خاندان دشام ځخه مصرته ولی منتقل سو؟ اودیوسف ﷺ واقعه څه وه؟ ددی په جواب کی په ذریعه دوحی داپوره قصه نازله سوه کومه چی دنبی کریم ﷺ معجزه اود دوی دنبوت لوی شاهدی وه چی دی محض امی وو اوتول عمر په مکه کی مقیم وو دچا ځخه یی تعلیم نه وو حاصل کړی اونه یی یوکتاب ویلی وو بیادوی ټول واقعات کوم چی په تورات کی ذکروه پوره پوره صحیح وښوول بلکه ځینی هغه شیان یی هم وښوول دکومو چی ذکر په تورات کی نه وو اوددی په ضمن کی دیر احکام اوهدایات دی چی مخ ته به بیان سی.

دټولو ځخه په اولنی آیت کی حروف: الٓرٰ: دقرآن کریم دمقطعاتو ځخه دی چی ددی متعلق دجمهورو اصحابو اوتابعینو فیصله دا ده چی دا دمتکلم اومخاطب یعنی دالله ﷻ او درسول ﷺ په مینځ کی یو راز دی چی دریم سړی نه باندی پوهیږی او نه ورته مناسب دی چی ددی په تحقیق پسی سی.

تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ: یعنی دا دی آیتونه ددی کتاب کوم چی دحلالو حرامو حکمونه او دهر کار حدونه اوقیدونه وښوول انسان ته یی دژوند په هرارخ کی یودرمیانه اوبرابر نظام دژوند ورکړی دی چی ددی دنازلولو وعده په تورات کی پیدا کیدی سی اویهود ددی ځخه خبر دی.

اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ: یعنی مونږ نازل کی دا قرآن په عربی ژبه چی شاید تاسی پوهه حاصله کړی. په دی کی اشاری دی طرف ته ده چی دحضرت یوسف ﷺ دقصی پوښتنی کوونکی دعربو یهود وه الله ﷻ د دوی په ژبه کی داقصه نازله کړه چی دوی فکر وکړی او دنبی کریم ﷺ په رښتنوالی اوحقوالی ایمان

Maktaba Tul Ishaat.com

راوړی او په دی قصه کی چی کوم احکام او هدایتونه دی دا دخپلی لاری رنا جوړه کړی.
په دی وجه دلته لفظ د: لَعَلّ: په معنی دشاید راوړل سوی دی څکه چی ددی مخاطبو حال معلوم وو چی ددا سی واضحو ښکارو ایتونو په مخ ته راتلو هم د دوی څخه دحق قبلول مشکوك وو.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَذَا الْقُرْآنَ وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ: یعنی مونږ بیانوو ستاد پاره ښه قصه داقرآن په ذریعه دوحی پرتا نازلوو بیشکه ته ددی څخه مخکی ددی تولو واقعاتو څخه ناخبره وی په دی کی یهودو ته خبرداری دی چی تاسی څنګه زمونږ درسول ازمائش کول غواړی په دی کی هم درسول کمال واضح سو څکه چی دی دمخکی څخه امی اودتاریخ عالم څخه ناخبره وو اوس دده دخبریدلو یوه ذریعه بغیر دتعلیم الهی اووحی دنبوت څخه نه سی کیدی.

إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ: یعنی حضرت یوسف ﷺ خپل پلار ته وویل چی پلاره ماپه خوب کی یوولس ستوری لمر او سپوږمی لیدلی دی او دا می لیدلی دی چی دوی ماته سجده کوی.
دا دحضرت یوسف ﷺ خوب وو ددی دتعبیر متعلق حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی دیوولس ستورو څخه مراد دحضرت یوسف ﷺ یوولس ورونه دی اودلمر اوسپوږمی څخه مراد پلار او مور وه.
په قرطبی کی دی چی دحضرت یوسف ﷺ دموروفات که څه هم ددی واقعی څخه مخکی سوی وو مګر خاله یی دپلار صاحب په نکاح کی راغلی وه خاله هسی هم دمور په ځای ګڼل کیږی اوچی بیا دپلار په ښځوکی راسی نو عرفًا دی ته مور ویل کیږی.

قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَى إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوٌّ مُبِينٌ: یعنی زویه ! ته خپل داخوب خپلو ورونو ته مه وایه هسی نه چی هغوی داخوب واوری ستا لوی شان معلوم کړی اوستا دهلاکولو تدبیر وکړی، څکه چی شیطان دانسان ښکاره دښمن دی ددنیا دجاه اومال په خاطر انسان په داسی کارونو کی اخته کوی ..... په دی آیتونو کی څومسئلی دذکر قابلی دی.

(دخوب حقیقت او درجه اوددی قسمونه)

دتولو څخه اول دخوب حقیقت او ددی څخه دمعلوم سوو واقعاتو اوخبرونو درجه اومقام دی په تفسیر مظهری کی حضرت قاضی ثناء الله فرمایی چی حقیقت دخوب دا دی چی دانسان نفس یو وخت دخوب یا دبی هوښی په سبب دظاهری بدن دتدبیر څخه فارغه سی نوده ته ددی خیالی قوت دطرف څخه څه صورتونه ښکاره کیږی ددی نوم خوب دی بیا ددی دری قسمونه دی چی په دی کی دوه بالکل باطل دی چی هیڅ حقیقت اواصلیت یی نه وی اویو دخپل ذات په اعتبار سره صحیح اوصادق دی مګر په دی صحیح قسم کی هم کله یو عوارض شامل سی اودافاسد اوبی اعتباره کړی.
تفصیل یی دا دی چی په خوب کی انسان کوم مختلف صورتونه اوواقعات وینی کله خوداسی وسی چی دبیداری په حالت کی کوم صورتونه انسان وینی هغه په خوب کی ورته په نظر راځی اوکله داسی وسی چی شیطان څه صورتونه اوواقعات دده په ذهن کی غورزوی کله خوشحالی کوونکی اوکله بیروونکی دادواړه قسمونه باطل دی چی نه یی یو حقیقت اواصلیت سته اونه ددی څه واقعی تعبیر کیدی سی په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی کی اول قسم ته حدیث النفس اودوهم ته تسویل شیطانی وایی.
دریم قسم کوم چی صحیح اوحق دی هغه دالله ﷻ دطرف څخه یو الهام دی کوم چی خپل بنده ته دخبرولو یا دخوشخبری ورکولو دپاره کول کیږی الله ﷻ دخپلو غیبو دخزانو څخه څینی شیان دده په زړه او دماغو کی اچوی.
په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی دمومن خوب یوه خبره ده چی په دی کی دی دخپل رب سره دخبرو شرف حاصلوی داحدیث طبرانی په صحیح سند سره روایت کړی دی (مظهری)
ددی تحقیق دصوفیایی کرامو دبیان مطابق دا دی چی په عالم کی څومره شیان په وجود کی راتلونکی وی ددی دوجود څخه مخکی دهرشی یوخاص شکل په عالم مثال کی وی اوپه دی عالم مثال کی چی څنگه دجوهرونو اوثابتو حقیقتونو صورتونه اوشکلونه وی دغه ډول دمعانیو اواعراضو هم خاص شکلونه وی په خوب کی کله چی نفس انسانی دظاهری بدن دتدبیر څخه فارغه سی نوځینی وخت دده تعلق دعالم مثال سره راسی هلته چی دکائناتو کوم شکلونه وی هغه ده ته په نظر راسی بیا داصورتونه دعالم غیب څخه ښکاره کیږی ځینی وخت په دی کی څه عوارض داسی پیدا سی چی داصل حقیقت سره یوباطل خیالات شامل سی په دی وجه تعبیر کوونکو ته ددی تعبیر کول مشکل سی او ځینی وخت دتولو عوارضو څخه پاك اوصفاوی نودغه اصل حقیقت وی مگر په دی کی هم ځینی خوب دتعبیر محتاج وی ځکه چی په دی کی دواقعی حقیقت واضح نه وی په داسی صورت کی هم که تعبیر غلط سی نوواقعه مختلفه سی په دی وجه صرف هغه خوب په صحیح طور سره دالله ﷻ دطرف څخه الهام اوثابت حقیقت وی کوم چی دالله ﷻ دطرف څخه وی اوځه عوارض هم په کښی شامل نه وی اوتعبیریی هم صحیح ورکول سوی وی دانبیاء علیهم السلام تول خوبونه داسی وی په دی وجه د دوی خوب هم دوحی درجه لری دعامو مسلمانانوپه خوب کی هرقسم احتمال وی په دی وجه دغه دچادپاره دلیل اوحجت نه وی د دوی په خوبونوکی ځینی وخت دطبعی اونفسانی صورتونو خلط وی اوځینی وخت دگناهونو تیاره اوخړوالی پرصحیح خوب باندی خپورسی او داعتماد قابل پاته نه سی ځینی وخت یی صحیح تعبیر نه معلومیږی د.خوبونودادری قسمونه کوم چی لورییان سول داتفصیل دنبی کریم ﷺ څخه نقل دی دوی فرمایی چی دخوب دری قسمونه دی یوقسم شیطانی دی چی په دی کی دشیطان دطرف څخه څه صورتونه په ذهن کی راځی دوهم هغه چی بنده یی په وینبه وینی هغه صورتونه ورته په خوب کی مخامخ سی دریم چی صحیح اوحق دی هغه دنبوت داجزاوو څخه شپږ څلویښتم ۴۶ جزدی یعنی دالله ﷻ دطرف څخه الهام دی

(په خوب کي دنبوت دجزء والي معنې اوتشريح)

هغه قسم کوم چی حق اوصحیح دی او په صحیح حدیثونو کی یی دنبوت یوجزء ګرځولی دی په دی کی دحدیثونو روایتونه مختلف دی په ځینو کی څلویښتم ۴۰ جزء اوپه ځینو کی شپږ څلویښتم ۴۶ جزء ښوولی دی اوپه ځینوکی یوکم پنځوس ۴۹ اوپنځوس ۵۰ اواویایم ۷۰ جزء هم نقل دی داتول روایتونه په تفسیر قرطبی کی جمع سوی دی دابن عبدالبر تحقیق یی دانقل کړی دی چی په دی کی څه تکر اوخلاف نسته بلکه هریوروایت پرخپل ځای صحیح اودرست دی اود اجزاوو دشمیر دا اختلاف دخوب

Maktaba Tul Ishaat.com

لیدونکی دمختلفو حالاتو پربنا دی کوم سړی چی رښتنی امانتدار دیندار اوکامل مومن وی دده خوب
به دنبوت څلویښتم جزء وی اوکوم چی په دی صفتونو کی لږ کم وی دده شپږ څلویښتم جزء یاپنځوسم
جزء وی اوځوك چی نور هم کم وی دده خوب به دنبوت اویایم جزء وی.
دلته داخبره دفکر کولو طلبوونکی ده چی درښتنی خوب دنبوت دجزوالی څخه څه مراد دی؟ په تفسیر
مظهری کی یی ددی توجیه دابیان کړیده چی په نبی کریم ﷺ دنبوت دوحی سلسله درویشت ۲۳ کاله
جاری وه په دی کی په اوله ششماهی کی دا وحی الهی دخوبونو په صورت کی راتله اوپه پاته پنځه
څلویښت ششماهیو کی دجبرئیل امین دپیغام راوړو په صورت کی راغله په دی حساب سره رښتنی
خوبونه دوحی دنبوت شپږ څلویښتم جزء سو اوپه کومو روایتونوکی چی کم اوزیات شمیر ذکردی په دی
کی یا تقریبی خبره سوي ده یادسند په اعتبار سره ساقط دی.
وامام قرطبی ؒ فرمایی چی خوب دنبوت دجزء کیدو څخه مراد دا دی چی په خوب کی ځینی وخت
نسان داسی شیان وینی کوم چی دده په قدرت کی نه وی مثلاً وینی چی په هواکی الوزی یادغیبو داسی
شیان وویني چی علم حاصلول یی دده په قدرت کی نه وی نوددی ذریعه بغیر دامداد اوالهام دخدای
څخه نور څه نه سی کیدی کوم چی په اصل کی دنبوت خاصه ده په دی وجه دی ته دنبوت جزء وویل سو.

(دقادیاني دجال دیوی غلطي تردید)

لته ځینی خلګو ته یوه عجیبه غلطی لګیدلی ده چی دنبوت ددی جزء په دنیا کی.دپاته کیدو اوباقی
کیدو په وجه یی نبوت باقی او جاری پاته کیدل وګڼل کوم چی دقرآن کریم دقطعی نصوصو اوبی شمیره
صحیح حدیثونو خلاف اودټول پوره امت داجماعی عقیدی دختم نبوت څخه خلاف اومنافی ده اودانه
ګڼی چی دیوشی دیوجزء په موجود کیدو سره ددغه شی موجود کیدل نه لازمی کیږی که دیوسړی یونوك
بایوورڅښته یوځای موجودوی نوځوك دانه سی ویلی چی دلته هغه سړی موجوددی دمشین په ټولو
رزوکی که دچاسره یوه پرزه یایوحصه وی اوهغه وایی چی زماسره فلانی مشین موجود دی نودټولی
نیا خلګ به دی درواغجن اوبی عقله وګڼی.
بښتنی خوب دحدیثونو دوضاحت مطابق بیشکه چی دنبوت جزء دی مګر نبوت نه دی نبوت خوپه خاتم
لانبیاء ﷺ باندی ختم سوی دی.
ه صحیح بخاری کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی: لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلاَّ الْمُبَشِّرَاتُ : یعنی اینده دنبوت
د جزء بغیر دمبشرات څخه باقی نه پاته کیږی اصحابو کرام ؓ عرض وکی چی دمبشرات څخه څه مراد
ی؟ نووی فرمایل چی رښتنی خوب ددی څخه ثابته سوه چی دنبوت یوقسم یایوصورت باقی نسته
رف ددی یوکوچنی جزء باقی دی چی مبشرات یارښتنی خوب ورته وایی.

(کله دکافر یافاسق سړی خوب هم رښتیا کیدی سي)

دا خبره هم په قرآن اوحدیث او په تجربو سره ثابته ده چی رښتنی خوب ځینی وخت دفاسق فاجر بلکه
کافر هم کیدی سی په دی سورة یوسف کی دحضرت یوسف ؑ دجیل ددوو ملګرو خوب اوددی رښتیا
یدل دغه ډول دمصر دبادشاه خوب اودهغه رښتیا کیدل په قرآن کی ذکر دی حاجل دا دی چی دادری

Maktaba Tul Ishaat.com

واړه مسلمانان نه وه په حدیث کی دکسرئ دخوب ذکردی کوم چی ده دنبی کریم ﷺ دبعثت متعلق لیدلی وو هغه خوب صحیح سو حال دا دی چی کسرئ مسلمان نه وو دنبی کریم ﷺ عمه عاتکی په حالت دکفرکی د دوی په باره کی رښتنی خوب لیدلی وو دارنګه کافر بادشاه بخت نصر ته چې دکوم خوب تعبیر حضرت دانیال علیه السلام ورکی دغه خوب رښتنی وو

ددی څخه معلومه سوه چی محض دومره خبره چی څوك رښتنی خوب وویني اوواقعه دهغه مطابق وسی دده دنیك اوصالح بلکه دمسلمان والی هم دلیل نه دی البته دا صحیح ده چی عام عادت دالله ﷻ دا دی چی درښتونو اونیکو خلګو خوب په عام طور سره رښتیاوی دفاسقانو فاجرانو خوبونه په عام طور سره دحدیث النفس یاتسویل شیطانی قسم باطل وی مګر کله ددی خلاف هم کیږی

په هرحال رښتنی خوب دعام امت دپاره دحدیث دوضاحت مطابق دیوخوشخبری یاخبرداری څخه زیات یو مقام نه لری نه دده دپاره پخپله په یومعامله کی دلیل دی اونه دنورودپاره ځینی ناپوهه خلق داسی خوب وویني اوپه قسم قسم وسوسوکی اخته سی څوك یی دخپل ولایت نخبه ګڼی اوځوك ددی څخه حاصلوسوو خبرو ته دشریعت داحکامو درجه ورکوی داتول شیان بی بنیاده دی خاصکر چی بیاداهم معلومه سوي ده چی په رښتونو خوبونوکی هم دیر دنفسانی یاشیطانی یاددواړه قسمه تصوراتو دګډون احتمال هم سته

(خوب هرسړی ته بیانول نه دی په کار)

مسئله: په آیت: قَالَ یٰبُنَیَّ : کی حضرت یعقوب علیه السلام حضرت یوسف علیه السلام دوړونو په مخکی دخپل خوب بیانولو څخه منع کی ددی څخه معلومه سوه چی خوب دداسی سړی په مخکی بیانول نه دی په کار کوم چی دده خیر خواه اوهمدرد نه وی اونه دداسی سړی په مخکی کوم چی دخوب په تعبیر کی ماهر نه وی.

په جامع ترمذی کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی رښتنی خوب دنبوت څلویښتم جزء دی اوخوب معلق وی ترهغه پوری چی چاته بیان نه سی کله چی بیان سو او اوریدونکی یی یو تعبیر وایسنی نودتعبیر مطابق واقع کیږی په دی وجه په کاردی چی خوب چاته بیان نه سی بغیر دهغه سړی څخه چی عالم او عاقل وی یاکم از کم دده دوست اوخیر خواه وی.

دارنګه په ترمذی اوابن ماجه کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی خوب دری قسمه وی یودالله ﷻ دطرف څخه زیری دوهم دنفس خیالات دریم دشیطان تصورات په دی وجه کوم سړی چی یو خوب وویني اوده ته ښه معلوم سی نودی که غواړی چاته دی بیان کړی اوکه په دی کی څه ناکاره خبره په نظر ورسی نوچاته دی نه وایی بلکه پورته دی سی اولمونځ دی وکړی.

اودصحیح مسلم په حدیث کی داهم دی چی بدخوب وویني نوچپه طرف ته دی دری واره ناړی توکړی اودالله ﷻ څخه دی ددی دبدی څخه پناه وغواړی اوچاته دی ذکر نه کوی نو داخوب به ده ته هیڅ نقصان ونه رسوی وجه داده چی ځینی خوب شیطانی تصورات وی هغه به په دی عمل سره دفع سی اوکه رښتنی خوب وی نوددی عمل په ذریعه دده دبد والی دلیری کیدو هم امید دی

مسئله: دخوب دتعبیر پرخوب باندی دموقوف پاته کیدو مطلب په تفسیر مظهری کی دا بیان سوی دی چی ځینی تقدیری کارونه قطعی نه وی بلکه معلق وی چی که فلانی کار وسو نودامصیبت به بیرته

Maktaba Tul Ishaat.com

ولارسی اوکه ونه سو نوواقع به سی دی ته معلقه قضا ویل کیږی په داسی صورت کی په بد تعبیر سره معامله بده اوپه ښه تعبیر سره ښه کیدی سی په دی وجه دترمذی په ذکرسوی حدیث کی داسی سړی ته دخوب بیانولو منع سوي ده کوم چی عقلمند نه وی یادده خیر خواه اوهمدرد نه وی اوداوجه هم کیدی سی چی دخوب یوناکاره تعبیرواوری اودانسان په زړه کی داخیال کلك سی چی اوس پرمامصیبت راتلونکی دی اوپه حدیث کی دی چی الله ﷻ فرمایی: اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِی بِی یعنی: بنده چی زمامتعلق څنګه ګمان کوی زه دده په حق کی هم هغسی کیږم کله چی دالله ﷻ دطرف څخه په مصیبت راتلو یقین وکړی نودالله ﷻ دعادت مطابق په ده مصیبت راتلل ضروری سو.

مسئله: ددی آیت څخه چی کومه دامعلومه سوه چی په کوم خوب کی دځه تکلیف یا مصیبت خبره وویني هغه دی چاته نه بیانوی دحدیثونو دروایتونو څخه معلومیږی چی دامنع محض دشفقت اوهمدردی پرینا باندی ده شرعی حرامه نه ده په دی وجه که چاته یی بیان وکړی نوځه ګناه نه ده ځکه چی په صحیح حدیثونو کی دی چی داحد دغزا په وخت کی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی ماپه خوب کی لیدلی دی چی زما توره ذوالفقارماته سوه اوماولیدل چی څه غواګانی ذبح کیږی چی تعبیریی دحضرت حمزه ﷺ شهادت او دډیرومسلمانانوشهادت ووکومه چی لویه حادثه ده مګردوی داخوب اصحابو ﷺ ته بیان کړی وو (قرطبی)

مسئله: ددی آیت څخه داهم معلومه سوه چی مسلمان ته دنورو دشر څخه دبچ کولو دپاره دهغوی دیو خوی یانیت اظهار کول جائزدی داپه غیبت کی داخل نه دی مثلاً چاته معلومه سی چی فلانی سړی دیو بل سړی دکور څخه دغلا یادده دقتل کولو منصوبه جوړوی نوده ته په کاردی چی داسړی خبر کړی داپه حرام غیبت کی داخله نه ده لکه چی حضرت یعقوب ﷺ حضرت یوسف ﷺ ته ددی اظهار وکی چی دورونو څخه دده ځان ته خطره ده.

مسئله: ددی آیت څخه داهم معلومه سوه چی دکوم سړی متعلق دا احتما ل وی چی زما د خوشحالی اودنعمت ذکر واوری نوحسد به کوی اودنقصان رسولو فکر به کوی نوددده په مخکی دی دخپل نعمت دولت اوعزت وغیره ذکر نه کوی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی.

(دخپلو مقصدونو دکامیابو جوړولو دپاره دوی په رازکی په ساتلو سره مدد حاصل کړی ځکه چی په دنیا کی دهرنعمت دخاوند سره حسد کیږی)

مسئله: ددی آیت او د وروسته آیتونو څخه په کوموکی چی دحضرت یوسف ﷺ دقتلولو یاپه ځاه کی دغورځولو مشوره اوپه دی دعمل.ذکردی داهم واضحه سوه چی دحضرت یوسف ﷺ ورونه پیغمبران نه وه کنه نو دحضرت یوسف ﷺ دقتل مشوره اوبیا دده دضائع کولو تدبیر اودپلار دنافرمانی کار به د دوی څخه نه وای سوی ځکه چی دپیغمبرانو پاکوالی اومعصوم والی ضروری دی په کتاب طبری کی چی کوم دوی، ته پیغمبران ویل سوی دی دغه صحیح نه دی (قرطبی)

په شپږم آیت کی الله ﷻ حضرت یوسف ﷺ ته دیو څو انعاماتو ورکولو وعده فرمایی.

اول: وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ یعنی الله ﷻ به دخپلو انعاماتو اواحساناتو دپاره ستا انتخاب وفرمایی چی ظهوربه یی په ملك دمصرکی په حکومت عزت اودولت حاصلیدو سره وسی دوهم: وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْاَحَادِیث په دی کی داحادیثو څخه مراد دخلګو خوبونه دی معنی دا ده چی الله ﷻ به تاته دخوبونو دتعبیر علم وښیی ددی څخه داهم معلومه سوه چی دخوب تعبیر یومستقل فن دی کوم چی الله ﷻ خپلو خپلو ورکوی هرسړی ددی اهل نه دی.

مسئله: په تفسیرقرطبی کی دی چی شدادبن الهادفرمایی چی دحضرت یوسف علیه السلام ددی خوب تعبیر خلویښت کاله وروسته بنکاره سوددی څخه معلومه سوه چی دتعبیرفورابنکاره کیدل څه ضروری نه دی دریمه وعده: وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ: یعنی الله ﷻ به په تاخپل نعمت پوره کړی په دی کی دنبوت ورکولوطرف ته اشاره ده اودی طرف ته اشاره په وروسته جملوکی هم ده: كَمَا أَتَمَّهَا عَلَى أَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ یعنی څنګه چی مونږ خپل نعمت دنبوت ستا پرپلار او نیکه حضرت ابراهیم اوحضرت اسحاق علیهما السلام ستا څخه مخکی پوره کړی دی په دی کی دی طرف ته هم اشاره وسوه چی دخوب دتعبیر فن لکه څنګه چی حضرت یوسف علیه السلام ته ورکول سوی وو دغه شان حضرت ابراهیم اوحضرت اسحاق ته هم ورکول سوی وو په اخرایت کی فرمایی: إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ: یعنی ستاپروردګار لوی علم والا لوی حکمت والا دی. نه ده دپاره چاته یو فن ښوول مشکل دی او نه په وجه دحکمت هغه دغه فن هر چاته ورازده کوی بلکه دخپل حکمت ترمخه انتخاب کوی اوداهنر ورته زده کوی.

لَقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيَاتٌ لِّلسَّائِلِينَ ۝٧ إِذْ قَالُوا

خامخا دی دیوسف علیه السلام په قصه کی اودده دورونو په قصه کی نخښی دپوښتنی کوونکو دپاره کله چی دوی وویل

لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا

خامخا یوسف او ده وروړ زیات خوارږه دی زمونږ پلارته زمونږ څخه اومونږ دوی څخه زیات طاقتوریو خامخا زمونږ پلار،

لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ۝٨ اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ

په بنکاره خطا باندی دی ، مړکړی یوسف علیه السلام یایی وغورځوی یو ملك ته چی خالصه سی په تاسی ،

وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا مِن بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ ۝٩ قَالَ قَائِلٌ

توجه ستاسی دپلار اوسی ددی څخه وروسته نیك خلګ وویل یو ویونکی

مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ

په دوی کی مه وژنی یوسف او وغورځوی دی په ورك ځاه کی چی پورته کړی دی یو خوك ،

السَّيَّارَةِ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ ۝١٠ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَىٰ

مسافر که تاسی کوی ، وویل دوی ای پلاره زمونږ څه خبره ده چی ته اعتبار نه کوی په

Maktaba Tul Ishaat.com

يُوْسُفَ وَاِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ﴿۱۱﴾ اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ

مونږ دیوسف اومونږ خو دده خیر خواه یو ، ولیږه دی زمونږسره صبا چی ښه وخوری اولوبی وکړی

وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۱۲﴾ قَالَ اِنِّيْ لَيَحْزُنُنِيْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ

اومونږ خو دده حفاظت کوونکی یو ، وی ویل چی زماسره غم دی ددی چی تاسی به دی بوزی اوبیریږم ددی

اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ

څخه چی وبه خوری دی شرمښی اوتاسی به دده څخه ناخبره یاست ، وی ویل که وخوړی دی

الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَ

شرمښی اومونږ یو جماعت یوطاقتور نو مونږ به تاوان کوونکی یو ، بیا چی کله یی بوتلی دی او

اَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ

متفق سول چی وغورځوی دی په ورک ځاه کی اومونږ اشاره وکړه ده ته چی ته به وښیی دوی ته

بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَجَآءُوْٓ اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ﴿۱۶﴾

د دوی دا کار او دوی به تا نه پیژنی ، او را غلل خپل پلارته په مابنام تیاره کی چی ژړل یی ،

قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا

وی ویل چی ای پلاره مونږ ولاړو په منډو دیو بل څخه مخکی کیدو او پریښودی مونږ یوسف دخپل اسباب سره ،

فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾

بیا وخوړی دی شرمښی او ته به باور ونه کړی زمونږ په خبره که څه هم مونږ رښتنی یو ،

وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ۭ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ

او رایه وړی قمیص دده په وینو ککړه دروغه ، وی ویل داسی هیڅکله نه ده بلکه جوړه

اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰي مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾

کړې ده ستاسی زړونو یوه خبره نو صبر ښه دی ، او دالله څخه مدد غواړم په دی خبره چی تاسی ښکاره کوی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ ۖ قَالَ يَا بُشْرَىٰ

او راغله یوه قافله بیایی ولیږی خپل اوبه راوړونکی هغه بوته وروا چوله خپله وی ویل څه دخوشحالی خبره ده .

هَٰذَا غُلَامٌ ۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾

دا دی یوهلك ، او پټ یی کړی دی دتجارت مال ګڼلی ، اوالله ښه پیژنی څه چی دوی کوی ،

وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ ﴿٢٠﴾

او خرڅ کی دی وړونو په ناقص قیمت دشمیر چوڼی اوکیدل دده څخه بیزاره

لنډتفسیر: دیوسف علیه السلام اودده د (میرزیو) وړونو په قصه کی (دخدای دقدرت اوستا دنبوت) دلیلونه موجوددی دهغو خلګو دپاره کوم چی (ستا څخه ددی قصی) پوښتنه کوی (څکه چی حضرت یوسف علیه السلام ددا سی بی کسنی اوبی بسی څخه سلطنت اوحکومت ته رسول دادخدای کار وو چی په دی سره مسلمانانو ته عبرت او دایمان قوت حاصلیږی او یهودوته چی دنبی کریم ﷺ څخه دازمائش دپاره داقصه پوښتلی وه دوی ته په دی قصه کی دنبوت دلیل ورکول کیږی) هغه وخت دیادولو قابل دی کله چی دغو (میرزیو) وړونو (دیوبل سره دمشوری په طور) داخبری وکړی چی (داڅه خبره ده چی) یوسف اودده (حقیقی) ورور (بنیامین) زمونږپلارته زیات خوارښه دی حال دا دی چی (دکوچنیوالی په وجه سره دده دخدمت قابل هم نه دی او) مونږ دیوجماعت پوره ټولګی یو (چی دخپل قوت او ډیروالی په وجه سره دده هرقسم خدمت هم کوو) واقعی زمونږ پلار په ښکاره غلطی کی دی (په دی وجه تدبیرداسی کول په کاردی چی په دی دواړوکی هم زیاته مینه یی دیوسف علیه السلام سره ده دی په یو ډول سره دده دخواڅخه لیږی کول په کاردی چی ددی صورت داسی دی چی) یاخویوسف قتل کړی یادی یوی (لیږی) مځکی ته وغورزوی نو (بیابه) ستاسی دپلار مخ به خالص ستاسی طرف ته سی اوستاسی ټول کار به جوړسی په دوی کی یو ویونکی وویل چی یوسف مه قتلوی (چی داډیر لوی جرم دی) اودی یوڅای په یوتاریك ځای کی وغورزوی (چی په هغه کی دومره اوبه نه وی چی ډوبیدو خطره په کښی وی څکه چی داهم دقتل یوصورت دی البته چی دکلی اولاری څخه ډیر لیری هم نه وی) چی څوك پرلاره تلونکی مسافر یی راوباسی که تاسی (داکار) کول غواړی (نوداسی وکړی پردی دټولو اتفاق راغی او) ټولو (په جمع پلارته) وویل چی پلاره ددی یو وجه ده چی دیوسف په باره کی ته په مونږ اعتبار نه کوی (چی هیڅ ځای یی زمونږ سره نه لیږی) حا ل دا دی چی مونږ دده (په زړه سره) خیر خواه یو (داسی نه دی په کار بلکه) ته صبادی زمونږ سره (ځنګل ته) ولیږه چی لږ خوراك وکړی لوبی وکړی اومونږ به دده پوره حفاظت کوو یعقوب علیه السلام وفرمایل چی (ستاسی سره په لیږلوکی ماتاه دوه شیان مانع دی . یوغم اوبل بیره؟ غم خو داچی) مادا خبره په غم کی اچوی چی دی به تاسی (زما دلحوا څخه) بوزی او (بیره داچی) زماسره داخطره

Maktaba Tul Ishaat.com

چی دی به یو شرمښ وخوری اوتاسی به (په خپلو کارونوکی) دده څخه بی خبره یاست (څکه چی په
ه څنګل کی شرمښان ډیروه) هغوی وویل که دی شرمښ وخوری اومونږ دیوجماعت پوره یوتولګی
جود) یونومونږ به بالکل تاوان کوونکی یو (غرض داچی داخبری وسوی اودیعقوب ﷺ څخه یی دی
ن کی) نوکله چی یی دی (دځان سره څنګل ته) بوتلی او (دتیر قرارداد مطابق) تولو پخه اراده وکړه چی
په یو تاریك ځاه کی واچوی (بیایی په دی خپل تجویز عمل هم وکی) او (دغه وخت یوسف ته دتسلی
ره) مونږده ته وحی ولیږله چی (ته خفه کیږه مه مونږ به تاته ددی ځای څخه خلاصی درکړو لویی مرتبی
ه دی ورسوو اویوه ورځ به داسی راسی چی) ته به دی خلګوته داخبره وریاده کړی اودوی به تا (په دی
ه سره چی په غیر متوقع طور سره په شاهانه صورت کی به دی وویني) پیژنی هم نه (نوچنانچی واقعه
سی وسوه چی ورونه یی مصرته ورسیدل اواخر یوسف ﷺ دوی ته وریاده کړه: هَلْ عَلِمْتُمْ مَافَعَلْتُمْ
یُوسُفَ دحضرت یوسف ﷺ قصه خوداسی سوه) او (دی خواته) دغه خلګ خپل پلارته دماخستن په
ت کی په ژړا راغلل (اوکله چی پلار دژړا پوښتنه ورڅخه وکړه نو) وی ویل چی پلاره مونږ دیوبل څخه
څکی کیدو دپاره منډی وهلی (چی څوك به مخکی سی) او یوسف مونږ (په داسی ځای کی کوم ځای
ی دشرمښ دراتلو ګمان نه وو) دخپل اسباب سره پاته کی بس (اتفاقًا) یوشرمښ راغی (او) هغه یی
وړی اوته به پته مونږ یقین نه کوی که څه هم مونږ هرڅومره رښتنی یو او (کله چی حضرت یعقوب ﷺ
راتلل نو) دیوسف په قمیص یی ددروغو وینه پوری کړه راوړی (چی دیوحیوان وینه یی په قمیص
ولی وه اودخپلی خبری دسند دپاره یی پیش کړی) یعقوب (چی ولیدی نوقمیص هیڅ ځای څیری نه وو
ه چی طبری دابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی نو) وی فرمایل (یوسف شرمښ هیڅکله نه دی
ږلی) بلکه تاسی په خپله زړه کی یوه خبره جوړه کړیده پس زه به صبر کوم چی دګیلی به ګرسره نوم نه
ی په کښی (دصبر جمیل داتفسیر چی دده سره یوحرف دګیلی نه وی طبری دمرفوع حدیث په حواله سره
ان کړی دی) اوکومی خبری چی تاسی یی جوړوی په دی کی دِی الله ﷻ مدد وکړی (چی داوخت ماته
دی صبر راکړی اوائنده ستاسی دروغ ښکاره سی په هرحال حضرت یعقوب ﷺ صبروکی اوکښی
ستی) او (دحضرت یوسف ﷺ قصه داسی وسوه چی اتفاقًا اخواته) یوه قافله راغله (کومه چی مصرته
ه) اوهغوی خپل سړی داوبو راوړلو دپاره (هلته څاه ته) ولیږی اوهغه خپله بوقه ورواچوله (حضرت
سف ﷺ بوقه ونیوله کله چی بوقه دباندی راغله او حضرت یوسف ﷺ یی ولیدی نوخوشحاله سو)
ی ویل لویه دخوشحالی خبره ده داخو ډیر ښکلی هلك راووتی (قافلی والا چی خبرسول نوهغوی هم
شحاله سول) اودی یی مال (دتجارت) وګرځوی (په دی خیال سره یې) پټ یی کی (چې څوك دعوی
لدی ونه کړی اودی به مونږ مصرته ورسوو اوهلته به یی په ډیر قیمت سره خرڅ کړو) او الله ﷻ ته د
ی تول کارونه معلوم وه (دی خواته به ورونه تری هم شا اوخوا ورته ګرځیدل اوپه څاه کی به یی
حضرت یوسف ﷺ تماشه کوله یو خوراك به یی هم وررسوی د دوی مقصد داوو چی دی هلاك هم نه
ی اوڅوك راسی یوبل ملك ته یی بوزی اوحضرت یعقوب ﷺ به خبرنه سی په دغه ورځ چی دوی
حضرت یوسف ﷺ په څاه کی ونه لیدی اوخواته یو قافله دیره سوی وا یو نوهلته ولاړل دحضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

یوسف ﷺ درك یی ولگوی نودقافلی خلگوته یی وویل چی زمونږ غلام دی زمونږ څخه راتښتیدلی دی اوس یی مونږ دځان سره ساتل نه غواړو، او (داخبره یی جوړه کړه) دی یی په ډیر کم قیمت (دقافلی والاوو په لاس) خرڅ کی یعنی دشمیر دځودرهموپه بدله کی او (وجه داوه چی) داخلګ خودده څه قدردان دسره نه وه (چی دی یی عمده مال ګنلی اوپه ډیر قیمت یی خرڅ کړی وای بلکه مقصد خو د دوی دده ددی ځای څخه لیری کول وو)

معلومات اومسئلي: دسورة یوسف دذکرسوو ایتونو څخه په اولنی آیت کی یی په دی خبر ورکړی دی چی په دی سورة کی راتلونکی قصه دحضرت یوسف ﷺ محضی قصه مه ګنی بلکه په دی کی دسوال کوونکو اوتحقیق کوونکو دپاره دالله ﷻ دکامل قدرت لویی نخښی اوهدایتونه دی.

ددی څخه داهم مراد کیدی سی چی کومو یهودو دنبی کریم ﷺ څخه دازمائش ددی قصی پوښتنه کړی وه د دوی دپاره په دی کی لویی نخښی دی روایت دا دی چی کله نبی کریم ﷺ په مکه معظمه کی تشریف فرماوو او د دوی خبر مدینی ته ورسیدی نوددی ځای یهودو یوځوسړی ددی کار دپاره مکی معظمی ته ولیږل چی دوی ولاړسی اوپه دوی ازمائش وکړی په دی وجه داسوال یی په مبهم اندازکی داسی وکی چی که ته دخدای رښتنی نبی یی نوداوښیه چی هغه کوم پیغمبردی چی دهغه یوزوی دشام څخه مصرته بیول سوی وو او پلار دهغه په غم کی په ژړا ژړا روند سو ؟

داواقعه یهودوځکه منتخب کړی وه چی نه ددی یوعام شهرت وونه په مکه کی څوك ددی واقعی څخه خبر وه اودغه وخت په مکه کی داهل کتابو څخه هم څوك نه وو چی د دوی څخه دتورات اوانجیل په حواله سره ددی قصی یو جزء معلوم سوی وای د دوی په دی سوال باندی پوره سورة یوسف نازل سو چی په دی کی دحضرت یعقوب اوحضرت یوسف ﷺ پوره قصه ذکرده اوپه دومره تفصیل سره ذکرده چی په تورات اوانجیل کی هم په دومره تفصیل سره نسته په دی وجه ددی بیانول دنبی کریم ﷺ ښکاره معجزه وه.

او ددی آیت دامعنی هم کیدی سی چی قطع نظر دسوال دیهودو څخه په خپله داواقعه پر داسی کارونو مشتمله ده په کومو کی چی دالله ﷻ دقدرت کامله لویی نخښی اودتحقیق کوونکو دپاره لوی هدایتونه اوحکمونه اومسئلی موجوددی چی کوم کوچنی ورونو دهلاکت په غار کی غورځولی وو دالله ﷻ قدرت دی دکوم ځای څخه کوم ځای ته ورسوی او څنګه یی دده حفاظت وکی اوخپلو خاصو بندګانوته دخپلو احکامو دپایبندی څومره ژور رنګ ورکوی چی دځوانی په زمانه کی ورته دعیش عشرت بهترینه موقع ورکول کیږی مګردی دخدای دبیری څخه دنفس په خواهشاتو څنګه واك پیداکوی چی صفا ددی بلا څخه وزی اوداچی کوم سړی نیکی اوتقوی اختیار کړی الله ﷻ ده ته دخپلو مخالفینو په مقابله کی څنګه عزت ورکوی اومخالفین دده په قدمونوکی غورزوی داټول عبرتونه او نصیحتونه اودقدرت الهی عظیمی نخښی دی چی هریوتحقیق کوونکی اوفکر کوونکی ته معلومیدی سی (قرطبی ومظهری)

په دی آیت کی دحضرت یوسف ﷺ دورونو ذکردی د دوی واقعه داده چی دحضرت یعقوب ﷺ دحضرت یوسف ﷺ سره دولس زامن وه په دوی کی دهریو زوی اولاد پیداسو دټولو خاندان خپورسو چونکی دحضرت یعقوب ﷺ لقب اسرآئیل ووپه دی وجه دی ټولودولسوخاندانونو ته بنی اسرائیل وایی

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی دولسو هلکانو کی لس مشران هلکان دحضرت یعقوب ﷺ داولی بی بی محترمی حضرت لیا بنت
یان دنس څخه وه ددی دوفات څخه وروسته حضرت یعقوب ﷺ دلیا دخور راحیل سره نکاح وکړه ددی
نس څخه دوه هلکان حضرت یوسف ﷺ اوبنیامین پیدا سول په دی وجه دحضرت یوسف ﷺ حقیقی
رور صرف بنیامین وو باقی لس ورونه یی په پلار شریك وه دحضرت یوسف ﷺ دمور راحیل انتقال هم
ده په کوچنی والی کی دبنیامین دپیدا کیدو سره سوی وو (قرطبی)

په دوهم آیت کی دحضرت یوسف ﷺ قصه شروع کیږی چی دحضرت یوسف ﷺ ورونو خپل پلار
حضرت یعقوب ﷺ ولیدی چی دی دحضرت یوسف ﷺ سره ډیر زیات محبت ساتی چی دغه محبت دده
ی نورو ورونو ته حاصل نه دی په دی وجه یی حسد باندی وکی اوداهم ممکنه ده چی په یوډول سره
وی ته دحضرت یوسف ﷺ خوب هم معلوم سوی وی چی په دی سره دوی دامحسوسه کړی وی چی دده
وی شان کیدونکی دی په دی وجه یی حسد ورسره پیدا سوی وی اوپه خپل مینځ کی یی خبری وکړی
چی مونږ داوینو چی زمونږ دپلار زمونږ په نسبت دیوسف اوده دورور بنیامین سره زیات محبت دی
حال دا دی چی مونږ لس یو او د دوی څخه لوی یو اودکور دکار روزګار دسنبالولو قوت لرو اودادواړه
کوچنی هلکان دی څه کار نه سی کولی زمونږ پلارته په کار وه چی دی ته یی خیال کولی اوزمونږ سره یی
محبت کولی مګر دی بنکاره بی انصافی کوی په دی وجه یاخو تاسی یوسف قتل کړی یایی یوځای
اسی لیری مځکی ته واچوی چی بیا بیرته ورځخه رانه سی.

په دی آیت کی دی ورونو دځان دپاره لفظ د: عُصْبَةٌ: استعمال کړی دی دالفظ په عربی کی دپنځو څخه
راخله ترلسوپوری ډلی ته ویل کیږی اودخپل پلار په باره کی چی یی کوم داویلی دی: اِنَّ اَبَانَا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ
په دی کی دلفظ دضلال لغوی معنی ګمراهی ده مګردلته دګمراهی څخه مراددینی ګمراهی نه ده که
وپه داسی خیال کولوسره خوبه دوی ټول کافران سوی وای ځکه چی حضرت یعقوب ﷺ خود الله ﷻ
غوره سوی پیغمبردی د دوی په شان کی داسی خیال کول قطعی کفر دی.

و دحضرت یوسف ﷺ دورونو متعلق په خپله په قرآن کریم کی ذکر دی چی وروسته دوی دخپل جرم
قرار وکی او پلار ته یی دمغفرت ددعا درخواست وکی اوپلار یی قبول کی ددی څخه دانبکاره ده چی
دی ټولو خطا معاف سوه داټولی خبری په دی صورت کی کیدی سی چی دوی ټول مسلمانان وی که
ودکافر په حق کی دمغفرت دعا جائزنه ده په دی وجه دده په ورونوکی دانبیاء کیدو په باره کی
ودعلماوو اختلاف دی مګر په مسلمانیدو کی یی دهیڅا اختلاف نسته ددی څخه معلومه سوه چی
فظ دضلال دلته صرف په دی معنی کی ویل سوی دی چی دورونو په حقوقو کی برابری نه کوی.

ه دریم آیت کی دابیان دی چی ددی ورونو په مینځ کی مشوره وسوه څینو دارایه ورکړه چی حضرت
وسف ﷺ قتل کړی څینو وویل چی یوځای غیر اباد ځاه ته یی وغورځوی چی دا ازغی دمینځ څخه
وزی اوستاسی دپلار توله توجه ستاسی طرف ته سی پاته سو داجرم چی دده قتل وی یاځاه ته
غورځولو وی وروسته به توبه ګارسی اوټول بیا نیکان کیدی سی دایت دجملې: وَتَكُوْنُوْا مِنْ بَعْدِهٖ
وْمًا صٰلِحِيْنَ دامعنی هم بیان سوې ده اودامعنی هم کیدی سی چی دیوسف دقتل څخه وروسته ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

حالات صحیح سی څکه چی دپلار دتوجه دامرکز به ختم سی یا داچی دقتل څخه وروسته به پلار ته عذر اومعذرت وکړی نوتاسی به بیاهم هغسی سی.

دادلیل دی ددی خبری چی دحضرت یوسف علیه السلام دا ورونه انبیاء علیهم السلام نه وه څکه چی دوی په دی واقعه کی ډیر کبیره گناهونه وکړل یودبی گناه دقتل اراده دپلار نافرمانی ازار رسول دوعدی خلاف ورزی بیا ددروغو سازش وغیره دانبیاء علیهم السلام څخه دنبوت څخه مخکی هم دجمهورو دعقیدی مطابق داسی گناه نه سی کیدی.

په څلورم آیت کی دی چی په دی ورونو کی یوه داتولی خبری واوریدی وی ویل چی یوسف قتلوی مه که څه ورسره کول غواړی نودځاه په بیخ کی یی داسی ځای واچوی کوم ځای چی دی ژوندی وی اودلاری مسافران چی کله پردی څاه راسی نودی به راپورته کړی دځان سره به یی بوزی په داسی کولوبه ستاسی مقصدهم پوره سی اوتاسی به هم یوځای لیری ځای ته دتلو څخه خلاص سی یو قافله به راسی هغه په په خپله دی دځان سره یو ځای لیری مقام ته ورسوی.

دارایه ورکوونکی د دوی دتولو څخه مشر وو هغه دارایه ورکړه اودا هغه سړی دی چی ذکریی مخ ته راځی چی کله په مصرکی دحضرت یوسف علیه السلام کوچنی ورور بنیامین پاته سو نوده وویل چی زه به پلار ته په کوم مخ مخامخ کیږم په دی وجه زه بیرته کنعان ته نه څم.

په دی آیت کی یی لفظ د: غَيٰبَةِ الْجُبِّ فرمایلی دی غیابه هرهغه شی ته ویل کیږی کوم چی یوشی پټ کړی او غائب یی کړی په دی وجه قبر ته هم غیابه وایی او: جُب داسی څاه ته ویل کیږی دکوم چی سرنه وی جوړ سوی.

يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ: لفظ دالتقاط دلقطی څخه جوړدی لقطه هغه لویدلی شی ته ویل کیږی کوم چی بغیر دطلب څخه پیداسی که غیر جاندار شی وی نولقطه اوجاندار ته دفقهاوو په اصطلاح کی لقیط ویل کیږی انسان ته لقیط هغه وخت ویل کیږی کله چی دی کوچنی وی عاقل بالغ نه وی قرطبی ددی لفظ څخه دلیل نیولی دی چی څه وخت حضرت یوسف علیه السلام څاه ته غورځول سوی وو دغه وخت دی نابالغ هلك وو دارنگه دحضرت یعقوب علیه السلام دافرمایل هم دده دبچی والی طرف ته اشاره ده چی زمابیره ده چی دی به شرمښی وخوری څکه چی دشرمښی خورل دکوچنیانو په باره کی په تصور کی راځی دابن جریر ابن المنذر ابن ابی شیبه په روایت کی دی چی دغه وخت دحضرت یوسف علیه السلام عمر اووه ۷ کاله وو (مظهری)

امام قرطبی رحمه الله دلته دلقطه اولقیط دشرعی احکامو تفصیل ورکړی دی چی دلته دهغه گنجائش نسته البته ددی متعلق یوه اصولی خبره داپیژندل په کاردی چی په اسلامی نظام کی دعامو خلگو دځان اومال حفاظت دلارو اوسړکونوصفایی وغیره یی صرف دحکومت دمحکمو ذمه واری نه ده جوړه کړی بلکه پرهر سړی یی دذمه واری اچولی ده چی پر لارو اوپه سړکونوکی په دریدو یاخپل یو اسباب په کښی غورځول دتلونکو دپاره په تنگی پیداکولو باندی په حدیث کی سخته وعده دعذاب راغلی ده فرمایی: (کوم سړی چی دمسلمانانو لاره تنگوی دهغه جهاد مقبول نه دی دغه ډول که په لاره کی یو شی پروت وی چی نورو ته نژدی دتکلیف رسیدو خطره وی لکه غټی ډبری وغیره دایی دلاری څخه لیری کول صرف

Maktaba Tul Ishaat.com

دمیونسپل بورډ (ښاری سرکاری اداري) ذمه واری نه ده جوړه کړی بلکه هرمسلمان یی په ترغیبی انداز کی ددی ذمه وار جوړکړی دی اوددا سی کوونکو دپاره یی دلوی اجر اوثواب وعده کړي ده

په دی اصولوکی داهم دی چی که دچاورك سوی مال چاته په لاس ورسی نو دده شرعی ذمه واری صرف دومره نه ده چی پتوی به یی نه بلکه داهم دده ذمه واری ده چی په حفاظت سره یی پورته کړی اوسنبال یی کړی اواعلان وکی مالك یی تلاش کړی که مالك یی ووینی اونخښی وغیره یی وښیی اودا اطمینان وسی چی دا ما ل دده دی نوده ته دی ورکړی اوکه داعلان اوتلاش باوجود دمالك درك ونه لګیږی او دمال دحیثیت (ګرانوالی او ارزانوالی) مطابق دا اندازه ولګیږی چی اوس په مالك ددی تلاش نه کوی دغه وخت که دغه پیداکونکی په خپله غریب اومفلس وی نوپه خپل خرڅ کی دی راولی کنه نوپه مسکینانو دی صدقه کړی اوپه دی دواړو صورتونوکی به دا دمالك دطرف څخه صدقه ګڼل کیږی اوثواب به یی هغه ته ورکول کیږی ګویا په اسمانی بیت الماجل کی دهغه په نوم جمع سو .

دا دی دعام خدمت اودیوبل سره دامدادهغه اصول دکوموذمه واری چی په اسلامی معاشره کی په هر فردغورځول سوي ده کاشکی مسلمانان په خپل دین باندی پوه سی اوعمل یی باندی وکړی نو ددنیا سترګی به خلاصی سی چی دحکومت لویی لویی محکمی دکرورونو روپو په خرڅ سره کوم کار سرته نه سی رسولی هغه څومره په اسانی سره پوره کیدی سی .

په پنځم اوشپږم آیت کی دی چی دی ورونو دپلار په مخکی درخواست په دی لفظونوکی پیش کی چی پلاره داځه خبره ده چی ستا دیوسف ﷺ په باره کی په مونږ باور نسته حا ل دا دی چی مونږ دده پوره خیر خواهان اوهمدرد یو؟ صباته دی زمونږ سره (دسیل دپاره) ولیږه چی دی هم په ازادی سره خوراك چښاك اولوبی وکړی اومونږ تول به دده پوره حفاظت کوو .

دورونو ددی درخواست څخه معلومیږی چی دوی یووخت بل ددی څخه مخکی هم داسی درخواست کړی وو کوم چی پلار صاحب نه وو قبول کړی په دی وجه داوار یی په تاکید اواصرار سره پلار ته دمطمئن کولو کوشش کړی دی .

په دی آیت کی یی دحضرت یعقوب ﷺ څخه دسیل کولو اوپه ازادی سره دخوړلو چښلو اولوبو اجازه غوښتی ده حضرت یعقوب ﷺ دوی ته ددی څه منع نه ده فرمایلی صرف دحضرت یوسف ﷺ یی د دوی سره په لیږلوکی تردُد ښکاره کړی کوم چی به په راتلونکی آیت کی راسی ددی څخه معلومه سوه چی سیل صفا اولوبی منډی په جائزو حدونوکی دننه جائزی اومباح دی په صحیح احادیثو سره هم ددی جواز معلومیږی مګر داشرط دی چی په دی لوبو منډو کی دشرعی حدونو څخه تجاوز نه وی اودیوناجائز کار ګډون په کښی نه وی (قرطبی وغیره)

حضرت یوسف ﷺورونو چی کله پلار ته دادرخواست وکی چی یوسف ﷺ صبا زمونږ سره سیل ته لیږه نوحضرت یعقوب ﷺ وفرمایل چی دده لیږل په دوو وجهو سره نه خوښوم اول خوبغیردده څخه ناته خوب نه راځی دوهمه خطره داده چی په ځنګل کی یوځای داسی ونه بسی چی ستاسی دغفلت په وخت کی دی شرمنښ وخوری .

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت یعقوب ﷺ سره دشرمښانو بیره یاخوپه دی وجه وه چی په کنعان کی شرمښان ډیر زیات وه اویاپه دی وجه چی ده خوب لیدلی وو چی دی دیوغر پرسردی اوحضرت یوسف ﷺ ددی غره په لمن کی دی چی ناڅاپه لسو شرمښانو دی ګیرکی اوپرده یی حمله کوله مګر یوشرمښ دی خلاص کی اودی یی ازادکی بیا حضرت یوسف ﷺ په مخکه کی دننه پټ سو.

چی تعبیر یی وروسته داسی ښکاره سو چی لس شرمښان دا لس ورونه وه او کوم شرمښ چی دی دهلاکت څخه خلاص کړی وو هغه مشر ورور یهودا وو اوپه مخکه کی دننه تلل ځاه ته دده شکول وه.

دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه په یوروایت کی نقل دی چی حضرت یعقوب ﷺ ته ددی خوب پربنا باندی په خپله ددی ورونو څخه خطره وه دوی ته یی شرمښان ویلی وه مګر دمصلحت په وجه یی پوره خبره ښکاره نه کړی (قرطبی)

ورونو چی دحضرت یعقوب ﷺ دا خبره واوریده نووی ویل چی ستا دابیره اوخطره عجیبه ده مونږ لس تنه قوی جماعت دده دحفاظت دپاره موجود یو که زمونږ دټولو په موجودګی کی دی شرمښ وخوری نوبیا خوزمونږ وجود بی کاره سو اوزمونږ څخه به نور دڅه خبری امید وسی.

حضرت یعقوب ﷺ په خپل پیغمبرانه شان سره داولاد په مخکی داخبره ښکاره نه کړه چی زماخطره په خپله ستاسی څخه ده چی اول خوپه دی سره دټول اولاد زړونه ماتیدل دوهم دپلار دداسی وینا څخه وروسته دابیره وه چی دورونو دښمنی به نوره زیاته سی اوکه داوخت یی پریږدی هم خوبل یو وخت به یی په یو بهانه سره قتل کړی په دی وجه اجازه یی ورکړه مګر دورونو څخه یی مکمله وعده اولوظ واخستی چی ده ته هیڅ قسم تکلیف ونه رسیږی اوپر مشر ورور روبیل یایهودا باندی یی په خصوصیت سره دا وسپارله چی ته دده دلوړی تندی اوهرقسم ضرورتونو پوره خبر اخله اوډیر ژر یی بیرته راوله ورونو دپلار په مخکی حضرت یوسف ﷺ پرخپلو اوږو سپور کی اووار په وار به یی په اوږو کوی ترڅه لیری پوری حضرت یعقوب ﷺ هم د دوی سره درخصتولو دپاره راووتی.

قرطبی دتاریخی روایتونو په حواله سره بیان کړی دی چی داخلګ دحضرت یعقوب ﷺ دنظر څخه پناه سول نودغه وخت چی یوسف ﷺ دکوم ورور پراوږه وو هغه مخکی ته وغورځوی حضرت یوسف ﷺ پیاده روان سو مګر کوچنی وو د دوی سره دمنډو وهلو څخه عاجزه سو نودبل ورور خواته ورنژدی سو هغه هم څه همدردی ورسره ونه کړه نو دغه ډول دریم څلورم اوهر یوه ورور ته یی دامداد دپاره وویل مګر ټولو داجواب ورکی چی تاکوم یولس ستوری اولمر سپوږمی ځان ته پرسجده لیدلی وه هغوی ته اواز وکړه چی ستا مدد وکړی.

قرطبی رحمه‌الله په دی وجه فرمایی چی ددی څخه معلومه سوه چی ورونوته په یوډول سره دحضرت یوسف ﷺ خوب معلوم سوی وو دغه خوب د دوی دزیاتی غصی او غضب سبب جوړ سو.

په اخرکی حضرت یوسف ﷺ یهوداته وویل چی ته مشر یی ته زماپه کمزوری اوکوچنی والی اودخپل پلار په ضعیف حال رحم وکړه اوهغه وعدی اولوظونه یادکړه کوم چی پلار ستا څخه اخستی دی تاڅومره ژر هغه وعدی اولوظونه هیرکړل چی دایی واوریدل نود یهودا رحم باندی راغی اوده ته یی

Maktaba Tul Ishaat.com

وویل چی ترڅو پوری زه ژوندی یم داورونه به تاته هیڅ تکلیف ونه رسوی.
دیهودا په زړه کی الله ﷻ رحم او دصحیح عمل توفیق واچوی نوخپلو نورو ورونو ته یی وویل چی دبی گناه قتل ډیر لوی انتهایی جرم دی دخدای ځخه وبیریږی اودابچی خپل پلار ته ورسوی البته دده ځخه داوعده واخلی چی دی به پلار ته ستاسی یو شکایت نه کوی ورونو جواب ورکی چی مونږ پوهیږو چی ستا یو مطلب دی؟ ته داغواړی چی دپلار په زړه کی خپله مرتبه دتولو ځخه زیاته کړی په دی وجه واوره که تازمونږ په اراده کی مزاحمت وکی نومونږ به تاهم قتل کړو یهودا ولیدل چی دنهو ورونو په مقابله کی دی یوازی هیڅ نه سی کولی نووی ویل چی ښه دی که تاسی دافیصله کړی وی چی دابچی ضائع کول غواړی نوزما خبره واوری چی دلته نژدی یوزوړ څاه دی چی ډیر غښی جالی په کښی سوی دی ماران لړمان اوقسم قسم موذی حیوانان په کښی اوسیږی تاسی دی دی څاه ته واچوی که په دی کی مار وغیره وچیچی اوختم یی کی نوستاسی مراد به حاصل سی اوتاسی به په خپلو لاسونو دده دوینو بیولو ځخه ازاد سی اوکه دی ژوندی پاته سو نویوه قافله شاید چی دی طرف ته راسی اوڅاه ته داوبو دپاره بوځه وروا چوی اودی په کښی راووزی نوهغه به یی دخپل ځان سره یوبل ملك ته ورسوی په دی صورت کی به ستاسی مقصد حاصل سی ز
په دی خبره دتولو ورونو اتفاق راغی چی بیان یی دذکرسوو ایتونو ځخه په دریم آیت کی داسی راغلی دی: فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَنْ يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَةِ الْجُبِّ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِأَمْرِهِمْ هَذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ: یعنی کله چی دی ورونو حضرت یوسف ﷺ ځنگل ته بوتلی اوپه دی تول متفق سول چی دی څاه ته واچوی نوالله ﷻ حضرت یوسف ﷺ ته په ذریعه دوحی سره خبر ورکی چی یوه ورځ به داسی راسی چی ته به خپلو ورونو ته د دوی داکارونه ورویاد کړی او دوی ته به هیڅ نه وی معلوم.
دلته لفظ د: وَأَوْحَيْنَا د: فَلَمَّا ذَهَبُوا جزاء اوجواب دی حرف د: واو دلته زیات دی (قرطبی) مطلب دا دی چی ورونو په جمع څاه ته دغورځولو قصد وکی نوالله ﷻ حضرت یوسف ﷺ ته دتسلی دپاره وحی راولیږله چی په دی کی په راتلونکی زمانه کی دورونو سره دملاقات اوددی خوشخبری ورکول سوي ده چی دغه وخت به ته ددی ورونو ځخه بی حاجته اوپردوی باندی زور آوریی په دی وجه به د دوی په دی ظلم اوزیاتی سره د دوی ځخه مؤاخذه وکړی اودوی به ددی تولی معاملی ځخه بی خبره وی.
امام قرطبی رحمه الله فرمایی چی ددی دوه صورتونه کیدی سی یوه داچی داوحی ده ته څاه ته دغورځولو ځخه وروسته دده دتسلی اوددی ځای ځخه دخلاصی دخوشخبری ورکولو دپاره راغلی وی دوهمه داچی څاه ته دغورځولو ځخه مخکی الله ﷻ حضرت یوسف ﷺ ته دراتلونکو حالاتو اوواقعاتو په ذریعه دوحی خبر ورکی چی په دی کی یی ورته داهم وښوولی چی ته به ددی هلاکت ځخه سلامت پاته سی اوداسی حالات به درته مخ ته راسی چی تاته به ددی ورونو دملامته کولو موقع درکول سی په داسی حال کی چی دوی به تا پیژنی هم نه چی ته د دوی ورور یوسف یی.
دا وحی کومه چی پرحضرت یوسف ﷺ دکوچنیوالی په زمانه کی نازله سوه په تفسیر مظهری کی دی چی داوحی دنبوت نه وه ځکه چی دنبوت وحی دځلویښتو کالو په عمر کی ورکول کیږی بلکه داوحی

Maktaba Tul Ishaat.com

داسی وه لکه چی دحضرت موسیٰ ﷺ مور ته په ذریعه دوحی اطلاع ورکول سوه په حضرت یوسف ﷺ باندی دنبوت دوحی سلسله مصر ته درسیدو اوځوانیدو ځخه وروسته شروع سوه لکه چی ارشاددی: وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا اوابن جریر اوابن ابی حاتم وغیره داپه استثنایی طور سره دنبوت وحی ګرځولی ده لکه چی حضرت عیسیٰ ﷺ ته په کوچنی والی کی نبوت ورکول سو. (مظهری)

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی مصرته درسیدو ځخه وروسته الله ﷻ حضرت یوسف ﷺ په ذریعه دوحی ددی خبری ځخه منع کړی وو ،چی دی دی خپل حال خپل کور ته ولیږی (قرطبی)

دا وجه وه چی دحضرت یوسف ﷺ په شان دخدای پیغمبر دجیل ځخه دخلاصون او دمصردحکومت دحاصلیدو ځخه وروسته هم یو داسی صورت جوړ نه کی چی دهغه په ذریعه یی خپل ضعیف پلار ته دخپلی سلامتیا خبر ورکړی وای او هغه یی مطمئن کړی وای.

دالله ﷻ په حکمتونو باندی څوك پوهیږی کوم چی په دی طرزکی پټ وو شاید داهم منظوره وی چی حضرت یعقوب ﷺ دغیرالله سره ددومره محبت په ناخوښه کیدوباندی خبردار کړی اوداچی دورونو دحا جتمنده کیدواودحضرت یوسف ﷺ په مخکی په پیش کیدو سره یو سزا دوی لره هم ورکول مقصود وی امام قرطبی رحمه الله وغیره تفسیر لیکونکو دلته دحضرت یوسف ﷺ څاه ته دغورځولو واقعه دابیان کړیده چی کله یی دی څاه ته غورځوی ، نودی دځاه په غاړه پوری ومنښتی ورونو قمیص ورځخه وایستی اوپه دی یی لاس اوپښی وروترلی دغه وخت بیا حضرت یوسف ﷺ ورونوته درحم درخواست وکی مګر هغه جواب ورکول سو چی کومو یولسو ستورو تاته سجده کوله هغه راوبوله چی ستا مدد وکړی بیا یی په یوه بوقه کی کښی ښووی او څاه ته یی ورکښته کی چی نیمایی ته ورسیدی نورسی یی بندی پریکړه الله ﷻ دخپل یوسف حفاظت وفرمایی په اوبوکی دلویدو په وجه دی هیڅ خوږ نه سو اونړدی یوه ډبره ورته رابنکاره سوه صحیح سلامت پرهغه کښی نستی په ځینی روایتوکی دی چی جبرائیل ﷺ ته حکم وسو هغه په ډبره کښینوی.

حضرت یوسف ﷺ دری ورځی په دی څاه کی وو دده ورور یهودا به دنورو ورونو په پټه روزانه دده دپاره خوراك اواوبه راوړی اودبوقی په ذریعه به یی ده ته رسولی.

وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ : یعنی دماخستن په وخت کی داورونه په ژړا خپل پلار ته راغلل حضرت یعقوب ﷺ چی د دوی دژړا اواز واوریدی دباندی راووتی اوپوښتنه یی ورځخه وکړه چی څه پیښه ده؟ آیا ستاسی دبزی پرګله باندی چاحمله کړې ده ؟ اویوسف څه سو نورو ورونو وویل.

يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ.

یعنی مونږ دیوبل سره منډی وهلی اویوسف ﷺ مونږ دخپل اسباب سره پریښووی په دی مینځ کی یوسف شرمښ وخوړی اوکه مونږ هرځومره رښتنی یو خو ستابه په مونږ یقین رانه سی.

ابن عربی په احکام القرآن کی فرمایی چی دیوبل سره منده وهل په شریعت کی جائز اوښه خصلت دی کوم چی په جنګ اوجهاد کی په کار راځی په دی وجه دنبی کریم ﷺ مسابقت یعنی منده وهل په نفس نفیس په صحیح احادیثو سره ثابت دی اوداسونو منده (یعنی دیوبل ځخه مخکی کیدل) هم ثابت دی په

Maktaba Tul Ishaat.com

صحابه کرامو کی سلمه بن اکوع دیوسړی سره په منډه کی مسابقت وکی نوسلمه (رض) غالب راغی.
دذکرسوی آیت اوددی روایتونوځخه داصل اسونودزغل جائزوالی ثابت دی اوداسونو دزغل ځخه علاوه
په منډه کی په تیر اندازی نشانه وغیره کی هم دیوبل سره مقابله او مسابقت جائز دی اوپه دی مسابقت
کی غالب راتلونکی فریق ته دیو دریم طرف ځخه انعام ورکول هم جائز دی لیکن په خپل مینځ کی په
ګټلو اوبایللو شرط لګول جواری او قمار بازی ده کومه چی قرآن کریم حرامه کړیده نن صبا چی ځومره
صورتونه دآس ځغلولو رائج دی دغه یوهم دجواری ځخه خالی نه دی په دی وجه ټول حرام اوناجائز دی.
په تیرو ایتونوکی ذکردی چی دحضرت یوسف ﷺ ورونو دیوبل سره دخبرو اترو ځخه وروسته اخردی
په یوغیر اباد ځاه کی وغورزوی اوراغلل پلار ته یی داوښوولە چی یوسف شرمنې وخوړی په ذکرسوو
ایتونو کی مخ ته قصه داسی ذکرسوي ده: وَجَاءُوا عَلَى قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ یعنی دحضرت یوسف ﷺ
ورونو دیوسف پرقمیص ددروغو وینه لګولی راوړی وه چی پلار ته دشرمنې دخوړلو یقین ورکړی.
مګر الله ﷻ د دوی ددروغو ښکاره کولو دپاره دوی ددی ځخه غافله کړل چی په قمیص یی دوینی لړلو
سره ځیری کړی هم وای چی دشرمنې خوړل ورځخه ثابت سوی وای دوی روغ جوړ قمیص دبزی دبچی په
وینه ولړی اوپلاریی په دوکه کی اچول غوښتل حضرت یعقوب ﷺ چی قمیص صحیح سالم ولیدی نو
ویی فرمایل چی زمازامنو! داشرمنې ځومره پوهه اوهوښیارو و چی یوسف یی داسی وخوړی چی قمیص
یی یوځای هم ځیری نه کړی.

دغسی پرحضرت یعقوب ﷺ د دوی دجعل سازی (دروغو) راز ظاهر سو اوویی فرمایل: قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ
أَنفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ: یعنی حضرت یوسف ﷺ شرمنې نه دی خوړلی بلکه
ستاسی نفسونو یوه خبره جوړه کړی ده اوس زما دپاره غوره داده چی صبر وکړم اوځه چی تاسو وایاست
پردی دالله ﷻ ځخه مدد وغواړم.

مسئله: حضرت یعقوب ﷺ دقمیص دروغوالی ځخه دورونو دیوسف ﷺ دروغ والی معلوم کی ددی
ځخه معلومه سوه چی قاضی یاحاکم ته دفریقینو ددعوو اودلیلونو سره پرحالاتو اوقرائنو باندی هم نظر
کول په کار دی (قرطبی)

ماوردی فرمایی چی دحضرت یوسف ﷺ قمیص هم دزمانی دعجائباتو ځخه دی دری عظیم الشانه
واقعی ددی قمیص سره تړلی دی اوله واقعه په وینو ککړولو اوپلار ته ددوکی ورکولو اودقمیص
دشهادت ځخه ددروغو ثابتیدوده دویمه واقعه: دزلیخا چی په دی کی هم دحضرت یوسف ﷺ قمیص
په شهادت کی پیش سوی دریمه واقعه دحضرت یعقوب ﷺ دنظر دواپس راتلو په دی کی هم ددې
قمیص یوه معجزه ظاهرونکی ثابت سوی دی.

مسئله: ځینی عالمان فرمایی چی حضرت یعقوب ﷺ کومه خبره خپلو زامنوته دغه وخت کړی وه چی:
قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا: یعنی ستاسو نفسونو یوه خبره جوړه کړی ده داخبره یی هغه وخت هم کړی وه
کله چی دحضرت یوسف ﷺ حقیقی ورور بنیامین په مصر کی دغلا په الزام کی ونیول سو اوورونو یی
حضرت یعقوب ﷺ ددی خبری ځخه خبرکی نوویی فرمایل: قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا: دلته دغورکولو

Maktaba Tul Ishaat.com

مقام دی چی حضرت یعقوب ﷺ دا دواړه خبری په خپلی رایی سره کړی وی په دی کی اوله خبره صحیح وختله دویمه صحیح نه وه ځکه چی په دی کی دورونو قصورنه وو ددی څخه معلومه سوه چی درایی غلطی دپیغمبرانوځخه هم په اول کی کیدی سی که څه هم وروسته دوی په وحی سره په غلطی قائم نه پاته کوی دا رنګه په قرطبی کی دی چی ددی څخه ثابته سوه چی درایی غلطی ترلوی لا دلوی څخه هم کیدی سی په دی وجه هرصاحب رایی ته په کاردی چی پرخپله رایه دی داسی نه کلکیږی چی دنورو خبری اوریدو یامنلو ته تیارنه وی .

وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَى دَلْوَهُ د: سَيَّارَةٌ معنی قافله ده د وَارِدٌ څخه مراد هغه خلق دی کوم چی دقافلی څخه وړاندی وی دقافلی ضرورتونه اوبه وغیره تیاړول د دوی کاروی د: اَدلَاء، معنی ده څاه ته بوقه اچول مطلب دا دی چی اتفاقا یوه قافله دی مځکی ته راغله داقافله دشام څخه مصر ته تله چی لار ورځخه هیره سوه اودی غیراباد ځنګل ته راغله او داوبو راورونکی یی څاه ته ولیږل .

دخلقو په نظرکی دا اتفاقی واقعه وه چی شامی قافلی لارهیره کړه دلته راغله او ددی غیر ابادځاه سره یی مخامخ کیدل راغلل لیکن دکائناتو په راز پوهیدونکی پوهیږی چی داټول واقعات یوټرل سوی اومحکم نظام په یوبل پوری پیوست کړی دی دحضرت یوسف ﷺ پیدا کوونکی اوحفاظت کوونکی قافله دلاری څخه بی لاری کوی دلته یی راولی اودقافلی سړی دی غیر ابادځاه ته لیږی دا حال دی ددی ټولو حالاتو او واقعاتو کومی چی عام انسان اتفاقی حادثی ګڼی اوفلسفیان ورته نصیبه اواتفاق وایی کوم چی په حقیقت کی دکائناتو دنظام څخه پرناواقفیت مبنی وی کنه نوپه تکوینی سلسله کی نصیبه اواتفاق نسته حق سبحانه ﷻ دچاشان چی : فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ دی ترڅوحکمتونو لاندی داسی حالات پیدا کوی چی دظاهری واقعی سره ددی مناسبت په خیال کی هم نه راځی نو انسان ورته اتفاق حادثی وایی .

په هرحال د دوی سړی چی نوم یی مالك بن دعبر بنودل کیږی دی څاه ته ورسیدی اوبوقه یی وروا چوله حضرت یوسف ﷺ دقدرت دا امداد ولیدی دبوقی رسی یی ونیوله اود اوبوپرځای دبوقی سره دیوی داسی هستی مخ وځلیدی چی دراتلونکی لویی اوشان څخه قطع نظر په موجوده حالت کی هم دخپل حسن او جما ل او معنوی کمالاتو ځلیدونکی نخښی دده دعظمت دپاره څه کمی نه وی په یوعجیبه اندازکی دځاه دبیخ څخه راختلی داوړوکی اوښائسته بچی چی یی ولیدی نوچیغه یی کړه : يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلَامٌ ای ډیره دخوشحالی خبره ده داخوډیر ښکلی هلك راووتی په صحیح مسلم کی دشب معراج په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی زه دحضرت یوسف ﷺ سره ملاو سوم نو ومی لیدل چی الله ﷻ دټول عالم دحسن اوجمال څخه نیم ده ته ورکړی دی او باقی نیم په ټول جهان تقسیم سوی دی .

وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ك یعنی پټ یی کړی دی دتجارت مال ګڼلی مطلب دا دی چی په اول کی خو مالك بن دعبر چی داهلك ولیدی نوپه تعجب سره یی چیغه کړه مګر بیایی پرمعامله غور وکی اودایی وګڼله چی دده شهرت ونه سی پټ ساتل یی په کاردی چی دی خرڅ کړو او پوره رقم په پیداسی که په ټوله قافله کی دده شهرت وسی نوبیا خوبه ټوله قافله په کښی شریکه سی .

اودا معنی هم کیدی سی چی دحضرت یوسف ﷺ ورونو دواقعی حقیقت پټ کړو دده څخه یی دتجارت

Maktaba Tul Ishaat.com

مال جوړکړی لکه چې په ځینو روایتونوکی دی چې یهودا به روزانه څاه ته تلی اوحضرت یوسف ﷺ ته
به یی خوراك رسوی په دریمه ورځ چې یی کله دی په څاه کی نه کړی پیدا نوواپس راغی ورونوته یی
واقعه بیان کړه داتول ورونه په جمع هلته ولاړل چې تحقیق یی وکی نودقافلی والاوو سره یی حضرت
یوسف ﷺ پیداکی نودوی ته یی وویل چې داهلك زمونږ غلام دی تښتیدلی دی اودلته راغلی دی تاسو
ډیر بدوکړل چې دی مودځان سره وساتی مالك بن دعبر اودده ملګری وبیریدل چې داخوبه اوس مونږ غله
ګڼل سو په دی وجه دورونو سره یی په بیعه داخستو خبری اتری شروع سوی.

و دایت دا معنی سوه چې دیوسف ورونو په خپله یوسف دتجارت مال جوړ کی اوخرڅ یی کی: وَاللّٰهُ
عَلِيْمٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ: یعنی الله ﷻ ته د دوی تول کارونه معلوم وه.

مطلب دا دی چې الله ﷻ ته تول هرڅه معلوم وه چې دحضرت یوسف ﷺ ورونه به څه کوی؟ او د دوی
څخه اخستونکی قافله به څه کوی اوهغه پردی پوره قدرت درلودی چې د دوی تول پلانونه یی په خاورو
کی ګډ کړی وای لیکن ترتکوینی حکمتونو لاندی یی داهرڅه کولوته پرېښول.

بن کثیر فرمایی چې په دی جمله کی دنبی کریم ﷺ دپاره هم داهدایت دی چې ستا قوم ستا سره چې څه
کوی یابه وکړی داتول زما دعلم اوقدرت څخه بهر نه دی که مونږ وغواړو نوپه یوه آن کی به هرڅه بدل
کړو لیکن دحکمت تقاضا داده چې دی خلقوته دا وخت مهلت ورکړی چې دوی خپل قوت ازمایی وکړی
واخریه تاپه دوی غالب کړی اوحق به غالب کړل سی لکه چې دحضرت یوسف ﷺ سره وسوه.

وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ: لفظ دشرا په عربی ژبه کی داخستلو اوخرڅولو دواړو دپاره
ستعمالیږی دلته هم ددواړو معانیو احتمال دی ضمیر که دیوسف دورونو طرف ته عائدکړل سی نو
خرڅولو معنی به یی وی اوکه دقافلی طرف ته عائدکړل سی نو داخستلو معنی به یی وی مطلب دا دی
چې خرڅ کړی ورونو دیوسف ﷺ یا واخستی قافلی والاوو یوسف ﷺ په ډیر لږ قیمت یعنی دشمیر په
څو درهمونو باندی قرطبی فرمایی چې دعربو دتاجرانو داعادت وو چې دلویو رقمونو معاملی به یی په
وزن سره کولی اودکوچنیو رقمونو چې دځلوینتو څخه به زیاتی نه وی ددی معاملی به یی په شمیر سره
کولی په دی وجه ددراهمو سره دمعدوده لفظ داوښوولو چې ددراهمو مقدار دځلوینتو څخه کم وو ابن
کثیر په روایت دعبدالله بن مسعود ﷺ لیکلی دی چې دشلو درهمو په بدله کی سودا وسوه اولسو ورونو
وه دوه درهمه په خپل مینځ کی تقسیم کړل ددرهمو په شمیر کی ددوه ویشتو ۲۲ اوځلور ویشتو ۲۴
رهموهم مختلف روایتونه نقل دی (ابن کثیر)

كَانُوا فِيْهِ مِنَ الزَّاهِدِيْنَ زاهدین: دزاهد جمع ده چې دزهد څخه مشتق دی دزهد لفظی معنی بی رغبتی اوبی
رجهی راځی په محاوروکی ددنیا دمال اودولت څخه بی رغبتی او اعراض ته ویل کیږی معنی دایت
اده چې ورونه دحضرت یوسف ﷺ په دی معامله کی په اصل کی دمال خواهشمندنه وه د دوی اصل
قصد خو حضرت یوسف ﷺ دپلارڅخه جدا کول وو په دی وجه یی په لږو درهمو معامله وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِنْ مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ

او وویل هغه سړی چې واخستی یې دی دمصر څخه خپلې ښځې ته په عزت سره ساته دی شاید ،

أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ

چې زمونږ په کار راسی یا به کړو دی مونږ زوی ، او دغه شان ځای ورکړی مونږ یوسف ﷺ لره په مخکه کی

وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ

اوچې وښیو ده ته تعبیر دخبرو اوالله ﷻ غالب دی په خپل کارکی ،

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا

لیکن اکثره خلک نه پوهیږی ، اوکله چې ورسیدی خپل قوت ته ورکی مونږده ته حکم ،

وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٢﴾ وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي

او علم ، او داسی بدله ورکوو مونږ نیکانو ته ، او خطا ایستی دی هغی ښځی دچاپه

بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ

کور کی چې وو خپل خان ته اوبندی یې کړی دروازی او وی ویل ژر کوه ، وی ویل

مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٣﴾

پناه په خدای سره دغه عزیزمالك دی زمانبه ساتی مابیشکه نه خلاصیږی کوم خلق چې بی انصافه وی

لنډتفسیر: (قافلی والاوو حضرت یوسف ﷺ دورونو څخه واخستی مصر ته یی بوتلی اوهلته یی دعزیز مصر په لاس خرڅ کی) اوکوم سړی چې په مصر کی دی اخستی وو (یعنی عزیز) هغه (دی کورته راوستی خپلی ښځی ته یی وسپاری او) خپلی ښځی ته یی وویل چې دی په خاطرسره ساته څه عجیبه ده چې (لوی سی) زمونږ په کارراسی یامونږ دی زوی جوړکړو (مشهوره داده چې دایی څکه وویل چې دده اولاد نه وو) اومونږ (لکه څنګه چې حضرت یوسف ﷺ ته په خپل خاص عنایت سره ددی تیاره څاه څخه نجات ورکی، دغه ډول مویوسف ته په دی مخکه (دمصر) کی ښه قوت ورکی (مراد ددی څخه حکومت دی) او (دانجات ورکول په دی غرض سره هم وو) چې مونږ ده ته دخوبونو تعبیر وښیو (مطلب داووچې دنجات ورکولومقصد دده دښکاره اوباطنی دولت څخه مالامال کول وو) اوالله ﷻ په خپل (درضا پر) کار غالب (اوقادر) دی (څه چې غواړی کوی) لیکن اکثره خلک نه پوهیږی (څکه چې دیقین اوایمان خاوندان کم دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دامضمون دقصی په مینځ کی په طور دجملی معترضی ځکه راوړل سوی دی چی دحضرت یوسف ﷺ موجوده حالت یعنی غلام پاته کیدل په ښکاره یوښه حالت نه وو مګر الله ﷻ فرمایی چی داحالت یوځو ورځی په طور دذریعه دی اصل مقصد ده ته لوړ مقام ورکول دی اوددی ذریعه یی عزیز دمصر اوده په کورکی پرورش پیداکول ګرځولی دی ځکه چی دامیرانو په کورکی په پرورش پیداکولو سره سلیقه اوتجربه زیاتیږی دسلطنت دکارونو علم باندی راځی ددی باقی مخ ته دا دی چی) اوکله چی هغه خپلی ځوانی (یعنی سن دبلوغ) ته ورسیدی مونږده ته حکمت اوعلم ورکی (مراد ددی ځخه دنبوت علم ورکول دی اودځاه غورځولو په وخت کی چی دوی ته دکمی وحی لیږلو ذکرراغلی دی هغه دنبوت وحی نه وه بلکه داسی وحی وه لکه دحضرت موسیٰ ﷺ مورته چی وحی لیږل سوی وه) اومونږ نیکو خلګوته دغه ډول بدله ورکوو (کومه قصه چی په حضرت یوسف ﷺ دتهمت لګولو مخ ته بیانیږی ددی ځخه مخکی په دی جملو کی ښودل سوي ده چی دغه به سراسر تهمت او دروغ وی ځکه چی چاته دالله ﷻ دطرف ځخه علم اوحکمت ورکول سوی وی دهغه ځخه داسی کار دسره نه سی صادریدی ددی تهمت دقصی بیان دی چی حضرت یوسف ﷺ دعزیز مصر په کورکی په ارام اوراحت سره اوسیدی) او (په دی مینځ کی دا ازمائش پیښ سو چی) دکمی ښځی په کور کی چی یوسف ﷺ اوسیدی هغه (پرده عاشقه سوه او) ددې ځخه دخپل مطلب حاصلولودپاره ددې خطا ایسونکی سوه او (دکور) ټولی دروازی یی بندی کړی او (دې ته) یی وویل راسه تاته وایم یوسف ﷺ وویل (چی اول خودا ډیره لویه ګناه ده) دالله ځخه پناه غواړم (دوهم) هغه (یعنی ستا خاوند) زماپالونکی (اومحسن) دی چی زه یی ځنګه په ښه شان وساتلم (نوایازه به ددې په ناموس کی خلل اندازی کوم؟) داسی احسان فراموش به هیڅکله فلاح نه کی پیدا (بلکه اکثره خوپه دنیا کی ذلیل او پریشانه وی کنه نوپه اخرت کی خویی عذاب یقینی دی)

معلومات اومسائل: په دی تیرو ایتونو کی دحضرت یوسف ﷺ اولنی سرګذشت بیان سوی دی چی دقافلی خلګو کله دی دځاه ځخه راوایستی نو ورونو دی خپل تښتیدلی غلام ښکاره کی په لږو ځه درهمونو یی دده سودا وکړه اوړ خوپه دی وجه چی دوی ته ددی بزرګی هستۍ قدر معلوم نه وو دوهم په دی وجه چی د دوی اصل مقصد په ده پیسی ګټل نه وو بلکه دپلار ځخه لیری کول وو په دی وجه صرف په خرڅولو یی صبر ونه کی ځکه چی دابیره وه چی هسی نه قافلی والا دی دلته پاته کړی اودی بیا په یو ډول سره پلار ته ورسیږی اوزمونږ دسازش راز ښکاره سی نوپه دی وجه دتفسیر امام دمجاهد درواېت مطابق داخلګ په دی انتظار کی وه چی داقافله دی دځان سره مصر ته روان کړی اوکله چی قافله روانه سوه نوتر لیری پوری دقافلی سره دوی ولاړل اودی خلګو ته یی وویل چی ګوری خبردار! دی په تښتیدو عادت سوی دی خلاص یی مه پریږدی بلکه ترلی یی ساتی ددی شاهانه ملغلری دقدر اوقیمت ځخه ناخبری قافلی والاوو دی دغه ډول مصر ته ورسوی (ابن کثیر)

په ذکرسوواېتونوکی ددی ځخه وروسته قصه داسی ذکرده اودقرآنی ایجازسره دقصی ځومره اجزاء چی خود بخوده معلومیدی سی دهغه دبیانولوضرورت یی ونه ګنی مثلاً دقافلی دمختلفو منزلونو ځخه تیریدل مصرته رسیدل اوهلته بیاحضرت یوسف ﷺ خرڅول وغیره ټولی خبری یی پاته کړی اوددی ځای ځخه بیان کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِنْ مِصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ : یعنی وویل هغه سړی چاچی حضرت یوسف ﷺ په مصرکی واخستی خپلی ښځی ته چی دحضرت یوسف ﷺ داوسیدو ښه انتظام کوه مطلب دا دی چی دقافلی خلګو دی مصر ته بوتلی اودخرڅولو اعلان یی وکی نوپه تفسیر قرطبی کی دی چی خلګو قیمتونه زیاتول شروع کړل تردی چی دحضرت یوسف ﷺ د وزن برابر سره او دده برابر مشك او دده برابر وزن ریښمی کپړی قیمت یی مقرر سو .

دا دولت الله ﷻ دعزیز مصر په قسمت کی مقرر کړی وو هغه داتول شیان په قیمت کی ادا کړل حضرت یوسف ﷺ یی واخستی ، لکه چی اول دقرآنی ارشاد څخه معلومه سوي ده چی داتول یو اتفاقی واقعه نه ده بلکه درب العزت دجوړسوی مستحکم تدبیر اجزاء دی په مصرکی دحضرت یوسف ﷺ داخستلو دپاره یی دتولوڅخه عزتمند سړی مقدرکی ابن کثیر فرمایی چی داسړی چاچی په مصرکی حضرت یوسف ﷺ واخستی دغه دمصر دملك وزیر خزانه وو چی نوم یی قطفیر یا اطفیر ښوول کیږی اودمصر بادشاه په دی زمانه کی دعمالقه قوم یوسړی ریان بن اسید وو (کوم چی وروسته دحضرت یوسف ﷺ په لاس مسلمان سو اودحضرت یوسف ﷺ په ژوند کی یی انتقال وکی) (مظهری) اوعزیز دمصر چاچی اخستی وو دده دښځی نوم راعیل یازلیخا ښوول کیږی عزیز دمصر قطفیر دحضرت یوسف ﷺ متعلق خپلی ښځی ته داهدایت وکی چی ده ته ښه ځای ورکړه دعامو غلامانو په شان یی مه ساته دده دضرورتونو ښه انتظام کوه .

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایی چی په دنیا کی دری سړی لوی عقلمند اوقیافه پیژندونکی ثابت سول اول عزیز دمصر چی دده کمالات یی په خپله قیافه سره معلوم کړل ښځی ته یی داسی هدایت وکی دوهم دحضرت شعیب ﷺ هغه لور کومی چی دحضرت موسیٰ ﷺ په باره کی خپل پلار ته وویل: يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ : یعنی پلاره دی نوکر کړه ځکه چی ښه په نوکرانو کی هغه سړی دی کوم چی قوی هم وی اوامانتدار هم دریم حضرت صدیق اکبر ﷺ دی چاچی دځان څخه وروسته فاروق اعظم ﷺ دخلافت دپاره منتخب وفرمایی (ابن کثیر)

وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ : یعنی دغه ډول حکومت ورکی مونږ یوسف ﷺ په مځکه کی په دی کی دراتلونکی واقعی دا خوشخبری ده چی یوسف ﷺ کوم چی دعزیز مصر په کور کی داوخت په حیثیت د غلام داخل سوی دی ډیر ژربه دی دمصردملك ډیریولوی سړی وی اودحکومت اختیاربه ده ته ورکول سی وَلِنُعَلِّمَهُ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ دلته په شروع کی حرف دواو که دعطف دپاره ومنل سی نوبیوه جمله به ددی معنی محذوفه وګڼل سی چی مونږ حضرت یوسف ﷺ ته دمځکی حکومت څکه ورکی چی دی په دنیا کی دعدل اوانصاف په ذریعه امن اوامان قائم کړی اودملك داوسیدونکو دراحت انتظام وکړی اوپه دی وجه چی مونږده ته دخبروتعبیرونښیو دخبرو تعبیر یوداسی عام مطلب دی چی په دی کی دالله ﷻ په وحی پوهیدل اوداپه کار راوستل هم داخل دی اود تولو ضروری علمونو حاصلول هم اودخوبونو صحیح تعبیر هم .

وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ: یعنی الله ﷻ غالب اوقادردی پرخپل کار څه چی دهغه اراده وی دتول عالم ظاهری اسباب دهغه مطابق چلیږی لکه په یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی کله الله ﷻ دیو کار اراده

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمایی نو ددنیا تول اسباب دهغه دپاره تیار کړی.

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ : لیکن اکثره خلګ په دی حقیقت نه پوهیږی اوښکاره اسباب هرڅه ګڼی دهغوی په فکرکی اخته وی دمسبب الاسباب او قادر مطلق طرف ته ګرسره خیال نه کوی.

لَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا : یعنی کله چی ورسیدی یوسف ﷺ خپل پوره قوت او ځوانی ته نو ورکی ونږ ده ته حکمت اوعلم.

ا قوت اوځوانی په کم عمرکی حاصله سوه په دی کی دتفسیر لیکونکو مختلفی خبری دی حضرت ابن باس ؓ مجاهد اوقتاده فرمایی چی درو دیرش کاله عمر وو ضحاك شل کاله اوحضرت حسن بصری ؒلویښت کاله ښوولی دی پردی دتولو اتفاق دی چی دحکمت اوعلم ورکولو ځخه مراد دلته ورکول نبوت دی ددی ځخه معلومه سوه چی حضرت یوسف ﷺ ته نبوت مصر ته درسیدو ځخه وروسته هم وره موده وروسته ورکول سوی دی اودځاه په بیخ کی چی کومه وحی ده ته لیږل سوی وه دغه وحی نبوت نه وه بلکه لغوی وحی وه کومه چی غیر انبیاء ته هم لیږل کیږی لکه دحضرت موسیٰ ﷺ دمور وحضرت مریم ﷺ په باره کی چی وارده ده

كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ: اومونږ دغه ډول بدله ورکوو نیك کارکوونکو ته مطلب دا دی چی دهلاکت ځخه نجات ورکول حکومت اوعزت ته رسول دحضرت یوسف ﷺ دنیك چلنی خداترسی اونیکو عملونو نتیجه وه داپه ده پوری خاص نه ده ځوك چی هم داسی عمل کوی زمونږ انعامات به دغه ډول پیدا کی.

وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ یعنی دکومی ښځی په کور کی چی حضرت یوسف ﷺ اوسیدی هغه پرده عاشقه سوه اودده ځخه دخپل مطلب دحاصلولو دپاره ده ته په خطا یستلو سوه اودکور تولی دروازی یی بندی کړی او ده ته یی وویل چی ژر راسه تاته وایم.

په اول آیت کی معلومه سوې ده چی دانښځه دعزیز مصر ښځه وه مګر دلته قرآن دعزیز مصر دښځی لفظ پریښووی اود: اَلَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا الفاظ یی اختیار کړل په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی دحضرت یوسف ﷺ دګناه ځخه دخلاصیدو په مشکلاتو کی دی خبری نوره هم اضافه کړی وه چی دی ددغه ښځی په کور کی ددی په پناه کی اوسیدی ددی خبره نه منل اسان کار نه وو.

(دګناه ځخه دخلاصیدو قوی ذریعه په خپله دالله ﷻ ځخه پناه غوښتل دی)

وددی ظاهری سبب داسو چی حضرت یوسف ﷺ کله چی خپل ځان دهرطرف ځخه ګیر ولیدی نوپه پیغمبرانه انداز یی دتولو ځخه اول دخدای پناه وغوښتله: قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ محض په خپل قصد اواراده یی نکیه ونه کړه اودانښکاره ده چی چاته دخدای پناه حاصله سی هغه بیا ځوك دصحیح لاری ځخه اړولی سی ددی ځخه وروسته په پیغمبرانه حکمت اووعظ کولو سره یی په خپله زلیخا ته نصیحت کول شروع کړل چی داهم دخدای ځخه وبیریږی او دخپلی ارادی ځخه بیرته واپس سی.

ۚ رَبِّيْ اَحْسَنَ مَثْوَايَ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ هغه زما پالونکی دی هغه ما لره دارام ځای راکی ښه پوه سه چی ظلم کوونکی فلاح نه سی پیدا کولی.

ه ښښکاره مراد دا دی چی ستا خاوند عزیز دمصر زما پرورش وکی اوماته یی ښه ځای راکی زمامحسن

Maktaba Tul Ishaat.com

دی زه چی دده پرحرم لاس واچوم دالوی ظلم دی اوظلم کوونکی هیڅ کله فلاح نه سی پیدا کولی په دی ضمن کی په خپله زلیخا ته یی هم داسبق ورکی چی کله زه ددی څو ورځو دپرورش دومرهٔ حق پیژنم نوتاته خوزما څخه زیات پیژندل په کار دی.

دلته حضرت یوسف ﷺ عزیز مصر ته خپل رب وفرمایل حال دا دی چی دا لفظ دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا دپاره استعمالول جائزنه دی وجه داده چی داسی الفاظ موهومه دشرك اودمشرکینو سره دمشابهت پیداکولو ذریعه وی په دی وجه په شریعت محمدیه کی داسی الفاظ استعمالول هم منع سوه دصحیح مسلم په حدیث کی دی چی یوغلام دی خپل مالك ته رب نه وایی اویومالك دی خپل غلام ته خپل بنده نه وایی مگر دا خصوصیت دشریعت محمدی دی چی په دی کی دشرك دممانعت سره دداسی شیانو هم ممانعت سوی دی په کومو کی چی دشرك دذریعی جوړیدلو احتمال وی دتیرو پیغمبرانو په شریعتونو کی دشرك څخه خوپه سختی سره منع کړي ده مگر په اسبابو اوذریعو یی پابندی نه وه په دی وجه په تیرو شریعتونو کی تصویرونه جوړول منع نه وو مگر شریعت محمدی چونکی ترقیامته پوری راغلی دی نوپه دی کی دشرك څخه په پوره دول سره دمحفوظ کولو دپاره دشرك ذریعی تصویرونه اوداسی الفاظو څخه هم منع سوي ده په کومو کی چی دشرك وهم کیدی سی په هرحال دحضرت یوسف ﷺ اِنَّهٗ رَبِّیْ فرمایل په خپل ځای صحیح وو.

اوداهم کیدی سی چی دَاِنَّهٗ ضمیر دالله تعالی طرف ته راجع وی هغه ته یی خپل رب وفرمایل اوبنه ځای هم په حقیقت کی هغه ورکړی دی دهغه نافرمانی دټولو څخه لوی ظلم دی اوظلم کوونکو لره فلاح نه وی ځینی تفسیر لیکونکو سدی اوابن اسحاق وغیره نقل کړی دی چی په دی خلوت کی زلیخا دحضرت یوسف ﷺ څان ته دمائیله کولودپاره دده دحسن اوجمال صفت شروع کی اووی ویل چی ستا داوریښته څومره ښائسته دی حضرت یوسف ﷺ وفرمایل چی دا وریښته به دمرګ څخه وروسته دټولو څخه اول زما دجسم څخه جلاسی بیایی وویل ستا سترګی څومره ښائسته دی نووی فرمایل دمرګ څخه وروسته به داټولی اوبه سی زما پرمخ به وبهیږی بیا یی وویل ستامخ څومره ښائسته دی نووی فرمایل چی داټول دخاورو خوراك دی الله ﷻ داخرت فکر پرده دومره مسلط کی چی دځوانی په وخت کی هم ددنیا ټول خوندونه دده په مخکی گرد جوړسو صحیح ده چی داخرت فکر هغه شی دی کوم چی انسان په هرځای کی دهرشر څخه محفوظ ساتلی سی یاالله! ته یی زمونږ نصیب کړی آمین یارب العٰلمین

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ۭ كَذٰلِكَ

او خامخابنځی فکر وکی ده اوده فکر وکی دښځی که یی نه وای لیدلی قدرت دخپل رب داسی وسوه.

لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْۗءَ وَالْفَحْشَاۗءَ ۭ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ۝۲۴

ددی دپاره چی لیری کړو مونږ ددده څخه بدی اوبی حیایی البته دغه دی زمونږ دښه بندګانو څخه.

لنډتفسیر: او ددی ښځی په زړه کی ده خیال (دقصد په درجه کی) مضبوط سوی وو او ده هم ددی ښځی

ـ څه خیال (دامر طبعی په درجه کی) راغلی وو (کوم چی داختیار څخه وتلی دی لکه دگرمی په روژه کی
ی داوبو طرف ته طبعی میلان وی که څه هم دروژی ماتولو وسوسه قدرهم نه وی البته) که دخپل رب
لیل (یعنی ددی کار دگناه والی دلیل کوم چی شرعی حکم دی) ده نه وای لیدلی (یعنی ده ته دشریعت
لم سره دعملی قوته حاصل نه وای) نوزیات خیال کیدل یی عجیبه نه وو (څکه چی ددی بلونکی
اسباب ټول قوی جمع وه مگر) مونږ دغه ډول ده ته علم ورکی ددی دپاره چی مونږ دده څخه صغیره او
بیره گناهونه لیری کړو (یعنی دارادی څخه هم مونږ محفوظ کی اودفعل څخه هم څکه چی) هغه زمونږ
بنه بندگانو څخه وو.

ملومات اومسئلي: په تیر آیت کی دحضرت یوسف ﷺ دعظیم ازمائش اوامتحان ذکروو چی دعزیز
مصر نښځی دکور دروازی بندی کړی اودده یی دگناه طرف ته دبللو کوشش وکی اوخپل طرف ته یی
مائلو کولو اواخته کولو ټول اسباب یی جمع کړل مگر رب العزت دا نوجوان صالح په داسی سخت
مائش کی ثابت قدم وساتی ددی زیات تفصیل په دی آیت کی دی چی زلیخا خودگناه په خیال کی
گیدلی وه دحضرت یوسف ﷺ په زړه کی هم دانسانی فطرت په تقاضا سره لږ لږ غیر اختیاری میلان
پیداسو مگر الله ﷻ عین په دغه وخت کی خپل حجت اوبرهان حضرت یوسف ﷺ ته مخامخ کی چی
دی په وجه سره دغه غیر اختیار میلان دنور زیاتیدو په ځای بالکل ختم سو او دی پرشا وتښتیدی.

ه دی آیت کی لفظ د: هَمّ: په معنی دخیال دزلیخا اوحضرت یوسف ﷺ دواړو طرف ته منسوب سوی
ی: وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ وَهَمَّ بِهَا اودامعلومه ده چی دزلیخا هَمّ یعنی خیال دگناه وو ددی څخه دحضرت یوسف
ﷺ متعلق هم ددا سی خیال وهم کیدی سو اوداپه اجماع دامت دشان دنبوت اورسالت څخه خلاف ده
که چی جمهور امت پردی متفق دی چی انبیاء علیهم السلام دهرقسم صغیره اوکبیره گناه څخه معصوم وی
بیره گناه خونه قصداً ورځخه کیدی سی اونه سهواً دخطا په ډول ورځخه کیدی سی البته دصغیره گناه
سهو اوخطاپه طور دواقع کیدو امکان سته مگر پردی هم انبیاء علیهم السلام قائم نه پاته کوی بلکه خبر یی
ړی اوفوراً یی ورځخه راگرځوی (مسامره)

ـ دا دعصمت مسئله دقرآن اوسنت څخه دثابتیدو څخه علاوه عقلاً هم په دی وجه ضروری ده چی که
انبیاء علیهم السلام څخه دگناه دواقع کیدو امکان اواحتمال پاته سی نو د دوی په راوړی دین اووحی به
عتماد هیڅ لارنه وای پاته اود دوی درالیږلو اوپه دوی دکتاب نازلولو به هیڅ فائده باقی نه وای پاته
وی په دی وجه الله ﷻ خپل هریو پیغمبر دهری یوی گناه څخه معصوم ساتلی دی ز

، دی وجه په اجمالی طور سره خو دامتعینه سوه چی حضرت یوسف ﷺ ته چی کوم خیال پیداسو دغه
گناه ددرجی خیال نه وو تفصیل ددی دا دی چی په عربی ژبه کی هَمّ په دوو معانیوکی استعمالیږی
دځه کار قصد اواراده اوعزم کول دوهم محض په زړه کی وسوسه اوغیر اختیاری خیال پیدا کیدل
ل صورت په گناه کی داخل اوقابل دمؤاخذی دی خوالبته که دقصد اوارادی څخه بغیر خالص دالله ﷻ
یری څخه څوک دا گناه په خپل اختیار پریږدی نوپه حدیث کی دی چی الله ﷻ دده دگناه پرځای دده په
ملنامه کی یوه نیکی ولیکی اوپه دوهم صورت کی چی محض وسوسه اوغیر اختیاری خیال راسی

Maktaba Tul Ishaat.com

اودکار اراده بالکل نه وی لکه دګرمی په روژه کی چی دیخو اوبو طرف ته طبعی میلان غیر اختیاری ټولو ته کیږی حال دا دی چی په روژه کی دچښلو اراده بالکل نه وی داقسم خیال نه دانسان په اختیار کی وی او نه په دی څه مؤاخذه اوګناه سته.

دصحیح بخاری په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ زما دامت دپاره دګناه وسوسه اوخیال معاف کړی دی کله چی دی عمل باندی ونه کړی (قرطبی)

اوپه صحیحینو کی په روایت دابو هریره ؓ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ ملائکو ته فرمایی چی زمابنده کله دیو نیك کار اراده وکړی نوصرف په اراده کولو سره دده په عملنامه کی یوه نیکی ولیکی اوکله چی دی دغه نیك عمل وکړی نو لس نیکی ورته ولیکی اوکه بنده دګناه اراده وکړی مګر بیایی دالله ﷻ دبیری څخه پریږدی نودګناه پرځای دده په عملنامه کی یوه نیکی ولیکی اوکه دی دغه ګناه وکړی نو صرف یوه ګناه ورته ولیکی (ابن کثیر)

په تفسیر قرطبی کی دلفظ د: هَمَّ: په دی دواړو معانیو کی استعمال دعربو دمحاورو او شعرونو دشهادتونو څخه ثابت کړی دی.

ددی څخه معلومه سوه چی که څه هم په آیت کی لفظ د: هَمَّ: دزلیخا او حضرت یوسف ؑ دواړو دپاره ویل سوی دی مګر په دی دواړو کی ډیر لوی فرق دی اولنۍ په ګناه کی داخل دی او دوهم غیر اختیاری دوسوسی حیثیت لری کوم چی په ګناه کی داخل نه دی دقرآن کریم دبیان طرز هم په خپله پردی شاهد دی څکه چی که دواړه همونه اوخیالونه یو ډول وای نودلته به یی په صیغه دتثنیه: وَلَقَدْ هَمَّا ویلی وای چی مختصرهم وو دایی پریښووی اوددواړو دهم اوخیال سره یی دتاکید دالفاظو د: لَقَدْ: اضافه وکړه دحضرت یوسف ؑ دهَمَّ سره د: لام: او د: قد: تاکید نسته ددی څخه معلومیږی چی ددی خاص تعبیر په ذریعه دا ښوولی دی چی دزلیخا هَمَّ یو ډول وو او دحضرت یوسف ؑ یو بل شان.

دصحیح مسلم په یوحدیث کی دی چی څه وخت حضرت یوسف ؑ ته دا امتحان ورپیښ سو نوملائکو الله ﷻ ته عرض وکی چی ستا دا مخلص بنده دګناه په خیال کی دی حال دا دی چی ده ته ددی وبال نه معلوم دی الله ﷻ وفرمایل چی انتظار کوی که دی داګناه وکړی نولکه څنګه چی یی وکړه دغسی یی دده په عملنامه کی ولیکی اوکه پاته یی کړه نودګناه پرځای دده په عملنامه کی نیکی ولیکی څکه چی دی به صرف زما دبیری څخه خپل خواهش پریږدی (کومه چی ډیره لویه نیکی ده) (قرطبی)

لنډه داده چی دحضرت یوسف ؑ په زړه کی چی کوم خیال یامیلان پیداسو دامحض غیر اختیاری دوسوسی په درجه کی وو کوم چی په ګناه کی داخل نه دی بیا ددی وسوسی په خلاف عمل کولو سره دالله ﷻ په نزد دده درجه نوره زیاته لوړه سوه.

اوځینی تفسیر لیکونکی حضرات دلته داهم فرمایی چی په کلام کی تقدیم اوتاخیر واقع سوی دی: لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ: کوم چی وروسته ذکر دی داپه اصل کی مخکی دی اومعنی دایت دا ده چی دحضرت یوسف ؑ به هم خیال پیداسوی وای که دالله ﷻ حجت اوبرهان یی نه وای لیدلی لیکن درب دبرهان لیدلو په وجه سره هغه ددی هم او خیا ل څخه هم خلاص سو مضمون داهم صحیح دی لیکن ځینی

Maktaba Tul Ishaat.com

حضراتو داتقدیم اوتاخیر دژبی دقواعدو څخه خلاف ګرځولی دی اوپه دی لحاظ سره هم اولنی تفسیر ښه دی چی په دی کی دحضرت یوسف ﷺ دتقوی اوپاکدامنی شان نورهم زیات لوړیږی چی دطبعی او بشری تقاضی باوجود دی دګناه څخه محفوظ پاته سو ددی څخه وروسته چی دا ارشاد فرمایی. لَوْلَا اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ : ددی جزامحذوفه ده اومعنی یی داده چی که ده دخپل رب برهان اوحجت نه وای لیدلی نو په دی خیاجل کی به اخته سوی وای مګر درب دبرهان دلیدو په وجه سره یی دغه غیر اختیاری خیال ا ووسوسه هم دزړه څخه ووتله.

قرآن کریم دا واضحه نه کړه چی دغه برهانِ ربی کوم چی حضرت یوسف ﷺ ته راغی څه شی وو په دی وجه په دی کی دمفسرینو خبری مختلفی دی حضرت عبدالله بن عباس ﷺ مجاهد سعید بن جبیر محمد بن سیرین حسن بصری وغیره فرمایی چی الله ﷻ په طور دمعجزی په دی خلوت ګاه کی دحضرت یعقوب ﷺ صورت داسی ده ته مخامخ کی چی خپله ګوته یی په غاښونوکی نیولی وه دی یی خبروی اوځینی مفسرین فرمایی چی دعزیز مصر صورت یی ده ته مخامخ کی ځینی مفسرین فرمایی چی دحضرت یوسف ﷺ نظر دچت طرف ته لوړ سو نوپه دی کی یی دقرآن داایت لیکلی ولیدی : وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰا اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيْلًا : یعنی زناته مه نژدی کیږی ځکه چی دادډیره بی حیایی (اودخدای دقهر سبب) او (دمعاشری دپاره) ډیره بده لاره ده ځینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی دزلیخا په مکان کی یوبت وو دی پردغه بت پرده واچوله نوحضرت یوسف ﷺ پوښتنه ورڅخه وکړه چی داولی؟ هغی وویل چی دازما معبود دی دده په مخکی ګناه نه سم کولی حضرت یوسف ﷺ وفرمایل چی زمامعبود دده څخه زیات دحیا مستحق دی دهغه نظر په پرده نه سی منع کیدی اوځینی حضرات فرمایی چی دحضرت یوسف ﷺ نبوت او معرفت الهی په خپله برهان درب وو.

دتفسیر امام ابن جریر ددی اقوالو دنقل کولو څخه وروسته چی کومه خبره فرمایلی ده هغه دټولو اهل تحقیقو په نزد ډیره ښه اوبی غباره ده هغه داده چی څومره خبره قرآن کریم ښوولی ده صرف پردی بسوالی وسی یعنی داچی حضرت یوسف ﷺ یوداسی شی ولیدی چی په دی سره وسوسه دده دزړه څخه ولاړه ددی شی په تعیین کی دغه ټول احتمالات کیدی سی کوم چی تفسیر لیکونکو حضراتو ذکرکړی دی لیکن په قطعی طور سره یوهم نه سی متعین کیدی (ابن کثیر)

كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ : یعنی مونږ حضرت یوسف ﷺ ته دا برهان ځکه وښووی چی دده څخه بدی اوبی حیایی لیرې کړو دبدی څخه مراد صغیره ګناه اودبی حیایی څخه کبیره ګناه ده (مظهری)

دلته داخبره دنظر قابله ده چی بدی اوبی حیایی دحضرت یوسف ﷺ څخه دلیری کولو ذکردی دحضرت یوسف ﷺ یی دبدی اوبی حیایی څخه لیری کول نه دی فرمایلی چی په دی کی اشاره ده چی حضرت یوسف ﷺ خو دخپل شان نبوت په وجه سره ددی ګناه څخه په خپله لیری سوی وو مګر بدی اوبی حیایی دی ګیر کړی وو مونږ دغه جاجل مات کی دقرآن کریم دا الفاظ هم پردی شاهد دی چی حضرت یوسف ﷺ په یو ادنی ګناه کی هم نه دی اخته سوی اوددې په [illegible] هغه په ګناه

Maktaba Tul Ishaat.com

کی داخل نه وو کنه نودلته به یی تعبیرداسی وای چی مونږ حضرت یوسف ﷺ دګناه څخه وساتی نه داسی چی ګناه مو د دوی څخه لیری کړه څکه چی حضرت یوسف ﷺ زمونږ دښه بندګانو څخه وو لفظ د مُخْلَصِيْنَ دلته په فتح دلام سره دمخلص جمع ده چی معنی یی دمنتخب ده مراد دا دی چی حضرت یوسف ﷺ دالله ﷻ دهغو بندګانو څخه دی کوم چی الله ﷻ دخپل کار درسالت اوداصلاح دخلګو دپاره انتخاب فرمایلی دی پرداسی خلګو دالله ﷻ دطرف څخه حفاظتی پهره وی چی دی په یوبدی کی اخته نه سی په خپله شیطان هم په خپل بیان کی ددی اقرار کړی دی چی دالله ﷻ پرمنتخبو بندګانو دده وس نه چلیږی ده وویل: فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ یعنی قسم دی ستاپه قوت اوعزت باندی چی زه به داټول انسانان ګمراه کوم بغیر دهغو بندګانو څخه کوم چی تامنتخب کړی دی.

اوپه څینو قرائتونو کی دالفظ په کسری دلام سره مُخْلِصِيْنَ هم راغلی دی اودمخلص معنی داده چی څوک دالله ﷻ عبادت په اخلاص او فرمانبرداری سره کوی په دی کی دځه دنیوی اونفسانی غرض اوشهرت اومرتبی وغیره دخل نه وی په دی صورت کی مراد ددی آیت به داسی چی کوم سړی هم په خپل عمل اوعبادت کی مخلص وی الله ﷻ دګناهونو څخه په خلاصیدو کی دده امداد فرمایی.

په دی آیت کی حق تعالی دوه لفظونه دسوء اوفحشاء استعمال کړی دی دسوء لفظی معنی بدی ده اومراد ددی څخه صغیره ګناه ده اودفحشاء معنی بی حیایی ده ددی څخه مرادکبیره ګناه ده ددی څخه معلومه سوه چی الله ﷻ حضرت یوسف ﷺ دکبیره او صغیره دواړه قسمه ګناهونو څخه محفوظ وساتی.

ددی څخه داهم معلومه سوه چی دحضرت یوسف ﷺ طرف ته چی په قرآن کی دکم همّ یعنی خیال نسبت سوی دی دامحض دغیر اختیاری وسوسی ددرجی همّ وو چی نه په کبیره ګناه کی داخل دی نه په صغیره کی بلکه معاف دی.

وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُ مِنْ دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا

او دواړو منده کړه دروازی ته اوښځی څیری کی دده قمیص دشا څخه اودواړه یوځای سول دښځی دخاوند سره په

الْبَابِ قَالَتْ مَا جَزَاءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوءًا إِلَّا أَنْ يُسْجَنَ أَوْ

دروازه کی، وی ویل چی بله هیڅ سزانسته ددی سړی چی وغواړی ستاداهل سره بدی مګرداچی قید سی

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ

یاعذاب دردناک ، یوسف ﷺ وویل دی زه راوپارولم خان ته اوشاهدی ادا کړه یو شاهد ،

مِنْ أَهْلِهَا إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ

دښځی دخلګو څخه که وی دده قمیص څیری دمخ څخه نو ښځه رښتینی ده اودی

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۲۶﴾ وَاِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ

درواغجن دی ، او که چیری وی قمیص دده څیری د شاځخه نوښخه درواغجنه ده

وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۷﴾ فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ

او هغه رښتنی دی ، نو هرکله چی ولیدی عزیز قمیص دده څیری دشا څخه وی ویل بیشکه ، دا

مِنْ كَيْدِكُنَّ ؕ اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ﴿۲۸﴾ يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ

و فریب دی ستاسی دښځو ، خامخا ستاسی فریب لوی دی ، یوسفه! پریږده دا ذکر ،

وَاسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۚ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ ﴿۲۹﴾

او ښځی ته بخښنه غواړی دخپلی گناه ، بیشکه چی ته یی گناهگاره

ژباړه تفسیر: (او کله چی دی ښځی بیادغه اصرار وکی نو حضرت یوسف ﷺ ددغه ځای څخه ځان خلاص کی ووتښتیدی اوهغه دده دنیولو دپاره په ده پسی سوه) اودواړه مخ ته وروسته دروازی ته په منډه سول او په منډه کی چی دی هغه نیوی نو) دی ښځی دده قمیص دشا څخه څیری کی (یعنی دی یی ترقمیص ونیوی ځان ته یی راکش کی اوحضرت یوسف ﷺ پرمخ تښتیدی نوقمیص یی څیری سو مگر حضرت یوسف ﷺ ددروازی څخه دباندی ووتی) او (ښځه هم ورسره وه نو) دواړه (اتفاقاً) ددی ښځی خاوند په دروازه کی (ولاړ) ولیدل ښځی (چی خاوند ولیدی نوحقه حیرانه سوه اوفوراً یی خبره جوړه کړه) وی ویل چی کوم سړی ستا دبی بی سره دبدکاری اراده وکړی دهغه سزابغیر ددی څخه بله څه کیدی سی چی دی حبس خانی ته ولیږل سی یابله دردناکه سزا وی (لکه جسمانی سزا) یوسف ﷺ وویل (چی داچی دکوم الزام اشاره ماته کوی بالکل درواغجنه ده بلکه معامله ددی څخه په عکس ده) دی زه دخپل مطلب حاصلولو دپاره خطا ایستلم او (پر دی موقع) ددی ښځی دخاندان څخه یوشاهد (چی شیر خوار بچی وو ودحضرت یوسف ﷺ په معجزه سره یی خبری وکړی اودده په براءت سره یی) شاهدی اداکړه (ددی بچی خبری کول دحضرت یوسف ﷺ یوه معجزه وه اوپردی سربیره دوهمه معجزه داسوه چی دی شیر خوار بچی یوه معقوله نخښه وښوولە عاقیلانه فیصله یی هم وکړه اووی ویل) چی دده قمیص (وگوری چی کوم ځای څخه څیری دی) که دمخکی څخه څیری وی نوښځه رښتنی ده اودی دروغجن دی اوکه دغه قمیص دشا څخه څیری وی نوښځه درواغجنه ده اودی رښتنی دی پس کله چی (عزیز) دده قمیص شاځخه څیری ولیدی (ښځی ته) یی وویل چی داستاسی دښځو چالاکی ده بیشکه ستاسی چالاکی لویه ده غضب وی (بیا حضرت یوسف ﷺ ته متوجه سو وی ویل) ای یوسفه! داخبره پریږده (یعنی ددی خبرې فکر یا خیال مه کوه) او (ښځی ته یی وویل چی) ای ښځی ته (دیوسف ځخه) دخپل قصور معافی غواړه بیشکه ستاسو قصور واړه ته

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: په تیرو ایتونوکی دابیان راغلی دی چی یو وخت دعزیزمصر ښځه دحضرت یوسف ﷺ په ګناه کی داخته کولو په کوشش کی مشغوله وه اوحضرت یوسف ﷺ ځان خلاصوی مګر دفطری اوغیر اختیاری خیا ل کشمکش هم وو نوالله ﷻ دخپل غوره کړی پیغمبر دمدد دپاره په طور دمعجزی یو داسی شی مخامخ کی چی په دی سره یی دزړه څخه هغه غیر اختیاری خیال هم ووتی برابره خبره ده که دغه دخپل پلار حضرت یعقوب ﷺ صورت وی اوکه دوحی الهی یو آیت په ذکرسوو ایتونو کی یی دانبوولی ده چی حضرت یوسف ﷺ په دی خلوت ګاه کی ددی برهان ربی په لیدو سره ددغه ځای څخه په منډه سو اوددباندی وتلو دپاره دروازی ته یی منډه کړه دعزیز ښځه دنیولو دپاره ورپسی په منډه سوه اودحضرت یوسف ﷺ قمیص یی ونیوی اودباندی دتلو څخه یی منع کوی خودی دخپلی ارادی مطابق ونه دریدی نو قمیص دشا څخه څیری سو مګر حضرت یوسف ﷺ ددروازی څخه دباندی راووتی او په ده پسی زلیخاهم په تاریخی روایتونو کی ذکردی چی دروازه قُلف وه کله چی حضرت یوسف ﷺ منډه کړه او دروازی ته ورسیدی نو په خپله قُلف مات سو اوکښته ولویدی.

کله چی دادواړه ددروازی څخه دباندی ووتل نو وی ولیدل چی عزیز یی په مخکی ولاړ دی دده ښځه وبیریده اوخبره یی داسی جوړه کړه چی الزام یی پرحضرت یوسف ﷺ دتپلو دپاره وویل چی کوم سړی ستا دښځی سره دبدکار اراده وکړی نوددده سزا ددی څخه ماسوا څه کیدی سی چی دی په قید کی واچول سی یابله بدنی سخته سزا ورکول سی.

حضرت یوسف ﷺ دخپل پیغمبرانه شرافت په بناء غالبًا ددی رازنه ښکاره کوی مګرکله چی دامخکی سوه اوپه حضرت یوسف ﷺ یی تهمت پوری کی نومجبوره سو اودوی دحقیقت اظهار وکی چی ﴿هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي﴾ یعنی دی زه دخپل مطلب پوره کولو دپاره خطا ایستلم.

معامله ډیره نازکه او دعزیز مصر دپاره ددی فیصله کول ډیر ګران وو چی په دواړو کی یوربښتنی وګڼی دشاهدی اوثبوت هیڅ موقع نه وه مګرالله ﷻ چی څنګه خپل غوره کړی بندګان دګناه څخه ساتی اودوی معصوم اومحفوظ ساتی دغه ډول په دنیا کی هم د دوی درسوایی څخه دساتلو انتظام په معجزانه انداز سره کوی اوپه عام طور سره پرداسی موقعو باندی دداسی ورو بچیانو څخه کار اخستل کیږی کوم چی عادتًا دخبرو کولو قابل نه وی مګر په طور دمعجزی دوی ته دخبرو کول طاقت ورکړی اودخپلو مقبولو بندګانو براءت یعنی بری کیدل ظاهرکړی لکه چی پرحضرت مریم باندی چی کله خلګو تهمت ولګوی نوصرف دیوی ورځی بچی حضرت عیسیٰ ﷺ حق تعالی ګویاکی دده دژبی څخه یی دمور پاکدامنی ښکاره کړه اویوه خاص خدایی نخښه وښوول سوه دبنیٰ اسرائیلو پر یوبزرګ جریج باندی دغه ډول یوتهمت په یولوی سازش سره وترل سو نونوی پیداسوی بچی دده دبری کیدلو دپاره شاهدی ورکړه په حضرت موسیٰ ﷺ باندی دفرعون شك پیداسو نودفرعون دښځی ورینښته جوړونکی ښځی سره کوچنی هلك وو هغه خبری وکړی اوحضرت موسیٰ ﷺ یی په کوچنی والی کی دفرعون دلاسه خلاص کی.

صحیح دغه ډول دحضرت یوسف ﷺ په واقعه کی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ او حضرت ابوهریره ﷺ دروایت مطابق یوکوچنی بچی الله ﷻ ګویا کی او هغه هم په یو ډیر عاقلانه اوحکیمانه انداز سره

Maktaba Tul Ishaat.com

داکوچنی بچی په دی کور کی په زانګوکی پروت وو دا دچا ګمان وو چی دی به داکارونه وینی اوپوهیږی به باندی اوبیابه داپه یو انداز کی بیان هم کړی مګرقادر مطلق دخپلونیکو بندګانودشان ښکاره کولودپاره یی دنیاته ښیی چی دکائناتو ذرهٔ ذره دهغه پټ پولیس (سی ائی ډی) دی کوم چی مجرم ښه پیژنی اود جرمونو ریکارډ ساتی اودضرورت په وخت کی ددی اظهار کوی په میدان دحشر کی دحساب کتاب په وخت چی انسان کله ددنیا دخپل تیر عادت پربناباندی دخپل جرم څخه انکار وکی نودده لاس پښی اوځرمن اودر اودیوار به دده خلاف شاهدان ودرول سی هغوی به دده یویو حرکت دمحشر دعظیم الشانه جمع په مخکی ښکاره کړی دغه وخت به انسان ته درك معلوم سی چی په لاسو پښو اودرو دیوار اوحفاظتی انتظاماتو کی یو هم زما نه وو بلکه داټول درب العزت پټ کار کوونکی وه لنده داده چی داکوچنی بچی کوم چی په زانګو کی په ښکاره ددی دنیا دهرشی څخه غافله اوبی خبره پروت وو هغه دحضرت یوسف ﷺ دمعجزی په طور عین په هغه وخت کی خبری وکړی کله چی عزیز دمصر په دی واقعه کی په کشمکش کی اخته وو.

بیا که دی بچی صرف دومره ویلی وای چی حضرت یوسف ﷺ بری دی قصور دزلیخا دی نودغه هم دیوی معجزی په حیثیت سره دحضرت یوسف ﷺ په حق کی دبری کیدو دپاره لوی شاهد وو مګر الله ﷻ ددی بچی په ژبه یوه حکیمانه خبره وکړه چی دحضرت یوسف ﷺ داقمیص وګوری که دمخ څخه څیری وی نودزلیخا خبره رښتیا ده اوحضرت یوسف ﷺ دروغجن کیدی سی اوکه دشا څخه څیری وی نوپه دی کی ددی څخه ماسوا بل هیڅ احتمال نسته چی حضرت یوسف ﷺ تښتیدی اوزلیخارامنع کوی دا یوه داسی خبره وه چی دبچی دخبرو دمعجزی څخه علاوه په خپله هم هریو باندی پوهیدی سوای اوکله چی دښوول سوی نخښی مطابق قمیص دشا څخه څیری ولیدل سو نودحضرت یوسف ﷺ بری کیدل په ښکاره نخښو سره هم ښکاره سو.

دشاهد دیوسف کوم تفسیر چی مونږ بیان کړی دی چی دایو کوچنی بچی وو کوم چی الله ﷻ په طور دمعجزی ګویاکی داپه یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ څخه ثابت دی کوم چی امام احمد په خپل مسند کی اوابن حبان په خپل کتاب صحیح کی اوحاکم په مستدرك کی نقل کړی دی اوصحیح حدیث یی ګرځولی دی په دی حدیث کی ارشاد دی چی الله ﷻ څلورو بچیانو ته ګویا یی ورکړي ده دا څلور هغه دی دکومو ذکر چی لوړ سوی دی (مظهری)

او په څینو نورو روایتونوکی دشاهد نور تفسیرونه هم نقل سوی دی مګر ابن جریر ابن کثیر وغیره دتفسیر امامانو اولنی تفسیر راجح ګرځولی دی.

احکام اومسئلي: دذکر سوو ایتونو څخه څواهمی مسئلی اواحکام معلوم سول.

اوله مسئله: دایت وَاسْتَبَقَا الْبَابَ: څخه دامعلومه سوه چی کوم څای په ګناه کی داخته کیدو بیره وی هغه څای پریښوول په کاردی لکه چی حضرت یوسف ﷺ منده کړه او ددی ثبوت یی ورکی.

دوهمه مسئله: داچی دالله ﷻ داحکامو په منلوکی پرانسان لازم دی چی دخپل وس مطابق په کوشش کی کمی نه کوی برابره خبره ده که نتیجه یی په ښکاره هرڅنګه چی راووزی نتیجی دالله ﷻ په لاره کی صرف

Maktaba Tul Ishaat.com

کول دخپلی بندگی ثبوت ورکول دی لکه چی حضرت یوسف علیه السلام دټولو دروازو بندیدو اوتاریخی روایتونومطابق قُلف کیدوباوجوددروازی طرف ته په منده کی خپل پوره قوت خرڅ کی په داسی صورت کی دالله ﷻ دطرف څخه امداد اوملګرتیا هم اکثره کیدی سی چی بنده کله خپل کوشش پوره کړی نوالله ﷻ دکامیابی اسباب اکثره تیاروی مولانای رومی رحمه الله پردی مضمون باندی ارشادفرمایلی دی.

گر چی رخنه نیست درعالم پدید خیره یوسف وارمی باید دوید

که چیری په عالم کی دځان خلاصولو دپاره هیڅ ځای هم سایه بنکاره نه وی خو بیا هم دحضرت یوسف علیه السلام په شان منده وهل په کاردی.

په داسی صورت کی که بنکاره کامیابی هم حاصله نه سی خو دبنده دپاره دا ناکامی هم کامیابی ده.

گر مرادت را مذاق شکر است نامرادی نی مراد دلبر است

که په نامرادی کی هم ته په خپل کوشش باندی مشکور یی نو دا نامرادی هم دمحبوب مراد دی څکه چی هغه ستاوس اوچاری ته ګوری.

یوبزرګ عالم په جیل کی وو دجمعی په ورځ به یی دخپل وس مطابق غسل وکی کپړی به یی پریمنځلی اودجمعی دلمانځه دپاره به یی ځان تیارکی دجیل خانی تردروازی پوری به ولاړی هلته به یی عرض وکی چی یا الله زما وس دغه وو مخ ته اختیار ستادی دالله ﷻ دعام رحمت څخه څه لیری نه وه چی دده په کرامت سره دجیل دروازه خلاصه سوی وای اوده دجمعی لمونځ کړی وای لیکن هغه په خپل حکمت سره دی بزرګ ته هغه لوړ مقام ورکی چی په زرګونو کرامتونه باندی قربان دی چی دده ددی عمل په وجه دجیل دروازه خلاصه نه سوه لیکن ددی باوجود ده په خپل کار کی همت ونه بایلی هره جمعه یی پرله پسی داعمل جاری وساتی داهغه استقامت دی کوم چی مشران صوفیاء کرام دکرامت څخه بالا ترګنی.

دریمه مسئله: ددی څخه داثابته سوه چی پریو سړی غلط تهمت وترل سی نوخپله صفایی پیش کول دانبیاوو علیهم السلام سنت دی داځه توکل یابزرګی نه ده چی دغه وخت خاموش پاته سی ځان مجرم وګرځوی

خلورمه مسئله: په دی کی دشاهد ده دالفظ کله چی په عامو فقهی معاملاتو اومقدمو کی راسی نوددی څخه هغه سړی مرادوی کوم چی ددغه جګړیزی معاملی متعلق خپله دسترګو لیدلی یو واقعه بیان کړی په دی آیت کی چی څوک یی دشاهد په لفظ سره تعبیر کړی دی ده څه واقعه یادخپلو لیدو متعلق څه بیان نه دی کړی بلکه دفیصلی کولو دیو صورت طرف ته یی اشاره کړیده دی ته په اصطلاحی طور سره شاهد نه سی ویل کیدی.

مګر بنکاره ده چی دااصطلاحات ټول وروسته عالمانو اوفقهاوو دپوهولو دپاره اختیار کړی دی نه دادقرآن کریم اصطلاح ګانی دی اونه دی ددی پایبنده دی قرآن کریم دلته دغه سړی ته شاهد په دی اعتبارسره ویلی دی چی لکه څنګه چی دشاهد په بیان سره دمعاملی صفایی اسانیږی اودیوفریق حقوالی ورڅخه ثابتیږی ددی بچی په بیان سره هم دافائده حاصله سوه چی په اصل کی خو دده معجزانه خبری کول دحضرت یوسف علیه السلام دبری کیدو دپاره شاهدی وه اوبیاده چی کومی نخښی وښوولی دهغه حاصل هم اخر دحضرت یوسف علیه السلام دبری کیدوثبوت وو په دی وجه داوینا صحیح سوه چی ده دحضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

یوسف ﷺ په حق کی شاهدی ادا کړه حال دا دی چی ده حضرت یوسف ﷺ ته رښتنی نه دی ویلی بلکه ددواړو احتمالونو ذکریی کړی وو اودزلیخا رښتنوالی یی په یوداسی صورت کی هم فرضی تسلیم کړی وو چی ددی رښتنوالی په کښی یقینی نه وو بلکه بل احتمال هم موجود وو څکه چی دقمیص دمخ څخه څیریدل په دواړو صورتونو کی ممکن دی اودحضرت یوسف ﷺ رښتنوالی یی صرف په داسی صورت کی تسلیم کړی وو چی په دی کی ددی څخه ماسوابل احتمال نه سی کیدی لیکن په اخر کی نتیجه ددی حکمت عملی داوه چی دحضرت یوسف ﷺ بری کیدل ثابت سی.

پنځمه مسئله: په دی کی دا ده چی دمقدمو او جګړو په فیصلو کی دقرینو اوعلاماتو څخه کار اخستل کیدی سی لکه چی دی شاهد دقمیص دشا څخه څیری کیدل ددی علامه وګرځوله چی حضرت یوسف ﷺ تښتیدی او زلیخا نیووی په دی معامله کی په دومره خبره باندی خودتولو فقهاوو اتفاق دی چی دمعاملو په حقیقت پیژندوکی دعلامو او قرینو څخه خامخا کار واخستل سی لکه چی دلته وسو لیکن محض علامو اوقرینوته دپوره ثبوت درجه نه سی ورکول کیدی دحضرت یوسف ﷺ په واقعه کی هم په حقیقت کی دبری کیدو ثبوت خوددی بچی معجزانه خبری کول دی دعلامو اوقرینو دکوموچی ذکر سوی دی ددی څخه ددی معاملی تائید وسو.

په هرحال تردی ځای پوری داثابته سوه چی کله زلیخا پرحضرت یوسف ﷺ باندی تهمت اوالزام ولګوی نوالله ﷻ یو کوچنی بچی دعادت څخه خلاق ګویاکی اودهغه دخلی څخه داحکیمانه فیصله صادره سوه چی دحضرت یوسف ﷺ قمیص وګوری که دشا څخه څیری وی نودا ددی خبری ښکاره نخښه ده چی دی تښتیدی اوزلیخا نیوی حضرت یوسف ﷺ بی قصوره دی.

په ذکرسوو ایتونوکی په اخری دوو ایتونوکی دابیان سوی دی چی عزیز دمصر په داسی خبرو دبچی پوه سوی وو چی دادعادت څخه خلاف صورت دحضرت یوسف ﷺ دبری کیدو دپاره پیښ سو بیا دده دوینا مطابق کله چی یی داولیدل چی دحضرت یوسف ﷺ قمیص هم دشا څخه څیری دی نویقین یی راغی چی قصور دزلیخا دی حضرت یوسف ﷺ بری دی نوده اول زلیخا ته وویل: اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ یعنی داستاسی مکر اوحیلی دی چی خپله خطا دبل پرسر اچوی بیایی وویل چی دښځو مکر اوحیله ډیره لویه وی چی په دی پوهیدل اوځان ورځخه خلاصول اسان نه وی څکه چی ظاهر د دوی نرم اونازك او ضعیف وی دلیدونکی په دی ډیر ژر یقین راځی لیکن دعقل اودیانت دکمی په سبب ډیر ځله دغه فریب وی (مظهری)

په تفسیر قرطبی کی په روایت دابوهریره ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دښځو مکر دشیطان دمکر څخه زیات دی څکه چی الله ﷻ دشیطان دمکر متعلق خودا فرمایلی ذی چی داضعیف دی: اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا: اودښځو دمکر متعلق دافرمایی چی: اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ: یعنی ستاسی مکر ډیر لوی دی اودانبکاره ده چی ددی څخه مراد تولی ښځی نه دی بلکه هغه دی کومی چی دغه ډول په مکر اوحیلو کی اخته وی عزیز دمصر زلیخاته ددی دخطا ښوولو څخه وروسته حضرت یوسف ﷺ ته وویل: يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا یعنی ای یوسفه! ته داواقعه دپامه وغورځوه کړه اوچاته یی مه وایه چی رسوایی ونه سی بیایی زلیخاته وویل: وَاسْتَغْفِرِی لِذَنْۢبِكِ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ یعنی خطا سراسر ستا ده ته دخپلی خطایی

Maktaba Tul Ishaat.com

معافی وغواړه ددی څخه په ښکاره دامراد دی چی دادخپل خاوند څخه معافی وغواړی اودا معنی هم کیدی سی چی دحضرت یوسف علیه السلام څخه معافی وغواړی چی خطایی په خپله وکړه اوتهمت یی په هغه ولګوی فائده: دلته داخبره دفکرطلب ده چی دخاوندپه مخکی دخپلی ښځی داسی خیانت اوبی حیایی ثابتیدو باندی ددې نه مشتعل کیدل اوپه پوره سکون اواطمینان سره خبری کول دانسانی فطرت څخه ډیر دتعجب دی امام قرطبی فرمایی چی داوجه هم کیدی سی چی عزیز دمصر یوبی غیرته سړی وو اوداهم کیدی سی چی حق تعالی څنګه چی دحضرت یوسف علیه السلام دګناه څخه بیا درسوایی څخه دبچ کولو دعادت څخه خلاف انتظام وفرمایی ددغه انتظام یوجزء داهم وو چی عزیز دمصر یی دغصی څخه مشتعل کیدو ته پری نه ښووی کنه نودعام عادت مطابق په داسی موقعو انسان دتحقیق اوتفتیش څخه بغیر بی اختیاره هرڅه کوی اوپه ژبه سره ښکنځل اوسپکی سپوری خومعمولی خبره ده که دعام انسانی عادت مطابق عزیز دمصر مشتعل سوی وای نوممکنه ده چی ددې دلاس یاژبی څخه دحضرت یوسف علیه السلام په شان کی څه خلاف خبره سوی وای دادقدرت حق پیښی دی چی پرحق باندی دقائم پاته کیدونکو په قدم قدم څه رنګ حفاظت کوی فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ

په وروسته ایتونو کی نوره واقعه ذکرسوي ده کومه چی دتیری قصی سره ترل سوي ده هغه داچی داواقعه دپټولو باوجود ددرباری خلګو په ښځو کی خپره سوه دی ښځو دعزیز پر ښځی لعن طعن کول شروع کړل څینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی داپنځه ښځی دعزیز دمصر دنژدی افسرانو ښځی وی (قرطبی مظهری)

دی ښځو په خپل مینځ کی وویل چی داڅنګه دحیرانتیا اودافسوس خبره ده چی دعزیز دمصر ښځه سره ددومره لویی مرتبی په خپل ځوان غلام باندی عاشقه سوه خپل مطلب حاصلول ورڅخه غواړی مونږخودا ډیره په ګمراهی ګڼو په آیت کی لفظ د: فَتٰهَا راغلی دی دفتی معنی نوجوان دی په عرف کی مملوك غلام کله چی کوچنی وی نوده ته غلام وایی چی ځوان سی نوهلك ته: فَتًا اوانجلی ته فَتَاة ویل کیږی په دی کی یی حضرت یوسف علیه السلام ته دزلیخاغلام یاخوپه دی وجه ویل سوی دی چی دخاوندشی ته هم په عادت کی دښځی شی ویل کیږی اویاپه دی وجه چی زلیخا دخاوندڅخه دی په طور دهبی اوتحفی اخستی وو (قرطبی)

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا

او وویل ښځو په دی ښار کی دعزیز ښځه خواهش کوی خپل غلام ته دنفس دده عاشق سوی دی ددی زړه

حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ

دهغه په محبت کی ، مونږخو وینودا په ښکاره خطاکی ، بیاچی کله واوریدی دی د دوی مکر راوی غوښتل

اِلَيْهِنَّ وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا

دوی اوتیار یی کی د دوی دپاره یو مجلس او ور یی کړه دهری یوی په لاس کی یوه چاره ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ

او وی ویل یوسفه ! راووزه په دوی بیا کله چی ویی لیدی حیرانی سوی اوپری یی کړل خپل لاسونه ،

وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ

اووی ویل پناه په خدای نه دی دا سړی دا یوه ملائکه ده بزرګه ، وی ویل ،

فَذَٰلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ ۖ وَلَقَدْ رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ

دا هغه دی چی ملامتوی تاسی ماپه ده او ما خو دده زړه خان ته مائله کوی ،

فَاسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِنْ لَمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِنَ

نو ده ونه منل اوبیشکه که ونه کړی دی څه چی ورته زه وایم نو قید به سی اوسی به بی

الصَّاغِرِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۚ

عزته یوسف علیه السلام وویل ای ربه زما ماته قید خوښ دی ددی خبری څخه کومی ته چی دوی مابولی

وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٣٣﴾

اوکه چیری دفع نه کی زماڅخه د دوی فریب نومائله به سم دوی ته اوسم به بی عقله ،

فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ

او قبوله کړه دده دعا دده رب بیایی دفع کی دده څخه د دوی فریب خامخا هغه دی اوریدونکی ،

الْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٣٥﴾

بردار ، بیا بنکاره سوه خلکو ته ددی نخښو لیدو څخه وروسته چی په قید کی وساتی دی تریوی مودی پوری

تفسیر: اوڅو بنځوکومی چی په بنار کی اوسیدی داخبره وکړه چی دعزیز بی بی خپل غلام دخپل

اجائز) خواهش حاصلولودپاره تیرباسی (څومره ناوړه حرکت دی چی پرغلام مینه کیږی) ددی غلام

شق ددی په زړه کی ځای نیولی دی مونږ خوداپه بنکاره غلطی کی وینو پس کله چی دی بنځی ددی

څو دبد ګویی (خبری) واوریدی نو دیوچا په لاس یی دوی راوبلل (چی ستاسی دعوت دی) اود دوی

پاره یی مسند تکیی ولګولی او (کله چی دوی راغلی اومختلف قسم خوراکونه یی دوی ته کښی بنوول

Maktaba Tul Ishaat.com

اومیوی یی حاضری کړی چی په دوی کی ځینی شیان په چاقوسره دپریکولو اوخوړلو وه په دی وجه هری یوی ته یی په دوی کی یویو چاقو (هم) ورکی (کوم چی په ښکاره کی دمیوو پریکولو بهانه وه اواصل مقصد هغه وو کوم چی مخ ته راځی چی دوی بد حواسه سی خپل لاسونه پریکړی) او (داتول اسباب یی برابرکړه اوحضرت یوسف ﷺ ته کوم چی په یوبل ځای کی وو) وی ویل چی دوی ته مخامخ راسه (حضرت یوسف ﷺ داوګڼله چی یو صحیح غرض به وی دباندی راغی) پس ښځو چی دی ولیدی نو (دده ښائست ته) حیرانی سوی او (په دی حیرانی کی یی) خپل لاسونه پریکړل (په چاکوقانو یی میوی پریکولی چی حضرت یوسف ﷺ یی ولیدی نوداسی بدحواسه سوی چی لاسونه یی ورسره پری کړل) اووی ویل چی په الله پناه داخوسړی هیڅکله نه دی داخویو بزرګه ملائکه ده دغه ښځی وویل نو (ګوری) هغه سړی دا دی چی دچاپه باره کی چی تاسی ماملامتوی (چی دخپل غلام سره مینه کوی) اوواقعی چی مادده ځخه دخپل مطلب دحاصلولو کوشش کړی وو مګر دی پاك صاف پاته سو او (بیایی حضرت یوسف ﷺ ته واوروله اواخطار یی ورکړی چی) که اننده زماخبره ونه منی (لکه چی تراوسه پوری یی نه ده منلی) نوبیشکه جیل خانی ته به ولیږل سی اوبی عزته به سی (دغو ښځو هم حضرت یوسف ﷺ ته وویل چی تاته دخپلی محسنی ښځی ځخه دومره بی پرواهی نه ده په کار داچی درته څه وایی نوددی خبره منه) یوسف (ﷺ داخبری واوریدی چی داتولی خوددی په ډله کی دی نودالله ﷻ ځخه یی) سوال وکی چی ای زماربه! دکوم (ناجائز) کار طرف ته چی دابنځی ما رابولی ددی ځخه خوجیلخانه زما زیاته خوښه ده اوکه ته د دوی دامکر اوفریب زما ځخه منع نه کړی نوزه به د دوی طرف ته مائل سم اودناپوهانو کاربه وکړم پس دده دُعا دده ربّ قبوله کړه اودی یی ددغو ښځو دمکر اوفریب ځخه لیری کی بی شکه هغه (ددعاګانو) لوی اوریدونکی (اود دوی دحالاتو) ښه پیژندونکی دی (بیا دحضرت یوسف ﷺ دپاکدامنی) دمختلفو نخښو دلیدو ځخه وروسته (چی په دی سره په خپله خو دده پوره یقین راغلی وو مګر په عوامو کی یی آوازه سوی وه ددی دقطع کولو په غرض سره) دغو خلګوته (یعنی عزیز اود ده متعلیقینو ته) دامصلحت معلوم سو چی دی تریو وخته پوری په قید کی وساتی.

معلومات اومسئلي: فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ : یعنی کله چی زلیخا ددی ښځو دمکر حال واوریدی نو دوی یی دخوراك په یو دعوت راوبللی.

دلته ددی ښځو خبروته زلیخا مکر ویلی دی حال دا دی چی په ښکاره دوی یو مکر نه وو کړی مګر پته پته یی ددی بد ګویی کوله په دی وجه یی دا په مکر سره تعبیر کی.

وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً: یعنی د دوی دپاره یی په بالښتونو اوتکیه ګانو سره مجلس برابر کی.

وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ سِكِّينًا : یعنی کله چی دابنځی راغلی اودوی ته یی مختلف قسم خوراکونه اومیوی حاضری کړی په دی کی ځینی شیان په چاقو سره دپریکولو اوخوړلو وه په دی وجه یی هری یوی ته یویو تیز چاقوهم ورکی چی ظاهری مقصد یی میوی پریکول وو. مګرپه زړه کی یی هغه خبره پته وه کومه چی مخ ته راځی چی دابنځی حضرت یوسف ﷺ وویني بدحواسه به سی اوپه چاقوګانوبه لاسونه زخمی کړی

وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ: یعنی ددی ټول اسباب برابرولو ځخه وروسته حضرت یوسف ﷺ ته چی په بل ځای کی

Maktaba Tul Ishaat.com

وو زلیخا وویل چی دباندی راووزه حضرت یوسف ﷺ ته چونکی ددی فاسد غرض معلوم نه وو په دی وجه دباندی دی مجلس ته تشریف راوړی.

فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَذَا بَشَرًا إِنْ هَذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ : یعنی دی ښځو چی کله حضرت یوسف ﷺ ولیدی نو دده په ښائست حیرانی سوی اوخپل لاسونه یی پریکړل یعنی دمیوو پریکولو په وخت کی چی کله داحیرانوونکی واقعه پیښه سوه نو چاقوګان یی پرلاسونو وچلیدل لکه چی بل طرف ته په خیال تلوسره اکثره داسی واقعات کیږی اووی ویل چی دخدای پناه داهیڅکله سړی نه دی دایو بزرګه ملائکه ده مطلب داوو چې داسې نوراني خو ملائکه کیدی سي.

قَالَتْ فَذَلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ وَلَقَدْ رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ وَلَئِنْ لَمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِنَ الصَّاغِرِينَ : دغه ښځی وویل چی وګوری هغه سړی دا دی دکوم په باره کی چی تاسی ماملامتوی اوپه واقع کی ماده ځکه دخپل مطلب حاصلولو خواهش کړی وو مګردی پاک صفاپاته سو اوائنده که دی زماخبره ونه منی نو بیشکه جیلخانی ته به ولیږل سی اوبی عزته به هم سی.

دی ښځی چی کله داولیدل چی زما راز دی ښځو ته ښکاره سوی دی په دی وجه یی د دوی په مخکی حضرت یوسف ﷺ ته دبیرولو اواخطار ورکولوخبری شروع کړی ځینی تفسیر لیکونکو بیان کړی دی چی دغه وخت دی ټولو ښځو هم حضرت یوسف ﷺ ته وویل چی دابڼځه ستا محسنه ده ددی مخالفت نه دی کول په کار.

او دقرآن کریم ځینی الفاظ کوم چی مخ ته راځی ددی ځځه هم ددی تائید کیږی مثلاً يَدْعُونَنِي او كَيْدَهُنَّ چی په دی کی یی دځوښځو قول په صیغه دجمعی سره ذکر کړی دی.

حضرت یوسف ﷺ چی کله داولیدل چی دابڼځی هم ددی ملګرتیا اوتائید کوی اود دوی دمکر اوفریب ځځه دخلاصیدو ظاهری یو تدبیر پاته نه سو نوبیایی دالله ﷻ طرف ته رجوع وکړه اودالله رب العزت په دربار کې یی عرض وکی چی: رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ الْجَاهِلِينَ یعنی ای زما پالونکیه دا ښځی چی ماکوم طرف ته بولی ددی ځځه خوزما جیل خانه زیاته خوښه ده که ته د دوی دا مکر اوفریب زماځځه منع نه کړی نوممکنه ده چی زه د دوی طرف ته مائله سم اودناپوهی کار وکړم دحضرت یوسف ﷺ دافرمایل چی جیل خانه زماخوښه ده ځه دقید اوبند طلب کول اویاخواهش کول نه وو بلکه دګناه په مقابله کی دادنیوی مصیبت داسان ګڼلو اظهاردی اوپه ځینو روایتونوکی دی چی کله حضرت یوسف ﷺ قید ته واچول سو نودالله ﷻ دطرف ځځه وحی راغلی چی تاپه خپله ځان قیدته اچولی دی ځکه چی تاویلی وه: اَلسِّجْنُ اَحَبُّ اِلَیَّ یعنی ددی په نسبت زماجیل خانه زیاته خوښه ده اوکه تاعافیت غوښتی وای نو تاته به مکمل عافیت درکول سوی وای ددی ځځه معلومه سوه چی دیر لوی مصیبت ځځه دخلاصیدو دپاره په دعا کی دایی ویل چی ددی ځځه خودابنه ده چی په فلانی کوچنی مصیبت کی مااخته کړی مناسب نه دی بلکه دالله ﷻ ځځه دهری بلا اومصیبت په وخت کی عافیت غوښتل په کاردی په دی وجه نبی کریم ﷺ دصبر دعاغوښتلو ځځه یوسړی منع کی چی صبر خوپربلاء اومصیبت باندی وی نودالله ﷻ ځځه دصبر دعاغوښتلو په ځای دعافیت دعا وغواړه (ترمذی)

Maktaba Tul Ishaat.com

اودنبی کریم ﷺ اکاحضرت عباس ؓ عرض وکی چی ماته یودعاوښیه نودوی وفرمایل چی دخپل رب څخه دعافیت دعا غواړه حضرت عباس ؓ فرمایی چی یو زمانه وروسته ما بیا ډوی ته عرض وکی چی ماته یوددعا تلقین وفرمایه نووی فرمایل چی دالله ﷻ څخه ددنیا اواخرت عافیت غواړه (مظهری ازطبرانی)

اودحضرت یوسف ؑ دافرمایل چی که ته د دوی مکر اوفریب منع نه کړی نوممکنه ده چی زه د دوی طرف ته مائله سم دادنبوت دعصمت څخه خلاف نه وه ځکه چی حاصل دعصمت خو دا دی چی الله ﷻ دیوسړی دګناه څخه دخلاصیدوپه تکوینی طور سره انتظام وفرمایی اودی ګناه څخه خلاص کړی اوکه څه هم په مقتضا دنبوت سره دامقصد داول څخه حاصل وو مګر بیاهم دادب دډیری بیری څخه په دی دعا کولو مجبوره سو ددی څخه داهم معلومه سوه چی یو سړی بغیر دخدای ﷻ دامداد اواعانت څخه ګناه څخه نه سی محفوظ کیدی اوداهم معلومه سوه چی دهری ګناه کار کول په جهالت سره وی دعلم تقاضا دګناهونو څخه څان ساتل دی (قرطبی)

فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ : یعنی دده دعا دده رب قبوله کړه او ددغو ښځو مکر او حیله یی دده څخه لیری کړل بیشکه هغه لوی او ریدونکی او لوی پوهیدونکی دی .

الله ﷻ ددی ښځو دحال څخه دخلاصولو دپاره دا اسباب وفرمایل چی عزیز دمصر او دده دوستانو ته که څه هم دحضرت یوسف ؑ بزرګی تقوی او پاکدامنی په ښکاره نخښو سره معلومه سوی وه مګر په ښار کی دا خبره خپره سوه نو ددی دختمولو دپاره دوی داسی مصلحت غوره کی چی څه زمانه دی حضرت یوسف ؑ په جیل کی بندسی چی په خپل کورکی ددی شکونوځه موقع هم باقی پاته نه سی اودخلګو دخلو څخه هم دا خبره ووزی .

ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّى حِينٍ : یعنی بیاعزیز اودده مشرانو مصلحت په دی کی وګنی چی ترڅه وخته پوری دی حضرت یوسف ؑ په قید کی وساتل سی نو چنانچی جیل خانی ته ولیږل سو .

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ ۖ قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي

اوداخل سول په قید خانه کی ددده سره دوه خوانان وویل په دوی کی یوتن چی زه وینم

أَعْصِرُ خَمْرًا ۖ وَقَالَ الْآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا

چی نچوړوم شراب اوبل وویل چی زه وینم چی پورته کړم په سرخپل باندی ډوډی ،

تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ۖ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ ۖ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٦﴾

چی خوراك کوی مرغان ددی څخه وښیه مونږ ته ددی تعبیر مونږ وینو تانیکو کار ،

قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ

وویل چی رابه نه سی تاسی ته طعام کوم چی هره ورځ تاسی ته درکول کیږی مګروبه ښیم تاسی ته ددی تعبیر ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَأْتِيَكُمَا ۚ ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي ۚ إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ

دراتلو څخه اول ، دا علم دی چی ماته ښوولی دی زمارب ماپریښووی دین دهغه قوم چی

لَّا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ

ایمان نه راوړی په الله اودوی داخرت څخه منکر وی اونیولی دی مادین

آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۚ مَا كَانَ لَنَا أَن نُّشْرِكَ

دخپل پلار نیکه ګانو ابراهیم او اسحق اویعقوب نه دی لائق مونږ لره چی شریک کړو

بِاللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ ذٰلِكَ مِن فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ

الله ﷻ سره یو شی دا فضل دی دالله ﷻ په مونږ اوپه ټولو خلګو ،

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٨﴾ يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ

لیکن دیر خلګ احسان نه منی ای ، ملګرو دقید خانی ایادیر معبودان

مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ مَا تَعْبُدُونَ مِن

جلا جلا ښه دی یا الله ﷻ یو زورآور؟ .. عبادت نه کوی تاسی ماسوا ،

دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ

دهغه څخه مګر نومونه دی چی اینبی دی تاسی اوستاسی پلارنیکه نه دی نازل کړی ،

اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا

الله ﷻ په دوی څه سند حکومت نسته دچا ماسوا دالله څخه ، هغه فرمایلی دی چی عبادت مه کوی ،

إِلَّا إِيَّاهُ ۚ ذٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ

مګر دهغه ، دا ده لارسیده لیکن بیا هم دیر خلګ ،

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾ يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ

پوهیږی ، ای ملګرو دقید خانی! یو چی په تاسی دواړو کی دی نو وبه چیښی په خپل خاوند باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

خَمْرًا ۚ وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّأْسِهِ ۖ

شراب ، او دوهم چی کوم دی په داربه کړل سی نو وبه خوری مرغان دده د سر څخه ،

قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ ﴿٤١﴾ وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ

فیصله سو هغه کار دکوم تحقیق چی تاسی غوښتی ، او وویل یوسف هغه ته دکوم چی گمان وو ،

أَنَّهُ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ

چی خلاص به سی په دی دواړو کی زما ذکر وکړه خپل خاوند ته نو هیر کړه دده څخه شیطان ذکر کول خپل خاوند ته

فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

بیا پاته سو په قید کی څو کلونه

لنډتفسیر: اودیوسف علیه السلام سره (یعنی په دغه زمانه کی) نورهم دوه غلامان (دبادشاه) جیل خانی ته داخل سول (چی په دوی کی یوساقی وو دوهم ډوډی پخونکی اشپږی وو او د دوی دقید سبب داشبهه وه چی دوی په خوراك کی اوپه شرابو کی زهربادشاه ته ورکړی دی د دوی مقدمه زیر تحقیق وه په دی وجه قید سوه دوی چی په حضرت یوسف علیه السلام کی دبزرگی نخښی ولیدی نو) په دوی کی یو (حضرت یوسف علیه السلام ته) وویل چی زه خپل ځان په خوب کی (داسی) وینم چی شراب خلاصوم (یعنی دانګورو شیره دشرابو دپاره خلاصوم اوبادشاه ته یی ورکوم) اوبل وویل چی زه خپل ځان داسی وینم چی (لکه چی) پر سر ډوډی وړم (او) مرغان ورڅخه (په توتو توتو) خوراك کوی مونږ ته ددی خوب (کوم چی مونږ دواړو لیدلی دی) تعبیر وښیه ته مونږ ته نیك سړی معلومیږی یوسف (علیه السلام کله چی دا ولیدل چی داخلګ په عقیده سره ماته مائل سوی دی نووی غوښتله چی دوی ته دتولو څخه مخکی دایمان دعوت ورکول سی په دی وجه اول یی خپل نبوت په یوی معجزه سره دثابتولو دپاره) وفرمایل چی (گوری) کوم خوراك چی تاسی ته راځی کوم چی تاسی ته دخوراك دپاره (په جیل خانه کی) درکول کیږی زه ددی دراتلو څخه مخکی ددی حقیقت تاسی ته ښیم (چی فلانی شی به راځی اوداسی داسی به وی او) دانبوول دهغه علم په وجه سره دی کوم چی ماته زما رب ښوولی دی (یعنی ماته په وحی سره معلومیږی نودایوه معجزه ده چی دنبوت دلیل دی اوداوخت دامعجزه په خاص طور سره څکه مناسب وه چی په کومه واقعه کی قیدیانو دتعبیر دپاره دده طرف ته رجوع وکړه دغه واقعه هم دخوراك سره متعلق وه دنبوت ثابتولو څخه وروسته اوس مخ ته دتوحید ثابتولو مضمون بیان فرمایی چی) ماخو دهغو خلګو مذهب (دمخکی څخه) پری ایښی دی کوم چی په الله ایمان نه راوړی اودغه خلګ داخرت څخه هم منکر دی اومادخپلو (مشرانو) پلار نیکونو مذهب اختیار کړی دی دابراهیم اوداسحٰق اودیعقوب (علیهم السلام اوددی مذهب غټ رکن دا دی چی) مونږ ته په هیڅ ډول لایق نه دی چی دالله ﷻ سره یوشی (په عبادت کی) شریك کړو دا (دتوحید

Maktaba Tul Ishaat.com

) پرمونږ او (نورو) خلګو باندې (هم) دالله ﷻ یوفضل دی (چې ددی په وجه ددنیا اواخرت فلاح ده)
اکثره خلګ (ددی نعمت) شکر نه (ادا) کوی (یعنی توحید نه اختیاروی) ای دقیدخانی ملګرو! (لږ
ـکړی اووښیاست چی دعبادت دپاره) جلا جلا معبودان ښه دی یایومعبود برحق کوم چی دتولو
بردست دی هغه ښه دی تاسی خلګ خوخدای پریږدی صرف دیوځو بی حقیقته نومونو عبادت
وم چی تاسی او ستاسی پلار نیکه ګانو (دځانه) مقرر کړی دی الله ﷻ خود دوی (دمعبود کیدو) یو
ه دی رالیږلی (نه نقلی اونه عقلی او) حکم خاص دخدای دی هغه داحکم کړی دی چی بغیر دهغه
بل هیچا عبادت مه کوی داده (دتوحید اوعبادت صرف الله ﷻ دمخصوص کولو) برابره طریقه
کثره خلګ نه پوهیږی (دایمان ددعوت اوتبلیغ څخه وروسته اوس د دوی دخوب تعبیر ښیی چې)
د خانی ملګرو! په تاسی کی به یوځو (دجرم څخه بری سی) خپل مالك ته (په زړه طریقه) شراب به
ودوهم به (مجرم سی) په داربه سی اوددې سر به مارغان (په توتو توتو) وخوری اوپه کومه باره کی
سی پوښتنه کوی هغه دغه ډول په تقدیرکی مقرر سوه (چنانچی دمقدمی دصفایی څخه وروسته
ان وسوه چی یوبری ثابت سو اودوهم مجرم دواړه دجیل خانی څخه راوغوښتل سول یودازادولو
ل دسزا دپاره) او (کله چی دغه سړی دجیل خانی څخه تلی نو) دکوم سړی دازادیدو چی ګمان وو
وسف ﷺ وویل چی دخپل مالك په مخکی زماذکروکړه (چی یوسړی بی قصوره په قید کی دی
ده وکړه) بیا دده دخپل مالك په مخکی (دحضرت یوسف ﷺ) یادول شیطان هیرکړل نو (په دی
ه قید خانه کی نور هم څوکاله دی پاته سو.

ت اوهسئلي: په ذکرسوو ایتونوکی دحضرت یوسف ﷺ دقصی یوه واقعه ذکر ده داخبره تاسی بار
لومه کړي ده چی قرآن کریم نه تاریخی کتاب دی نه دقصو او داستانونو په دی کی چی کومه
، واقعه یاقصه ذکرکیږی ددی څخه مقصود صرف انسان ته عبرت اووعظ اودژوند دمختلفو
متعلق مهم هدایتونه وی په ټول قرآن اودبی شمیره انبیاء په واقعاتوکی صرف یوه قصه دحضرت
ﷺ داسی ده کومه چی قرآن پرله پسی بیان کړي ده ، کنه نودهرمقام په اعتبارسره دتاریخی
پریو ضروری جزء ذکر کولو باندی بسوالی کولی سی.

ت یوسف ﷺ قصی ته داول څخه تراخره پوری وګوری نوپه دی کی په سوونو عبرتونه وعظونه
انی ژوند دمختلفو دورونو دپاره اهم هدایتونه دی داواقعه چی په مینځ کی ذکرکیږی په دی کی
هدایتونه دی.

اسی وسوه چی کله دحضرت یوسف ﷺ دبری والی اوپاکی بالکل دواضح کیدو باوجود عزیز
ودده ښځی دبدنامی دآوازی ختمولودپاره دځه وخته پوری حضرت یوسف ﷺ جیل ته دلیږلو
وکړه کومه چی په حقیقت کی دحضرت یوسف ﷺ ددعا اوخواهش پوره کیدل وو ځکه چی
عزیز په کورکی دپاته کیدو سره دپاکدامنی محفوظ ساتل سخته مشکله معامله جوړه سوی وه
یوسف ﷺ چی جیل ته ورسیدی نوددې سره دوه مجرمان قیدیان نور هم داخل سول په دوی کی
ناه ساقی اوبل اشپزی وو ابن کثیر دتفسیر دامامانو په حواله لیکلی دی چی دادواړه په دی الزام

Maktaba Tul Ishaat.com

کی گرفتار سوی وه چی دوی بادشاه ته په خوراك وغیره کی دزهرو ورکولو کوشش کړی وو دمعاملی تحقیق کیدی په دی وجه دادواړه جیل ته ولیږل سوه.

حضرت یوسف ﷺ چی جیل ته داخل سو نودخپل پیغمبرانه اخلاقو او رحمت اوشفقت په سبب دټولو قیدیانو دلداری اوخبرګیری یی کوله څوك چی به ناجوړه سول دهغه پوښتنه اوخدمت به یی کوی څوك چی به یی غمجن اوپریشانه ولیدی تسلی به یی ورکوله اود صبر تلقین اودازادی په امید به یی دده زړه لویوی په خپله به یی تکلیف تیروی اونورو ته به یی دارام رسولو فکر کوی اوټوله شپه به دالله ﷻ په عبادت کی مشغول وو دده دا حالت چی یی ولیدی نو دجیل ټول قیدیان دده دبزرګی معتقد سول دجیل افسر هم ورڅخه متاثره سو هغه وویل که زما په اختیارکی وای نو ما به ته ازاد کړی وای اوس دومره کولی سم چی تاته به دلته هیڅ تکلیف ونه رسیږی.

عجیبه فائده: دجیل افسر یاپه قیدیانوکی چاحضرت یوسف ﷺ نه دخپل عقیدی او محبت اظهاروکی چی زمونږ ستاسره محبت دی نوحضرت یوسف ﷺ وفرمایل چی دخدای دپاره زماسره محبت مه کوی ځکه چی کله چازما سره محبت کړی دی نوپر ما افت راغلی دی په کوچنی والی راسره خاله محبت وکی نودغلا الزام راباندی ولګیدی بیاراسره پلار محبت وکی نودورونو دلاسه دځاه په قید بیاپه غلامی اوجلا وطنی کی ګرفتار سوم دعزیز ښځی راسره محبت وکی نودی جیل ته راورسیدم (ابن کثیر مظهری)

دادوه قیدیانوکوم چی دحضرت یوسف ﷺ سره جیل ته تللی وه یوه ورځ دوی وویل چی ته مونږ ته نیك اوصالح بزرګ معلومیږی په دی وجه مونږ ستا ځخه دخپل خوب تعبیر غواړو حضرت ابن عباس ﷺ اوځینی نور دتفسیر امامان فرمایی چی داخوب دوی په حقیقت کی لیدلی وو حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایی چی خوب هیڅ نه وو محض دحضرت یوسف ﷺ دبزرګی اورښتنوالی دازمائش دپاره یی خوب جوړ کړی وو.

په هرحال په دوی کی یو یعنی شاهی ساقی داوویل چی ماپه خوب کی ولیدل چی زه دانګورو ځخه شراب باسم اودوهم یعنی اشپزی وویل چی پرخپل سرمی دډوډی توکری را اخستی ده اومرغان باندی کښینی اوخوری یی اودرخواست یی وکی چی مونږته ددی دواړو خوبونو حقیقت وښیه.

دحضرت یوسف ﷺ ځخه دخوبونو دتعبیر پوښتنه کیږی مګر دوی په پیغمبرانه انداز سره ددی سوال دجواب ځخه مخکی دتبلیغ اوددعوت دایمان کار شروع کړی اوددعوت تراصولو لاندی دحکمت اوپوهی ځخه کار اخلی دټولو ځخه اول ددی خلګو په زړونو کی دخپل اعتماد پیدا کولو دپاره یی دخپلی دی معجزی ذکروکی چی ستاسی دپاره چی کم خوراك ستاسی دکورونو ځخه یادبل ځای ځخه راځی ددی دراتلو ځخه مخکی زه تاسی ته ښیم چی څه قسم خوراك څنګه اوځومره اوڅه وخت به راځی او هغه به صحیح هم دغه شان وخیژی.

ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِیْ رَبِّیْ: اوداڅه درمل جعفر یادکهانت وغیره ټوټکه نه ده بلکه زمارب یی په ذریعه دوحی ماته ښیی زه ددی اطلاع تاسی ته درکوم اودایوه ښکاره معجزه وه کومه چی دنبوت دلیل اوداعتماد دپاره ډیرلوی سبب دی ددی ځخه وروسته اول دکفر بدوالی اودکافرانو ددین ځخه یی خپله بیزاری بیان

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبیایی داوریاده کړه چی زه دنبوت دخاندان یوفرد اوددی حق دین یابنده یم زما پلاران نیکه ګان هیم اسحٰق اویعقوب علیهما السلام دی داخاندانی شرافت هم عادتًا پرانسان باندی داعتماد پیداکولو مه وی ددی څخه وروسته یی وښوولە چی زمونږ دپاره په هیڅ شان جائز نه دی چی مونږ دالله ﷻ سره څوك دده په خدایی صفتونوکی شریك وګڼو بیافرمایی چی ددی حق دین توفیق پرمونږ اوپه ټولو کو دالله ﷻ فضل دی چی هغه مونږ ته برابره پوهه راکړه دحق قبلول یی زمونږ دپاره اسان کړه مګر خلګ ددی نعمت قدر اوشکر نه کوی.

ی ددی قیدیانو څخه پوښتنه وکړه چی ښه ده تاسی ووایاست چی انسان دډیرو خدایانو عبادت کوی مه دی یاداچی دیوالله بنده جوړسی؟ دکوم قهر اوقوت چی په ټولو غالب دی بیا دبُت پرستی بدوالی په یوه بله طریقه سره داوښووی چی تاسی او ستاسی پلرونه نیکه ګان چی څه بتان یی خپل خدایان ی دی داخو صرف نومونه دی کوم چی تاسی جوړکړی دی نه په دوی کی ذاتی صفتونه ددی قابل دی دوی دځه ادنٰی طاقت اوقوت مالکان وګڼل سی څکه چی داټول بی حس اوحرکت والادی داخبره خو ستړګو لیدل کیږی دوهمه لار د دوی دحق معبود والی داکیدی سوه چی الله ﷻ د دوی دعبادت دپاره کام نازل کړی وی نوکه څه هم په ښکاره اوپه عقل سره د دوی خدای نه سوای منل کیدی مګر دالله ﷻ کم په وجه سره به مونږ خپله ظاهری مشاهده پاته ګوله دالله ﷻ حکم به مومنی مګردلته هغه هم نسته نه چی الله ﷻ د دوی دعبادت دپاره یودلیل نه دی نازل کړی بلکه هغه دانبوولی ده چی حکم ﻫکومت ماسوا دالله ﷻ څخه دبل هیچا حق نه دی اوحکم یی داکړی دی چی دده څخه ماسوا دبل چا ادت مه کوی داهغه برابر دین دی کوم چی زما پلار اونیکه ګانو ته دالله ﷻ دطرف څخه ورکول سوی ، مګر اکثره خلګ په دی حقیقت نه پوهیږی.

سرت یوسف علیه السلام دخپل تبلیغ اودعوت څخه وروسته ددغو خلګو دخوبونو طرف ته متوجه سو اووی ایل چی په تاسی کی یوخوبه ازادسی اوبیابه پرخپله نوکری ودریږی اوپه بادشاه به شراب چښی اوپر هم به جرمت ثابت سی اوپه دار به سی اومرغان به دده غوښی توتی توتی په مشوکه خوری.

غمبرانه شفقت عجیبه مثال: ابن کثیر فرمایی چی که څه هم ددی دواړو خوبونه جلا جلا وه اودهر یوه یر ښکاره وو اوداهم متعینه وه چی دبادشاه ساقی به ازاد سی په خپلی نوکری به ودریږی اواشپزی به دارسی مګر دپیغمبرانه شفقت اونرمی په وجه سره یی متعین نه کی اووی نه ښووی چی په تاسی کی ﻠانی په دارسی ددی دپاره چی دی داوس څخه په غم کی نه ویلی کیږی بلکه په اجمالی طور یی سی وفرمایل چی په تاسی کی به یوازاد سی اوبل په دار سی.

اخرکی فرمایی چی ماستاسی دخوبونوچی کوم تعبیر درکړی دی دامحض اتکل او په تخمین سره نه بلکه داخدایی فیصله ده کومه چی واپس کیدی نه سی کومو مفسرینو حضراتو چی د دوی خوبونو غلط اودځانه جوړویلی دی دوی داهم فرمایلی دی چی کله حضرت یوسف علیه السلام دخوبونو تعبیر وښووی ی دواړو وویل چی مونږ خوهیڅ خوب هم نه دی لیدلی محض خبره موجوړه کړی وه نوپردی باندی سرت یوسف علیه السلام وفرمایل: قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ : برابره خبره که تاسی دا خوب لیدلی وی اوکه نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وی اوس به واقعه هم دغه شان کیږی کوم چی بیان سوه مقصد دا دی چی ددروغو دخوب جوړولو کومه گناه چی تاسی کړی وه اوس دهغه سزا داده کومه چی دخوب په تعبیر کی بیان سوه.

بیا دکوم سړی متعلق چی حضرت یوسف ﷺ دخوب دتعبیر مطابق دازادی خیال گنلی وو چی دی به ازادسی هغه ته یی وویل چی کله ته ازادسی اودبادشاه دربارته ورسیږی نوخپل بادشاه ته زماهم ذکروکړه چی هغه بی گناه په قید کی پروت دی مگر دی سړی ته دازادیدو څخه وروسته دحضرت یوسف ﷺ داخبره یاده پاته نه سوه ددی نتیجه داسوه چی دحضرت یوسف ﷺ په ازادیدوکی نورهم وخت ولگیدی اوځو کاله ددی واقعی څخه وروسته نورهم په جیل کی پاته سو دلته په قرآن کی لفظ د: بِضْعَ سِنِيْنَ راغلی دی دالفظ ددرو څخه ترنهو پوری صادق کیدی سی ځینی تفسیرلیکونکی فرمایی چی ددی واقعی څخه وروسته اووه ۷ کاله نور په قید کی پاته سو.

احکام اومسئلي: «ذکرسوو ایتونو څخه ډیراحکام اومسئلی اوفائدی اوهدایتونه حاصلیږی فکرباندی وکړی»

اوله مسئله: داده چی حضرت یوسف ﷺ جیل ته ولیږل سو کوم چی دمجرمانو اوبدمعاشانوخای دی مگر حضرت یوسف ﷺ د دوی سره هم دښو اخلاقو اوښه ژوند تیرولو هغه معامله وکړه چی په دی سره داټول دده عقیدتمند سول ددی څخه معلومه سوه چی دمصلحینو دپاره لازمه ده چی دمجرمانو خطاکارانو سره دشفقت اوهمدردی معامله وکړی دوی څان ته مائله کړی اوپه هیڅ وخت کی دی دنفرت اظهار ونه کړی.

دوهمه مسئله: دایت دجملی: اِلَّا لَكَ مِنَ الْمُخْسِنِيْنَ څخه دا معلومه سوه چی دخوب تعبیر دداسی خلگو څخه معلومول په کاردی پرکوموچی دنیک صالح اوهمدردوالی اعتماد وی.

دریمه مسئله: دامعلومه سوه چی دحق ددعوت ورکوونکو اودخلگو اصلاح کوونکو طرز عمل داسی په کار دی چی اول دخپلو ښو اخلاقو اوعملی کمالاتو په ذریعه دالله ﷻ په مخلوق باندی خپل اعتماد قائم کړی برابره خبره ده که په دی کی ده ته څه دخپلو کمالاتو اظهار کول هم وغواړی لکه حضرت یوسف ﷺ چی په دی موقع خپله معجزه هم ذکرکړه او دایی هم ښکاره کړه چی دوی دنبوت دخاندان یو فرد دی دکما ل اظهارکه دخلگو داصلاح په نیت سره وی دخپلی ذاتی لویی ثابتولو دپاره نه وی نودا هغه تزکیه دنفس نه ده دکمی ممانعت چی په قرآن کریم کی راغلی دی: فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ یعنی دخپلی پاک نفسی اظهار مه کوی «مظهری»

څلورمه مسئله: دتبلیغ اوارشاد یواهم اصول یی داوښووی چی ددعوت ورکوونکی او اصلاح کوونکی فرض دی چی هروخت په هرحال کی خپله ددعوت اوتبلیغ وظیفه دتولوکارونو څخه مخکی کوی چی څوك ده ته دهریوکاردپاره چی راسی خودی خپل اصلی کارنه هیروی لکه حضرت یوسف ﷺ ته چی داقیدیان دخوب دتعبیر معلومولو دپاره راغلل نوحضرت یوسف ﷺ دخوب دتعبیردجواب څخه مخکی ددعوت اوتبلیغ په ذریعه دوی ته دهدایت تحفه ورانډی کړه دا دی نه گنی چی دعوت اوتبلیغ په یو جلسه منبر یا استیج باندی کول کیږی بلکه په شخصی ملاقاتونو اودتنهایی په خبرو اترو کی داکار ډیر اثر کوونکی وی.

پنځمه مسئله: هم ددی ارشاد اواصلاح سره متعلق ده چی په حکمت سره هغه خبره کوی کومه چی داوریدونکی زړه ته لویږی لکه حضرت یوسف ﷺ چی دوی ته داوښوولە چی ماته چی داځه کمال

Maktaba Tul Ishaat.com

ل سو داددی نتیجه ده چی مادکفر دین پرینبووی اوداسلام دین مې اختیارکی اوبیا یی دکفر
ک خرابی زړه ته په پریوتونکی انداز کی بیان کړه .

مسئله: ددی څخه داثابته سوه چی کومه معامله دمخاطب دپاره تکلیف ورکوونکی اوناخوښه وی
ه اظهارضروری وی نودمخاطب په مخکی ترڅوپوری چی ممکنه وی په داسی اندازکی دی ذکرسی
ه ته تکلیف ترکم لا کم ورسیږی لکه دخوب په تعبیر کی چی دیوسړی هلاکت متعین وو مګر
ت یوسف ﷺ مبهم پاته کی دایی ورته په ډاګه ونه ښووی چی ته به په دار سی (ابن کثیر مظهری،

مسئله: دا ده چی دحضرت یوسف ﷺ دجیل څخه دخلاصی دپاره دی قیدی ته وویل چی کله
ه ته ولاړسی نوزما ذکر ورته وکړه چی دی بی ګناه په جیل کی دی ددی څخه معلومه سوه چی دیو
ت څخه دخلاصون دپاره یو سړی ته دکوشش واسطه جوړول دتوکل څخه خلاف نه دی .

مسئله: دا ده چی دالله ﷻ دخپلو غوره سوو پیغمبرانو دپاره هرجائز کوشش هم خوښ نه دی چی
ان دخپل خلاصون ذریعه جوړه کړی د دوی اودالله ﷻ په مینځ کی دڅه واسطی نه راتلل دانبیاوو
مقام دی شاید په دی وجه دی قیدی دحضرت یوسف ﷺ داخبره هیره کړه اودی زیات څوکاله په
کی پاته سو لکه چی په یوحدیث کی هم نبی کریم ﷺ دی طرف ته اشاره فرمایلی ده .

ى الْمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ

ل بادشاه ماپه خوب کی ولیدی اووه غواګانی چاغی چی خوری دوی اووه غواګانی خواری اواووه اوړی شنه

خَرَ يَٰبِسَٰتٍ ۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ أَفْتُونِى فِى رُءْيَٰىَ إِن كُنتُمْ

وچ ، ای درباریانو! تعبیر راکړی ماته زما دخوب که تاسی ،

ءْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾ قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ

تعبیر کوونکی یاست؟ ، وی ویل داخیالی خوبونه دی اومونږته ددی خوبونو ،

حْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ ٱلَّذِى نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ

معلوم نه دی ، او وویل هغه کوم چی خلاص سوی وه ددی دواړوڅخه اویاد سو ده ته یوه موده وروسته ،

ةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾ يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ

زه به ونښیم تاسی ته ددی تعبیر نو تاسی ما ولیږی ، ولاړی وی ویل ای یوسفه ای رښتنیه!

نَا فِى سَبْعِ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ

Maktaba Tul Ishaat.com

سُنۢبُلٰتِهٖۤ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ لَّعَلِّيْۤ اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ

اوږی شنه اونور وچ ، چې زه خلګو ته یوسم ،

لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا

شاید دوی ته معلوم سی وی ویل تاسی به کرونده وکړی اووه کاله پرله پسی ، نو څه

حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِيْ سُنْۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ

چې وریبی هغه پریږدی په اوږو کی مګر لږ څه کوم چې تاسی خوری بیابه ،

يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ

راسی ددی څخه وروسته اووه کاله دسختی چې وبه خوړل سی کوم چې تاسی ددی دپاره

لَهُنَّ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ﴿۴۸﴾ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

اینبی وه مګر لږ څه کوم چې به تاسی کړی ، بیا به راسی ددی څخه وروسته یو

عَامٌ فِيْهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيْهِ يَعْصِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ ع وَقَالَ الْمَلِكُ

کال چې په دی کی به باران وسی پر خلګو او په دی کی به رس نچوړ کړی ، او وویل بادشاه ،

ائْتُوْنِيْ بِهٖ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰى رَبِّكَ

را ولی دی ماته ، نو هر کله چې ورسیدی ده ته قاصد وی ویل ولاړ سه خپل مالک ته

فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ؕ اِنَّ

نو پوښتنه وکړه ورڅخه چې څه دی حال دهغو ښځو کوموچې پریکړی وه خپل لاسونه زما ،

رَبِّيْ بِكَيْدِهِنَّ عَلِيْمٌ ﴿۵۰﴾

رب د دوی په ټول فریب ښه پوه دی

لنډتفسیر: اوبادشاه دمصر (هم یوخوب ولیدی اودحکومت ارکان یی جمع کړل دوی ته یی) وویل چې زه (په خوب کی) وینم چې اووه غواګانی چاغی دی کومی چې اووه خواری غواګانی خوری او اووه اوږی

Maktaba Tul Ishaat.com

ی اوددی څخه علاوه اووه نوردی چی وچ دی (او دغه اووه اوړی دغه ډول پرهغو اوو شنو
چل سول هغه یی وچ کړل) ای ددربار خلګوکه تاسی (دخوب) تعبیر ورکولی سی نوزما ددی خوب
ه کی ماته جواب راکړی؟ هغوی وویل چی (اول خوداڅه خوب نه دی چی ته یی فکر کوی) هسی
نه خیالات دی او (دوهم) مونږ خلګ (چی دحکومت په کارونوکی ماهران یو) دخوبونو دتعبیر علم
لرو (دوه جوابونه یی ځکه ورکړل چی په اول جواب سره دبادشاه دزړه څخه پریشانی اووسوسی
کول دی اوپه دوهم جواب سره خپل عذر ښکاره کول دی لنډه داده چی اول خوداسی خوب دتعبیر
ه دی دوهم مونږ په دی فن کی ماهران نه یو) اوپه دغو (ذکرسوو) دوو قیدیانوکی چی کوم ازاد
وو (هغه په مجلس کی حاضروو) هغه وویل اودمودی څخه وروسته ده ته (دیوسف دوصیت) خیال
زه ددی دتعبیر خبر راوړم تاسی ماته لږ دتلو اجازه راکړی (نوددربار څخه اجازه ورته وسوه اودی
انی ته ولاړی اوحضرت یوسف ﷺ ته یی وویل) ای یوسفه! ای ربښتنیه! ته مونږ ته ددی (خوب
(یعنی تعبیر) راکړه چی اووه غواګانی چاغی دی دوی اوو خواروغواګانو وخوړلی او اووه اوړی
ی اوددی څخه علاوه (اووه) وچ دی (چی داوچ پرهغو شنو راوپیچل سول هغه یی هم وچ کړل ته
عبیر ووایه) چی زه (چاچی رالیږلی یم) هغوی ته بیرته ولاړسم (اوبیان یی کړم) ددی دپاره چی (په
بیر اوپه دی سره څال) دوی ته هم معلوم سی (دتعبیر موافق کار وکی اوستا دخلاصون یو صورت
ی) دوی وفرمایل چی (ددی اوو چاغو غواګانو او اووه شنو وړو څخه مراد دپیداوار اودباران
دی پس) تاسی اووه کاله متواتر (ښه) غله وکړی بیاچی کوم فصل وریبی هغه په اوړو کی پریږدی
ینجی نه په کښی لګیږی) البته مګر لږڅه کوم چی ستاسی دخوراك په کار درځی (دغه به مودوړو
ایستلی وی) بیاددی (اووه کلونو) څخه وروسته اووه کلونه به داسی سخت (اودقحط) راسی په
کی چی به دا (ټوله) ذخیره وخوری کومه چی تاسی ددی کلونو دپاره جمع کړی وی مګر لږڅه کوم
تخم دپاره) پریږدی هغه به پریږدی (اوددی اوو وړو وچو اوخوارو غواګانو څخه اشاره ددی اوو
طرف ته ده) بیا ددی (اووکلونو) څخه وروسته یوکال به داسی راسی چی دخلګودپاره به په کښی
ان وسی اوپه دی کی (په وجه ددی چی انګورو به په کښی زیات وی) شیره (دانګورو) به هم خلاصه
شراب به چښی غرض داچی دغه سړی داتعبیر دربار ته ورسوی) او (ولاړی بیان یی کی) بادشاه
اوریدی نوده دعلم اوفضل معتقد سو او) حکم یی وکی چی دی ماته راولی (نوقاصد پسی روان
باچی کله ده ته قاصد ورسیدی (اوپیغام یی ورکی نو) ده وفرمایل چی (ترڅو پوری زما ددی تهمت
ری کیدل اوبی قصوره کیدل ثابت نه سی زه نه ځم) نوخپل باچاته بیرته ورسه بیا دهغه څخه پوښتنه
چی (تاسی ته څه خبرسته چی) دهغو ښځو څه حال دی کومو چی خپل لاسونه پریکړی وه (مطلب
چی دوی راوبولی اودهغه واقعی په کومه کی چی زه قید سوی یم تفتیش اوتحقیق وکړی اود ښځو
څخه مراد ددوی دحضرت یوسف ﷺ دحال څخه خبریدل یانه خبریدل دی اوددی ښځوتخصیص یی
ی په دی وجه سره کړی وی چی د دوی په مخکی زلیخا اقرار کړی وو: وَلَقَدْ رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ
ددی ښځو دفرقی فریب دیرښه پیژنی (یعنی الله ﷻ ته خومعلومه ده چی دزلیخا پرما تهمت لګول

Maktaba Tul Ishaat.com

فریب وو مگر دخلقو په مخکی هم ددی صفایی مناسب ده چنانچی باچا دغه ښځی حاضری کړی،

معلومات اومسئلي: په ذکرسوو ایتونوکی دابیان سوی دی چی بیا الله ﷻ دحضرت یوسف ﷺ دخلاصون دپاره دغیبو څخه یوصورت داپیداکی چی دمصر باچا یوخوب ولیدی چی په دی سره دی پریشانه سو دخپل حکومت تعبیر کوونکی عالمان اوکاهنان یی راجمع کړل اودخوب دتعبیر پوښتنه یی وکړه په دغه خوب هیڅوك پوه نه سول نوتړلو جواب ورکی چی: أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ اَضْغَاثٌ دَضِغْثٌ جمع ده داسی یوبارته ویل کیږی چی په هغه کی مختلف قسم خس اوخاشاك گیاه وغیره جمع وی. معنی دا ده چی داخوب څه گډوډ دی چی خیالات وغیره په کښی شامل دی اومونږ ددا سی خوبونو تعبیرنه پیژنو که صحیح خوب وای نوتعبیر به یی مونږ ښوولی وای

ددی واقعی دلیدو څخه ډیر وروسته دی ازاد سوی قیدی ته دحضرت یوسف ﷺ خبره وریاده سوه اودی وروړاندی سو اووی ویل چی زه به تاسی ته ددی خوب تعبیر وښیم دا وخت ده دحضرت یوسف ﷺ دکمالاتو اودخوبونو په تعبیر کی دمهارت اوبیا دده بی گناه قیدیدل ذکرکړل اودایی وغوښتل چی ماته دی په جیل خانه کی دده سره دلیدو اجازه راکول سی باچا ددی انتظام وکی هغه حضرت یوسف ﷺ دَ فَأَرْسِلُونِ سره بیان کړي ده چی معنی یی داده ماولیږه دحضرت یوسف ﷺ ذکر بیا سرکاری منظوری اوبیا جیل خانی ته رسیدل داواقعات په خپله په ضمنی طور سره معلومیدی سی په دی وجه یی ددی دبیانولو ضرورت ونه گنی بلکه دابیان یی شروع کی.

يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ: یعنی دغه سړی جیل خانی ته ورسیدی حضرت یوسف ﷺ ته یی دواقعی اظهار داسی شروع کی چی اول یی دحضرت یوسف ﷺ دصدیق یعنی په قول او فعل کی درښتنوالی اقراروکی اوبیایی درخواست وکی چی ماته دیوخوب تعبیر وښیه خوب دا دی چی باچا دالیدلی دی چی اووه چاغ غوایان دی چی نور اووه غوایان یی خوری اوداخورونکی غوایان خوار اوکمزوری دی دارنګه اووه دغنمو شنه وړی دی او اووه وچ دی.

دی سړی دخوب بیانولو څخه وروسته وویل: لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ یعنی ته تعبیر وښیه نوممکنه ده چی زه دغو خلګوته ولاړسم اودوی ته تعبیر وښیم اوممکنه ده چی هغوی دغه شان ستا دفضل اوکمال څخه خبر سی.

په تفسیر مظهری کی دی چی دواقعاتوکوم صورتونه چی په عالم مثال کی وی هغه انسان ته په خوب کی په نظرراځی په دی عالم کی ددی صورتونو خاص معنی وی دخوب دتعبیر دفن ټول دارو مدار پردغو پیژندلو باندی دی چی دفلانی مثالی صورت څخه په دی عالم کی څه مرادوی الله ﷻ حضرت یوسف ﷺ ته دافن مکمل ښوولی وو ده چی خوب واوریدی نوپوه سو چی اووه چاغ غوایان اوداوو شنو وړو څخه مراد اووه کلونه دی چی پیداوار به په کښی ددستور مطابق اوسی ځکه چی دغوایانو دمخکی دارولو سره اودغلی پیداکولو سره خاص تعلق دی دغه شان داوو کمزورو غوایانو او اوو وچو اوړو څخه مراد دا دی چی داولنیو اوو کلونو څخه وروسته به اووه کلونه دقحط راځی اود کمزورو اوو غوایان چاغ دخوړلو څخه مراد دا دی چی په اولنیو اوو کلونوکی کومه ذخیره جمع سوی وی دغلی هغه به ټوله ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

حط په کلونو کی خرځه سی صرف دتخم دپاره به یوه غله ورځخه پاته سی.
باچا دخوب ځخه خوپه ښکاره دومره معلومه سوی وه چی اووه کاله به ښه پیداوار وسی بیابه اووه کاله
قحطی وی مگر حضرت یوسف ﷺ پردی یوه اضافه دابیان وفرمایله چی دقحطی دکلونو ځخه وروسته
ه بیایو کال ښه باران اوپیداوار وسی ددی علم حضرت یوسف ﷺ ته یا خوددی ځخه وسو چی کله
قحطی کلونه اووه دی نودالله ﷻ دعادت مطابق اتم کال به دبارن اودپیداواروی اوحضرت قتاده
رمایی چی په ذریعه دوحی حضرت یوسف ﷺ ته ددی اطلاع وسوه ددی دپاره چی دخوب دتعبیر ځخه
م یو زیات خبردوی ته ورسیږی چی په دی سره دحضرت یوسف ﷺ فضل اوکمال ښکاره سی دده
ازادیدو سبب جوړسی اوپردی زیاته داوسوه چی حضرت یوسف ﷺ صرف دخوب په تعبیر بسوالی ونه
رمایی بلکه ددی سره یی یوه حکیمانه اوهمدردانه مشوره هم ورکړه هغه داچی په اولو اوو ورځو کی کم
یات پیداوار وسی دادغنمو په وړو کی محفوظ کړی چی دغنمو په زړیدو چینجی په کښی ونه سی دا
تجربی خبره ده چی ترځو پوری غله په وړی کی دننه وی چینجی نه په کښی لګیږی.
م یَأْتِی مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ یَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ یعنی داولنیو اووکالو ځخه وروسته به بیا اووه کاله سخت
خشك سالی اودقحط راسی چی مخکی جمع سوی ذخیره به په کښی وخوړل سی په خوب کی چونکه
الیدل سوی وه چی خوارو غوایانوچاغ غوایان وخوړل په دی وجه دخوب په تعبیرکی یی داوفرمایل چی
قحطی په کلونو کی به دتیرو کلونو جمع سوی ذخیره وخوړل سی.
قصی دسیاق ځخه ښکاره ده چی دی سړی دخوب تعبیر دحضرت یوسف ﷺ ځخه معلوم کی بیرته
لاړی اوباچاته یی خبر ورکی هغه په دی مطمئن سو اودحضرت یوسف ﷺ دفضل اوکمال معتقد سو
ګرقرآن کریم ددی ټولو شیانو دذکرکولو ضرورت نه دی ګڼلی ځکه چی دادځانه معلومیدی سی ددی
ځخه وروسته واقعه یی داسی بیان کړه: وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِی بِهِ یعنی باچا حکم ورکی چی حضرت یوسف ﷺ
ی دجیل خانی ځخه راوایستل سی اودربارته دی راوستل سی چنانچه دباچا یوقاصد داپیغام یو وړی
وجیل خانی ته ورسیدی.
وقع په ظاهره ددی وه چی حضرت یوسف ﷺ داورډ جیل تیرولو ځخه سترې سوی وو خلاص یی
وښتی کله چی دباچا پیغام درابللو دپاره ورسیدی نوچی فوراً ورسره راروان سوی وای مگر الله ﷻ
ی خپلو پیغمبرانو ته کوم لوړ مقام ورکوی په هغه نور خلګ پوه هم نه وی قاصد ته یی داجواب ورکی
لَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِی قَطَّعْنَ أَیْدِیَهُنَّ إِنَّ رَبِّی بِكَیْدِهِنَّ عَلِیمٌ یعنی حضرت یوسف ﷺ قاصد ته
ویل چی ته خپل باچا ته ولاړسه اول داپوښتنه وکړه چی ستا په نزد دهغو ښځو معامله ځنګه ده کومو
ی خپل لاسونه پریکړی وه ایاپه دی واقعه کی دوی ما مشتبه ګڼی اوماقصور وار ګرځوی؟
لته دا خبره هم دفکر قابله ده چی دغه وخت حضرت یوسف ﷺ دهغو ښځو ذکر وکی کومو چی لاسونه
ریکړی وه دعزیز دښځی نوم یی وانه خستی کوم چی اصل سبب وو په دی کی ددی حق رعایت وو کوم
ی دعزیز په کورکی په پرورش پیدا کیدو سره فطرتًا دیو شریف انسان دپاره دلحاظ قابل وی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

کی ددی ښځو هم زیاته رسوایی نه وه که دوی دربښتنی خبری اقرار هم وکی نوصرف دمشوری مجرمانی به سی په خلاف دعزیز دښځی څخه چی که دا دتحقیقاتو نښانه جوړه سی نوددی رسوایی زیاته ده اوددی سره حضرت یوسف ﷺ وفرمایل اِنَّ رَبِّیْ بِکَیْدِهِنَّ عَلِیْمٌ یعنی زماپروردګار خود دوی په دروغو اومکر فریب پوه دی زه غواړم چی باچا هم دواقعی دحقیقت څخه خبرسی چی په دی کی په یوباریك انداز سره دخپل بری کیدو اظهار هم دی.

په دی موقع په صحیح بخاری اوجامع ترمذی کی په روایت دحضرت ابوهریره ﷺ په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل دی چی که زه دومره موده په جیل کی پاته سوی وای څومره چی حضرت یوسف ﷺ وو اوبیازه دازادیدو دپاره را بلل سوی وای نو فوراً به می قبوله کړی وای.

اودامام طبری په روایت کی دالفاظ دی چی دحضرت یوسف ﷺ صبر اوتحمل اونبه اخلاق دتعجب قابل دی چی کله دده څخه په جیل کی دباچادخوب تعبیروپوښتل سونوکه زه دده پرځای وای نومابه دتعبیر ښوولو دپاره داشرط مقرر کړی وای چی اول می دجیل څخه وباسی بیابه تعبیر وښییم بیاچی کله قاصد دازادی پیغام راوړی که زه دده په ځای وی فوراً به دجیل ددروازی طرف ته روان سوی وای (قرطبی)

په دی حدیث کی داخبره دفکرقابله ده چی منشاء دحدیث دحضرت یوسف ﷺ دصبر تحمل اوښو اخلاقو تعریف اومدح کول دی مگرددی په مقابله کی کوم صورت حال چی نبی کریم ﷺ دخپل ځان طرف ته منسوب کړی دی فرمایی چی که زه وای نووخت به می نه وای اړولی که ددی مطلب داوی چی نبی کریم ﷺ دحضرت یوسف ﷺ دی طرز عمل ته ښه وایی اوپه خپل شان کی فرمایی چی زه وای نوپه دی غوره به می عمل نه وای سوی بلکه ددی په مقابله کی به می مفضول (یعنی ناخوښه) اختیارکړی وای کوم چی په ښکاره دافضل الانبیاء علیه السلام دشان سره مناسب نه دی ددی په جواب کی داهم ویل کیږی چی نبی کریم ﷺ بیشکه دټولو انبیاووځخه افضل دی مگرپه یو جزوی عمل کی په ده باندی دیو بل پیغمبر ښه والی ددی منافی نه دی. ددی څخه علاوه لکه چی په تفسیر قرطبی کی فرمایل سوی دی داهم کیدی سی چی دحضرت یوسف ﷺ په طریق کار کی دده دصبر اوتحمل اوښو اخلاقو عظیم الشان ثبوت دی اودا پرخپل ځای ډیر ښه تعریف قابل دی لیکن نبی کریم ﷺ چی کوم طرف دکار خپل ځان ته منسوب کړی دی دامت دتعلیم اوعوامو دخیرخواهی دپاره مناسب اوغوره ده ځکه چی دباچاهانو دمزاج هیڅ اعتبار نه وی په داسی موقع شرطونه لګول وخت اړول دعامو خلګو دپاره مناسب نه وی احتمال دی چې دباچا رایه بدله سی اوبیا دادجیل مصیبت پر ځای قائم پاته سی حضرت یوسف ﷺ ته خوپه وجه دخدای درسول کیدو داعلم دالله ﷻ دطرف څخه هم کیدی سی چی په دی تاخیرکی به څه نقصان نه وی لیکن نورو ته خودا درجه حاصله نه ده درحمة للعٰلمین ﷺ په مزاج اومذاق کی دعام خلګو دبهبود اهمیت زیات وو په دی وجه یی وفرمایل چی که ماته داموقع راکول سوی وای نووخت به می نه وای تیر کړی وای. والله اعلم

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُنَّ يُوسُفَ عَنْ نَفْسِهِ ۚ قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا

وویل باچا ښځوته څه حقیقت دی ستاسی کله چی تاسی وغولاؤ یوسف دخپل نفس دحفاظت څخه وویل دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

پناه په خدای مونږ ته معلومه نه ده ،

عَلَيْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ۫ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ

په ده کی یوه بدی ، وویل ښځی دعزیز اوس ښکاره سوه رښتیا ماپارولی وو دی

عَنْ نَّفْسِهٖ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۵۱﴾ ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ اَنِّيْ

دخپل نفس څخه اوهغه رښتنی دی یوسف ووویل داځکه چی عزیز ته معلومه سی چی ،

لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۲﴾

ماغلانه ده کړی دده په پټه اودا چی الله ﷻ نه کامیابوی فریب دخیانت کوونکو

لنډتفسیر: وی ویل چی ستاسی څه واقعه ده کله چی تاسی دیوسف ﷺ څخه دخپل مطلب خواهش وکی یعنی یوی خواهش وکی اونورو یی مدد وکی چی دیوکار مدد هم دکار په شان دی دغه وخت ستاسی څه حقیقت سو؟ شاید باچا په دی طور داپوښتنه څکه کړی وی چی مجرم واوری چی باچا ته دومره خبره معلومه ده چی یوی ښځی ده ته دخپل مطلب پوره کولو خبره کړی وه شاید چی ددی نوم ورته هم معلوم وی پس په دی حالت کی انکار ونه سی اوشاید چی په دی شان سره په خپله اقرار وکړی، ښځو جواب ورکی چی پناه په خدای مونږ ته په ده کی یوه ذره هم دبدی خبره نه ده معلومه سوی (دی بالکل پاك صاف دی شاید ښځو دزلیخا هغه اقرار څکه نه وی ښکاره کړی چی مقصود دحضرت یوسف ﷺ دپاکدامنی ثبوت وو اوهغه حاصل سو یازلیخا مخامخ وه نوحیا مانعه سوه چی ددی نوم واخلی، دعزیز ښځی (کومه چی حاضره وه، ووویل چی اوس حقه خبره (پرتولو) ښکاره سوه (اوس یی پتول بی کاره دی رښتیا داده چی) ماده څخه دخپل مطلب خواهش کړی وو (نه چی ده لکه چی ما الزام لګولی وو: مَاجَزَاءُ مَنْ) وبیشکه هغه رښتنی دی (اوغالباً چی ددی کار اقرار کول زلیخاته دمجبوری څخه مخ ته راغلل غرض اچی دمقدمی تول صورت اواظهارونه اودحضرت یوسف ﷺ دبری کیدلو ثبوت ده ته ولیږل سو اوبیان سو دغه وخت) یوسف ﷺ وفرمایل چی داتول اهتمام (کوم چی ما وکی) محض په دی وجه سره وو چی عزیز ته په (زیات) یقین سره معلومه سی چی ما دده په غیر موجودګی کی دده پرعزت لاس نه دی اچولی ودا (هم معلومه سی) چی الله ﷻ دخیانت کوونکو فریب چلولوته نه پریږدی (چنانچی زلیخا دعزیز په خدمت کی خیانت کړی وو چی پرنورو یی نظر وکی خدای ددی راز افشا کی ، پس زماغرض دا وو)

معلومات اومسئلې: حضرت یوسف ﷺ ته چی کله شاهی قاصد دازایدو پیغام راوړی اودبللو دپاره راغی وده قاصدته داجواب ورکی چی اول ددغو ښځو څخه زما دمعاملی تحقیق وکړی کوموچی خپل لاسونه ویکړی وه په دی کی دیرحکمتونه پټ وه الله ﷻ خپلو انبیاؤ علیهم السلام ته څنګه چی کامل دین ورکوی غسی کامل عقل اودمعاملو او حالاتو پوره پوهه هم ورکوی حضرت یوسف ﷺ دشاهی پیغام څخه دا اندازه ولګوله چی اوس دجیل څخه دخلاصون څخه وروسته به دمصر باچا ماته یو اعزاز راکوی دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت هوښتیارتیا داوه چی دکوم عیب تهمت پرده لګولی سوی وو اودکوم په وجه چی دی په جیل کی اچولی سوی وو ددی حقیقت باچا اوټولو خلقوته په پوره شان ښکاره سی او دده په بری کیدو کی دچاځه شك پاته نه سی کنه نوانجام به یی داوی چی په شاهی اعزاز سره خوبه دخلقو ژبی بندی سی مګرپه زړونوکی به یی داخیالات ګرځی چی داهغه سړی دی چاچی دخپل مالك ښځی ته لاس وراچولی وو اوددا سی حالاتو پیداکیدل هم په شاهی دربارونوکی څه لیری خبره نه وی چی یو وخت باچا هم دخلقو ددا سی خیالاتو څخه متاثره سی په دی وجه دازادی څخه مخکی ددی معاملی صفایی اوتحقیق یی ضروری وګڼی اودذکر سوو دوو ایتونو څخه په دویم ایت کی په خپله حضرت یوسف ﷺ دخپل دی کار اوپه ازادی کی دتاخیر کولو دوه حکمتونه بیان کړل.

اول دا چی ، ذٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ : یعنی دا تاخیر ماځکه وکړی چی عزیز دمصرته یقین راسی چی ماددده په غیر موجودګی کی دده په حق کی څه خیانت نه دی کړی.

دعزیز مصر دزیات یقین راتلو فکر یی ځکه وی چی دابه دیر بدصورت وی چی دعزیز مصرپه زړه کی زما دطرف څخه شکونه وی اوبیا دشاهی اعزاز په وجه سره هغه هیڅ نه سی ویلی نوپرده به زما دا اعزاز دیر بدهم لګیږی نو ځکه به پرده داځه نه ویل دیر ګران وی دی چونکی تریوې زمانی پوری دده دمالك په حیثیت سره پاته سوی ووپه دی وجه دحضرت یوسف ﷺ دنفس شرافت ده ته تکلیف ورکول خوښ نه کړل او دا هم ښکاره وه چی کله عزیز دمصر ته دده دبری کیدو یقین راسی نودنورو خلګو ژبی به هم بندی سی دوهم حکمت یی دا ارشاد وفرمایی: وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ یعنی داتحقیقات ځکه وسوه چی خلګوته معلومه سی چی الله ﷻ دخیانت کوونکو فریب چلولو ته نه پریږدی.

ددی دوه مطلبه کیدی سی یوداچی دتحقیقاتو په ذریعه دخیانت کوونکو خیانت ښکاره سی اوټول خلګ باندی خبر سی چی دخیانت کوونکو انجام اخر رسوایی وی چی اثنده ټول خلګ ددا سی کارونو څخه ځان ساتی دوهمه دامعنی هم کیدی سی چی که داسی داشتباه په حالت کی حضرت یوسف ﷺ ته شاهی اعزاز ورکول سی نودلیدونکو به دا خیال راتلی چی داسی خیانت کوونکوته لوی لوی مرتبی ورکول کیږی نوپه دی سره به د دوی په عقیده کی فرق راتلی او دخیانت بدوالی به دزړونو څخه وتی په هر حال دلورو ذکرسوو حکمتونو ترمخه حضرت یوسف ﷺ دازادی دپیغام پیداکیدو سره فوراً وتل خوښ نه کړل بلکه په شاهی انداز سره یی دتحقیقاتو مطالبه وکړه.

دذکرسوو ایتونو څخه په اولنی آیت کی ددی تحقیقاتو خلاصه ذکرده: قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُنَّ يُوسُفَ عَنْ نَفْسِهِ یعنی باچا دغه ښځی کومو چی خپل لاسونه پریکړی وه حاضری کړی اوپوښتنه یی وکړه چی څه واقعه ده کله چی تاسی دیوسف ﷺ څخه دخپل مطلب خواهش وکی دباچا ددی سوال څخه معلومه سوه چی دده په خپله دایقین سوی وو چی قصور دحضرت یوسف ﷺ نه دی ددی ښځو دی په دی وجه یی داسی وویل چی تاسی دده څخه دخپل مطلب خواهش وکی ددی څخه وروسته دښځو جواب دا ذکر دی.

قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ قَالَتِ امْرَأَةُ الْعَزِيزِ الْآنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ أَنَا رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ وَإِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ یعنی ټولو ښځو وویل چی پناه په خدای مونږ ته په ده کی یوه ذره هم دبدی خبره نه ده معلومه سوی دعزیز ښځی

Maktaba Tul Ishaat.com

وویل چی اوس خوحق خبره بنکاره سوه ماددہ څخه دخپل مطلب خواهش کړی وو اوبیشکه دی دښتنی دی حضرت یوسف ﷺ په تحقیقاتو کی دعزیز دمصر دښځی نوم نه وو اخستی مګر الله ﷻ چی کله چاته عزت ورکوی نودخانه دخلګو ژبی دده درښتنوالی اوصفایی دپاره خلاصی سی په دی موقعه دعزیز ښځی همت وکی اودحق بنکاره کولو اعلان یی په خپله وکی تردی ځای پوری چی کوم حالات اوواقعات دحضرت یوسف ﷺ تاسی واوریدل په دی کی دیری فائدی اومسئلی اودانسانی ژوند دپاره اهم هدایتونه پیدا کیدی سی.

په دی کی اته ۸ مسئلی مخ ته بیان سوی دی دذکر سوو ایتونو متعلق نوری مسئلی او هدایتونه دا دی.

نهمه مسئله: دا ده چی الله ﷻ دخپلو خاصو اومقبولو بندګانو دمقصدونو پوره کولو دپاره په خپله دغیبی تدبیرونو څخه انتظام فرمایی دوی یومخلوق تراحسان لاندی کول نه خوښوی دغه وجه وه چی حضرت یوسف ﷺ ازادیدونکی قیدی ته ویلی وه چی باچا ته زماذکر وکړه دهغه څخه خوهیر سول اوبیایی دغیبو څخه یوتدبیر داسی جوړکی چی په دی کی حضرت یوسف ﷺ دچا تراحسان لاندی هم نه سی اوپه پوره عزت او شان سره دجیل څخه دازادی مقصد هم پوره سی.

ددی اسباب یی داسی تیار کړل چی دمصر باچا ته یی یوپریشان کوونکی خوب وښووی چی دتعبیر څخه یی دده درباریان اوعالمان عاجزه سول او دغه شان ضرورتمند سو او حضرت یوسف ﷺ ته یی جوړ وکړه (ابن کثیر)

لسمه مسئله: په دی کی دښو اخلاقو تعلیم دی چی ازاد سوی قیدی دحضرت یوسف ﷺ خودومره قدرکارونه کی چی باچا ته یی ذکرکړی وای اودی نور اووه کاله دقید په مصیبت کی پاته سو اوس اووه کاله وروسته چی کله هغه خپل مطلب دخوب تعبیر راوړی اوحاضرسو نوعام انسانی عادت تقاضاوه چی دی یی ملامت کړی وای اوخفه سوی وای ورځخه چی ستا څخه دومره قدرکارهم ونه سو مګرحضرت یوسف ﷺ دخپلو پیغمبرانه اخلاقو اظهاروکی چی دده ملامتول خولاپریږده ددی قصی ګرسره ذکرقدری یی هم ورته ونه کی (ابن کثیر وقرطبی)

یوولسمه مسئله: په دی کی داده چی څه رنګه دانبیاء علیهم السلام اودامت دعالمانو دافرض دی چی دوی دخلګو داخرت فکر کوی چی اخرت یی درست سی اودوی دداسی کارونو څخه وساتی کوم چی په اخرت کی عذاب جوړیږی دغه شان دوی ته دمسلمانانو پرمعاشی حالت هم نظر کول په کاردی چی دوی پریشانه نه وی لکه حضرت یوسف ﷺ پردی موقع صرف دخوب تعبیر ښوول کافی ونه ګڼل بلکه داحکیمانه اوخیر خواهانه مشوره یی هم ورکړه چی دپیداوار ټول غنم دی په وړو کی وساتل سی اوپه قدر دضرورت دی یی صفا کوی اوغله دی ورځخه راباسی چی تراخری کلونو پوری خراب نه سی.

دولسمه مسئله: دا ده چی عالم اوپیشواته دافکر هم په کاردی چی پرده دخلګو بدګمانی پیدا نه سی که څه هم دغه بدګمانی سراسر غلطه ولی نه وی خوچی ددی څخه دځان ساتلو هم تدبیر کوی څکه چی بدګمانی برابره خبره ده که دجهالت یاناپوهی په سبب سره ولی نه وی خو په هر حال دده ددعوت اوارشاد په کارکی خلل غورځونکی کیدی سی په خلګو کی دده خبره بی وزنه کوی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی دتهمت دموقعو څخه هم ځانونه ساتی یعنی دداسی حالاتو اوموقعو څخه هم ځانونه محفوظ ساتی په کوموکی چی پرتاسی دتهمت لګولو موقع چانه په لاس ورځی داحکم خو دعامو مسلمانانو دپاره دی خواصو اوعالمانوته په دی کی دوچنده احتیاط لازم دی په خپله نبی کریم ﷺ چی دټولو عیبونو اوګناهونو څخه معصوم دی دوی هم ددی اهتمام فرمایلی دی یووار په پاکو بیبیانو کی یوه بی بی د دوی سره دمدیسی منوری په یوه کوڅه کی روانه وه یوصحابی مخ ته ورته راغی نودوی دلیری څخه ورته وویل چی زما سره فلانی بی بی ده داسی یی څکه وکړل چی هسی نه دلیدونکو باندی دپردی شخی ګمان رانه سی په دی موقع حضرت یوسف ﷺ دجیل څخه دخلاصی اوشاهی دعوت پیدا کولو باوجود دازادیدو څخه مخکی ددی خبری کوشش وفرمایی چی دخلګو شکونه اوشبهی لیری سی.

دیارلسمه مسئله: په دی کی داده چی دکوم سړی حقونه دچا پرذمه وی اوپه دی حیثیت سره دهغه احترام وی که په ناچاری سره دهغه خلاف یو کار روایی کول وغواړی نوپه دی کی هم دخپل وس اوطاقت مطابق دحقونو احترام اورعایت کول دشریف سړی دپاره خامخا په کاردی لکه حضرت یوسف ﷺ چی دخپل بری کیدو دمعاملی دتحقیقاتو دپاره دعزیز یاددہ دښځی نوم اخستو پرځای دهغو ښځو ذکروکی کومو چی په دی معامله کی خپل لاسونه پریکړی وه (قرطبی) څکه چی دحضرت یوسف ﷺ مقصد په دی سره هم حاصلیدی سی.

څوارلسمه مسئله: دښو اخلاقو تعلیم دی چی دکومو خلګو دلاسه اووه کاله یادولس کاله دجیل خانی تکلیف یی برداشت کی دخلاصی په وخت کی د دوی څخه یو بدله اخستل خولاڅه کوی دومره قدریی هم برداشت نه کړه چی دوی ته یو ادنی تکلیف هم دده دلاسه ورسیږی لکه چی په آیت: لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ کی یی ددی اهتمام کړی دی.

دولسمه پاره ختمه سوه

الدین العلم کمپیوټرز . کوئټه

۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۲

تصحیح او ترتیب.

مولوی نصیراحمد حقّانی (اللهم اغفرلمؤلفه ولطالبه ولکاتبه ولناشره ولجمیع المؤنین)

الدین العلم کمپوزنګ سنټر کوئټه

المکتبة الحنفیة کانسی روډ

Maktaba Tul Ishaat.com